



# د استاد الفت نثري کليات

## سريزه او راټولونه

د

محمد اسماعيل يون

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الفت نثري کليات

## سريزه او راټولونه

## د

## محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د الفت نثري کليات |
| راټولوونکی: | محمد اسمعيل يون |
| خپرندوی: | يون کلتوري يون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۰ل کال |
| دويم چاپ: | ۱۳۷۸ل کال |
| درېيم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د راټولوونکي پرله پسې نومره: | (۴) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۴) |
| کمپوزر: | اسدالله توپان |
| ډيزاينر: | ضياءالرحمن ضياء |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| سرليک | مخ |
|---|---|
| د درېيم چاپ سريزه | ۱ |
| يادون | ۴ |
| سريزه | ۹ |
| **غوره نثرونه**: | **۶۴** |
| د پردې خبرې | ۶۵ |
| لاروی | ۶۶ |
| ژوند | ۶۷ |
| نوی نسل | ۶۸ |
| لوی او وړوکی | ۶۹ |
| د شاعر تحفه | ۷۱ |
| خدمتګار | ۷۲ |
| عقل | ۷۳ |
| پوهه او هوښياري | ۷۶ |
| احمق څوک دی؟ | ۸۲ |
| نوی درس | ۸۸ |
| درې کاله | ۹۰ |
| قوي او ضعيف | ۹۴ |
| ښه ګټه | ۹۷ |
| د اختر په ورځ | ۹۹ |
| خاني لاړه | ۱۰۲ |
| يوازې | ۱۰۳ |
| فاتح | ۱۰۴ |
| لباس | ۱۰۶ |
| خيرات | ۱۱۲ |
| د زيارت ډيوې | ۱۱۴ |
| د مزار لوحه | ۱۱۵ |
| لياقت | ۱۱۶ |
| کوچنيان | ۱۲۱ |
| جګ برجونه | ۱۲۴ |
| حقيقت | ۱۲۶ |
| لويه خدايه | ۱۲۹ |
| ماشومان | ۱۳۱ |
| شعر او ادب | ۱۳۲ |
| د ادب راز | ۱۳۷ |
| نوی کال | ۱۴۰ |
| زما د لاس نيالګيه! | ۱۴۳ |
| د فکر پالونکی | ۱۴۵ |
| د ژوند نغمه | ۱۴۶ |
| نوی فکر | ۱۴۸ |
| زوړ فکر | ۱۵۰ |
| ناداني او ناداري | ۱۵۱ |
| سپند | ۱۵۳ |
| عقيده | ۱۵۶ |
| عمل | ۱۵۷ |
| عبادت او دعا | ۱۵۸ |
| بې زړه | ۱۶۰ |
| ملک او ملا | ۱۶۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


شاعر ۱۲۳
سبا ۱۲۴
د پسرلي ګله! ۱۲۷
درمې خاونده! ۱۲۹
بې ګناه بندي ۱۷۱
نظر لالا ۱۷۳
جبر او اختيار ۱۷۸
د خان واده ۱۸۴
غم او خوشحالي ۱۸۵
اخلاقي اساس ۱۸۹
ښه او بد ۱۹۲
پخوانۍ ډيوې ۱۹۴
انتخاب ۱۹۷
د عقل برخه په ژوندانه کې ۲۰۲
حسابي خبرې ۲۰۵
شعر او فلسفه ۲۰۶
ولاړې اوبه ۲۰۷
ښه حاکم ۲۱۱
**ليکوالي املا او انشا:** ۲۱۲
دوه دهقانان ۲۱۳
دوه جنازې ۲۱۶
مليت او ملي استقلال ۲۱۸
ملي يووالی ۲۲۴
ژوند ۲۲۵
مترقي ژوند ۲۲۷
د خلکو نظر ۲۳۰
د حق اظهار ۲۳۵
ډار ۲۳۷
حقيقت ۲۴۰
زما نظر ۲۴۲
عشق او هوس ۲۴۴
مضر احتياط ۲۴۹
حاکمانو ته وايم ۲۵۳
مليونر خيراتخور ۲۵۷
ګرانه ليکواله! ۲۶۰
**بله ډيوه:** ۲۶۶
خپله ژبه ۲۶۷
خپل مليت ساتل ۲۷۰
حرکت او ويښتوب ۲۷۵
لوئيدل او جديت ۲۷۸
پوره ژوندون ۲۸۲
د ژوند مقصد ۲۸۷
ګټل ۲۹۲
زړه او سترګې ۲۹۵
زړه دې پېژنم ۲۹۸
حقيقت ۳۰۰
د محبت رڼا ۳۰۳
شعر او ادب ۳۰۵
شاعر او عالم ۳۰۷
د تورې رڼا ۳۱۳
کورنۍ مرغه ۳۱۹
خوږ ژوند ۳۲۱
**څه ليکل يا ليک پوهه:** ۳۲۴
دعا ۳۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


رحم وکړه! ۳۲۷
سوداګره! ۳۲۹
خلک وپېژنئ! ۳۳۰
د کوم ځای دی؟ ۳۳۳
کوم یو ښه دی؟ ۳۳۵
ونیسه څوک دی؟ ۳۳۶
رشوت خوره! ته راپه یاد شوې ۳۳۷
سیاست ۳۳۸
خلک څه وایي؟ ۳۳۹
څوک وایي؟ ۳۴۱
څه وکړو؟ ۳۴۲
ووېرېږئ او مه وېرېږئ! ۳۴۷
استاذ ویل ۳۴۹
عجیب انسان ۳۵۱
خان لالا ۳۵۲
رشوتونه ۳۵۳
د متملقینو منطق ۳۵۴
د ښځو ډار ۳۵۵
مورې په چا پسې نه ځو ۳۵۶
په خرو کې هم الفت شته ۳۵۷
د رجب خان دعوتنامه ۳۵۸
نتیجه یعنې څه؟ ۳۵۹
انسان یعنې څه؟ ۳۶۱
خوشحالي او غم ۳۶۳
ارزو ۳۶۶
**اجتماعي نظریات**: ۳۶۸
فکر ۳۶۹
کار او عمل ۳۸۰
له کار سره علاقه ۳۸۸
عقیده ۳۹۱
اخلاق ۳۹۳
تعلیم او تربیت ۳۹۷
ذوق ۴۰۰
خیال ۴۰۳
حرص او عشق ۴۰۶
د مشرانو عشق ۴۰۹
یوازېتوب ۴۱۳
زه او ته ۴۱۷
سترګې مه پټوئ! ۴۱۹
د زمانې تعبیر ۴۲۳
برابر نه دي ۴۲۶
د اسلام دردمنو! ۴۲۹
د سبا فکر ۴۳۱
پخوانۍ ډیوې ۴۳۳
**ادبي بحثونه**:
ادب ۴۳۸
د ادب د کلمې تاریخ ۴۳۹
د ادب تعریف ۴۴۰
د ادب تقسیم ۴۴۱
شعر ۴۴۲
شعرد خوشال په نظر کې ۴۴۴
شعر د حمید په نظر کې ۴۴۷
شعر د شیدا په نظر کې ۴۴۸
شعر د علي خان په نظر کې ۴۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوند کې د شعر او ادب اغ ۴۵۱
د ادب تاثير پر اسلامي فقه ۴۶۹
صريح او کنايه ۴۷۲
ظاهر، نص مفسر، محکم ۴۷۳
د استثنا بحث ۴۷۵
لغوي تدقيق ۴۷۷
د ابن زبعري د اعتراض ځواب ۴۷۹
د ادب بڼه او ګاڼه ۴۷۹
فصاحت ۴۸۱
بلاغت ۴۸۲
عواطف ۴۸۳
د عواطفو صدق ۴۸۳
د عواطفو تجلي او ظهور ۴۹۷
د عواطفو ثبات او نه رالوېده ۴۹۸
خيال ۴۹۹
مبتکر خيال ۴۹۹
مصور خيال ۵۰۱
مفسر ۵۰۲
تمثيل ۵۰۲
عاميانه بلاغت ۵۰۸
د پښتو څو لنډۍ ۵۱۲

**نوی سبک او نوی ادب:**

د خدای قانون ۵۲۰
د کار فکر ۵۲۱
زه خبر نه وم ۵۲۳
د خير خاوند ۵۲۵
ديموکراسي ۵۲۶
عشق ۵۲۸
عمل ۵۳۰
د ايمان ځای زړه دی ۵۳۱
زموږ باغ ۵۳۲
بې تميزي ۵۳۳
د ظالم فلسفه ۵۳۴
دستورالعمل ۵۳۵
اصلي غل ۵۳۷
د غلو منطق ۵۳۸
د غلو ډيوه ۵۴۰
د حاکم اشتباه ۵۴۱
څه لري او څه نه لري ۵۴۲
آمر او مامور ۵۴۳
توره پرده ۵۴۵
د ژوند نغمه ۵۴۶
خوشالي ۵۴۸

**لوړ خيالونه او ژور فکرونه:** ۵۴۹

ازادي ۵۵۰
اجتماعي عيبونه ۵۵۲
ګل ويل ۵۵۳
شپږ زره کاله پخوا ۵۵۴
حضرت محمد (ص) ۵۵۶
له مرګه نه وېرېږم ۵۵۸
د غم خوښي ۵۵۹
د ژوند لوبه ۵۶۰
پوهه ۵۶۰
هر چا وځورولم ۵۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| زما ترانې | ۵۲۱ | ژوند | ۵۹۰ |
| د هوسونو مرگ | ۵۲۲ | قوت او جرئت | ۵۹۱ |
| د شاعر حال | ۵۲۳ | تاریخ | ۵۹۱ |
| شاعر ته | ۵۲۴ | لوړه پایه | ۵۹۱ |
| ادب ا و محبت | ۵۲۵ | بدبختي | ۵۹۲ |
| د حقیقت اظهار | ۵۲۵ | عقل | ۵۹۲ |
| پیغمبر | ۵۲۶ | ترقي او تکامل | ۵۹۳ |
| د نېکانو ارمان | ۵۲۷ | د ژوند ضروري شرطونه | ۵۹۳ |
| قبر او گل | ۵۲۸ | علم او اخلاق | ۵۹۴ |
| افتخار | ۵۲۹ | فکر او احساسات | ۵۹۵ |
| څه غواړم | ۵۷۰ | تمسخر او ترحم | ۵۹۶ |
| د بډای فقر | ۵۷۱ | د خلکو انتظار | ۵۹۷ |
| هېرول | ۵۷۴ | خطرناک | ۵۹۸ |
| له هرچا نه لرې | ۵۷۵ | د ژوند مخ او څټ | ۵۹۸ |
| د شاعر خوشبختي | ۵۷۵ | لېونتوب او حماقت | ۵۹۹ |
| تسلي | ۵۷۶ | په ځان باور | ۵۹۹ |
| هابیل او قابیل | ۵۷۶ | تعصب | ۶۰۰ |
| سخاوت | ۵۷۸ | ځان وپېژنه! | ۶۰۱ |
| بې اسرې | ۵۷۸ | شخصیت | ۶۰۲ |
| خلک او شاعر | ۵۷۹ | بقا | ۶۰۳ |
| انسان | ۵۸۰ | کب | ۶۰۳ |
| په انگلیستان کې | ۵۸۱ | هغه چې دنیا ته رانغله | ۶۰۴ |
| غویي | ۵۸۲ | څنگه به یو؟ | ۶۰۵ |
| د ټاگور نغمې | ۵۸۳ | ستاسو فکر | ۶۰۵ |
| شاعر او پرښته | ۵۸۶ | که طبابت ترقي وکړي | ۶۰۶ |
| غم او خوشالي | ۵۸۹ | څه غواړئ؟ | ۶۰۷ |
| پارلمان | ۵۹۰ | پوه او ناپوه | ۶۰۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| مرګ | ۲۰۸ | اجبار او اختیار | ۲۱۸ |
| روح | ۲۰۹ | عقل او زړه | ۲۱۹ |
| افلاطون | ۲۱۰ | کینه او مینه | ۲۱۹ |
| زموږ پوهه | ۲۱۱ | احتمالي مصیبت | ۲۱۹ |
| بدې خبرې | ۲۱۱ | لیاقت لرل | ۲۲۰ |
| انساني سلوک | ۲۱۲ | لوی خلک | ۲۲۰ |
| انساني کمال | ۲۱۲ | اجتماع | ۲۲۰ |
| د فکر روزنه | ۲۱۳ | د جنګ احساس | ۲۲۰ |
| ښکلېتوب | ۲۱۳ | نجیبه غریزه | ۲۲۱ |
| ښایست | ۲۱۳ | شهرت او شرافت | ۲۲۱ |
| سیاستمدار | ۲۱۴ | هدیه قبلول | ۲۲۱ |
| غولول | ۲۱۴ | هېرول | ۲۲۲ |
| فکر په شعر کې | ۲۱۴ | ځان غوښتنه | ۲۲۲ |
| بدبختي او شعر | ۲۱۴ | مکررات | ۲۲۳ |
| عشق او سعادت | ۲۱۵ | نېکي | ۲۲۳ |
| پوهه او عشق | ۲۱۵ | د طبیعت قوانین | ۲۲۵ |
| ښوونځی | ۲۱۵ | انساني تکلیف | ۲۲۶ |
| د فکر پانګه | ۲۱۶ | ژوند | ۲۲۷ |
| معرفت | ۲۱۶ | هېرول | ۲۲۸ |
| علم او علما | ۲۱۶ | حکمت او سعادت | ۲۲۹ |
| ځان ښودل | ۲۱۶ | انشاء | ۲۳۱ |
| د ښه کار علت | ۲۱۷ | مطالعه او تفکر | ۲۳۱ |
| تاج او قلم | ۲۱۷ | خوی او خصلت | ۲۳۳ |
| مطبوعات او تاریخ | ۲۱۷ | دوستانه مناسبات | ۲۳۴ |
| حکومت او روزنامه | ۲۱۷ | بدي او ضرر | ۲۳۴ |
| د ځان سعادت | ۲۱۸ | لویه اشتباه | ۲۳۵ |
| ځان مسعود ګڼل | ۲۱۸ | افتخار | ۲۳۵ |

| | |
|---|---|
| غضب او شهوت | ۶۳۶ |
| دوستي | ۶۳۷ |
| ښکلا | ۶۳۹ |
| وحشي او مدني انسان | ۶۴۰ |
| **کابل مجله**: | ۶۴۱ |
| ستا شان | ۶۴۲ |
| له مدرسې نه ایستل | ۶۴۴ |
| انسان څه غواړي؟ | ۶۴۵ |
| کارونه | ۶۵۲ |
| وده او تکامل | ۶۵۶ |
| ماشومان | ۶۵۸ |
| رياکاران | ۶۵۹ |
| د شپنو کېږدۍ | ۶۶۶ |
| د قضاوت شعور | ۶۶۸ |
| بختوره | ۶۷۱ |
| ځان ساتل | ۶۷۴ |
| کټوری | ۷۸۰ |
| د شاعر مقام | ۶۸۳ |
| څنګه ژوند کوو؟ | ۶۹۰ |
| کورنۍ | ۶۹۶ |
| فکرونه هم تغير مومي | ۷۰۲ |
| شاعرانه خيال | ۷۰۶ |
| تياره او رڼا | ۷۰۸ |
| بله دنيا | ۷۱۰ |
| د بشريت قافله او منزل مقصود | ۷۱۲ |
| د محبت لېوال | ۷۱۵ |
| پوهه او معرفت | ۷۲۰ |
| د زړه پوښتنې | ۷۲۹ |
| د ژوندانه روح | ۷۳۰ |
| د مشرانو عشق | ۷۳۳ |
| ستر قوت | ۷۳۹ |
| له کار سره علاقه | ۷۴۶ |
| د پوهې غرور | ۷۵۲ |
| عقل، قانون، غرايز | ۷۵۸ |
| اجتماعي نظام | ۷۶۶ |
| د ځان مينه | ۷۷۴ |
| **افغان جريده**: | ۷۸۳ |
| د خان ناظر | ۷۸۴ |
| کميت پېژندنه | ۷۸۷ |
| اداري سياست | ۷۹۰ |
| اشتباه | ۷۹۵ |
| خان او بډای | ۷۹۶ |
| **ولس جريده**: | ۸۰۱ |
| څنګه حاکم؟ رښتيا وايم | ۸۰۲ |
| فکر او کار | ۸۰۵ |
| وطن | ۸۰۷ |
| ملت | ۸۱۰ |
| حقيقي غل | ۸۱۳ |
| بنديوانه | ۸۱۵ |
| **اصلاح ورځپاڼه**: | ۸۱۹ |
| ملي ناموس | ۸۲۰ |
| **نوې رڼا**: | ۸۲۲ |
| پښتون د ملت نوم دی د قام نوم نه دی | ۸۲۳ |
| د محمد اسمعيل يون لنډه پېژندنه | ۸۲۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دریم چاپ سریزه


(۱۳۶۷-۱۳۷۰) کلونه، زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصل وم، دامهال دا فکر را سره و، چې زه باید دا استاد الفت نثري کلیات راټول کړم. نږدې دوه کاله مې پرې کار وکړ، د ۱۳۷۰ل کال په بهیر کې یې پر بشپړاوي بریالی شوم.

د همغه کال په وروستیو کې مې په ډېرو منډو ترړو ددې امکانات پیدا کړل، چې دا اثر د دولت په امکاناتو چاپ کړم. هغه وخت له چاپ څخه زما مقصد دا و،چې دا اثر له مرګه وژغورل شي، ځکه ټولو دا اټکل کاوه، چې نظام د ړنګېدو یا بدلون په حال کې دی اودا هم څرګنده وه، چې ګډوډي به رامنځته کېږي.

د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر ۲مه نېټه کتاب چاپ اود دولتي چاپخونې په یوه خونه کې کېښودل شو، دوه درې ورځې وروسته پر دولتي چاپخونې توغندي ولګېد او هر څه لوټپه شول، خو د خدای(ج) په فضل، دا کتاب یو چېرته په یوه ګوټ کې خوندي پاتې شوی و. دا چې څه ډول مې دا کتاب ترلاسه کړ، دا یوه اوږده کیسه ده. خوشاله پر دې وم، چې کتاب له مرګه ژغورل شوی و. ۸ کاله وروسته (۱۳۷۸ل کال) په پېښور

کې د پښتو ټکره خدمتګار او د دانش خپرندويه ټولنې مشر (اسدالله دانش) مانه هيله وکړه، چې زه غواړم دا کتاب له سره چاپ کړم، خو که څه نوي زياتونې هم په کې وکړې. د هغه په وړانديز مې د استاد الفت ځينې نورې ليکنې هم په کې زياتې کړې او هغه دا کتاب د تېر په انډول دا ځل ډېر ښکلی چاپ کړ. تر هغه وروسته د همدې دويم چاپ له مخې دا کتاب بيا هم چاپ شو، خو دې سره سره د څو کلونو په ترڅ کې ددې کتاب د چاپ بيابيا غوښتنه کېدله. اوس چې ما خپل او زما په زيار





د نورو ليکوالو راټول شوي اثار له سره چاپول او دانټرنيټ څپو ته مې سپارل، نو ددې اثر بيا چاپ مې هم ډېر ضروري وګاڼه، دلته لازمه او ضروري بولم، چې د هېواد له پياوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر ښاغلي صديق کاوون څخه مننه وکړم، چې ددې اثر لومړي چاپ کې يې د زړه له تله همکاري وکړه، که پر هغه وخت، د کاوون صيب همکاري نه واى، نو خداى(ج) خبر، چې دا اثر په دې ښه تر موږه رارسېدلاى واى. په دويم ګام کې له ګران اسد دانش څخه مننه کوم، چې دا اثر يې د دويم ځل لپاره، تر پخوانۍ ښې ډېر ښه چاپ کړ او تردې دمه يې راورساوه. د ګران ورور، ځوان او ځيرمن ليکوال سيدنظيم سيدي خو لا ډېر مننده وى يم، چې ددې اثر دواړه چاپې ښې يې يو بل سره پرتله کړې، په دقيق ډول يې کمپوز او ايډېټ کړې او د تېرو دواړو چاپونو املايي او چاپي تېروتنې يې په پوره زغم او دقت سمې کړې، دغه راز قدرمن انجنيرصيب حاجي نصيب احمدي د زياتې مننې وړ دى، چې ددې اثر د دريم چاپ لګښت ته يې اوږه ورکړه. په پاى کې يو ځل بيا له ټولو هغو دوستانو څخه، چې دا اثر يې په بېلابېلو ښو تر دې دمه راورساوه، مننه کوم، کور ودانى ورته وايم، د لوى خداى(ج) له درباره هيله لرم، چې زموږ د ژبې او ملت ټول تاريخي، هنري او علمي اثار، د زمانې له ډول ډول توپانونو خوندي وساتي.

په مينه او درناوي

پوهندوى محمد اسمعيل يون

ارګ، د جمهوري رياست مانۍ

د ۱۳۸۷ل کال د کب ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادون

...زه ساقي یم.

**خو ساقي د مرګ او ژوند زړو شرابو،**

**خو هرچاته په هرځای کې او په هر وخت کې نا اشنا دی.**

(شهید مجروح)

موږ په یوه جالبه او د حیرانتیا وړ زمانه کې ژوند کوو، د دغې زمانې هره خبره، هره کتنه! بالاخره هر ډول احساس، انسان هغه لوړو او هغه پړاو ته لاربښوونه کوي، چې هلته دې د نېکمرغۍ وزرونه پرانیزي او سوکاله دې شي. تر اوسه په ټولیز لحاظ چا داسې نظام او جوړښت، چا داسې ټولنیز تړون او قانون نه دی په ګوته کړی، چې هغه به د دغه اواره او په ژوند بې ګودره انسان لپاره تلپاتې خندا ورپه برخه کړي. زموږ زمانه د برلاسۍ زمانه ده، زموږ په زمانه کې د ماشین ستم برلاسی دی او زموږ زمانه د ظاهري سترګو زمانه ده، په هغه زمانه کې یوازې هغوی ته شان وشوکت ورپه برخه دی، چې لباسي تظاهر، لباسي ایمانداري، لباسي عبادت یې د کړو وړو او څرګندونې ځانګړتیا ده.

په داسې چاپېریال کې هغوی، چې د ((معنویت)) په سمندر کې د خپل اندوژوند بېړۍ چلوي او په هغه پراخ بهیر کې یې د نېکمرغۍ ساحل ته په امن رسوي، ډېر رنځونه ګالي او له ډېرو بدمرغیو سره مخامخ کېږي، ځکه چې د ((معنویت)) د نړۍ فتح کول تر هر څه دمخه یوه اوچت معنوي غرور ته اړتیا لري، که دا ښکلې ناوې، دا ښکلی پسول ونه لري، نو بیا یې د ښایست او ښکلا په باب خوله تښاکې کول، د ظالم واکمن د عمر د اوږدوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله ده. پـه هـر ډول هغـه انسـانان، چې د خپـل ژوند اوږد بهیـر، د معنویت پـه ناپایـه سـمندر کې، پـه لویـه حوصله تېـروي، هغـوی لـوی انسـانان دي، چې پـه هغـو لویـو کسـانو کې یـو هـم زمـوږ د زمـانې او زمـوږ د معنـوي اروا پـر رمـز پوهېـدلی انسـان ، استاد الفت دی!

نن سبا زموږ پـه فرهنګي چاپېريال کې د «الفت» کلمې خپـل رښـتینی مفهـوم د کلمې پـه رښـتینې مانـا سره تـر لاسـه کړی دی. اوس د الفت د کلمې اړیکي د هرې ورځې پـه تېرېدو سره د هغـې له ظاهري څېرې(ګل پاچا) سره کمزوري کېږي او الفت د زړونـو او فکرونو د معنویت اوچتې څوکې تـه ځـان رسـوي، ځکـه چې ګـل-پاچـا ددغـې اوچتـې مرتبې پـه ارزښت ان هغـه وخت پـوه و، چې ملګرو يې ورته ويلي وو:

**الفت صيب وګوره په خرو کې هم الفت شته.**

**هو، لکه چې زه په تاسې کې يم.**

د نظر خاوندانو پر وړاندې د الفت پـه باب دا ټکی روښانه دی، چې الفت زموږ د رنځونو د پېړۍ لیکوال او شـاعر دی. دا پېړۍ پـه عمومي لحاظ داسې راغله، چې د هغې پـه زړه کې بیـا هـم پـه خوب ویده ملتونه قرباني شول. لویدیځ پـه ټوله ځواکمنۍ سره پـه دې برخه کې هلې ځلې وکړې، چې پر وروسته پاتې ملتونو باندې خپـل فرهنګي برلاسـی هم وساتي. ددغـې او هغـې ایډیولوژۍ تـر طلسـم لانـدې يـې ان د خـوارو ملتونـو فرهنګي بهیـر تـه هـم زیـان ورساوه، ددغه څپاو پر وړاندې لـه ژونـدیو لیکوالـو او شـاعرانو پرته، څوک له کښلې توري سره ونه درېدل، ځکـه چې هـر چا یـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري ته د خوشبينۍ په خاطر پر خپلو خولو لاسونه ونيول، الفت په دغه مهم پړاو کې د افغاني ټولنې، افغاني احساس او ربښتيني غرور ببېلگه شو. ده وکولای شول، چې خپله ټولنه رابيداره کړي، ده وکولای شول، هغه دردونه په ډاګه کړي، چې انساني احساس له هغه څخه فريادونه کوي او ده وکولای شول، چې افغانان د ملي او نړيوال فرهنگي او سياسي ستم پر وړاندې، د يوه واحد ځواک په توګه بيدار وساتي. دومره فريادونه، چې ده په شلمه پېړۍ کې د پښتنو د يووالي، ازادۍ، فرهنگي برلاسۍ او پښتني کلتور د ودې په برخه کې کړي، هغه له هغو فريادونو سره يو شی دي، چې ننگيالي او توريالي خوشال خان په خپل عصر کې اوچت کړي وو. ځکه نو دی زموږ د عصر خوشال خان دی. له همدې کبله موږ دا ويلای شو، چې الفت لوی انسان دی. شاندل وايي: «کله چې يو لوی انسان پېژنو او په دې پوهېږو، چې هغه پر ژوند برېمن راځلېدلی دی، د هغه روح زموږ په کالبد کې ځای نيسي، له هغه سره ژوند کوو او دا حالت موږ ته د بيا ځلي ژوند حيثيت لري».
موږ چې الفت يادوو، دهغه تر يادون دمخه د هغه روح له موږ سره ملگرتيا کوي او زموږ معنوي لارښوونه کوي.

د الفت په باب يو ټکی بايد له ياده ونه باسو، هغه دا چې دی ليکوال دی، شاعر دی، ولې دده ليکوالي او دده شاعري تر هر څه دمخه، دده د اجتماعي ټپ تر سيوري لاندې را ايجادېږي، په حقيقت کې دی د خپلې ټولنې د داسې دقيق او ژور فکر خاوند دی، چې دده په افکارو او ايجادياتو کې دده ټولنه او چاپېريال دومره دقيق مطالعه کېدی شي، چې د هر جزيي اړخونه يې هم په کې له پامه نه لوېږي. دی کولای شي، چې خپله ټولنه په اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لحاظ تشریح کړي او هغه معیارونه درته په ګوته کړي، چې هغه دده لپاره دلته د اخلاقي روزنې بنسټ جوړوي. دی په رواني لحاظ کولای شي، د خپل چاپېریال د انسان هغه غوټې، د خپلو افکارو په ساده جادویي الفاظو کې پرانیزي، چې هغه دهېڅ ډول جبر او فشار په وسیله طبعاً نه پرانیستل کېږي. دی پر دې ټکي کلک باوري دی:

**چې انساني رڼا پیدا شي په مغزو کې د چا**
**هغه کوښښ کړي په عالم کې انسانان جوړوي**

(دزړه وینا ۸۲ مخ)

که چېرې موږ الفت په لږ دقت سره مطالعه کړو، د هغه په افکارو کې یوازې زموږ د ادبي بهیر مطالعه د بحث وړ نه ده، بلکې الفت یوې بلې څېړنې او مطالعې ته هم اړتیا لري، چې هغه دده د اند وژوند فلسفه ده، هغه فلسفه، چې ده لیکوالي او شاعري د هغې لپاره کارولې ده، دا کار یوازې الفت نه دی ترسره کړی، بلکې د نړۍ ډېرو مهمو او نامتو مفکرینو هم دا کار کړی دی، وایي چې: ((نیچه له دې سره مینه درلوده، چې خپل نظریات په معما او داسې ډول وړاندې کړي، چې عادي لوستونکي د حیرانتیا په سمندر ور لاهو کړي...)) د استایفسکي په همدې ډول شهکارونه ولیکل، مارکس سره له دې چې دده نوم باید په ادبیاتو کې څوک وانخلي، مګر د هنر او ادب پر ارزښت ډېر ښه پوهېږي او شعر یې هم ویلی دی. دا ډول مثالونه خورا زیات دي، زموږ په عصر کې تر اوسه د الفت په باب نوموړي ټکي ته ډېر لږ کسان هم نه دي متوجه شوي. همدا وجه ده، چې تر اوسه موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه د الفت په باب ليکو، په هغو کې نوې خبرې ډېرې لږ دي. بايد د الفت پېژندنې تګلاره يوازې د ليکوالۍ او شاعرۍ په بازار باندې پای ته ونه رسوو، د الفت پېژندنې مسئله د پوهې او څېړنو پرله پسې لړۍ او هلو ځلو ته اړتيا لري.

**تفـاوت لـري حاصـل کـې هـره ځمکـه**
**تـه دې خپـل زړ ګـي دکـر دپـاره ښـه کـه**
**پـه کـې وکـره ښـه تخـم د الفـت**
**نـو بـه ووينـي لـه هـر چـا محبـت.**

(د زړه وينا **۴۲** مخ)

**نتيجه**: ډېره موده وشوه، چې د الفت صيب نثري اثار سړي ته په سختۍ سره لاس ته ورځي، اوس چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د استاد الفت نثري کليات، د ځوان شاعر او د پښتون د ځوان کاله د بريمن اسمعيل يون په سترېا او زيار خپروي، دا کار به زموږ د اوسني فرهنګي بهير په ترخ کې يوه نه هېرېدونکې ملي او فرهنګي خاطره وي، ځکه:

**خپـل او پـردي بـه پـه نظـر د محبـت ليـدلم**
**پـه حقيقـت کـې د تمـام کلـي لـيلا ومـه زه**
**په ډېرو سترګو کې مې مينه د خپل ځان ليدلې**
**په زړه کې ګران د ډېرو خلکو په رښتيا ومه زه.**

په درناوي
پوهنمل عبدالخالق رشيد
کابل، ۱۳۷۰ل کال د سلواغې لومړۍ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

## داستاد الفت نثر، ژوند او اثار

**" زمـا نــه چــې پرمــدار دکینــې راســي**
**د کمـــال پـــر منـــارو ټکـــې پرېباســـي**
**ډېرکلونـه دي پـه کـارچې پـه دې ملک کـې**
**بیا (الفت ) غوندې شـیوا شاعر پیدا شي " (۱)**

استاد ګل پاچا الفت د پښتو پـه معاصرو ادبیاتو کـې د رڼـه زړه، ضـمیر او وجـدان خاونـد، یـو داسـې ځلېـدونکی مخـکښ لیکـوال دی، چې پـه نظـم او نثـر دواړو کـې د اسـتادۍ ترپـولې رسـېدلی دی. هغـه دخپـل ټـول ژونـد پـه اوږدو کـې هـر څـه چـې ولیکـل، پـه زغـرده یـې ولیکـل، پـه مینـه یـې ولیکـل، د الفت پـه وړانګو یې ولیکـل، انتقادي یې ولیکل او دهېڅ ډول تکلف او تصنع ګرد او غبار یې د لیکوالۍ پلو ګردجن نه کړ. پـه همدې وجه زموږ لیکوال هغه د خپل عصر( خوشال خان ) بولي.

د اسـتاد د همدغـه سـتر انسـاني کرامـت، مینـې، الفـت، د نفـس پاکۍ او تذکیې، پښتو، پښتونولۍ او انسانیت ته د خدمت دیوه اوچت معیار پایله وه، چې زما پـه زړه کې د هغـه د تخلیقي نثرونو

---

(۱) **پوهاند عبدالشکور رشاد، د الفت یاد، سرحدونو چارو وزارت د نشراتو ریاست، ۱۳٦۰ل کال، ۳۸ مخ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلیاتو د راټولولو تکل راوټوکېده او دخپلو ځوانو ملګرو په مشوره او مرسته مې ددې کار د سرته رسولو کار پیل کړ.

دلته غواړم په لومړي سرکې د استاد پر نثر تر خپله وسه لنډه رڼا واچوم او وروسته به یې پر ژوند او اثارو څه ناڅه په بشپړه توګه خبرې وشي، که څه هم زما په شان د یوه مبتدي لیکوال لپاره، د استاد پر نثرڅه ویل ګرانه خبره ده، خو هغه مینه او الفت، چې د الفت له نثرونو څخه زما په زړه کې راټوکېدلي، نه شم کولای پټه خوله پاتې شم، دلته یوازې د هغه څه بیان لازم بولم، چې د استاد له نثرونو څخه زما د فکراو ذهن د اخیستنې پایله ده.

((که څوک غواړي، چې د خلقت او فطرت په رمزونو او اسرارو پوه شي او په یوه شنه پاڼه کې د معرفت دفتر وګوري، خپل عقل، شعور او احساس دې په کار واچوي او د زړه سترګې دې وغوړوي. په یوه لاره ډېر خلک تېرېږي، مګر یو نیم په کې چېرته یوه ښکلې مرغلره پیدا کړي، چې د چا له امېله پرېوتې او په خاورو کې پرته ده.)) [1]

زموږ زمانه کې خو الفت د خلقت پر رمزونو پوه شوی، د زړه په سترګو یې دا رازونه لیدلي او د مینې، انسانیت او احساس مرغلره یې ترې راکښلې ده او بیایې(د زړه دنیا) (د لوړ خیال او ژورفکر) په لوپټه کې تاوه کړې، چې اوس زموږ له مینې ډک زړونه ترېنه رڼا اخلي.

[1] الفت لیکوالي. املا و انشاء پښتو ټولنه ۱۳۲۹ کال ۳۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((دانسان په وجود کې دوه شیه ډېرعزیز معلومېږي، چې یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي.
له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه، له زړه نه شعر او ادب.....
صبر، رحم، کرم، شجاعت، سخاوت د زړه کار دی، عشق او مینه په زړه کې وي)). [1]

الفت هم خپلې د ((زړه وینا کې)) ((عالي افکار)) ننویستل،(( ښه لمسون)) یې ترینه جوړ کړ، ((غوره اشعار)) شول، ((د ازادۍ پیغام)) لپاره ((د پسرلي نغمه)) شوه، په ((نوی سبک او نوی ادب)) یې ((غوره نثرونه)) ولیکل او زموږ لپاره یې تري ((بله ډیوه)) جوړه کړه.

ورسره یو ځای یې د غریبانو له ملګرتیا، د عاجزانو او خوارانو له وروری، د کاریګرو د لاس نیالګي، د خادمانو له خدمت، ظالمانو ته له بدکتلو، پر مظلومانو له ژړېدلو او له بدو کارونو څخه د پردې له اوچتولو نه لاس وانه خیست او د ژوند تر پایه یې د خپل دغه هوډ مزي ټینګ ونیول، (( کوم وخت یې چې اداري کارونه پرېښودل یوازېتوب ته وزګارشو، فقیرانه ژوند او د روحانیت جهان ته ورننوت، سپین کالي، سپینه خولۍ، نوراني مخ، خوږه موسکا، تسپې په لاس فقیرانه ژوند، د الفت نه ډکې خبرې! ده له خدایه غوښتل چې د فقیرانو او درویشانو په لباس کې له دنیا نه سترګې پټې کړي)). [2]

---

[1] الفت ،غوره نثرونه، پښتو ټولنه ۱۳۳۲ کال ۵۲ مخ.

[2] محمد صدیق روهي. ادبي څېړنې، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ کال ۹۸ – ۹۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفت د ژوند تر پایه د خپلو خلکو په دردونو وردرډېده او د زړه د درد ټولې خبرې یې له الفت نه به ډکو کلمو او تورو کې تاوې کړې او د کاغذ پرمخ یې موږ ته راوسپارلې. زموږ یو لیکوال هغه له لیف تولستوی سره ورته کوي: ((لکه څنګه چې لیف تولستوی ته د روسیې د انقلاب هنداره ویل کېږي هماغسې الفت د خپل ماحول د ټولنیزو جریانونو او مسلطو کلتوري ارزښتونو په منعکسولو کې ستر نقش لوبولی دی.))[1]

الفت یوله هغو مخکښو لیکوالو څخه دی، چې د پښتو د معاصر ادب په ویښتایي پېر کې یې د ښکلي هنري نثر مانۍ تیاره کړه، د ښکلو الفاظو او رنګینو ماناوو شال یې ورپه سر کړ، د غوره نثرونو زړي یې په کې وټوکول او د تل پاتې ژوند په هیله یې د ښایست مرغلرې په کې وکرلې.

الفت د خپل څلوېښت کلن ادبي ژوند په بهیر کې لړترلړه د پنځه دېرشو ادبي اثارو په منځ کې خپل درې تخلیقي نثري اثار: (بلـه ډیـوه، نـوی سـبک او نـوی ادب او غـوره نثرونـه) مـوږ تـه راپرېښودل. د نثر یوه بېلګه به یې دلته راوړو.

## بې ګناه بندي

(( پربېږدئ! پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
مه وېرېږئ د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته.
فساد او شرارت له ده څخه نه پیدا کېږي.

---

(۱) محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې، ننګرهار پوهنتون، ۱۳٦۰ل کال، ۹۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده بندي کول لو يه ګناه ده.
دی هغه يوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی.
که دی له زندانه راوالوزي ستاسې آينده سنجولی شي او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شي.
پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېرښه شان وکړي.
ستاسې ورېي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کې يې مه اچوئ!
پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي.
ډېرې سختې، مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزي.
دی د راتلونکي حال پيشبيني کولی شي.
د طبيعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.
د جوي او فلکي اوضاعو اقتضارات ورته معلوم دي.
پرېږدئ پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زياتېږي.
وطن رڼا کېږي او ړانده بينا کېږي.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوك کوي.
دی ډېر پېچومي او ارولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ډېرې کرېږ سمولی او ډېر مشکلات حل کولی شي.
ما خوب لیدلی، چې دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني.
ښه فکرو کړئ.
دا بندي څوک دی.
پس له ډېره فکره وایم
فکر دی فکر!» [1]

لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي د الفت نثر او نظم دواړه شعر بولي او وایي:

«د پښتو ادب چې په خپل سمسور بڼ کې یو ښکلی او رنګین ګل غوړولی هغه بې له شکه «ګل پاچا الفت» دی. دی فطرتاً شاعر و، شاعري او نازکخیالي په خټه ور اخښلې شوې وه. که به یې نظم لیکه هغه به ضرور خوږ، روان او له معانیو ډک و، خو نثر یې تر هغه لاښکلی، لطیف او په ګټورو نقطو پسوللی او ګټور و، هغه لفظي او ښکلې مانا وې، چې ده په منثورو ابداعاتو کې ځایولی سوای کټ مټ دا سې وې، لکه سره اوډلی او پرله پسې شعر! د قلم رابطه یې یوازې له الفاظو سره نه وه، له زړه سره هم نغښتې وه، احساس او عاطفه یې دونې په ادبي تخلیقاتو کې نغښتله، چې هره ټوټه به یې یو عاطفي شهکار و.» [2]

---

(۱) غوره نثرونه، ۸۲ مخ.
(۲) د الفت یاد، ۳-۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زما د الفت تر منظومې وينا د ده منثورې ټوټې خوښې دي. دی شاعر او فنان دی. د ده نثر هم شعر دی، خو نظم يې هغسې خوند، ښکلا او هغه جمال لري. دی د خاصو افکارو په پرورښت او تصوير کې استاد دی او نوي نوي نکات پيدا کوي، د ژوندانه اسرارو ته ملتفت دی، د طبيعت بسيط او پلن ډګر دده د مطالعې او غاير نظر جولانګاه ده.» [۱]

کانديد اکاډميسين محترم محمدصديق روهي وايي: «د الفت نثر په حقيقت کې شعر دی... يو ځلې، چې څوک د الفت د کوم اثر په لوستلو پيل وکړي، نو د هغه مقناطيسي خاصيت يې نه پرېږدي، چې په اسانۍ سره ځان ترې خلاص کړي.» [۲] او بيا د فرانسيس بيکن په هغو خبرو کې، چې د ليکوالو په باره کې يې کړي دي، د الفت موقف داسې ځلوي:

«ځينې د مېږيانو په شان ټول وخت دانې راټولوي، ځينې د غڼو (عنکبوت) په څېر هر څه له ګېډې را وباسي او ځينې نور د مچيو په شان د ګلانو شيره راغونډوي او په شاتو يې بدلوي.

پخپله الفت په دغه وروستۍ کټګورۍ کې راځي.» [۳]

اجمل خټک وايي: «پاچا صاحب يو لوی پښتون عالم او اديب شاعر دی، په نظم او نثر دواړو کې د دې دور په وړومبي صف کې په اوچتو سترګو او دنګه غړانګه مخکې روان دی.» [۴]

(۱) دجرګې مجله، ۱۳۶۷ کال، ۵ ګڼه ۱۶ مخ.
(۲) د الفت ياد، ۱۴ مخ
(۳) د الفت ياد، ۱۳ مخ.
(۴) د الفت ياد، ۹۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترم ليکوال کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي يې نثر د ويکتور هوګو له سبك سره ورته کوي: ((د ده نثر په ادبي ټوټو کې له يوه خاص سمبوليزم څخه مراعات کاوه، چې هغه ډېر خوږ او په دغه سبك کې ويکتور هوګو ته ورته و.))[1]

د هېواد ځوان نوښتګر ليکوال زرين انځور، د الفت نثر او نظم دواړه د پرتلنې په تلې تللي او په پای کې دې پايلې (نتيجې) ته رسېدلی دی، چې الفت تر شعره په نثرکې مخکې دی، نو ځکه وايي:

((د الفت نثر د هغه له نظم او شعر نه په زياته پيمانه د پښتو ژبې د معاصر جريان لپاره اغېزمن جوت شوی او جوتېږي، ځکه نو يې بايد د معاصر بشپړ انتقادي نثر مخکښ وبولو.))[2]

که د خپلو خبرو مزي را لنډ کړو، نو د الفت صيب نثرونه خو د هنر يو داسې کان دی، چې هرڅومره يې سړی سپړي هماغومره ورته خوند ورکوي. په ټوليز ډول په لنډيز سره کولی شو، د الفت صيب د نثرونو د جوليز (شکلي) او محتوايي خواو ځينې ښکلاوې په لنډ ډول بيان کړو:

## الف- د جولې له مخې:

په شکلي لحاظ الفت غواړي خپله د خپل فکر مرغلره د عاطفې په اوبو ومينځي او د ساده، عام فهمه او روانو کلمو په لوپټه کې يې تاوه کړي، هغه ساده ګي يو صفت ګڼي، له تکلف، تصنع او

---

[1] د الفت ياد ، ۳۷ مخ.

[2] د الفت ياد، ۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان جوړونې څخه خپله لاره ښېلوي او وايي: ((هغه انشا چې ډېرې قلقلې پکې وي او ډېر جلبل ولري، يعنې لکه رعد او برق يې ځلېدل او غرېدل زيات وي، د ليکونکي عجز او تصنع ښيي، دا راز هنر ښودنه د واعظانوکار دی، په شعر او ادب کې ساده ګي لوی صفت دی، نه کاکه توب او طمطراق، څومره چې د چا فکري او معنوي پانګه زياته وي، هغومره يې سبك ساده او روښانه وي. مغلق او پېچيده ليکل غالباً د ليکونکي له علمي او معنوي فقر څخه پيدا کېږي، هغه څوك چې د عبارت په ډول په سينګار پسې ډېر ګرځي او له لفاظۍ څخه ډېر کار اخلي، خپل معنوي فقر د الفاظو په برق او ذلق کې پټوي.)) [1]، نو په دې وجه الفت د روان او ساده نثر غوښتونکی دی، چې د تکلف نښې نښانې پکې نه وي، خو((دا ساده ګي له ساده ګۍ څخه نه ده، بلکې د ليکوال له زيات قوت او حاکميت نه ساده ګي ده)) ليکوال کولای شي په ډېرو روانو، ساده او خوږو کلمو کې په ډېره دقيقه، نازکه او باريکه بڼه د خپل زړه غوټه پرانيزي. د الفت صيب نثرونه هم په همدې ډول دي لنډې لنډې جملې يې راوړي، هره يوه يې تامه جمله ده، ټاکلی اهنګ لري ، له ذهني او عيني انځورونو څخه ډك، د ګرامري جوړښت او معيارتوب اوچتې نمونې دي. په نثرونو کې يې((د ادبي ټوټو ، شعري او ادبي طرحو او همدارنګه د داستاني لنډو طرحو نمونې ليدل کېږي.)) [2]

---

(۱) ليکوالي املاء او انشاء، ۴۱ مخ.

(۲) زرين انځور، د الفت ياد، ۶۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- د محتوا او فکر له پلوه:

الفت د خپلو نثرونو د شکل او محتوا تله داسې برابره کړې، چې سړی نه شي کولای و وایي، کومه خوا یې درنه ده. دی په فکري لحاظ د نوښت، د مضمون د نوي والي او د فکر د ازادۍ سر سخت پلوی دی، وایي:

((څومره چې یو شاعر یا لیکوال ازاد فکر کولای شي او له ذهني اسارت نه خلاص وي هماغومره یې انشا هم له تقلید او ابتذال څخه لرې وي.)) (۱)

په محتوایي لحاظ یې په خپلو نثرونو کې زموږ د ټولنې او په ټولیز ډول د ټولې بشري ټولنې دومره بېلابېل کرکترونه ځلولي، چې که سړی ورته په ځیرتیا سره وګوري، نو د الفت قوت به هله ورمعلوم شي، له یوه ساده بزګر نه نیولې بیا تر یوه حاکم پورې، د انساني ټولنې ټول اشخاص په کې ځلېږي.

د انسان او انسانیت روح او روان یې د خپلو نثرونو رګونو ته ننوېستی، په همدې وجه خو یې د تلپاتې ژوند او زړه راکښون ځواک ډېر زیات دی.

د ده د نثرونو په هنداره کې د بشري ټولنې هر فرد په خپل خاص کیفیت او کړنې خپل ځان ویني او داسې کوم څوک که پیدا شي، چې په دې هنداره کې دې د خپلو اعمالو څېره ونه ویني.

الفت هر څه د یوه باریك رمز او قوي استدلال په کړیو کې راګیر کړي، خاص فلسفي فکر یې په کې ځلولی، انتقادي لاره یې په کې

---

(۱) لیکوالي املاء او انشاء، ۴۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانیستې، مینه یې په کې زرغونه کړې، د ټولنیز فکر لوپټه یې په کې غوړولې، د نفس د تذکیې او روان د پاکوالي لاره چاره یې په کې ښودلې او د انساني روح په داسې یو تمځي کې یې دا ټول سره راټول کړي، چې نه یوازې زموږ د ټولنې انسان پرې خپل روح ارامولی او خپل نفس وینځلی شي، بلکې د ټولې بشري ټولنې لپاره د ګټې اخیستنې وړ دي، دا ځکه چې دا د نړیوالو انساني تجربو د رڼا په رنګ لیکل شوي دي.

د الفت د نثر په باب که هر څومره د خپلو خبرو مزي وغځوو هماغومره غځېږي، خو ښه به داوي، چې د الفت نثر په خپله د الفت د قوانینو په هېنداره کې وګورو:

استاد الفت په خپل یو اثر (لیکوالی، املا او انشاء) کې د یوه ښه او غوره نثر او انشاء لپاره دغه لاندې ځانګړنې ټاکلې دي:

۱- وضاحت:

۲- صراحت، الفاظ له مقصودو ماناګانو سره تناسب ولري.

۳- ضبط ، په کلام کې زیاتې او بې ضرورته برخې نه وي.

۴- طبیعت، په کلام کې له تکلف څخه کار وانه خیستل شي.

۵- سهولت.

۶- انسجام.

۷- اتساق، د معانیو ټینګ اتصال او ارتباط ته اتساق وايي.

۸- جزالت، ښه معاني په مناسبو الفاظو کې ادا کول دي.

۹- ګرامري لحاظ.

۱۰- د لغاتو استعمال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- فعلونه.
۱۲- استدلال او منطق.
۱۳- آهنګ.
۱۴- د لفظ او معنا تول.
۱۵- د مضمون راښکون.
۱۶- د ليکوال عقيده.
۱۷- نظم او ترتيب.
۱۸- ابتکار.
۱۹- تخيل.
۲۰- ذوق.
۲۱- حافظه.
۲۲- احساس.
۲۳- ذکا.
۲۴- د ليکوال شخصيت او اخلاقي شجاعت.
۲۵- د فکر ازادي.

که د يوه غوره نثر لپاره د الفت صيب دا پورته ځرګندونې په پام کې ونيسو په پښتو کې د الفت صيب له نثر پرته به دا سې لږې بېلګې پيدا کړو، چې پورتنې ښايستونه او ښکلاوې دې ولري، دا خو الفت دی، چې په طبيعي ډول يې د وضاحت او صراحت په جامه کې مضمون راټوکولی، د منطق او استدلال په تار يې ترلی، نوی رنګ يې ورکړی، د ځانګړي ذوق په اوبو يې وينځلی، د کلمو د آهنګ د لفظ او مانا په تول يې تللی، د فطري ذکاوت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس روح يې ورننوېستی، د ازاد فکر او رنګين تخيل د امېل لړ يې ور په غاړه کړی دی او ((کله چې فکر او خيال سره يو ځای شي، نو غرونه نړوي.)) [۱] الفت صيب هم خپل فکر او خيال د احساس په مزو داسې ترلی، چې ((لوړ خيالونه او ژور فکرونه)) ترېنه جوړ شوي دي.

((وګورئ! ورېځې پاس په هوا کې دي، څاڅکي ښکته په زمکه، هغه څه چې په هسکو ورېځو کې شته، په ژورو څاڅکو کې هم شته، په دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتېږي، د لوړ خيال او ژور فکر نتيجه يوه ده... )) [۲]

لکه څنګه چې مو دمخه د دې خبرې يادونه راوړه، د الفت صيب د پنځه ويشتو په شاوخوا کې دا ټاکل شوې ځانګړنې کولی شو د ده په نثر کې ومومو، نورې داسې کمې ښېګڼې به پيدا کړو، چې دا ټولې ځانګړتياوې دې ولري. کېدی شي الفت صيب دا ځانګړتياوې د خپل نثر له پلوه راټولې کړې وي او بيا يې د يوې غوره انشا لپاره د يوه ضرورت په توګه په ښنه کړې وي.

د الفت صيب د نثر جادو، خوږوالی، زړه راکښونه، تلپاتې توب او ښکلا په دې کې ده، چې دا د څو هنرونو مجموعي پايله، شيره او شات دي او ((کله چې يو هنر له بل سره مل شي او يو ښايست په بل کې حل شي، نو هغه څه ترېنه جوړ شي، چې سترګې يې په

---

(۱) ذهدی، روانشناسی کودک،
(۲) غوره نثرونه، ۱۱۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدلو او غوږونه يې په اورېدلو او زړونه يې په مينه او محبت نه مړېږي...[1]

## اوس راځو د استاد ژوند او د اثارو پېژندنې ته:

د استاد د ژوند او اثارو په باب په بېلابېلو کتابونو او جريدو کې ليکنې شوي دي، خو يوه هم دومره مشرح او قناعت بښونکې نه وه، چې د الفت صيب د ژوند او اثارو ټول څرنګوالی موږ ته معلوم کړي، له نېکه مرغه زما ځوان مبتکر استاد محترم زلمي هېوادمل د الفت صيب د ژوند او اثارو په باب مفصله څېړنه کړې او د (الفت ياد) نومي کتا ب کې يې خپره کړې ده. زما لپاره ډېر وخت په کار و، چې د الفت صيب په باب دومره ګټور او مفصل معلومات ترلاسه کړم او يا هم کېدی شي هېڅ مې ترلاسه کړي نه وای. هماغه و چې له محترم استاد هېوادمل سره مې په دې باب خبرې وکړې او د دې ليکنې د لنډون او د ضرورت په صورت کې د ځينو ټکو د زياتونو په باب مې ورسره مشوره وکړه، هغه د سر په سترګو ومنله، چې دا دی دلته يې راوړم:

## کورنۍ، زوکړه او ټاټوبی:

[(پر ۱۲۸۸ ل کال – ۱۹۰۹ ع کال) د لغمان د عزيز خان کڅ د منصور په کلي کې د سيد فقيرپاچا د زوی ميرسيد پاچا په کور کې يو نوي ماشوم سترګې برانيستې.

---

(۱) د زړه وينا، ح مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نوم، تخلص او مستعار نومونه:

کورنۍ پردغه نوي زوکړي ماشوم، ګل پاچا، نوم کېښود. ماشوم ګل پاچا د خپلې کورنۍ په غېږه کې لويېده، تر هغې چې د ليک لوست شو، د استعداد خاوند ځوان، د سر شارې شعري قريحې خاوند ځوان، دغه ځوان د الفت تخلص غوره کړ او چې پر کومو ليکنو يې د خپل نامه ځرګندول نه غوښتل، نو يې بيا پر دغو لاندې مستعارونومونو: (ظريف افغان، کجـروال، علاقمند، محتاج، ستمديده، نوامـوز، نادار، ارزومند، نکته رس، نکته دان، منتظر، مشاهد، حق بين، منصف، حق پسند، دلسوز، امنيت خواه، لغت دان، پارلماني وکيل، دقت پسند، اعتدالي، ملتفت، قانوني، خپل، بې زړه ،ا،ط، ګ) ليکنې وکړې.

## زده کړه:

ګل پاچا الفت د پښتو د اوسني ادب د نورو سرلارو په څېر په سيستماتيک ډول کوم ښوونځی او يا د تحصيل کومه عالي موسسه نه ده لوستې، بلکې د لغمان، ننګرهار او کابل په ديني مدرسو کې يې له جيدو علماوو څخه زده کړه وکړه: صرف، نحو، منطق، تفسير، معاني، بيان او د احاديثو کتابونه يې ولوستل. دغه زده کړې که څه هم غيرې منظمې وې، خو د ده د ځپاند فطري استعداد په تاندولو او روزلو کې يې ستر رول درلود. اما د الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره هماغه لومړنۍ زده کړې بسیا نه وې، بلکې ده د ژوند تر پایه مطالعه کوله، نوي نوي شیان یې زده کول او نوي مضمونونه یې لوستل او د خپلو دغو مطالعو او لوستنو محصول یې د خپل ژوند په اوږدو کې په بېلابېلو بڼو خپلو هېوادوالو او پښتنو ورونو ته وړاندې کړی دی.

## ژبې:

د الفت مورنۍ ژبه پښتو وه، فارسي یې هم په ښه توګه زده کړې وه ان تر دې حده، چې په ډېره لوړه ادبي پیرایه کې یې هر ډول مضامین په دې ژبه کښل او داسې اشعار یې ویل، چې په لوړو پارسي اشعارو کې حساب کېږي. سربېره پر دې الفت په دیني مدارسو کې عربي ژبه تر دې حده زده کړې وه، چې مضامین یې پرې لیکل او دغه ژبه یې هم ښه زده وه.

## رسمي ملازمتونه:

الفت چې د کابل او ننګرهار په درس ځایونو کې دودیزې زده کړې وکړې، د شپږویشتو کالو ځوان و، چې رسمي ملازمتونو ته یې مخه کړه، لومړی ځل پر ۱۳۱۴ل کال د انیس اخبار په اداره کې د کاتب په توګه ومنل شو، خو ده په کتابت بسنه ونه کړه، بلکې د لیکوالۍ په برخه کې یې له خپل استعداد څخه کار واخیست او ډېرې مقالې یې وکښلې، نوي او تازه اشعار یې وویل او خپاره کړل، د ده دغو ادبي او مطبوعاتي هڅو دی د کابل په ادبي انجمن کې جذب کړ او پر ۱۳۱۵ ل کال د ادبي انجمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالیف او ترجمې په څانګه کې د غړي په توګه ومنل شو. کله چې پر ۱۳۱۲ ل کال پښتو ټولنه جوړه شوه او د زېرې جريدې پر خپرولو يې پيل وکړ. پر ۱۳۱۲ ل کال د زېري چلوونکی مقرر شو، پر ۱۳۱۲ ل کال د پښتو ټولنې د صحافت د مدير مرستيال مقرر شو. پر ۱۳۱۹ ل کال د اصلاح ورځپاڼې مشاور او د پښتو ټولنې د قواعدو مدير شو. پر ۱۳۲۰ ل کال د اصلاح ورځپاڼې مشاور، د پښتو ټولنې عمومي مبصر او د کابل مجلې د چلوونکي په توګه وټاکل شو.

پر ۱۳۲۵ ل کال د اتحاد مشرقي جريدې مدير مقرر شو. پر ۱۳۲۷ ل کال په ننګرهار ولايت کې د قبايلو عمومي مدير شو. پر ۱۳۲۸ ل کال د شورى د اوومې دورې لپاره د جلال اباد د خلکو له خوا د وکيل په توګه انتخاب شو.

پر ۱۳۳۱ ل کال د لغمان د کرغيو د ولسوالۍ خلکو، د شورىٰ د اتمې دورې لپاره خپل وکيل وټاکه. پر ۱۳۳۴ ل کال د جلال اباد د خلکو له خوا د لويې جرګې وکيل شو.

پر ۱۳۳۵ ل کال په لومړۍ رتبه د پښتو ټولنې رئيس او د پوهنې وزارت د عالي شورا غړی مقرر شو. پر ۱۳۳۸ ل کال د پښتو ټولنې پر رياست سربېره د افغان شوروي د دوستۍ ټولنې د رئيس په توګه وټاکل شو.

پر ۱۳۴۲ ل کال دکابينې غړی شو او د قبايلو د مستقل رياست چارې ور وسپارل شوې. پر ۱۳۴۴ ل کال د ولسي جرګې د دولسمې دورې لپاره د جلال اباد د خلکو له خوا د وکيل په توګه انتخاب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نمانځنې:

ګل پاچا الفت د کار او ملازمتونو په دغه اوږده دوره کې د ښو کارونو، ابتکار او جدیت له امله د مقاماتو له خوا نمانځل شوی هم دی، چې د ده اخیستنې او نمانځنې په لاندې ډول دي:

۱- د خوشال خان د ادبي جایزې ګټل.

۲-د ابوعلي سینا د علمي جایزې ترلاسه کول.

۳-د صدارت له خوا دویمه درجه ستاینلیک.

۴- د ستوري درېیمه درجه نښان.

۵- د پوهنې دویمه درجه نښان.

۶- د وکالت د دورو نښانونه.

۷- د لویې جرګې یادګاري نښان.

## سفرونه:

ګل پاچا الفت د رسمي ملازمتونو په اوږدو کې ځینې سفرونه هم کړي دي، چې په لاندې ډول ښوول کېږي:

۱- پېښور ته د یوه ادبي هیئت په مشرۍ، چې پوهاند رښتین او مرحوم استاد خادم هم ور سره مله وو.

۲- مسکو ته د یو کلتوري هیئت په مشرۍ.

۳- د ختیځپوهانو پنځه ویشتم کانګرس کې د ګډون په منظور مونشن ته سفر، چې په دې سفرکې یې د خوشال خان ختک او پښتو ټولنې په باب دوه کنفرانسونه ورکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د آسيايي او افريقايي ليکوالو په کنفرانس کې د ګډون لپاره تاشکند ته سفر.

۵- د افغان - شوروي د دوستۍ ټولنې په بلنه د يوه هيئت په مشرۍ مسکو ته سفر.

۶- د ختيځپوهانو په شپږويشتم کانګرس کې د ګډون په منظور د يوه هيئت په مشرۍ مسکو ته سفر. په دې کانګرس کې يې د خوشال خان او رحمان بابا د شاعرۍ په باب کنفرانس ورکړی دی.

الفت په دغو سفرونو کې ويناوې کړې او کنفرانسونه يې ورکړي دي او دغه لاندې ځايونه يې نورهم ليدلي دي:

مسکو، لينګراد، سوچي، باکو، دوشنبه، تاشکند، تهران، پېښور او مونشن.

## د حج سفر:

الفت د ژوند په وروستيو کلونو کې د حج د فريضې د ادا کولو لپاره بيت الله شريف ته هم تللی و.

## کړه وړه او عادات:

مرحوم ګل پاچاالفت دنېکو اخلاقو خاوند، مهربان، پر خوارانو زړه سواند، پر وطن او وطني مصالحو مين شخصيت و.

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي يو ځای کښلي دي: «الفت په رسمې چارو کې تکړه همکار او د ملګرو په جرګه کې خوږ او خندونکی او نکته رس ملګری و. په مشاعره او نکته دانۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترهېچا پس نه پاتېدی او کله چې به د ((جد)) ډګر ته راغی، نو به یو مدبر، فکور او وطنپال سړی و.))

استاد عبدالروف بېنوا په دې باب وایي: ((ښاغلی الفت په اجتماعي ژوند کې یو مخی، خوش خلقه، متین او په عین حال کې د ورین تندي خاوند سړی دی. مجلس یې ډېرخوږ دی او خبرې یې مزاحیه روح هم لري...))

اجمل ختک د رهبر مجلې د ۳ ټوک په ۲۴ شماره (۴) نمبرکې لیکلي دي:

((...پاچا صاحب یو لوی پښتون، عالم او ادیب او شاعر دی، په نظم او نثر دواړو کې د دې دور په وړومبي صف کې په اوچتو سترګو او دنګه غړانګه مخکې روان دی، ولې تاسې ته به هومره غلی او خوله خاموشه وي...د لغمان دا پیاوړی ادیب الفت، چې بیان او لیکونه یې سړی ګوري، نو د اور لمبه محشرستان معلومېږي، ولې چې مجلس کې یې ووینې، نو دومره خاموش متین او قلار سړی، چې ته به ونه وایې، چې دا هغه ګل پاچاالفت دی، چې قلم یې د ادب او شاعرۍ پیداکولو نه هډو قلاربږي نه.

د ده په ژبه به بې ضرورته خبره رانشي او د ضرورت خبره هم پخپل وار او خپل ځای داسې په قلاره کوي، چې ته به وایې اول یې جووي او بیا یې په څه هنر، د مجلس ذهن ته د رسولو کوښښ کوي او دې سره سره موسکا د ده مستقل او حاوی صفت دی، چې دا فیصله به د الفت ډېر کم دوستان وکړی شي، چې شونډې یې موسکا ډېره کوي که وینا!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو پـه ډېر لنډ تنګ ملاقات کې دا محسوسه کړه، چې د الفت صاحب موسکا هم له وينا نه خالي نه وي. ده خوږه موسکا څـه داسـې پـه فـن او هنـر بلـده کـړې ده، چـې تـرې د موسـکا کاراخيستنې شي هم که څوک ډېر اهم بحث کې را ونښلي، نو د ده تشه موسکا هغه تـه داسې جواب ورکولی شي، چې کـه د دليـل ځای پکې هم نه وي، نو د مينې او خلوص پـه زور هغـه خبره پـه خوږوالي کې په بل فريق پرې کړي.))

## فکري مسير، ملي او سياسي سرګرمي:

د پښتو ژبې يو معاصر ليکوال د استاد الفت د فکري مسـير پـه باب کښلي دي:

((الفت يـو انتقـادي رياست و، چې د حـاکمې طبقـې ارتجـاعي څېره يې افشا کوله او د فساد، اختناق او ارتجاع پرضد يـې کله علني او کله په رمزي توګه مبارزه کوله.)).

((الفت زموږ د هېواد لـه شرايطو سره سم د يـوه نـوي او مترقـي فکر خاوند و. ده ته ملي او وطني مصالح تـر هرڅـه لوړ ښکارېدل او د وطن له آبادۍ، ملي حاکميت او د رنځونو لـه لرې کولـو سره جدي علاقمند و، د ظالمانو، رشوت خورو او د نورو پـه وينـو او غوښو د چړچه مارو له سر دښمن الفت د دغسې يـو فکـر پـه لرلـو سره په هېواد کې د سياسي او ملي غورځنګونو څخـه لرې نـه شـو پاتېدی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((کله چې د ویښو ځلمیانو نهضت شروع شو الفت په دې نهضت کې شریک و او د دغه نهضت په خصوص کې د ده خپل هغه وختنی نظر دا دی.)):

((زلمی دانه دی، چې د بلوغ سن ته رسېدلی وي او شیطان یې وغولوي، بلکې زلمی هغه دی چې په نفس و شیطان دواړو باندې غالب وي او د هلکتوب له خویونو او خواهشاتو تېر شوی وي، د جدید عصر فضایل او مدنیت دلته راولي او په ترویج کې یې کوښښ وکړي، نه دا چې تش یې زده کړي وي یا له جدید عصر نه غلط تعلیم واخلي او حریت و ازادۍ ګمان په بې قیدۍ او بې مبالاتۍ وکړي. موږ د زلمیانو په مغزو کې نوي افکار، تازه نظریات د نورو علومو رڼا، د نوي عصر معانی او د جدید قرن عشق لټوو. د جدید قرن عشق، یعنې د وطن مینه او ملي محبت، مګر تش په خوله نه، بلکې هغه مینه او محبت، چې په کار او عمل کې ظاهرېږي...))

((الفت دغه مهال د سردار شاه محمودخان د حکومت له نیم بندې ازادۍ نه په ګټې اخیستنې سره وکولای شول، چې د هېواد د نورو فکورو او منورو شخصیتونو په ملګرتیا په هېواد کې د سیاسي مفکورو د پیاوړتیا او د ملي غورځنګونو د پرمختیا لپاره کار وکړي.

هوکې! په همدې نیامت یې د((اولس)) ملي جریده را وایسته. د دې جریدې د امتیاز خاوند ګل پاچا الفت و، دا جریده د ۱۳۳۰ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال د جوزا له میاشتې د ۱۳۳۲ ل کال د عقرب تر اخره نوموړي الفت سرته رسولې ده.

تر ۱۳۳۲ ل کال وروسته په هېواد کې د ملي جريدو خپرېدل او د سياسي مفکورو د تبليغ په باب علني فعاليتونه بند شول او الفت دغه وخت له خپل رسمي موقف نه په استفادې وړاندې د خپلو ادبي ليکنو او تخليقي ايجاداتو له لارې د ملي او سياسي مبارزې سنگر تود وساته. کله چې تر ۱۳۴۵ ل کال راوروسته بيا په هېواد کې د قسمي ديموکراسۍ په رامنځته کېدو سره د ملي غورځنگونو او سياسي فعاليتونو د ودې لپاره زمينه برابره شوه، ملي مطبوعات منځته راغلل، الفت بياهم غلی نه و، بلکې له خپل ملي فکري مسير سره سم يې د جامعې، د اصلاح، د ظلم او بېعدالتۍ د له منځه وړلو لپاره، د قلم په ژبه، سياسي مبارزه پيل کړه، خصوصاً په ۱۳۵۰- ۱۳۵۲ کلونو کې يې په افغان جريده کې ډېر سياسي مضامين په پښتو او پارسي ژبو په خپلو اصلي او مستعارو نومونو وليکل.))

---

څنگه، چې دمخه مو اشاره وکړه، الفت د خپل وخت يو رياليست ليکوال او شاعر و او د خپل وخت د حاکمه طبقې له ناوړو کړو وړو څخه يې پرده او چته کړې، د مظلومانو پر حال يې ژړلي او ظالمانو ته يې بد کتلي. ځومره روښنفکرانه افکار چې د الفت په اشعارو کې د ټولنې د ويښتيا لپاره ځلېدل، د ډېرو کمو ليکوالو په اشعارو کې دا شان شور او زوږ موجود و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دې وجه يې د خپل عصر د نويو افکارو مخکښ او سرغندوی بللی شو. دغه راز کله چې د ويښ زلميانو غورځنګ جوړ شو الفت يې له مخکښانو څخه و او بيا کله، چې تر ۱۳۲۲ل کال وروسته د ويښ زلميانو غورځنګ د ځينو غړو ترمنځ درز پيدا کېږي او يوازې د انګار جريده تر پايه پورې د ويښ زلميانو نوم ساتي، الفت هم تر پايه پورې له نورو پښتنو فرهنګيانو، لکه: ساپي، خادم، انګار، رښتين، تره کي او بېنوا سره په دې غورځنګ پاتې کېږي. دې غورځنګ د هېواد په ځينو ولايتونو، لکه کندهار، پکتيا، کابل او ننګرهار کې څانګې لرلې، چې د کندهار د څانګې مشر استاد عبدالروف بېنوا، د پکتيا د څانګې مشر غلام محی الدين زرمتی، د کابل د څانګې مشر نور محمد تره کی او د ننګرهار د څانګې مشر الفت او خادم وو.

نو په دې ډول ويلی شو، چې د ويښ زلميانو په غورځنګ کې هم د استاد الفت رول ټاکونکی او بارز و.

## پارلماني مصروفيتونه:

ګل پاچا الفت د افغانستان د پارلمان (ملي شورى) ولسي جرګې په اوومه، اتمه او دولسمه دوره کې د لغمان د کرغيو او د ننګرهار د جلال آباد خلکو وکيل و. د ملي شورى په اوومه دوره کې يې د شورى دويم مرستيال ټاکل شوی و. الفت د وکالت په ټولو دورو کې له خپلو پارلماني حقوقو ناوړه استفاده نه ده کړې او د ملت حقوق يې د خپلو شخصي ګټو په منظور تر پښو لاندې کړي نه دي، بلکې د يوه باديانته او با وجدانه وکيل په توګه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو موکلینو او د افغانستان د محرومو خلکو د ګټو ملاتړ کړی دی. د حکومتونو قدرت ته، په دغو دورو کې لکه د ډېرو وکیلانو په څېر نه دی تسلیم شوی، د هغه وخت په جریدو او د شوری او ولسي جرګې په نشریو کې د ده خپرې شوې ویناوې او آراوې د دې وینا ښکارندویې دي.

## صحافي مصروفیتونه:

ګل پاچا الفت د زېري جرېدې د چلوونکي، د کابل مجلې او اتحاد مشرقي د مسوول مدیر، د ولس جریدې د امتیاز خاوند او د ((کابل کالنۍ)) د څو ګڼو د منتظم، مرتب او مهتمم په توګه کارکړی دی. د کابل مجلې د مدیریت پر وخت یې څو کتابونه هم چاپ کړي دي، چې په دې توګه مونږ د ده هڅې د یوه صحافي په توګه هم نه شو هېرولای.

الفت د زېري پر لومړۍ نشراتي دوره او پر اووم نشراتي کال ښايي تر مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹ ل مړ) وروسته د زېري جریده چلوله.

دغه وخت زېری دوه مخیزه او د قلمي اهدافو لپاره خپرېده، صحافت یې هم دودیز و، په ډېرین چاپ خپرېدله، کومه فوق العاده ښیګڼه یې نه لرله. پر داسې مقاصدو سربیره یې د هغه وخت ادبي مطالب هم خپرول.

خو کله چې ګل پاچا الفت د کابل مجلې مدیرو ټاکل شو او د دې مجلې هغه ګڼې، چې د ده د معاصرو اصولو له معایرو سره برابرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او د دغـو مجلـو مطالعـه د الفت ځېـره د يـوه پيـاوړي مجلـه چلوونکي په توګه رابرسېره کوي.

د الفت پـه مسـووليت چـاپ شـوې ګڼې، د مسـلکي اختصاصـي مجلې ټولې ځانګړنې لري، که د کابل مجلې پنځوس کلن نشـراتي کلونه، د مديرانو د کار د دورو پر اساس وڅېړو، نـو د الفت دوره د برياليو مديرانو کتار کې د اوليت حق لري.

د الفت د مسـووليت پـر وخت کابـل مجلې سربېره پـر علمـي او تحقيقي موضوعاتو او ترجمو ځينې کتابونـه هم پـه متفـرق شـکل خپـاره کـړي دي، لکـه د غنمـو وږی، پښـتو سـندرې، د پيرمحمـد کـاکړ ديـوان، د افغانسـتان پخـوانی تـاريخ او د پښـتانه شـعرا د دربېيم ټوک لپاره مواد.

د کابـل مجلـې ترمسـووليت وروسـته الفت د اتحـاد مشـرقي مسوول مدير شو. اتحاد مشرقي دولتي اخبار و او د هماغـه وخت د دولت د پـاليسيو او غوښـتنو ښکارندويي يې کولـه، الفت لکه نور اخبار ليکونکي د دولت مطرحو پاليسو په رڼا کې دغـه اخبـار چـلاوه، خـو د ده ابتکـار پـه دې کـې دا و، چـې ذوقـي او ادبـي موضـوعات يـې پـه کـې زيـات خپـاره کـړل. د ورځپـاڼې ليکنـې د اوصولو له مخې دغه اخبار کوم ابتکاري اړخ نه لري، بلکـې زمـوږ د هېواد له شرايطو سره سم دوديز اخبار دی.

الفت کـابو دوه کالـه د ولـس د ملي جريـدې د امتيـاز خاونـد و، چې د چلونې او مضـمون ليکنـې زيـات کـار يـې پـه ده پـورې اړه درلـوده، نـو ځکـه د دغـې جريـدې خپرونـې هـم د ده پـه صـحافي فعـاليتونو پـورې اړه پيـدا کـوي، د دې جريـدې مضـامين، ملـي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي، انتقادي او سياسي دي، فکري اشعار هم په کې په کافي اندازه خپاره شوي دي، خو دا چې دغه اخبار په ګستنري ډول چاپېده، نو يې صحافتي خوا ځکه نيمګړې ده او له دې پلوه يې ارزښت دومره لوړ نه دی. سربېره پر دغو صحافي فعاليتونو، الفت د کابل کالنيو په ترتيب، تنظيم او چاپ کې هم برخه اخيستې ده او دغه لاندې کالنۍ د ده په اهتمام او مسوولیت چاپ شوې دي:

۱- د ۱۳۲۱ ل کال کالنۍ.

۲- د ۱۳۲۲ ل کال کالنۍ.

۳- د ۱۳۲۳ ل کال کالنۍ.

د الفت په مسووليت خپرې شوې کالنۍ د کابل کالنيو په لړۍ کې تر نورو کالنيو پاتې نه دي، هم يې صحافي خوا بشپړه ده او هم يې علمي او معلوماتي خوا.

## د تدريس چارې:

الفت د خپلو مصروفيتونو تر څنګ د کابل پوهنتون د حقوقو او ادبياتو په پوهنځيو کې د استادۍ چارې هم سرته رسولي او په بېلابېلو مواقعو کې يې د دغو دوو پوهنځيو د ځينو صنفونو شاګردانو ته تدريس هم کړی دی.

## په نړيوالو سيمنارونو کې ګډون:

الفت په ځينو نړيوالو سيمنارونو کې د ګډون لپاره بهرنيو هېوادونو ته هم تللی دی. پر دې سربيره په هېواد کې د جوړو شويو نړيوالو سيمينارونو غړی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو سيمينارونو کې يې ويناوې کړې او علمي مقالې يې لوستي دي، لکه:

۱- د خواجه عبدالله انصاري (۴۸۲ هـ ق مړ) د نهه سوم تلين په نړيوال سيمينار.

۲- د نورالدين عبدالرحمٰن جامي (۸۹۸ هـ ق مړ) د زوکړې د پنځه سوه پنځوسمې کاليزې نړيوال سيمينار.

۳- د خوشال خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) په کابل کې جوړ شوی لومړنی نړيوال سيمينار، په دې سيمينار کې يې «د خوشال خان د اشعارو اجتماعي او اخلاقي خوا» ترسره ليک لاندې مقاله لوستې وه.

سربېره پردې الفت له ۱۳۱۴ ل کال راپه دې خوا د هېواد په موقوتو خپرونو کې پرله پسې خپلې مقالې او اشعارچاپ کړي دي، غنيمت اثار او ليکنې يې پښتو ادب ته پرې ايښې دي. که د الفت د ټولو علمي او فرهنګي هڅو جاج واخيستل شي، نو بې له شکه دی د پښتو د معاصر ادبي غورځنګ په سر لارو کې د مشرتابه حق لري او پر ځای ده، چې موږ يې استاد وبولو او د ده درنو ادبي او ګټورو اثارو ته د احترام سر ټيټ کړو.

## اثار او ليکنې:

که سړی د استاد ګل پاچا الفت د اثارو مطالعه ولري، نو به ور زباد شي، چې د ده اثار په عمومي ډول ترپنځه کتګوريو لاندې مطالعه کېدی شي:

۱ – تخليقي اثار.

۲ – تحقيقي اثار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – تحلیلي اثار.
۴ – ترجمې.
۵ - په نورو ژبو لیکنې.

### ۱- تخلیقي اثار:

د استاد ګل پاچا الفت په اثارو کې د ارزښت وړ اثار، د ده تخلیقي ایجادیات دي، چې هم د هنري اړخ له پلوه بشپړ دي او هم د موضوعي. د ده تلپاتې تخلیقي اثار زموږ د ژبې په معاصرو ادبي اثارو کې په ډېره او چته پوړۍ کې ځای نیسي، لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د ده په هنري تخلیقاتو کې لاندې ښېګڼې ښوولې دي:

۱ – جمال چې د الفاظو او کلماتو غوره کول (انتخاب) او بیا د هغه اوډنه (ترتیب) او پیودونه (نظم) یې غټې نښانې دي.

۲ – برهان او استدلال که د فطرت له هره مظهره څخه دی، یو منلی دلیل جوړولی شي او د ده په نظر کې د دنیا ټول مظاهر د استدلال لپاره ځرګندې نښې دي.

۳ – انتقاد دده د هنر غټه ښېګڼه ده. دی د مظلومو خواخوږی دی، د اجتماعي ظلمونو سخت دښمن دی، په خپل لیک کې که منظوم وي که ولسي، تجاوزاتو ته ګوته نیسي او د ده قلم په دې خوا کې ډېر تېره دی، د ظالمانو اسرار لټوي او د مظلومانو او لوڅو لغړو په کوټو ورننوځي، د دوی د فلاکت او بدبختۍ حال ګوري او هغه د ولس د عبرت لپاره په داسې ژبه بیانوي که د چا زړه ډېر کلک هم وي بیا به هم اغېزه پرې وکړي. د الفت هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظوم او منثور ليک نه شته، چې له دغو ښېګڼو ځنې تش وي، ځکه نن د پښتو ليکوالو په ډله کې الفت تر ټولو مخکې ودرېږي او د ده ليکونه د پښتو ادب شمله ګڼل شي.

د استاد الفت تخليقي اثار په لومړي سرکې په دوو عمده څانګو بېلږي:

**منظوم او منثور اثار**: په هنري، ادبي او فکري لحاظ د ده منظوم او منثور اثار دواړه خاصې ښېګڼې او مزاياوې لري، چې يو له بله بېرته نه پاتېږي، خو ځنې خلک يې منظوم تر منثورو ښه ګڼي او ځينې نور يې بيا منثورو ته تر منظومو هغو ښه وايي.

## الف: منظوم اثار:

د ده منظوم اثار په شکلي لحاظ په غزل، قصيدې، رباعي، مثنوي او نورو فورمونو کې ويل شوي دي، کله کله يې د پښتو په خپلو اصيلو او ملي فورمونو کې هم ځينې اشعار ويلي دي، چې نمونې يې موږ د استاد په ځينو مجموعو کې پيدا کولای شو.

په موضوعي لحاظ د استاد اشعار اجتماعي، ملي، وطني او انتقادي خواوې لري، خو کله کله د مينې سندرې هم بولي او بعضې وختونه عرفاني تمايلات هم ښيي، خو فکري خوا د ده په ټولو تخليقي اثارو کې درنه ده.

د استاد منظوم چاپي او ناچاپ اثارپه لاندې ډول دي:

### ۱- د پسرلي نغمه:

دغه مجموعه د استاد د منظوموتخليقي اثارو لومړنۍ چاپي مجموعه ده، چې څو پسرلني او اجتماعي شعرونه په کې خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. دا مجموعه پر ۱۳۲۰ ل کال په وړه کچه، زر ټوکه، ۴۰ مخه په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

## ۲ - ښه لمسون:

دا د استاد دويمه راټوله شوې مجموعه ده، چې د ده (۳۸) ټوټې ملي، وطني، پښتني او اجتماعي، اشعار په کې خوندي دي او خطي نسخه يې د ده په خپل خط ( ۷۰) مخه په ملي ارشيف کې خوندي ده او د ملي ارشيف په خطي کتابونوکې يې نومره (۴، ۱۴۴ ) ده. مجموعه پر ۱۳۲۰ ل کال ترتيب شوې ده او په پيل کې يې استاد يوه مقدمه ګوتې هم کښلې، چې ځينې برخې يې دا دي: (( که څوک د شعر اوسنی تعريف په نظر کې ونيسي او په ننني دنيا کې ښې سترګې وغړوي، دابه ورته څرګنده شي، چې نن د دنيا ژوندي ملتونه له شعر او شاعري ځنې يوازې همدغه هيله نه لري، چې د خلکو سترګې د جمال او طبيعي مظاهرو خواته راواړوي او د اورېدونکي په طبيعت کې تش هومره قبض او بسط پيداکړي، چې د يوه ساعت خوشحالتيا موجب وګرځي او نور څه اثر ورباندې مرتب نه شي.

هو! نن شعرته په هغه پخوانۍ سترګه نه کتل کېږي، چې يا به د شتمنو او لويو خلکو په دروازو کې ويل کېده او يا به ميخانو او خراباتو کې اورېدل کېده، ځکه چې ننني شعر له دې ابتدايي مراحلو ځينې ډېر وړاندې شوی دی او د ملتو په حال کې مسيحايي تاثير لري. نن شعر د اسرافيلي شپېلۍ داسې زړونه را ويښېږي، چې سړی ورباندې د مړو ګمان کوي، نن دا کولی شي چې پخپل حرارت او حرکت يو ملت د خپل حيات او بقا دپاره هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راز مشکلاتو ته وړاندې کړي اود هر چا په زړه کې مړاوی اور تازه کړي.))

## ۳- عالي افکار:

د استاد د اشعارو دربېمه مجموعه ده، چې د ۱۳۲۷ ل کال پر ثور (۷۰۰) ټوکه دننګرهار په دولتي مطبعه کې، په ۵۸ مخونو کې چاپ شوې ده. د دې مجموعې د روح او محتوی د څرګندونې لپاره اړ یم، چې د دغې مجموعې دوه نمونې، چې یوه د پښتو شاعرۍ په ملي اوزانو کې ویل شوې ده، تا سوته وړاندې کړم:

وینا ته چې یې ګورې د وطن په غم غمجن دی
پرې مه غولېږئ غل دی
په ژبه هرڅه وایي، وطن او ملت ستایي
په دې غم مبتلا یي
مجلس د صادقانو ته راغلی په څه چل دی
پرې مه غولېږئ غل دی
د خپل مطلب لپاره، هر ځای ته لرې لاره
تل ګرځي ناقراره
د خپل شخصي غرض نه تېرېږي ګوډ او شل دی
پرې مه غولېږئ غل دی
شپو یې که په سر وي ،په غاړه یې کالر وي
په پوهه معتبر وي
په بد نظر یې ګورئ که یې بل شانې عمل دی
پرې مه غولېږئ غل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بېلګه:

زمـــوږ پـــه محلـــه کـــې يـــو دوه مـــاموران دي
تنخوا او په رتبه کې څه فرق نه لري يو شان دي
خـوراک د يـوه هـر شـپه نـرۍ وريجـې چرګـان دي
د ورځـــې کبابونـــه ســـالنونه نورشـــيان دي
د بل مامور په کورکې ماشومان ګورم چې ژاړي
پخ کړي يې پيتي وي دوی شوروا لـه موره غواړي
ســل رنګــه نعمتونــه د هغــه کــور کــې پخېــږي
مېوې لمدې او وچې په کې هر وخت پيدا کېږي
د ښـار مـامورين واړه د هغـه کـور کـې عـذرېږي
د ښـې ډوډۍ صـفت يـې مجلسـونوکې تـل کېـږي
سـهار يـې پـه کالـه کـې پراټـې شـودې هګـۍ دي
پـه هـره ورځ پېـروي شـيرچايونه پـه چرګـۍ دي
دا بـــل مـــامورکره کلـــه ســـابه کلـــه شـــوروا وي
به مياشت کې دې يو دوه ځله نرۍ وريجې روا وي
مـــدام د پـــوروړو ورســـره غـــم او ســـودا وي
يـوه تنخـوا تـر بلـې نـه رسېږي حـال يـې دا وي
هغـه څنګـه مـامور دی د دې بـل ولـې دا حـال دی ؟
د غـــور خاوندانونـــه زمـــا دا رنګـــه ســـوال دی!.

## ۴-د ازادۍ پيغام:

د استاد الفت د پښتني ننګ او غيرت او د پښتنې او ملي احساس زېږنده اشعار، د ازادۍ په پيغام کې راټول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مجموعه چې پښتنو شاعرانو ته یې اهدا کړې ده. دوه زره ټوکه په ښکلې قطع، په افسټ ډول، په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

په مجموعه کې د استاد دیارلس پارکي خوندي دي او د شعرونو عمومي روحیه یې داده:

د دې لوړغرونو وږمه یم
راوېښ کړی مې پښتون دی
د مېړانې سرنامه یم
ازادي زما مضمون دی
د غیرت او ننګ نغمه یم
هر آهنګ مې ډېرموزون دی
د خیبر غرونه ما په سرو وینو لړلي
غلیمان د پښتنو مې پښتنو باندې وژلي

## ۵- غوره اشعار:

د استاد الفت د اشعارو ترټو لویه مجموعه ده. دغه مجموعه پر ۱۳۳۴ ل کال، ۲۵۲ مخه، دوه زره نسخې، د پښتو ټولنې له خوا په افسیټ ډول، په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده.

## ۶- د زړه وینا:

د استاد الفت د اشعارو وروستۍ چاپي مجموعه «د زړه وینا» نومېږي، دغه مجموعه په دوه ډوله (لویه او وړه کچه) ۱۲۲ مخه، په پوهنې مطبعه کې په افسیټ ډول چاپ شوې ده. مجموعه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۴۱ ل کال پښتو ټولنې خپره کړې ده. په پیل کې یې د ځینو ادیبانو او شاعرانو تقریظونه هم چاپ شوي دي.

## ۷ – ناچاپ اشعار:

د استاد ځیني نور اشعار، چې تر اوسه یا نه دي چاپ شوي او که ځینې یې په ځینو مهالنیو خپرونو کې چاپ شوي هم وي، په یادو شوو مجموعو کې نه دي راغلي.

د استاد الفت د اشعارو د مجموعو په باب یوه بله خبره هم د یادونې وړ ده، چې ځینې مجموعې یې تکراري اشعار هم لري او دا به په دې مانا وي، چې د یوې مجموعې شعرونه یې بلې ته هم انتخاب کړي او راوړي دي.

## ب: منثور تخلیقي اثار:

لکه چې ویل کېږي، د الفت منثورې ټوټې هم لکه اوډلی نظم هسې خوند لري، بې ځایه خبره نه ده. د ده منثور تخلیقي اثارهم لکه منظوم اثار یې زړه وړونکي او جذاب دي. په موضوعي لحاظ هم دغه اثار د ټولنې دردونه تمثیلوي، اجتماعي فسادونو ته ګوته نیسي او د کلیوالو خلکو له ژوند سره اړه لري، بېوزلو بزګرانو او خواریکښو شپنو او نورو خوارانو بد حال او د ظالمانو چړچې، مزې او ناروا دی په ډېرو هنري اشکالو کې څرګندوي. کله کله د طنز او مزاح روح، چې اجتماعي مقاصد پرې ولاړ وي، د ده په منثورو ټوټو کې تجلي مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد الفت منثور تخلیقي ایجادات دادي:

## ۱- بله ډیوه:

د استاد الفت د هنري نثر دغه ښکلې ګېډۍ پر ۱۳۲۰ ل کال ۹۵ مخه، پنځه سوه ټوکه په دولتي مطبعه کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده. په مجموعه کې مضامین ترشلو بېلو بېلو سرلیکونو لاندې خوندي شوي دي او د کتاب له هغې مقدمې ثخه، چې درانه لیکوال او محترم استاد (ع- ب) پرې کښلې دا ثرګندېږي، چې د ښکلو نثرونو دغه مجموعه د درسي مقاصدو لپاره کښل شوې ده.

## ۲- نوی سبک او نوی ادب:

د استاد الفت د هنري تخلیقي منثورو اثارو دویمه مجموعه ده، چې ټول ۲۳ مخونه لري او د داخلي نشریاتو له خوا (۵۰۰) ټوکه په دولتي مطبعه کې، په وړه کچه چاپ شوې ده.

## ۳- غوره نثرونه:

د استاد الفت د هنري نثرونو لویه او بشپړه مجموعه غوره نثرونه نومېږي، چې پر ۱۳۳۲ ل کال د پښتو ټولنې له خوا (۲۵۰۰) ټوکه په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده. د مجموعې مخونه ۱۱۸ دي. استاد الفت چې کومه مقدمه د دغه اثر په پیل کې لیکلې، یو ځای یې لیکلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«...د دې کتاب پاڼې زما د ډېرې مودې د خاطراتو يوه برخه ده، چې زما په نظر ادبي قېمت لري او زه يې خپل غوره نثرونه ګڼم.»

## (۲) تحقیقي اثار:

استاد الفت د خپلو مهمو او جالبو تخليقي اثارو تر څنګه په بېلوبېلو برخو کې تحقيقي اثار هم رامنځته کړي دي، چې لاندې به د ده دغه ډول اثار په ګوته کړو:

## الف: ژبنۍ څېړنې:

استاد ګل پاچا الفت په دوديزه توګه د ژبنيو مسايلو په باب هم څېړني او ليکنې کړې دي، چې زه به يې د ځينو مقالو او په دې خصوص کې د کتابونو معرفي وړاندې کړم:

### ۱ – لغوي څېړنه:

د استاد ژبنيو څېړنو په باب مستقل چاپ شوی کتاب دی، چې دغه موضوعات څېړي:

«په پښتو کې بدليدونکي توري، ځای بدلوونکي توري، لوېدونکي توري، پښتو لغوي استعداد، مرادف لغات، د ليکنو لغاتو معنوي سهوې، د لغاتو پلټنه» دغه اثر ۸۴ مخه لري، پر ۱۳۳۱ ل کال په وړه کچه، په دولتي مطبعه کې، دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

تر دغه مستقل چاپ شوي کتاب دمخه او وروسته هم استاد الفت ژبنۍ څېړنې کړي دي، چې د مقالو په ترڅ کې يې په کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالنیو او کابل مجلې کې خپرې کړي دي. زه به د استاد د دغه ډول ځینو مقالو یادونه وکړم.

۱ - پښتو ته یوه کتنه: په دې مقاله کې پر لغاتو، پر مصادرو، قواعدو او محاورې باندې بحثونه شوي دي.

۲ - د پښتو په شاوخوا کې: په دې مقاله کې تر مقدماتي خبرو وروسته مترادف لغات د پښتو ادبي خصوصیات څېړل شوي دي.

۳ - چند نکته در گرامر و لغت پشتو: دغه مقاله د پښتو گرامر د ځینو خواو او لغاتو په باب استاد په پارسي ژبه کښلې ده.

۴ – پښتو مصدرونه:

۵ - کړه او فعلونه:

۶ - متعدي او لازمي افعال: د ده نورې مقالې دي، چې مالیدلي دي او په دې خصوص کې نورې متفرقې لیکنې هم لري.

## ب – د لیکوالۍ (املا - انشاء) په باب څېړنې:

گل پاچا الفت زموږ د پښتو د اوسني ادبي غورځنگ په سرلارو کې تر هر چا زیات د لیکوالۍ (املا - انشاء) په باب لیکنې کړې دي. په دې باب د ده لومړنۍ مقاله پر ۱۳۲۱ ل کال ((د پښتو لیک)) ترسرلیک لاندې او بله مفصله مقاله پر ۱۳۲۳ ل کال ((د پښتو نثري سبکونه)) ترسرلیک لاندې خپره شوه. ده بیا په دې خصوص کې مفصل اثار ولیکل او نشر کړل، چې زه یې لاندې معرفي کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱ – څه لیک یا لیک پوهه:

د املا او انشاء په باب د استاد الفت لومړنی اثر دغه دی، چې پر ۱۳۲۸ ل کال، ۲۰۰ ټوکه، ۹۲ مخه، په جلال اباد کې چاپ شوی دی.

استاد د دغه کتاب د لیکلو هدف پخپله داسې بیانوي:

((لازمه ایسي، چې لیکونکی د خپلې ژبې له ادبي قواعدو او فصاحت له اصولو خبر شي او کوښښ وکړي، چې خپل لیک ښه کړي، یعنې یو څه ښه صحیح، سلیس، خوږ، عام فهمه، فصیح او بلیغ ولیکي. د همدې مطلب لپاره زه غواړم، چې د پښتو د ابتدایي او نویو لیکونکو دپاره څه ناڅه لارښوونه وکړم او په دې لاره کې لږه رڼا پیدا کړم، ګوندې د پښتو د املا او انشاء د تعلیم په سلسله کې یو کوچنوټی خدمت وباله شي او لږ غوندې مفید واقع شي)).

د استاد تر مقدمې وروسته بیا پر املا د تنقیط علامات، انشاء، فصاحت، معاني او بلاغت بیان شوي او دکتاب تر ۴۷ مخ وروسته((د انشاء او څه لیکلو نمونې)) تر سرلیک لاندې، پر دې کتاب د لوی استاد پوهاند حبیبي، س،م، استاد بېنوا، استاد خادم، مرحوم سعیداو پوهاند رښتین تقریظونه او نظریات چاپ شوي دي.

اروانباد استادقیام الدین خادم (۱۳۵۸ ل مړ) د دغه اثر په باب کښلي دي: ((څه لیکل یالیک پوهه مې له اوله تر اخره وکتله، پس له یوې مقدمې، چې د قلم زورپه کې له ورایه ناري وهي، د املا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انشاء، فصاحت، بلاغت، کنايې، استعارې، مجاز، بحثونه، د کلام محاسن او مصايب، د تنقيط اصول او داسې نور ادبي مباحث په ښه خوږه ادبي ژبه او خوندورې لهجې سره، د ښو مثالونو او تمثيلاتو په وجيز او لنډ صورت شوي دي، کتاب مختصر ولې معنا دار دی، زه يې يو مغتنم تاليف بولم)).

(۲) املا او انشاء:

د استاد د دې سلسلې دويم کتاب دی، چې د لومړي کتاب مطالب يې په څه بشپړ شکل په کې راوړي دي، دغه کتاب پر ۱۳۳۸ ل کال پښتو ټولنې خپور کړی دی.

(۳) ليکوالي ( املا او انشاء):

په دې لړکې د استاد دريم کتاب په دې نامه يادېږي او دا ددې سلسلې د دويم نومره کتاب بشپړ شکل او دويم چاپ دی، چې تر لومړي چاپ څخه زياتونې هم په کې شوي او زياتې برخې لري. دغه کتاب پر ۱۳۲۹ ل کال، ۲۲۰ مخه پښتو ټولنې درې زره نسخې) په دولتي مطبعه کې چاپ کړی دی. د دې کتاب مطالب دادي: ((املا ټکي او ليک نښې، د املا په باب د پښتو ټولنې فيصلې، پښتو املا په پښتو کتابو کې، انشاء (ليکوالي) سبک، دخوشحال سبک، دحميد سبک، پښتو څنګه وليکو، په پښتو کې ځينې لغوي او ګرامري تغيرونه، ګرامري اختلاف، ادبي انتقاد، شعر، او ادب، د ادب راز د پښتو پخواني نثرونه، اوسنی نثر)) او بيا په کتاب کې ترپايه د اوسني نثرنمونې راوړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اثر نه یوازې د زده کوونکو او محصلینو لپاره د اړتیا وړ یو مهم اثر دی، بلکې د ټولو هغوکسانو لپاره، چې لیک لیکي د یوه لارښود اثر ارزښت لري.

په دې اثر کې د یوې ښې ادبي لیکنې او اثر لپاره د شپږویشتو په شاوخوا کې مهم ټکي په ګوته شوي، چې د هغو په تطبیق او مراعات سره کېدی شي، یوه ادبي لیکنه خپل لوړ معیار ته ورسېږي.

## ج: ادبي څېړنې:

استاد ګل پاچا الفت د ادبیاتو او ادبي مطالعاتو په باب هم تحقیقي څېړنې کړې دي، چې په هغوکې یې تر ټولو مهم اثر «ادبي بحثونه» نومېږي. دغه اثر پر ۱۳۳۲ ل کال، ۱۴۴ مخه، دکابل په عمومي مطبعه کې، د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. ادبي بحثونه لومړی په کابل مجله کې پرله پسې خپور شوی و، بیا په کتابي بڼه راټول شو.

## د: دپښتو ادبي تاریخ او ادبي مشاهیرو په باب لیکنې:

استاد الفت دخپل ادبي زیار او کوښښ په لړۍ کې دپښتو ادب تاریخ او ادبي مشاهیرو په باب هم لیکنې کړې دي لکه:

### ۱ – د پښتانه شعرا په لیکلو کې برخه اخیستنه:

د پښتانه شعرا دلومړي ټوک په لیکنه او پلټنه کې، د پښتانه شعرا د دویم ټوک لپاره د نیاز محمد ګوجر، محمد ولي، حضرت علي او اکرم جان سوانح دوی کښلي دي، د پښتانه شعرا دریم ټوک لپاره هم څلور تنه شاعران دوی معرفي کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ – پښتو سندرې:

دغه کتاب پر ۱۳۲۵ ل کال کې، ۱۲۸ مخه، د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی، لومړی په متفرق شکل کابل مجلې چاپ کړ، بیا یې کتابي شکل غوره کړ.

د کتاب پېژندنه پخپله د استاد الفت په الفاظو کې ولولئ: ((په دې کتاب کې د پښتو غوره او منتخب اشعار او هر ډول سندرې ټولې شوې دي، خو یوازې منتخب اشعار ورته نشو ویلی، ځکه چې اشعارو باندې ادبي تبصره هم شوېده او د ادبي انتقاد روح هم په کې لیده شي، د پښتو سندرو تاریخ هم په کې په اجمالي ډول پروت دی او د شاعرانو مقابله او موازنه هم په صریح ډول تریوه حده شوې ده)).

په دې کتاب کې د پښتو، شعر د تاریخ په لحاظ ۱۳۹ هـ ق څخه تر ۱۳۰۰ هـ ق پورې تر نظر لاندې نیول شوی دی او د دې له امله، چې د پښتو شعر سیر او تحول له هغه وخته تردغه وخته معلوم شي.

کوم شاعران، چې دې کتاب کې یې د کلام نمونې راغلې دي ۳۸ تنه کېږي، وروسته تر دې د پښتو څه غوره او منتخبې لنډۍ راغلې دي او ورپسې د شاعرانو قضاوتونه، د پښتو شاعرانو په باب را اخیستل شوي دي.

### ۳ – ملي قهرمان:

د پښتو د اوڅار شاعرخوشال خان خټک په باب لیکل شوی کتاب دی، چې پر۱۳۴۴ ل کال د قبایلو ریاست له خوا، دوه زره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوکه په شمېر، د پوهنې مطبعه کې چاپ شوی دی. ټول مخونه یې ۱۲۴ دي. د استاد دغه لوړ یاد شوي دوه کتابونه (پښتو سندرې او ملي قهرمان) دوه برخې لري: یوه یې تحقیقي برخه ده او بله یې تحلیلي.

### هـ : اجتماعي او دیني اثار:

استاد ګل پاچا الفت د ادبي اثارو د ایجاد او تحقیق ترڅنګه تل پر مختلفو اجتماعي موضوعاتو اثار، کتابونه او مقالې لیکلې دي، چې لنډیز یې لاندې وړاندې کېږي:

### ۱ – منطق:

په دې نامه د استاد الفت یوه رساله، زر ټوکه، **۵۷** مخه، پر **۱۳۳۵** ل کال پښتو ټولنې خپره کړې ده. د دې رسالې عناوین دا دي:

نطق، د منطق لنډ تعریف، منطق، شرح تفسیر او ترجمه، هغه تفسیر چې په غرب کې منطق ته ورکړ شوی دی. د نوي او زاړه منطق اختلافات، د منطق مدخل، پنځه کلیات او نور...

**۲** – پښتونولي: د استاد دیوې مقالې عنوان دی، چې په کابل کالنۍ کې خپره شوې ده.

### ۳- دیني مقالې او کتابونه:

استاد الفت د اسلام د مقدس دین د اساساتو په باب ډېرې مقالې کښلې دي، چې د هېواد خپرونو په متفرق ډول خپرې کړې دي، سربېره پر دې استاد دخپل ژوند په وروستیو کلونو کې د اسلامي نظریاتو پر بنا دټولنې پرجوړښت او ټولنېزو مسایلو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهم کتاب کښلې دی، چې پر ۱۹۷۹ م – ۱۳۵۸ ل کال په افسیټ ډول په لاهور کې چاپ شوی دی*.

---

* ښايي له دې کتاب څخه د استاد هېوادمل مقصد هغه کتاب وي، چې استاد الفت د خپل ژوند د وروستیو کلونو په بهیر کې لیکلی دی. دا اثر " اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کې » نومېږي، چې د استاد تر مړینې وروسته د هغه د زوی مرحوم عزیزالرحمن الفت په زیار ترتیب او چاپ شوی دی. دا اثر ټول ۲۴۱ مخونه لري.

په افسیټ ډول، په ښکلي قطع او صحافت خپور شوی دی. د کتاب شمېر د چاپ کال او ځای نه دی معلوم، خو د کتاب د پښتۍ پر لومړۍ مخ د ۱۳۵۶ کال دحوت میاشت نېټه لیکل شوې ده.

دلته دا نه معلومېږي، چې دا د چاپ کال دی که د مدون د کار د پای نېټه ده، ځکه چې د کتاب دترتیب کار د ۱۳۵۲ کال دقوس تر میاشتې وروسته، چې د الفت صیب د ژوند وروستي وختونه دي، پیل شوی دی. د دوو میاشتو په موده کې یې ایله که ترتیب کړی وي او د چاپ کار یې ممکن نه برېښي. بله دا چې د کتاب له چاپي چارو څخه داسې برېښي، چې په افغانستان کې نه دی چاپ شوی، دلته ښايي د هېوادمل صیب خبره صدق وکړي، چې وايي: « پر ۱۹۷۹م ۱۳۵۸ ل کال په افسیټ ډوله په لاهور کې چاپ شوی دی.»

د نوموړي کتاب په پیل کې په ۱۴ مخونو کې د مرحوم عزیز الرحمن الفت له خوا د دې کتاب په باب یو ګټور او معلوماتي تقریظ لیکل شوی دی. داکتاب پر دې لاندې مطالبو باندې بحث او څېړنه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – اسلام ۲- صالح عمل، ۳ – اسلام او ایمان، ۴- اسلامي جامعه جوړول، ۵- طبقاتي جامعه د اسلام په نظر کې، ۲ – امر په معروف او نهې له منکر څخه، ۷ د ظلم مخنیوی، ۸- مرسته او تعاون، ۹ – د فرد جوړول، ۱۰- مالکیت او مالي سیاست په اسلام کې، ۱۱- د اسلامي اخلاقو غایه او اغېزه، ۱۲- جود او سخا، ۱۳ – اسلامي تصوف، ۱۴، شریعت او حقیقت یا تشریع او تحیقیق. ۱۵ – د صوفیانو مقامونه او احوال. ۱۲ – د تصوف طریقې، ۱۷ – د تصوف مدرسې، ۱۸ – د تصوف په باب ځینې ایتونه او حدیثونه، ۱۹ – متکلمین او علم کلام، ۲۰- اجتهاد. (د تقریظ د – هـ مخونه)].

---

## و- درسي لیکنې:

استاد ګل پاچا الفت د پښتو ژبې د کورسونو لپاره دوه درسي کتابونه هم لیکلي دي، چې لومړی یې «پښتو کلي پنځم جلد - لومړی ټوک» دی دغه کتاب د برش لوسته لري او پر ۱۳۲۱ ل کال، ۴۲ مخه، د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی.

دویم یې: «د پښتو کلي پنځم جلد - دویم ټوک» نومېږي، چې دا هم پښتو ټولنې پر همدې کال، ۵۲ مخه، د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ کړی دی. په دې کتاب کې ۳۲ لوسته راغلي دي.

## ۳ – تحلیلي لیکنې او اثار:

د استاد الفت ځینې اثار او لیکنې تحلیلي بڼه لري، د موضوعاتو تفصیل او تفسیر یې د ده خپل تحلیل دی، لکه چې د مخه مې هم د دې خبرې ذکر وکړو، چې په (ادبي بحثونه)، (ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهرمان)، (پښتو سندرې) او قسماً په ليکوالي نومي اثر کې ځينې داسې برخې شته، چې د استاد دتحليل زېږنده دي. پر دې سربېره استاد پر بېلابېلو وختونو تحليلي څېړنې او مقالې وړاندې کړې دي، چې د مثال لپاره يې د څو ليکنو يادونه کوم:

(۱) زموږ ادبي نهضت يا اوسنی ادب:

په دې ليکنه کې د پښتو پر معاصر ادب يوه تحليلي څېړنه وړاندې شوې ده، د مخلص، پوهاند حبيبي، خادم، پژواک، رښتين، جلالي او بېنوا اشعار يې په موضوعي لحاظ تحليل کړي دي.

(۲)د پښتو اوسنۍ مشاعرې:

په دې مقاله کې د پښتو پر دوو مشاعرو تحليلي څېړنه وړاندې شوې ده، د دې مقالې تحليلونه د ۱۳۲۳ ل کال د ثور پر مياشت پرجوړه شوې پسرلنۍ مشاعره او د ۱۳۲۲ل کال د سنبلې پر مياشت پرجوړې شوې مشاعرې باندې ولاړ دي. د ۱۳۲۳ ل کال پسرلنۍ مشاعره د ښکارندوی غوري.

پردۍ قصيده:

((د پســرلي ښــکلونکي بيـاکړل ســينګارونه
بــــيا يـــې ولـــونـــل په غرونو کې لالونه))

باندې شوې وه.

(۲) د شعر او ادب په مجموعه کې د (شعر) په باب د استاد يوه تحليلي مقاله چاپ شوې ده، سر بېره پر ادبي تحليلي څېړنو استاد، د سياسي پېښو او اجتماعي مسايلو په باب هم ځينې تحليلي څېړنې او ليکنې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه:

- په (ولس)، (افغان) او نورو ملي او دولتي جریدوکې د ورځنیو پېښو، سیاسي او اجتماعي مسایلو په باب تحلیلونه.

د شوری د دولسمې دورې ورځپېښې او تحلیل د دوی بل دغه ډول اثر دی.

(۴) ترجمې:

استاد ګل پاچاالفت د لیکنو ترڅنګ ځینې ترجمې هم لري، چې دځینو هغو یادونه دلته لازمه ایسي:

(۱) لوړ خیالونه او ژورفکرونه:

د استاد د دغه اثر پر پښتی کښل شوي دي: انتخاب، تالیف او ترجمه، په دې اثرکې د نړۍ د بېلابېلو هېوادو مفکرینو او پوهانو لنډې وینا وې، وجیزې او کښنې ترجمه شوې دي. کتاب ۹۷ مخه، زرټوکه، پر ۱۳۳۵ ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

(۲)د ټولنې علم:

(۳) د موفقیت لاره: د استاد دوه نور اثار دي، چې له نورو ژبو یې ترجمه کړي، خو چاپ شوي نه دي.

(۴)د احمدشاه بابا افغان ترجمه او لنډیز:

دغه اثر مرحوم میرغلام غبار (۱۳۵۲ ل مړ) په پارسي ژبه کښلی دی، استاد دغه کتاب لنډ کړی او په پښتو یې ژباړلی دی، د ده ترجمه د کابل مجلې په دووګڼوکې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(**۵**)په نورو ژبو لیکنې:

لکه چې دمخه مې ویلي وو، استاد الفت پر خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په نورو ژبو هم پوهېده، په دغو ژبو یې لیکنې کړي او اشعار یې ویلي دي:

(۱) پارسي لیکنې:

په پارسي ژبه د استاد کوم مستقل اثر ما ته نه دی معلوم، خو متفرقه لیکنې یې زیاتې دي، چې دځینو یادونه یې په تېرو برخو کې وشوه. استاد ډېرعلمي، سیاسي او ادبي مسایل، په دې ژبه کښلي دي او ښه اشعار یې هم په دې ژبه ویلي دي، چې د نمونې لپاره یې لاندې پاړکي وګورئ:

می شنیدم از نسیم هرلحظه درباغ این سخن
نیستم درقید رنگ وبوچو بلبل ای چمن
مانع سیرم نه کوه و دشت وصحرا میشود
میتوان رفتن به یکدم از چمن درانجمن
گر میدانی نه پایم هیچگونه سربرمتاب
می برم بوی خوشت را درمشام مردو زن
فارغ از قید زمان وازمکان تنها منم
گاه اندرباغ می گردم گهی اندردمن
رفتن بالا و پایینم نشانت میدهد
کاین فراز و این نشیب هېچست اندر نزدمن.

مرحوم خان محمد خسته د ده پر پارسي اشعارو د تبصرې په ترڅ کې یو ځای کښلي دي: ((ابتکار مضامین ازخصوصیات طبع

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالی اوست در پشتو و فارسی با اقتدار تمام شعر میگوید و در اشعار خود بسا فلسفه حیات و ممات انساني راتبارز میدهد.))

(۲) عربي ليکنې:

استاد الفت په عربي ژبه هم ليکنې لري، د ده عربي ليکنې په الفلاح مجله کې چاپ شوې دي. تردې ځایه ما د استاد اثار معرفي کړل، استاد پر دغو اثارو سربېره نور ډېرکتابونه هم ليکلي دي، چې ناچاپ دي، لکه:

(۱) نوی څرک.

(۲) اجتماعي نظريات. ✸

(۳) څه ګورم.

(۴) د اشعارو مجموعې:

هغه مقالې چې استاد پر مختلفو موضوعاتو په زېري، کابل مجله، اصلاح، انیس، کالینو، ژوندون، طلوع افغان، وږمه، الفلاح، اتحاد مشرقي او نورو کې ليکلي، شمېر يې ترزرو زياتېږي.

---

✸ د استاد الفت دا اثر (اجتماعي نظريات) د هغه تر مرګه وروسته، د هغه زوی عزيزالرحمن الفت په هڅه او هاند په پېښور کې چاپ شوی دی. دا کتاب ما یوه شپه له یو چا سره ولید، خو د لوستلو فرصت راته مساعد نه شو، بيا مې ډېره هڅه وکړه، خو تر اوسه پورې لاسته رانغی، د چاپ کال يې راته په ياد پاتې نه دی، د کتاب قطع او صحافت نسبتاً کوچني وو، پر پښتۍ يې ليکل شوي وو: ((د افغانستان د مجاهدينو د اطلاعتي مرکز له خوا)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر رسمي ملازمتونو وروسته:

د استاد ګل پاچا الفت وروستی دولتي ماموریت د قبایلو مستقل ریاست او بیا تردې وروسته د شورئ دولسمه دوره کې وکالت و. تر وکالت وروسته د مرګ تر ورځې کابو اته کاله پرکور ناست او د زړه پر رنځ اخته و. د ډاکترانو له خوا له سختو بندیزونو سره سره هم، ده دغه اته کاله وخت خوشې تیرنه کړ، بلکې مطالعه یې درلوده او تر ۱۳۵۲ ل کال پورې یې په ملي جریدو کې سیاسي، اجتماعي او انتقادي مضامین خپرول، شعر خو یې د مرګ تر ورځې پورې وایه.

ژمې به د لغمان په کڅ او جلال اباد کې و، اوړی به کله کوهستان کې اوسېده او کله به هم په کابل کې په خپل کور کې د پره و.

## مړینه او مزار:

استاد ګل پاچاالفت ترکابو څلوېښتکلنو ادبي، ملي او اجتماعي خدماتو وروسته د ۱۳۵۶ ل کال لیندۍ د میاشتې پر۲۸ مه نېټه له نړۍ نه سترګې پټې کړې او د هېواد ټول ادبي او علمي محافل یې په مړینه ویرمن شول.

دی د عزیز خان کڅ د منصور کلي په هدیره کې د کابل – ننګرهار د لوی واټ پر غاړه خاورو ته وسپارل شو. په جنازه کې یې پر خپلوانو سربېره دکابل او ننګرهار ادبا وو، شاعرانو او دولتي عالي رتبه مامورینو ګډون کړی و.

د پښتو ټولنې غړي یې جنازې ته تللي وو او پښتو ټولنې له خوا یې سوانح پرمزار ولوستل شوې او د ګلانو ګېډۍ پرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ټولنې رئيس کېښوده، فاتحه يې هم د دغې موسسې له خوا واخيستل شوه، ارواېې ښاده.

کورنۍ:

استاد الفت يوه مېرمن، پنځه زامن او يوه لور لري[1] هغه څوک چې د بشريت، انساني کرامت او خپل ولس د خدمت لپاره خپل ژوند قربانوي، که د نړۍ په هرګوټ کې وي، د زړه خبره يې يوه وي.

د نړۍ يوه مبارز شخص به ويل: ((د تاريخ په ټولو دورو کې هغوی، چې د ۷۰ کلنۍ سن ته رسېدلي دي، ډېر لږ پيدا کېږي، زه چې سږکال د ۷۹ کلنۍ سن ته رسيدلی يم د دغوو (لږ پيدا) کسانو په ډله کې راځم، که څه هم روغتيا مې د تېرو کلونو په پرتله يو څه کمزورتيا موندلې ده، لېکن ضمير مې هماغسې روښانه دی.

ما د ژوندانه په دوران کې په صميمانه ډول خپل ملت او هېواد ته خدمت کړی دی، که اوس له نړۍ څخه ولاړ شم، نو شرمنده نه يم او يوازې په دې کار افسوس کوم، چې نور نه شم کولای زيات خدمت وکړم.

زما تر مرګه وروسته دې د ماتمي تشريفاتو له سرته رسولو څخه ډډه وشي، چې د خلکو وخت او پيسې بې ځايه مصرف نه شي.))[2]

الفت صيب د احساس، مينې او عاطفې د سمبول په توګه په خپل ژوند کې هرڅه چې له لاسه وشول، د خپل ولس د خدمت

---

[1] زلمی هېوادمل: دالفت ياد، ۱۳۴۱ کال ۸۴۴ – ۱۲۱ مخونه.

[2] محمد نبي صلاحي، قبايلي ځلميان، ۱۳۲۲ کال پرله پسې ۲۱مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره يې ترې کار واخيست او په خپل وصيت ليک کې يې داسې څه ويلي، چې وروسته تر مرګه هم د خلکو د خدمت لپاره په کې د ده مينه له ورايه ښکاري.

## وصيت

غـواړم چـې مـرګ مـې وي پـه شـان د يـو فقيـر
نـه دې پـه کـې ويـر وي نـه د خلکـو ډېـر بهيـر
نـه دې راډيـو کـې وي زمـا د مـرګ اعـلان
نـه دې وي زمـا پـه قبـر خـان وبيـک اميـر
خـاورو تـه دې وسـپاري مـا هغـه دهقانـان
هغـه چـې کـري تخـم او وړي خيـر يـې کثيـر
نـور څـه وړم عجـز نيـاز بـه وړمـه خـدای تـه
رحـم او کـرم تـه بـه يـې وړم عذر وتقصيـر
لاس کـې څـه نـه وچـې نهـر وبړي مـاړه کـړم
زړه کـې خـو څـه و چـې يـې پـه دوی کړمـه ذهيـر
ښـه بـه وي کـه لږمـې دا تيـاره قبـر رڼـا کانـدي
کـه مـې رڼـا کـړي وي د چـا ذهـن وضـمير
مـه کـړئ د ريـا لپـاره ماپسـې خيـرات
ځـان پسـې نـه غـواړم خيراتونـه چشـمګير
ورکـړئ غريبـانو تـه کـه وي زمـا څـه مـال
پـټ غونـدې لـه خلکـو چـې پکـې نـه وي تشـهير
خدای تـه ډېـر ډېـر نـږدې وي لـه هر چا څخـه الفتـه
هغـه چـې دنيـا کـې وي غريـب خـوار و حقيـر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه بله خبره، چې دالفت صیب د دې نثرونو په باب یې یادول ضروري برېښي هغه د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې د هغه د لیکنو او نثرونو خپرېدل دي. ماچې له کومو خپرونو څخه د هغه نثرونه راکښل، نو کله کله به له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوم، د هغه نورې لیکنې هم دومره خوږې وې، چې سړي فکرکاوه داهم تخلیقي نثرونه دي، د یو چا پرکتاب له تبصرې څخه نیولې تر ژباړې، تحقیقي، انتقادي او تحلیلي لیکنو پورې ټولې دومره خوږې دي، چې کېدی شي د الفت صیب دویم تخلیقي نثرونه یې وبولو.

ماچې د دې اثر د ټولولو په ترڅ کې کومې ژباړې ولوستلې، نو دومره لذت مې ترې واخیست، چې حد نه لري. که چېرې د ژوند د ستونزو په نورو برخو کې مصروف نه شوم، نو ضرور به د ادبیاتو په برخه کې د الفت صیب د ژباړې یوه مجموعه ترې جوړوم، چې ټولنه او خلک ترې، لکه (لوړ خیالونه او ژورفکرونه) ګټه واخلي.

د استاد الفت یو شمېر لیکنې د هغه په مستعارو نومونو هم خپرې شوې دي، خو تخلیقي نثرونه یې اکثراً په خپل اصلي نوم او لنډ نوم (ګل پاچاالفت) خپرې کړیدي، ما د هغه په مستعارو نومونو د هغه دتخلیقي نثرونو لټون هم وکړ، نورې لیکنې مې زیاتې پیدا کړې، خو تخلیقي نثرونه مې دګوتو په شمار وموندل، چې له هغو څخه هم ځینې د هغه په اصلي نوم خپاره شویدي.

د الفت صیب په دې نثرونو کې داسې نثرونه هم شته، چې سرلیکونه یې یو شان وو، خو متن او تریوې اندازې یې محتوا تغیر موندلی دی، ما دا واړه متنونه راوړي، لکه (شعر او ادب) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ماشومان) داسې نثرونه هم په کې وو، چې عنوانونه يې بېل بېل وو، خو متن او محتوا يې يو شان وه، له هغو څخه مې يو متن را اخيستی. بل ټکی د ادی، چې ترخپله وسه وسه مې کوښښ کړی، چې د الفت صيب نثرونه په همغه خپله بڼه او اصالت سره رانتقال کړم او په متن کې له امانتکارۍ څخه کار واخلم، يوازې په څو برخو کې د ضرورت له مخې څه تغير ته مجبور شوی يم.

يو دا چې کله مې يو نثر لوست، که له کتاب څخه مې اخيسته، نو متن مې د سمون ليک له مخې ښه کره کاوه بيا مې را انتقالوه، همدارنګه دکابل مجلې ځينو ګڼو هم په پای کې سمونليکونه درلودل، د طباعتي تېروتنو په صورت کې مې له هغو څخه استفاده کوله، دغه راز په نورو نثرونو کې چې کوم ټکی يا کلمه ماته طباعتي تېروتنه ښکارېده، په هغو کې مې هم سمون راوړی دی.

دويم دا چې د پښتو د څو کلونو (۲۰- ۴۰) په مخني ليکدود کې ځينې کلمې په يوه بڼه ليکل کېدلې، خو اوس په بله بڼه ليکل کېږي، چې ما د دغو کلمو اوسنی شکل راوړی دی، لکه: (چه، بلکه، کښې، خلق) او داسې نور، چې اوس يې د (چې، بلکې، کې او خلک) په بڼه ليکي.

نور مې د الفت صيب نثرونه په پوره امانت را انتقال کړيدي. ما تر ډېره حده زيار ووېست، چې د الفت صيب ټول تخليقي نثرونه راټول کړم او د هغه د نثري کلياتو په نوم يې ونوموم، خو زما له هڅو سره سره کېدی شي د الفت صيب ځينې نثرونه پاتې شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې غواړم د هېواد د نومیالي شاعر محترم صدیق کاوون توپاني، چې د کتاب د چاپ په برخه کې یې له ماسره ډېره ډېره مرسته وکړه، د پښتو ادب د پالونکي او لوی خدمتگار محترم زلمي هېوادمل نه، چې ماته یې په دې برخه کې دقیقې لارښوونې وکړې، گران ورور ځوان او نوښتگر شاعر لال پاچا ازمون، خپل درنو همتولگیانو (کریمې، گل غوټۍ، انجیلا جلیلي او بلقیس اندړ) نه، چې د دې اثر په را ټولېدنه کې یې تر خپله وسه له ماسره مرسته کړې، د زړه له کومې او د احساس له تله مننه وکړم.

په ډېر درنښت
له پښتو، پښتونولۍ او انسانیت نه په ډکو ولولو
اسمعٰیل یون
د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو
څانگې محصل
۱۳۷۰ لمریز کال، چنگاښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوره نثرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پردې خبرې

ترځو، چې د ښځو مخونه پټ وي خبرې به هم په پرده کې وي، ځکه چې په پښتو کې خبره هم مونثه ده.

یوازې خبره لا څه، چې ژبه، وینا، معنیٰ، خطابه، مقاله هم د تانیث علامې لري.

هغه وینا، چې ابتکار په کې وي د ادب پردې ته لا ډېر ضرورت لري.

تاسې زما خبرو ته لږ غوندې باریك شئ!

د ادب او سیاست خبره ډېره باریکه ده.

زه په ډېره نرۍ او باریکه لار لاړم، خدای دې وکړي، چې ډېر باریك بین خلك پر دغه لار راشي او په ځیرځیر وګوري.

ما اوښان نه دي بارکړي، زما قافله د مچیو ده، چې د ګلونو له پاڼو نه په هوا څه راوړي او عسل جوړوي.

له دې قافلې سره د سبا وږمو خوشبویي بار کړې ده، چې څوك یې په سترګو نهویني، مګر حساس دماغونه یې احساس کولی شي.

هو! زما کار له احساس سره دی، زما خریدار باید ډېر حساس وي یا ډېر حساس شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاروی

مونږ د خپلو کورونو له څنګه په دېره کې ناست وو.
له پاسه یو لاروی راغی د ونې ډډ ته یې ډډه ولګوله.
له ملانه یې ډوډۍ پرانیستله او له څه شي سره یې په خوند خوند خوړله مونږ وږي تږي وو، هغه ځان موړ کړ او یخې اوبه یې وڅښلې.
مونږ روژه وو. هغه بوزه و، ځکه چې په مسافرو باندې روژې نشته.
لاروي وویل: ماته دخوړلو اجازه شته او تاسو ته نشته.
ماته خدای خواړه او اوبه رواکړي دي، په رمز او معنیٰ پوهېدل په کار دي.
د خدای کارونه بې حکمته نه دي، تاسې د دغه عملي تعلیم په اصلي معنیٰ ښه فکر وکړئ!
تاسې ولې وږي یاست او زه موړ یم؟
زه په کار او مقصد پسې روان یم او تاسې ځای پر ځای پراته یاست.
ستاسو حرکت لنډ دی، ځکه یې وږي کړئ!
تاسې د خدای قانون منلی دی، مګر پوه شوي پرې نه یاست.
زه راوګرځېدم، چې تاسې په دغه راز پوه کړم او له لوږې نجات ومومئ، پاڅیږئ روان شئ او لرې ځای په نظر کې ونیسئ!
لوږه او تنده په توقف او سکون کې ده به حرکت کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

د یوې چینې اوبه دي، څوك يې د زرو په جام کې څښي، څوك يې د خاورو په کنډولي کې.

هغه، چې نه دا لري نه هغه، په لپه کې يې را اخلي.

په اوبو کې هېڅ فرق نشته، فرق په لوښو کې دی.

د شاه او ګدا فرق په لوښو کېږي.

د اوبو په خوند هغه څوك پوهېږي، چې ډېر تږی وي.

هغه لاروی، چې له بېديا نه ستړی ستومانه راځي او تنده يې ډېره زياته ده، دا اوبه ډېر خوند ورکوي.

هغه دهقان، چې په سره غرمه کې يوې کوې او خولې پرې راماتې دي دا اوبه د هغه دپاره ډېر لوی نعمت دی.

یو شپون، چې له غره نه تږی راکوزېږي او په چینې باندې خوله ږدي د اوبو په خوند ډېر ښه پوهېږي.

یوبل سړی چې يخ سيوري ته په ارامه چوکۍ ناست دی، ښايسته صراحي يې له څنګه ايښې ده او په ښوګيلاسونو کې اوبه څښي له اوبو نه هغه خوند نشي اخيستلی.

هو! ده دلارويو او شپنو تنده نه ده ليدلې.

په سره او تکنده غرمه کې يې لو نه دی کړی، ځکه هغه تلوسه په ده کې نشي پيدا کېدای.

چا، چې لوږه او تنده نه ده ليدلې، هغه د خوړو او اوبو پوره خوند هم نه دی لېدلی او د ژوند په کيف نه دی پوه شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی نسل

له زمکې نه بخار پورته شو.

له بخار نه ورېځ پیدا شوه.

له ورېځې نه باران وورېده.

له بارانه د پسرلي ګلونه پیدا شول.

دګلونو نه خوشبويي پیدا شوه.

وګورئ! مور او لور یا پلار او زوی څومره فرق لري؟

هغه تفاوت، چې د باران او ګلونو یا د زمکې او بوټو ترمنځ وینئ د یوه او بل نسل تفاوت هم دومره دی.

که اولادونه میندو غوندې وای، نو له غرونو څخه به لعلونه نه پیدا کېده، له دریابونو څخه به مرغلرې نه راوتلې، له ابشار نه به برېښنا نه راتله، د ړندو اولادونه به ړانده وو، له کڼو نه به کاڼه زېږېدل.

اوس پوه شوئ! چې نوی نسل او زوړ نسل یو رنګه نه وي.

که څوك خپل زوی ته زړه بوډۍ به نکاح اخلي یا خپله پېغله لور اتیا کلن بوډا ته ورکوي ښه نه کوي.

زړه تربیه او نوی نسل همدغسې وګڼئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوی او وړوکی

په شفتالو کې زړی دی په زړي کې ونه ولاړه ده.
د غنمو په وږو کې دانه شته، په دانو کې همدغسې وږي شته.
په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې چرګه ده.
دغه یوه دانه پندانه، چې ګورې تېل او پلټنه دواړه لري او په حقیقت کې بله ډیوه ده، مګرستا سترګې دغه رڼا نهویني.
ته خبرنه یې، چې په یوه دانه او په یو څاڅکي کې عالمونه پراته دي.
ته پخپله هم دغنم په دانه کې وېده وې بیا دې په یوه څاڅکي اوبو کې لامبو وهله نن په لویه بېړۍ کې ناست یې او په لویو دریابونو کې ګرځې.
څه شی، چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی یا هغه څه، چې تا ته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی.
ته ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کې ده.
تا ته زړی وړوکی معلومېږي په هغه کې غټه ونه ځای شوې ده.
دغه غټه هندوانه، چې ګورې کال تـه نه پـاتې کېږي او عمر یې ډېر لنډ دی، دغـه د هنـدوانې کـوچنی زړی تـا تـه هـر کـال تـازه هندوانې درکوي.
د زړي قیمت له هندوانې نه لږنه دی.
که زړی ورك شو هندوانه ورکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو راشه هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکه چې دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابر دي یوازې خدای لوی دی او بس.

د نن ورځې دیموکراسي له همدغسې ژوندکتنې څخه پیدا شوې او د ډېر دقت نتیجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر تحفه

زه چې ورغلم هغه په کوټنۍ کې ناست و، سر یې په ګرېوانه کې ښکته کړی و، فکري عبادت یې کاوه.
کله چې هغه سر راپورته کړ او پر ما یې نظر ولوېده، ما خپله تحفه یو د پړانګ پوستکی او یو غزنیچی پوستین د هغه په مخ کې کېښوده.
هغه وویل: دا یو د ظالم پوټکی دی، ځکه له پښو لاندې لوېږي، دا بل د ضعیفانو له پوستکو نه جوړ دی او پر غاړې پورې تعلق نیسي.
د شاعر تحفه باید همدغسې وي او همدغه معنی ولري.
دی باید دا دوه منظرې همدغه راز وښیي او خلک په دغه رمز ښه پوه کړي.
په دغو خبرو زه له خوبه راویښ شوم او په خوب کې د خپل خوب په تعبیر پوهېدلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدمتګار

هلته یو ړوند بې لارې روان و، هغه پر سمه لاره برابر کړ، مګر ړوند پوه نشو چې زما رهبر څوک دي.

یو بل په خوارږه خوب وېده و، په خوا کې یې یوه منګري سر را اوچت کړ، هغه په بیړه وواږه او ویده هماغسې ناخبره پاتې شو.

د شپې په مسجد کې ناروغه مسافر زګېروي کول، هغه یې په خدمت کې شپه سبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپل زړه سواندی خدمتګار یې ونه پېژانده، هغه پر لاره روان و، یو ماشوم ته یې یو موتی میوه ورکړه، مګر یوه هم ونه پیژانده، چې دی څوک دی.

له دې لویې لارې نه هغه ډېر اغزي او کاڼي لرې کړه، مګر څوک چې سبا ته پر دې لاره راځي د هغه له خدمت څخه نه خبرېږي او هغه نه پېژني.

په رښتیا، چې مونږ خپل خدمتګاران نه پیژنو او باداران ډېرښه پېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل

ډېر لږ خلك دي، چې كله كله يو نيم كار د **عقل** په خوښه كوي.

نور ټول كارونه د مينې او محبت دپاره، د حسد او عناد دپاره، د حرس او هوس دپاره وي يا د كوم زورور په امر او د نادانۍ په فرمان اجرا كېږي. سره له دې چې د **عقل** برخه په ژوندانه كې ډېره لږه ده بيا هم هر څوك د **عقل** ستاينه كوي او د **عقل** دښمن هم **عقل** ښه ګڼي او بې عقلي نه خوښوي.

ښايي، چې **عقل** په همدغه سبب د هر چاخوښ وي، چې د چا په كار كې كارنه لري او د زورورو خوي په كې نشته.

**عقل** زمونږ تابع دی او زمونږ زړه ته ګوري هغسې مشوره راكوي، ځكه يې ستا يو او صفت يې كوو.

كه **عقل** پر مونږ باندې حاكم وای او اقتدار يې درلودای مونږ به ترينه ډېر سرټكاوه او بد به مو ګاڼه، ځكه چې تر اوسه مونږ له يوه حاكم نه هم زړه كې ډېر خوښ نه يو او ډېر ښه حاكم هم ډېر خلك له ځانه خوابدي كړي دي.

په رښتيا، چې **عقل** غوندې بې ضرره شي نشته.

**عقل** هر كله زمونږ خير او ګټه راښيي او **عقل** د همدغه شي نوم دی. كه مونږ د **عقل** يوه خبره هم ونه منو بيا هم **عقل** رانه نه ځي او بد راسره نه كوي كه مونږ په ناكاره كار پسې په بده لاره روان شو **عقل** راسره ملګری دی او څومره، چې كېدای شي له خطر نه مو ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې غلاګانې د عقل په مرسته کېږي، که څه هم غلا ته په ښه نظر نه ګوري او غلا یې نه ده خوښه.

هغه شیطاني چلونه، چې انسان کشف کړي دي او شیطان هم ورته حیران دی د سادګانو او احمقانو کارنه دی.

فرېب او ټګي سره له دې، چې سم او صحیح عقل ورته بد ګوري بیا هم د هوښیارۍ بد عمله اولاد دی او د بد سړي له عقل څخه دغه راز بد اولاد پیدا کېږي، همدغسې عقل یوه غله ته هم د تېښتې لاره ښیي هم یې د ماړه کاله ته بیایي او که حاکم ونیوه د ځان د خلاصولو چلونه هم ورښیي.

که سړی هرڅومره ګنهکار و عقل ورته د نجات لاره لټوي او له همدردۍ نه یې لاس نه اخلي. په رښتیا، چې دومره مهربانه ملګری بل نشته.

هغه وخت، چې څوك عقل له ځانه شړي او په عقل هجوم ور وړي باده او پیاله دی په لاس کې ورکوي او دمخه ورته لا یو داسې ځای پیدا کاندي، چې ډېر رسوا نشي او محتسب یې ګرېوان ته لاس وانچوي.

د عقل خوی او خصلت په هیچا کې نشته په زړه کې حسد او عناد نلري، لکه ماشوم مرور کېږي، نه ظلم او نه یې ناروا خوښه ده، مګر له ظالم سره دښمني هم نه کوي، فسق او فجور ورته بد معلومېږي، خو د ذاهد په شان له فاسق او فاجرنه نه تښتي، هر چا ته د خېرخواه په نظرګوري او د انسان په مجبوریت ډېرښه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل په دې خبره ډېر زور اچولی دی، چې انسان پخپلو کړو کې پوره ازادي او اختيار نلري او د مجبوريت جنبه يې ډېره غالبه ده.

هو! عقل دا غواړي، چې د انسان له ضعف او ناتوانۍ نه يو داسې قوي دليل جوړ کړي، چې د هغه بل جهان له ملامتۍ نه يې هم خلاص کاندي.

عقل په دې پوهېږي، چې انسان د خپلو غرايزو او احساساتو تابع دی او منطق هر کله د خپلو اغراضو دپاره استعمالوي.

د انسان له منطقي تعريف څخه هم دا معلومېږي، چې دی اول حيوان او بيا عاقل دی، يعنې د ده نطق او عقل د حيوانيت تابع دی او حيواني غرايز پکې د اوليت حق لري.

دا يو منلی حقيقت دی، چې عقل زمونږ تابع دی، مونږ د عقل تابع نه يو.

عقل زمونږ دپاره پيدا شوی دی مونږ د عقل د پاره نه يو پيدا.

که مونږ په عقل باندې د ليونو او ماشومانو کار کوو، کوي يې او زمونږ له امر نه غاړه نه غړوي.

که زه او ته دوستان يو زما او ستا عقل هم دوستي کوي.

که مونږ غليمان شو زمونږ عقلونه يو له بل سره دښمني کوي او په جګړه اخته کېږي.

ښه عقل هماغه دی، چې د مينې او محبت په غېږ کې وده وکړي او د ښو عواطفو او احساساتو په لمن کې وروزل شي.

عقل د اخلاقو تابع دی، که اخلاق ښه و عقل ښه کېږي که اخلاق بد و عقل په بده لار روانېږي او بده لاره ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهه او هوښياري

زه چې وړوکی وم، اګر چې اوس هم لوی نه یم له هر چانه به مې اورېدل:

فلانی بې عقله دی، په څه نه پوهېږي، د عقل په پوله هم نه دی تېر شوی او د دوه خرو اوربشې نشي بیلولی، مګر یو یو به چیرته داسې هم پیدا کېده، چې خلکو به ورته پوه او هوښیار ویلې. زه همدغه وخت په دې خبره پوه شوم، چې پوهان او هوښیاران په دنیا کې ډېر لږ دي او ناپوهان ډېر زیات دي. کله چې زه په سبق کښېناستم ماته یې وویل:

سبق ووایه، چې پوه او هوښیار سړی درنه جوړ شي.

دا خبره په ما باندې ښه ولګیده او پوه شوم، چې پوهه او هوښیاري مې خوښه ده، هغه وخت زه هوښیار نه وم، مګر هوښیاري مې ښه ګڼله او ناپوهي راته بده ښکارېده، نه پوهېږم چې دغه تمیز ما له کومه کړی و او یو بې عقل څنګه پوهېدی شي، چې عقل ښه دی او بې عقلي ښه نه ده، خو اوس پوه شوم چې ماشومانو ته که څوك هر څه هر رنګه وښیي هماغسې یې ګڼي او له ځانه څه فکر نشي کولی.

ماشومان لا پرېږده، چې د ږېرو خاوندان هم دغه شان دي او لوی سړي د یو او بل په خبرو تېروزي.

ما هغه وخت د ملا صاحب سوکانو ته د همدې دپاره سر ونیوه، چې پوه او هوښیار شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! د پوهې او هوښيارۍ ځای سر او د ماغو، مګر پوهه د ملا صاحب په لاس کې وه او له هر چا سره نه وه.

ما ته هوښياري، ځکه ښه ښکارېده، چې ډېره لږه وه او له لږو خلکو سره وه، هر څه چې لږ وي قيمت يې ډېر وي او خلك يې ارمان کوي، هر څوك هغه څه غواړي، چې نه يې لري.

که زه پوه او هوښيار وای په پوهې او هوښيارۍ پسې به نه ګرځېدم.

ډېر خلك ډېرو شيانو ته د ناپوهۍ په سبب هڅه کوي او ډېر کارونه له ناپوهۍ ولاړېږي، زه هم نه پوهېدم چې پوهه مې غوښتله.

هرڅه، چې وو او هر څنګه چې وو ما به ليك او لوست کې دانايي لټوله او سبق مې وايه، چې يوه ورځ مې د رحمان بابا په کتاب کې ولوستل:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه   دانا نه کا په دنيا باندې غرض

مګر، چې شاوخوا مې ښه وکتل په رښتيا، چې د کلي خان به ټوله ورځ په ډېره کې يخ سيوري ته پروت و او هېڅ به يې نه کول دهقانانو او مزدورانو به سره غرمه کې يوې، لوونه او غوبلو نه کول، زحمت او خواري به د دوی وه ګټه، به د خان کورته راتله.

زه دغه وخت د عقل او هوښيارۍ په کرامت او برکت نور هم پوه شوم او باور مې راغی، چې زمونږ په کلي کې يوازې خان صاحب هوښيار دی، چې هېڅ نه کوي او نور ټول بې عقله او ناپوهه دي، چې د دنيا کارونه کوي. د ده د پوهې او هوښيارۍ يو بل دليل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ما سره و هغه دا ، چې دی به په ژمي پيتاوي ته کښېناسته او په اوړي کې يخ سيوري ته، هغه نور به په سره اوړي کې سره لمر ته ولاړ وو او کار به يې کاوه ما به په جومات کې په زوره زوره ويل:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه        دانا نه کا په دنيا باندې غرض

خو هغوی په دې خبره نه پوهېدل او زما چيغې عبث وې.

ډېره موده وروسته زه له کلي کوره راووتم ښار ته راغلم په دفتر کې مرزا شوم د مرزايانو له څنګه کښېناستم، په چپړاسيانو به مې حکمونه کول او په هر کار پسې به مې لېږل.

دلته هم هماغه قانون جاري و او د رحمان بابا خبره راته د کاڼي کرښه ښکاره شوه، چپړاسيان به ټوله ورځ په سره ژمي او په واورو کې دېره په دېره ګرځېدل، مکتوبونه به يې رسول مونږ به په توده کوټه کې ناست وو مکتوبونه به موليکل.

زمونږ مدير صاحب به نور څه نه کول يوازې دسخط به يې کاوه، يعنې زمونږ کار به د ده په نامه ختمېده. که د دسخط په ځای مهر لګول رواج وای دا کار به هم کاتبانو کړی و، مګر نه پوهېږم چې مديران ولې مهرونه نه جوړوي؟ که يو کاتب خپل کار د مدير په نامه ختم کړي او دی پخپله د هغه مهر د مکتوب په اخر کې ولګوي دا کار اخلاقاً ښه دی، ځکه چې د ايثار او فداکارۍ معنیٰ لري، که څوك پردی کار پخپل نامه ختموي ښه نه معلومېږي له چپړاسيانو نه زمونږ کار لږ او اسانه و او له مونږ د مدير صاحب کارسپك و. رئيس صاحب، چې عاقل عالم و هغه بېخي کار نه کاوه او کله کله به د يوه ساعت له مخې رياست ته راغی ځينې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې خپل مبارك نوم هم په كوم مكتوب يا حاضرۍ په كتاب كې نه ليكه، چې د كار كمې د ده په نامه پرې نوزي او هوښيارۍ ته يې زيان ونه رسيږي.

زمونږ مكتوبونه ځينې داسې وو، چې چپړاسي ته به مو وركول، چې په مدير يې امضا كړي، ځينې به مونږ پخپله رئيس صاحب ته د امضاء دپاره وړل.

د رئيس صاحب حضور ته چپړاسي مكتوبونه نشو وړلی، چې د ادب تقاضا دا نه وه، چې يو خوار چپړاسي په خواره جامه كې د يوه لوی سړي په حضور كې ودريږي كه څه هم د خدای حضور ته په لمانځه دريږي.

هو! د دربار په ادابو هر څوك نه پوهيږي او درباري پوهه له هر چا سره نشته، هلته موقع شناسي له هر كار نه زيات قيمت لري او د نزاكت مراعات ډېر په كار دی. په رمز او اشاره پوهېدل، مزاج پېژندل، د بل په خوښه خبرې كول، د بل په نظر هر څه ليدل، ډېر لياقت او مهارت غواړي هر څوك نشي كولی، چې له ځانه به هېڅ فكر او هېڅ عقيده نلري، مګر د بل هر فكر او هره نظريه به د ارسطو په منطق ثابتوي.

پخپلو اوږو باندې هر څوك د بل پېټی وړلی شي، مګر له زړه نه د نورو يابو جوړول اسانه كارنه دي.

تاسې درباريانو ته په عادي نظر مه ګورئ، دومره باريك بين خلك بل چيرته نشته، د دوی ډېر لږ كار د پوهې او هوښيارۍ له بركته د نورو له ډېرو درنو كارونو نه دروند خېژي. د دوی مثقال

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د نورو خروار برابر نه دي. که د نورو د فعالیت دوړې او ګردونه اسمان ته ورسیږي او دوی محض د چا د بوټونو ګرد پاك کړي، د دوی د کار قیمت زیات دی او له هغوی نه یې محتوا ډېله ده.

دوی په جنګونو او جګړو کې د سربازۍ میدان ته نه حاضرېږي. په فابریکو او کارخانو کې کارونه نه کوي، لوړې ژورې نه اوروي، معدنونه نه سوري کوي، مګر ګټه یې له نورو نه زیاته ده او په لوړ مقام کې ځای لري.

د دوی کار دومره باریك دی، چې هر چا ته نه معلومیږي، مګر لیاقت یې معلوم دی او په هوښیارۍ کې یې څه شك او شبه نشته. څومره، چې پوهه او هوښیاري زیاتېږي هغومره فعالیت او د کار ستوماني کمېږي. نه ګورئ چې ماشومان له لویو او درنو خلکو څخه ډېر حرکت کوي دا باشي ولاړ دی او مزدوران تېږې چلوي.

مشران له ځایه نه ښوري او کشران په مخکې منډې وهي که لرې نه ګورئ د خپل لاس ساعت ته وګورئ ثانیه ګرد ، چې وړوکی دی څومره ژر ګرځي دقیقه ګرد ، چې لوی دی ورو روان دی.

کوچني موټر ډېر ګړندي ځي او لویه لارۍ هغسې نشي تللی.

اوس پوه شوئ، چې لویوالی او دروندوالی همدارنګه عقل او پوهه فعالیت کوي او منډې رامنډې د بې عقلو کاردی.

هوښیاران کار نه کوي، فکر کوي او چرت وهي ناپوهان جبل وهي او غرونه سوري کوي.

یو مرزا هېڅکله په خپل کار کې د یوه جوالي غوندې نه دی ستړی شوی (عقل نیست جان در عذاب) همدغه معنیٰ لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمان بابا د همدې له امله وايي، چې دنيا په احمقانو ودانه ده او دانا د دنيار په کار څه غرض نلري.

تاسې له هوښيارانو او پوهانو ډېر کار مه غواړئ، دوی پرېږدئ چې فکر وکړي او بې کاره بې زياره ګټه خپل کاله ته راوړي.

هوښياري او پوهه همدغه ده، چې کار يې لږ او ګټه يې ډېره وي يا په بل عبارت هېڅ نه کوي او هر څه د ده وي، د نورو له زيار او کار څخه ګټه اخيستل، بل غولول او ځانته ګټه اړول پوهه او هوښياري ده. دا د پوهې او هوښيارۍ برکت دی، چې ډېر لږ خلك، يعنی هغه چې د نن ورځې په اصطلاح به اقليت کې دي او لږه کې ورته ويل کېږي د ډېرو خلکو له ستړيا او ستومانۍ نه ډېره زياته استفاده کوي. که تاسې د هر وطن د ناز او نعمت خاوندان او شتمن وګورئ، دوی ډېر لږ دي، مګر ډېر زيات خلك د دوی د ګټې دپاره استعمالېږي. معنیٰ دا ، چې د دوی سمسور بڼ د نورو په خولو وده کوي او د دوی راحت د نورو د زحمت نتيجه ده.

دا ده هغه پوهه او هوښياري، چې ما په ليك او لوست کې لټوله او زه يې له کاره وايستم.

هو! پوهه او هوښياري سړی له کاره باسي، د کار خلك نور دي، پوهان او هوښياران ځان ته خير رسوي او خپل خير لټوي.

دهمدې لا مله وايي چې دجنت اکثره خلك ساده ګان دي او دنيا هم به ساده ګانو او احمقانو ودانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احمق څوك دی؟

هغه چې د دنيا په سود او زيان نه پوهېږي او د ګټې په ځای تاوان كوي، خلك ورته احمق، بې عقل او ساده وايي.

دا درې نومونه، لكه د يوه سړي مختلف عكسونه، چې په بېلوبېلو كمرو او مختلفو احوالو كې بېلو عكاسانو اخيستې وي. په عين اتفاق كې اختلاف هم لري او په يووالي كې يې يو څه بېلوالی معلومېږي.

كه څوك كوم بې عقل سړی سپكوي احمق ورته وايي او كه يې ستايي، نو ساده يې بولي. د وينا او بيان سحر د الفاظو په همدغسې فريب كې پټ دي.

په كتابونو كې راغلي دي، چې پخوا به يې ټوقيانو ته احمقان ويلې او د دربار احمقان به هغه كسان وو، چې پخپلو خبرو به يې خلك خندول او په مجلس كې به يې خوشحالي پيدا كوله، د احمق او ساده يو مثال ملانصرالدين دی، چې په ظرافت او مسخره توب هم شهرت لري. د دغه مرحوم د حماقت دليل د خلكو په نزد دا دی، چې ده به په يوه روپۍ څلور دانې هګۍ واخيستلې هغه به يې وخوټولې په رنګ به يې سرې او شنې كړې بيا به يې د روپۍ پنځه دانې خرڅولې، يعنې د ګټې په ځای به يې تاوان كاوه او خپل مال به يې ارزانه خرڅاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې څوك له چا نه څه شي ارزانه وغواړي هغه وايي: څه ملا نصرالدين خو نه يم. دا نوم اوس دومره عام شوى دى، چې كه هر څوك يو شى ګران واخلي او ارزانه يې خرڅ كړي خلك ورته ملانصرالدين وايي.

مونږ په خوله وايو، چې عقل بېل شى دى او د دنيا مال بېل شى دى، څوك به عقل لري مال به نلري، ځينو نورو سره به مال وي او عقل به نه وي، مګر په عملي ډول د هر چا عقل او بې عقلي د دنيا د ګټې او زيان له مخې معلومو او په حقيقت كې ګټې ته عقل وايو او تاوان بې عقلي يا حماقت بولو.

زمونږ په خيال او تصور كې دا نشي راتلى، چې ملانصرالدين دا كار د دې دپاره كاوه، چې نرخ ارزانه كړي او خپل احسان په دغه تجارت كې پټ كړي، چې خريدار يې په سخاوت هېڅ پوه نشي او كرامت حماقت وګڼل شي.

كه زمونږ ګمان نېك او ښه واى ملانصرالدين به مو د خير او فيض خاوند ګاڼه او د هغه په عقل پورې به مو نه خندل.

هغه بل كال زمونږ په هېواد كې قحطي او ګراني وه يوه لوى سوداګر له هرات نه ډېره غله كندهار ته راوړه او په خلكو يې د بازار له نرخه ارزانه خرڅه كړه، يعنې ګټه يې ونكړه تاوان يې وكړ. دا كار هېچا د هغه په بې عقلۍ حمل نكړ او په اخبارونو كې يې ډېره ستاينه وشوه، هغه ته چا ملانصرالدين ونه ويلې، بلكې د خير او بركت خاوند يې وباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت زه د یوه شتمن سړي کره مېلمه شوم د هغه په کاله کې هر څه پاخه شوه، مګر سوکړك يې نه درلود، د کاله خاوند څو غنمیې ډوډۍ خپلو همسایه ګانو ته ولېږلې او هماغومره سکړکان يې راوړه.

ما ته دا معلومه شوه، چې دوی هره ورځ دغه راز تجارت کوي او پخپل کاله کې جواری نه پخوي. دا سودا ما ته د خوارانو او غریبانو دپاره سودمنه ښکاره شوه او مرحوم ملانصرالدین راپه یاد شو.

زه دا جرئت نه شم کولی، چې دغه راز ښه کار احمقانه وګڼم.

په کوم کاله کې، چې هر څه ډېر وي دغومره لږ تاوان هېڅ تاثیر نلري.

بډایان له دغسې تظاهر نه یو مخصوص خوند اخلي، چې مونږ هغه نه دی څکلی. که دغه راز کار یو خوار او غریب وکړي حماقت دی، مګر د بډایانو دپاره صفت دی.

عقل او پوهه خوارانو او فقیرانو ته دا اجازه نه ورکوي، چې ډوډۍ په جواري باندې سر په سر ورکړي او خپل حماقت ښکاره کړي، مګر بډایان په دغسې کارونو ښه ښکاري او څوك ورته ملانصر الدین نه وایي، بلکې حاتم طایې يې بولي.

که خواران او غریبان له اسراف او تبذیر نه کار واخلي ډېره لویه ناپوهي او نادانۍ ده، مګر بډایان په اسراف او تبذیر د جود او کرم خاوندان ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه عقل، چې د خوار او غریب رهبري کوي د بلاایانو دپاره نه دي په کار.

هو! عقل امسا ده، چې ګوډ او ضعیف انسان ورته اړ دی، هغه چې د قوت او قدرت خاوند دی، دغه د ضعیفانو وسله ورته نه ښایي، د عقل عینکې د کمزوري نظر بینایي زیاتوي او د تېز نظر خاوندان یې کله کله د ډول او فېشن دپاره په سترګو کوي.

که څوك عقل او هوښیاري لټوي د خوارو او غریبو په کور کې دې ولټوي زورور او بلاایان له دغه شي نه بې نیازه دي.

تاسې یوه انسان یا یوه حیوان ته، چې څه نهویني ړوند ویلی شئ، مګر سیند او سیلاب ته ړوند ویل غلطه خبره ده. که څه هم په نااواره لاره روان وي او په سمه لاره نه درومي، دا ځکه چې دغه پرزېدل او جګېدل هغه ته څه هم په نا اواره لاره روان وي او په سمه لاره نه درومي، دا ځکه چې دغه پرزېدل او جګېدل هغه ته څه زیان نه رسوي او بې سترګو هم ډېر ګړندی تللی شي.

که مونږ د خپل هېواد په خلکو کې فکر وکړو هغه کارونه، چې ځینې زورور او بډیان یې کوي په عقل برابر نه دي، که مونږ یې وکړو بد ښکارو او ضرور وینو، ځکه زمونږ د عقل مخه نیسي، مګر زورورو او د قوت خاوندانو ته زیان او ضرر نه رسوي، ځکه یې عقل هم مخه نه نیسي او دغه د غریبانو ناصح د هغوی حضور ته لاره نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زورورو په مخکې عقل ګونګ وي او ډېر مزخرف معلومېږي، هر څه چې بې ضرورته وي او احتیاج ورته نه وي بد ښکاري او قیمت یې لږ وي.

که چېرې په انسان کې ډېره نیمګړتیا او کمزوري نه وای او عقل ته یې احتیاج نه درلودای عقل او پوهې به دغومره قدر نه درلوده.

اوس پوه شوئ؟ چې هر خوار او غریب سړی که ځان ته څپلۍ یا پڼۍ لرې غونډې ګرانې واخلي او دوه یا درې روپۍ پکې وغولېږي هر څوك ورته احمق وايي. یو بډای که په زرهاو روپۍ په یوه شپه په قمار کې وبایلي احمق نه دی، هغه چې د ورځې د شلو یا دېرشو روپو په سګرټو اور لګوي یا د سینما او تیاتر په تشه ننداره پیسې ورکوي څوك ورته احمق نه وايي، مګر که یو مزدور یوه ورځ کار ونکړي او وزګار وګرزي احمق دی، ځکه چې بیګا ته په کور کې څه نلري او وږی پاته کېږي.

یو بډای ګړندي موټر کې ډېر لرې ځای ته په ښکار پسې ځي په لاره کې ډېر تېل مصرف شي، د موټرکمانۍ ماته شي او ټایر هم بچ کاندي، مګر د ښکار برابري رانشي او پس له دوه درې شپو پنځه یا شپږ دانې زرکې له ځان سره کاله ته راوړي، چې دانه په سلو روپو هم نه پرېوزي. هغه ته څوك ملانصرالدین نه وايي، ځکه چې ژوند دغسې تفریح او پام غلطولو ته احتیاج لري او د شوق او ذوق دپاره مال تاوانول نا پوهي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې یو بډای یوه ښکلې نفیسه تابلو په ډېرو روپو اخلي یا ځینې انتیك او زاړه شیان د تش نمود دپاره په ډېر لوړ قیمت رانیسي هغه بل، چې یو زوړ قلمي کتاب چې ذوق او صنعت پکې خرڅ شوی په ګرانه بیه اخلي او د هماغه کتاب چاپي نسخې ډېرې ارزانه لاس ته راځي، ته وایه چې دغه راز تاوانو نه د څه دپاره دي؟

که غرض معنوي استفاده وي هماغه معنیٰ په چاپي کتاب کې هم شته.

معلومه شوه، چې مال تاوانول د نامه او شهرت دپاره د شوق او ذوق دپاره د هوا او هوس دپاره حماقت نه دی، صنعت دی او ستاینه یې کېږي، مګر په دې شرط چې سړي خور او فقیر نه وي، بډای وي او ډېرې پیسې ولري.

اوس خو به پوهیدلي یاست، چې احمق څوك دی او مونږ چا ته احمق وایو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی درس

چیرته مې د چا په کوم کتاب کې ولوستل، استاد خپل شاګرد ته دا درس ورکاوه:

له خدایه ډېر خوښ اوسه! چې ته یې بې هنر پیدا کړې او تا ته یې هغه استعداد درنکړ، چې یوه ورځ د خلکو دپاره لویه بلا درنه جوړه شي. ته په دې پوه شه، چې خدای ته هماغه څوک ډېر نږدې دي چې له ذوق او هنر نه ډېر لرې وي.

هغه تند او تېز فکر، چې زما په برخه رسېدلی دی ما ته په دنیا او اخرت کې زیان رسوي او زما اسایش خرابوي.

ډېر فکر کول ډېر بد مرض دی، چې په څو تنو پورې اختصاص لري که دا مرض خپرېدلی ډېر ژربه یې د بشر نسل تباه کړی و.

زه پدې ښه پوه یم، چې په ژور فکر او عقل کې د روح تباهي ده ژور فکر د بشر دپاره طبیعي کارنه دی.

همدغه شی دی، چې په سړي کې د عمل اقدام وژني.

هېڅوك هېڅ کار نشي کولی، ترڅو چې څه قدر تنګ نظره او لنډ فکره نه وي تفکر د انسان دپاره ډېره لویه بد بختي ده.

هغه چې لږ فکر کوي یا هېڅ فکر نه کوي په دواړو جهانونو کې کامیاب دي، مګر د ډېر فکر او عقل خاوندان هر چیرته او هر کله له جسمي او روحي هلاکت سره مخامخ دي.

په رښتیا، چې فکر او عقل کې ډېر خباثت پټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهه او فلسفه په حقیقت کې پر ذهن باندې د شیطان استیلا ده. بشر په اصل کې یو احمق حیوان دی او د ده معنوي ترقي د ده د فکري اضطراب د پوچو اثارو نوم دی.

هغه څوك، چې د نبوغ او قریحې خاوند دی د معشرت په درد نه خوري او د معاملې خاوند نه دی.

زه د فکر ازادي له هرڅه پورته ګڼم هر څوك له ځانه خوابدي کوم، مګر خپل ځان او خپل وجدان خوشحاله ساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درې کاله

يو کال موسم ډېر ښه راغی بارانونه وخت په وخت پخپله موقع وشول، چې نه له ضرورته زيات و او نه کم.

د زميندارو فصلونو ته هېڅ زيان ونه رسېده او للمه ډېره ښه راغله دهقانان ډېر خوشحال وو، چې فصلونه ډېر ښه دي او کال ډېر ښه راغلی دی.

کله چې درمندونه تيار شوو خلك په رښتيا د غلې په چلولو ستړي شوو او په کورونو کې د غلې ځای نه و.

په دغه کال په ملك کې ارزاني راغله او دغسې ارزاني چا په خوب کې هم نه وه ليدلې. د غلې خريدار، لکه د انځرګل چا په سترګو نه ليده زميندارو به تېل او مالګه په غنمو اخيسته او جنس بدليده.

د زميندارو په کور کې مړی نه و او وير يې و، دوی د پاك خدای په دغې مهربانۍ خوشحاله نه وو او د شکر په ځای به يې شکايت کاوه همدغه ناشکري وه، چې بل کال هغسې رانغی او غله بېخي ورکه شوه. ځينو ويل چې تخم هم په لاس رانغی او خروار په چارك ولګيده.

په دغه کال پر وطن باندې قحطي او ګراني راغله هرڅوك به په غلې پسې لالهانده او سرګردانه ګرزېده او د چا په کور کې د مړك لکۍ نه سپېره کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمینداران بیا خپه وو او ډېر افسوسونه یې کول، چې ګراني او قیمتي د دې کال وای او غله د پروسږکال، مګر دا اجتماع محاله وه او دغه کال هم په افسوس او ارماندو تېر شو دریم کال له دوارو کلونو نه مخالف راغی، یعنې د ځینو زمیندارو غله ډېره زیاته وه او د ځینو کښت ته زیان او اپت ورسېده، ځکه نرخونه جګ شوو، مګر قحطي نه وه د چاغله، چې ډېره وه او په ګران نرخ یې وپلورله هغه له ډېرې خوشحالۍ په جامو کې نه ځایده او چا چې د خرڅون غله نه درلوده په کاله یې دغم کانږي ورېدل.

زه دغه وخت په دې پوه شوم، چې مونږ ټول نشو خوشحالیدلی او په داسې حال کې واقع یو، چې که یو خوشحالیږي هغه بل به خپه کېږي، یعنې د ځینو خوشحالۍ د ځینو نورو د خپکان نوم دی د همدې لامله وایي، چې یو مړ نشي بل نه مړیږي.

د دنیا په بازار کې داسې سود نشته، چې پلورنکي او پیرودونکي دواړه ګټه وکړي، یعنې یو خپل مال ګران خرڅ کړي او هغه بل یې ارزانه واخلي په کومه سودا کې، چې سود او زیان نه وي او خریدار یا خرڅوونکی یو هم ونه غولېږي یو هم نشي خوشحالېدلی که یو سړی خپل سل ګون نوټ په شلو پنځه ګونو بدل کړي په دغه تجارت کې خوشحالي او خپګان نشته، ځکه چې سود او زیان پکې نشته که یو په حساب کې وغولیږي، دی به خپه شي او هغه بل ته به خوشحالي پیداشي اوس پوه شوئ، چې مونږ په څه خوشحالیږو او په څه خپه کیږو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ښه فکر وکړو ایا د یوه ګټه د بل د تاوان نوم نه دی؟ زما یو ملګری دومره شته او جایداد لري، چې جامه او ډوډۍ ډېر ښه ورسېږي. کور لري، ځمکه لري، باغ لري، لنګه غوا ورته ولاړه ده، موټرېې شته او د هېڅا پوروړی نه دی په بانک کې یې هم پیسې پرتې دي او له هرې هوا ښېغمه معلومېږي، مګر یو بل سړی له ده نه هرڅه ډېر لري او ځمکې، باغونه، کورونه او نغدې پیسې یې له ده زیاتې دي. هغه خپه دی، چې زه ولې دغه بل قدر ته جایداد نه لرم دا بل خوشحاله دی، چې له هغه نه یې جایداد ډېر دی. زمونږ اکثره غمونه همدغه راز دي، چې د یو بل سړي له خوشحالۍ پیدا شوي دي او ډېرې خوشحالۍ هم شته، چې د نورو له خپګانه پیدا کېږي. دغه یو چې د زړه په جونګړه کې اوسي دغه بل، چې په لوړه ماڼۍ کې استوګنه لري، دی د هغه جونګړهویني، ځکه خوشحاله دی هغه د ده قهر ویني، ځکه خپه دی که چیرې مونږ ټول په جونګړو کې اوسیدلی یا ټول لوړو ماڼیو کې وای نه به جونګړه کې د غم کوډۍ وه نه به لوړه ماڼۍ د خوشحالۍ ځای و.

که حقیقت ته ځیرشو، یو ګوډ پدې نه دی خپه چې ولې ګوډ دی، بلکې پدې غمجن دی چې ولې نور ده غوندې نه دي. هغه چې پر آس باندې سپور دی او نور یې په مخکې منډې وهي د آس په سپرلۍ دومره نه دی خوښ، لکه چې د نورو له پلې توب څخه خوند اخلي. دا وه زما د درو کالو مطالعه، چې ته یې په لږ ساعت کې مطالعه کوې. دغه لږه پوهه چې ته ورته په سرسري نظر ګورې او ستا په نظر کې ډېره سادګي لري زما دپاره ډېره عمیقه فلسفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده زه په ډېره موده کې دغه حقیقت ته رسېدلای یم ته به په ګړندي ګاډي کې یوه ځای ته ډېر ژر بې تکلیفه ورسېږي، مګر هغه څه چې په لاره کې یو پلی ویني ته یې پوره نشې لیدای ستا نظر په دغه لاره ډېر ژر عبور کوي او کندې کپرې دا خوا هغه خوا نه ګوري. ستا سیر ډېر ګړندی دی او په دغومره سرعت کې دقت او تعمق نه ځایېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قوي او ضعيف

د دنیا دود او دستور خو دا دی، چې زورور به کمزوري وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده، هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپړو وهي او خاندي، یعنې له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی.

ما ته دغه کورنی دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدایه غواړم، چې د ارواح عام شي. پدې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کورنۍ کې کوچنیان په لویانو زورور او زړور دي.

د ګیرا او ترسا په کاله کې هم د کوچینانو زور چلېږي او جوړ د ناجوړه په مخکې منډې وهي، مګر چې له کورونو نه د باندې وګورو، نو بیا قوي پرضعیف مسلط دی. د دنیا طبیعي قانون همدغه دی، چې غټان او لویان به په وړو او بیوزلو سوك او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نلري.

د دغه ظالمانه قانون د ماتولو دپاره، چې پاك خدای څه شی پیدا کړی هغه مینه او عاطفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې او محبت په نړۍ کې ضعيف او کوچنی د لوی او قوي تر ښپېړو لاندې نه دی، بلکې کوچنيان په لويانو حکومت کوي او د وړو پادشاهي ده.

مونږ ښځه عاجزه بولو، مګر مينې او محبت ډېر زورور او پياوړي د دوی دخوښې او رضا تابع کړي دي.

څنګه چې په زړه زمانه کې ديوان د ښاپېريو تابع وو اوس هم د قوت او قدرت خاوندان د دغه ضعيف او لطيف جنس په مقابل کې ډېر ضعيف معلومېږي.

که عشق او مينه په مينځ کې نه وي، نو د ديو او ښاپېرۍ زور هېڅکله برابر نه دی او يو ماشوم هېڅ وخت د سپين ږيرو په ږيره لوبې نشي کولای او نه د مشرانو پر اوږو سپريدلی شي. يوه ورځ يو ماشوم يو غټ سړی له لمنې ټينګ نيولی و او کاله ته يې په زوره بيوه هغه خپله لمن د ده له لاسه خلاصه نکړی شوه که څه هم د ده زور او د هغه زور برابر نه و د ماشوم مينې او محبت د ماشوم په پنجوکې دغه قوت ايښی و، چې يو لوی سړی يې ځان پسې راښکوده او هغه هم ځان نشو خلاصولی.

که زما فکر صحيح وي، نو قوت او قدرت هماغه د پخوا زمانې ديو دی او مينه هماغه ښاپېرۍ ده، چې ديوان يې د فرمان لاندې وو.

که د مينې او عاطفې ماشوم د هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي يا يې لمن ټينګه ونيسي ځوک ترينه ځان نشي خلاصولی، ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زورور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مینه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې، ځکه ماشومان بولم چې زور او قوت ډېر پخوا پیدا شوي دي او انساني عاطف، انساني رحم او شفقت وروسته پیدا شوو، یعنې هماغه شان چې فرعون له موسی نه دمخه دنیا ته راغی، حیواني غرایز هم له انساني عواطفو نه ډېر پخواني دي او د عمر په لحاظ عواطفو ته کوچنیان ویلی شو، مګر دغو کوچینانو ته پاك خدای هغه قوت ورکړي دی، چې فرعونیان ترینه په خوب کې هم وېرېږي او بد بد خوبونه ویني.

که څوك په دنیا کې د صلح او سلام غوښتونکي دي او غواړي، چې د ناروا او ظلم مخ ونیسي، نو یوه داسې اختراع په کار ده، چې د عشق او مینې له عنصر نه پکې کار واخیستل شي.

دا اختراع د دماغ کار نه دی د زړه کار دی او د زړه توجه ته ضرورت لري. پدې باب کې ساینس او تخنیك ته رجوع نه ده په کار دا افتخار که هر وخت دنیا ته حاصلیږي، نو د شعر او ادب په لمن کې به وي او د زړونو په مملکت کې به پیدا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه ګټه

قصابي پرېږدئ له مېږو او پسونو نه بل شان ګټه واخلئ!

د وریو له پوستکو نه پوستینونه مه جوړوئ له وړیو یې ښه توکي جوړ کړئ. که تاسې وړین کالي واغوندئ پوستین ته څه حاجت نشته.

هغه وخت، چې انسان نه پوهېده د مېږو او وزو پوستکي یې اغوستل، کله چې انسانیت ترقي وکړه او شپون د رمې خاوند شو پشمینه پوشي رواج شوه او د زاهد خرقه له وړیو نه جوړه شوه.

د مېږو او پسونو له غوښو نه د غرو لېوان او پړانګان استفاده کوي او شپانه ترینه یوازې پې او وړۍ اخلي.

د وحشي او مدني انسان فرق همدغه دی، چې هغه د ونې ښاخ را ماتوي او میوه یې خوري، دی ترینه یوازې میوه ټولوي او ونې ته زیان نه رسوي.

دا ګټه ښه ګټه ده. د انسان ګټه باید همدغه راز وي.

د ګټې ښه او بده لاره بېژندل د انسان کار دی، ګټه به کار او زیار پاکېږي او بې کاره ګټه ښه نه ده.

د ګټې لاره. چې هر څومره او ږده وي هغومره ښه وي.

هغه کسان، چې د نورو په تیارو درمندونو داړې غورځوي او د ګټې دپاره یې لنډه لاره غوره کړې ده لاسونه او پښې یې د تړلو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې کوښښ وکړئ، چې ګټه له لرې ځايه راوړئ او د کار برخه پکې زياته وي. هغه چې د کلي په دکان کې سودا کوي او هغه چې له لرې ښاره سودا راوړي په متاع او بها کې يې ډېر فرق موجود دی.

تاسې پخپلو باښو او بازانو د همسايه ګانو چرګوړي مه نيسئ!

د هوا مرغان او د غرونو زرکې او سيسي ونيسئ!

له نږدې ډنډونو څخه ناپاکې اوبه مه راوړئ، لرې لرې لاړشئ له هغه سيند يا له هغې چينې نه رڼې او پاکې اوبه راوړئ، چې رنګ او خوند يې ډېر ښه دی.

دا ښه ګټه نه ده، چې يوه روپۍ په دوو روپو ورکوئ او خوشې په خوشې د ګټې خاوندان شئ.

ګټه بايد په غيرې مستقيم ډول وي او کار په کې ډېر دخل ولري.

په مستقيم ډول هېڅوك ځاره او پارو د غلې په کندوانو کې نه اچوي، مګر هغه غله چې له همدغه ناپاك جنس څخه د کار په وسيله پيدا کېږي پاکه او حلاله ده. لنډه دا چې بې کاره ګټه که په غلا وي، که په سوال وي، که په زور وي انسان ته نه ښايي او هغه ګټه، چې په کار او زيار پيدا کېږي ډېره ښه ګټه ده. ښه کار او ښه عمل د خدای په دربار کې ډېر قدر لري او په مشالونو خرڅېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اختر په ورځ

د اختر په ورځ ځينو کورونو ته لاړم، چې د ښايست او ښکلا پکې هېڅ نيمګړتيا نه وه او له ډېرې خيالورې ناوې نه يې هم ډول او سينګار زيات معلومېده.

د کور په نقشه او هندسي شکل کې د جمال مظاهر له ورا معلوم وو، رنګ امېزي په ذوق او سيلقه برابره وه.

د کور پردې ډېرې ښکلې وې.

قالينې، ميزونه، چوکۍ او هر څه ډېر نفيس او ښکلي معلومېدل.

راز راز ميوې به په بلوري لوښو کې ايښې وي او بې له اشتها نه د بل شي نيستي نه وه.

د ثروت او غنا ټولې کرشمې موجودې وې.

عېش او نعمت، لکه د سيد محمود پاچا لټان له دغه کاله څخه نه وتل که د دنيا جنت ورته ووايم، څه ډېره مبالغه به نه وي، مګر دومره فرق و، چې ډېرو غټو ګنهکارو ته يې ور ببرته وو او ساده مسلمانان نشو ورتلی.

هلته ما ته دا فکر پيدا شو، چې مونږ ولې هغو کورونو ته نه ورځو، چې دغه راز شيان پکې نشته او يوازې همدردي او انساني عاطفه سړی وروليي کله، چې له دغه کاله په خبرو راووتم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو فکر مې وکړ چې چا ته ورشم او څوك ووينم په دې کې يو فقير وطن دوست سترګو ته ودرېده، چې نس يې وږی، مګر سترګې يې ډېرې مړې وې، په کور کې هېڅ نه و، مګر په زړه کې يې د وطن مينه او د خدمت ارزو ډېره زياته وه.

زه، چې د هغه دروازې ته ورسېدم پنځه تنه نور هم په دروازه کې ودرېدل د کور خاوند د دروازې په ټکولو راووت او له مونږ سره يې په ډېره مينه روغبړ وکړ، د هغه له وضع دا معلومېده، چې له مونږ سره پخپل کور کې کښېناستو ته نه دی جوړ او غواړي، چې خبره په ولاړو پښو خلاصه شي، مګر زمونږ زړه غوښتل چې څه شېبه ورسره کښېنو ده او د ده له حاله ځان ښه خبر کړو.

هغه له ناکامه مونږ خپل کاله ته بوتلو، د کاله په مخکې يوه زړه چوکۍ او يو زوړ شکېدلی کټ پروت و، چې خاص د مېلمنو دپاره و او بې له مېلمه څخه يې د يوه پوزي تحمل هم نه درلود. مونږ دوه درې تنه د کټ په بازو ګانو کښېناستو او نور په خاورو کښېناستل، څو دقيقې چې تېرې شوې هغه مونږ رخصت کړو او نور يې نه غوښتل، چې خپل اشنايان په سپېره ډاګ کښېنوي.

پدې کاله کې د اختر ورځ، لکه د روژې ورځ داسې وه او په تمامه معنیٰ د يو غريب سړي کور و. د ده د درويشانه ژوند او صبرو قناعت ماته ډېر معظم او محترم ښکارېده او له ځانه سره مې ويل هغه افتخار، چې د دې کاله په برخه رسېدلی دی هغه بل کور ترينه محروم دی هلته که غنا او ثروت خپل زيب و ذينت ښيي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـه تقـویٰ او پاکنفسـي خپـل شـهامت څرګنـدوي او قلندرانـه استغنیٰ سترګو ته ودرېږي.

دا هغه سړی دی، چې د یوه ستر شرکت لویه سرمایه یې په لاس کې وه او کله به یې دوه لوی ریاستونه په اختیارکې و.

که چیرې ده ناجایزه استفاده کولی یا یې جایزه استفاده هم پوره کړې وای نن به دغسې نه و او د ده د کوټو فرش به د نیستۍ باد دومره ژرنه وای وړی، مګر ګورئ چې پدې سړي باندې زړه ونه سېزئ او په حقارت ورته هېڅکله ونه ګورئ. زه هم دا حال د دې دپاره نه لیکم، چې د چا توجه ورته جلب کړم، ځکه چې دې دنیا ته په حقارت ګوري او له ده سره د بې نیازۍ غرور ملګری دی.

د ده په نظر کې خپله تقوی ډېره درنه معلومېږي. دی ځانته په ډېر درانه نظر ګوري او نورو ته هم ډېر درونـد ښکاري. مونږ باید په هغه چا زړه وسیزو، چې له ډېر مال او دولت سره هم ځانته دغه حیثیت او شخصیت نشي پیدا کولی، یعنې په لوړ مقام کې خلکو ته ټیټ معلومېږي او په ډېر لوی کور کې هر چا ته وړوکی په نظر ورځي. څوك عزة النفس لري او د خلکو په نظر کې د شخصیت خاوند دی په هغه زړه سوی نه دی په کار.

**خرقه پوشو په خرقه کې دي موندلي**
**هغه حظ چې په دنیا کې دنیا دار کا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاني لاره

په موټر کې سپاره وو ، یو خانزاده غونډې سړی هم په موټر کې ناست وو ، د تېر وخت زړې قصې یې کولې.

هغه وویل: پخوا موټرونه نه وو ، مونږ به په آسونو سواره وو ، نوکرانو به مو په مخکې منډې وهلې. هغه وخت خان او غریب معلوم و ، خانزاده او د اب سړی پېژندل کېده ، عام او خاص یو رنګه نه و. اوس هرسړی په موټر کې سپرېږي او نوکر د بادر له څنګه ناست وي.

چې موټرونه راغله او غریبان پکې سپاره شوه ، خاني لاړه او باداري بې رونقه شوه. د خان قصه ډېره اوږده وه ، خو د مطلب ټکی دا و ، چې خاني لاړه ، ځکه چې خواران او غریبان په موټرو کې سپاره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوازې

ماشومان، ځوانان، سپین ږیري د پسرلي مېلې ته روان وو. زه هم له دوی سره لاړم او په ډېرو ګڼو خلکو کې ننوتم.

هلته د ښېښې د ایښودو ځای نه و او بې حسابه مخلوق راغونډ و، نه پوهېږم چا له ما نه پوښتنه وکړه، چې ته یوازې یې که څوك درسره شته!

ما وویل: زه یوازې یم.

همدغه وخت زه د یوازې په معنیٰ پوه شوم او دا راته معلومه شوه، چې په ډېرو ګڼو خلکو کې هم سړی ځانته یوازې ویلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فاتح

سکندر له ډېر قوت او ډېرو لښکرو سره ښار ته راغی، د ښار لـه خلکو سره يې څو ځله زورور جنګونه وکړه.
لـه دواړو خـواوو نـه ډېـر خلـك ووژل شـوه، ډېـرې وينـې تـويې شوې، ډېرې ككرۍ تر پښو لاندې شوې، وروسته لـه ډېـرو جګـړو هغه د مړو په سرونو پښې كېښودې او د لوی فاتح په حيث ښار ته ننوت.
دی ډېر په قهر و. ده غوښتل چې ښار لوټ کړي او قتل عام جوړ کړي، مګر دا کار ده ونشو کړی، ځکه چې په ښار کې يو پټ قـوت موجود و، چې ده ورسره مقابله نشوه کولای. دی چې ښار ته ننـوت په يوې ډېرې ښکلې پېغله يې سترګې ونښـتې او پـه يـو ځـل ليـدو يې زړه بايلود.
څوك، چې بې زړه شي هغه بيا جنګ او جګړه نشي کـولی، ځکـه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پېغلې ته وسپاره.
دغه لوی فاتح، چې عشق او مينې په پنجو کـې ګېـر شـو بـل راز شو او د خپلې معشوقې د خوښې دپاره يې د ښـار د خلكـو خدمت ته ملا وتړله.
دغه وخت دا معلومه شوه، چې دی فـاتح نـه و فـاتح بـل څـوك و. دی په دې نه پوهيده، چې په ډېر زور او قوت خپـل ځان يـوه قـوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قــدرت تــه ســپاري، چــې لــه ســلطان او شهنشــاه نــه د خلکــو خدمتګار جوړوي.

په رښتیا ، چې د عشق مقام ته رسېدل هم څه اسانه کار نه دی او د ښکلا په دربار کې پادشاهي هم په تعظیم او احترام سرټیټوي.

هلتـه محمـود د ایـاز تـابع دی او سـکندر هـم پـه یـوه نظـر بـل راز کېږي او قهر و غضب خپل ځای مینې او محبت ته پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لباس

بدرنګه خیاط وه، مګر کار یې ښایسته و او کالي یې ډېرښه ګنډل. د فېشن خاوندانو خپلې درېشۍ په بل چا نه جوړولې، هر چا به ویل چې فلانکی ډېر ښه خیاط دی، د ده په شان لباس بل څوك نشي جوړولی.

دغه هنر په دغه سړي کې ډېر غرور او تند خوي پیدا کړی و، یعنې څومره چې د ده شهره سپی وه هغومره یې خوی هم سپی و، مګر دغو دوو سپو د چامخه نشوه نیولی او د خلکو هجوم په ده باندې ورځ په ورځ زیاتېده، ځکه چې صفت او هنر په ده باندې د ښه خیاط نوم ایښی و.

که دا سړی له دغې ناشولتې شهرې او خپل بد عادت سره ښه خیاط نه وای، له ده نه به بد بخته انسان بل نه و یا به دی هغه وخت د ښه سلوك او ښه خوی خاوند او سیرت به یې بل راز و، یعنې ښه خیاط به نه و ښه سړی به و، مګر اوس د ده هنر او کمال ښه خوی ته ضرورت نه لري او د ده په بد خوي او بده شهره یې ډېره پرده غوړولې ده، ځکه هر چا ته ښه ښکاري او هر څوك ورته په قدر او عزت ګوري.

فن او صنعت ډېر ښکلي شاګردان د ده لاس لاندې کړه او د ډېرو ښکلو د قد او اندام اندازه اخلي. زه دغه خیاط په دې حقیقت ډېر ښه پوه کړم، چې د انسان حقیقت په صنعت او هنر پټېږي، ځکه دغه سړی د خلکو په نظر کې محبوب دی او هر څوك یې د زړه ساتلو کوښښ کوي. همدغه شان چې یو بدرنګه مخ له ښایسته پلو لاندې پټ دی او د هر چا نظر ځانته را کاږي. دا خیاط هم د ښه لباس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولو کې پټ دی، چې څوك يې حقيقت ته نه ګوري کار او لياقت ته يې ګوري.

د ښه لباس اغوستل، خو په ځای پرېږده جوړل يې هم دغومره اثر لري، چې بد ښه کولی شي.

لباس په لومړي وخت کې د ځان پټولو د پاره جوړ شو، چې پخوا يې ښايست هم پټاوه او د ښکلا مخه يې نيوله خووروسته پخپله دومره ښکلي شو، چې د انسان اصلي او حقيقي ښايست يې له هر چا هېر کړ او د تاوس ښو کار ترينه واخيستل شوه.

د انسان لباسونه ډېر زيات او څو رازه دي، چې ځينو ته مونږ د لباس په نظر نه ګورو، هغه ښايست او ښکليتوب چې د انسان په څېره کې وينئ، له يوه لباس نه زيات قيمت نلري که څه هم په ډېر جګ نرخ خرڅېږي او له انسان نه يې قيمت ډېر لوړ شوی دی.

په دغه قيمتي لباس کې هم د انسان عيبونه پټ دي او ستا دا عيوب دا ښکلي پرده د ستر د پاره د انسان په معايبو اچولې ده.

هغه، چې مونږ ورته خوبان وايو او ډېر ښکلي په نظر راځي مونږ پرې زړونه بايلو او عشق ور سره لرو، مګر په دې نه پوهېږو، چې څومره بد خويونه او ناکاره عادتونه په دغه ښکليتوب کې پټ دي.

که دا خبرې او عادات په بل چا کې وي ډېر بد ورته ګورو، مګر دلته د صورت ښايست د سيرت عيب پټ کړی او په همدغه وجه د ليلیٰ سپي د مجنون په نظر کې ښاغلی دی. د همدې لامله د معشوقو جفا له وفا نه ښايسته ده او د ښکلو ظلم او ستم ظالمانو ظلم غوندې بد رنګه نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ علاوه په دغو ظاهري لباسونو معنوي لباسونه هم ځانته پیدا کړي دي، چې یو له بله پکې ځان پټوو او په دغه وسیله خپل حقیقت له پوهانو او هوښیارانو نه هم پټ ساتلی شو.

د دغه لباس نوم پوهه او هوښیاري ده، چې د علم او معرفت په نامه یادېږي.

هغه چې زمونږ په نظر کې عالم، فیلسوف یا ادیب او هنرمند معلومېږي د هغه عیبونه د علم او پوهې د پردې لاندې پټ دي، چې مونږ یې ښه نه وینو یا یې ډېر ښه وینو او نقص راته کمال معلومېږي.

څنگه چې فصاحت او بلاغت کله حق ناحقه کوي او غلط صحیح ښیي د فصاحت او بلاغت خاوندان هم له ډېرو عیبونو سره زمونږ په نظر ښاغلي ښکاري او اصلي حقیقت یې رانه پټ دی.

هو! د جمال او کمال خاوندان او د علم او معنیٰ صاحبان د ډېرو ښکلو او ښایستو پردو تر شا پټ دي، چې مونږ یې اصلي بڼه نه شو لیدلی.

د منطق او بیان خاوندان خپله بدي هم نېکي ښودلی شي او د بل نېکي بد رنگولی شي.

د دې عصر سحر او جادو په دغه ډول زمونږ په سترگو او نظر لوبې کوي.

ډېر وخت په کار دی، چې انسان طلسم هم مات کړي او حقیقت ته ورسېږي یا له یو بل طلسم او بل سحر سره مخامخ شي.

مونږ اوس انسان نه وینو یا د انسان رنګ او صورت وینو یا یې په وینا او خبرو کې گورو، که ډېر وړاندې لاړ شو، نو کار او هنر کې یې وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان حقيقت صورت نه دی، پوهه نه ده فصاحت او بلاغت نه دی. په کار او صنعت کې هم د انسان فطرت او نفسي کيفيات څوك نه شي ليدای.

دا ټول شيان د انساني حقيقت د پټولو او ښه ښودلو رنګ رنګ لباسونه او حجابونه دي. د انسان غرايز او خوبونه د انسان اصلي حقيقت دی، چې ډېرې پردې يې په مخ پرتې دي. انسان پس له مړينې په قبر کې هم بې پردې نه شي او سپدلی او چېرته، چې دی نه ځان وينې او نه بل وينې بيا هم بايد په کفن کې پټ وي، ځکه چې د ده ټول عزت او حرمت په دې کې دی، چې بې پردې نه شي او څوك يې بې پردې و نه ويني.

هغه انسان، چې په عبادت کې يې ريا پټه ده، په هوښيارۍ کې يې شيطنت پټ دی او سخاوت يې هم د يوه داسې پټ تجارت نوم دی، چې له ګمرکي محصولاتو نه هم معافيت لري، هغه تر قيامته له نورو نه ځان پټولی شي.

دا ستر، لکه د ښځو حجاب او حيا هغه شی نه دی، چې د مدنيت او تجدد شمال يې له مخه لرې کړي. په دغه ستر ډېر بې پردې خلك هم ډېر ټينګ دي.

چېرته، چې د نن جامې ډېرې لنډې شوې دي او خلك د صورت بربنډولو ډېر هوس لري، هلته هم د انسان سيرت او حقيقت په ډېرو پردو کې پټ دی.

په انسان کې ځينې داسې ضعيفې جنبې شته، چې له ډېرې حيا نه خپل خاوند ته هم ځان پوره نه ښيي او انسان ورته له ډېره خجالته سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي کتلی، همدغه سبب دی چې هر څوک خپل ځینې شیان هېروي او خپلو عیبونو ته داسې اصلاحي رنګونه ورکوي، چې په خپل ځان یې ګمان بل راز شي او خپل شعور هم وغولوي. نن د انسان څېره په تلویزون کې له ډېر لرې ځایه ښکاري، مګر د انسان معنوي څېره او باطني تصویر دومره پټ دی، چې سړی په خپله خپل ځان پوره نه شي لیدلی، بلکې خپل عکس د نورو په نظر کېویني. که چا ته چا ښه ویل هغه ځان ښه ګڼي او خوشحالېږي، که خلکو څوک بد وګاڼه له بدو خلکو سره په زندان کې لوېږي، که څه هم یوسف یا سقراط دي.

همدغه وجه ده، چې له ډېرو خلکو نه د ستایونکو په ستاینو د متملقینو په منطق ځانونه ورکېږي او خپل ځان بل شان ویني. د همدغې اغیزې په سبب اوس د ځینو رنځورانو علاج په خبرو کوي او ډاکټران ورته وایي، چې ډېر ښه یې او هېڅ مرض درکې نه شته، یعنې د دغه دروغو شاهدي ناروغ هم ښه کولی شي او یو طبي علاج ګرځېدلی دی.

زه دا منم، چې په دنیا کې ښه او بد شته، مګر د ښو او بدو په پېژندلو کې دومره سودایي شوی یم، چې دغه تمیز رانه ورك غوندې دی. کیدای شي، چې مونږ ډېرو کسانو ته په دروغو ښه ووایو او هغه ښه شي یا ډېر ښه بد ګڼو او هغه بد شی، چې زمونږ ښه او بد زمونږ د تصور او تفکر نومونه دي نه د حقایقو. مونږ هغه چا ته ښه وایو، چې زمونږ ښه او بد زمونږ د تصور او تفکر نومونه دي نه د حقایقو. مونږ هغه چاته ښه وایو، چې زمونږ په ذهن او نظر کې ښه وي نه دا، چې په خارج کې ښه وي یا یې حقیقت ښه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ځومره او څو زره کاله پخوا هم د ښو او بدو په نامه ځینې شیان له ځینو نه ښه ګڼل او اوس هم ښه او بد یو راز ګڼو، ښايي چې بد ښه وګڼو او ښو ته بد ووايو، په همدغسې تميز ځان له بې تميزۍ نه وژغورو.

مونږ ظلم بد ګڼو او عدالت خوښو، مګر ځینې مظالم راته د عدالت په څېر ښودل شوي دي او ډېرو بدو خلکو راته ځانونه ښه ښکاره کړي دي، يعنې منطق او استدلال، ريا او تذوير، شعر او ادب، عقل او فلسفه، عرف او عادت، سياست او تمدن، کله له سمې لارې نه اړولي يو او زمونږ په شعور او احساس يې هر راز لوبې کړې دي. دا کار هر کله او هر چېرته پوهانو او د هنر خاوندانو کړی دی، احمقان او ساده ګان خدای له دغسې سترو ګناهانو نه ساتلی دی، د هغوی اغراض او مطلب دومره لوخ دی، لکه د متمدنو خلکو مېرمنې، هغوی د حقايقو په پټولو کې ډېره لږه برخه لري او ژبې يې له زړونو سره ډېر غدر او خيانت نه کوي. هلته دوستي او دښمني، ګناه او تعدي ظلم او رحم ځان بل راز ښيي.

ريا او ټګي د هغوی کاله ته ډېره لاره نه لري.

هلته د صداقت ځای سياست نيولی دی.

هلته خلك ډېر لباسي خلك نه دي او په ډېر ساده لباس کې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرات

ډېر غټ سړی مړ و او په بدرګه کې یې ډېر پسونه، غوایان او چرګان حلال شوو، دا خیرات ډېر لوی او زورور خیرات و، چې د شاهانه مېلمستیا رنګ یې درلود. د خیرات د انتظام دپاره ډېر خلك مقرر وو او ډېرو ښو اشپزانو پخلی کاوه، د خدای د رضا دپاره راز راز نعمتونه او هر رنګه طعامونه تیار شوه، خلك لکه مېلمانه په ټکتو را وبلل شوه او د هر چا ځای معلوم و، هغه چې په ګړندیو ګاډیو کې راغلل دننه قصر ته ننوتل.

د خانانو او ملکانو دپاره بېل ځای و، مامورین او میرزایان ګوښې ناست وو.

د سوداګرو او زمیندارو دپاره بل ځای جوړ شوی و.

هر چا ته د هغه په اندازه برابره ډوډۍ راتله.

د هر چا درجه او مرتبه معلومه وه.

د عامو وګړو دپاره غټې وریجې وې او له معتبرو نه بېل ناست وو.

د سوداګرو او زمیندارو دپاره بل ځای جوړ شوی و.

هر چا ته درجه او مرتبه معلومه وه.

د عامو وګړو دپاره غټې وریجې وې او له معتبرو نه بېل ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې خواران او فقيران که څه هم وږي پاتې شوه او چا هلته پرې نښودل، مګر د اب او عزت خلك په ډېر ښه شان عذر شوه او د زورورو قدر او عزت پوره شو.

د دې خيرات قصې تر ډېره وخته کېدلې! هر چا به ويل، چې ډېر زورور خيرات و، ډېرې پيسې پکې ولګېدې.

هلته يو ړوند او يو شل ناست و هغوی وويل: افسوس، چې زمونږ څه پکې نه وه او مونږ هلته چا پرې نښودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زیارت ډیوې

د جمعې مبارکه شپه وه، خلك زیارت ته راتلل او شمع به یې بلولې، ځینو به په خاورینو ډیوو کې تېل اچول او ډیوې ټولې د زیات په اروا بلې وې. زه چې کور او کلي ته راغلم په کلي کې د غریبانو کورونه تیاره وو، هغوی تېل نه درلوده، ځکه په تور تم کې ناست وو.

څوك چې په ثواب پسې ګرځېده ټولو د زیارت ډیوې ولګولې او د خوارانو غربیانو له حاله ناخبره وو.

هو! دغریبانو په کورونو کې تیاره وه، ځکه چا نه لیدل.

په دوی باندې یوازې د خدای نظر و او بس.

د دوی ډیوې دې خدای ولګوي، مونږ به د زیارت ډیوې بلوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مزار لوحه

کور په کور او کلي په کلي به ګرځېدمه او د خدای په نامه به مې څه غوښتل چا به یو موټی ناپاکه غله راکړه او چا به سوې ډوډۍ راکوله.

ډېرو کورونو به جواب راکاوه او ځینو به په دروازو کې هم نه پرېښودم.

څو ورځې دیوه او بل له درګاه نه ورېي او بېنوا راغلم.

هېچا هېڅ رانکړه له ټولو خلکو نه مې زړه بد شو دنیا ته مې په کرکه وکتل، خدای ته مې رجوع وکړه او په دغې کوټنۍ (قبر) کې پرېوتم.

هغه چې زه به یې په دروازه کې چا نه پرېښودم اوس ماته لاس په نامه ولاړ وي له ما نه څه غواړي.

زما په نامه زما کوټنۍ ته هرڅه راوړي او د خدای په نامه خوارانو او غریبانو ته سوې مړۍ هم نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیاقت

یوه وویل: دغه مدیر د وزارت لیاقت لري او هغه وزیر بې لیاقته لوړ مقام ته ختلی دی.
زما ملګري په دې خبره هماغومره خوشحاله شو، لکه زه چې خپه شوم.
ما ویل: لیاقت باید دومره بې قدره نه شي.
هغه ویل: د یو مملکت د ترقۍ او لوړتیا دلیل همدغه دی، چې لیاقت پکې ډېر قیمت ونه لري، چېرته چې علم او پوهه ډېره ترقي وکړي، هلته بیا ډاکټران او پوهان ځان ته کار او ډوډۍ نه شي پیدا کولی او د لوړو شهادتنامو خاوندان یا وزګار ګرځي یا چېرته ټېپر او ګازرې خرڅوي.
په مترقي هېوادونو کې یو پولیس او ډرېور هم لوړ تعلیم لري او یو دهقان د کرهنې په کار کې زمونږ له رئیس زراعت نه ډېر پوه معلومېږي. دلته چې لیاقت ډېر لږ دی او له لږو خلکو سره دی، نو یو سړی په لږ غوندې پوهه خدای نظرخان شي او لوړ مقام ته وخېژي. زه په دې ارماند یم، چې زمونږ په هېواد کې هم لیاقت ډېر ارزانه شي او له خارج نه یوه عالي شهادتنامه راوړل څه ډېر قیمت ونه لري.
زه به هغه وخت ډېرخوښ یم، چې یو سړی د وزارت لیاقت ولري او په ډېره ټیټه رتبه کار وکړي. زما ملګری د خبرو په چل ډېر ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېده او د بل خوله کې يې خبره وچوله، ما ته د څه ويلو موقع ډېره لږه پيدا کيده، هغه ماته ايله همدغومره وويل:

زه پدې نه يم خوابدی، چې يو مدير د وزارت لياقت لري او وزير نه دی، ځکه چې وزارتونه هر چېرته لږ دي او لايق کسان بايد په هر ځای کې دومره ډېر وي، چې هر يوه ته مديريت هم ونه رسيږي، مګر دا بله خبره که رښتيا وي، چې يو سړی بې لياقته لوړ مقام ته ختلی دی، په ډېرې خوابدۍ ارزي او د لياقت په دغسې بې پتۍ په سرو سترګو ژړل په کار دي که چېرې د دنيا ټول کارونه د لايقو خلکو په لاس کې وي او ځينې لايق او وړکسان وزګار پاته شي يا دهقاني وکړي څه بده خبره نه ده.

هغه ويل: زه نه پوهېږم، چې ته لياقت څه ته وايې، ځکه چې سياسي او اداري لياقت، لکه د بوډۍ ټال مختلف رنګونه لري او يو هوايي نمايش ورته ويلی شو.

دا لياقت، لکه علمي او فني لياقت يو ټاکلی او معين شکل نلري، چې هر وخت او هر کله هر چا ته يو شان ښکاره شي او ټول ورته په يوه نظر وګوري، چې عملي، فني لياقت، سياسي او اداري لياقت، اخلاقي او روحي لياقت يو له بله فرق لري او دغه ټول لياقتونه په يوه سړي کې ډېر لږليدل کېږي.

دلته کار نه دی، چې مونږ له هر سياسي او اداري شخص نه د اخلاقي لوړتيا انتظار ولرو يا ترينه علمي او فني لياقت وغواړو.

د يوه سياستمدار او اداره چي سړي لياقت دا دی، چې خلکو ته ځان او جهان په بل راز وښيي او څه، چې ځانته روا ګڼي د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره يې ناروا وګڼي، يعنې په خپله هره شپه قمار ووهي او نورو جوارګرو ته سزا ورکړي، د بزم په مجلس کې هر څه وکړي او په نورو باندې ټينګ ټکور ودروي.

ده ويل: ما د خپل ماموريت په وخت کې خپل لوی لوی امران وليدل، چې د مطبوعاتي چارو په باب يې ما ته هدايتونه را کول، مګر دغه کلمه يې(مطبوعاطي) ليکله. د اخترنو په ورځ به يې پخپلو رسمي نطقونو کې د عدالت ګستر په ځای رعيت ګستر ويلې.

ښه مې په ياد دي، چې يوه ورځ چاد ده دپاره مېلمستيا کړې وه، چې هر څه ډېر زيات و، مګر د کيفيت په لحاظ يې مزه نشته.

زمونږ آمر، چې ډېر لوی کاردار و، مګر د کم او کيف په معنیٰ ښه نه پوهېده، هغه ته وويل چې:(کميت نګو کثرت بګو) زه دغه وخت پدې پوه شوم، چې اداري او سياسي اشخاص علم ته ډېر احتياج نلري، دوی پخپل قوت او قدرت لوړ مقام ته رسېدلی شي او پوهه د لاس لاندې خلکو دپاره ډېره په کار ده.

ما ته دا معلومه شوه، چې علم عادي لياقت دی او قوت د فوق العاده لياقت نوم دی، په فوق العاده لياقتونو کې ځينې هغه لياقتونه هم داخل دي، چې هر څوك يې نشي ليدای او بلا تشبه له سحر او ساحرۍ سره شباهت لري، چې زرنګي، چالاکي، خود نمايي او عوام فريبي ورته ويل کېږي او د چانس او تصادف برخه پکې زياته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم قوت او قدرت چې د اداري او سیاسي کسانو په برخه رسېدلی دی، هغه د یوه روحي تاثیر په وجه د فوق العاده لیاقت رنګ پیدا کوي او د جلال او عظمت په رڼا کې ډېر معمولي لیاقتونه فوق العاده معلومېږي.

که ښه فکر وکړو او ونه غولېږو، نو لیاقت او کفایت د زور او قوت دوهم نوم دی او علمي یا فني لیاقت به هر وخت په هر ځای کې د قوت او قدرت تابع دی.

افلاطون او ارسطو که په هر ځای کې وي د سکندر لاس لاندې به وي او سقراط به په زندان کې د زهرو کنډول په سر اړوي.

هغه کسان، چې اوس په مدني دنیا کې د دیموکراسۍ په اساس دارا په کثرت لوړ مقامونه نیسي هغه په علمي لحاظ نه وي، بلکې له ځینې نورو نه یې لیاقت ښکته وي. په اخلاقي لحاظ هم دوی په نورو څه تفوق نلري، مګر په یوه ساحرانه قوت له خپلو حریفانو نه میدان وړي او په ځینو وسایلو یا غولونکو شیانو عمومي توجه ځانته راګرزوي.

دا د منلو خبره ده، چې ځان د خلکو په سترګو کې ښه ښودل او لوړ مقام ته رسېدل ډېر ځله د خلکو د غولولو او ځان بل راز ښودلو نتیجه وي او ډېر لږ کسان دي، چې د یوه حقیقي لیاقت په مرسته یوه عالي مقام ته رسیږي او په اخلاقي فضایلو په عالم کې مجبوریت پیدا کوي.

یو اجتماعي عالم د خپل علمي تحقیق په رڼا کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځوك، چې په رښتيا له ټولو اجتماعي عيبونو، يعنې له خود پرستۍ له تعصب، له خطا كارۍ او له ريا او دروغو نه خلاص وي، له اجتماع سره به هېڅكله مو افقت ونه كړي او هر ګوره انزوا به اختيار كړي. كه دغه خبره رښتيا وګڼو، نو هغه لياقت چې خلك يې خوښوي او په خلكو اغيزه لري بله قيافه پيدا كوي او داسې مثال لري، لكه چې يو بدرنګه مخ په ډول او سينګار ښايسته وښودل شي. همدا سبب دی، چې ځينې بدرنګه مخونه خلكو ته ښه ښكاره كېږي او ځينې ښايسته مخونه، چې د حيا او عفت په پرده كې پټ دي د چا توجه نه جلبوي.

لياقت كله كله يو لوړ برج له ډېر لرې ځايه نظر جلبوي، مګر هېڅ پكې نه وي او بې له نموده نور څه نلري.

كله لكه ورانه كنډواله ګنجونه پكې وي او ځوك يې نهويني.

ما دغه راز ډېر مختلف او متضاد لياقتونه ليدلي دي او پوهېږم، چې هر لياقت ښاغلي نه دي. ډېر خلك دا هم لياقت بولي، چې سرې قلپه روپۍ په بازار كې وچلوي او په يوه روپۍ د دوو روپو مال واخلي، ځكه په لياقت باندې ډېره ښه عقيده نلرم او ډېر ځله راته دغه متاع، لكه د غلا مال كه هر څومره قيمتي وي ارزانه او بې قيمته معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوچنیان

زه نه پوهېږم، چې مونږ ولې کوچنیانو ته په کوچني نظر ګورو، یعنې ولې ځانونه لوی ګڼو او دوی کوچني بولو؟ ښایې چې په دې خبره زه ساده غوندې ښکاره شم او زما دغه خبره د کوچنیانو خبره وي، مګر څه وکړم؟ زه په رښتیا تر اوسه ښه نه یم پوه شوی، چې لوی څوك دی او کوچنی څوك دی؟ ځینې کسان چې د لویوالي دعوا کوي او ځانونه لوی ګڼي ما ته کوچني او واړه په نظر راځي.

ښایې د دې سبب همدا وي، چې زه په خپله کوچنی یم. د یو کوچني ماشوم ځمکه او اسمان هم ډېر لوی نه وي او لمر او سپوږمۍ ورته یو ټیکلی ښکاره کېږي، د دنیا لکونه او کروړونه هم د ماشومانو په نظر کې له څو شلو نه زیات نه دي او هر څه کم په نظر ورځي. پاته شوه دا بله خبره، چې کوچنیان زما په نظر کې خدای ولې لوی کړي دي او زه څله هغه چا ته په لویوالي قایل یم، چې نورو ته واړه معلومېږي. دا هم بې دلیله نه ده زه په ماشومانو کې ځینې داسې لوی خویونه او ستر صفتونه وینم، چې هغه (ستاسو په اصطلاح) په ډېرو لویانو کې نشته. هغه کسان، چې لویي لري او ځانونه ورته لوی او زورور معلومېږي د خپلې کینې او بغض په مقابل کې ډېر کمزوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زه او ته هر څه لوی شو او قوت وموموپه خپلو غلیمانو رحم نه شو کولی په زورورو باندې قهر او غضب ډېر زورور وي، مګر ماشومان دغه راز نه دي، د دوی په زړونو کې که کله عناد او کینه پیدا شي ډېر ژر يې محوه کولی شي او يوه شېبه وروسته له هغه چا سره مينه کوي، چې يو ساعت دمخه يې ورسره منګولې لګولې.

دا کار لويان نه شي کولی، لوی خلك د خپل قهر او غضب په مقابل کې ډېر واړه او ډېر کمزوري دي دا زور او قوت د کوچنيانو په برخه رسېدلی دی، چې د حسد او عناد اور مړ کړي او دا جهنم په ګلزار بدل کاندي.

د دنيا لوی لوی غمونه او مصيبتونه، چې د لويانو ملا ماتوي په کوچنيانو ډېر تسلط نه لري او د حوادثو ډېره زوروره سيلۍ د دوی له شونډو خندا او خوشحالي نه شي وړلی. دوی په همدغه جګړه کې خپل کاغذي پتنګان په هوا کوي او خاندي، دوی تصور او تخيل له دوزخ نه فردوس جوړولی شي او مونږ په جنت کې هم له مارانو او لړمانونه نه شو خلاصيدی.

دوی په ډېر لږ څه ډېر زيات خوشحالېږي، يعنې ډېره زياته خوشحالي په ډېر لږ شي اخيستلی شي، مګر لويان په ډېر څه هغومره نه خوشحاليږي.

په دي سودا دوی له هر چا نه ښه پوهېدلي دي او نور پکې غولېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوچنيانو په زړه کې، چې هر څه وي هغه په خوله هم وېلی شي، مګر لويانو ته دغه پوره حاصل نه دی، اجتماعي اداب او قيود، عرف او عادات، اصول او قوانين په لويانو حکومت کوي او کوچنيان د عقل غلامۍ نه هم خلاص دي.

دا خبره صحيح ده، چې انسان اول په جنت کې و، وروسته بيا دغه نيمګړي جهان ته راغی، د هر ماشوم سرګذشت همدغه دی، ماشومان او کوچينان ټول په جنت کې دي، د مور غېږه د ماشوم دپاره جنت دي، د ميندو تيونه د شودو لښتي دي، د حيات اوبه همدغه سپينې پۍ دي، چې د ميندو له تورو پلونو لاندې پټې دي، ترڅو چې ماشوم، ماشوم دی او اندېښنو سره نه دی اشنا، د دنيا له غمونو نه داسې بې غمه دی، لکه چې په دې دنيا کې بيخي نه وي او په بل جهان کې اوسي.

کله چې له دغه معصوميت نه لرې غوندې لرې شي او شيطان يې وغوارې، نو له جنت نه بهر شي او دنيا ته راشي.

اوس پوه شوئ! چې د بلوغ او لويوالي علامه له شيطان سره اشنا کېدل او غولېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جګ برجونه

د کلا برجونه او دېوالونه ډېر جګ وو، د کلا شاوخوا ته خندق ډېر ژور و.

له دغه جګوالي سره دغه ټیټوالی تړلی و او د لوړتیا راز په همدغه کنده کې پټ و، ترڅو چې یو ځای ډېر ژور نه شي د چا برجونه نه جګېږي.

د یوه لوړېدل او د بل ټیټېدل یو له بله تړلي دي.

دا جګ برجونه هر چا له لرې لیدل، مګر دا لویه کنده له لرې چا نه لیده او د نژدې خلکو هم ډېر پام ورته نه و.

زمونږ سترګې له ډېر لرې ځایه لوړ ځلي او جګ برجونه ویني، مګر ژورې ځاګانې او لویې کندې څو قدمه هغه خوا نه ویني.

د دې هسکو دېوالونو او لوړو برجونو خټه له همدغه ټیټ ځایه اخیستل شوې ده. دا خټه د سنډا له پښو لاندې پخه شوه او ډېرو خلکو په لتو ووهله، بې له دېنه دا دیوالونه او برجونه نه لوړېده.

یو لوړ مقام ته رسېدل دغه راز کارونه په مخکې لري او ټیټ همدغسې جګېږي.

د دنیا جاه و جلال، عزت او منزلت هماغه لوړ برجونه دي، چې سرګذشت یې له ډېر ټیټ ځایه شروع کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم سر، چې د ډېرو خلکو مخکې په تعظیم ټیټ نه شي نور سرونه ورته په احترام نه ټیټېږي. هغه چې بل ته لاس په نامه نه وي ولاړ نور ورته لاس په نامه نه درېږي.

دا هغه پور دی، چې سړی یې یوه ته ورکوي او له بل نه یې غواړي.

که دا خبره تاسې منلې، نو راشئ د څان نوکران وګورئ! هغه چې د خان په مخکې خپل سر ډېر ټیټوي، په نورو باندې تفوق لري او درجه یې لوړه ده، هغه آس چې د ارباب د سپرلۍ دپاره په کمند کې ولاړ دی له نورو آسونو نه ډېر قدر لري او میتران یې ډېرښه خدمت کوي.

که مونږ حقیقت ته ځیر شو، عزت ډېر ځله په ذلت ګاټه شي او بادري د غلامۍ نتیجه ده.

ډېر خلك شته، چې د شخصیت ګټلو دپاره خپل شخصیت له پښو لاندې کوي او د عزت دپاره عزة النفس قربانوي.

څنګه چې دهقانان غنم په خاورو کې شیندي او بیا د غنمو درمندونه اخلي دوی هم عزت او شخصیت له خاورو لاندې کوي او دویی ته یې منتظر وي.

په دنیا کې لږ کسان دي، چې خپل فطري او طبیعي لوړالی په بل شان ساتي او د لوړو برجونو غوندې نه دي، بلکې د غرو له جګو څوکو سره شباهت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقیقت

لکه، چې ریا په عبادت کې وي او شیطنت په هوښیارۍ کې.

دښمني هم که د دوستۍ په جامه کې پټه وي او رقابت د محبت په څېر ښکاري. ډېر محبتونه دي، چې ډېرې پټې کینې په کې پټې دي.

په ډېرو احساساتو کې ډېر زیانونه پټ دي.

د دې زماني خندا د ماشومانو او ساده ګانو خندا نه ده، چې یوازې د مینې او محبت له پښته وي، د دې وخت ښکنه هم که هر څومره ښکلې وي، عفت او تقوىٰ پکې نه شته او ډېره رسوایي ورسره ملګرې ده.

د رقیبانو احسان او مهرباني د خلکو په نظر کې ځوانمردي معلومېږي، مګر له دغه باران سره تندر، برښنا او سېلابونه ملګري دي.

زه د دښمنانو مروت عالیجنابي ګڼم، مګر صداقت او محبت ورته نه شم ویلی، همدغه سبب دی، چې زه دروغ او ریا ببخي نه شم ویلی او په ځینو مواردو کې ورته ډېر ښه ښه نومونه هم پیدا کوم.

زه پوهېږم، چې عالیجنابان خپل رقیبان څنګه وژني؟ ما ته معلومه ده، چې قاتلان ټول یو راز نه دي. ځینې خپل رقیب په توره وژني، ځینې په ټګۍ او ځینې په احسان، ته کولی شې چې د خپل رقیب سر د احسان په زور ځانته ټیټ کړې او له خپل حقه هم ورته تېر شې، مګر له رقابت نه نشې تېرېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په احسان او مهربانۍ رقيب محوه کېږي، مګر رقابت نه محوه کېږي، رقيب وژل او رقابت وژل ډېر فرق لري، ډېرو خلکو خپل دښمنان مړه کړه، مګر دښمني يې مړه نه شوه.

د پهلوانۍ په ميدان کې يو پهلوان بل ته د ملګرتيا لاس غځوي او احترام په ځای کوي، مګر ځان ورته نه ځملوي.

دغه راز احسان د زور او قوت خاوندان له چا سره نه شي کولی دا نېکي يوازې د ضعيفانو کار دی.

هغه، چې خلك ورته سخي وايي او ستاينه يې کوي، عاليجناب به وي، مګر د خير خاوند نه دی.

د خان او ملك دا لويه او ښکلې مهمانخانه(مېلمستون) چې ګورئ په زور او جبر جوړه شوې ده او ډېر کورونه يې د خپلې ودانۍ د پاره وران کړي دي.

دا راز سخيان د خوارانو او غريبانو ګېډې نه مړوي، بلکې خواروي او وږي کوي يې. حجره چلول او مېلمانه پالل په حقيقت کې د ډېرو وږي کول او د لږو مړول دي. دغه اسراف او تبذير چې تا ته جواد او سخا معلومېږي، د پاکې او حلالې ګټې نتيجه نه ده.

که څوك په ظلم او زور په چل او فرېب پردي مالونه خپل نه کړي دغه راز لوی دسترخان نه شي غوړولی.

د چا په کور کې، چې هره ورځ پسونه او چرګان حلالېږي له هغه سره ارومرو يا د لېوانو قوت ملګری دی يا د ګيدړانو چل او فريب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوك غواړي، چې رښتیانی سخي او د خیر خاوند وګوري، نو لاړ دې شي هغه دهقان دې وګوري، چې یوه لاروي ته یې سکړك او شړومبې په مخکې اېښې دي او په خپله یې هم همدغه خوراك دی.

څوك چې پردي مالونه په چا باندې نه خوري او د خپل زیار او زحمت په ګټه مېلمه او مسافر پالي په سخاوت نه دي مشهور، مګر د خیر خاوند ورته یلی شو.

هغه چې خانقاه چلوي او په لنګر کې یې ډېر وږي مړېږي، په ظاهره خو دې نورو ته ډوډۍ ورکوي، مګر په حقیقت کې دی د نورو ډوډۍ خوري.

دغسې پیر او فقیر ته که ډېر خلك ډېر څه راوړي او لـه ډېرو غټو سوداګرو نه پـه تول کې دروند وخېژي، رښتیانی فقیر ورتـه ویلی شوه، ځکه د ده هر څه د نورو مال وي او په خپله هېڅ نه لري.

څنګه چې د خان او ملك سخاوت د پردي مال برکت دی، د شیخ کرامت هم د نورو د کرم نتیجه ده.

هغه څه، چې مونږ ته په ظاهره ښه ښکاري پـه حقیقت کې ښـه نـه دی او اصلي څېره یې ډېره بده ده. مونږ د یوه لښتې رواني اوبه پاکې ګڼو که څه د لارو او د کوڅو ډېرې پلیتې اوبه ورسره ګډې شوي او ډېرو ښارویو پکې بولې کړې دي.

ډېره ښه ده، چې زمونږ سترګې د حقیقت د لیدو دپاره نه دي پیدا او هر وخت ظاهر ته ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لویه خدایه

که زه ښه وکړم، ته راسره ښه کوې، که بد وکړم د بدو سزا را کوې.

که ستا مینه زما په زړه کې وي، په محبت راګورې.

که زه بې مینې شم، ستا مهرباني کمېږي.

ستا د محبت بارانونه په ما باندې هغه وخت ورېږي، چې زما په زړه کې رحم وي. زه چې هر څه وکړم ته هماغسې راسره کوې.

زما نېکبختي او بد بدتختي زما په عمل پورې اړه لري او جنت ته یا دورخ ته تګ زما د ښه عمل او بد عمل نتیجه ده.

زمونږ عقل او فکر همدغه دی، مونږ چې تا ته په خپله آئینه کې وګورو ستا په باب دغه شان فکر کوو، که مونږ ځانته ونه ګورو ستا لوی شان ته وګورو، ته زمونږ له خیال او فکر نه ډېر لوی یې.

مونږ، چې د ځان غوندې خلکو دپاره کالي نیسو او هغه د سر په سترګو نه وینو یا لنډ وي یا او ږده مونږ، پوهېږو چې ستا ستاینه له مونږ نه پوره نه ده.

مونږ ډېر واړه او کوچني یو، ته ډېر لوی یې.

دا زمونږ کار دی، چې د ښو په مقابل کې ښه وکړو او د بدو په مقابل کې بد. که مونږ څوك ووهو حاکمان هم مونږ وهي.

که مونږ په ځمکه کې غنم وشیندو او اوبه ورکړو ډېر غنم راکوي او زمونږ اب و دانه ځمکه هم بې عوضه نه پرېږدي، که د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه نیالګي پالنه او روزنه وکړو، خوږه میوه او یخ سیوری راکوي.

که سوداګر ته پیسې ورکړو هر څه، چې وغواړو راوړي یې.

که له یو ماشوم سره مینه وکړو له مونږ سره مینه کوي.

ستا شان له ټول مخلوق نه ډېر اوچت دی.

ستا اراده زمونږ د ارادې تابع نه ده.

ستا کړه زمونږ له کړو نه، نه پیدا کېږي.

ستا محبت زمونږ د محبت مولود نه دی.

ته خالق یې او مونږ مخلوق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشومان

مونږ ناست وو ، ماشومانو زمونږ له ښنګه لوبې کولې.
کله به يو له بله ونښتل، چغې به جګې شوې ژړا انګولا به وه.
کله به د خندا شور او زوږ دومره او چت شو ، چې په عذاب به يې کړو.
يوه به، چې د بل د لوبو شيان ګډوډ کړه، هغه به په قهر شو او کنځلې به يې کولې. زمونږ پام نه و ، يو راپاڅېده د بل مخ يې شوکارې کړ، د هغه په مخ وينې وبهېدې او له مستۍ به جنګ جوړ شو.
مونږ ويل: خير دی واړه دي نه پوهېږي.
زمونږ لويوالي دا تقاضا درلوده، چې د کوچنيانو طفلانه لوبې هېڅ وګڼو او ملامت يې نه کړو ، ماشومان د عمر او وجود په لحاظ په رښتيا له مونږ نه واړه دي، مګر دومره واړه نه لکه مونږ، چې د خدای په دربار کې واړه يو.
د ماشومانو پوهه به له مونږ نه لږه وي، مګر زمونږ پوهه ډېره لږه ده، زمونږ لوبې هم د وړو غوندې دي، زمونږ خندا او ژړا هماغسې ده،
ماشومان پوهېږي، چې واړه يو او مونږ نه پوهيږو.
راشئ! چې په دې خبره ډېر خوشحال شو او د لوی خدای لويوالي ته په ډېر اميد و ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر او ادب

د انسان په وجود کې دوه شيه ډېر عزيز معلومېږي، چې يوه ته زړه او بل ته دماغ وايي. له دماغ نه علم او فلسفه پيداشوه له زړه نه شعر او ادب.

اروپايان زړه د عواطفو او نفسي احوالو ځای ګڼي، مسلمانان د ايمان او عقيدې ځای ته زړه وايي. صبر، رحم، کرم، شجاعت، سخاوت د زړه کار دی، عشق او مينه په زړه کې وي.

شعر له زړه نه الهام اخلي او له زړه سره کار لري.

ډاروين وايي: ((هغه لوی کمال، چې د تحول او تکامل په لاره کې يوازې د انسان په برخه رسېدلی او نور ژوي ترېنه محروم دي، د انسان قلبي عواطف دي، چې په رحم، مروت، کرم، شجاعت، نوعه پرستي ترېنه تعبير کېږي.))

انسان غواړي، چې له حيوانيت نه لرې وي، بايد دغه عواطف ښه وروزي، د عواطفو روزل د شعر کار دی او شعر ته د عواطفو او احساساتو د ظهور او تجلياتو کوه طور ويلی شو.

څنګه چې د لمر وړانګې او پلوشې لومړی ځل د لوړو غرو په څوکو پرېوزي او وروستی وداع هم د غرو له څوکو سره کوي، دغسې د عواطفو او احساساتو پر توهم د شاعر په زړه له نورو نه زيات لوېږي او ځيني زړونه، لکه د غرونو سمڅې او غارونه دغه رڼا يا بېخي نه ويني يا يې ډېره لږه ويني. همدغه عواطف او

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساسات، چې د شاعر له زړه نه الفاظو ته رانقل شي شعر ترې جوړ شي او په زړونو اثر کوي.

هو! د شعر موضوع ښکلي خيالات، عالي احساسات، د زړه تاثرات، د غم او خوشحالۍ خوبونه، روحي او جسمي ښکلا، اغېزې او عشق او محبت دی.

که دغه شيان په يوه ښکلي تعبير او ښو الفاظو کې بيان شي، چې د فصاحت او بلاغت مراعات پکې په ښه شان شوي وي شعر ترينه جوړ شي او ډېر ښه شعر هماغه دی، چې په دغه معيار برابر وي.

څومره، چې د يوه شاعر فکر او خيال ازاد وي او د محدوديت له قيوداتو راوتلی وي هغومره يې شعر لوړ او عالي وي.

که يو شاعر د نورو په شان هر چا ته او هر شي ته سر ټيټوي او په فکر کې يې د بغاوت جذبه نه وي موجوده له هغه نه د ښه شعر هيله نه شي کېدای.

شاعر بايد د فکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي.

شاعر ته نه ښايي، چې د زاړه منطق درس د عقل له زاړه بوډا نه واخلي او په زړه لاره په زاړه فکر پسې لاړ شي.

د شاعر خيال بايد ډېر لوړ پرواز وکړي او له ډېر هسك ځايه دغه جهان ته وګوري.

د شاعر نظم بايد د نورو غوندې نه وي او هر څه په بل شان ووينې. د شعر او ادب ژوند د فکر په ابتکار کې دی او تقليد يا ابتذال د شاعر مرګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر او ادب دنیا په دلداری ولاړه ده، شاعر باید په هرڅه او هر وخت کې زړه ته رجوع وکړي او ډېر حساس زړه ولري.

هغه چې په زړونو کې هیجان، تاثر او حساسیت نه شي پیدا کولی او زړونه نه خوځوي شاعر ورته نه شو ویلی.

که دا خبره رښتیا وي، چې انسان په هر وخت او په هر حال کې د زړه په خوښې پسې روان دی او زړه په دماغ باندې حکومت لري، یعنې د عقل ادراك د قلبي تمایلاتو له تاثیر لاندې وي، نو ویلی شو. چې د یوه ملت عقلي او ذهني سیر او حرکت هم د شعر او ادب تابع وي او شاعران په نفسیاتو او روحیاتو کې تغیر او تحول راوستلی شي.

همدغه شعر دی، چې په زړو کې زلزلې او طوفانونه پیدا کوي او کله پکې داسې صبر او سکون دی، چې غرونه یې ثبات او استقامت ته حیران وي.

که دا رښتیا وي، چې د چرګانو په نارو یده خلك له خوبه پاڅېږي، نو دا باید ومنو چې د شاعرانو په نغمو د یوه ملت مړه احساسات او جذبات را وینېږي او په دې اسرافیلي شپېلۍ کې بل راز تاثیرات موجود دي.

کوم فیلسوف، چې هر څه بد ګڼي او زندګي توره په نظر ورغلې ده، هغه هم شعر ته ښه ګوري او شعر د انسان دپاره یوه ښه پناګاه بولي.

شوپنهاور وایي: ټولې بدبختۍ د انسان له نفس څخه نشئت کوي او له ژوند سره ډېر مصیبتونه او غمونه ملګري دي، که څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه داسې چاره لټوي، چې له بدبختيو نه لرې غونډې په امن کې شي باید په صنعت او هنر کې مستغرق شي او د ښکلا په مظاهرو کې ځان ورك کړي.

په دغه حال کې سړی په ظاهره له خلکو سره وي، مگر په معنیٰ کې یوازې وي او دنیا ورته، لکه یو سراب معلومېږي، چې د ده لمنه نه شي لمدولی.

په همدغه بیخودۍ کې انسان د دنیا له شر او شوره اسوده کېږي او د بې نیازۍ مقام ته نږدې کېږي، چې غیرله حقایقو بل شي ته متوجه نه وي. دغه صنعت او هنر، چې د شوپنهاور په نظر کې د ښکلا مظهر دی او دی ورته ښه پناګاه وایي شعر دی. که چېرې په دغه غم لړلي جهان کې د سعادت او نېکبختي پلوشو کله کوم کور رڼا کړی وي هغه به د شعر کور(بیت) وي.

د شاعر خیالي دنیا تر ډېره حده له غمونو او مصیبتونو نه پټه ده او هلته داسې بې دردۍ سره بیخودي شته، چې له سړي نه هر څه هېروي، تاسې شعر او ادب ته په عادي او معمولي نظرمه ګورئ د شعر تومنه او قدسیت په نظر کې ونیسئ، هغه څه چې په زړونو کې پیدا کېږي او په زړونو اثر کوي هغه عادي او معمولي څیز نه وي.

دا دغم او خوشحالۍ ترانه د انسان په ژوندانه کې ډېره زیاته اغیزه لري او انسان ترینه هېڅکله نه شي بې نیازه کېدی، د یوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر او ادب ساتل کېږي، د یوه ولس د ذوق او شعور، د فکر او خیال، د احساساتو او عواطفو هنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر او ادب دی، هر څومره چې د یوه ملت شعر او ادب عـالي وي هغومره يې اخلاق، نظر او روحيات لوړ وي او لـه لوړو ملکـاتو او انساني فضايلو سره يې ارتباط او تعلق زيات وي، شعر او ادب د بشـرعلايق لـه ديـن او مـذهب سره ټينګـوي او پـه هوښـياری کـې بينايي او همـدردي کـوي کلـه چې زړونـه کلکېـږي يـا تـورېږي، نـو شعر پکې دقت او صفايې پيدا کولی شي، هغـه څه چې انسـان د ماديت له غلامۍ او بت پرستۍ نـه ساتي شعر دی عارفانـه ذوق، انسـاني عـاطفـه، حکيمانـه شـعور د شـعر پـه نغمـو وده کـوي او د حسن و نظر علايق همدغه شی ساتي. کوم ملت چې شاعر نـه لـري زړه نـه لـري، سترګې نـه لـري، عواطف نـه لـري او د ذوق و تمنـا لـه خونده محروم دي.

شـاعران دا کـولی شي، چې د انسـان فرعـوني غـرور پـه تـواضـع بدل کړي او د دوهۍ ملنګ تـه د شـاه جهـان خوي او مړې سترګې ورکړي.

غم او سرور د شـاعر هديـه ده، چې لـه زړونـو څخـه يـې اخلـي او زړنو تـه يې ورکوي، نو کوم قدر او قيمت چې د انسان پـه بـدن کـې زړه لري په يوه جامعه کې يې شعر او شاعر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادب راز

چا چې د شعر او شاعر په باب ډېر فکر کړی دی او دواړه يې ډېر ښه پېژندلي دي، هغه وايي ډېر ښه شاعر هماغه دی، چې ډېر خود پرست وي او بې له ځانه په بل هېڅ شي کې فکر نه کوي.

دغه راز شاعر خپل ځان په خپل شعر کې ښيي او مونږ ګمان کوو، چې زمونږ تصوير يې ايستلي دی. شاعر ځکه په مونږ ګران دی چې زمونږ د زړه خبرې کوي او زمونږ خاطرات رايادوي، شعر د زړه غږ دی او د زړه غږ نه ډېر قوي دي.

شاعر پوهېږي، چې عقل او منطق، دليل او برهان په مونږ باندې حاکم نه دی، بلکې غرايز او احساسات زمونږ رهبري کوي. د همدې لامله هغه له اساس او غريزې سره خپل تعلقات ټينګ ساتي او له زړه سره کار لري.

هغه څوك، چې زړونو ته ښه ښه پيغامونه راوړي او زړونه خوشحالوي شاعر دی، هغه پيغام چې د معشوقې له خوا عاشق ته راځي شعر دی.

شاعر له مونږ سره د عشق او مينې په کار کې کومك کوي او له دېنه ښه کومك بل نه شته. شاعر پوهېږي، چې له نا اميدي نه څنګه لذت اخيستل کېږي او غم څنګه خوږوالی پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعران، لکه ماشومان ډېر ښه ښه خوبونه ویني او په همدغو خوبونو د زړونو تسلي کوي، که خوارږه رویا او ښکلي تخیلات نه وي د ژوندانه تحمل ډېر ګران دی.

څه شی، چې مونږ ته ژوند خوږ او ښه ښکاره کوي د هغه شي تصور دی، چې په ژوند کې بېخي نه شته.

تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دی، جمال دی. ښکلا او جمال لکه علم په ټینګ اساس نه دي ولاړ.

د علم په دنیا کې په یو څه پوهېدل خوند لري او په شعر او ادب کې ابهام او ایهام مزه دار وي. دلته سر او راز، پرده او حجاب کمال دی، هلته تشریح، تفصیل، تحلیل او تجربې ته ضرورت دی. هغه جذبه، چې د انسان په ورح ډېر اثر لري د سرجذبه ده.

هېڅ ښکلیتوب بې پرې او بې حجابه نه دی.

هر څه چې مونږ خوښوو اړومرو یې په مخ باندې د سر پرده پرته ده. انسان له هغو اشعارو سره شدیده علاقه لري، چې ځینې برخې یې ابهام لري او مختلف تعبیرونه پکې کېدلی شي.

په شعر کې یوازې د غریزې رهبري کافي ده.

شاعر باید د خپل فن په قوانینو کې ډېر تاو راتاو نه شي، چې لطف او زیبایي خپل معصومیت له لاسه ورنه کړي.

د لوړ او عالي شعر د پېژندلو معیار بل شی نه دی، له ژوند سره ارتباط دی. هر څومره چې ادبي اثر له ژوندانه سره ښه ارتباط ولري هماغومره ورسره علاقمندي زیاته وي. په شعر او ادب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساده انشاء له نورو سبکونو نه زيات پاينښت لري، مګر ساده انشاء دا نه ده، چې ښېخي بې پروايي وي او مختلف اجزاو عناصر پکې نه وي. هغه انشاء چې مختلف اجزا او عناصر پکې داسې ويلې شوي او ګډ شوي وي، چې تشخيص او تجزيه يې نشي کيدی ساده انشاء ورته ويلی شو.

څنګه د لمر رڼا ظاهراً سپينه او يو رنګه معلومېږي، مګر په حقيقت کې له اوو رنګونو څخه جوړه ده، ساده انشاء هم له دغسې ترکيبه پيدا کېږي.

هغه انشاء، چې ډېرې قلقلې پکې وي او ډېر جلبل لري، يعنې لکه رعد او برق داسې وي د ليکونکي عجز او تصنع ښيي.

دغه راز هنر ښودنه له واعظانو سره ښايي، په شعر او ادب کې سادګي لوی صفت دی نه کاکه توب او طمطراق.

شعر له علم او فلسفې نه دين او مذهب ته ډېر نژدې دی او الهامي څيز دی.

په شعر کې عواطف او خدايي فکرونه ډېره اغيزه لري.

په شعر او ادب کې يوازې بشر ولتهوئ او بس.

اناتول فرانس چې په ادب کې ډېر ژور فکر لري شعر او شاعر، ادب او اديب ته په دغه نظر ګوري او دغسې يې معرفي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی کال

مونږ حسابي خلك يو او له ځان سره يو حساب لرو.
زمونږ حسابي زوړ کال ختم شو او د نوي کال په سر باندې مو قدم کېښود.
مونږ پوهيږو، چې زمونږ حساب نورو غوندې نه دی.
د هغوی نوی کال د شلم قرن شپږپينځوسم کال دی او مونږ د څوارلسم قرن پنځه دېرشم کال ته نوی وايو.
په رښتيا، چې مونږ په خپل حساب ډېر ښه پوهېدلي يو او پوهيږو، چې په کومه زمانه کې ژوند کوو او څومره بېرته پاتي يو.
مونږ هم د زماني په ګړندۍ ګاډۍ کې سپاره يو او چېرته ځو، دا ګاډۍ لکه د وزيرانو موټر کال په کال نوی کېږي، مګر په زړو او خرابو لارو روان يو، ځکه ګړندي نه شو تللی.
مونږ په کال، کاله او کالو کې ژوند کوو او ډېر خوشحالېږو، چې له زاړه کوره نوي کاله ته او له زاړه کال نه نوي کال ته لاړ شو.
هو! مونږ نوي کال ته خوشحاليږو او هر کله غواړو، چې نوي لوښي پيدا کړو او په نوي پيياله خوله کېږدو که څه هم د زړې زماني د قرمز او چاپان لوښي د دې وخت له لوښو نه ډېر ښه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمان او مکان هم دوه ظرفه (لوښي) دي، چې زمونږ ژوند ورپورې تړلی دی او په دواړو کې مو نویتوب خوښ دی، مګر د امکان په ساحه کې زوړ او نوی ښه پېژنو او پوهېږو، چې دغه ښار نوی او هغه زوړ دی، دا ودانۍ زړه او دا بله نوې ده، خو د زمانې په زړښت او ځوانۍ کې، لکه چې تېر وتلي غوندې یو.

د زمانې ظرف، چې هر څومره زړېږي زمونږ په حساب همدغومره نوي کېږي.

مونږ د زمانې اغاز ته نږدې وختونه زړه زمانه بولو او د زمانې وروستیو پېړیو ته نوی عصراو نوې زمانه وایو.

نوی کال هم په همدغه حساب بنا دی.

د اتیا کالو بوډا خپلو وروستی کال نوی ګڼي او د خپل ماشومتوب زمانه ورته زړه معلومېږي، هر کال چې نوی کېږي له ځان سره څه نوي شیان راوړي، ځکه یې نوی ګڼو، له نوي کال سره نوي خیالونه، نوي فکرونه، نوي کارونه ملګري وي؟

که نوی کال خپل ټول کالي نوي نه کړي، یو څه نوي کوي او ځینې زړې جامې له ځانه لرې غورځوي.

مونږ هیله لرو، چې نوی کال په ډېرو نوو جامو کې ووینو او ډېر نوي شیان ورسره وي، مونږ له نوي کال نه په رښتیا نوي څه غواړو او په دې پوهېږو، چې زوړ بوډا په نوي جامه کې هم زوړ دی او نوی ځلمی په زړو جامو کې زوړ نه دی.

که نوی کال زړو ښکاریانو ته نوې مرغۍ راولي، نوی کال ورته نه شو ویلی، د نوي کال د لومړۍ ورځې مېله هم څه نویتوب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، ځکه چې زمونږ په هېواد کې د هر نوي کال شروع په مېلو او ساعت تېريو کېږي او قلبه کشي، يعنې د کار اغاز رسماً يوه نمايشي لوبه وي.

مونږ بايد په دې پوه شو، چې نوی کال له مونږ نه څه غواړي او په خپله څه کوي.

نوی کال سمدلاسه د ورځو په اوږدولو او د شپو په لنډولو پيل کوي، يعنې د خوبونو وخت کموي او د بېدارۍ وخت د کار فعاليت دپاره زياتوي. د تيارې او تورتم عمر لنډوي او د رڼا عمر اوږدوي.

که مونږ د نوي کال په رمز او اشاره پوه شو او د پسرلي برېښناګانې همدغه مطلب ته اشاره کوي، چې د نوي ژوند اساس په برق او برېښنا ايښودل شوی دی او هغه زمانه تېره شوه، چې د حيات اوبه په تور تم کې وې او ژوند په تيارو کې و.

د نوي کال له شروع کېدو سره سم په هوا کې اعتدال پيدا کېږي او د ژمي سوړوالی ور کېږي.

د نوي کال لومړی درس همدغه دی او ساړه زړونه يې نه دي خوښ.

راشئ، چې د زمانې په تقاضاء ځان پوه کړو او پيروي يې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د لاس نیالګیه!

زه نه وم خبر، چې ته چېرته وې او له کوم ځایه راغلې؟

دومره پوهېږم، چې له نورو ګڼو نیالګیو سره په یوه تنګ ځای کې ولاړ وې، هلته ستا دلوېدو او غټېدو دپاره زمینه مساعده نه وه، ځکه ستا تعلق له هغه ځایه قطع شو او دلته راغلې، زه ستا په راتلو ډېر خوشحاله یم او تا ته په خپل انګړکې ځای درکوم.

زه غواړم، چې ستا تعلق او ارتباط له دغه کاله سره ښه ټینګ شي، ستا نیلې او ریښې هرې خواته وغځېږي، ستا څانګې او ښاخونه په دغه هوا او فضاکې ډېره وده وکړي او له تانه غټه ونه جوړه شي، زه به ستا د ترقۍ او لوېدو دپاره زیار کاږم، ته دلته زماله اولادونو سره په دغه کاله کې او سېږه! دا ځای په تا باندې نه تنګېږي، دا ستا کور دی، ته د دغه کاله له ماشومان یو ماشوم یې.

زه هیله لرم، چې ستا له سیورې لاندې ډېر خلك کښېني.

ستا شګوفه او خوږه میوه هر څوك ووینې، ستا له څانګو او ښاخونو نه د مرغانو خوږې نغمې واورم.

زما نیالګیه! که زه تا شین او سمسور ووینم څومره به ښه وي، ستا ښایسته شګوفه ستا سیوری او ستا میوه به زما دپاره ډېر لوی نعمت وي، که دغسې ښه اثر او دغه شان نېك عمل له ما نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادګار پاته شي، دا به زما نېکبختي وي. زه دغه د ګلابو بوټي او دغه د عکاسۍ نیالګی هم ستا له څنګه ږدم او تا ته درښیم، چې زما زیار یوازې د میوې دپاره نه دی، زه ستا له شګوفې او شنو پاڼو سره هم دېره مینه لرم.

که له ما سره ګېډه شته او بې خوراکه ژوند نه شم کولی له ما سره سترګې هم شته او په مخ باندې پوزه هم لرم.

څومره به ښه وي، چې سبا یې ستا له څانګو د مرغیو خواږه اوازونه واورم او په خوږو نغمو یې را ویښ شم.

زما نیالګیه! ته په دغه هوا کې وده کوې باید خپله خوشبویي هوا ته وسپارې او د هوا مرغان له تانه استفاده وکړي.

هغه ورځ، چې ستا کاله ته راځي باید له ځان سره یو څه یوسي، د شاتو مچۍ باید ستا له کوره بېنوا لاړې نه شي.

کاشکې زما دوستان او ملګري ستا له سیوري لاندې خوشحاله کښېني او دلته د خوشحالۍ خندا واورم.

یوه خوله خندا او یوه شېبه خوشحالي په دې ارزي، چې زه څو کاله ستا خدمت وکړم او له لرې ځایه اوبه درته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکر پالونکی

پیر او فقیر نه یې، چې خلکو ته دعا وکړې او د هر چا د پاره د تسلۍ زیارت شې.

فیلسوف او عالم نه یې، چې خلك درنه علم او پوهه یوسي.

طبیب نه یې، چې د رنځورانو علاج وکړې.

پیسې نه لرې، چې حاتم طایې شې او وږي ماړه کړې.

قاضي یا حاکم نه یې، چې عدالت وچلوې او د حق ملګرې شې.

دغه راز افتخارات ستا په برخه یو هم ونه رسیده.

ته یو شاعر او لیکونکی یې، مګر له تا نه ښه شاعران او ښه لیکوالان ډېر پیدا کېږي، سره له دې زه تا ته په ډېر قدر ګورم او په ډېر لوی حق قایل یم.

دلته د فکر او قلم خاوندان ډېر دي، مګر د فکر او قلم د ازادۍ علمبرداران ډېر لږ دي، ځکه ستا مقام له نورو نه هسك ګڼمه.

که څوك تا ته د فکر خاوند ونه وایي زه ورسره کار نه لرم، مګر که د فکر خاوند تا خپل حقدار ونه ګڼي، زه به ورته بې انصافه ووایم.

هغه څوك، چې په وطن کې هېڅ نه لري او د وطن د ازادۍ د پاره سر ورکوي په وطن باندې حق لري.

همدغه وجه ده، چې د فکر پالونکي مقام له فکر لرونکي څخه ډېر اوچت دی او زه هم دواړو ته په یوه نظر نه ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند نغمه

ټول غلي دي، هېڅوك څه نه وايي، د ژوندانه نغمه غلې ده.
په دغسې چوپه چوپتيا كې ذوقونه مري، فكرونه محوه كېږي
نشاط او خوښي، لكه وحشي مرغه له انسانانو نه تښتي.
زه غواړم د دغه سكوت طلسم مات كړم او خپله سرينده وغږوم.
د اسرينده ما د عشق له هېواده او د بلبلو له كوره راوړې ده.
زما د سريندې اواز ډېر خوږ دی.
راشئ! كښېنئ زما نغمې واورئ، زه نه غواړم، چې ارزوګانې
مړې او زړونه ساړه وي.
زه د احساساتو او جذباتو د ښودولو دپاره راغلی يم.
دغه ده ما خپله سرينده را واخيستله او خپلې نغمې شروع كوم.
آه، داڅه وشه؟ له دې سريندې نه خو هېڅ اواز نه پورته كېږي.
سرينده خو نه ده، ما ته تارونه يې هم په ځای دي دا ولې نه
غږيږي؟
ولې بې سره ده؟ له دېنه لويه ضايعه بله نشته.
پوه شوم او پوهېدم دا سرينده د بلبلو له كوره ده او بې د ګلونو
له خوا بل چېرته نه غږېږي.
دا سرينده له عشق سره ارتباط لري او تارونه يې په هماغه مقام
پورې تړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه باید ګلزاروته ننوزم او د ګلونو په حرم کې د خپلې سریندې اواز واورم.

زه باید د نرګس سترګې د غوټۍ خندا، د چندړو لښتې، د سنبلو پرېشانه زلفې وګورم او د حسن ګلزار کې خپله سربنده وغږوم.

بې له دېنه دا خاموشي نه ورکېږي او خوشحالي نه پیدا کېږي.

دا تورې وربځې باید د لمر او سپوږمۍ له مخې لرې شي.

د بلبلو پنجرې او قفسونه باید مات شي.

د باغ تړلې ور باید ببرته شي، چې خوشحالي راشي او ذوق و شعور سترګې وغوړوي، د ژوند نغمه دغه تقاضا لري او بې له دېنه په ژوندانه کې نشاط او سرور نه پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی فکر

هر چېرته لاړم، هر چا ته ورغلم ښکته پورته ډېر وګرځېدم.
ښارونه مې ولټول په هېڅ ځای کې يې له هېچا سره پته نه وه.
هغه څه، چې زه غواړم دلته نه پيدا کېږي، چا چې غټه څوکۍ غوښتله پيدا يې کړه، څوك چې په نوي موټر پسې ګرځېده هغه دی پکې ناست دی، هغه چې په پيسو پسې لالهانده و بانکونه يې ډك کړه.
يوازې زه خپلې ارزو ته ونه رسېدم، په رښتيا چې زه په ډېر نادار او ناياب څيز پسې ګرځم او زما حرص له ټولو نه زيات دی.
هو! زه نوی فکر، نوی خيال او نوی جهان غواړم.
دلته نوې راډيو ګانې، نوي فلمونه، نوي ساعتونه، نوي فېشنونه پيدا کېږي، مګر نوی فکر او مضمون نه شي پيدا کېدی.
دلته شاعرانو ډېرې سندرې وويلې، خو نوی فکر پکې نه و.
پسرلي بيا هماغه ګلونه راوړل، چې مونږ څو ځله ليدلي او بوي کړي دي، مونږ په قرنو قرنو د ګل او بلبل زوړ مضمون اړوو را اړوو، مګر نوي څه نه شو پيدا کولی، مونږ نوي مضمونونه په زړو موضوع ګانو کې لټوو او د زړې بوډۍ په سر نوې دړۍ ږدو.
دلته ميندې نوي اولادونه راوړي، مګر دماغونه نوي فکرونه نشي راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته ښځې له کورونو نه وتلې شي، خو نوی مضمون له دماغونو څخه نه راوزي، دلته دا عادت دی، چې پېغله د پلار په کاله کې زړېږي او بيا ودېږي، دلته اوس هم د زړو فکرونو کاله ته ريباران ځي راځي او له نوو نه زړې خبرې ښې خرڅېږي.

دلته دبوډۍ په ټال کې زړې ارزو ګانې زانګي او زاړه سرودونه غږېږي.

دلته به خيرات خواره مليونران شي، بيسواده به رئيسان شي.

زمونږ کوچنيان، چې پيدا شي، نو سپين ږيري وي او په ډېره زړه ځانګو کې ځملي او زمونږ للو ډېره زړه ده او زړه دايې. زمونږ د ماشومانو تربيت کوي، زمونږ ځوانان که ږيرې ونه خريي، نو سپين ږيري ورته ويلی شو.

مونږ نوې خولۍ په سر کړې، مګر نوی فکر مو رد کړ، نوي ښارونه مو جوړ کړه، مګر زاړه بوډاګان پکې ناست دي زړې کيسې کوي.

مونږ د زړو بوډاګانو په محفل کې زوړ راګ غږوو او له سپين ږيرو نه د ځوانانو اتڼ غواړو.

دا ارزو بېهوده ده. زه بايد په نوي فکر پسې بل چېرته لاړشم.

دا شی له زړو شاجانيانو سره نه شته.

که د اتيا کالو بوډا نوی واده وکړي هم زوړ دی. که زړو سړی نوی پوستين واغوندي بيا هم زوړ دی. که له زاړه ښاره نوي ښار ته راشي هم زوړ والی ورسره دی.

هو! کور يې نوی دی، مګر فکر يې زوړ دی، دغسې نوي کور کې نوی فکر او نوی مضمون نه پيدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زوړ فکر

سترګې يې مه خلاصوئ! کوم ښکلی مخ به ووينې ليوني به شي.

ميخانه به وګوري مست به شي، ځان به ووينې خودبين به شي.

د بل عيب به ووينې بدبين به شي.

پريږدئ، چې سترګې يې پټې وي او څه نه ويني.

کوښښ وکړئ! چې په ښو او بدو پوه شئ او څه زده کړئ.

که دی د سواد او علم خاوند شو، که دی په سمه لاره روان شو.

که ده د ښو او بدو تميز وکړ، بيا به يې سترګې پرانيزو.

د سترګو پردې به يې غوڅې کړو، د سترګو غړولو اجازه به ورکړو.

پخوا له وخته د ده سترګې مه خلاصوئ.

دی بايد هر څه په پټو سترګو قبول کړي او سپين ږيی نشي.

دی بايد هر څه د زړه په سترګو ووينې او د سر سترګې يې تړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناداني او ناداري

په کور کې غله نه وه، جامې يې هم زړې او شکېدلې وې.
پور چا نه ورکاوه، مزدوري نه پيدا کېده حيران و، چې څه وکړي او ډوډۍ ځانته څنګه پيدا کړي. وروسته له ډېرو اندېښنو له کوره راووت او شپه ډېره تياره.
پخوا تردې يې کله غلا نه وه کړې، ځکه زړه نازړه په يوه کاله ننوت او پس له ډېره تردد نه يې غلا ته زړه ښه کړ.
په دغه شپه د ده بخت بيدار و، ځکه چې د کاله خاوند ويده و.
ده په بيړه يو څه مال راټول کړ او په ويره ويره يې کورته راوړ.
وايي چې د غله په غره کې ځای نه شته، نو په کاله کې به يې څه حال وي.
له ده سره دا سودا ډېره زياته وه، چې که سبا ته يې خلك کور ولټوي او د غلا مال ترينه راوزي څو کاله به په جېل کې پروت وي او له دېنه به هم بدبخته وي.
ده بله چاره ونه ليده د کوټې په يوه کنج کې يې د ځمکې په کيندلو شروع وکړه، چې د غلا مال خوندي کړي، مګر يو ساعت وروسته له خاورو لاندې يو داسې ګنج راښکاره شو، چې د سرو او سپينو زرو دولت پکې پروت و.
کله چې دا پټه خزانه راښکاره شوه غل و پوهېده، چې په ټول کلي کې د ده غوندې بل بډای نه و او ده غوندې د ذلت شپې هم بل چا نه دي تېرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! ده د خزانې د پاسه په لوږه شپې تېرولې، د ده په کاله کې هر څه وه، مګر دی ناخبره و او خپل شته ورته نه ومعلوم.

دی نه پوهېده، چې زه لوی بډای یم او زما په کور کې هر څه شته.

د ده ناداري په حقیقت کې ناداني وه نور څه نه و.

د دغسې سړي په حال افسوس په کار دی او که د یوه ملت دغه حال وي له دېنه لویه بد بختي او د افسوس خبره بله نشته.

د ناپوهانو فطري او معنوي استعداد همدغسې له خاورو لاندې پټ پاته کېږي، لکه چې د ناپوهه ولس معدنونه پټ پاته وي او څه کار ترینه نه اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیند

د وچو ډاګونو د دښتو او مېږو له څنګه لوی سیند بهیږي، مګر دغې وچې بیدیا ته اوبه نه ورکوي. په دغسې وچکالۍ کې، چې په اوبو باندې سرونه ماتېږي سیند ، لکه شوم بخیل په شتاب درومي او زمونږ تندې نه ګوري.

کله چې سیند په چپو راشي کورونه او اباد پټي هم له ځان سره یوسي.

همدغه سیند له مونږ هغه خوا بل راز روان دی او له نورو سره یې رویه بل راز ده، هلته دغسې ورانی نه کوي. دومره بخل نه لري. دغه راز بې رحمې پکې نه شته. هلته د سیند په غاړه زرشویان د سیند له شګوفو زر راباسي.

ماهیګران پکې په خوارو کبان نیسي او ښکاریان یې په لوی او ستر ډنډ کې هیلۍ ولي، هلته له سیند نه ډېرې لویې ویالې بیلې شوې دي، ډېر لوی لوی ډاګونه له اوبو لاندې شو ، کلي او ښارونه اباد شوه. شاړې ځمکې په ثمر راغلې، د غلو او میوو پکې څه کمی نه شته. هلته د سیند په مخکې لوی لوی بندونه جوړ شوه. د برېښنا ماشینونه ودرېده، فابریکې او کارخانې په کار ولوېدې، خلك اباد او ماړه شوه.

دا سیند ولې دلته دغسې او هلته هغسې دی.

مونږ ته په قهر دی او په هغوی پیرزوینه لري، دلته ډېر تند او په ځپو روان دی، هلته غلی او ارام بهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته سیند کوږ وږ ځي او خپله مجرا بدلوي هلته په خپله ټاکلي لاره روان دی او بې لارې نه ځي پـه رښـتیا ، چې سـیند دلتـه ډېـر ورانی کوي او هلته دیوه نظام او قانون تابع دی، چې رواني ته بې نه پریږدي.

زمونږ ګناه د سیند په غاړه ده. سیند له مونږ نه ډېر څه وړي دي او ډېر یې رانه وژلي دي. دا سیند خوني سیند دی او لـه مـونږ سره یې زړه دښـمني ده، څو ځلـه یې زمـونږ کورونـه وران کړي او ابـاد پټي یې رانه په وار وارو وړي دي.

زمونږ ټوله ګناه د سیند په غاړه ده. سیند زورور دی او پـه مـونږ باندې هر وخت ظلم او تیری کوي.

اه! مونږ څومره ناپوه یو ، چې دغه راز فکر کوو او پـه خپلـه ګنـاه نه پوهیږو ، مونږ خپله ګناه د سیند په غاړه اچوو ، د سیند په غـاړه خو مونږ پراته یو ، په رښتیا چې دا زمونږ ګناه ده د سیند نه ده.

سیند له چاسره دښمني نه لري، سیند هر ترږي ته اوبه ورکوي او د هـر چـا خیرنـې جـامې پـاکوي. سـیند پـوخ کـار غـواړي او پاخـه بندونه ورته په کار دي.

که زمونږ کار پوخ وای او زمونږ بندونه پاخـه وای زمـونږ ویـالې نه وچېدی او زمونږ پټي اوبو نه وړل.

مـونږ د سـیند پـه بندوبست پـوه نـه شـو او لـه سـیند نـه مـو کـار وانخیست،

دا سیند د ژوند او حیات سیند دی په ده کې د ورانۍ او ودانۍ دواړه قوتونه موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند د هر چا ظرف او استعداد ته ګوري هغومره اوبه ورکوي.

د منګي خاوند او د منګوټي خاوند ته سیند برابره برخه نه ورکوي او نه ورو لښتو ته د لویو ویالو په اندازه څه ورکولی شي.

سیند د هر چا کار ته ګوري او هغسې ورسره کوي، یعنې خام بندونه ورانوي او پاخه بند ته ځان تسلیموي.

هغه څوك، چې د ژوندانه سیند په خپل سر پرېږدي او یوه معینه مجرا ورته نه شي ټاکلی له ژوند نه استفاده نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده

په سترګو يې څه ليدل، مګر د خدای کتاب يې ترخنګه و او مسجد ته راغی.
ده هغه اسماني کتاب په تاخچه کېښود او په لمانځه ودرېده.
کله چې له عبادت نه فارغ شو او له مسجد نه روانيده هغه کتاب پاته شو او يو بل کتاب لاس ته ورغی. دی ړوند و کتاب يې نه ليده او په کتاب نه پوهيده، مګر ډېر ټينګ يې په غيږکې نيولی و. ده ته دا نه وه معلومه، چې په کتاب کې څه دي او د چا کتاب دی؟ له ده سره ټينګه عقيده وه، مګر پوهه او بينايي ورسره نه وه.
ده د خدای دپاره دغه کتاب ښکلاوه او لکه تعويذ له ځان سره يې ګرځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عمل

هغه خپله امسا ټکوله او بازار ته راغی. په سترګو يې څه نه ليدل، مګر په نامه يې هر څه پېژندل له ده نه خپلو ماشومانو وڅکې غوښتې وې.

دی په همدغه شي پسې راغلی و.

د دنيا بازار ته ډېر ړانده راځي او څه اخلي. دکانداران د هغوی په سترګو کې خاورې اچوي او پردې مالونه ورکوي.

ده ته هم دکاندار له خاورو ډکې وڅکې ورکړې، چې هر څه ورسره ګډ و.

دی روان شو او په لاره کې يې ځولۍ له لاسه خوشې شوه.

ده ځمکې په مخ لاس وګرځاوه او هر څه يې راټول کړه.

دی نه پوهېده، چې خپل کاله ته څه وړي؟ او د ده وڅکې څنګه دي؟

ده غوندې ډېر ړانده دلته راځي او هغه څه وړي، چې د وړلو نه دي.

هو! د ړندو عمل همدغسې دی، مګر ړانده له دېنه زيات څه کولی شي؟ ړوند که په سمه لاره لاړ نه شي بايد معذور يې وګڼو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبادت او دعا

د رحمت بارانونه ونه اورېدل، چينې وچې شوې، په کاريزونو کې د مرغۍ منښو که نه لمدېده.

د ونو پاڼې په پسرلي کې زيړې وې. په سمسورو باغونو خزان ولګېده. په خلکو دلوږې هيبت راغی.

ټول د عبادت او دعا دپاره بيديا ته ووتل، پاك خدای ته يې زارۍ کولې، لمونځونه يې کول، درودونه يې ويل، دعاګانې يې کولې د باران تږي وو، زورور بارانونه يې غوښتل. دغسې د اخلاص عبادت، دغه راز د سوز دعاګانې کله دوی نه وې کړې، په دغه وخت کې د دوی تعلق له خدای سره ډېر زيات و. دوی بارو درلود، چې روزي له خدای سره ده، ډوډۍ له اسمانه راځي او ځمکه د خدای دسترخان دی.

هر چا له خپلو بدو عملونو توبې ايستلې، د هر يوه له سترګو اوښکې بهيدې، مګر د اسمان له سترګو يوه اوښکه هم تويه نه شوه.

د باران په انتظار کې ورځ بېګاه شوه، ماښام هر څوك خپلو کورونو ته لاړل. د قبلې له خوا توره وربځ راښکاره شوه، پوه نشوم څه شی زياته ورسره وه، خلکو ويل د حيات اوبه په تورتم کې دي. زمونږ دعا قبوله شوه اوس به داسې زورور باران ووربږي، چې غرونه رغونه به په اوبو ماړه شي او د ځمکې تنده به ماته شي. دا تياره ورو ورو زياتيده، کلي، کورونه، غرونه، رغونه په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورتم کې ورك شوه. له اسمانه ډېر زورور باران راښکته شو، چې تالندې، بريښنا ګانې له هيبته ډك غړونه او زورور سېلابونه ورسره وو.

دهوا موجونه په دغه شپه طوفاني معلومېده، باران د يوه زورور اپت هيبت درولود، سېلاب له غره نه ډېرې غټې تيږې رغړولې، د هر چا دا يقين و، چې هر څه به سېلاب يوسي، مالونه، اولادونه، ښځې او نر به ټول تباه شي. د مړو پته به نه وي معلومه، کلي کورونه به له خړو لاندې شي او هېڅوك به هېڅ پيدا نه کړي.

دغه ډار بيا په کلي د ژړا انګولا او ازونه اوچت کړه، خلکو بيا پاك خداى ته رجوع وکړه هماغه اوراد او هماغه دردونه بيا لوستل کېده، هر چا به دعا کوله، چې باران ودرېږي او د خداى له قهره نجات ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې زړه

د ایمان ځای زړه دی او دی بې زړه دی.

چې وړوکی و له شیشکو او پېریانو ډاریده، چې لږ غوندې لوی شو د ملاصاحب له ډاره په سبق نه پوهېده.

اوس، چې لوی دی د خان ډار، د ملك ډار، د حاکم ډار یې په زړه کې تېنګ ځای نیولی دی. په لاره کې ورسره د غلو وېره ده او په کور کې د غلیمانو له ویرې ډېر ځای نه شي پیدا کولی.

په دغسې زړه کې ستا خوب ته ډېر لږ ځای پیدا کېږي، که ستا ډار او د ظالمانو ډار په یوه زړه کې یو شان موجود وي له دینه لو یه ګناه بله نه شته.

کاشکې دوی یوازې له تا ویرېدلی او ستا د دښمنانو ډار یې په زړه کې نه وای. د خلکو ډار ستا وېره په زړونو کې کموي او ایمان ته زیان رسوي، ستا ضعیفه بندګان یوازې له تانه نه وېرېږي له نورو نه هم وېرېږي، دوی اوس د زورورو په مخ کې حق نه شي ویلی او نه د حق طرفدار یې. نه په دروغو خپه کېږي او دوی له ډاره رښتیا نه شي ویلی.

ستا ظلم نه دی خوښ، دوی له ویرې د ظالمانو خدمتونه او صفتونه کوي. هغه مسلمان اوس چېرته دی، چې یوازې له تا نه ډارېږي او بس. ستا بنده باید د ډار بنده نه وي او د نمرود له اوره یې سترګه ونه سوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملك او ملا

د کلي ملك به، چې هر څه کول ځوك يې مخې ته نه شو ورتلی. زر و که زور دواړه له ده سره وو. هر څه د ده په لاس کې و او هر څوك د ده لاس لاندې وو. هېچا د خپلې خور او لور واك نه درلوده. د کلي غوړې او چرګان هر څه د ده و، ښايسته ښځې به ده کړه وې، ښکلي هلکان به د ده په مخکې ګرځېدل او هر چا به د ده خدمت کاوه.

يوه ورځ په کور او کلي کې دا اوازه خوره شوه، چې هغه بې موره او بې پلاره هلك، چې په علم پسې تللی و د علم او کمال خاوند شو، هغه اوس له ډېرې پوهې سره بېرته وطن ته راځي، هر چا ته سمه لاره ښيي، هر څوك په حق پوه کوي او هر چا ته حق وايي، ځکه چې هغه د حق ملګری دی او له ظلم سره دښمني لري.

د اوازه په ملك باندې ښه ونه لګېده.

ملك له دغه هلك نه وډار شو او پرېشانه خوبونه يې وليدل. ملك پوهېده، چې هغه خيرات خور ملانه دی، د هغه سترګې ډېرې مړې دي او په زړه کې يې د زورورو ډارنه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هېڅکله بې له خدايه بل چا ته سر نه ټيټوي، له هغه سره د حق جذبه او حقاني قدرت شته او په وينا کې يې بل شان تاثير موجود دی.

څو ورځې پس ملا له يوې امسا سره راغی، ظلم او ناروا ته يې بد وويل د زور او قوت مخه يې ونيوله خلك يې په خپل حق پوه کړل او د مظلومانو ملګری شو.

د ده ملګري ورځ په ورځ زياتېدل او په ولس کې پوهه او بيداري پيدا شوه. هغه ملك لرې شو او په ځای يې بل ودرېده. دغه بل ملك هغسې ملکي نه کوله او ډېر به سم چلېده، چې علم او پوهه پيدا شي ملکان سمېږي او خلك دروي.

د فرعون او موسی کيسه، د ملك او ملا افسانه همدغه معنیٰ لري.

هلکان بايد په علم پسې لاړ شي او د علم رڼا له ځانه سره راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر

شاعر یوازې پرېږدئ، ځکه چې دی د جرګو او مرکو سړی نه دی.

هغه چې له نورو نه ګټه کوي باید نورو ته ورشي.

دی غواړي، چې له ځانه استفاده وکړي، نه له بل چا نه.

هغه وخت، چې برخې وېشل کېدې سازنده یې د ساز او سرود مجلس ته را وباله او شاعر یې له خلکو نه لرې یوازې کښېناوه، شعر اجتماعي شو، مګر د شاعر په برخه تنهایي ورسېده.

څوک، چې په ازادۍ مین وي هغه هېڅکله ځان نه شي مقید کولی.

د ازادۍ معشوقه هغه وخت چا ته ځان ښیي، چې له نورو نه بېل او یوازې وي. شاعر له ځان سره عشق لري او په ځان مین دی.

دی نه غواړي، چې په نورو کې ورك شي او نورو غوندې شي.

دی له خلکو سره همدردي لري، له خلکو سره ناسته ولاړه نه شي کولی، عاشق دی، خو معشوقه نه لري.

درد لري، مګر دوا نه خوري.

ذلت یې نه دی خوښ او عزت ته هم به ښه سترګه نه ګوري.

د ده طبیعت بل شان دی.

دی تاسې ته لاره ښیي، مګر په لاره درسره نه شي تللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سبا

هغه ورځ، چې تر اوسه يې نه د لمر وړانګې د غرونو په سرو لوېدلي دي او نه يې د پېښو او واقعاتو مطلع چا ته معلومه ده، د سبا په نامه يادېږي.

دا ورځ لکه يوه پټه معشوقه له هر چا نه پټه ده او د سحر نسيم يې هم له مخه پوړنۍ نه دی لرې کړی.

دا نه ده معلومه، چې دغه ورځ به څه له ځان څه سره راوړي او څه به له ځان سره يوسي.

د چمن په ګلونو به شبنم وروي او که ږلۍ؟

يو اشنا به په سرو سترګو له بل نه بېل کړي او که دوه خواږه ياران به غاړه په غاړه کړي.

دا ورځ له دغه مجهوليت او معماتوب سره د هر چا په زړه کې محبوبيت لري او هر څوك ورته په اُميد ګوري.

د هر چا کار او زيار د سبا ورځې د ښه والي دپاره دی او د نن ورځې د عمل نتيجه د سبا ورځې په لمن کې لټوي.

هر څوك هيله لري، چې د نن ورځې زحمت به د سبا ورځې په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي.

په همدغه اسره د ژوندانه مشقت سپکېږي او د اُميد مزې غځېږي، د نن ورځې بندي د سبا ورځې ازادي په خوب کېويني او همدغه راز خوبونه د غمونو تله سپکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چې نن د خوښۍ او خوشحالۍ ډولۍ کاله ته راوړې ده، هغه یقین لري، چې سبا ته به د زوی پلار شي او له دغې خوشحالۍ نه به بله خوشحالۍ پیدا شي، دا غولونکی سبا هېڅکله نه سبا کېږي او تر قیامته دوام لري.

د ژوندانه ټول خوږوالی په همدغه شي کې پټ دی، که دغسې سبا ته څه امیدونه لرو د ژوندانه تحمل هېڅکله نه شو کولی.

ځمکه او اسمان په همدغې ورځې پسې سر په ځېږۍ سرګردانه ګرځي او د اتیا کالو بوډا هم له دغې ورځې نه نا امیده نه دی.

که د سبا ورځې مینه زمونږ له زړونو نه راوزي مونږ بیا ژوند نه شو کولی، ځکه چې زړونه سړېږي او ارزوګانې مري.

که مونږ له سبا سره خپل تعلقات قطع کړو ډېر تاوان به وکړو او خپل ژوند به فاني وګڼو.

په دغسې حال کې مونږ بیا اوږده فکرونه نه شو کولی او د مریخ سفر رانه پاته کېږي.

د سبا ورځې فکر زمونږ په اخلاقي ژوند کې هم ډېره اغېزه لري او د بشر هر راز مادي او معنوي ترقیات ور پورې تړلي دي.

دهقان د همدغې ورځې د پاره کار کوي او باغوان په باغ کې نیالګي ږدي، د خرما زړي په ځمکه کې کرل او د خرما له ونو نه خرما ټولول د هغو کسانو کار دی، چې سبا ته امیدونه لري او د نن ورځې په تنګه دایره کې ایسار نه دي.

څومره، چې د انسان ذهن او دماغ ترقي کړې ده. په هره اندازه چې انسان لوی شوی او پوه شوی دی هغومره یې له سبا سره تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات شوی دی، د سبا ورځې غم خوړل، د سبا دپاره فکر کول د سبا ورځې ضرورت او احتیاج په نظر کې نیول د ډېرو پوهانو او د ډېرو لویانو کار دی. زه لوی او کوچنی په همدې پېژنم، چې یو ډېر لرې ګوري او بل ډېر نږدې ګوري. د یوه سبا هم ډېر لرې او د بل لنډ دی.

د مسلمان سبا پس له مرګه هم شته، د ده نظر باید ډېر لرې څار وکړي او ابدي ژوند په نظر کې ونیسي.

ابدي ژوند همدغه دی، چې سړی له سبا نه غافل نه وي او د سبا اندېښنه ورسره وي.

نن او سبا هغه دوه مېلمانه دي، چې یو ځی مونږ له یوه سره وداع کوو او د بل په خدمت مشغولېږو.

زمونږ خدمت باید د سبا ورځې دپاره وي او خپله اینده په نظر کې ونیسو، د عقل او دور اندیشئ تقاضا همدغه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پسرلي ګله!

ستا ښایسته او ګلالۍ څېره په جهان کې څومره قدر لري او د اسمان له دومره لویوالي سره هر سحر د شبنم په پاکو او رڼو څاڅکو ستا ښکلی مخ وینځي او ځمکه د خپل زړه له نمه اوبه ورکوي.

د ځمکې مخ په تا ښایسته دی هو! ستا په وږمو معطره شوه، د بلبل خوږه نغمه ستا د جلوې برکت دی، شاعران ستا په ستاینه په جامعه کې مقبول وو، ښکلو پېغلو تا ته په خپل اوربل باندې ځای درکړ، بورا ستا په مینه په غزلو کې وستایل شو. په شعر او ادب کې ستا برخه ډېره زیاته ده، د مینې او محبت ډېر ښه سوغات ته یې.

مګر ګوره، چې په خپل جمال او کمال مغرور نه شې او له باغه ونه وزې.

تا غوندې ډېر ښکلي او ښایسته ګلونه د هېواد په غرو رغو کې پیدا شوه، چې نه چا ولیدل او نه وستایل.

که ته هم له دغه چمن نه ووتلې او په غرونو کې دې ځای ونیو نه به بلبل پیدا کړې او نه مالیار.

ته د خلکو له نظره مه لرې کېږه او ځانته مالیار پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان دا عادت دی، چې مطلق ښه نه ستايي او هر ښه څيز ښه نه ګڼي.

هو! دی هماغه شی ښه بولي، چې ده ته نږدې وي او د ده خپل وبلل شي.

دلته هر څوك خپل ښاغلی ګڼي او هر يو د خپل باغ ګلونه ستايي.

نه هېڅکله د خلکو له نظره لرې کېږه مه!

ستا ښايست د خلکو د توجه او التفات نتيجه ده.

که ته غواړې، چې هر څوك دې قدر وکړي او په خپل سر دې پاسه ځای در کړي، لکه نرګس هر چا ته په ښه سترګه ګوره او لکه د باغ غوټۍ هر سحر خلکو ته خانده!

په دغسې التفات او يوه خوله خندا سړی د خلکو زړونه خپلولی شي.

په يوازې ګلتوب او ګلاليتوب هېڅوك قدر او منزلت نه مومي او نه په تش ښايسته دلبري او دلربايي کېږي.

راشه زما د باغچې ګل شه.

چې هر سحر دې په ديدن اوبه کومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رمې خاونده

د تورې کېږدۍ او د لويې رمې خاونده!
په دې سره او تکنده غرمه کې، په دې وچه بېديا او سپېره صحرا کې، چې يخې اوبه، يخ سيوری، توده ډوډۍ، شودې او مستې، کوچ او پېروی، کورت او غوړې، پوڅې او پنيرونه هر څه له تا سره دي. په خوارانو او بيوزلو رحم وکړه!
هر څوك، چې ستا کيږدۍ ته په هيله او اسره راځي هغه له خپلو سپيو نه ساته او قدر يې کوه!
په دې وچ ډاګ کې بل سيوری نه شته يوازې ستا سيوری ته هيله او اسره کېږي.
که ته خپل سپي ونه نيسې له دينه لويه بې رحمي بله نه شته.
ای د خروړو سپيو خاونده!
ستا د سپيو تاوان له تا ته رسېږي او د دوی په ضررته مسوول يې.
سپی او نفس دواړه يو شانته دي.
ته خپل سپي ونيسه! او په مونږ رحم وکړه!
ته په خپلو سپو دا ګمان مه کوه، چې دوی به هر وخت ستا غليمانو ته وغاپي.
دوی ډېر ځله د اسمان ستورو او سسپوږمۍ ته هم غاپي.
ستا په ملګرو او دوستانو هم بلوڅې او غوټې وهي.
آه – هېڅوك زما نارې نه اوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو سپیو حملې هم نه ویني.
زما غږ تر کېږدۍ نه رسېږي.
دوی ولې څه نه اوري؟
ولې څه نه ویني؟
ولې په چا رحم نه کوي؟ پردي خو به نه وي؟
کېږدۍ خو د پښتنو معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې ګناه بندي

پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
مه وېرېږئ، د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته.
فساد او شرارت له ده څخه نه پیدا کېږي.
د ده بندي کول لویه ګناه ده.
دی هغه یوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی.
که دی له زندانه را والوزي ستاسې اینده سنجولي شي او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شي.
پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړي.
ستاسې وږي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو څاګانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کې يې مه اچوئ!
پرېږدئ دابې ګناه بندي پرېږدئ!
دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحیح تعبیرونه وکړي.
ډېرې سختې مبهمې او مجملې غوټې به پرانېزي.
دی د راتلونکي حال پیشبیني کولی شي.
د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.
د جوي او فلکي اوضاعو اقتضارات ورته معلوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ!
د ده پر ازادولو باندې علم او پوهه زياتېږي.
وطن رڼا کېږي او ړانده بينا کېږي.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوك کوي.
دی ډېر پېچومي او اړولی شي.
دی ډېرې کړې سمولی او ډېر مشکلات حل کولی شي.
ما خوب ليدلی، چې دا بندي خلاصيږي او د سلطنت په کرسۍ کښېني.
ښه فکر وکړئ!
دا بندي څوك دی؟
پس له ډېر فکره وايم!
فکر دی فکر!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظر لالا

په یوه ستانه کورنۍ کې یو سپین ږیری خدمتګار اوسېده، چې هر چا به ورته نظر لالا ویل.

دا سړی د ماشومتوب له وخته د بوډاتوب تر زمانې په دغه کاله کې و او خپل ژوند یې په همدغه کاله کې خاورې کړ.

د دې کاله نسبي سړی نه و او د خدمتګار په حېث یې کار کاوه، مګر مزدور ورته نه شو ویلی، ځکه چې د مزدور په شان کار یې نه کاوه.

هېڅوک به خپل ځان د ځان دپاره په کار کې دغومره ستړی نه کړي، لکه چې نظرلالا د دغې کورنۍ په خدمت کې ستړی او ستومانه و.

کوم کار، چې څوك د یوې ټینګې او لوړې عقیدې دپاره کوي هېڅ حریص او په ګټه مین سړی یې د پیسو دپاره نه شي کولی.

ده دغه خدمت د خدای دپاره کاوه او په داسې جذبه یې کاوه، چې لمانځه د قضا کېدو هم څه ډېره پروا ورسره نه وه.

په دغه سړي کې ډېر زیات اخلاص، امین توب او صداقت موجود و، چې په دې وخت کې بې مثل او نظیر نه شي پیدا کېدی یا ډېر لږ پیدا کېږي.

دا سړی بې نامه او بې نشانه سړی و، جامې به یې تل زړې او خړې وې، مګر د زړه صفایي یې دومره زیاته وه، چې زه ورته حد او اندازه نشم ټاکلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم کلي کې، چې نظرلالا اوسېده د جاه او جلال خاوندان او د علم وفضل صاحبان هم پکې اوسېدل، چې ځینو مریدان هم نیول، مګر زه له هغو ټولو نه نظرلالا انتخابوم او له نورو نه په ادب تېرېږم.

زما دا عادت دی، چې له مخدوم نه خادم ته په محبت ګورم او له پیر نه مې مرید خوښ دی.

له ماسره اوس دا فکر ډېر پوخ شوی دی، چې د خیر او برکت خاوندان په ساده مسلمانانو کې ډېر موندلی شو او پوهان او هوښیاران د بل دپاره د خپلې ګټې نه نشي تېرېدلی.

څوك، چې د خدای دپاره د نورو خدمت کوي او خپل ژوند د نورو له ژونده قربانوي هغه لکه نظرلالا داسې وي، چې خپله مادي ګټه هېڅ نه پېژني او په پردي کاله دومره زهیر وي، چې له هېڅا سره به د خپل کاله دغومره غم نه وي، دا سړی په تور او سپین نه پوهېده، الف او بې یې نه و لوستي، د لفظ او معنیٰ فرق یې نه شو کولی، مګر د نېکۍ او خیر رسولو په لوړه مبدا یې ټینګه عقیده لرله او دا جذبه پکې د عشق حد ته رسېدلې وه.
نظرلالا د هر چا په نظر کې ډېر سخت او بخیل سړی معلومېده، هر چا به ویل چې ده غوندې سخت سړی بل نه پیدا کېږي، په رښتیا چې د ده پېرزوینه په ځان باندې ډېره لږه وه، مګر بخیل ورته نشم ویلی او ډېر حاتمان زه ورځنې ځاروم.

کله به، چې د کاله خاوند ، نظرلالا له کابله ننګرهار ته استاوه، چې ځاروي او پسونه بوزي، نو یو څو ډوډۍ به یې پخې کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې لږې پيسې به يې هم ورکړې، چې په لاره کې ځان ته کوم وخت څه نګولی واخلي يا چېرته د ځارو دپاره څه واښه پرې رانيسي. دا سړی به له کابله لغمان ته ولاړ او ځاروي به يې هم ورسول، مګر يوه مياشت يا دوه مياشتې پس به، چې څوك مېلمانه راغلل او چرګ به په کار شو نظرلالا به هغه پيسې په چرګوړو ورکړې، چې ميلمانه په ښه شان عذر شي او د کاله د خاوند ښه نوم وساتل شي.

دی هغه راز خدمتګار نه و، چې له خپل مخدوم نه څه واخلي او د ځان دپاره يې ذخيره کړي، بلکې ده به هغه ته څه ورکول او خدمت يې بيخي وړيا و.

د ده خور او خوريی ډېر غريبان وو، مګر هېڅ بدګمانه سړی هم دا ګمان نه شو کولی، چې دی هغوی ته څه ورکړي.

که کله به د کاله خاوند د ده په خاطر هغوی ته څه ورکړه، دی به خپه کېده او د دغه کاله زيان ورته، لکه د ايمان زيان معلومېده.

د نظرلالا دا عادت و، چې کله به له خوبه پاڅېده او د سپېدو به رڼا کې به غره ته روان و، ترڅو به چې لمر څرك واهه ده به له غره نه د خسو ګېډی راوړو، چې سبا ناری به يې وکړ، نو بيا به په نورو کارو پسې روان شو او ډېر ناوخته به ويده کېده.

د ده په کار کې د رخصتۍ او تعطيل ورځې نه وې او د ناروغۍ دپاره يې هم فرصت نه درلود.

دی د عادت او ډېرکار کولو په وجه له پولادو نه هم کلك و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ګڼه‌ی، چې ده د شپېتو کالو په عمر په شا باندې راوړ د دې زمانې ښه ښه ځوانان يې نه شي وړلی.

ده به هرکله د خمتا پيوندي کالي اغوستل او خوراك هم ډېر خوړو، ترڅو به چې ډېر مجبور نه شو، نو د اختر په ورځ به يې هم نوي کالي نه اغوستل. په دغه کاله کې به، چې هر څومره ښه څه پاخه شوو د ده برخه به پکې ډېره خوراه وه، ځکه چې ښه ډوډۍ د ده له ستونې څخه نه تېرېده او په همدغه وجه به د چرګ ورمېږ د ده برخه وه.

نظرلالا له تودې ډوډۍ سره هم دښمني درلوده او چې په کور کې به سړه پرته وه تودې ته به يې لاس نه وروړو.

په همدغه سبب دی په بخيل مشهور و او هر چا به ورته سخت او بخيل ويلی.

دا و د خلکو قضاوت، چې له حقيقت نه ډېر لرې و او په ډېرې ظاهر بينۍ بنا و، هغه څوك چې خپل ژوند د بل دپاره وقف کړي او هېڅ دنيايي ګټه پکې له نظر لاندې نه وي هغه ته به څنګه بخيل وو ايو.

هو! نظرلالا په ځان باندې بخيل و، ځکه چې له ځانه تېر و او خپل ځان يې بل ته بخښلی و.

ده ته به که چا د خدای دپاره څه ورکړه هغه يې د بل دپاره اخيستل او بل ته يې ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ایثار او فدا کاري، چې په دې وخت کې لکه د اینځرګل یا د مرغۍ پۍ ډېر نادر څیز معلومیږي، له انساني غرایزو سره ډېر موافقت نه لري او مثالونه یې ورك دي.

دا راز سړي د خلکو په نظر کې ډېر ساده او ډېر احمق معلومیږي.

په عقل او پوهه دا ګمان نه شي کېدی، چې چا ته د دغسې ایثار او فدا کارۍ اجازه ورکړي.

خپل ځان خوارول او بل پالل، له ځانه تېرېدل او د بل په ښه ورتلل د عقل او فکر کار نه دی، د دغسې کارونو دپاره یو لوړ معنوي عشق په کار دی او د نظرلالا اخلاص غواړي. د دغه کاله هر څه د نظرلالا په لاس کې وو او د ده په امانت دارۍ هر چا داسې یقین درلود ، چې هېڅ شك پکې چا نه شو کولی.

زه د هغه چا ستاینه نه کوم، چې نظرلالا ورته ډېر اخلاص او عقیدت درلود .

زما په نظر کې د ستایلو وړ نظرلالا دی او د ده په ښه سړیتوب ټینګه عقیده لرم.

دی اوس له نظره پناه دی او زه د ده زیارت ته په ډېر اخلاص ورځم، په هغه ادیره کې چې دی ښخ دی نور قبرونه هم ډېر دي او په ځینو باندې لا جنډې هم ولاړې دي، مګر زه خپل مراد له نظر لالا څخه غواړم او د ده حسنات راته ډېر درانه معلومېږي.

په رښتیا ، چې زما خادمان خوښ دي او ښه خلك په خدمتګارانو کې وینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جبر او اختیار

هغه کار، چې د انسان په اراده او اختیار نه وي شوی د فخر وړ نه دی او د ملامتۍ موجب هم نه ګرځي، یعنې که د چا ونه ټیټه وه، ګرم نه دی که چا متوسطه قد او قامت درلود، ورته نه شو ویلی چې ډېر ښه کار دې کړی او اندازه دې ساتلې ده.

که یو سړی خپل سپین مخ تور کړي ملامت دی، مګر د حبش مخ که هر څومره تور وي څوك يې نه شي ملامتولی، ځکه چې د ده اختیار او اراده پکې دخل نه لري.

که یو سړی خپل غلیم په جنګ کې مړ کړي او خپل شجاعت ښکاره کړي حق لري، چې په خپله توره او توریالیتوب فخر وکړي، مګر که مرغۍ ولي او سړی ولګېده که څه هم د ده ډېر زورور او زړه ور دښمن وي، خپل بریت نه شي تاوولی او توریالی ورته نشو ویلی. هېڅوك یو ګونګ په حق نه ویلو نه ګرموي، ځکه چې هغه مجبور او معذور دی، مګر هغه چې ژبه لري او له ډاره حق نه وايي له ملامتۍ نه نه خلاصیږي که څه هم یو څه مجبوریت دلته هم شته او اختیار نیمګړی دی.

د جبر او اختیار مسله ډېر اړخونه لري او دغه فیصله څه اسانه خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په دې ځای کې دا اراده نه لرم، چې له علمي څېړنې نه کار واخلم، زما مقصد بل دی او د ملایانو په کار کې کار نه لرم.

زه حتی الامکان له فلسفي بحثونو نه ډډه کوم، مګر کله کله مې د موضوع تعلق او ارتباط مجبور وي، چې په وچه مزل وکړو، ځکه چې دلته بحر نه شته او زمونږ په هېواد کې بېړۍ نه ګرزي.

همدغه شان مونږ له کابله ننګرهار ته په هوا نه شو تلی، ځکه چې هوايي سرويس نه دی جاري، مګر دغه راز مجبوريتونه په ځينو نورو ځايو کې نه شته، هلته يو سړی اختيار لري، چې په هوا ځي که به بحر کې او که په وچه.

او س پوه شوئ! چې جبر او اختيار په هر ځای کې يو شانته نه دي او ټول انسانان يو راز مجبور نه دي.

ډېر مجبوريتونه پخوا وو، چې اوس نه شته او خپل ځای يې اختيار ته پرې ايښي دي. يو ماشوم چې اول پيدا شي هېڅ اختيار ورسره نه وي او د بل په غېږ کې ژوند کوي. په خپله نه چېرته تلی شي او نه راتلی شي. ځملول او پاڅول يې د بل په لاس کې وي او کالي بل څوك وراغوندي، مګر څومره چې لوېږي او غټېږي هغومره د مور له غېږې لرې کېږي او له مجبوريت نه د اختيار خوا ته درومي. کله چې په خپلو پښو روان شي، نو بيا خپل مخ په خپله وينځي او پخپله خوښه له کاله اوزي يا کاله ته راځي.

کله چې ځوان او ځلمي شي، د کاله واك او اختيار هم د ده شي او د پلار په جايداد تصرف وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره اندازه، چې د ژوندانه درجه او مرتبه لوړېږي مجبوریت کمېږي او اختیار زیاتېږي، یو کاڼی که څوك هرې خواته غورځوي او هر راز لوبې پرې کوي کولی یې شي، مګر ونې او بوټي دغسې نه دي، یعنې دنیا ته مجبوریت له جماد نه لږ دی، ځکه چې د حیات اثر په ده کې زیات دی.

له ونو او بوټو نه بیا د ځارویو اختیار ډېر دی او جبر نور هم تخفیف موندلی دی، انسان چې له حیوان نه پورته مقام لري او د تکامل په لاره کې وړاندې دی د ده اختیار نور هم زیات شوی او له خپلې ارادې نه ډېر کار اخلي.

په انسانانو کې هم د وحشي او مدني انسان، عالم او جاهل انسان، د قوي او ضعیف انسان په اختیار کې ډېر فرق موجود دی، مګر بیا هم په هر حال کې یو څه مجبوریتونه شته او په جبر او اختیار کې ډېر فلسفي بحثونه کیدی شي. د دنیا ډېر پوهان پدې عقیده دي، چې د انسان ډېر لږ کارونه په ظاهره ارادې او اختیاري معلومېږي، مګر په حقیقت کې د مجبوریت اثر دی او خبرې له اختیاره وتلې دي. دوی وایي هغه سړی، چې ډېر په غیظ او غضب کې وي او په همدغه وجه د چا د وژلو اراده وکړي مونږ ورته د اختیار خاوند نه شو ویلی، ځکه چې دی په دغه حال کې د داسې اغېزو او نفسي تاثراتو محکوم دی، چې له دغه کاره ځان نه شي ژغورلی او پخپلو احساساتو حاکمیت نه لري. که مونږ پوه شو چې دی په دغه وخت کې له یوه لېوني نه څه فرق نه لري او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبيعي حال کې نه دی، دی به ارومرو مجبوره ګڼو او دغه کار ته به غير اختياري وو ايو.

همدارنګه هغه څه، چې يو عاشق په جذبه کې د عشق دپاره کوي له مجبوريت نه نه وي خلاص او اختياري ورته نه شو ويلی.

د دغو خبرو خلاصه او نتيجه داده، چې شديد محبت او شديد بغض د انسان اختيار سلبوي او هغه څه وربانديې کوي، چې په عادي او طبيعي حال کې يې يو عاقل انسان نه کوي. د همدې لامله ډېر خلك په خپلو ځينو کارونو بل وخت پښېمانه کېږي او پوهېږي، چې ښه يې نه دي کړي.

ځينې نور په دې عقيده دي، چې انسان د اختيار خاوند دی، که ښه کوي بايد ښه ورته وو ايو او که بد وکړي بايد بد يې وګڼو، دوی وايي که انسان د عشق دپاره کوم کار کوي او که د دښمنۍ دپاره په دواړو حالو کې دغه کار د ده ګڼل کېږي او په ده پورې تعلق نيسي، ځکه چې دغه مختلف احوال چې د زورورې مينې يا د شديد عناد په اثر پيدا کېږي او نفسي يا روحي اغېزې ورته ويل کېږي په خپله له نفس څخه عبارت دی او نفس د همدغو احوالو او کيفياتو نوم دی. هسې نه چې کوم بل شی په نفس اغېزه کوي او دا اختيار مې سلبوي.

ارسطو د جبر او اختيار حدود ډېر ښه ټاکلي دي او بدۍ باب کې يې ډېره ښه فيصله کړې ده، دی وايي هغه کار چې يو سړی په خپله اراده نه کوي او د ده اختيار پکې هېڅ دخل نه لري ښه او بد يې ده ته نه دي راجع او د ده کار ورته نه شو ويلی، يعنې که يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورور باد یو سړی کومې خواته یوسی یا یې ځوك لاس او پښې وتړي او له یوه ځایه یې بل ځای ته وړي، نو دلته اختیاري سلب دی او په مجبوریت کې هیڅ شك او شبه نه شته، مګر که یو سړی د خپل شرافت د ساتلو دپاره کوم کار کوي او خپل عزت او وقار یې یوه کار ته مجبوروي، نو دغه راز مجبوریتونه د جبر له قانون لاندې نه راځي.

دی د مثال په ډول وایي: که د یوه سړي مور او پلار یا اولادونه د یوه ظالم او مستبد له تهدید لاندې وي، چې د ده په تسلمېدو او اطاعت هغوی له زیان او ضرره محفوظ پاته کېږي او که اطاعت ونه کړي هغوی ضایع کېږي، نو دغه صورت کې دا سوال پیدا کېږي، چې که دغه سړی د هغه ظالم له خوا په یوه ناوړه کار مامور شي دی په دغه باب کې مجبور دی او که مختار؟ ارسطو وایي چې دلته جبر او اختیار مخلوط شانته دي، مګر د اختیار جنبه غلبه ده، ځکه چې د دغه کار په کولو او نه کولو کې د ترجیح او انتخاب مسئله مېنځ ته راځي، نو هره خوا چې دی انتخابوي او ترجیح ورکوي هغه د ده خوښې او ارادې ته راجع ده او د ده کار ګڼل کېږي.

دی وایي په دغسې مواردو کې که سړی ناوړه او بد کار وکړي دغه راز مجبوریتونه معقول عذر نه شي کیدای، په دغسې مجبوریت باید سړي پښې کېږدي او هغه څه وکړي، چې انساني شرافت او وجدان یې تقاضا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شجاعت او شهامت، چې يو اخلاقي فضيلت دی په همدغسې مواردو کې ځان ښيي او د افتخار حق پيدا کوي.

هغه د سر خطر، چې په جنګ او جګړه کې يو بې زړه سړی تېښتې ته مجبوروي. د خلکو په نظر کې څه اعتبار نه لري په همدغه وجه له تعدد او ټوپکو نه تښتېدونکي هر چا ته سپك ښکاري او هغه، چې له مرګ نه وېرېږي او په ايستلو تورو ورځي د خلکو په نظر کې درانه معلومېږي.

که په دغسې مجبوريت خلك قابل وای هر څوك به له جګړې څخه تښتېده او هېچا به هغه ته په سپکه نه کتل.

هغه افتخار، چې د شجاعت او شهامت خاوندان يې ګټي د دغسې مجبوريتونو په نافرمانۍ کې پټ دي، لکه چې عار او ذلت د دغه راز مجبوريت اطاعت او انقياد ته ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خان واده

له خوبه راپاڅېدم، د ډول او سرني اواز مې ترغوږ شو او ډېره لويه ورا راښکاره شوه، چې ډېر خلك ورسره خوشحاله روان وو او د خان په واده کې يې لاسونه غورځول، زه هم له دوی سره ملګری شوم او په دې خوشحالۍ کې مې ځان شريك کړ. د دې ښادۍ د ډول او سرني غږ تر ډېر لرې ځايه رسېده او ډېرو خلکو پکې اتڼونه کول.

چا به ډزې کولې، چا به اسونه، ځغلول، ځينو به ټوکې او مسخرې کولې. په دغسې خوشحاليو کې ماښام تياره کلي ته ورسېدو او ډولۍ د کاله په مخکې ښکته شوه.

د کلي ښځې په ډېرې خوشحالۍ راغلې او د ډولۍ پردې يې جګې کړې همدغه وخت خندا او خوشحالۍ خپل ځای غم او ژړا ته پرېښود او دا معلومه شوه، چې دغې ښکلې ناوې د خپلې ازادۍ دپاره ډېره لويه قرباني ورکړه او د اجباري واده ملا يې ماته کړه.

د دغه حال په ليدلو د هر چا په احساس کې بدلون راغی او مونږ وپوهېدو، چې کله خلك جنازه هم په ډول او سرني وړي او په غم د ښادۍ ګومان کوي.

په دنيا کې ډېر داسې غمونه شته، چې د خوشحالۍ په ډولۍ کې پټ دي او د خلکو په شعور او تميز مسخرې کوي.

زما پوه ملګري په دغه ورځ وويل: په رښتيا چې خوشحالي څوك په زور او جبر يا په ډېرو پيسو کور ته نشي وړل، مګر خان لا تر اوسه په دغه حقيقت نه دی پوه او خپله خوشحالي په دغه ډول غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غم او خوشحالي

زما اشنا له ډېرو غمونو سره نااشنا دی. د هغه په کاله کې چا د ماشوما ژړا نه ده اورېدلې او خپلو ماشومانو په مرګ او درد يې هېڅکله نه دي ژړلي، هغه حال چې يو پلار يې د خپل کوچني زوی يا ځلمي زوی د ځانګدن په وخت کې وينې، دی ترينه ناخبره دی.

ده غوندې بې غمه سړی ډېر لږ پيدا کېږي او په همدغه سبب يې د خوشحالۍ برخه هم ډېره لږه ده.

دی چې په خپل کاله کې خپل خلف الصديق نه وينې په زړه کې ډېر ځوريږي او ځان بد بخته ګڼي، مګر د ده دغه غم زمونږ په نظر کې د هغه چا له غمه ډېرسپك دی، چې دوه زامن يې ژوندي دي او يوه د ده په غېږ کې خدای ته ځان سپارلی دی، ځکه مونږ هغه ته د فاتحې دپاره ورځو او ده ته نه ورځو.

زمونږ دا عادت دی، چې که د چا په کاله کې نهه مياشتني اولاد مړ پيدا شي وير ورسره نه کوو او هغه هم د غم کمپله نه غوړوي، مګر په کوم کاله کې چې د دوه ورځو ماشوم مړ شي، هلته د غم او مصيب مجلس جوړېږي او خلك ورسره همدردي کوي.

موريس مترلينګ وايي: ((تاسې په مليباردونو نطفې ضايع کوئ، مګر خوابدي کېږئ نه او دغه راز ضياع د چا د غم او خپګان موجب نه ګرځي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې معنیٰ داده، چې زمونږ غمونه معقول نه دي، محسوس دي. هره ضايعه، چې يوازې عقل پرې پوهېدی شي او احساسات ورسره تعلق نه لري همدغسې بې اثره وي.

زمونږ خوشحالۍ هم، لکه زمونږ غم په عقل او منطق اتکا نه لري، بلکې د شعور او احساس نتيجه ده.

غم او خوشحالي يوه په بل پورې تړلي دي او يو له بله نه بېلېږي، ځينې ګمان کوي، چې خوشحالي له بې غمه خلکو سره زياته ده او هغه څوك ډېر نېکبخت دی، چې هېڅ غم نه لري، مګر حقيقت دغسې نه دی او ښادي هر چېرې د غم په اندازه ده.

حقيقي بدبختي په بې غمۍ کې ځای لري او بې غمه سړي ته که سړی وويلی شو، نېکبخت خو ورته هېڅکله نه شو ويلی.

غم او خوشحالي، لکه د يوې ټوټې دوه مختلف مخونه دي، چې اصل يې يو دي. څنګه چې شپه او ورځ يو په بل پورې نښتي دي او هر کاله ته دواړه وړاندې وروسته راځي، د غم او خوشحالۍ ارتباط هم دغه راز ټينګ دی. که څوك وغواړي، چې هغه يو خپل کاله ته پرېږدي او دا بل ايسار کړي، له دينه لويه اشتباه بله نه شته.

داسې کېدلی شي، چې ورځ اوږده شي او شپه لنډه، يا شپه لويه وي او ورځ وړه وي، مګر داسې ورځ چې شپه ونه لري يا داسې شپه، چې ورځ ورپسې نه وي په دنيا کې نه شته.

که لمر تر اخرته پاس په سر ځای په ځای ولاړ وای د زمانې په رنګ کې هېڅ تغير او تحول نه وای موجود هېڅوك به نه پوهېده چې شپه څنګه وي او د همدې لامله، چې شپه به چا نه پېژندله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي به هم نه پوهېده، چې ورځ څنګه وي او څه کیف لري. غم او خوشحالي هم، لکه شپه او ورځ یو په بل پېژنو، که غم له دنیا نه بېخي لاړشي خوشحالي هم ورسره ځي که ژړا نه وي خندا هم نه شته.

هماغسې، چې هګۍ له چرګې پیدا کېږي او چرګه له هګۍ نه غم او خوشحالي هم یو د بل اولاد دي.

انسان باید په دې پوه شي، چې غم او خوشحالي یو ظاهري او اعتباري فرق لري، یعنې دا فرق هم لکه د شپې او د ورځې فرق د سترګو او نظر فریب پیدا کړی دی، چې د عقل او بصیرت خاوندان پرې نه غولېږي، بلکې ړانده هم دواړه یو ګڼي. څوك چې د عقل سترګې لري او د فلسفي شعور خاوند دی هغه زمانې ته په بل شان ګوري او د شپو ورځو له سپینو او تورو پردو نه هغه خوا بې رنګه زمانه په بل ډولویني، هغه پوهېږي چې د زمانې دواړه مخونه یوه شي ته منسوب دي او یو حقیقت دوه رنګه ښیي.

ډېره ښه ده، چې عقل او پوهه په مونږ ډېر تسلط نه لري او مونږ یې له وهم او خیال نه لري کړي نه یو، ګڼي اوس به شپه او ورځ را باندې یوه وه او خوشحالي به هم را باندې غمېدلې وه.

زمونږ غمونه او زمونږ خوشحالي زمونږ په ژوند کې هغه سوز او ساز پیدا کوي، چې بې له هغه د ژوند کیف او خوند نه پاته کېږي.

غم د خوشحالۍ څکلو ذایقه او احساس روزي او خوشحالي، لکه د خوږو میوو خوراك ترخو مرچو ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په دنیا کې ترخه شیان نه وي خواږه ډېر ژر زړه وهي او بې خونده کېږي.

د ژوندانه خوند ، غم او خوشحالۍ ته ډېر ضرورت لري او په دغه خوند کې د عواطفو او احساساتو خاوندان ډېره برخه لري، هغه ړانده هوښیاران، چې په ظواهرو نه غولېږي او د غم او خوشحالۍ په فرق نه دي قایل، له دغه نعمته محروم دي، که مونږ ډېر عمیق فکر وکړو هماغه شی مونږ ډېر خوشحالوي، چې مونږ یې ډېر خپه کړي یو او ډېر ځله هغه شي ته خو شحالېږو ، چې زمونږ غم پکې پټ دی، لا ډېره ښه ده چې په جهان کې دغه راز ژور فکرونه ډېر لږ دي او احساسات مونږ ته دغه موقع راکوي، چې د غمونو او خوشحالیو حقیقت ته ډېر ځیر شو.

ډېر خلك دي، چې یوه ورځ یې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کېږي، مګر بله ورځ نوی واده کوي او د خوشحالۍ هغه زوړ غم ببخي هېروي، نو دغه د خوشحالۍ ډولۍ او هغه د غم جنازه یو له بله ډېر ربط لري، که هغه غم دغه کاله ته رانه شي دغه ښادي هم نه شي راتلی.

دا وصال په حقیقت کې د هغه فراق نتیجه ده او په هغه ویر کې دغه سرور او سرود پټ دی. هر څومره چې د خوشحالۍ د پسرلي بارانونه زورور وي هغومره یې سېلابونه هم زورور دي. له دغې زورورو باروانونو سره تندر او زلې هم شته، لکه چې له ډېرو نویو افتخاراتو سره ډېر لوی خطرات ملګري دي. همدغه وجه ده چې زه له سپکو او کوچنیو غمونو څخه لوی او ستر غمونه ډېر ښه ګڼم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخلاقي اساس

شوپنهاور وايي: د اخلاقو دپاره له ترحم نه ښه اساس نه شته، انساني اخلاق بايد په همدغه اساس قايم وي.

د ده په نظرکې اخلاقي عمل هغه دی، چې د شخصي ګټې هېڅ اثر پکې نه وي او محض د بل د خير دپاره وي.

کانت وايي: د انسان هغه عمل اخلاقي ارزښت لري، چې خاص د انساني تکليف دپاره وي.

د ده په نزد انسانيت يو قانون لري، چې مخالفت ترېنه ښه نه دی او انسان مکلف دی، چې له دغه قانون سره سم وچلېږي. د ده په نظر هغه کار، چې د قانون دپاره کېږي او هغه کار چې د قانون دپاره نه وي شوی، مګر له قانون سره موافق دی يو له بله فرق لري.

دی هر نېک او ښه کار اخلاقي عمل نه ګڼي، د ده په فکر اخلاقي عمل هغه دی، چې خاص د قانون د پېروی او د انساني تکليف د پر ځای کولو دپاره اجرا شوی وي، نه د شخصي ګټې دپاره په همدغه سبب د يوه سوداګر صداقت او راستي، چې د تجارتي ګټې دپاره نېک کار ګڼي، مګر اخلاقي عمل ورته نه وايي، همدارنګه هغه څوك، چې ډېر زړه سواندی وي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه سبب له خلکو سره نېکي او احسان کوي، دغه راز نېکي او احسان د کانت په عقیده اخلاقي عمل نه دی.

دی وایي که دغه سړی له خلکو نه ډېرې جفاګانې ووینې زړه به یې سخت شي بیا به له چا سره احسان او نېکي نه کوي، مګر هغه څوك چې د خلکو جفاګانې وښي او محض د تکلیف دپاره له خلکو سره ښه کوي، دا کار اخلاقي قیمت لري او اخلاقي عمل ورته ویل کېږي.

مترلینګ وایي: هغه مینه چې انسان یې له انسان سره لري باید له ډېر لوړ او هسك ځای نه اخیستل شوې وي، که یو انسان وکړی شي چې له انسانانو سره عشق ولري او بشر دوستي د عشق له کوره واخلي نه ښایي، چې له ترحم نه کار واخلي او مینه یې د مرحمت او مهربانۍ رنګ پیدا کړي.

که څوك چا ته د عدالت له مخې څه ورکولی شي د احسان له لارې دې څه نه ورکوي، که د چا له لاسه پوره وي، چې د انسان احترام وکړي دلجویي او تسلي ورکولو ته حاجت نه شته. دی د انسان دپاره له چا نه رحم او شفقت نه غواړي، عشق غواړي د احسان له ورکړې نه د عدالت ورکړه ښه ګڼې او له نوازش نه یې احترام د انسان دپاره غوره ګڼلی دی.

دا سړی د عشق طرفدار دی، د ده په مذهب باید بادشاه او ګدا یو له بله عشق ولري. ده ته له شفیق نه رفیق ښه ښکاري او له هغې مینې نه کرکه کوي، چې یو مهربان بادار یې له خپل صادق خدمتګار سره لري، دغه راز مینه چې د ترحم او شفقت رنګ لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو انسان لوی او بل کوچنی ښیي، په دې مینه کې چې هر څومره مهرباني پرته ده هغومره پکې د محبوب حقارت هم شته، مګر په عشق کې کبر او لویي نه ځایږي او اغاتوب نه مني، دی انسان ته په ډېر لوی حق او ډېر زیات احترام قایل دی، مګر دغه حق ورته په سوال او ګدایۍ د استرحام له لارې نه غواړي، د عدالت په اساس یې غواړي.

که بشر ښه انصاف وکړي خواران او مزدوران په بډایانو باندې ډېر لوی حق لري، خو دغه حق پټ پاته دی او خلکو هېر کړی دی.

روسو وایي: «هر وخت چې تاسې یو اسمان خراش قصر وینئ، یقین وکړئ چې د یوه ولایت کورونه د دغه قصر د بنا د پاره وران شوي دي» که چېرې سم او صحیح حساب منځ ته راشي ډېر لوی بډایان د ډېرو زیاتو خلکو پوروړي دي او د دوی خیرات په حقیقت کې د دغه پور نیمګړې ادا ده، که یو سړی په دغسې احساس خوار او غریب ته څه ورکوي احساس یې ډېر لوړ او عالي دی او له هغه بل نه، چې دا کار خپل رحم او کرم ګڼي عالي همت او لوړ شعور لري.

د چا پوهه چې د عشق په اب و هوا کې وده وکړي او عواطف او احساسات یې په عقل غالب وي، هغه د مترلینګ په شان فکر کوي او له نورو پوهانو نه یې فکر بل راز وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه او بد

خدای خبر دی، چې غل وکه خوني، یا یې کوم ډېر د شرم کار کړی و، هر څه چې و، خو خلکو یې متې ترلې وې او حاکم ته یې راوست، هر یوه ویل: دی ډېر بد سړی دی مونږ د ده له لاسه ډېره په عذاب یو، دی باید بندي شي او ډېره سخته سزا ووینې.

حاکم هغه بد وګاڼه او زندان ته یې ولیږه، د هغه خپلوان اخندزاده صاحب ته ورغلل او هغه یې حاکم ته وروست، کله چې حاکم د اخندزاده صاحب له راتګه خبر شو یوه ټوټه مخې ته ورغی، د هغه لاسونه یې ښکل کړه او په ډېر عزت یې خپل ځای ته راوست.

د اخندزاده صاحب له خبرې هېڅوك نه شو وتلی، حاکم هم د ده امر ته غاړه کېښوده او بندي یې خوشې کړ.

ما چې دغه حال ولید په دې پوه شوم، چې دلته د ښو او بدو فرق نه شته، ځکه د ښه سړي لاسونه ښکلوي او د بدو سړو لاسونه تړي، مګر ټول د ښو او بدو په فرق یو شان نه دي پوه شوي. د همدې له امله هغه سړی، چې د خلکو په نظر کې بد و اخندزاده صاحب ښه وګاڼه او له بنده یې خلاص کړ.

زما ملګري وویل: دوی د ښو او بدو په تمیز کې ډېر غولېدلي دي، وایي زمونږ ملك ډېر بد سړی دی، ځکه چې د غلو ملګری دی او غله په حاکم باندې خوشې کوي، مګر همدغه کار چې اخندزاده صاحب وکړ هغه ته بد نه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکله چې خونیان او داړه مار بندیان شي د ده په برکت خوشې کېږي او د ګنهاکارو شفاعت د ده کار دی. دی یوازې له حاکمانو نه غله نه خلاصوي. که شکرانه غټه وه په اخرت کې یې هم د خلاصولو ذمه کوي او پس له مرګه یې هم ملګري دي.

که یو حاکم یو غل د ملك په خوله خوشې کړي دا کار دوی ته بد ښکاري، مګر که د اخندزاده صاحب سفارش یې پرېږدي، نو بیا په ښه سړیتوب او دینداری کې حسابیږي. د هر چا بدي که په ډېرو پردو او رنګونو کې پټه وه هغه د دوی په نظر کې ښه سړی دی او که چا خپله بدي نه پټوله یا یې نه شوه پټولی دوی ورته بد وایي او په بد نامه یې یادوي.

دوی هغه ځوك غل ګڼي، چې د سوداګرو قافلې وهي او د بډایانو په کورونو داړې غورځوي، مګر د هغه چا لاسونه او پښې ښکلوي چې په چل او فریب د خبراتونو قافلې خپل کاله ته راګرځوي او د مسکینانو حق غصبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پخوانۍ ډيوې

په کاله کې برق لګېده، مګر پاس په رف باندې د تورو تېلو مسينه ډيوه ايښې وه، په څنګ کې يې يوه بله ډيوه هم وه، چې يو وخت يکې شمع بلېده.

هغه خوا د خاوريونو تېلو لاټين ښکارېده او داسې معلومېده، چې هرې ډيوې په خپل وخت کې دا کور رڼا کړی او د کاله خلکو يې په رڼا کې ډيوې شپې سبا کړې دي، مګر اوس ترېنه څه کار نه اخيستل کېږي او د شپې په کور کې برقونه بلېږي.

د زمانې دا عادت دی، چې زاړه شيان له کاره باسي او نوي شيان په کار اچوي، مګر خلک خپل زوړ حال نه هيروي او زړو شيانو ته په جګو رفونو باندې ځای ورکوي.

دا عادت بد نه دی، چې څوک زاړه خدمتونه هېر نه کړي او زړو خدمتګارانو ته په قدر وګوري، مګر کار بايد له نوو شيانو واخيستل شي او په کورونو کې وخت په وخت نوې رڼا ګانې پيدا شي.

انسان په هر وخت کې يوې رڼا ته محتاج دی او دا رڼا د هر کاله خپله څېره او خپله وضع بدلوي. د عالم تغير چې د دنيا يو قانون دی همدغه تقاضا لري، چې هر څه بايد يو راز او بل راز شي او يوازې لوی خدای تل تر تله په يوه حال باقي وي. د همدغه بدلون او تغير په وجه د علم او پوهې رڼا هم هر وخت خپل فانوس بدلوي او د لوښو په بدلون په لوښو کې پراته شيان هم بل راز کېږي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا چې د خاورو له تېلو پیدا کېږي هغه نور، چې د لمر او سپوږمۍ له کوره راځي، هغه برېښنا چې د اوبو له ابشار څخه حاصلیږي د ظرف او محل په اعتبار یو له بله بېلېږي. که څوك په دغو ظاهري صورتونو ونه غولېږي او حقیقت ته ځیر شي، نو د شړشمو او پښې په بوټو د غوزانو او زیتونو په ونو کې یوه رڼا موجوده ده، چې په هر راز ډیوه کې بېل کیف پیدا کوي. که څوك هغه تیل چې په ډیوه کې ویني یا دغه سیزونکی برق، چې په برقي نغریو کې ګوري په اوبو کې ولیدی شي هغه ته اور او اوبه دومره فرق نه لري او د جهان په هره زره کې یو ه رڼا ویني، چې د صحرا په کاڼو کې هم شته. هغه نور چې کلیم په کوه طور کې لیده، په هره ونه کې شته، مګر محرمانه سترګې غواړي.

که د انسان تعقل قوي شي او د حواسو له قیده واوزي(که څه هم د بشر اوسنۍ پوهه هماغه رڼا ده، چې د حواسو له کړکیو راننوتلې ده) په هر شي کې به یو نور ګوري او د وجود په نړۍ کې به دا تور او سپین نه وي! اوس مونږ د حواسو له تاثیر لاندې یو، چې په تېلو غوړ لاسونه په پندانه وچوو.

که لوښي او ظروف زمونږ د نظر مانع نه شي، نو په هر کور کې د یوې ویالې یا د یوې چینې اوبه دي او د ټولو مشرب یو دی.

که مونږ د سیند او ویالې، د کوهي او کاریز، د واورې او باران په نومونو او صورتونو ونه غلېږو، نو واوره، ږلۍ او باران د یوې کورنۍ خلك دي او اور او اوبه هم دومره پردي نه دي، په حقیقت کې همدغه خوږوالی دی، چې په خټکي، هندوانه، توت، انګور،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناك او منه كې يې حلول كړي او په هر محل كې يې بېل صورت بېل خوند او بېل نوم پيدا كړى دى.

هغه لوى او واړه خمونه، چې د بېلوبېلو ميوو او دانو شربتونه او عرقونه پكې پراته دي ټول يو كيف لري او د كجورو او اوربشو په مېنځ كې څه فرق نه شته. په دغسې كتنه چې سړى له اشكالو او صورتونو نه هغه خوا وګوري سړي ته دا معلومېږي، چې كورت او شړومبې لـه يـوې غړكـې راوتلـي دي او مايعـات او جمـادات زمونږ ظاهري حواسو بېل كړي دي.

هغه وخت چې زمونږ تماس او تعلق لـه ماديـاتو نـه قطع شـو او مجرد شو ښايي، چې د نـن ورځې علـم او معرفت بـل راز شـي او دغه رڼا بل شانته ووينو، دغه وخت بـه د نن ورځې وسـايل لكـه د دې كـوتې بېكـاره ډيـوې پـه كارنـه وي او علـم و پوهـه بـه پـه نـورو قلبونو كې ځان ښكاره كړي، چې اوس يې مونږ نه شو ليدلى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انتخاب

زما ملګری له اجتماعي مسایلو سره ډېره زیاته علاقه لري، کله چې ولس د شوروي دپاره وکیلان انتخابوي یا د حکومت مشر خپل وزیران ټاکي دی په انتخاباتو باندې په زړه کې سل اعتراضه لري.

د ده په نزد سم او صحیح انتخاب ډېر مشکل کار دی او که دغه کار بل څوک کوي، دی پکې ډېر عیبونه پیدا کولی شي. دی وایي د ګوستاولوبون دا خبره رښتیا ده، چې په خلکو باندې حکومت کول دومره ګران کارنه دی، لکه چې په خلکو کې لایق کسان پېژندل او انتخابول مشکل کار دی.

زما ملګری دا یوه لویه اشتباه ګڼي، چې اجتماعي کارونه داسې کسانوته وسپارل شي، چې هغوی په خبرو کې ډېر مهارت لري او په خبرو ډېر ښه پوهېږي. ده د کوم عالم خبره ډېره خوښه کړې ده چې په خبرلوڅو نطاقانو کې د فکر خاوندان ډېر لږ پیدا کېږي.

د ده په نز د هغه څوك، چې ډېرې ښې خبرې کولي شي ښه ښه کارونه نه شي کولی او ډېر فکر کونکي هم د کار خك نه دي.

زه د ده دا خبره څکه ښه ګڼم، چې دی په خپله د فکرخاوند دی او په خبرو کې هم ډېرښه دی، هغه څوك چې د ځان په باب کې هم له حقه نه تېرېږي او د قضاوت په وخت کې په ځان هم حکم کولی شي باید ښه یې وګڼو او په قدر ورته وګورو. او س خو به پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي یاست، چې زما ملګری په اجتماعي مسایلو کې څومره عمیق فکر لري، مګر زما علاقه له ده سره په فکري او علمي دقت نه ده بنا ، بلکې د ده شعر او ادبي جنبه مې ډېره خوښه ده.

دې علاوه په دې، چې شاعر او لیکونکی دی په شعر او ادب کې ډېره ښه نقادي هم کولی شي، یعنې که هرڅومره ښه شعر بد په نظر ورغی یا د شعر خاوند ښه سړی نه و ، دی پکې داسې باریك عیبونه پیدا کولی شي، چې نور یې په ذره بین هم نه شي لیدلی، مګر کوم شعر چې دی په خپله انتخاب کړي هغه هم ډېر ښه نه وي یا یې نور په ښه والي نه شي پوهېدای. ګورئ! زما مقصد دا نه دی، چې ښه شعر او بد شعر نه پېژني، بلکې یقین لرم چې ادبي محاسن او معایب ورته ډېرښه معلوم دي، زما په نظرکې دی ډېر ښه شاعر دی، مګر د ده له باریك نظر څخه په وېره کې یم، چې دا خبره یې په مزاج بده ونه لګېږي، ځکه چې اناتول فرانس په خپل یوه کتاب کې لیکلي دي، چې ډېر ښه شاعر هماغه دی چې ډېر خود پرست وي او بې له ځانه بل څوك په نظر کې نه لري.

زما دغه ملګري یوه ورځ د وطن په کاردارنو باندې بحث کاوه، چې ځینې یې ښه ګڼل او ځینې بد ، ما چې د ده دغه انتخاب ولید په دې پوه شوم، چې د شعر له پېژندلو نه د سړو پېژندل ګران کار دی او د اشخاصو په عمل کې دومره اختلاف نه شته، لکه چې په نظرکې شته.

دا کېدی شي چې ډېر خلك په یوه چلم خوله کیږدي، مګر فکرونه او نظرونه یو راز نه دي، د حسن انتخاب، د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب، د شخص انتخاب په هر ځای کې يوه اختلافي مسله ده، چې د هر چا د ذوق او نظر په لحاظ فرق کوي. که هر چېرته لاړ شئ او هر چا ته لاړ شئ يو به د بل په انتخاب اعتراض کوي او دغه شکايت به هر ځای موجود وي.

حجازي د ايران ډېر ښه او مشهور ليکوال ليکي: زما يو دوست چې له ډېرو ښو ليکوالو څخه دی د ايران په فرهنگستان انتقاد کاوه، چې په دغه علمي او ادبي انجمن کې ولې ځينې بېسواده اشخاص په عضويت انتخاب شوي دي او لياقت ته نه دي کتل شوي، مگر څومره چې ده د ايران د فرهنگستان اعضاوو ته بد ويل هغومره يې د فرانسې د اکاډمۍ اعضاء ستايل او د هغوی انتخاب يې ډېر صحيح گاڼه، څو ورځې وروسته چې زه (حجازي) د فرانسې د اکاډمۍ له يوه غړي (مسيو ماسين يون) سره په پاريس کې مخامخ شوم، نو د اکاډمۍ بحث منځ ته راغی او هغه په ډېر قهر وويل: «د فرانسې له اکاډمۍ نه خرابه دستگاه بله نشته. څو ورځې پخوا يو تن د کتابونو ناشر، يعنې (کتاب پېرودونکي) کتاب فروش، چې د اکاډمۍ د ځينو اعضاوو کتابونه د تملق دپاره چاپوي او خرڅوي يې د اکاډمۍ غړی شوی، چې د ادبياتو په پوله هم نه دی تېر شوی)».

دا کيسه همدغلته پرېږدئ، چې د فرانسې د اکاډمۍ انتخابات د اناتول فرانس په وخت کې وگورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه لوی او مشهور لیکوال په خپل یوه کتاب کې د دوو تنو (شاګرد او استاد) مذاکره د اکاډمۍ د یوه غړي په باب داسې لیکي.

شاګرد: مسیو... د اکاډمۍ په عضویت انتخاب شو او دا انتخاب زه ډېر بد ګڼم. دا سړی د معاشرت په ادابو ډېر ښه پوهېږي او له هر حزب سره تګ راتګ لري، سربېره په دې یوې لوړې کورنۍ ته هم منسوب دی او وراره یې د کلیسا واکدار دی. دی په خپله هم ډېر څه لري او په کاله کې یې ډېر ښه شراب پیدا کېږي، مګر ذوق او هنر نلري او د لوړې قریحې خاوند نه دی، ځکه راته دغه انتخاب ډېر ناوړه معلومېږي او په بد نظر ورته ګورم. استاد: ناوړه انتخاب ته هېڅکله بد مه وایه او په دې پوه شه، چې په کارونو کې د تصادف او انفاق ۱- ۲ برخه ډېره زیاته ده، هغه کار چې تاسو ته مسخره معلومېږي په حقیقت کې یو انتقام وي، چې تقدیر یې د تفریح دپاره د عقل او تدبیر له خاوندانو څخه اخلي.

تاته دې دا معلومه وي، چې په دغسې انجمنونو کې د هوس او تفنن دپاره هم ځای پرېښودل په کار دي. د قریحې او نبوغ خاوندان غالباً د معاشرت او ګذران خلك نه وي.

تا ته دې، د قریحې او نبوغ خاوندان غالباً د معاشرت او ګذران خلك نه وي.

که یوه جامعه سل په سلو کې عقلي او منطقي وي سل په سلو کې به د تحمل وړنه وي او د عدالت له ساړه فشار لاندې به هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساړه وي. کوم انجمن چې يوازې له لويو او فوق العاده اشخاصو جوړ شوی دی ډېر لږ خلك به ورسره علاقه ولري. ډېره ښه ده چې ټيټ او حقير اشخاص له دوی سره ګډ شي او د تفريح باعث وګرځي. په دغه صورت کې به ټيټ کسان له لوړو کسانو نه علمي او معنوي استفاده کوي او لويانو به هم، چې خپله مقايسه له دوی سره په نظر کې نيسي خوند اخلي. دا کار د دواړو په ګټه دی او اکاډمي په دغه ډول د خپلو مهمو غړو اهميت نورو ته ورکولی شي. ځنګه چې د لمر او ستورو څخه ځينې ذاتي او ځينې اکتسابي ځلښت لري، د اکاډمۍ اعضاء هم بايد دغه راز وي، چې د ځينو رڼا ځينو نورو ته انتقال او سرايت وکړي.

دغه راز ناوړه انتخابات د دغه انجمن د حيات او بقا دپاره ډېر ضرور معلوميږي او ډېره ښه ده، چې اکاډمي د خپلو غړو په انتخاب کې اشتباه وکړي يا د تصادف له تاثير لاندې راشي او دغه راز خلك هم انتخاب کړي.

که ناوړه اشخاص هېڅکله د اکاډمۍ په غړيتوب نه انتخابېدلی، نو هغو کسانو ته به ډېر لوی توهين او تحقير متوجه و، چې اکاډمۍ نه قبلولي. مونږ بايد دغه راز ظاهري اشتباهات حقيقي هوښياري وګڼو او په نفرت ورته ونه ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقل برخه په ژوندانه کې

پاك خداى چې ژوند پيدا كړ غرايز يې هم ورسره پيدا كړه، چې ژوند وساتي او د حيات شمع مړه كېدو ته پرې نږدي.

همدغه غرايز دي، چې د هوا مرغان او د ځمكې ځناور يې د زيږولو او نسل ساتلو كار ته داسې متوجه كړي، چې هېڅ غفلت پكې نه ځايېږي. د همدې لامله د هوا مرغان هر كال نوي كورونه جوړوي او نوې هګۍ پكې ږدي. له هګيو نه بچي را ايستل او بچو ته دانه په خوله كې راوړل د غريزې كار دى.

يو كوچنى ماشوم، چې په لومړۍ ورځ د مور په تي باندې خوله ږدي او وري يې بې له غريزې بل لاربښونكې نه لري، هغه پاملرنه چې يوه چرګه يې د خپلو بچيو په نسبت لري كوم تعليمي كار نه دى، بلكې د غريزې او فطرت په تقاضا اجرا كېږي. كومه شهواني قوه، چې نر او ښځه يې يو د بل په نسبت لري د غريزې غوښتنه ده، چې د ژوند ساتلو او د نسل د بقاء دپاره په انسان او حيوان كې وجود لري، يعنې د ژوندانه ساتنه او د نوع پايښت د غرايزو وظيفه ده. هر كله چې غرايز په حيوان كې ډېر قوي وي او په انسان كې ضعيف غوندې دي، نو انسان ته عقل هم وركړ شو، چې د ژوند په كار كې له غرايزو سره مرسه وكړي او د غريزې په خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعمال شي، یعنې عقل یوه آله ده چې غریزه یې استعمالوي، نو عقل باید د ژوندانه د وسایلو برابرولو په کار کې صرف شي او د ژوند اسباب برابر کړي، نه دا چې د حقایقو او پټو اسرارو د کشفولو په کار کې صرف شي او د ژوند اسباب برابر کړي، نه دا چې د حقایقو او پټو اسرارو د کشفولو کار ترېنه واخلو او بېځایه یې استعمال کړو. د عقل اصلي کار همدغه دی، چې له مادې سره تعلق پیدا کړي او په موادو کې تصرف وکړي. طبیعي علوم او ریاضي علوم دا مدعا ډېره ښه ثابتوي، چې د عقل کار له جسم او مادې سره دی چې باید ابعاد وپېژني او کمیت ته متوجه شي، ځکه چې د کیفیت پېژندنه د عقل کار نه دی او عقل د دغه مقصد دپاره نه دی پیدا شوی همدغه سبب دی، چې انسان یا له کیفیت نه بېخي غافل دی یا کیفیت ته هم د کمیت په نظر ګوري، مثلاً: زمانه په اصل کې کیفیت دی او د کیف له مقولې لاندې راځي، مګر انسان د خپلې ساعت تیرۍ دپاره، چې د ژوندانه یکنواختي ورکه کړي دغه کیفیت له مقولې لاندې راووست او د ځمکې حرکت د ستورو حرکت او نور حرکتونه یې زمانه وبلله، هئیت نجوم ریاضیات په همدغه مفیده اشتباه بناه شوه او د دغې لویې غلطۍ په وسیله لوی لوی مقصدونه حاصل شول.

که انسان ښه غور وکړي پوهېږي، چې عقل انسان ته د دې دپاره ورکړ شوی دی، چې د الاتو او مصنوعاتو په جوړولو کې ترېنه کار واخیستل شي او یو څه جوړ کړي، نه دا چې په څه پوه شي او د کمیت ادراک وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرب پوهان په دغه راز ښه پوهېدلي دي، ځکه يې د ژوند ښه کولو په کار کې له عقل او پوهې نه ډېر کار اخيستى دى او زمونږ پوهان په نورو تصوراتو کې غرق دي.

مونږ بايد د جوړولو او پوهېدلو په فرق قايل شو.

جوړول اسانه کار دى، مګر پوهېدل ګران کار دى.

د شاتو مچۍ عسل جوړوي، مګر په حقيقت يې نه پوهېږي.

مونږ ژوند کوو او د ژوند وسايل برابر وو، مګر د ژوندانه په حقيقت نه يو پوه شوي.

ډاکټران او طبيبان د ژوند په خدمت تر ډېره حده موفق شوي دي او د زړه حال، د سږو حال ورته معلوم دى، مګر ژوند نه پېژني او له روح نه ناخبره دي.

د انسان ډېره لويه او مهمه وظيفه د ژوندانه ساتنه او روزنه ده.

عقل او فکر، علم و فن د همدغه مقصد دپاره دي، چې د ژوندانه اسباب او وسايل برابر کړي او په همدغه لاره کې ترېنه کار واخيستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسابي خبرې

استاد ویل: تاسې باید هر وخت له ځان سره حساب وکړئ او حسابي خلك اوسئ!

د ده یو حسابي درس دا و: که یو عدد له بل سره داسې یو ځای کړو، چې یو پاس او بل لاندې وي لکه **۲** نو څلور(۴) ترېنه جوړېږي او دواړو وجود هم په خپل حال نه پاتې کېږي، که دواړه څنګ په څنګ یو ځای کړو لکه:۲۲ دوه ویشت ورنه جوړېږي او دوه شلې کېږي. د دواړو عددونو شکلونه او صورتونه هم په خپل حال پاتې کېږي، ځکه چې دلته د ملګرتیا او ورورولۍ راز پټ دی او په هغه بل صورت کې تفوق تسلط او محوه کول معلومې ږي.

ده ویل: که دوه مساوي عددونه لکه: (۱-۱) (۲-۲) (۳-۳) هریو له بل نه وړاندې یا وروسته کړو نتیجه یې یوه ده، مګر په دوه متفاوتو عددونو کې تقدم او تاخیر ډېر زیات فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت راځي. که مونږ(یو) او نه (یو) ځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نونس کېږي، مګر شل کېږي نه، که همدغه دوه عددونه داسې ولیکو(۹۱)خبره سلوته نږدې کېږي او ډېر زیاتوالی پکې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر او فلسفه

وربځې پورته په هوا کې دي، ځاګانې ښکته په ځمکه کې.
هغه څه چې په هسکو وربځو کې شته په ژورو ځاګانو کې هم شته په دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتېږي.
د لوړ خیال او د ژور فکر نتیجه یوه ده.
ته: یا خپل نظر ډېر لوړ کړه یا په خپل ګرېوان کې ډېر سر ښکته کړه:

**د شاعر او فیلسوف فرق همدغه دی**
**زه شعر او فلسفه دغه شان ګڼم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولاړې اوبه

له ښاره ووتم سمه او ودانۍ مې پرېښوده، د لوړو غرونو سر ته وختم، له هغه ځایه ستاسې لوړې ماڼۍ ډېرې ټیټې ښکارېدې او په دې پوه شوم، چې مونږ په ډېر ټیټ محیط او ټیټه هوا کې ژوند کوو.

د غره له سره ډېر لرې ځایونه لیدل کېږي او نظر ډېر لرې ځار کوي، ځکه ما هم د زمان او مکان په لرې ګوټ کې هغه څه لیده، چې د کور او کلي خلکو نه شو لیدلی.

همدغه وخت زه وپوهېدم، چې فرعون او قارون په کلو او ښارونو کې پیدا کېږي، مګر خدایي تجلي په غرونو کې ځان ښيي او کلیم له کوه طور نه الهام اخلي. د لمر لومړۍ رڼا د غرو په څوکو پرېوزي او وروستۍ وداع هم د غرو له څوکو سره کوي. شپانه په غرونو کې دي او قصابان په ښارونو کې.

د بودا او زردشت ننبې ننبانې په غرونو کې دي او فرهاد د عشق د غره ازانګه ده.

د غرونو اوبه ډېرې پاکې او ډېرې رڼې دي. د غرونو هوا ډېره صافه او بې دوړو ده.

تاسې غرونو ته یوازې د کمیت په لحاظ مه ګورئ، د کیفیت په لحاظ هم دلته ډېر څه شته، چې په سمه کې نه شته.

که په غرونو کې قیمتي لعلونه شته، نو د غرونو ښکلي او ښایسته منظرې هم په ښارونو کې نه پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه غرونو تـه ننـدارو او تماشـو دپـاره تللـی وم او د ولاړو اوبـو سيل مې کاوه، ما ته چا ويلي و، چې هلتـه يـو ډېر لـوی ډنډ دی، چې پخـوا بـه پکـې ښـاپېريو لمبـل او ملـوك بـه لـه بـدرۍ سـره همدغلته کتل.

زه لاړم او دغـه ډنـډ مـې وليـد د ډنـډ پـه غـاړه ډېـر سـاعت کښېناستم او تر ډېره وخته له فکر او خيال سره مشغول وم.

دغه لوی ډنډ د صبر او سکون په مقام کې څه شور او فرياد نـه کاوه، د حال په ژبه يې خپل عميق احساسات داسې ښکاره کول.

زه د لويو غرونو په ډېره لويه کنده کې ايسار يم او د ولاړو اوبـو په نامه يادېږم، زما ليدو ته خلك راځي او زما مهيبه منظره ويني. هېڅ لامبوزن دا جرئت نه کوي، چې زما په سر ودانګي او زمـا مـخ په څپېړو ووهي. په ما باندې د چاښېړۍ نـه(ګرځي زمـا کبـان ځوك نشي نيولی) د هيچا جال په ما باندې نه دی لوېدلی. زه د هېچـا پـه واك او اختيـار کـې نـه يم، مګر پـه عـين حـال کـې بې واکـه او بې اختياره يم. زما په پښو کې لکه غرونـه لـوی لـوی زنځيرونـه پراتـه دي او زه يې ځای په ځای درولی يم.

هغـه ازادي، چې لـه مسـتو سيندونو او زورورو سـېلابونو سره شته له ما سره نه شته.

زه عمق لرم، شور او مستي لرم، موج او حرکت لرم.

زه ډېر خلك غرقولی شم، مګر ځان له قيده نه شم خلاصولی.

زما قوت او طاقت ايسـار دی، مـا ځـان تـه د يـوې چينـې او يـوه لښتي قدر ته مجرا پيدا نه کړه او د دغو ماشـومانو ازادي هـم زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برخه ونه رسيده. زه ډېر لوی قوت يم، مگر ازاد نه يم، ايسار يم، ځکه هېڅ نه شم کولی او هېڅ رانه جوړ نه شوه.

زما عمر عبث تېرېږي، نه رانه برق او برېښنا پيدا شوه نه سمسور باغونه، نه مې جهان وليده او نه جهان وليدم. زه ښارونو او ودانۍ ته ښکته نه شوم. ما خپل موج او حرکت ونه ليد او د شور او مستۍ په کيف ونه پوهېدم. زه د ځان غونډې نورو ډنډونو سره يو ځای کېدای نه شم، مگر د کابل سيند د کونړ له سيند سره يو ځای کېږي او دواړه له اباسين سره خپل موجونه خپل شور او خپله مستي يو ځای کوي.

قيد او اسارت عزيزانو نه لرې ساتي، ځکه د يوه کوهي اوبه له بل سره نه شي گډېدلی. لوی ډنډ ته لاره نه لري، مگر د اسمان ورېځې يو له بله گډېږي او ديوه باغ مرغۍ بل باغ ته ځي.

زما طبيعي ميل دانه دی، چې ځای په ځای غلي ولاړ يم او هېڅ حرکت نه کوم. زه د سېلاني حرکت او توپاني قوت غوښتونکې يم.

زه بايد دغه سکندري ضد مات کړم او ځانته لاره پيدا کړم.

که زه له دغه قيده خلاص شم. زما له طوفان به خلك وويرېږي او زما له فيضه به ملکونه اباد شي.

زه به بحر او درياب ته لاره پيدا کړم او هلته به بې برخې نه يم.

زما په زړه کې ډېر څه نه شته، مگر د شور او غوغا ژبه نه شته.

ته زما د حال په ژبه پوه شه او زما په حال کې عميق فکر وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت، چې زه د ډنډ په غاړه ناست وم، لکه صحب حال په بل حال کې وم او د خیال پروازونه ډېر او چت وو.

په دغه وخت کې زه له لوړو خیالونو او ژورو فکرونو سره اشنا شوم او ډېر لرې به مې کتل همدغه وخت ما ته د پسرلي زورور بارانونه رایاد شوه، چې له دې لوړو غرونو په ډېر شور او زوږ مخ ښکته روان وو او هیچا یې مخه نه شوه نیولی.

د هغه سېلاب تعلق د اسمان له ورېځو او اسماني برېښنا ګانو سره وه، ځکه یې ډېرې ځمکې لاندې کړې او له هره قیده ازاد و.

دا ډنډ له ټیټې او ژور محیط سره علاقه لري، ځکه په ځای ولاړ دی او عمري قید تېروي. ای هغو کسانو، چې د پوهې او هوښیارۍ عمق ته پرېوتي یاست او په اسفل السافلین کې ژوند کوئ! په دې پوه شئ، چې دغه راز لوی ډنډونه د هغه شبنم مقام او منزلت نه شي پیدا کولی، چې د شپې د ګل په نازکو پاڼو پرېوزي او سحر د لمر د وړانګو او حرارت سره اسمان ته خېژي.

هغه اوبه چې د نورو څاګانو په تل او تورتم کې دي، په دې نه شي پوهېدی چې د پسرلي بارانونه او سېلابونه څنګه دي او څه کوي؟

دغه راز لوړ مضمون دغسې ټیټو ته نه شو ویلی او د ژورو څاګانو په اوبو کې د دنیا زورور بارانونه هم موج او حرکت نه شي پیدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه حاکم

هغه چې نه نفس لري، نه نفسي خواهشات.
نه يې په زړه کې ډار شته، نه طمع.
نه له موقوفۍ وېرېږي، نه د ترفيع پروا لري.
نه رشوت اخلي، نه تنخواه.
نه له چا سره عناد لري، نه د چامراعات کوي.
نه د چا مخ ګوري، نه چا څټ.
نه زور ور پېژني، نه غريب.
نه يې څوك خپل دي او نه پردي.
نه سپارش مني، نه تملق اوري.
نه چاته خاندي، نه چا ته وچولی ترېووي.
پوهېږئ دا حاکم څوك دی؟
هو! قانون او عدالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ليكوالي املاء انشا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه دهقانان

دهقانانو د منې فصلونه ټول کړه او د کروندې کارونه تمام شوه، هر چا خپله غله کور ته ویوړه او خپل واښه یې په ځای کړه، د ژمي واورې شروع شوې. هر څوك تیارې غلې ته کښېناست نرخونه له پخوا نه جګ لاړل، د پروړې قیمت یو په دوه شو.

یوه دهقان فکر وکړ، چې اوس د قلبې غوایان خپله نیمه بیه په نس خوري او یو پنډ واښه په پنځه روپۍ خرڅېږي، ښه به دا وي چې خپل غوایان خرڅ کړم او په وښو خرڅولو هم ډېرې پیسې پیدا کړم، چې ژمی تېر شو او پسرلی راغی بیا به د یوې دپاره غوایان واخلم خپله دهقاني به کوم.

بل دهقان غوایي نه درلودل هغه هم ده غوندې هوښیار او د فکر خاوند و، هغه وویل چې اوس ژمې دی غوایان په نیمه بیه لاس ته راځي، نو راشه همدغه اوس غوایان واخله او پسرلي ته مه ګوره، ځکه چې هغه وخت دغه نرخونه نه پاتې کېږي. دا دوه هوښیار دهقانان په سودا کې جوړ شوو او هر یوه دا ومنله، چې دغه سودا د ده دپاره سودمنه ده.

په دې سودا کې دواړو خپل عقل او فکر ښه جنګولي دي، مګر دا یو قمار دی، چې وړونکی یې لانه دی معلوم، انسان که هر څومره عمیق او دقیق فکر وکړي بیا هم دیوه شطرنج باز مثال لري، چې ټول فکر یې د قمار په لوبه کې خرڅیږي او بې د چا نس له موافقه لوبه نه شي وړلی. دا دوه دهقانان هم په حقیقت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شطرنج بازان دي او هغه چالونه شطرنج بازان يې داسې او پيل په وړاندې کولو او بېرته کولو کې سنجوي. دوی يې د غوايانو په خرڅولو او اخيستلو کې له نظر لاندې نيسي، مګر دومره خبره ده چې دوی له يوه چاله زيات نه شي سنجولی او فکرونه يې له ابتدا او انتها نه تجاوز نه کوي. هغه يو د وښو ګرانيويني، د غوايانو ارزاني نه ويني، دغه بل دغويو ارزانۍ ته ملتفت دی، د وښو قيمت ته يې پام نه دی.

د غويو خاوند، چې خپل غوايي يې په هغه بل خرڅ کړ، هغه مجبور شو د ده واښه هم په ګران قيمت واخلي او کڅوړه تشه کړي.

د دوی سودا خوسرونيوه اوبه ګورو، چې چانس او طالع له کوم يوه سره ملګرتيا کوي او دا بيع د چا په ګټه تماميږي.

په دې انتظار کې څه موده تېره شوه، پسرلی لا نه و راغلی، چې تاکو راغی او د دهقان دواړه غوايان په تېره چوړکۍ حلال شوه. لومړي په خپلې هوښيارۍ شکرونه ويستل او ويل يې زه پوهېدم، چې زنده جان مال مرګ او درد لري، هسې نه چې د ښارويو مرض راشي او لوی تاوان راواوړي، نو راشه خپل غوايي پرې خرڅ کړه او پيسې نغدې کړه. په کور او کلي کې به يوه او بل ويل، چې د غويو پلورنکی هوښيار و ګټه يې وکړه هغه بل کم عقل و، ځکه يې تاوان وکړ.

هر کله چې د لومړي دهقان هوښياري ټولو ومنله، نو هغه بل خپلې ناپوهۍ ته ملتفت شو او ګمان يې کاوه، چې هغه په رښتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ورځ لیدله او زه خدای ړوند او کوڼ کړم، چې له پسرلي نه مې دمخه غوايي واخیستل.

څو ورځې، چې نورې هم تېرې شوې د لومړي دهقان په کور غدۍ ولوېده. دی کم بخت ووژل شو او پیسې غلو ویوړې دا ټاکو د غوايي له ټاکو نه هم بتر و، چې هم سر لاړ او هم مال. یه کور کې یې کونډه او یتیمان پاتې شول، چې خپل خوراك او پوښاك ته حیران و. هر چا به ویل، چې نغدې پیسې په کور کې ساتل همدغسې کارونه لري. ده غریب د ځاریو مرګ او درد لیده او خپل مرګ یې نه لیده دغه وخت دا معلومه شوه، چې دویم دهقان، یعنې دغویو اخیستونکی ترده هوښیار و، د هغه بلا په مال ولګېده او د ده په ځان شوه اوس، نو ده خپل برېت تاوول او ځان ته یې عاقل خان ویلې.

دغه وخت پېښو او حوادثو دا څرګنده کړه، چې د دهقانانو په پوهه او سنجش کې څه ډېر فرق نه و، دواړه لکه د یوه خره غوږونه برابر وو، یوه که د غویو مرض لیده، د تورې شپې غله یې نه لیدل هغه بل، چې له غلو نه خبر و د غویو مرض ورته نه و معلوم.

وګورئ! پېښې او حوادث زمونږ په قضاوتونو او فیصلو کې څومره دخل لري که دهقان په کاله غدۍ نه وای لوېدلی هوښیاري ترېنه هېچا نه شوه وړلی، مګر کله چې غلو د ده سر او مال ویوړه هر چا پرې د بې عقل فتوا وکړه.

دا ده زمونږ پوهه او هوښیاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه جنازې

په یوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې هغه یو د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و ، هغه جنازه څلورو تنو په اوږه رااخستې وه. د دې بل په جنازې پسې بې حسابه لوی او واړه موټرونه روان وو.

هغه یوه وینه نه درلوده، ځکه مړ شو ، د دغه بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه، ځکه یې ژوند ونه شو کړای.

دوی دواړه مړه شول، مګر مرګونه یې یو راز نه وو او مرضونه بېل وو ، یو د نورو وینې هم څکلې وې او دېته محتاج و ، چې ډاکټران یې له وجوده وینه وباسي. بل ته چا خپله وینه نه وه پرېښې او بې وینې و.

یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو ، هغه چې فقیر و او په فقر الام مړشو ، د هغه له مرګه د باختر اژانس هېڅ خبر نه شو ، د دې بل د مرګ اطلاع اخبارونو په ډېر تاسف اخستې وه او د جرایدو مخونه یې په ماتم کې تور شوه.

دوی دواړه یو بادار او بل مزدور و ، څه موده پخوا ښاغلی بادار رنځور شو ، ډاکټر د مزدور وینه د رنځور وجود کې انجکشن کړه، د مزدور قوي وجود کمزوری شو او بادار په لږ وخت کې د هر راز خوراکونو په زور او د عیاشي په وجه په فشار خون مبتلا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته چې دغه شان باداري او مزدوري وي دغه شان کارونه کېږي او د يوه په ځای دوه مري.

يو کمزوری کول او بل قوي کول د دواړو په مړينه تماميږي او د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شان وي.

مونږ دا راز مرګونه طبيعي ګڼو، مګر په حقيقت کې قتل او مقاتله ده، چې د وينو پور ورته ويلی شو.

په دغسې مرګونو کې هم قاتل او هم مقتول شته، مګر زمونږ پوليسان او حاکمان پرې نه خبرېږي او داسې معنوي قتلونه له نورو نه دوی ډېر کوي.

دلته دا عبادت دی که چا څوك په ټوپك وويشت يا يې په چړو وواهه پوښتنه يې کېږي، مګر که چا د چا ډوډۍ وخوړه او هغه له لوږې مړشو، دغسې قاتل ته سزا نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملیت او ملي استقلال

هغه وخت چې یو کوچنی ماشوم په خبرو نه پوهېږي او خبرې نه شي کولی، نو د مور او پلار نوم نه هم نه پېژني او په ذهن کې یې د خپل او پردي مفهوم نه وي ناست. د کورنۍ او قبیلې، د قام او ملت څه فکر له ده سره نه وي او له دغو الفاظو سره وروسته اشنا شي، مګر په همدغه حال کې هم دومره تمیز لري، چې خپله مور پیژني او خپل پلار هم نه غلطوي.

دا د پوهې لومړۍ نښه ده، چې د ماشوم په سترګو کې ظهور کوي او دایره یې ورځ په ورځ لویېږي.

دا احساس له عقل او تفکر نه پخوا پیدا کېږي او د مشرۍ حق لري. د انسان د معرفت اساس همدغه دی او له همدغې نقطې نه د بصیرت او بصارت لیکه شروع کېږي. د ماشوم فکر چې هر څومره وده کوي هغومره د خپلوانو په پیژندلو زیات موفق کیږي او خپلوان یې ډېرېږي، یعنې له کوره کورنۍ ته راشي او له کورنۍ نه قبیلې ته ورننوزي او بیا له ملت او ملیت سره اشنا شي، یعنې د خپل ولس ټول افراد خپل وګڼي او د یوه بېل ملت ټول افراد ورته پردي ښکاره شي.

د خپلو او پردو د پېژندلو وروستۍ حد همدغه دی او د دنیا ملتونه په همدغه حد ولاړ دي.

د یوه متمدن او مترقي انسان معیار همدغه دی، چې د قرابت سلسله یې دغه حد ته ورسیږي او د کور او کورنۍ، د قام او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبیلې په تنګه دایره کې ایسار پاته نه شي. د دې خبرې معنیٰ دا نه ده، چې نړېدې خپل او لرې خپل په منځ کې به څه فرق نه وي او د ملت هر فرد به عیناً خپل سکنی ورور ګڼي یا به د کور او کورنۍ دایره محوه کوي او په دغه لویه دایره کې به اوسي.

نه هېڅکله داسې نه شي کېدای، بلکې څنګه چې هر سړی په خپل کور کې اوسي او کور یې په یوه لوی ښار کې وي او ښار په یوه مملکت کې واقع دی هر فرد به په خپل ملت کې همدغه شان وي او په دغه ډول به ځان یو واړه ملت جز ګڼي. خپل ځان د ملت جز ګڼل او دغه کل پېژندل همدغه معنیٰ لري، چې د خپل پردي فرق به کوي او دواړو ته به په یوه نظر نه ګوري. که څوک د خپل ملت او پردي ملت فرق نه کوي یا یې نه شي کولی هغه د کوم ملت جز نه ګڼل کېږي. که څوک هېڅوک پردې نه ګڼي هغه په حقیقت کې هېڅوک خپل نه ګڼي او خپلوان نه لري. که پردیتوب په دنیا کې نه وای خپلتوب به هم نه و.

ملیت او ملي وحدت په همدغه احساس بنا دي، چې سړی د خپل او پردي فرق وکړي او دواړو ته په یوه نظر ونه ګوري دا حس په انسان کې ډېر قوي او ډېر طبیعي دي. د انسان په فطرت کې دا خبره پرته ده له پردي زویه به خپله لور ښه ګڼې او خپل به ورته ښاغلي معلومېږي.

دغه احساس په یوه قام او یوه ملت پورې اختصاص نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چېرته همدغه حال دی او په دې کار کې د مشورې او سلا څه فرق نه شته. د خپل او پردي تمیز په ډېرو بې تمیزو خلکو کې هم شته. مسلمان او کافر پو او ناپوه د خپل او پردي په فرق قایل دي.

څو زره کاله پخوا هم خپل خپل و او پردي پردي و، څو زره کاله وروسته به هم دغه شعور او دغه احساس موجود وي دا هغه حقیقت دي چې، په شرق او غرب کې نه بدلېږي او په هر دین او هر آئین کې شته هغه زمانه په خیال او تصور کې نه راځي، چې یا ورورې او عزیزګلوي دومره بېخونده شي، چې د یوه پلار زامن ځانونه پردي ګڼې یا پردي خلک د عشق او محبت هغه جذبه پیدا کړې، چې هر څوک هر چا ته ورور او عزیز ووایي او د یوه میراث د ټول عالم حق وګرځي، زه یقین لرم چې هېڅکله به مینديې او پلرونه د نورو او لاد ته په هغه نظر ونه ګوري، لکه چې خپل بچو ته ګوري.

زه دا نه شم منلی، چې د خپل او پردي مرګ به په خلکو یو شان اثر وکړي او په دغه ویر او هغه ویر کې به څه فرق نه وي موجود.

په عمرونو به د مور ژړا او د خور ژړا له نورو نه فرق لري او هر څوک به د خپل پلار په مرګ یتیم کېږي.

هغه زمانه د هېچا په تخمین کې نه راځي، چې د خپل او پردي کاله توپیر او تمیز له منځه لاړشي او ټول کورونه خپل شي یا ټول پردي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس خو روند هم د خپل کاله لاره نه ورکوي او ښاروي هم ماښام خپل کاله ته راځي، په دې بې ثباته دنيا کې، چې کوم شی ډېر ثابت او پايدار معلومېږي هغه د خپل او پردي فرق دی.

مليت او قوميت په همدغه ټينګ اساس ولاړ دي او ملي وحدت د فطرت د تشکيلاتو فصل او باب دي.

دغه متمايز رنګونه، چې په اقوامو او مملکتو کې وينئ ډېر پاخه دي او هېڅوک يې نه شي بدلولی.

له دغه وحدت سره، چې په يوه ملت کې يې وينئ، هغه غيرت تړلی دی چې يو ملت يې د بل په نسبت احساس کوي.

که چا د خپلو او پردو فرق نه کولی، ملتونه به نه وو جوړ شوي او دغه سياسي او ملي تشکيلات، چې نن وينئ په دغه ډول به نه وو.

همدغه د ځان او د بل فرق دی، چې يو ملت د بل ملت سلطه او نفوذ نه مني او د خپل ملي استقلال دپاره ډېرې لويې قربانۍ ورکوي.

مراکش او تونس همدغه احساس له فرانسويانو نه بېل کړل او الجزاير هم د دغه حس او شعور په قوت د فرانسې له لوی قوت سره په جګړه اخته دي.

د پښتونستان توريالي ملت د پاکستان په مقابل کې همدغه احساس ټينګ درولی دی، هغه پرديتوب چې د دې دواړو ملتونو ترمنځ موجود دی ارومرو دوی يو له بله بېلوي او دا بېلتون ډېر حتمي او يقيني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز ترکیب او تالیف، چې په زور او جبر بنا وي او انساني فطرت ترېنه کرکه کوي ډېر بې بقا او بې وفا معلومېږي.

د خپل او پردي تمیز د فطرت قانون دی او هر سیاست، چې له دغه قانون څخه مخالف وي هېڅ قوت یې حمایت نه شي کولی.

د بشر فطرت او طبیعت په بله خوا ګرځول د انسان کار نه دی او عقل یې نه مني. نن ملي شعور او ملي احساس ډېر قوت موندلی دی او له دغه قوت سره هېڅ قوت مقابله نه شي کولی، ځینې ګمان کوي چې که علم ډېره ترقي وکړي او د ګډ ژوند وسایل زیات شي، نو ملي او قومي تعصبات به ورک شي او ټول عالم به د بشریت په نامه یو وجود شي، یعنې بیا به د خپل او پردي فرق نه وي او درست ملتونه به یو ملت شي. دا ارزو په اول نظر ډېره ښکلې معلومېږي، مګر له حقیقت نه دومره لرې ده، چې مونږ د مریخ له کرې نه هم دومره لرې نه یو. اوس خو مونږ وینو او ګورو، چې د دنیا ډېر پوه او مترقي ملتونه له نورو نه په خپل ملیت ډېر ټینګ دي او ملي احساس په متمدنو قومونو کې ډېر قوي دی.

همدغه احساس د نن ورځې په ادب او فلسفه کې ډېر اثر لري او په انسان کې یې ډېره خودي او خود شناسي پیدا کړې ده. د جهان د څو زرو کالو تاریخ په همدغه بنسټ ولاړ دی او دغه بنیاد یې ډېر مضبوط کړی دی.

نن د هر ملت په نظر کې خپل ملي استقلال د یوه ډېر لوی ناموس حیثیت لري او له دې نه لوی افتخار بل نه شته. د دغه مقصد دپاره خلک سونه اولادونه قربانوي او بې استقلاله ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرلوی ذلت ګڼي، که چېرې ملي احساس او ملي شعور په ډېر قوت موجود نه وای د استقلال قیمت به ډېر لړ و او د دنیا لویې امپراطورۍ به نه ړنګېدی، استعمار به دغسې بده قیافه نه درلوده او یو ملت به د بل ملت له سیوري لاندې خوشحاله و.

دغه ملي جشنونه، چې هر مستقل ملت یې د خپل استقلال په یاد کوي او په ډېر قدر ورته ګوري د ملیت تجلیل او احترام په کې پروت دی او همدغه معنیٰ لري، چې یو ملت د بل ملت حاکمیت په ځان نه شي منلی. مونږ باید په دې خبره ډېر فکر وکړو، چې ملي استقلال د ملي احساس او شعور محصول دی. هر څومره چې دغه حس قوي وي هغومره به زمونږ استقلال هم قوي وي. د استقلال ساتنه د ملیت قوي جذبې ته ډېر شدید ضرورت لري، که دغه احساس په یوه ملت کې کمزوري شي هغه د استقلال په قدر او قیمت نه شي پوهېدلی او د همدغې ناپوهۍ په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي.

مونږ باید خپل ملي امتیازات ملي شعور او ملي احساس ډېر ټینګ وساتو او د خپل استقلال تقویه ورپورې مربوط وګڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي يو والی

هغه خلک، چې په يوه وطن کې اوسېږي ګټه او زيان يې يو وي، د يوه واکمن امر ته يې غاړه ايښې وي له يوه بېرغ لاندې راټولېږي او مشترک تاريخ لري يو ملت بلل کېږي.

افغانستان يو وطن دی، د دې وطن اوسيدونکي يو ملت دی، د دې ملت نوم افغان دی، لکه چې په افغانستان کې ساړه او تاوده، وچ او لامده، هسک او ټيټ ځايونه شته، چې په ځينو کې يو راز غلې او ميوې کيږي، په ځينو کې بل راز. په ملت کې هم راز راز خلک شته، چې کړه وړه يې يو بله ځيني فرقونه لري. مونږ ته په کار دي، چې په دې خبره ښه ځان پوه کړو، چې وطن هغه تنګ او ګوچنی کور نه دی، چې د يوه پلار او د يوې مور او لادونه به پکې استوګنه لري او نه هغه کلی دی، چې ټول اوسېدونکي به يې يو خپل يا يو قوم وي. په دې اوسنۍ زمانه کې اوس ځينې داسې کورونه هم شته، چې يو مسلمان پښتون له يوې روسۍ يا امريکايۍ مېرمنې سره پکې اوسي او دواړه د يوه او لاد مور او پلار وي.

هر کله چې په يوه کاله کې دا حال وي، نو په يوه لوی وطن کې به ولې هندو او مسلمان، شعيه او سني، پښتون او تاجک د يو ملت په حيث نه اوسيږي.

زه ډېر داسې دوه ورونه پيژنم، چې يو پښتو وايي او بل پارسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ښايي چې تاسې به کله داسې سړي ليدلي وي، چې لاس او پښې نه لري، سترګې يې ړندې او ژبه يې ګونګه وي، مګر ژوندی وي.

دغه راز سړی که په ګېډه موړ او په تن پټ وي او په ښه کور کې اوسي، يعنې د شتمنۍ کورنۍ غړی وي بيا هم د ده ژوند بې خونده او بې اهميته دی.

په ژوند کې چې حرکت او فعاليت نه وي او له قوت او قدرت نه محروم وي، څه ارزښت نه لري. هغه ژوند چې پوهه او بصيرت ورسره نه وي او د شعور او احساس برخه يې نيمګړې وي ښه ژوند ورته نه شو ويلی. ګېډه مړول، په ښه کور کې اوسېدل او ښه اغوستل د ژوند لومړي ضرورتونه دي، مګر کافي نه دي. په ژوند کې د ذهن او روح اطمينان د اينده په نسبت ښه انتظار، د انساني ازادۍ او بشري حقوقو تامين او تکميل ډېر مهم ضرورتونه دي.

په ژوند کې له کميت نه کيفيت ډېر مهم دی. ژوند بايد ښکلی او ښاغلی وي.

د ژوند دپاره جمال او جلال دواړه په کار دي.

لذت او افتخار د ژوند لاس او پښې يا د الوتلو وزرونه دي.

که ژوند خوار او غريب وي دا دومره ډېره د افسوس خبره نه ده.

ډېر افسوس هغه وخت په کار دی، چې له ژوند نه د خلکو زړونه تور شي او ژوند ته په کرکه وګوري. د يوه هېواد د واکمنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرانو کار یوازې دا نه دی، چې د خلکو ژوند ښه کړي، بلکې ستر او مهم خدمت دا دی، چې د ژوند مینه په زړونو کې زیاته کړي او هیلې، اسرې را ژوندۍ کړي.

کېدای شي، چې په جنت غوندې ځای کې سړی له ژوند بېزاره شي یا په جونګړه کې له ژوندانه سره مینه ولري. په ژوند کې یو معتدل حالت ډېر ښه دی او ښه ژوند هماغه دی، چې اعتدال پکې وي، یعنې نه ظالم وي او نه مظلوم، نه د چاباداروي او نه یې څوک بادار وي. هو! اجتماعي عدالت تل د ژوند دپاره ډېر ضرور دی، د ژوند ساتنه، د ژوند وده او د ژوند خوشحالي په همدغسې معتدله هوا کې امکان پیدا کوي.

چېرته چې عدالت او عدل نه وي هلته ژوند خوښ او ښاغلی نه وي او په دغسې ځای کې ژوند ډېر لوی عذاب دی.(وقناعذاب النار).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مترقي ژوند

ژوند د تحول او تکامل نوم دی. صحراکانې چې په پېړیو په یوه حال پاتې دي، ژوندي ورته نه شو ویلی.

د پسرلي ګلونه، چې له ځمکې را ټوکیږي، لویږي، غوړیږي، مړاوي کیږي او خاورې کیږي په ژوندانه کې برخه لري او ژوند د همدغسې تغیر او تحول نوم دی. هغه غله چې په کندو یا په ګوډې کې پرته ده او هغه، چې دهقان یې په ځمکه کې کري د ژوند په لحاظ ډېر فرق لري.

همدغه له خاورو لاندې زرغونېدل، لوئیدل او پخېدل د ژوند انتظار دی او مترقي ژوند همدغه دی.

که مونږ انساني او حیواني ژوند مقایسه کړو، پوهېږو چې په انساني ژوند کې تغیر او تحول، یعنې د حالاتو بدلون ډېر زیات دی او غیر له انسانه په نورو حیواناتو کې تحولات ډېر لږ دي. حیوانات په زرګونو کالو کې هغومره فرق نه کوي، لکه چې انسانان یې په څو کالو کې کوي.

انسان په مرور د زمان خپل لباس، خپل کور، خپل خوی خپل فکر بدلوي او وخت په وخت په بل رنګ او بله بڼه را اوزي.

یو عصر له بل نه د همدغو تحولاتو په بنا بېلېږي او بدلیږي.

د عصر او زمانې په اقتضاء له ماضي نه مستقبل ته راتګ، زوړ حال پرېښودل او د نوي حال قبلول مترقي ژوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه قام چې د حالاتو په بدلون قادر نه وي او خپل زوړ فکر، زوړ خيال، زوړ عادت، زړه پوهه په نوي نه شي بدلولی مترقي ژوند نه لري.

د ژوند د بقاء او لوړتيا دپاره د انسان په طبيعت کې د تحول او تجدد غوښتنه پرته ده او قدرت هم د تغير او تحول قانون په ټولو مخلوقاتو جاري کړی دی.

هغه ژوند، چې د ودی او لوړتيا په حال کې وي د تجدد خوا ته ډېر تمايل لري.

کوم ژوند چې مرګ ته نږدې وي طبعاً د مړينې خوی او عادات پيدا کوي.

همدغه سبب دی، چې کوچنيان او ځوانان نوو شيانو ته ډېره هڅه کوي. نوی لباس ښه ګڼي او نوې کورنۍ له زړې جونګړې نه ډېره خوښوي، مګر زاړه او سپين ږيري له زړو شيانو او زړښت سره خدای پامانۍ ته نه دي تيار.

که مونږ د دنيا مترقي ملتونه له هغو قومونو سره مقايسه کړو، چې ژوند يې د ترقۍ په حال کې نه دی، دا به ومنو چې د مترقي حالت تغير او تحول ډېر ګړندی او په ببرته پاتې قومونو کې تحولات ډېر ځنډني دي. د جهان تاريخ همدا ښيي، چې د بشري ټولنو تحولات په لومړيو مرحلو کې ډېر سست وو او اوس پکې ډېر ګړنديتوب راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک غواړي، چې خپل ارتقايي سير او حرکت ځانته معلوم کړي، خپلو اجتماعي تحولاتو ته دې ځير شي او ودې ګوري، چې په عمومي او ضاعو او حالاتو کې څومره فرق راغلی دی.

د یوه ملت د پوهې او هوښیارۍ د معلومولو دپاره هم اجتماعي تحولاتو ته دې ځير شي او ودې ګوري، چې په عمومي اوضاعو او حالاتو کې څومره فرق راغلی دی.

د یوه ملت د پوهې او هوښیارۍ د معلومولو دپاره اجتماعي تحولاتو او تجدد پسندۍ ته کتل په کار دي.

د علم او پوهې خاصه او مميزه همدغه ده، چې په انسان کې د زړو دودونو او رواجونو پابندي کموي او د نوي عصر ضرورت او احتياج ته يې متوجه کوي، يعنې د تقليد پښې سپکوي او د عقل او منطق په اساس د نوو افکارواو نوو خيالاتو د قبلولو استعداد ته ترقي ورکوي او ابتکاري قوه زياتوي.

د عرف او عادت له غلامۍ څخه ازادي، د مدني پېشرفت په برکت حاصلېږي او زاړه ناکاره رواجونه د همدغې رڼا په مرسته له مينځه ځي.

راشئ! چې اوس خپل ځانته په ډېر ځير وګورو او پخپل حق کې قضاوت وکړو، چې مونږ د نوي ژوند په قبلولو کې څنګه يو او د نوو افکارو په څرګندولو کې څومره جرئت او همت لرو.

زمونږ ذهني ازادي، چې د پوهې او تنوير نتيجه ده ترکومه حده ده او له اجتماعي نهضتونو سره څومره علاقه لرو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خلکو نظر

انسان ډېر زيار کاږي، چې د نورو په نظر کې ښه شي او خلک ورته ښه ووايي.

د دغه مطلب دپاره دې ډېر ځله سمه لاره پرېږدي او په کږه لاره ځي، يعنې حقيقي ښه والى بدلوي او د دې دپاره، چې د خلکو په نظر کې ښه معلوم شي، نو د ريا او تګۍ رنګونه هم په ځان پورې مښي.

د خلکو نظر هم عموماً سم نه وي او ښه يا بد پېژندل د هر چا کار نه دى، ځکه ځينې بد کسان هم د خلکو په نظر ښه ورغلي دي.

زه دانه وايم، چې سړى دې د نورو د نظرمراعات نه کوي.

او دود دستور ته دې نه ګوري، ځکه دا کار هر څوک نه شي کولى او علا الاطلاق ښه هم نه دى.

ما ته معلومه ده، چې د نورو ښه او بد نظر د انسان په ژوند کې څومره اثر لري. د ډېرو خلکو ډېرې خوشحالۍ او ډېر خپګانونه د نورو د نظر اغېزه ده او د خلکو نظر په سړي باندې هر څه کولى شي.

څنګه چې د يوه نظر باز نظر روغ سړي رنځور کوي او ډېره ښه مانۍ را نړوي دغسې د اجتماع نظر هم ډېر قوت لري او ډېر خلک يې ځانته تابع کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر کسان شته، چې پخپلو سترګو څه نه ګوري او ښه و بد د نورو په نظر پېژني.

د خلکو نظرونو ډېر ښه شیان او ډېر ښه خلک هم بد معلوم کړي یا یې بد ښه ښودلي دي، خلک لا پرېږده چې یوازې د حاکم په نظر به هم ښه سړی بد ېږي، نو بد سړی ښه کېږي، یعنې د نورو نظر په سړي اثر اچوي او په ژوندانه کې ډېر دخل لري. که هرڅنګه سړی وي او د مودو ځوان وي بیا هم د نورو په ښه نظر خوشحالېږي او په بد نظر خوابدي کېږي، کله کله سړی د دې دپاره، چې د خلکو ښه نظر ځانته جلب کړي د هغوی نظر ته دومره ورجذب شي، چې هر څه د نورو په خوښه کوي او له هر څه ورته تېرېږي، د همدغې جذبې دپاره کله انسان ځینې ښه کارونه هم کوي او له ناوړو کارونو نه ځان ساتي، قرباني او فدا کاري، د نورو خیر غوښتل او نورو ته ګټه رسول، په فن او هنر کې نوم ایستل، د نورو د ښه نظر د جلبولو اثر او برکت دی. که چېرې چا د نورو نظر ته په اعتنا نه کتلی انسانان به لکه د صحرا کاڼي یو له بله بې تعلقه وو او بل شان ژوند به یې کاوه، مګر ډېر ښه ده چې دغسې نه دي او د نورو په نظریه هم کار کوي. دا کار د اخلاقو د اصلاح دپاره هم ښه دی او د بې مبالاتۍ مخه نیسي

زه دغه کار ته ښه وایم، مګر داسې چې په هېڅ حد او اندازه ورته قایل نشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی باید په دغه باب کې دومره افراط ونه کړي، چې د نورو د نظر حلقه بګوش غلام شي او خپل فکر او شعر پکې داسې بایلي، چې د ده شخصیت او حریت محوه شي او هېڅ ورته پاته نه شي.

څومره چې د انسان د شخصیت تجلي ته د نورو حسن نظر په کار دی، هغومره د نورو نظر ته ځان سپارل د انسان شخصیت هم محوه کوي.

د هر مجلس په رنګ رنګین کېدل او د هر چا فکر او نظر ته خضوع او خشوع د سړي شخصیت راټیټوي او د عادي انسانانو په ډله کې یې دروي. انسان باید ډېر کوښښ وکړي، چې خپله ازادي ورځ په ورځ زیاته کړي. د فکر د حریت د پاره خدمت وکړي او پخپل شخصیت متکي شي.

د هنر خاوند، چې هر څومره له ابدیت نه زیاته استفاده وکړي او له انسانیت سره زیات تعلق پیدا کړي، هماغومره له خپل عصر او محیط څخه لوړېږي او معاصرین ورته په ښه نظر نه ګوري.

د عصر او زمانې له خلکو سره غوړ په غوړ تلل او د هغوی په فکر ځان برابرول د عادي خلکو کار دی. فوق العاده اشخاص او د لوړ فکر خاوندان هېڅ کله په دغسې قید او زندان کې نه اوسي او د خلکو ستاینې ته دغومره سر نه ټیټوي.

پوهان هر وخت په هر څه کې د خپل وجدان او ضمیر غږ ته غوږ ږدي او ناپوهان له اندازې نه زیات د یوه او بل نظر ته ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بصیرت خاوندان له دې خبرې سره دومره ډېره علاقه نه لري، چې د خلکو په نظر کې ښه ښکاره شي، بلکې کوښښ کوي، چې د خلکو نظر ښه کړي او ښه نظر پیدا شي.

د جامعې اصلاح او د فکر خدمت سړی مجبوروي، چې له هغو خبرو او هغو شیانو سره مبارزه وکړي، چې هغه په جامعه کې ښه ګڼل شوي دي، مګر ښه نه دي.

که څوک د خلکو د نظر مراعات کوي، نو هغه بتان نه شي ماتولی، خلک ورته په ښه نظر ګوري، بلکې مجبورېږي چې سر ورته ټیټ کړي او خلک ده ته هم په ښه نظر وګوري.

دغه راز خو د خواهي او خود پرستي، چې ظاهراً غیر پرستي ده باید سړی پرېږدي او د نورو د نظر مراعات له اندازې نه زیات ونه کړي. د خلکو قضاوتونه اکثراً صحیح نه دي او پدې نه ارزي، چې سړی هر څه ترېنه قربان کړي.

د خلکو خدمت دا نه دی، چې سړی به ارومرو د دوی د خوشحالۍ دپاره کار کوي، بلکې حقیقي خدمت دا دی، چې د خلکو خیر او ګټه په نظر کې ونیول شي او فکرونه، نظرونه، کارونه، خویونه اصلاح شي. که سړی د هر چا کار ته ښه وایي، چې هغه خوشحاله شي او ده ته په ښه نظر وګوري دا ډېره ټیټه سودا ده او د غلامۍ بوي ترېنه ځي. که څوک خپه کېږي او خوشحالېږي، که خلک سړي ته په ښه نظر ګوري که په بد نظر، سړی باید ښو ته ښه او بدو ته بد ووایي. د بیان او وینا ازادي همدغه ده، د فکر او قلم ازادي همدغه تقاضا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه او بل ښه نظر دومره قیمت نه لري، چې د انسان ازادي سلب کړي او په غوږ کې یې د غلامۍ کړۍ واچوي. د نورو نظر که هر څومره ښه وي بیا هم هر سړی پخپلو سترګو بینا دی او له خپل نظر نه کار اخیستل په کار دي. که څوک هر څه د نورو په نظر ګوري خپل نظر ته به شرمنده وي او د بصیرت حق به یې نه وي ادا کړی.

سړی باید یوازې د پوهانو نظر په نظر کې ونیسي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حق اظهار

په هر هېواد کې، په هر ولس کې، په هر عصر کې ځینې اشخاص په کار دي، چې د حق اظهار خپل فرض وګڼي او خپل مال، خپل سر، خپل مقام ونه ساتي حق او حقیقت وساتي.

ولسونه دغسې خلکو ته له حده زیات محتاج دي، د ظلم د جبر او د ناروا ملا همدغه کسان ماتوي.

که دغسې خلک په یوه محیط کې نه وي، هلته داسې تیاره او تور تم وي، چې د حق او باطلو فرق نه شي کېدای، خدمت او خیانت، روا او ناروا د خلکو په نظر کې یو شان جلوه کوي. هغه اشخاص باید له سرو او سپینو سره وتلل شي، چې د زور او قوت یا د مال او دولت په خاوندانو پسې نه وي روان، بلکې په حق او حقیقت پسې درومي او حقایق څرګندوي.

ولسونه د همدغسې ایماندارو خلکو په بدرګه منزل مقصود ته رسېږي او همدغه اشخاص دي، چې ظلم او استبداد محوه کوي.

که دغسې خلک چېرته نه وي، نو هلته عدالت نه شته، انصاف نه شته، حقیقت شته او انسانیت هم بل راز څېره لري.

هر څوک باید په دې پوه شي، چې حق ویل لوی عبادت دی او حق نه پالل لویه ګناه ده، دا ګناه په دنیا کې هم انسانان په سل رنګه عذابونو ګرفتاره کوي او په ژوندوني بنیادمان په دوزخونو کې اچوي. که د حق او حقیقت رڼا مړه کېږي دا مرګ د ملت او ولس مرګ دی او د عدالت جنازه هم سمه ورسره وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې کسان وایي، چې د حقایقو په اظهار کې د وخت او زمان او د محیط اقتصاد په نظر کې نیول په کار دي او هغه حقایق، چې ویل یې زیان او ضرر لري او نتایج یې بد دي باید ونه ویل شي.

مونږ دوی ته نه وایو د حق او حقیقت شان له دې نه ډېر پورته دی، چې موقع شناسي وپېژني او د اشخاصو د اقتضاتو قید او شرط ته غاړه کېږدي.

د حقایقو د اظهار دپاره حدود ټاکل او له قید او شرط لاندې یې راوستل له حقایقو سره مجاد له او مبارزه ده.

حق او حقیقت هر کله او هر چېرته د هر چا له خولې، چې وي د اورېدولو او منلو شی دی. د حقایقو پیروي په هر کار کې او په هر حال کې د هر چا دپاره په کارده، ترڅو چې یو قام او ولس په حقیقي لاره روان نه شي او حقیقي اساسونه قبول نه کاندې توره شپه به یې سبا نه شي.

یو مملکت هغه وخت سعادت، قوت او شهامت پیدا کولی شي، چې حقایقو ته نژدې شي. په حقایقو پوه شي او په حقیقي اساساتو استفاده او اتکا ولري. حقیقت لکه د مداریانو ننداره نه ده، چې هر ساعت بېل رنګ او بېل شکل ولري. یوه سمه او مستقیمه لاره که لږه غوندې کږه شي بیا ورته سمه نشو ویلی او تور هر کله تور او سپین هر کله سپین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډار

زه چې وړوکی وم، د شپې به بیبکې تورې د تناره په غاړه د پېریانو، د یوانو یا دروو او شیشکو کیسې کولې او ما به ورته غوږ اینښی و.

دې کیسو په ما کې ډېره وېره پیدا کړه، چې زه یې د شپو له تورتمه، له ورانو کنډوالو، له قبرونو او هدیرو نه ډېر وډار کړم او هره شپه به مې پرېشانه او وېرونکي خوبونه لیدل.

اوس چې لوی شوی او پوه شوی یم هغسې نه یم.

هغه وېره اوس زما په زړه کې نه شته او د شپې له تیارې نه نه ډارېږم.

که زه کومه شپه د هدیرې او یا ورانې کلا له څنګه تېر شم پېریان را باندې نه کښېني، مړي مې مخې ته نه پاڅېږي، د قبرونو له شناختو نه راته بلاګانې نه پیدا کېږي.

ما اوس د شادمان دیو کیسه هېره کړې ده او د شیشکو ډار مې له زړه وتلی دی، مګر ګورئ! دا ګمان ونه کړئ، چې زما وېره به اوس بېخي ورکه وي او هېڅ ډار به راسره نه وي. څنګه چې بې وېرې ژوند انسان ته نه ښایي او هغه انسان، چې په زړه کې یې هېڅ ډار نه لري، له یوه ځناور نه ډېر فرق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ډار اوس له پخوا نه ډېر شوی دی، پخوا زه د شپې ډارېدم اوس د ورځې هم ډارېږم، د رڼا ورځې ډار د شپې له ډار نه ډېر هیبت لري.

څومره ویره، چې له ښاغلي انسان نه په کار ده له دیو او پیري نه نه ده په کار.

پخوا زه له مرګه وېرېدم، اوس ژوند زما په نظر کې ډېر مصیبت دی.

زه اوس له مړو نه نه وېرېږم له ژوندو ویرېږم.

کله چې زه کوچنی وم زما ډار هم کوچنی و.

هغه وخت، چې زه ناپوه وم زما ډار هم ناپوه و او د ډارولو په چل دومره ډېر نه پوهېدم، یو کوچنی ماشوم د خلکو له څپېړو او قهرو غضب څخه ویرېږي، مګر لویان او پوهان د خلکو له خندا نه هم ډارېږي.

یو پوه او هوښیار سړی له مکروبونو او د ملاریا له میاشو نه هم ډارېږي، مګر ماشومان او نا پوهان له دغسې ډار سره اشنا نه دي.

د یوه کوچني ماشوم د ډار دپاره تعویذونه هم شته، مګر د لویانو ډار په تعویذ هم نه ورکیږي. د واهمې ډار دومره دوام نه لري، لکه د عقل او پوهې ډار، چې درونند او دوام دار دی. پخوا مونږ له هغه جنګ څخه وېرېدو، چې په کور او کلي کې به پېښ شو اوس له هغو جنګونو نه هم په وېره کې یو، چې د دنیا په یوه سر او بل سر کې پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت زه نورو ځخه ویرېدم اوس له خپل ځانه او له خپل عمل ځخه هم وېرېږم. پخوا به چې چا د لارې ملګری پیدا کړ، وېره به یې کمه شوه، مګر اوس له خپل ملګري ویرېږي او ورور له ورور نه په خوف کې دی.

مونږ اوس پوهېږو، چې شیشکې او دیوان او پېریان انسانانو ته څه زیان او ضرر نه رسوي، لکه چې خپله انسانان یې یو بل ته رسوي.

زمونږ دښمنان په کور و کلي کې نه، بلکې زمونږ په ځان کې موجود دي.

مونږ باید له ځانه وډار شو او په ځان وډار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقيقت

دا کلمه زمونږ په نظر کې ډېره ښکلي معلومېږي او په تقدس ورته ګورو، مګر څومره چې حقيقت ستايو هغومره حقيقت نه وايو.

که حقيقت ستايو هغومره حقيقت نه وايو.

که حقيقت رښتيا وبولو، نو رښتيا خو يا لېونی وايي يا زورور او دا دواړه زمونږ په هېواد کې ډېر لږ دي.

د حقيقت له لفظ سره ډېر ځله تريخ کلمه يو ځای کوي او وايي:

«دا يو تريخ حقيقت دی»

هو! حقايق اکثره ترخه وي او حق په تريخوالي ستايل کيږي.

په علمي اصطلاح حقيقت په درې ډوله دی، مهجور حقيقت، متعذر حقيقت او متعارف حقيقت. په دغه لحاظ ويلی شو، چې زمونږ په خبرو اترو کې د حقيقت برخه ډېره لږه ده.

په شعر او ادب کې، خو معلومه ده چې له حقيقت نه مجاز او استعماري پله ډېره درنه ده، د ادب ژبه د حقيقت ژبه نه ده او ډېر خوږ شعر هماغه دی، چې د حقيقت له اظهار سره ډېر موافقت نه لري او ډېر ځله يو سړی د حقيقت په ويلو بې ادبه معلومېږي.

يوه ورځ يوه لوی سړي خپل ليکلي مضمون، چې څوک يې په معنیٰ ښه نه پوهيدل څو تنو پوهانو ته لوسته او خلک يې په ستاينه مجبور کړي وو په هغه مجلس کې، خو هېچا څه انتقاد ونه شو کړای، مګر په بل مجلس کې چې هغه جناب نه و د حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلو او حقیقت بیانولو مسابقه شروع شوه او له ډېر اخلاقي جرئت نه کار واخیستل شو. یوه ویل چې په ټول مضمون کې له سره تر اخره د مبتداګانو یو سلسله وه، چې هېڅ خبر یې نه درلود، بل ویل دا ځکه چې دی پخپله مبتدي دی او له هېڅ نه خبر نه دی، دغه راز حقایق چې د ښاغلي... په غیاب کې وویل شوه د غیبت رنګ یې پیدا کړ، چې شرعي جواز یې نه درلود اخلاقاً ممنوع و.

اوس چې زه دغه حقیقت داسې بیانوم، چې نه د هغه لوی سړي نوم اخلم او نه د غیبت کوونکو پته درښیم دا بیا یو بل ډول حقیقت دی، چې باید ګونګ حقیقت ورته ووایم.

هو! د حقیقت ژبه ګونګه ده او فصاحت وبلاغت د ادب ژبه ده، چې په مجاز، کنایه، اشاره او استعاره چلیږي.

اوس پوه شوئ، چې زمونږ په وینا کې د حقیقت برخه ډومره خواره ده او د حقیقت د اظهار دپاره څومره موانع موجود دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما نظر

صحرا ته لاړم یو کاڼی له بل سره برابر نه و.
غرونو ته وختلم، ځینې جګ او ځینې ټیټ وو.
ښارونه مې وکتل ځینې کورونه لوی او ځینې واړه وو.
په باغونو وګرځېدم ټولې ونې په یوه مېچ نه وې.
د سیندونو کبان مې ولیدل یو له بل سره په تول کې برابر نه ختل.
د هوا مرغان هم ځینې غټ او ځینې کوچني وو.
ملایان مې ولیدل د چا پګړۍ غټې او د چا وړې وې.
کتابونه مې ولټول هلته هم ډېر تفاوت موجود و.
له یوه هېواده بل ته لاړم او له بل نه بل ته په هر ځای کې ټیټ و پاس او لوړې ژورې وې.
په هېڅ ځای کې نه د یوه لاس ګوتې برابرې وې او نه د یوې خولې غاښونه.
د لوی خدای کتاب مې بېرته کړ او دا مې پکې ولوستل.
ایا پوه او ناپوه برابر دي؟ ایا د ړانده او بینا څه فرق نه شته؟ ایا د جنت او دوزخ خاوندان څه توپیر نه لري؟ ایا نور او ظلمت یو راز دي؟ په دې پوښتنو د غفلت له خوبه راویښ شوم او هرې خوا ته مې په ځیرځیر وکتل، څنګه چې د یوه پټي ټېپر او د یوه بوټي کدوان یو راز نه و، د انسانانو سرونه هم غټ او واړه او د ټولو خولې برابرې نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماپه دې عالم کې په وارو وارو سترګې وغړولې او هرچا ته مې له هرې خوا په غور وکتل همدغه وخت زه د پرښتو او لعینانو په معنیٰ پوه شوم، قصابان او شپانه مې وپېژندل، د عدل او ظلم، د خیر او شر، د علم او جهل فرقونه راته ښکاره شوه.

هغه دیوان، چې خلکو له کوه قاف نه هغه خوا ګڼل، ما دلته په کور او کلي کې ولیدل.

د انسان په بڼه شیطان او د پرښتو په صورت د یو سیرت انسان ته مې پام شو.

اوس زما له سترګو نه ډار په کار دی، ته زما له حقیقت بین نظر نه وډار شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق او هوس

نظرونه ټول یو راز نه دي، هر چا هر څه یو شانته نه دي لیدلي.

د عشق نظر او د هوس نظر یو له بله ډېر فرق کوي. د مین او بوالهوس ترمنځ د ځمکې او اسمان قدر فاصله موجوده ده. مین یو لیلیٰ لري او هغه یې هم داسې لیدلې ده، لکه چې په توره شپه کې د غر له څوکې سپوږمۍ لږ غوندې سر ښکاره کړي او بیا سمدلاسه په تورو ورېځو کې پټه شي.

عشق د همدغسې اسماني پرښتې یوه جلوه ده، چې د عاشق په زړه کې طوفانونه پیدا کوي او د انسان نظر یوې نقطې ته داسې جلبوي، چې نور څه بیا نه شي لیدلی او هغه هم نهویني، نور خوندونه او نورې ننداري د سړي هېرې شي او شپه ورځ د هجر او فراق په لمبو سوزي، مګر د هوا او هوس خاوندان د عشق له غمه بې غمه دي. دوی هره شپه په خرابات او میکده کې بل شان لوبې کوي او د عشق او عشرت په باده مست دي.

عشق د ناکامۍ او محرومیت نوم دی. هوا او هوس بې مشقته لذت او بې هجرانه وصال ته وايي.

معشوق ته رسېدل هغه ګران کار دی، چې د جهان لوی لوی امپراتوران یې هم له حده زیات سرګردانه کړي وي او ځینې کسان د ډېرو لښکرو په زور هم دغه سعادت ته نه دي رسېدلي، مګر هوس پالونکي هره شپه یوه نوې لیلیٰ په غېږ کې نیسي او هغه شونډې ښکلوي، چې ډېرو نورو یې هم په وار وار خوند لیدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. هغه چې د هر خريدار دپاره ځان سينګاروي او د يوه په غېږ کې بل ته خاندي، د هوسرانۍ دپاره پيدا ده، نه د عشق دپاره.

دغه راز مبتذل خوندونه د هوسناکو خلکو دپاره لږ نه دي، له دغسې ناپاکې ياراني نه د عشق داستان نه جوړېږي، د دوه مينو وصال هر چا ته ښکلې معلومېږي او هر څوک د مجنون او ليلې په فراق متاثر کېږي، مګر د هوس د خاوندانو معامله بده ګڼي او په نفرت ورته ګوري، دا ځکه چې عشق د خلکو په نظر کې درونډ معلومېږي او هوس ته په سپکه سترګه ګوري. هغه د پتنګانو کار بولي او دا د مچانو هر کار، چې د عشق دپاره وي په هغه کې ارو مرو يو څه فوق العادګي موجوده وي او د هوس د خاوندانو کارونه ټيټ او عادي معلومېږي، هغه قوت او قدرت، چې له عشق سره شته هوس ترېنه محروم دی. فرهادي عزمتونه د عشق د خاوندانو په برخه رسېدلي دي. ايثار او فداکاري د هوس د خاوندانو کار نه دی، سربازي او سرفرازي دواړه له عشق سره ملګري دي، په شعر او ادب کې هم د عشق برخه معلومه ده، هغه څه چې په يوه عالي احساس او لوړ خيال بنا وي او هغه چې د هوا او هوس دپاره وي او په ټيټ غرض بنا وي برابر نه دي، چا چې دغه هنر(ادب) ته د عشق په نظر کتلي دي او د دنيا د سود او ګټې دپاره دا کار نه کوي هغه کله کله په ډېرو جګرخونيو يو ادبي شهکار د ابتکار ميدان ته راباسي او ډنډه وينې يې خوراک وي، څوک چې د بازار رونق ته ګوري او د خپلو هوسونو د تامين دپاره څه ليکي هغه هره ورځ بې زيار او زحمته مبتذل مضامين بازار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې کوي او ظاهري ډول برابروي. هغه هېڅکله عميق فکر نه کوي او په لوړو خيالاتو پسې نه ګرځي.

ژورو فکرونو او د لوړو خيالونو خريداران هر کله او هر چېرته ډېر لږ دي.

دا راز متاع د خرڅولو هم نه ده، څه شی چې په دنيا کې ډېر نادر وي بې له احمقانو نه يې بل څوک نه خرڅوي. د ذوق او هنر په خاوندانو که هر رنګه بده ورځ راشي خپل ګران او ډېر بها شيان نه خرڅوي، مګر عادي او معمولي شيان له کوره باسي.

هغه چې پخپل فن مين دی او له خپل کار سره عشق لري هر راز ناکامي او محروميت قبلوي، مګر عشق په هوس نه بدلوي.

زه دا منم، چې د هوس خاوندان له روحي عذابونو او شکنجو نه خلاص دي او د دنيا په خوږو کې له نورو نه ډېره برخه لري. په دې هم پوهېږم، چې د عشق په کار کې څومره مشکلات موجود دي او په دغه خطرناکه لاره تګ څه مصيبتونه په مخ کې لري او دغه افتخار په ډېرو بدبختيو او کړاوونو کې پټ دي، د فن او هنر خاوند بايد له هوا او هوس نه ځان وژغوري او له عشقه برخه ولري. په خپل کار کې عشق ګډ کړي او د عشق دپاره هر څه قبول کړي.

د حقيقت عشق د ازادۍ عشق، د جمال عشق، د وطن او ملت عشق که په شعر او ادب کې ځای ونه لري، نو هوا او هوس پکې ځای نيسي او تجارتي متاع ترېنه جوړېږي، يعنې د ابتکار ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتذال نیسي او شهوات په عواطفو او احساساتو غلبه پیدا کوي.

شاعر او ادیب باید د ذوق او قریحې د پاره څه ولیکي او د آني مصلحت په قید کې ځان ایسار و نه ګڼي، که دغه راز متاع نن خریدار و نه لري او څوک ورته په قدر و نه ګوري، له دې نه لویه مساله بله نشته. راشئ! چې د خرڅون فکر ورنه او کوچنۍ سودا پرېږدو. د شعر او ادب ازادي همدغه ده، چې هېڅ قیمت و نه لري او د مال په نظر ورته و نه کتل شي، ذوق د خرڅولو شی نه دی څوک چې خیال او فکر خرڅوي خیال او فکر خرڅوي، هغه د دغه شي ازادي نه شي ساتلای او خپله ازادي ارومرو له لاسه ورکوي.

که ازادي د انسان معشوقه وي او د هوس په نظر ورته نه ګوري، که څوک غواړي چې خپله ازادي په خپلو اثارو، په خپلو افکارو، په خپلو خیالاتو کې وساتي مادي سودا دې له زړه نه وباسي او د سود و زیان د ډار او امید غلامي دې پرېږدي.

د شعر او ادب ارتقا او اعتلا له هر څه نه دغې ازادۍ ته زیات احتیاج لري او له معنیٰ نه د مادیاتو قربانول غواړي.

دا قرباني د هغه چا له لاسه پوره ده، چې شعر او ادب ته د عشق په نظر ګوري نه د هوا او هوس په نظر، عشق ډېر خطرات، ډېر زیانونه او ډېرې ګټې له پښو لاندې کوي او په همدغه وسیله لوړېږي او د لوړتیا حقیقي راز د هوا او هوس په قربانولو کې پټ دي او عشق د قربانۍ او فدا کارۍ نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرباني او فدا کاري د لوړو احساساتو او عواطفو کار دی، چې په يوه شاعر او اديب کې بايد ارومرو موجود وي، که دغه کسان دغه کار نه شي کولی او نه يې کوي هر څوک پوهيږي له دېنه زيات معنوي انحطاط په تصور کې نه راځي. د فکر او ادب حقيقي پالنه د ډېرو پاڅو په تورولو نه شي کيدای او مقيد ذهنونه دغه کار نه شي کولی، دا د هغو کسانو کار دی، چې د لوړ شعور او ادراک خاوندان دي او د عقيدې له مخې کار کوي، دا کار زما په ګمان دلته ښه نه دی شوی او دغه وظيفه چا ښه نه ده په ځای کړې. دلته د وطن مزدورانو او کاريګرو څه نا څه خپل کار کړی دی او مونږ وينو، چې څوک لارې جوړوي او پېچومې اواروي، څوک کارخانو او فابريکو کې خدمت کوي، ځينې ماڼۍ او قصرونه ابادوي. ځينې نور د ورانولو په کار بوخت دي، ځکه وايم چې دلته ناپوهانو ډېر کار کړی او دا بيان يا ډېر لږ دی يا خپلې وظيفې ته ښه ملتفت نه دی او له عشقه محروم دی.

څومره توجه، چې معنیٰ ته په کار ده اهل معنیٰ يې معنیٰ ته نه لري او په دې باندې ډېر افسوس او حسرت په کار دی، مګر دغه کار هم بوالهوس نه شي کولای او د درد خاوندانو ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مضر احتیاط

که رښتیا ووایم مونږ ډېرې هوښیارۍ او ډېرو احتیاطونو برباد کړي یو. یو چا زمونږ په حق کې ویلي وو، دا خلک له ضرورته زیات هوښیار او محتاط دي.

راځئ چې په دې خبره کې فکر وکړو.

هوښیاري، چې له اندازې نه زیاته شي او هام قوي کوي.

احتیاط، چې ډېر زیات شي لاسونه او پښې شلوي.

شمي اکا زمونږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا به، چې کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه، چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق را نه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي، نو حریق به واقع او کور به مې وسوزي.

د ده دا عدت و، چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و، ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه.

هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رښتیا هم ډېر لږ وه.

دغه شان هوښیاران او د احتیاط خاوندان زمونږ په مملکت کې زښت ډېر دي او د نوي تهذیب او تمدن قبلول له برق او موټر نه هم زیات مضر بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په ادارو او شعباتو کې ډېر هوښيار او ډېر محتاط اشخاص زيات ليدل کېږي، د دوی د نوي نهضت او نوې رڼا په قبلولو کې ډېر سخت مقاومت کوي او هغه کسان، چې له ځينو مزخرفاتو او مضرو افکارو سره مجادله کوي بې تجربې او افراطي هلکان ګڼي، دوی وايي په هر کار کې اعتدال ښه دی او بايد په هر څه کې له ډېر احتياط نه کار واخيستل شي.

هغه څوک، چې يو قدم د عصر خوا ته نږدې کيږي او ارزو لري چې د دنيا له سير سره موافقت وشي، دوی ورباندې سترګې سرې کړي او تهديدوي يې، چې تاسې د قوم له روحياتو، د محيط له مقتضياتو ناخبره ياست او جامعه بربادوئ.

دوی ځانونه داسې ښيي، لکه چې د علم او عقل او تجاربو سرمايه داران همدوی وي او دنيا د دوی په ښکر ولاړه، په دوی ودانه وي، مګر رحمان بابا وايي:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه　　دانا نه کا په دنيا باندې غرض

دوی هر وخت د اعتدال پسندۍ په نامه د نوي نهضت او مدنيت مخه نيسي او غواړي، چې وړاندې تلونکي او پېشرفت غوښتونکي په شا بوزي او ببرته يې وګرځوي.

دوی خيال کوي، چې اعتدال او احتياط، سکون او جمود قبلول دي او يو قدم وړاندې ايښودل له احتياط او اعتدال نه وتل دي.

تاسې پدې پوه شئ، چې همدغه کسان په شا تلونکي (مرتجعين) دي. چې اعتدال په حقيقت کې نه پيژني او يا په دغه نامه د ملت د پېشرفت مخه نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه محتاط او اعتدال پسنده طبقه، چې په اصل کې له اعتدال نه ډېر لرې دي دوی کې د مسامحه کارۍ مماسات او سازشونو استعداد موجود دی، په کوم ځای کې چې د حق او حقیقت اظهار په کار وي، دوی غلي او خاموشه ناست وي او هر څوک، چې هر څه وايي دوی ورسره سرخوزوي او خپل محبوبیت ساتي.

د دوی دا عادت دومره قوي شوی، چې د خدای رضا هم د خلکو په نارضایۍ کې نه خوښوي او که د قوم له روحیاتو نه خلاف وي د دین او عقیدې اظهار هم نه کوي.

له یوه خان او ملک سره دومره ناجایزه مراعاتونه کوي، چې طوایف الملوکۍ ته خبره ورسیږي، له سپین پګړیو سره تر دې حده مماشات اختیار کړي، چې د حقیقي اسلام په عوض ورسره جعلي او موضوعي خبرې ومني.

هو! دوی له هر چا سره سازش کوي، مګر له عصري ترقیاتو سره یې جوړه نه راځي، دوی په عین حال کې چې د نوي نهضت او عصریت له زړه نه مخالف دي یا یې د خپل مفاد دپاره مضر ګڼي، ځلمو او ځوانانو ته داسې ښکاره، کوي چې تاسې نه پوهیږئ او پخوا له وخته دنیا ته راغلي یاست، مونږ غواړو چې مخکې ولاړ شو او ترقي وکړو، مګر قوم جاهل دی او باید له ډېر احتیاط او اعتدال نه کار واخیستل شي.

دوی ته باید وویل شي، چې که تاسو غوندې محتاط او اعتدالیون موجود وو، دا جهل او ناپوهي به هېڅکله نه ورکیږي او څوک به یو قدم وړاندې وانخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر که تاسو خلکو وپیژندلئ او زمانې ستاسې حال ښکاره کړ بیا به ډېر ګړندي منزل مقصود ته ورسیږو او تاسو ته به د پښتنو په تاریخ کې بې ملامتۍ نور څه پاتې نشي.

هغه ځوانان، چې تاسو بېرته را ګرزولي دي او په نورو مغزو کې مو زاړه فکرونه اچولي دي، تاسو سره به په خجالت کې شریک او سهیم وي او ستاسې د خوشحالۍ او هوښیارۍ او مضر احتیاط سر به ډېر ژر ښکاره شي.

زه خپل وجداني مسئولیت رفع کوم او وایم: کومه رویه چې تاسې نیولې ده، اعتدال نه دی تفریط دی، بلکې هېڅ نه دي او تاسې هېڅ نه کوئ، مونږ تاسې پېژنو او پدې خبرو نه غولیږو.

ستاسې هوښیاري او احتیاط ډېر ضعیف احتمالات او توهمات غټوي او تاسې وېروي.

تاسې زمونږ قافله ځای په ځای درولې ده او درخپلو اسونو جلبونه مو دومره ټینګ نیولي، چې یو یو قدم وروروسته او په شا ځي.

دا ارتجاعي قدمونه مونږ ته ډېر مضر تمامیږي. تاسې د کاروان او قافلې مخه نیولې ده او ستاسې توقف د ټولو د معطلۍ سبب ګرځي. د خدای دپاره تاسې له مخې لرې شئ او مونږ پرېږدئ، چې وړاندې ولاړ شو او یو ځای ته ورسیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حاکمانو ته وایم

ای هغو کسانو، چې ستاسې په لاس کې د حکومت لښته ده ستاسې په امر یو سړی وهل کیږي، تړل کیږي، جرمه کیږ او هر څه کیږي.

ستاسې په نظر یو بې ګناه په محبس کې لویږي او یو ګناهګار له بنده خلاصیږي. ستاسې په عدالت مظلومان له ظلمونو نجات مومي او ستاسې په بې انصافۍ ظلمونه، جبرونه په عالم کې خرخیږي.

ستاسې غفلت او بې خبري عالمونه تباه کوي او ستاسې په ویښتوب او هوښیارتوب ډېر ښه ښه کارونه کېدلی شي.

که تاسې په سمه او صحیح لار روان شئ ډېر بې لارې خلک په لار کیږي. که تاسې پخپله د نفس او شیطان په لاره درومئ، نو په عالم کې د ظلمونو له لاسه بې تمیزه قیامت او بې میزانه محشر جوړیږي.

ستاسې په لاس کې د حکومت زور او قوت موجود دی، که تاسې لېوان یا لېونیان شئ د خدای مخلوق تباه کیږي.

که تاسې ماشومان او اطفال اوسئ ستاسې په طفلانه لوبو ډېر کورونه خرابیږي، که تاسې ړانده او کاڼه شئ حق او عدالت مري او ظلمونه، فسادونه، بدبد کارونه رواج مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې پدې پوه شئ، چې د دنیا د نظام او انتظام دپاره خدای دوه شیه پیدا کړي دي، چې یوه ته حکمت او بل ته حکومت وايي.

حکومت هېڅکله بې له علم او پوهې، بې له تدبیر او سیاست څخه چې له دې ټولو نه په حکمت تعبیر کېدلی شي، مخکې نه ځي او تش کوتک په دنیا کې نه چلیږي.

اوس په متمدنه او مترقي دنیا کې یو سړی په ډېر علمي لیاقت او لوړ شخصیت حاکم کېدلی شي او هغه څوک دغه رتبه او مرتبه ګټلی شي، چې په تدبیر او سیاست کې اوله درجه مهارت ولري او د مهمو صفاتو خاوند وي، مګر په تاسې کې لا اوس هم بې سواده، بې ذوقه، بې علمه، بې رحمه، بې انصافه او له جهانه ناخبره اشخاص پیدا کېږي، چې بې رشوت اخستلو، وهلو او ټکولو، کنځلو او بدو ویلو په نور څه نه پوهېږي او نه شي پوهېدلي.

تاسې پدې پوه شئ، چې حکومت له دې نه پس تجارتي متاع نشي کیدلی، چې څوک یې په پیسو او رشتونو واخلي.

هغه وخت او زمانه په تېرېدو کې ده، چې څوک د حکومت چوکۍ په خوشامندو او تملقنو وساتلی شي یا ظلم او بې شعوره قوت په یوه منطقه کې حاکمیت وکړای شي.

مونږ د دې عصر په شپو کې دا خوبونه لیدلي دي، چې علم او لیاقت، خیر او اصلاح به ډېر ژر خپله کرسۍ اشغال کړي او جهل او ناداني، ظلم، ستم، ریا کارۍ او فریب کارۍ به له خپلې چوکۍ را ولویږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې خپل ځانونه اصلاح کړئ او پخپل ځان ګوتې ووهئ، مقصد ظاهري فېشن او ارايش نه دی، بلکې د عيبونو اصلاح او د ځان معنوي جوړول مې مراد دی.

راشئ دا زړه طريقه نوره پرېږدئ او هر کار د سوټي په زور مه کوئ!

انسانان خدای د وهلو او ټکولو دپاره نه دي پيدا کړي.

د مجرمينو د قايلولو او اصلاح کولو د پاره نور وسايل هم شته.

ظلم په ظلم باندې هېڅ کله نه ورکيږي.

تاسې به ډېر خلک په وهلو معيوب کړي وي.

ډېر کسان به ستاسې د شدت او تشدد له لاسه تښتيدلي او ورک شوي وي، مګر جرايم او جنايتونه نه دي ورک شوي.

يو شاعر وايي:

د انسان اصلاح په پوهه انسان کړې

ناپوهان يې په وهلو د انسان کړي

نو راشئ له علم او پوهې نه کار واخلئ، ظلمونه او جبرونه پرېږدئ!

بې ګناه خلک په وهلو او ټکولو مه قايلوئ!

په رشتونو او لحاظونو له حق او حقيقت نه مه تيرېږئ او د يوه په ګناه بل ته جزاء مه ورکوئ! تاسې پخپل نفس او خپلو خواهشاتو حاکميت پيدا کړئ او د همدغه حاکميت په اثر ځانونه د دې لايق کړئ، چې په نورو داسې حکومت وکړئ، لکه چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـلار يـې پخپلـو زامنـو بانـدې پخپـل کـور کـې کـوي او هـيڅ راز ظلمونه پکې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میلونر خیرات خور

که څوک خپه کېږي که خوشحالېږي زه خو څه وایم او خپله غاړه خلاصوم، ګوندې دا ساده مخلوق لږ غوندې پوه شي او فکر وکړي.

زه اروپا ته نه یم تللی، امریکا مې نه ده لیدلې، په افریقا کې نه یم ګرځېدلی او هېچرې نه یم تللی، مګر یو عجیب مملکت مې لیدلی دی او عجیب مخلوق پکې اوسي. په دې مملکت کې د دې په ځای، چې بډایان او مالداران خوارانو او غریبانو ته څه ورکړي خوران مسکینان د ډېر مال او دولت خاوندانو ته څه ورکوي او هغوی هم نه شرمېږي اخلي یې.

ته به وایې دی رشوت خواره ماموران او حاکمان یا دوي، چې په لکونو روپۍ او بې حسابه جایدادونه لري له یوه ډېر عاجز سړي نه هم په ډېره جزیې فقره کې ترڅو سل دوه سوه روپۍ وانخلي نه یې پرېږدي.

نه زه دغه بې رحمه، بې انصافه رشوت خواره نه ښیم، خیرات خواره ښیم.

په دې مملکت کې، چې زه ورته عجیب مملکت وایم ملیونر خیرات خور هم پیدا کیږي او ډېر غنیان د خوارانو او مسکینانو خیراتونه خوري.

په دغه وطن کې ما داسې خلک ولیدل، چې اسونه ورته ولاړ دي موټر لري، قصرونه او باغونه، ځمکې او پټې یې په هر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې شته، مګر له داسې خلکو نه خیراتونه او شکرانې اخلي، چې هغوی د خپل اولاد نفقي او جامې ته حیران دي او د دوی نوکرو ته هم نه رسیږي.

په دغه مملکت کې معکوس وضیعت دی او وږي، بربنډ یې له مړو او دولتمنو سره مالي مرسته اوکومک کوي.

په کوم ځای کې، چې د بې وزلو او خورانو په خیراتونو او شکرانو غنیان او متمولین ځمکې او جایدادونه، کورنه او باغونه، موټر او اسونه اخلي.

ایا د هغوی په حال افسوس او حسرت نه دی په کار؟

ای خوارو او بې وزلو پښتنو! هر څوک چې غني او دولتمن شي میا وي که ملا، سید وي که پیر او پېشوا هغه د خیراتونو او ذکاتونو مستحق نه دی.

هغوی باید تاسې غوندې عاجزانو ته زکاتونه درکړي او په تاسې باندې زړه وسوزوي، که تاسې نه دریږئ او ارومرو نورو ته څه ورکوئ د قصرونو او باغونو خاوندانو ته څه مه ورکوي، بلکې ګوډ، ړانده، کونډې، یتیم، بندي او مسافر ته یې ورکړئ، چې په اخرت کې په ښه درشي.

ستاسې په خیراتونو په عمرو عمرو خلکو مزې، چړچې او ورمیږونه وکړه، که رښتیا وایم نو شرابونه هم پرې واخیستل شوه او فحاشي پرې وشوه، لږې سترګې وغړوئ او لږ غوندې هوښیار شي.

اخر ړانده خو نه یاست دا څه درباندې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې خپلو شکېدلو جامو، خپل فقر او مسکنت او د دوی مال او دولت وګورئ!

چې دوی څنګه دي او تاسې څنګه یاست؟

که دوی نه شرمیږي او ستاسې خیرات نه قبلوي، بلکې غواړي یې تاسې د دوی له حیثیت او شان نه وشرمیږي او دوی تر قیامته او په قیامت کې مه شرموئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګرانه لیکواله!

د دې عصر قافله ډېره ګړندۍ ده، له دې کاروان سره برابر تګ نوې اقتضاګانې لرې او د انسان په ظاهري او معنوي حال کې بدلون غواړي.

پخوا به یو کاروانې له ځان سره پتېرې اخیستې او په پښو به یې میخونه او نالونه وهل، مګر اوس د الوتکو په سفر کې دغه شیان نه دي په کار او د دې وخت مسافرت هغسې نه دی.

مونږ اوس د ژوندانه په نوې مرحله کې داخلیږو او له یوه حاله بل ته انتقال کوو. هغه څوک چې له خپل خره راکوزیږي او په الوتکه کې الوزي باید فکر او نظر یې بدل راز شي او ناسته ولاړه یې هغسې نه وي.

هغه چې ټول عمر پلې ګرزېدلی او له عقله پیا ده دی د آس یا بایسکل سپرلي هم ورته ډېره ګرانه معلومیږي، د سپورمۍ کرې ته ختل خولا څه کوي.

له یوه زاړه جهان نه نوې دنیا ته ورتګ او په نوو توغندیو سپرېدل ډېر مراحل په مخکې لري او نوې عصري پوهه غواړي.

انسان لکه د تجارت مال داسې نه دی، چې د اوښ له شانه الوتکي ته رانقل شي او هېڅ تغیر پکې رانه شي.

تجارتي مالونه هم د اوښانو په شا په څټو او غوندو کې وي او په الوتکو کې خپله جامه او ظرف بدلوي. هغه وخت چې مونږ د خپل کلي او کور له څو تنو کاروانیو سره به خرو پسې روان وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس، چې د مختلفو ملتونو له افرادو سره په الوتکو کې لرې هېوادو ته ځو او راځو باید له هغه حا له ډېر فرق ولرو او هغسې نه اوسو.

که هغه وخت زمونږ نظر محدود و زمونږ مزلونه هم لنډ و، مگر اوس له دغه اوږدو مزلونو او لوړو پروازونو سره لوړ فکر او لرې نظر هم په کار دی.

زمونږ خلک خو اوس د هوايي سرويسونو له برکته له ځمکې نه لوړې فضا ته هسک شوه او وزرونه يې پيدا کړه، مگر د خلکو فکرونه او اخلاق لوړول دغومره اسانه کار نه دی، چې کوم داخلي يا خارجي شرکت يې سرته ورسوي.

دا کار تر ډېره حده د هېواد د پوهانو اوليکوالو کار دی.

دا د دوی وظيفه ده، چې د يوه نوي نهضت او ارتقايي حرکت ملگرتيا وکړي او د خلکو ذهنونه د نورو افکارو او عصري ايجاباتو قبلولو ته تيار کړي. نوي نهضتونه په هر ځای او په هر وخت کې پالونکي او رټونکي لري.

په هر ملت کې (نوې خوښي) او (زړه خوښي) شته.

زاړه هر چېرته زاړه رواجونه او عادتونه خوښوي، ځوانان هر کله د نوي فکر او د نوي ژوند طرفدار وي.

د دې دواړو ډلو ترمينځ يوه بله ډله مينځگړيتوب کوي، يعنې ځينې نوي شيان ښه گڼي او ځينې بد بولي. په زړو شيانو کې هم ځينې خوښوي او ځينې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دریمه ډله په جامعه کې معتدل اشخاص ګڼل کېږي او هغه دوه نور د افراط او تفریط خاوندان بولي.

زه دلته دانه وایم، چې د افراط طرفداران ښه دي که اعتدال پسند ، مګر په لیکوالو دا پېرزوېنه لرم، چې دوی باید هر کله او هر چېرته د نوو نهضتونو ټینګ طرفدار وي او هغه زاړه رسمونه او رواجونه بد وګڼي، چې د یوې جامعې د ببرته پاتې کیدو موجب دي.

لیکوال باید خلک پدې پوه کړي، چې د دوی اجتماعي او انفرادي ژوند څه راز دی؟ دوی څه کوي؟

د دوی خویونه، فکرونه، عملونه او نېتونه څنګه دي؟ د نن ورځې د ژوند دپاره څه په کار دي او د سبا ورځې ضرورتونه څه دي؟

د یوه ولس د حقیقي سعادت د تامین دپاره له هر چا نه د پوهانو او لیکوالو مرسته ډېره په کار ده، دوی باید خلک د اصلاحي فعالیتونو او پروګرامونو په ښېګڼو پوه کړي او په عالم کې داسې خوشبیني پیدا کړي، چې واقع بینی ته زیان ونه رسوي.

مونږ لکه چې د ښو او سمولارو جوړولو ته ډېر ضرورت لرو دېته هم اړ یو ، چې په ښه لاره تګ خلکو ته وښیو او ښه حرکت را پیدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که سړک هر څومره ښه جوړ شي او لیاره ډېره اواره هم وي، چې څوک په سمه لاره نه ځي او د حرکت اراده نه لري څوک به یې څه کړي؟

که د چا صحت هر څومره ښه وي او په وجود تکړه وي، چې خوي یې وران او عمل یې بد وِي، نو څه فایده؟ ترڅو چې زموږ عادات او اخلاق سم نه شي او بد ذهنیتونه راسره ملګري وي، که دا ملک جنت هم شي زموږ بد عملونه او بد رواجونه به یې په جهنم بدل کړي او په هغو اورونو به سوزي، چې زموږ له نفسونو نه یې لوخړې او لمبې پورته کېږي که موږ خپل ځانته متوجه شو او خپل کردار او رفتار په نظر کې ونیسو زموږ هغه ظلمونه او جهالتونه، چې د رسم و رواج او عرف او عادات نوم پرې ایښودل شوی دی، زموږ د بدبختۍ ډېر مهم عوامل دي، چې یوه اساسي مجادله او قلمي مبارزه ورسره په کار ده.

په دې اوس وخت کې، چې د تحول وږمه، رسم و رواج پوړنی له مخه اخلي او محبوبیت له مینځه ځي د لیکوالو په غاړه ډېر مهم مسئولیتونه پراته دي، چې د حقایقو له مخې پرده لرې کړي او ښو ته ښه بدو ته بد ووایي، یعنې له هېچانه ونه وېرېږي حتی، چې له عرف و عادت نه یې هم سترګه ونه سوزي او د حقانیت په جذبه د ناپوهۍ له هغه بد ذهنیت سره مجادله وکړي، چې قوت او قدرت یې د زړې زمانې له فرعونیانو کم نه دی او یوازې ابراهیمي جرئت ورسره مقابله کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکوال لویوالی په همدغه ټکي کې پروت دی، چې د جامعې عرف و عادت ته په انتقادي نظر وګوري او خپله عقیده پټه نه کړي.

هغه څوک چې خپل صحیح فکر او نظر د عام ذهنیت په مخالفت نه شي څرګندولی څوک ورته په نفرت نه ګوري، مګر کوم ارزش هم د جامعې په نظر کې نه لري.

رښتیانی لیکوال او ستر لیکوال هماغه دی، چې د راتلونکي نسل قضاوت په نظر کې ونیسي او له سبا ورځې وډار شي، نه له نن ورځې نه.

یو مسلمان باید هغه ورځ په نظر کې ولري، چې یو صحیح قضاوت پکې کېدونکی دی او حقیقت پکې له رسمونو او رواجونو نه لوړ مقام لري.

څنګه چې په یوه باغ کې هر وخت ناکاره بوټي، درب او کبلې پیدا کیږي باغبانان یې له بېخه باسي، چې له باغ نه ځنګل جوړ نه شي په یوه ولس کې هم په مرور د زمان ځینې وران خویونه او بد عادتونه پیدا کېږي، چې انساني باغ و بڼ ته زیان رسوي. هغه اصلاحي نهضتونه چې په ملتونو کې وخت په وخت پیدا کېږي د همدې دپاره وي، چې دغه راز بد بوټي ورک کړي او د خلکو په ذهن کې نوې رڼا پیدا شي.

د جهان تاریخ، چې سړی ګوري او د سترو لیکوالو او پوهانو د ژوندانه مطالعه کوي دا ورته معلومېږي، چې د فکر او پوهې مشرانو او لویانو د خپلې عقیدې او فکر د نظر په اظهار او ابلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ځومره جرئت او جسارت نه کار اخستی او خپل ژوند یې د نورو د ژوند ښه کولو دپاره څومره خوار کړی، بلکې قربان کړی یې دی.

د راتلونکي نسل په نظر کې خپله لویي ثابتول څه اسانه کار نه دی، چې خوشې په خوشې لاس ته راشي. که سړی د پوهې او فکر په رڼا کې د حقایقو په اظهار نن هر څومره منفور واقع شي او عام ذهن و نظر ورته په کرکه وګوري هغومره به دغه سړی د سبا ورځې په رڼا او د راتلونکي نسل په نظر کې ښکلی او محبوب ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بله ډیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپله ژبه

دغه لمر، چې پاس په اسمان کې زمونږ دپاسه ځلیږي او پخپل نور او حرارت د ځمکې د مخ په بوټو او ژوندیو شیانو کې د نشوې نما قوت پیدا کوي. همدغه شان یو بل معنوي لمر هم شته، چې وړانګې او پلوشې یې د انسان په زړه او دماغ ولیږي او له انعکاس څخه یې افکار او خیالات پیدا کیږي، دا افکار یا خیالات چې د الفاظو او کلماتو په جامه کې څرګند شي نطق، خطابه، شعر، موعظه، نصیحت او داسې نور ورته ویل کیږي، چې دا ټول د ژبې تر عمومي عنوان لاندې راځي او انسان ورباندې له نورو حیواناتو امتیاز پیدا کوي.

نو ویلی شو، چې زمونږ الفاظ او کلمات تش هغه اصوات نه دي، چې له مرغانو او نورو حیواناتو اوریدل کیږي، بلکې دا زمونږ د زړه غږ او د فکر فانوس دی، چې زمونږ فکري رڼا او نور وزیاتوي او مونږ په همدغه وسیله کولی شو، چې یو د بل په مقصد پوه شو او یو له بله فکري او معنوي استفاده وکړو. دا باید مونږ ومنو چې که انسان د نطق او وینا قوت نه لرلي او د افکارو او خیالاتو د جریان دپاره یې دا مجرانه درلودی، هېڅکله به یې دغه ذهني او عقلي ارتقا نه وه کړې او نه به یې له نورو حیواناتو دومره توپیر درلود، نو زمونږ وینا که څه هم د هغې رڼا زیږیدنه ده، چې له یوه ډېر لوړ اسمانه زمونږ ذهن ته راښکته کیږي، مګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي رڼا په زياتوالي کې زښت ډېر تاثير او دخل هم لري، چې بايد په ډېر زيات اهميت ورته قايل شو.

داهم بايد وويل شي، چې د دغه معنوي لمر فيضان چې انسان ورځنې فکري رڼا اخلي او ژبه ورځنې پيدا شوې ده او هم لکه، چې يو مملکت له بل ځنې پخپلو مخصوصو بوټو او حيواناتو امتياز پيدا کوي او معنیٰ بيليږي، قامونه هم يو له بله پخپله ملي او مخصوصه ژبه جلا کېږي او دا هېڅ امکان نلري، چې د مځکې د مخ ټول انسانان په يوه ژبه وګړيږي، بلکې دا طبيعي او منل شوی قانون دی، چې هر ملت به ځانته ژبه لري او پخپله ژبه کې به علمي او معنوي ارتقا کوي. همدغه سبب دی چې يو سړی په ډېر زيار او زحمت هم په پردۍ ژبه کې داسې اديب کيدی نشي، چې له اهل زبانو څخه يې هېڅ فرق ونشي. دا ځکه چې د بلې ژبې الفاظ او کلمات د ده د هغو دقيقو القااتو ترجماني نشي کولی، چې دی پخپله ژبه کې ورځينې تعبيرکولی شي، نو ضرور د ده ذهني او دماغي واردات بې تعبيره پاتي کيږي او د فکر لار يې بنديږي، چې ديته بايد فکري او معنوي اختناق ووايو.

نو ملتونه هم لکه اقليمونه او مناطق د اجتماعي ناموس او طبيعي نظام تر اغيزې لاندې دي، چې هېڅلکه ورځنې سر نشي غړولی او حتماً ورسره موافقت کوي. که څوک له دې قانون مخالفت کوي او غواړي چې په بله ژبه کې د علم او عرفان، ادب او بصيرت خاوند شي هغه داسې مثال لري، لکه چې د تودو ملکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخصوص بوټي په سړو ملکو کې کري یا د یوه موسم کرهنه په بل کې کوي.

دا څرګنده ده، چې له دغسې سعي او عمل ځینې هیڅ نتیجه نه اخیستل کېږي او دا راز زیار او زحمت انسان نشي مسعود کولی.

که یو ملت وغواړي، چې خپل احتیاجات په بله ژبه پوره کاندې او په پردۍ ژبه کې د علم او معارف خاوند شي، ښایي چې پخپل جدو جهد ځینې معلومات لاس ته راولي او لږ څه خپله مخه ړنا کړي، مګر دا ړنا به لکه د غلو ډیوه ډېره ضعیفه او خړه وي، چې په نري شمال به مري او هیڅ دوام به نلري. که ملت د بل په ژبه څه زده کوي هغه زده کړه به لکه د طوطي او مینا زده کړه تش د ژبې په سر وي او زړه ته به هیڅ لار نلري، په داسې ملت کې هیڅکله د فکري نشوې او ارتقا هیله نه کیږي او نه په علم او ادب کې سمه او صحیح لار ورته پیدا کیږي، دا راز ملتونه همېشه خپلې سترګې غړوي، مګر څه نه وینې نوموږ باید اومرو خپله ژبه ژوندۍ کړو او د علم وعرفان ډیوه پکې بله کړو، ځکه چې دا ژبه د ملت په ذهن او زړه کې ځای لري او په ړنا باندې یې طبعاً د ملت ذهني او دماغي خونه روښانه کیږي او ډېر ژر د معارف پلوشې د وطن په هره خوا کې خپریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپل ملیت ساتل

هر ملت بعضې مخصوص شیان لري، چې که سړی هغه ورځینې لرې کړي هېڅ امتیاز ورته نه پاته کېږي.
د همدې لامله هر ژوندی او بېدار ملت خپل ټول ملي شیان لکه:
رسوم او اداب، ملي موسیقي او ملي ادب، ملي ژبه او ملي روایات، ملي ذوق او ملي اخلاق په ډېر ښه شان ساتي او هېڅکله ځان د بل قوم په څیر نه ښکاره کوي، بعضې ملتونه پدې باب کې دومره ډېر احتیاط کوي، چې خپل خرافات او بې معنیٰ شیان، چې هېڅ فایده پکې نه وي هم له لاسه نه باسي او ډېر احتیاط کوي، چې ورباندې ټینګ وي. یو ملت له بل ځنې علم و فن، صنعت اخلي، خو ملي خصایص یې هېڅکله نه قبلوي، مګر ځینې ضعیف النفس ملتونه چې د نورو تر تاثیر لاندې راغلي او خپل ملي ذوق او احساس یې ورک کړی دی، ځکه چې هغوی ته خپل هرڅه بد معلومېږي او پردي هرڅه ورته ښه ښکاري، نو په هر شي کې د نورو تقلید کوي او د ملیت په معنیٰ هم هېڅ نه پوهېږي خپل ځانونه ورته ډېر ټیټ او ښکته ښکاري، ښه او بد د نورو په ذوق ځانته معلوموي او له ځانه هېڅ فکرنشي کولی.
که سړی د یوه قام ازادي او خپلواکي د روح او نفس له خوا په نظر کې ونیسي، نو پوره ازادي او حقیقي خپلواکي هغه قوم لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پخپل فکر کې د بل قوم تر تاثیرلاندې نه وي راغلی، یعنې په غیر شعوري طور په بل قام پسې نه وي روان، نه یې ذوق د بل د ذوق تابع وي او نه د بل قوم فکر له خپل فکره ښه ګڼي.

هر کله پښتون یو توریالی او ننګیالی ټبر دی، چې تراوسه په دنیا کې په جګو او هسکو ژوند کوي او هېڅکله ورته بل څوک له ځانه لوړ او ستر نه ښکاره کیږي، نو طبعاً باید خپل ملي خصوصیات او پښتني ممیزات په ښه شان وساتي او هېڅکله یې له لاسه ونه باسي.

د پښتنو ملي اخلاق او خویونه، چې په پښتونواله ورځنې تعبیرکیږي د ملیت ستنې او مهم ارکان دي، چې په اجتماعي حیات کې ډېر زیات قیمت او اهمیت لري او حقیقي تهذیب پکې لیدل کېږي، د پښتنو صاف اورښتیا ویل، پخپل عهد او قول له سر او ماله تېرېدل، له ضعیفانو او بې وزلو سره مرسته او کومک کول دا ټول هغه صفات او خویونه دي، چې پښتانه یې د پښتونولۍ ارکان او شروط ګڼي.

د پښتنو ملي تربیه هم پر یوه داسې اساس باندې قایمه ده، چې له نني حیات او ژوندون سره پوره موافقت لري. دا قوم اوس دیته نه دی محتاج. چې څوک ورته د شجاعت او زړورتوب درس ورکړي یا یې د زیار ایستلو او زحمت ګاللو د پاره تربیه کاندي، ځکه چې دوی ته خپل ملیت دا تعلیم ورکړی دی، چې باید هېڅ کار ورته په دنیا کې ګران او مشکل معلوم نشي او له هیڅا ځنې یې سترګه ونه سوزي. وګورئ! یو پښتون چې کله خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستايي، نو وايي چې زه اسمان ته تيږه غورزوم او سر ورته نيسم، صفتونه خو نور هم ډېر دي، مګر هر قوم او هر څوک له خپل ملي ذوق او احساس سره سره يو صفت ځانته غوره کوي او فخر ورباندې کوي.

نو معلومه شوه، چې پښتنو ته له مشکلاتو سره مقابله کول او ګرانو کارو ته سر نيول ډېر ښه ښکارېږي او دا قوم د هر راز سختيو مقابلې ته تيار او مستعد دی. دې قوم ته له هر چا څخه خپل ځان لوړ ښکاري او تل پخپل مليت او پښتنواله افتخار کوي، د همدې لامله د قسم په ځای کې وايي:

پښتون به نه يم که دا کار مې ونکړ.

نو قومونه که عزته النفس او ځان ښه ګڼل يا پخپل مليت باندې فخر کول کسبي زده کوي، دوی ته خپل محيط او مليت دا ورښيي او بل معلم ته يې هېڅ حاجت نه پيښېږي.

د پښتنو مليت او ملي اخلاق د دوی له نامه سره تړل شوي دي.

که څوک د پښتنو په کلو او قبايلو کې وګرزي دا به ورته معلومه او څرګنده شي، چې پښتانه هغه چا ته پښتون نه وايي، چې هغه يوازې په پښتو خبرې کولی شي او نه پښتو يوازې د دغو مخصوصو الفاظو او کلماتو دپاره استعمالېږي، ځکه چې د دوی د محاوراتو او اصطلاحاتو په ناليکل شوي قاموس کې دا دوه کلمې خورا ډېرې معناوې لري، چې د دې قوم ټول صفات او مميزات پکې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مونږ باید خپل ملي اخلاق او پښتونواله په ښه شان وروزو او د خپلو تېرو پښتنو هغه خويونه، چې باید انسانان او انسانیت ورباندې فخر وکړي تل په نظر کې ونیسو.

زمونږ اسلاف او پخوانۍ برسېره په دې، چې توره او توریالیتوب ورځنې په میراث پاتې دی، د نورو لوړو او ښو صفتونو خاوندان هم و، چې په هېڅ قوم کې په طبیعي او غریزي ډول نه لیدل کیږي.

دوی مهذاب او خوشبین وو، دوی پخپل ناموس ډېر ټینګ وو او بل چا ته یې هم هېڅکله په سپکه سترګه نه کتل، په هر میدان او هر ډګر کې د ظالمانو دښمن او د مظلومانو ملګري وو، هر چا به چې دوی ته ننګ راوړ له سر او ماله به ورباندې تېرېدل او هغه به یې تر خپل سیوري لاندې په ډېر ښه شان ساته.

خپله سیمه به یې ډېره درنه ساتله او پخپله یوه لویشت مځکه به یې خپل سرونه ورکول، هېڅکله یې په دنیا کې د بې ننګۍ ژوندون نه کاوه او نه به یې د چا پېغور خپل ځانته پرېښوده، خپل نوم ورته له هر چا ځنې ښه ښکاریده او د پښتونولۍ اب و ابرو یې په ډېر ښه شان ساتله، نو مونږ باید خپل ټول ملي شیان او ملي اخلاق له هر چا ځیني ښه وګڼو او پخپله پښتونواله ونازیږو، کوم طبیعي جوهر او معنوي ښېګڼې چې مونږ لرو، هغه په بل هېڅ قوم کې نشته او نه یې پیدا کولی شي، که څه هم په فن او صنعت کې له مونږ ځنې ډېر وړاندې او مخکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مونږ باید له نورو اقوامو څخه فنون او صنایع، علوم او معارف واخلو. د نورو سیاست او معاشرت، کړه وړه هر څه ځانته معلوم کړو، مگر د هغوی په ظاهري ښایست او ښکلیتوب خپل زړه بای نلو او نه خپل ملي ذوق د چا په تقلید کې ورکړو، مونږ باید د پښتونولۍ بڼ خور کړو او لکه بلبلان د نورو د باغ په گلانو ونه ټپیږو.

مونږ باید د خپلې ملي ژبې له ژوندون کولو سره سم خپل معنویت او ملیت پوره ژوندي کړو او لفظاً او معنیٰ له پلوه ځانونه پښتانه کړو، مونږ باید د خپلې ملي ژبې په قانون کې د پښتونولۍ رڼا او د علم وعرفان نور دواړه جمع کړو او پښتو و پښتنواله یو ځای وروزو او عقیده ولرو، چې زمونږ خاوره د تهذیب او ښو صفتونو زانگو وه او د تاریخ په حق شهادت تهذیب پلوشې زمونږ د ملک او زمونږ د پلرو د اعمالو د هنداري څخه په دنیا کې منعکس شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرکت او پښتون

لمر ختلی او وړانګې یې له درونځې نه کوټې ته را پرې وتلې دي، یو وړو کی ماشوم، چې نوی له خوبه راپاڅیدلی په کټ کې ناست دی او د لمر پلوشو ته هر ساعت لاس وراچوي، مګر هېڅ شی په لاس نه ورځي او موټې یې هماغسې تش پاتې کېږي. دی پدې نه پوهېږي، چې دا وړانګې زما په سترګو کې ځای لري او هیڅ ته لاس نه ورکوي.

اوه! واړه او کوچنیان څه عجیبه طایفه ده او څنګه شیانو پسې هڅه کوي، دوی چې کله خپل ځان په هنداره کې ویني هم لاس وراچوي او منګولې ورسره لګوي، دوی ته خپل ځان هم پردی ښکاري او د خپل سر خولۍ هم د بل ګڼي. که ښه فکر وکړو مونږ هم لکه دوی له خپل ځان سره په جګړه اخته یو او په همدغسې شیانو پسې هڅه کوو، خو دومره فرق شته چې دوی ته خپل شی هم د بل ښکاري او مونږ د نورو مال هم خپل ګڼو، دوی په اورني کې کلک تړلي وي سره له دې لاس او پښې خوزوي او خپل ځان خلاصوي، مګر مونږ بې تړلو هم هېڅ حرکت نه کوو او ځای پر ځای پراته یو.

هو! مونږ او واړه دومره ډېر فرق نلرو، که مونږ لکه دوی د خپل ځان او وطن لپاره څه نشو کولی یا واړه یو او یا ویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! خوب هم یو عجیب کیفیت دی یوه شپه، چې زه په درانه خوب ویده وم او تندې راباندې ډېره غلبه کړې وه، نو ما به لوی لوی سیندونه او ولې لیدلې او هرساعت به مې اوبه څښلې، خو مړېدم به نه او تنده مې نه ماتیدله. کله به مې په لویو ډنډو کې لمبل او کله به مې په لوی سیند کې غوټې وهلې، مګر له خوبه را پاڅیدم لاس مې هم لوند نه و او سخت تږی وم.

د ویدو قومونو ټول کارونه به البته همدغه شان وي، چې هېڅ نتیجه به نلري دوی. به ګمان کوي چې مونږ کار کوو او ګرزو، مګر په حقیقت کې به ځای په ځای پراته وي او هېڅ به یې نه وي کړي.

خوبونه هم ټول یوراز نه دي ځینې خلک ویده دي او په خوب کې خبرې کوي، بعضې لا داسې هم وي چې له ځایه پاڅېږي او ګرزي، مګر ویښ نه وي. د چا خوب ډېر زیات او دروند وي، چې په چیغو هم نه راویښېږي او ځینې کسان په یوه نري ګنګوسې ویښ شي، نو ویښول که څه هم د ویښوونکي کار دی، مګر د ویدو حال پکې ډېر تاثیر لري. همدغه سبب دی چې د یوه ځای شاعران ډېر ژر خپل قام پرېښولی شي او د بل ځای شاعران دا افتخار نشي ګټلی او د سوز نارې یې د هوا په امواجو کې بې فایدې ورکیږي.

ویښول هم ډېر اقسام لري، سړی ټول په یو شان نه ویښوي، کشرانو ته سړی نارې وهي او ښوروي یې، مګر ځینې کسان په چاپي کولو او کښېمنډلو بیداریږي. پدې عصر کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينبتوب تر هر څه ضرور دي بايد هېڅوک ويده پاتې نشي، هر څوک که د خپلو خواخوږو په نارو نه وينښيږي، نو دښمنان يې د برچو په څوکو وينبوي. او هسې يې نه پرېږدي، نو د دښمنان يې د برچو په څوکو وينبوي او هسې يې نه پرېږدي، نو بايد وينښ شو، مګر داسې وينښ نه لکه واړه هلکاه، چې له يوه خوبه راپاڅيدلي او په بل شان خوب کې پراته دي. لاس او پښې ښورول ضرور دي، خو دا سېنه چې سړی د وړانګو په نيولو خپل وخت تير کړي، وړانګې هم سړی نيولي شي او پوره استفاده ورځينې کېږي، مګر هله چې سړی پوره وېښ وي او د زړه سترګې يې هم غړولې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوئیدل او جدیت

لکه چې د باغ بوټي او نیالګي ورځ په ورځ لوئیږي او وده کوي همدغه شان انسان همه د رشد او تکامل لور ته روان دی، مګر هېڅوک دا مسیر په سترګو نشي لیدی او هره شېبه په تفاوت نه پوهېږي. کله چې نباتات له مځکې نوي راجګ شي له خاورو سره برابروي او ښه لانه لیدل کېږي، مګر څه موده وروسته ښایسته ډېر لوی شوی وي او ښه وده یې کړې وي، دا لویوالی یو ځل نه پېښېږي، بلکې له ابتدا ځنې په یوه داسې تدریجي صورت جاري وي، چې څوک یې هره ورځ فرق نشي محسوس کولی، مګر هېڅوک ورځنې انکار نشي کولی، دنیا هم له خپلو ټولو موجوداتو سره همدغه شان د ترقۍ په لور روانه ده، که څه هم مونږ پکې پټې سترګې پراته یو او حرکت یې نه وینو دغه نشو و نما، چې په کایناتو کې په طبیعي صورت جریان لري او هېڅوک یې مخه نشي نیولی کله کله د بعضې عواملو په اثر کې د طبیعي حاله وزي او تغیر پکې پېښېږي.

هو! انسان دا اقتدار لري، چې د طبیعت سېر د خپل تدبیر په موسسه کې ګړندی کړي او پخپله روزنه او زیار یو باغ ډېر ژر سمسور کاندي. د انسان جدیت او فعالیت هم په حقیقت کې همدغه معنیٰ لري، چې دی له طبیعت سره یو لاس شي او خپل تاثیر څرګند وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله سړی پدې راز بحثونو کې له ځینو کسانو اوري، چې په هر کار کې اعتدال ښه دی او ډېره بېړه ښه نه ده...

هو! اعتدال ښه دی او په هېڅ کار کې دومره بیړه نه ده په کار، چې سړی پخوا له فکر کولو یوه کار ته ملا وتړي او داسې منډې پکې ووهي، چې په یوه شېبه کې ځان دومره ستومانه کړي، چې بیا دوه ساعته ځای پرځای پروت وي او د حرکت نه وي، مګر داسې هم باید ونشي چې سړی اعتدال د ځان دپاره پلمه کړي او ټول کارونه طبیعي جریان ته وسپاري.

وګورئ! اوسپنه یا نورو فلزات پس له ډېرو قرنو او پیړیو د یوه مناسب حرارت او طبیعي تحول په اثر کې دا صلاحیت پیدا کوي، چې بعضې الات او اسبابونه ورځني جوړ شي، مګر کوم وخت چې صناعتي فابریکې د انسان لاس ته را ورسېږي ډېر ژر هر راز تحولات قبلوي او د انسان جدیت او فعالیت ته ځان تسلېموي.

نو د طبعیت سیر همېشه پداسې طور جاري وي، چې لیدل کېږي نه، مګر د انسان د فعالیت اغېزه ښکاره او څرګنده وي.

په هرځای او هر مملکت کې، چې د جدیت څرخونه په بیړه چلېږي هلته په ټولو شعبو کې ښکاره پېشرفت لیدل کېږي او ورځ په ورځ په کارونو کې تفاوت محسوس کېږي، نو باید هر سړی د خپل جدیت او فعالیت له مخې هر راز موانع لرې کړي او مخ پر وړاندې لاړ شي، پدې لاره کې که سړي ته هر څومره پېچومې مخې ته راشي باید سترګې یې ورته سپینې نشي او اسانه یې وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی که په يوه قوي زړه او د امکان په سترګه هر شي ته ګوري هغه ته ډېر موانع پيښيږي او څه شی يې مخه نشي نيولی، مګر هغه کسان چې ضعيف النفس دي هغوی پخپله ځانته موانع پيدا کوي او دومره اهميت ورکوي، چې د اقدام تصور هم نشي کولی. ډېر خلک يوازې د همدې لامله چې يو کار ورځينې خراب نشي هېڅ کار ته زړه نه ښه کوي او له هر شي ځنې ډډه کوي. زما په خيال دغه راز ذهني موانع له ټولو موانعو ځنې ډېر تاثير لري، ځوک چې له خپل پيشرفت سره مينه او علاقه لري هغه بايد دا راز فکرونه بيخي له ځانه لرې کړي او خپل هغه حرکت، چې د ده نقصان او تاوان موجب کېږي هم له سکونه ښه وګڼي.

سړی بايد په لوی لاس خپل ځان يا بل ته ضرر ونه رسوي، مګر له موهوم ضرر ځنې هم دومره ونه ډارشي، چې هېڅ کار ته لاس وړاندې نکړي او لاس تر زنې ناست وي.

انسان له ډېرو زيانونو او تاوانونو ځينې يوه ډېره قيمتي او مهمه فايده اخلي، چې هغه تجربه ده، ځوک چې د ژوندون په حقيقي مفهوم پوهېدلی وي، چې حيات بې له حرکت او جديت ځنې بل شی نه دی او دا هم ورته معلومه وي، چې د دنيا ټول ژوندي شيان د همدغه ورزش په مرسته قوت او طاقت مومي، هغه هېڅکله ځای په ځای کښېناسته نه قبلوي. وګورئ! کوچنيان او واړه د خاپوړو او ځخيدلو په ذريعه خپل غړي قوي کوي او په سکون نه راضي کېږي.

دا ځکه چې د حيات له قانونه خپل سر نه غړوي او که هر څومره پخپلو حرکاتو کې تکليف ويني او هر ساعت پر مخ ولوېږي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپاڅېږي او پخپلو پښو درېږي. دا ګرزیده اوښوریده دوی خپل کار ګڼي او هېڅکله له خپلې مور یا پلار ځنې پکې مرسته نه غواړي.

هر څوک چې غواړي له خاورو ځنې خپل سر را هسک کړي او پورته شي یا په بل عبارت د بلې ورځې دپاره ځان قوي کړي هغه باید له دغسي پرزیدلو او ولیدو ونه ډار شي او نه په دا راز واقعاتو، چې د حیات په لاره کې هر چا ته پېښېږي دومره متاثر شي، چې له هر څه لاس واخلي او په هسې کښیناستو راضي شي.

نو اعتدال پسندي باید زمونږ د پیاوړو ملګرو د جدیت او فعالیت سیر ورو نکړی شي او نه باید د احتیاط نوم په دوی دومره اغیزه وکړي، چې غړي یې بیخي سست شي او هېڅ ونکړي، ځکه چې احتیاط دیته نه وایي، چې سړی هېڅ نه کوي او نه اعتدال دغه شی دی، لکه چې بعضې خلکو د خپلو داسې حرکاتو دپاره نوم ورکړی، چې په سترګو نه لیدل کېږي او نه یې چا ته تاثیر معلومېږي.

کوم قومونه چې د ترقۍ په لار کې له نورو ځنې وړاندې او دمخه دي که هغوی د اعتدال په نامه خپل سیر لږ څه ورو کوي او په وقار و متانت و تکامل سیر قطع کوي، ورته ښایي، مګر یو داسې قام چې له نورو ځنې بیرته پاتې وي هغوی باید له منډو کار واخلي او په نورو پسې ځان ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوره ژوندون

دغه شپې او ورځې چې زمانه او وخت بلل کېږي، د نړۍ پر ټولو موجوداتو باندې راځي او تیرېږي، مګر کوم تاثیر چې په حیواناتو کې کوي هغه د صحرا په کاڼو کې نشي کولی.
زمانه او وخت د باغ په ونو او بوټو خزان او بهار راولي، چې بعضې بوټي ورکوي او بعضې نوي پیدا کوي، همدغه شان په حیواناتو کې زړښت او ځواني، قوت او ضعف پیښوي، مګر د بیدیا ګاڼې که هر څومره وخت وربانديې تېر شي هماغه شان وي، د پسرلي نسیم او د منې بادونه پکې هېڅ توپیر نه ښکاره کوي، نو ویلی شو چې عصر او زمانه په ژوندیو شیانو کې تاثیر کوي او ژوندون هم د زمانې تاثیر قبلولوته وایي.
هو! زمانه او عصر په ژوندیو شیانو کې د هر شي د احساس په اندازه اغیزه او عمل کوي او په هغه ځمکه کې ښایسته او میوه داره بوټي زرغونوي، چې هلته د حیات ماده او ژوندي ذرات موجود وي، په شنډه مځکه او وچ ډګر کې هېڅکله هغه تاثیر نشي کولی چې په باغ او بڼ کې یې کوي. همدارنګه کوم تاثیرات، چې زمانه او وخت د انسانانو په ډله او ټولګي کې لري هغه د غرو او رغو په حیواناتو کې نلري، نو ویلی شو چې انسان د زمانې له تاثیره نسبت ټولو موجوداتو ته زیاته استفاده کوي او لکه څنګه، چې زمان په ده کې تاثیر او عمل کوي، دی هم په زمان کې عمل او اغیزه کوي، همدغه انسان دی، چې د ده په افعالو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعمالو يو عصر له بل ځينې بېلېږي او د ده په شاهکار يو قرن په بل باندې افتخار او سر لوړې کوي.

زمانه ځي او تېرېږي، مګر د انسان اعمال او افعال له ځانه سره داسې نښې ورې، چې د خلکو هېر شي او د چا له ياده واوزي.

زمانه دا کولی شي، چې انسان له ځان سره ملګري کړي او له دې نړۍ څخه يې بوزي يا په بل عبارت د ده وجود خاورې کړي، مګر د ده ښه نوم او ښه عمل هېڅکله او په هېڅ شان نشي محو کولی.

ښايي، چې بعضې کسانو ته د ښه عمل په نسبت دا سودا پيدا شي چې مونږ ښه عمل څه شي ته وايو؟ او زمونږ مقصد پدې ټکي کې څه شی دی؟

د دې پوښتنې ځواب به همدومره لنډ او اسانه ښه وي: هرکار چې د نورو انسانانو په خير او فايده تامېږي او خلکو ته يې فايده رسيږي هغه ښه عمل او ښه کار دی.

زمونږ دا لنډ عبارت البته هر راز مادي او معنوي امور چې د بشريت په فايده باندې تمامېږي د ښه عمل په نامه خلکو ته معرفي کولی شي. همدغه ښه عمل دی، چې د بشر په تهذيب او تمدن کې لويه برخه لري، چې بايد زمان او مکان ورباندې فخر او لويي وکړي.

دغه راز ښه عمل که هر څوک پخپلو سوانحو کې لري هغه به په اخرت کې هم د ده په مخکې لکه د جنت ښکلې او ګلالۍ حوره ګرزي او دی به ورځنې خوند او حظ اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دا بحث د ژوندون په شاو خوا کې دی او هغه انسان ور باندې ستایو ، چې دغه راز ښه عملونه ورځنې پخپل عصر او زمانه کې ولیدل شي. مونږ مخکې وویل چې ژوندون د زمانې تاثیر قبلولو ته وایي، مګر دا د حیواني او نباتي ژوندون تعریف دی، چې د انساني ژوندون په نسبت نیمګړی او ناقص معلومیږي، مونږ هغه انسان په انساني ژوندون باندې ستایو ، چې هغه هم د زمانې عمل او تاثیر قبلوي او هم پخپله په نورو شیانو کې اغیزه او عمل کوي، مونږ هیڅکله هغه قوم یا هغه ملت ژوندی نشو بللی، چې زمان ورباندې راځي او تیریږي او دوی پکې هیڅ نه کوي.

دغسې عمر یا شپې او ورځې خو په حیواناتو او باغ و بڼ باندې هم تیریږي، چې هغوی ورځنې استفاده کوي او لویږي، مګر دغه لوییده د دوی کار او عمل نه بلل کیږي، ځکه چې دوی یوازې د زمانې تاثیر قبلوي او پخپله څه نه کوي.

مونږ غواړو چې انسان پداسې حیات او ژوندون وستایو ، چې له ده سره وړ او مناسب وي. انسان باید په دنیا کې داسې ژوندون وکړي، چې د نورو په ژوند کې هم برخه واخلي او خپل قرن ژوندی کړي.

د دنیا لوی مصلحین او لارښونکي، لوړ او نوموړي فیلسوفان چې د بشریت کاروان یې د جهالت په توره شپه کې په سمه لار روان کړي دي او د جهالت په توره شپه کې یې، لکه د اسمان ځلیدونکي ستوري هر چا ته لوری او لودن ښودلی دی، چې د بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مادي او معنوي حيات د دوی مرهون دی او تر او سه پورې د دوی په نامه په دنيا کې ژوندي دي. همدوی د انساني ژوندون مثالونه او ښې ښې نمونې دي، چې په لوړ او تام حيات ستايل کېږي. دا راز حيات نه د زمانې سيلاب وړلی شي او نه يې قرنونه او عصرونه په اثرو باندې خاورې اړولی شي، دا راز ژوندون دومره قدر او قيمت لري، چې زمان او مکان ورباندې ويارې او د مځکې پله په همدغسې کسانو باندې درنه او سنګينه ده، چې پرښتې ورته د لمر او سپوږمۍ ډيوه په لاس ولاړې دي او ننداره يې کوي.

موږ غواړو چې انسان خپله اندازه او خپل استعداد په نظر کې ونيسي او ځانته هغسې ژوندون غوره کړي، يعنې هېڅکله په يوه داسې ټيټ او ناوړه حيات، چې حيوانات يې هم لري راضي نشي.

حيات او ژوندون ځانته مدارج او مراتب لري، چې مونږ يې دلته په نباتي، حيواني او انساني ژوندون ستايو، چې نباتي حيات بې شعوره او حيواني حيات ته شعوري ژوندون ويل کېږي، هر کار چې انسان له شعوره ورتېر د عقل او فکر خاوند هم دی بايد د ده حيات او ژوندون هم لکه فانوس د علم او پوهې په رڼا ښايسته او روښانه وي، چې د زمانې په حال تاثير وکړی شي او تياره يې په رڼا بدله کړي. همدغه حيات چې هم د زمانې تاثير قبلوي او هم پخپله په زمانه کې تاثيرکول دي، کامل او پوره حيات بلل کېږي، چې د انسان دپاره مناسب دی، که مونږ غور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو د مځکې د نورو موجوداتو ژوندون هم په حقيقت کې د انسان په حيات پورې تړلي دی. که د انسان حياتي فعاليتونه نه وي، د حيات او ژوندون ماده به د مځکې له مخه که بېخي ورکه نشي، نو دومره خوبه کمه شي چې له دې وخت سره هېڅ نسبت پيدا نکړي.

نو انسان بايد لکه لمر يو با حرارته او روښانه ژوندون ولري، چې د ده په تاثير د مځکې د مخ ټول شيان وروزل شي او وده وکړي.

هو! انسان بايد لکه لمر داسې وي، چې د ده په تلو د مځکې نيمه کره د غم او ماتم تور کالي واغوندي او هر څوک د ده تګ له دنيا ځنې پوره حس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند مقصد

هر سړی چې هر څه غواړي یا له هرشي سره مینه لري، هماغه شی د ده مقصد او مطلب یا په بله ژبه خواهش او ارزو بلل کېږي، هغه مین او عاشق چې خپلې معشوقې ته رسېدلي او خپله محبوبه یې په داسې خوشحالۍ په غېږ کې نیولې ده، چې بې شرابو مست او مدهوش دی یا هغه څوک، چې شپه او ورځ یې د شهرت د ګټلو او اعتبار پیدا کولو دپاره یوه کړې او لوړې رتبې ته رسېدلی دی، همدارنګه هغه د علم او عرفان د ډیوې پتنګ، چې د جهالت په توره شپه یې ځان د معرفت رڼا ته رسولی دی او له هر چا ځنې خپل ځان مسعود ګڼي، دا ټول په حقیقت کې بې له دېنه چې خپل مقصد ته رسېدلي دي بل مفهوم نلري.

نو د دنیا هره خوشحالي یوه ګرانه او قیمتي مرغلره ده، چې د مقصد په لمن کې موندل کېږي.

دنیا په حقیقت کې یو نندارتون دی، چې انسان ته هر راز ښکلي او ښایسته شیان ورښیي، چې هر څوک له خپل ذوق او خواهش سره سم یو شي پسې هڅه وکړي او ځان ور ورسوي، بلکې انسان لاخه چې حیوانات او د هوا مرغان یې هم هسې نه دي پرې ایښي، بورا یې د ګل په ګلالیو پاڼو مین کړی او د پتنګ په زړه کې یې د شمع د محبت ډیوه بله کړې ده، نو چې سړی خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې ښې وغړوي او هر طرف ته ښه په ځيرځير وګوري هر شی او هر څه د خپل مطلب او مقصد دپاره زيار باسي او په هر شواخون، چې وي ځان ورسوي، نو بيا ويلی شو چې ژوندون په حقيقت کې د خپل مقصد دپاره حرکت او جديت دی خوشحالي يا سعادت هم د مقصد په رسېدلو يا د مقصد دپاره په زيار ايستلو کې دی، بلکې هغه کسان چې خپل مقصد ته لانه دي رسېدلي او په لاره کې دي د هغوی خوشحالتيا لا يو بل شان کيف لري، چې په کاميابۍ کې نه پيدا کېږي.

مونږ مخکې وويل، چې ژوندون هغه حرکت دی، چې د خپل مقصد او مطلب دپاره وي، ځکه چې هر حرکت او ژوندون سند او دليل نشي کيدی، هغه ګټه چې څوک يې له غره ورغړوي او په ډېره بېړه مخ ښکته راځي يا هغه خزان وهلې پاڼه، چې د منې باد يې له ونې بېله کړي او يوه خوا بله خوا يې وړي دا هم حرکت دی، خو ژوندون ورته نه وېل کېږي، همدارنګه موټر، بايسکل، طياره او داسې نور، چې د بل مقصد دپاره په حرکت کې دي او پخپله کوم مقصد نلري ژوندون نه بلل کېږي. مونږ دلته په مطلق حرکت کې بحث نه کوو او نه مطلق حيات زمونږ د بحث موضوع ده، زمونږ غرض انساني ژوندون او انساني حرکت دی، چې عالي يا حقيقي حيات ورته ويل کېږي، نو هر انسان چې په هغه کې دغه راز حرکت نه وي هغه ژوندی نه بلل کېږي، مګر په حيواني ژوندون قاېليدی شو. د انسان حرکت د حقيقي ژوندون نښه نه ده. هغه انسان چې ګوزنګ وهلی دی شپه او ورځ په حرکت دی يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړو له لاسه او د چا لـه ډاره، لکه پاڼه رپېږي. دا هم حرکت دی، خو د مقصـد دپـاره نـه، همدارنګـه هغـه څـوک چې پټې سترګې پروت دی او پـه ویـدو یـوه خوا بلـه خوا لاس اچـوي یـا ډډه پـه ډډه اوړي راوړي دا هم حرکت دی، مګر داسې ناقص حرکات د حقیقـي او انسـاني ژونـدون دلیـل نشـي کیـدی. مـونږ هغـه انسـان تـه پـه حقیقي ژوندون قایلیدلی شو، چې په خلاصو سترګو پخپلـه اراده او مینه د خپل مقصد، خپل ملت او خپل وطن دپاره کار او حرکت کوي او که داسې نه وي، نو د دغسې کسانو مرګ او ژوند څه فرق نلري، ځکه چې د دغسې کسانو حیات او ژونـدون بې لـه خوراکه بله هېڅ نتیجـه نلري او پـه دې هرڅوک پـوهېږي، چې ژوندون پـه نامه خوشحال وي، ځکه چې دا راز ژوندون د حیوانـاتو پـه برخـه رسېدلی دی، چې باید انسان هېڅکله وربانـدې خوشحاله نشـي.
زمـونږ لـه دې تېر بحث څخـه بـه دا ښکاره شوې وي، چې زمـونږ مقصـد پـه دې وینـا کـې د حقیقـي او انسـاني ژونـدون تعریـف او ښودنه ده، چې د هر چا ورتـه پـام شي او پیـدا یـې کړي، نـو بیـا د نتیجې په ډول وایو، چې حقیقي یـا انسـاني ژونـدون هغـه حرکـت دی چې د خپل مقصد دپاره وي او هر څومره، چې د سړي مقصـد لوړ او ښه وي هغومره یې ژوندون هم ښه او د ستایلو وړ وي.
که دیـو سړي مقصد لـه خپـل شخصـي مفـاد څخـه لوړ او پـورتـه وي، یعنـې یـوازې د خپـل ځـان پـه غـم نـه وي اختـه او د اجتمـاعي سعادت دپاره هم زیار باسي، البتـه د دې سړي ژوندون او حیـات ډېر قدر او قیمت لري، چې باید هر څوک یې وستایي او ور بانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله وي، ځکه چې حیات د مقصد حاصلولو وسیله ده او قیمت هم د مقصد په اعتبار ټاکل کېږي، مګر دا هم باید ووایو چې لوړ او ښه مقصد هر څوک د ځان دپاره نشي ټاکلی او نه د هر چا سترګې ورباندې ننښلي، ځکه چې هر څوک د خپلې پوهې او خپل فکر په اندازه یو شی خوښوي، چې هغه یې مقصد بلل کېږي، نو هر څومره چې د یوه سړي تعلیم لوړ وي او تربیه یې ښه وي او په هره اندازه، چې د چا بصیرت او بصارت زیات وي هماغومره یې مقصد هم ښه او عالي وي، نو مونږ هېڅکله له یوه داسې سړي چې هغه د انفرادي حیات له دایرې څنې دباندې نه وي وتلی او د اجتماعي حیات تصور هم نشي کولی، دا امید نشو کول چې هغه دې یو اجتماعي مقصد ولري او د هغه مقصد دپاره دې زیار وباسي، نو زمونږ د پوهانو او لیکوالو دا وظیفه ده، چې خلکو ته لوړ او عالي مقاصد ور وښیي او له اجتماعي حیات سره یې اشنا کړي، یعنې د لوړو مقاصدو محاسن او ښېګڼې ورته پوره ښکاره کړي، چې هر څوک په ډېره مینه او محبت د یوه ښه او لوړ مقصد په لور روان شي او دومره شوق ورسره ولري، چې هېڅکله ستړی او ستومانه نشي او نه یې هېڅ راز تکلیف او زحمت مخه ونیولی شي. هو! د پوهانو په برخه له اولې ورځې دغه وظیفه رسېدلې ده، چې د خلکو له سترګو د جهالت پردې لرې کړي او له درانه خوبه یې راجګ کاندي، چې هر څوک د خپل حیات او ژوند دپاره حرکت وکړي او له دغو شپو او ورځو، چې په هر چا باندې تېرېږي استفاده وکړي، ځکه چې زمانه په حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لکه یو بحر داسې دی، چې هر څوک ورځنې د خپل مقصد په اندازه استفاده وکړي څوک ورځني ښایسته او قیمتي مرغلرې راوړي او څوک پکې یوازې کبان نیسي. بعضي لا داسې هم وي چې بې له اوبو څښلو نوره استفاده نه کوي. مونږ باید د زماني له دریابه پوره استفاده وکړو او په قیمتي مرغلرو پسې لاس وګرزوو، زمونږ ښاغلي او پوه ادیبان باید لکه د پښتو او پښتونولي حامي خوشحال خان خټک خلکو ته د سعې جدو جهد درس په دې ډول ورکړي.

**کــه غــوټۍ پســې وهــې پــه لاس بــه درشــي**
**چــا وې دا چــې پــه دریــاب کــې ګــوهر نشــته**

دا راز صحیح افکار که د چا په مغزو کې ځای ونیسي او یقین پیدا کړي، چې په سعیه او کوشش، جدو جهد هر راز مطلب حاصلېږي او سړی پخپل زیار و زحمت له وخت او زماني ځنې هر ډول مادي او معنوي استفاده کولی شي، هغه هېڅکله محروم نه پاتې کېږي او هرو مرو د زماني له ډکه دریابه خپل مقصد او د مراد ګوهر لاس ته راوستلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګنهل

شپه ده او د اسمان ځلیدونکي ستوري درګرده سترګکونه وهي. زه پورته پاس په اسمان کې د سپوږمۍ او ستورو ننداره کوم یو بل هلک، چې د یوه لوی ډنډ پر غاړه ناست دی هماغه سپوږمۍ او ربړیدونکي ستوري په رڼو اوبو کې د ډېرښکته د مځکې په تل کې ویني.

ګورئ! د انسانانو نظر څومره توپیر لري، چې یو شی په یوه وخت کې څوک پاس پخپل سر ویني او څوک یې ټیټ په مځکه کې مومي، همدغه یوه رڼا ده چې هم پورته په شنه اسمان کې او هم ښکته په مځکه کې ترسترګو کېږي، نه همدغه یو شین ډنډ دی چې هم پاس په سر ولاړ دی او هم ترپښو لاندې لیدل کېږي، مګر که سړی لږ څه د شپږو جهانو او خواو له قیده ځان خلاص کړي او د خپلو اعتباراتو له دایرې څنې بهر شي، نو بیا د حقیقت په لویه او لایتناهي فضا کې لوري او لودن ورکوي او خپل ځان هم ورځنې ورکېږي.

نو انسان په حقیقت کې تل د خپل اعتبار او ګمان په نړۍ کې ژوند کوي او هرڅه په هغه جامه کې ویني، چې دی یې وراغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو؛ د دنيا ټيټوالی او پورته والی زمونږ سترګو او اعتبار پيدا کړی دی او دا سره او شنه رنګونه زمونږ د دوو سترګو مولود ګڼل کېږي.

که زمونږ اعتبار او ګڼل څه قيمت ونلري سره او سپين، زيړ او ګليتې څه توپير نلري.

مونږ ته خپل ګمان بعضې واړه شيان غټوي او بعضې غټ شيان راته واړه ښکاره کوي، د کار ګرانتيا او اسانتيا زمونږ په لاس کې ده او د هر شي قيمت او اهميت زمونږ په اعتبار او ګڼلو پورې اړه لري.

همدغه زمونږ ګڼل او اعتبار په هر څه کې تاثير کوي او په دنيا کې نوي دودونه او ذهنيتونه پيدا کوي.

همدغه شی دی، چې کله انسان له يو موهوم شکل څخه ويروي او کله يې د توپ خولې ته د حملې دپاره تياروي. د انسان ګمان او اعتبار يو داسې طلسم دی، چې که دی يې پخپله مات نکړي هېڅوک يې نشي ماتولی.

نو هر قام او هر ملت ترهغه وخته لوړ او غښتلی وي، چې پخپل ځان ويسا او اعتماد لري او هر کله، چې خپل ځان ضعيف وګڼي نو بيا يې هېڅکله پښې نه ټينګېږي او نه د سيالۍ په ميدان کې پخپلو پښو درېدلی شي.

همدغه سبب دی، چې نن د هر ملت پوه او پياوړي واکداران خپل ملت ته د غرور ملي او اعتماد بنفس درس ورکوي او په دغه راز تلقيناتو کې يو قوي زړه پيدا کوي، چې بعضې ورځنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خودي باندې تعبير کوي او د ملتو په لوړوالي او ارتقا کې زښت ډېر تاثير او اغيزه لري او اجتماعي پوهان يې خورا ډېر ستايي، ځکه چې حقيقت تر يوې اندازې زمونږ د اعتبار او نظر په واک دی او لوړوالی يا ټيټوالی هم زمونږ په ليدو پورې اړه لري.

هو! همدغه انسان دی، چې کله حقايق باطلوي او کله د خپل لاس په بوتانو خپل ځان غولوي، همدغه انسان دی چې کله سومنات ماتوي او کله يې پخپله جوړوي، همدغه انسان دی چې کله د دين او شريعت له دايرې اوزي او کله د عرف او عادت په لومه کې داسې نښلي، چې هېڅکله ځان نشي خلاصولی.

هو! انسان کله د لاس غوټه په خوله خلاصوي او اسانه کار ځانته ګرانوي. کله ډېر مشکل او ګران کارونه اسان شمېري او د خپل ګمان په مرسته يې په اسانه سرته رسوي، نو ويلی شو چې د انسان خپل ګمان د ده په حق کې منلی او صحيح حقيقت دی او که يو ځل پخپل ګمان بد ګمان شو، نو بيا په هېڅ ځای کې حقيقت نشي پيدا کولی او پخپل وجود هم نه قايلېږي.

څومره به ښه وي، چې زمونږ او ستاسې ګمانونه ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه او سترګې

کله چې یو شی په سترګو کې ښه ښکاره شي او په زړه کې ځای ونیسي او کله زړه یو شی سترګو ته ښه ښکاره کوي. د سترګو کار له ښایست سره دی او د زړه له مینې او محبت سره، کله مینه د ښایست په اثر کې پیدا شي او کله د مینې په سبب سړي ته یو شی ښایسته او ګلالی ښکاري. بعضې خلک دي چې زړه یې په سترګو کې دې او بعضې په زړه کې سترګې لري، ډېر ځله د سر سترګې غولېږي او لکه وړکی هلک په یوه ښایسته مار خپل زړه بایلي، لکه د هوا مرغه شنه پتې ته راښکته کېږي او د څو دانو دپاره ځان په لومه کې نښلوي، مګر د زړه سترګې په داسې شیانو نه غولېږي او هر شي کې د نقص او مفاد ډېر واړه ذرات ویني، یوازې ظاهري ښکلیتوب او داسې ګلالیتوب نه خوښوي، چې عاقبت او نتیجه یې ښه نه وي. دغه د سر سترګې چې د لمر او سپوږمۍ په رڼا کې یو شی او بل شی ویني هر څوک لري، مګر ډېر لږ خلک دي چې د زړه په سترګو څه شې لیدلی نه شي، ځکه چې دا سترګې د علم او عرفان رڼا غواړي او بې له دغې رڼا هېڅ نه ویني او ورباندې تورتم وي. کله کله سره د علم له رڼا هم دا سترګې څه نه ویني، ځکه چې بعضې داسې پردې ورباندې پرتې وي، چې بې د هغو له پریکولو هېڅ کار ورځنې نه اخیستل کېږي، دا پردې زیاتره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقلید په سبب پیدا شوې دي یا د اوهامو او خرافاتو ګرد او غبار پیدا کړي دي، چې علم یې هم علاج نشي کولی.

دا سترګې د انسان هغه پټ استعداد دی، چې په مختلفو نومونو، لکه عقل، بصیرت، فکر او داسې نوو ورځنې تعبیر کېږي.

او انسان ورباندې له نورو حیواناتو پېژندل کېږي. انسان باید اړومرو خپلې دغه سترګې وغړوي او کار ورځنې واخلي. سترګې پټول چې د پښتنو په محاوره کې لوی عیب دی، هغه د همدغو سترګو پټول او حقیقت ته نه کتل دي. کوم ضعف یا عیب که په دغو سترګو کې وي هغه باید حتماً اصلاح شي، ځکه چې تر هرڅه دمخه دغه علاج ضرور او لازم دی. که دا سترګې روغې نه وي د علم رڼا هېڅ او بې فایدې ده، لکه چې یوه ړانده ته د لمر پلوشې هېڅ دي، ځوک چې دا سترکې نلري هغه لکه ښاپیرک د علم له رڼا تښتي او ځان ورنه پټوي یا لکه هغه بوټی، چې د لمر رڼا ور باندې بده لګېږي او په سیوري کې ښه وده کوي، دی هم په تورتم او تیاره کې خوښ او خوشحاله وي.

چا چې د زړه له سترګو کار اخیستی او په همدغه نظر یې دنیا ته کتلي هغوی د دنیا په صحنه کې ډېر شیان لیدلي او هر څه یې پخپله لمن کې راغونډ کړي دي، ځکه چې د دې سترګو مخه هېڅ شی نشي نیولی او تر ډېرو لرې ځایو پورې رسیږي، که انسان له دې سترګو کار واخلي او دا سترګې وروزي، نو خپل وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته حال ومال تر يوې اندازې ويني او خپل ښه او بد تر هغه حده چې د بشر لاس رسيږي سنجولی شي.

څوک چې دا سترګې لري هغه له هغو شيانو، چې مونږ ته عادي معلومېږي ښه لوړ مطلب معلومولی شي او د يوې منې له لويدلو ځنې د مځکې د قوې جاذبه معلوموي، د داسې کسانو په نظر کې د ونې يوه شنه پاڼه د معرفت دفتر او کتاب وي، چې ډېر حقايق پکې ويني او ښه ښه نتايج ورځنې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه دې پېژنم

که ته سل ځله ځان راته په بل ځېر وښيې او خپله جامه بدله کړې، زه دې پېژنم او پخپل زړه کې ستا حقيقت ته په ځير ځير ګورم، ستا خوښه چې ځان هر ځنګه ښکاره کوې او پخپل ظاهري وضعيت کې هرڅه تغير کوي، مګر پدې پوه شه چې نه به د چا په ادراک او بصيرت پرده وغوړوې او نه به خپل حقيقت بدل کړې، لکه چې يو مين خپله ليلې په لوی ټولګي کې پېژني يا لکه يو حقيقت ليدونکي، چې ريا کار زاهد تر سپين څادر لاندېويني چې دا څوک دی او څه کوي، همدغه شان ته هم هېڅکله نه پټېږې او زه دې پېژنم.

ته په خپله چالاکۍ خپل ځان بل راز ښکاره کوې او زه هم ستا په مخکې څه نه وايم، مګر په زړه کې پوهېږم چې ته څوک يې؟؟ ته پدې پوه شه، چې ښه لباس، ښه وينا، ښه شهرت، عزت او اعتبار همدارنګه يو هسک او جګ مقام ته ختل هېڅکله د سړي معنوي معيار نشي لوړولی که څه هم د ځېنو په نظر کې لوړ ښکاري. ته پدې پوه شه، چې که خلک ستا له ظاهري حاله متاثر کېږي او تا بې موجبه ستايي، دا ستاينه تاته هېڅ فايده نشي رسولی او نه ستا په حقيقت کې څه تغير او تحول پېښوي.

هو! که يې سل ځله څوک لعل لعل بولي
په ستايلو به لعل نشي کوتی لال

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه یو غمجن سړی پخپله مصنوعي خوشحالي ځان نشي خوشحالولی همدغه شان ټول ظواهر د حقیقت په تبدیل کې بې دخله او بې تاثیره دي.

یو تیټ سړی که دغره سر او جګ ځای ته وخېژي هغه ته هر څه تیټ ښکاري، مګر دی هم تیټ وي او په حقیقت کې هېڅ نه وي لوړ شوی.

نو دا راز لوړوالی بې له دېنه، چې د سړي په نظر کې نور تیټ ښکاره کړي او غرور پیدا کړي بله فایده نلري.

هو! داراز لوړوالی سړی له نورو خلکو ځنې لرې کوي او لویوي یې نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقيقت

لکه چې کله کله سړي ته خپله واهمه په توره شپه کې بعضې ډارونکي شيان پيدا کوي، چې هغه يوازې د ده په سترګو کې ځای لري او بل څوک يې نه ويني. دښمنان او معاندين هم بعضې داسې عيبونه د سړي په شان کې ويني، چې نور خلک يې نشي ليدلی او يوازې د همدو(تخيل پيدا کړی وي، نو لکه څنګه چې عشق او محبت زموږ سترګې داسې تړي، چې د خپل محبوب معايب له محاسنو ځنې نشو بيلولی، حسد او عناد هم زموږ او د حقيقت ترمنځ حايل کيږي او لکه د جهل حجاب ډېر حقايق له موږ ځنې پټوي يا يې په بل رنګ ښکاره کوي.

نو نه هغه ستاينه حقيقت لري، چې مجنون يې د ليلې د سپي کوي او نه هغه عيب، چې دښمنان يې په سړي پسې تړي.

ترڅو چې موږ خپل ځان د عشق او محبت له پنجو او د عناد او حسد له منګلو خلاص نکړو، څنګه به حقيقت ته ورسيږو او په څه شان به د حقيقت په شاو خوا کې ازاد فکر وکړی شو؟؟

نو ارومرو به يا د عشق او محبت لامله د يوه شي په حق کې خوشبين يو او ښه ګمان به ورباندې کوو يا به د نفرت له کبله بد بين يو، چې هېڅکله به محاسن نشو ليدلی او هر شي ته به د بد ګمانۍ په سترګه ګورو په دغه دواړو حالو کې به موږ ته خپل ګمان حقيقت ښکاري، مګر له حقيقت نه به ډېر لرې يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په ګمان ځنې کسان ډېر زيات غولېدلي دي، چې خپلو عيبو په پلټنه کې خپل دښمنان په حقه ګڼې او دا ګمان يې کړی، چې دښمن لکه ائينه د سړي عيب په رښتياني صورت سړی ته ورښيي، ځکه چې حسد او عناد ارومرو د دښمنانو ذوق او ذايقه دومره خرابوي، چې انګبين ورته سکنجبين ښکاره شي، لکه چې شيدا وايي:

ګله من يم له حاسـده ښه متاع کاندي کاسده
انګبين سکنجبين کا په مزه يې تريو جبين کا

نوکه مونږ خپل عيب د دښمن په ذوق پيژنو او د حاسدانو ذايقې ته اعتبار ورکوو، کېدای شي چې خپل خوارږه تروه وګڼو او د دې په ځای، چې ځان اصلاح کړو له ښو ځنې بدو ته واوړو، نو بيا به هم حقيقت ته نه يو رسېدلی او غوليدلي به يو.

هرکله که له دغو شيانو مجرد شو او د خپلو احساساتو او اعباراتو له دايرې بهر شو، مګر پدې شرط چې د همدغې بې اعتبارۍ په نړۍ کې پاتي نشو او لوړ مقام پيدا کړو، يعنې مايوس نه شو او لا په حقيقت پسې وګرزو، ښايې چې هغه وخت مو سترګې پخې وي او حقيقت ومومو.

نو زمونږ او د حقيقت ترمنځ ډېره لاره ده او هغه وخت ور رسيږو، چې د جهل له تورتمه واوزو او د کور کورانه تقليد بوتان مات کړو او له خپلو هغو نفسي کيفياتو ځنې هم ځان خلاص کړو، چې بعضې شيان مونږ ته ښايسته کوي يا يې بد راته ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او برسېره پدې دومره تجربه هم حاصله کړو، چې ربښتیانی او غولوونکي ربنا وپېژنو او پدې پوه شو، چې د اسمان دغه رانه ستوري یا لمر او سپوږمۍ ولیدونکي او پریوتونکي دي او یوه بله ربنا شته، چې هغه د زړه په سترګو لیدل کېږي او دا ټول شیان د هماغې ربنا په اثر کې پیدا شوي دي، نو حقیقت لکه یو غمی تر لوړو غرو لاندې نه دی او نه لکه د حیات اوبه په تورتم کې ځای لري، چې مونږ یې په هېڅ شان ونه لیدلی شو، بلکې د حقیقت ربنا دومره ځلانده ده، چې بعضې نورشیان هم ځلیدونکي ښکاره کوي او مونږ، لکه چې د سپوږمۍ په شپه د سحر او سپوږمۍ ربنا نشو بیلولی، همدغه شان د حقیقت د ربنا امتیاز هم نشو کولی که څه هم له هرې خوا یې په مونږ احاطه کړې او مونږ یې په غېږ کې نیولي یو، نو مونږ هر وخت د حقیقت په ربنا کې یو او هر وخت له خپل فکر او بصیرت سره سم یو شی د حقیقت مثل او نظیر یا عین حقیقت ګڼو، لکه یو مین چې کله د غره زرکه او کله باغ سروه د خپلې معشوقې نظیر ګڼي او د هوسۍ سترګې د لیلې سترګې بولي او ډېر ځله لا خپله معشوقه هم په دغه راز نومونو ستایي او له حقیقته په لوی لاس ځان لرې کوي. انسان ته خدای دا استعداد ورکړی، چې په حقیقت پسې له هرې حلقې او د جامعې او محیط له غولي واوزي، ترڅو چې حقیقت پیدا کړي او یوه ملت ته د هدایت ربنا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محبت رڼا

سړی چې د محبت رانجه په سترګو پورې کړي هغه بیا هر شی په یوه ښه رڼا کې ویني او د هر شي ښه ډډه ګوري.

هو! دا راز خلک هېڅ شي ته د تنقید په سترګه نشي کتلی او نه د اعتراض او عیب لټولو افکارو ته پاتې کېږي.

څوک چې د محبت تراغېزې لاندې راشي هغه لکه بلبل او بورا د ګل په یوه پاڼه خوښ او خوشحال وي او ټول باغ په همدغه یوه پاڼه کې ویني، هغه هېڅکله د خزان تصور نشي کولی او نه ورته دنیا بې وفا معلومېږي، مینه او محبت هر محبت سړی ړوند او ګنګ کړي، چې په سترګو عیب لیدلی او په خوله یې ویلی نشي، ځکه چې د هغه زړه لکه یوه پاکه مرغۍ په یوه داسې فضا کې طیران کوي، چې هلته د بد ګمانۍ ګرد او غبار هېڅ نه لیدل کېږي، د محبت خاوندان هېڅکله لکه منطقیان د چا د دلایلو منطقي ضعف ته نه ملتفت کېږي او نه د چا وینا ورته د سیاست او منافقت له مخې معلومېږي.

هغه هره خبره رښتیا او صدق ګڼي او په هېڅ کې د غدر، خیانت او فریب علامې نشي لیدلی. مینه ناک خلک به هېڅکله لکه فلاسفه د عیب او نقصان ذرات په کائیناتو کې نه ویني، لکه هغوی چې د محبت او عشق نازک او خوندور کیفیتونه، لکه یو مین او عاشق نشي حس کولی او عشق ته مرض یا جنون وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محبت لرونکی لکه یو صوفي د مینې په رڼا کې حقیقت ته رسېدلی وي او نور خلک د خپلو اوهامو او ګمانونو په ګرد او غبار کې ورکوي.

که مونږ له چاسره مینه او محبت لرو هرومرو به د هغه په حق کې خوشبین یو او لکه پتنګ، چې هېڅکله د شمعې حرارت او سوزېده نشي حس کولی، مونږ به هم د خپل محبوب په شاو خوا کې هېڅ عیب نشو لیدلی، مګر څوک چې د خپلو دوستانو په حال کې لکه یو مفتش داسې غور او تعملق کموي او د هغوی د ملامتۍ دپاره قراین لټوي هغه که څه هم کله کله حقیقت ته رسېږي ډېر ځله به پخپل اجتهاد کې سهوه کېږي او د دې لامله، چې په سلو کې یو ځل حقیقت ته رسېدلی دی، هر وخت به خپل فکر صحیح او صایب ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر او ادب

چپه چپي او قراره قراري ده، سپوږمۍ په سپینه رڼا د مځکې مخ ښایسته او روښنايي ده، هېڅ طرف زور او زوګ نشته او د شپې اوله شومه ده. یو ژور لښتې چې په شنه ګیاه پټ او پوښلی دی له اوبو نه ډک او غلی روان دی، سړی چې دا وضعیت ګوري ګمان کوي چې دا اوبه بې شعوره نه دي، چې په عزم او اراده کوم طرف ته ځي.

زه هم په همدغه ګمان ورپسې روان شوم او تلم څه شېبه وروسته ګورم، چې په یوه شنه باغ کې ګرزم او قدم وهم پدې باغ کې هر راز بوټي ولاړ دي، دا اوبه چې له ډېرې مودې را ایسې دې باغ ته راغلي دي د دې باغ په شنو پاڼو، خوږو میوو، ښایسته ګلانو کې یې حلول کړي. دا شین بڼ او تازه چمن یې د انسانانو او د هوا د مرغانو دپاره سمسور کړی دی، دا اوبه کله د تاک په رګو کې ننوتلي او ډېر خلک یې پخپل خوند مست کړي او د ډېرو نشته یې د بنګو په پاڼو زیاته کړې ده. په یوه بوټي کې یې ځان لکه عسل خوږ کړی او په بل کې یې د سرکې تریوالی پیدا کړی دی.

دا اوبه برسیره پدې، چې د دې میوو او ګلانو د وجود سبب ګرزېدلي دي په عمران او ابادۍ کې یې هم زیاته برخه اخیستې، د دې باغ دیوال او ګرد چاپېر سرایونه یې سرته رسولي دي، دې اوبو یوازې د مځکې تردد نه دی کړی، کله یې چې په زړه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدردۍ حرارت پیدا شوی د اوقیانوس له دریابه راجګې شوي او په وچو میرو یې د رحمت څاڅکي ورولي دي او کله د ګل له پاڼو هوا ته هسکې شوې دي.

همدغه اوبه دي (د نوعیت په لحاظ) چې کله ږلۍ ورځنې جوړه شوې ده او کله شبنم شوي دي، همدغه اوبه دي چې د ډېرو خلکو تنده یې ماته کړې او له مرګه یې نجات ورکړی دی او کله یې لوی لوی فرعونیان غرق کړیدي.

هو! پدې اوبو کې هر راز صلاحیت شته، چې کله په تېغ کې ځای نېسي او د توري اب په ځای کوي او کله د ګل په پاڼو (ښایسته جامه) کې ننوزي د حسن او جمال مظاهره کوي. ځینې وخت لا د صدف وړکی ځان تربیه کړي او د جوهري په دکان کې د تجارت بازار تودوي. ښه فکروکړئ؟ په دنیا کې بل شی هم شته، چې دا ټول کارونه ورځنې واخیستل شي.

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او عالم

دوه شیه دي، چې یوه شعر او بل ته حکمت یا علم وایي، یو په عقلي استدلال او منطقي قیاس د حق او حقیقت اثبات کوي بل په تخیلي دلایلو او سحري کیف سړی حقیقت ته رسوي، شعر د عشق او مینې رڼا په زړونو کې پیدا کوي او علم و حکمت د عقل په نور ذهنونه روښانه کوي، دا دوه شیه که څه هم د خپل تعریف په لحاظ سره بېل او جلا دي، مګر لکه اوبه او هوا کله کله یو په بل باندې بدلیږي او دا دواړه زمونږ د حیات دپاره ضرور دي.

نو کېدی شي، چې شعر حکمت او حکمت شعر شي، لکه چې زمونږ اسماني کتاب هم له ځینو اشعارو په حکمت سره تعبیر کړی او په همدغه سبب زمونږ ډېر مشاهیر هم د شعر په تذکره کې راغلي او هم د علم او عرفان بېرغ ځګوونکي دي، نو هغه څه چې د شاعر له خولې اوریدل کېږي هغه هم حق او حکمت وي، مګر د زړه له سوزه سره، لکه چې علامه اقبال وایي:

حق اګر سوزي ندارد حکمت است
شعر میګردد چو سوز از دل ګرفت

نو دا باید ومنو، چې شعر او حکمت کله لکه د سپوږمۍ او سحر رڼا، چې په یوه افق کې جمع کېږي دا دواړه هم په یوه ذهن او دماغ کې یو ځای کېږي، چې یو بیان هم شعر او هم حکمت ګڼل کېږي او یو سړی هم شاعر او هم عالم یا حکیم کېدی شي، مګر له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې هم باید سترګې پټې نکړو، چې شعري تعبیر او علمي تعبیر ډېر فرق سره لري علمي تعبیر له هرې خوا په حق او حقیقت احاطه کړې وي او دقیق نکات هم ورځنې نه وي پاتې، مګر شعري تعبیر او قافیې په محدوده دایره کې حقیقت ته یو اشارت کړې وي، خو دا اشارت لکه د معشوقو سترګک دومره پرکیف او جذاب وي، چې له یوه علمي کنفرانس ځنې عمیق او با دوامه تاثیرلري.

علم او حکمت د حقیقت له مخه ټول لباسونه لرې کوي او پخپله تشریح او تجزیه د یوې موضوع عروق او شرائین او ټول فقرات ښکاره کوي، مګر شعر یې پس له تزئین او ارایش ځنې په یوه ښه لباس کې نیم پټ او نیم لوڅ ظاهروي، چې هر څوک وربانديې زړه بایلي، تعبیر هم لکه شعري تعبیر داسې وي، چې په یوه فلسفي او علمي تحقیق نه وي بنا، بلکې کله کله په علمي لحاظ غلط هم بلل کېږي.

څومره دمخه ما په مصري مجلاتو کې یوه جمله د اقتراح په ډول ولیده، چې د ښو ښو لیکوالو توجه یې ځانته جلب کړې وه او سره له دې، چې هر یوه په علمي لحاظ غلطه ګڼلې وه، ښه څه یې پکې لیکلي و جمله داوه:

عمل څه کوي او موټر کومې خوا ته بیایي، د سعادت لور ته او که هلاکت ته؟ په دې عبارت کې علم لکه یو قاید داسې ښودل شوی، چې موټر یې خوزولی یو او چېرته مو بیایي او دا څرګنده ده چې علم دا اقتدار نلري، بلکې د یوه موټر یا بېړۍ مثال لري، چې موټر ورباندې خپل ځان رسوو، مګر دا جمله سره له دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي نقصانه پخپله ادبي جاذبه ليکوال مجبوروي، چې په دغه موضوع کې څه وليکي او هر سړی دې خبرې ته ملتفت کړي، چې نن د دنيا متمدن او عملم لرونکي قومونه له خپل علم او تخنيکي معلوماتو څخه د خپل استهلاک او بربادۍ په لاره کې کار اخلي، نو ويلی شو چې اکثره شعري او ادبي تعبيرونه همدغه شان جاذبيت لري او يوې مهمې موضوع ته د خلکو مخه راګرزوي، مګر علمي تدقيق پکې نه وي شوی.

هر کله چې مونږ تر يوې اندازې د شعر او حکمت يا علم په تکو لږه رڼا وغورزوله او دا خبره موهم لږه څرګنده کړه، چې شعر او حکمت څومره بيلوالی او څومره نږديوالی لري، نو اوس راځو د هغې ورځې بحث ته، چې د څو کسو پوهانو په مجلس کې د شاعر او عالم په شاو خوا کېده، په هغه ورځ يو عالم چې شعري برخه يې هېڅ نه درلوده شاعر ته په همدومره اهميت قايليده، چې د لږ ساعت دپاره يو مجلس تودولی شي، چې څوکسه يې خواته يوه شېبه راټول شي او بس.

ده ويل، چې شاعر يو بې ثباته شخص دی، چې په يوه اساس باندې نه وي روان او هر ساعت يې فکر او حال بدلېږي، مګر عالم لکه يو غر په وخت او هر حال کې ثبات او استقامت لري او د يوه فکر خاوند وي.

ده ويل، چې شاعر يو بې ثباته شخص دی، چې په يوه اساس باندې نه وي روان او هر ساعت يې فکر او حال بدلېږي، مګر عالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه یو غر په هر وخت او هر حال کې ثبات او استقامت لري او د یوه فکر خاوند وي.

لنډه یې دا ، چې ده عالم ته دا حق ورکاوه، چې د یوه قوم مقتدا شي او د سعادت لور ته یې بوزي، مګر شاعر ته په دغه مقام نه و قایل، له ده ځینې که څه هم چا پوښتنه ونکړه، چې دی څه دلایل لري، مګر ښایي چې د ده دلیل به همدا و ، چې د شعر اساس تخیل دی او هغه یو اساسي شی نه دی، هر ساعت بدلېږي او بېل رنګ پیدا کوي او د علم اساس هغه یقیني مقدمات او دلایل دي، چې عقل یې تزکیه او تصدق کوي او هر ه شېبه نه بدلېږي. د ده دغه وینا د مجلس اکثرو خلکو په ښه وایي او حق وایي باندې بدرګه کړه، مګر زمونږ د مجلس یوه ښاغلي ملګري له شعر او شاعر ځنې تر یوه حده مدافعه وکړه او یوه بل مشر سړي د فیصلې په ډول وویل، چې شعر یو قالب دی ښه او بد ، صحیح او غلط هر څه پکې اچول کېږي، نو ښه او بد یې بد دي، مګر هغه چا چې شعر او شاعر ته په کمه سترګه کتل هغه وویل: هو! شعر یو نېمګړی قالب دی، چې حقیقت پکې پوره نه راوړل کېږي. د دې خبرې ځواب خو مونږ مخکې ورکړ، چې شعر یو حقیقت پوره نشي راوړلی، مګر داسې جذاب اشارت ورکوي چې تاثیر یې له عام بیان او تعبیر ځینې ډېر زیات او بادوامه وي، نو اوس به راشو دې خبرې ته، چې ایا دغه فیصله مونږ منلی شو که نه؟

له دې فیصلې ځنې معلومېږي، چې شعر د یوه ظرف حیثیت لري چې دارو او زهر دواړه پکې اچول کېږي او پخپله هېڅ شی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، که د فیصله کوونکي غرض همدغه وي مونږ هېڅکله دا نشو منلی، چې شعر لکه یو لوښی وګڼو او نور اهمیت ورنکړو، ځکه چې شعر پخپله دوا ده، چې دوایي خاصیت او تاثیر پکې حلول کړي او یو له بله د هیولي اورصورت نسبت لري او که کله کله له شعر ځنې یو ضرر ولیدل شي، نو دا راز مخالف تاثیر په هره دوا کې کله کله د بعضې موجباتو په سبب لیدل کېږي او علم هم ځینې وختونه د فکري او اجتهادي سهوو په سبب ضرر رسوي، نو مونږ پدې ځای کې هم فیصله کوونکي خپلې فیصلې ته ملتفت کوو او هم هغه چا ته، چې شعر او شاعر ته په ښه سترګه نه ګوري وایو، چې که دی ټول شاعران په نظر کې ونیسي او یو شاعر د تمامو شاعرانو نمونه ونه ګڼي، دی به د فیلسوفانو او متصوفینو د عالمانو او حکیمانو په ډله کې ښه ښه شاعران پیدا کړي او دا به ورته معلومه شي، چې شاعر هم لکه یو ډېر لوی سړی یو داسې استقامت لري، چې نه وي لکه ده چې تصور کړی دی، شاعر هم لکه یو لوی سړی یو داسې استقامت لري چې نه یې د زمانې بهار له چتې باسي او نه یې خزان سر راټیټولی شي، لکه چې رحمان بابا چې وایي:

**لکه ونه مستقیم پخپل مکان یم**
**که خزان راباندې راشي که بهار**

په شاعرانو کې هم لوی لوی خلک او لکه خوشحال خان خټک د ټینګ عزم خاوندان پیدا کېږي چې نه د دښمنانو لښکرې او نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاسدانو خبرې د ده په قوي او غټ زړه کې څه وېره او حرکت پیدا کولی شي، لکه چې پخپله وایي:

**د علــم ډېــرې خبــرې دنیــا تــورې لښــکرې**
**زړه مې نه ښوري له ځایه غر خوهسې وي که نه**

که شاعران یو ازې د تخیل خاوندان وای او نورو اساسي افکارو یې په ذهن کې ځای نه نیولی هېڅکله به لکه اقبال دیوه نصب العین او مستقیم فکر خاوند سړی په شاعرانو کې نه پیدا کېده او لکه حکیم سنایي او عطار، سعدي او رومي غوندې اشخاص به د شاعرانو په ټولګي کې نه ښکاره کېدل اونه به لکه بوعلي د عمېقو افکارو خاوند د شعر ویلو اقتدار درلود، شاعر هم انسان دی او انسان ته خدای هر راز استعداد ورکړی، که شاعر له نورو خلکو څنې زیاته برخه نه وي اخیستی، نو نیمګړې خو به نه وي پاتې شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تورې رڼا

د زمانې اميل چې شپې او ورځې يې لکه د زنځيرکړۍ يو له بله ترلې دي او د شپو او ورځو، مياشتو او کلونو، قرايڼو او پيړيو په حساب لويږي او وړې حلقې لري سړى پکې عجيب و غريب واقعات او مختلفې صحنې ويني، نن چې مونږ د استقلال په نامه يو داسې ورځ لرو، چې شپه يې هم له نورو ورځو نه روښانه ده او د دې ورځې په لمن کې مونږ د خپلواکۍ او ازادۍ شرف او وقار موندلى او هره شيبه يې زمونږ په نظر کې ډېر قدر او قيمت لري، دا ورځ مونږ ته يوه داسې شپه هم رايادوي، چې له ډېرې تيارې سترګه په سترګه نه ښکاريده او بيخې تور تم و. دا تورتم د سحر او طلسم يوه داسې تياره وه، چې مونږ يې په غټو سترګو ويده کړي وو او خلکو به راباندې لوبې کولى، پدې تياره کې به د دې غرو رغو په هغو زمريانو د استعمار لاس راښکول کېده، چې پخوا به يې خلک له تش صورته وېرېدل او چا به ورته په زغرده نشو کتلى، دې تيارې د پښتونخوا داسمان لمنې په تورو وريځو لړلې وې او داسې معلوميده لکه چې پښتانه پاس په اسمان کې يو ستورى نه لري، په دغه شپه د بد بختۍ يوه داسې سيلۍ را الوتې وه، چې زمونږ ټولې ډيوې يې وژلې وې او په هېڅ ځاى کې د اميد رڼا نه ځليده، زمونږ زوړونه لکه ساړه نغري له حرارته تش او خالي و او د مليت په کالبوت کې مو د حيات او ژوند ګرمي بيخي لړه وه، پدې وخت کې ناڅاپه زمونږ په مخکې يوه داسې رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبرښېده، چې زمونږ حال او استقبال يې روڼ او روښانه کړ او زمونږ توره شپه يې په سحر بدله کړه.

دا رڼا زمونږ د هغې تورې برق او برېښنا وه، چې هر وخت وربانديې پښتنو خپله مخه رڼا کړيده او د خپلې بدبختۍ تورې تياريې يې پرې ورکې کړيدې. په دې رڼا کې دومره تودوالی او حرارت و، چې زمونږ په ګوګل کې يې سړه وينه توده کړه او ډېر ژر يې زمونږ په حال او استقبال کې تغېر او تحول پيښ کړ.

په دې رڼا کې مونږ د حيات هغه اوبه د تورې په خوله کې پيدا کړې، چې سکندر په تورتم کې لټولې. کله چې مونږ له دغې تيارې رڼا ته راووتو او د پښتونخوا د غرو په څوکو باندې د سعادت وړانګې او پلوشې وځرکېدې زمونږ په زړو کې د حيات مينه، د وطن محبت، د مليت احساس، د علم او ترقۍ شوق او د ژوندانه ټول صفات او خواهشات پيدا شوه، د وطن ښايسته غرونو او ناوونو، ډکو سيندونو او ګڼو ځنګلو زمونږ په زړه کې وطني عشق پيدا کړ مونږ په همدغه رڼا کې خپل ځان پېژانده او په ځان مو ويسا پيدا شوه، چې ملي غرور او افتخار هم ورسره تړلي دي.

مونږ په دې وپوهيدو، چې د دنيا طوفانونه هېڅکله مونږ د نړۍ له مخې نشي ورکولی او نه دغه راز لرې او تورې وربځې زمونږ د سعادت د رڼا مخه نيولی شي.

هو! مونږ حق لرو چې پخپل قوي او متين موجوديت ونازېږو او ووايو، چې مونږ هغه خس او خاشاک نه يو، چې د حوادثو سيلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو تیت په پرک کړي، ځکه چې مونږ پخپله پښتو او پښتونواله د هر راز مشکلاتو مقابله کولی شو او د پښتنو په اصطلاح اسمان ته تېره غورزو او سر ورته نیسو.

مونږ هغه ښاغلي پښتانه یو، چې ځان راته ډېر لوی او ستر ښکاري او د خپلې سیمې درنښت، خپل ملي افتخار، د پښتونولۍ ننګ او ناموس د تېرو پښتنو ښه نوم په داسې ډول ساتو لکه چې یو ډېر پاک او له مېنې ډک مین د خپل مقدس عشق احترام او حرمت ساتي.

مونږ خپل ځان او خپله خپلواکي، خپل پښتنې موجودیت اړومرو ساتو او له سروماله وربانديې تېرېږو، مګر باید په دې پوه شو چې مونږ دا په څه شان ساتلی شو؟ د دې پوښتنې په ځواب کې څه شی، چې زما په نظر کې ډېر مهم معلومېږي هغه زمونږ ملي تربیه پښتنې، خویونه او پښتنواله ده، ترڅو چې مونږ پښتانه یو او پښتونولي لرو زمونږ د خپلواکۍ او لوړتیا جنډه به اړومرو پورته وي او په ازاده هوا کې به د ازدۍ په وږمه رپېږي.

هو! دا رښتیا او کټ مټ حقیقت دی، ترڅو چې د یوه قام په نفسي کیفیت او حال کې تغیر پیښ نشي د هغوی په حال کې خدای هم تغیر نه پېښوي، ترڅو څوک پخپله ځان ځاه ته ونه غورزوي لوی څښتن یې د ذلت او انحطاط په کنډو کپرو کې نه اچوي، زمونږ ملي او پښتنې روح په دومره لوړه او هسکه فضا کې ګرزي، چې که مونږ یې پخپله راښکته نکړو د هېڅا د لېندې غشې نه وررسېږي او نه د چا له تیر لاندې راځي. وروسته تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه د ځان په ساتلو کې پښتني اخلاقونه په اوله درجه اهميت قايلېږم، نو بيا علم او د نن ورځې مختلف فنون ثروت او بډايي او ځينې نور شيان هم ضروري ګڼم. که مونږ علم او بصيرت نلرو خلک مو په سحر او چل ترخپلې اغيزې لاندې راولي او لوبې راباندې کوي، که مونږ شته او ثروت نلرو زمانه مو وږي کوي او د نورو دام و دانې ته مو را ټيټوي، که مونږ فن او تخنيک نلرو پخپل لاس ځان اور ته غورځوو او له ځان سره دښمني کوو، نن خلک د حربي فنونو په قوت د اسمان له وريځو او لوړو کار اخلي او پخپلو دښمنانو باندې تندر اوږلې وروي، نن خلک د صنعت او حکمت په مرسته هغه هوا، چې د حيات مهم عنصر دى د مرګ اله ګرزوي او د دښمن په حق کې ورځنې د زهرو کار اخلي. که څوک غواړي چې په دې عصر کې خپل ځان او خپله خپلواکي وساتي هغه بايد دومره کامل انسان وي، چې خپل هر څه يې پخپل لار کې وي او د خپل هر مرض علاج وکړى شي. پدې وخت کې که نور هېڅ نه وي، خلک د يوه قام لاندې کولو دپاره بعضې داسې مکروبونه د هغوى په وجود کې انجکشن کوي چې ډېر ژر يې ملي وينه فاسدوي او روح يې وژني، نو برسېره په نورو خبرو نن د ازادۍ ساتلو دپاره ډاکټري هم لازمه ده.

نن ځينې کسان د نورو د اسارت دپاره خپل ځانونه ښايسته کوي او پخپل ښکليتوب ورځنې زړه وړي، نو سړى بايد هېڅکله لکه بلبل د چا په ښايسته ګلانو زړه باى نلي او په پردي باغ کې اسير نشي، بلکې خپل ځان، خپل مليت، خپل دودونه، خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسته ولاړه له هر چا ځنې ښه وګڼې او خود یې ولري، ترڅو چې یو ملت خپلې ټولې نیمګړتیاوې پوره نکړي او خپل ځان د بل له احتیاجه ونه ژغوروي هغه په دنیا کې حقیقي ژوندون نشي کولی او په هر راز، چې وي د نورو تر تاثیر لاندې راځي.

سړي باید دې ټکې ته ښه متوجه شي، انسان چې هر څومره مدني شوي او مدنیت ته ورنږدې شو دی هماغومره یې ډار او وېره ورکه شوې او نور ژوندي او زېروح شیان یې خپل لاس لاندې کړي دي او له خپلې اغېزې لاندې یې راوستلي، یعنې انسان د مدنیت په مرسته په وحشت باندې غالب شوی او قوت یې موندلی، لکه چې اوس هم د دنیا متمدن قومونه په وحشیانو او نیمه وحشیانو باندې حکومت او حکمراني کوي، که څوک غواړي چې د نن ورځې مدني اقوامو تر تاثیر لاندې رانشي باید ارومرو په مدني سیر کې ځان ور سره برابر کړي او تمدن ته په سپکه سترګه ونه ګوري.

په دنیا کې دا صلح یو طبعي قانون دی او لوی څښتن هم مونږ پوه کړي یو، چې دا مځکه د صالحانو میراث دی او صالحان به ور باندې تسلط لري، دلته غرض هغه صلاحیت دی چې دمځکې دمخ حکمراني پرې کېږي، چې دا صلاحیت د اسلام په ابتدا کې په عربو کې پیدا شوی او زمونږ پښتنو په ملیت او پښتنولۍ کې اغږل شوی دی.

مونږ باید دا صلاحیت هېڅکله له لاسه ونه باسو او ورباندې ټینګ اوسو- د دې صلاحیت لومړی نښه داده، چې مونږ به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق او حقيقت ټينګ ولاړ يو او ملګرتيا به يې کوو، هېڅکله به مو زړه ته خوف او ويره لار نلري او د ضرورت په وخت کې ه وېښې تو يول راته هېڅ ښکاري او له مرګه به نه وېرېږو، بلکې د خپلې اسلامي او ملي لوړتيا د ساتلو دپاره مرګ، ابدي ژوندون او خپل سعادت بولو او د دنيا د هر راز سختيو او مشکلاتو په مقابل کې به لکه د خپل وطن لوړ او هسک غرونه په هر ميدان سر لوړي ولاړ يو، عزم او اقدام به مو ډېر ټېنګ او کلک وي.

ايثار او قرباني به ډېر لوی افتخار ګڼو، اتفاق او اتحاد به هېڅ شی نشي خرابولی، پخپل مېنځ کې به يو له بله مينه او محبت، پېروزېنه او رواداري لرو او د خپل مقدس دين او ګران وطن د دښمنانو په مقابل کې به د سختو زړو خاوند يو. د لوی ښتن په ضعيفو مخلوقاتو باندې به زړه سوی لرو، عدل او انصاف به راته له هرشي ښه ښکاري، د بې ننګۍ ژوندون به په هېڅ شان نه قبلوو او د خپل مقدس او پاک مقصد دپاره به له سر او ماله تېرېږو، خپل ځان او اولاد به د خدای د رضادپاره قربانوو او بې له خدايه به بل هېچا ته سر نه ټيټوو، دا ځکه چې د خدای له بندګۍ سره بله بندګي نه کېږي او نه خدای پاک په دې باندې راضي کېږي، چې د ده بنده د بل چا بندګي وکړي.

هو! مومن او مسلمان بايد ارومرو آرام او ازاد وي او پښتون بايد تل ازاد او مستقل وي، نو تل دې وي زمونږ ازادي او خپلواکي او همېشه دې وي پښتو او پښتنواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنی مرغه

کله چې سړی ستورو سره خبرې کوي او د خپلې پوهې په رڼا کې بله نړۍويني او کله پخپلو خبرو نه پوهېږي او په رڼا ورځ بې له خپل ځانه نور څه نشي ليدی، که سړی ښه ځير شي چرګان هم خبرې کوي، خو د زړه په غوږو اورېدل کېږي – هو! يوه ورځ چې زه د چا مېلمه وم او هغه غوښته چې زما دپاره هغه غټ چرګ، چې ډېر وخت يې ساتلی و پوخ کړي، نو يې خپل زوی ته د هغه د نيولو وويل، زوی يې په کوڅو کې ورپسې منډې وهلې او له ډېرو منډو وروسته يې چرګ ونيو او کور ته ستړی ستومانه سانيولی راغی.

دې سړي په کاله کې يوه باښه هم لرله، چې په يوه دړه ناسته وه او د چرګ منډې يې ليدلې وې، نو يې پخپله ژبه چرګ ګرماوه او ورته يې ويل، چې ته خو ډېر وخت دې سړي پخپل کور کې ساتلی وې او وخت په وخت به يې ډوډۍ او هرڅه درکول او ستا روزنه به يې کوله کوم وخت، چې ده ته نيولې، نو تا د ده ټول ښه هېرکړه او لاس دې نه ورکاوه.

وګوره! زما په غاړه کې يې مزی اچولی، سترګې يې راته پټې کړې ګرزېدو او الوتو ته مې نه پرېږدي، سره لدې کله چې ما پرېږدي او والوزم هر راز لويې او وړې مرغۍ نيسم او ده ته يې راوړم، خپل ځان بېرته د ده منګولو ته سپارم او دی نه خوابدی کوم.

چرګ ورته مخ راواړه او ورته يې وويل، چې ستا سترګې پټې دي، هغه لور چې ده زما دپاره تېره کړې دی ته يې نه وينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شېبه وروسته، چې دی زما ښکې وشکوي او خپل ځان ته ترېنه بالښت او سروېړدی جوړ کړي او ما په اوربانديې دا پلو هغه پلو واړوي او بیا مې ټوټې ټوټې کړي او په کټو کې مې لاندې باندې کړي، نو چې ته مې ژړا او کوکارې واورې، ما به هېڅ ګرم نه کړې او پوه به شې، چې دده ټول ښه زما سره د خپل ځان لپاره و او زه یې د همدغې ورځې لپاره لټولم.

هو! هر څوک او هر څه چې د بل د لاس لاندې وي هغه د همدغسې ورځې د پاره روزل کېږي، وګوره بزګر خپل غویي څنګه ښه ساتي، په سره غرمه کې ورته وابښه کوي، اوبه ورکوي، چې بیا پرې جغ کېږدي او مځکه پرې واړوي. همدغه شان خپل کښت وخت په وخت پښه کوي، له غویو او پسو یې ساتي، چې له مځکې هسک او ژر وربېل شي.

همدارنګه هر کام چې خپل واک نه لري او د بل لاس لاندې ژوند کوي، هغو د نورو د ژوندون دپاره لکه چرګان او غویي ساتل کېږي او روزل کېږي، نو دوی ته که هر څومره ښه خواړه ورکول کېږي، همغه خواړه دوی د مرینې د پاره غټوي او تژدې کوي یې، دوی ته هغه څه نه ورښودل کېږي،چې دوی په خپل ځان ویسا پیدا کړی شي او په نړۍ کې په خپل واک ژوندون وکړی شي او د بل پاتې شونکو ته سترګې ونه نیسي.

هو! دوی هېڅکله نه شي کولای، چې هر څه په خپله وګټي او بل چاته هیله او اسره ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوږ ژوند

غر په غره نه ورځي او سړی په سړي ورځي -د همدغه تګ له کبله، چې وګړی يې يو له بله لرې سړي ته د نورو ژوندون څه نا څه ځرګند يږي او راز راز وګړي ويني.

يوه ورځ زه يو داسې سړي کره پېښ شوم چې پوله او پټې يې هېڅ نه درلودل او په کور کې يې د مړک لکۍ هم نه سپېره کيده.

ده خپلې شپې او ورځې په لو او لور تېرولې او د کاله ټول خرڅوړې يې دومره نه و، چې د يوه بډاي او شته من سړي د غاړې کالي شي.

پدې کاله کې بې له سپوږمۍ بله ډيوه نه وه او نه چا بې له خپل لاس او مړونده بلې سر و کبږدۍ درلوده.

دې سړي په دغه ورځ برسېره پدې چې خپل زوی (کټوري) ته يوه سدرۍ او يوه سره خولۍ راوړې وه، کور ته يې هم څه غوښه اخېستې وه، کټوري چې وروسته له ډېرو وختونو نوې نزې خولۍ موندلې او نوې سدرۍ اغوستې وه له هلکانو سره په کوڅو کې منډې رامنډې وهلې، کله چې کاله ته راغی او د غوښو کټو په نغري باندې ولید په منډه ببرته لاړ او په نورو هلکانو يې زيری وکړ چې مونږ نن غوښه پخ کړېده.

هغوی که څه هم په دغه ورځ لا څه ډېرې ورځې يې غوښه په سترګو نه ده لېدلې، خو د پښتنو زامن دي دا ورته ښه نه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دوی له کاله نه په بل کور کې ښه څه پاخه شوي دي او نه دا زغملی شي، چې دوی دې له چا نه ښکته او ټيټ وي.

نو هر يوه به چا يو څه او چا بل څه ښودل او خپل نګولي به يې ستايه، چا به ويلې چې مونږ لړمون پوخ کړی او چا به ويلې، چې مونږ نن چرګ باندې کړيدی، دا خبرې دوی پداسې خوند کولې لکه چې لګيا وي او خوري يې، نه خدا ېږو په خوړلو کې يې دومره خوند نشته لکه دوی يې چې له نوم اخستلو خوند اخلي.

يوازې کټوری له هلکانو سره دا خوږې خبرې نه کوي مور يې هم له ښځو سره ناسته ده او وايي: لاړه شم چې د غوښو کټو مې ونه سوزي، غوښه خو نه سوزي، ځکه چې کټوه تر خولې له اوبو ډکه ده، هغه ترسبا هم نه وچېږي، خو دا غواړي چې نورې ښځې خبرې کړي. د کټوري پلار چې خپل ګلالی ځوی په ښو کاليو کې ويني من من غوښې اخلي او په کاليو کې نه ځايېږي، خو له بلې خوا چې د خپلې ښځې زاړه ټيکری او شکېدلي کميس ته ګوري سور او تور ټول يې په زړه کې ګرزي، خو چې هر څومره خپلې سترګې يوه خوا بله خوا غړوي داسې څوک نه ويني، چې د ده زړه پرې ورشي او څه پور ترې وغواړي.

سره له دې، چې پدې کاله کې هېڅ نه و، خو خوښي او ژوندانه خوند پکې زښت ډېر و او له بډايانو ځنې د دوی ژوند ډېر خوږ و، ځکه و چې د شتمنو او بډيايانو زړونه تل هغه څه غواړي چې هېڅکله يې لاس نه ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! د دوی خوښي او زړه ښه والی دومره وړیا نه وي، چې په دومره وړو وړو خبرو لاس ته راشي، د دوی سترګې په ټوله نړۍ هم نه مړېږي، د لویو او شتمنو کورو لوی لا څه، چې وړو ته یې هم ډېر خوندور څيزونه بېخونده شوي وي او ورېښمېنې ټوټې ورته، لکه بیتي داسې ښکاري. د دوی نړۍ وریجې که هر څومره غوړې او غوښې پکې ډېرې وي، د نورو سوکړک او شنو سبو یا شړومبو ته په خوند کې نه رسېږي، نه پوهېږم چې دا ولې؟ نو ښه ده که ښه څېزونه د نورو په مخکې اېښي وي، خو خوند د دوی په برخه رسېدلی دی او خوښي هم د دوی په کاله کې ده.

نه یوازې دا نه روغتیا او جوړوالی هم دوی ته ورکړل شوی دی، دوی هېڅکله لکه بډایان په لوړو وریجو او کلکو غوښو نه نس خوږي کېږي او نه هغومره ژر ناروغتیا ورته پېښېږي، دوی بې ترو څیزونو ښایسته ډېره ډوډۍ خوړلی شي او که نور څه نه وي د غروپرګي، نانګه او ممانې، شنې او داسې نور...هم خوړلی شي، ځکه چې دوی لا د پستو او خوندورو څېزونو خوند نه دی لیدلی.

نه نه لېدلی یې دی، خو په همدغو ځینې ونو کې لکه چې رحمان باباوایي:

«پتنګانو لره خدای په اور کې ورکړ
هغه عیش چې یې بلبلې په ګلزار کا
خرقه پوشو په خرقه کې دي موندلي
هغه حظ چې په دنیا کې دنیا دار کا»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه لیکل یا لیک پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

د ټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هر څه کولی شې، د هر چا امید تا ته کېږي او څوک څه له تا غواړي. ستا خزانې او کارخانې ډکې دي، ستا په باغونو کې د شودو، شرابو او عسلو ویالې بهېږي

ستا بخششونه او انعامونه بې پایانه دي، ستا د رحمت نور په ځمکو او اسمانو کې نه ځایېږي.

فقیران او مسکینان درنه د ډوډۍ سوال کوي.

ماړه او بډایان درنه اشتهاء او د هضمولو قوت غواړي.

څوک درنه په زاریو او دعاګانو اولادونه غواړي، ځنې وایي چې مال او دولت راکړه!

یو وایي جنت مې په کار دی، بل وایي له دوزخه امان او پناه غواړم.

څوک د حورو شوقمن دي او د چا غلامانو ته نیم زړه نشته.

مرتبې او لوړې درجې له تا سره دي، کامیابي او موفقیت ستا په توفیق حاصلېږي.

دین او دنیا ستا په لاس کې دي، راحت او زحمت، عزت او ذلت ستا له خوا انسان ته رسي.

بهار او خزان ته راولې، مرګ و ژوند ستا په اختیار کې دي.

هر څه ته کوې او هر څه له تا غوښتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې جهان او د هغه جهان اجرونه، خيرونه، خوندونه او خوشحالي خلکو ته ته ورکوي زه. پوهېږم چې تا سره څه شته.
زما دعا او د زاهدانو دعا.
زما ارزو او د پادشاهانو ارزو يو راز نه ده.
زما سوال د بډايانو ومسکينانو له سوال ډېر فرق لري.
زه نه وايم، چې ځمکې او پيسې راکړه.
نه غواړم، چې عزت مې ډېر لوړ، رتبه مې لوړه شي.
موټرونه او اسونه مې ندي په کار.
قصرونه او عمارتونه نورو ته ورکړه!
پټي او باغونه هغه چا ته وبخښه، چې په خاورو نه مړېږي.
په بانکونو کې د سوداګرو پيسې زياتې کړه.
د بزرګۍ اعتبار مه راکوه! ځکه چې ستا په اطاعت او عبادت له خلکو نه اجر او عزت غوښتل را ته ښه نه ښکاره کېږي.
زه له دې ټولو نه تېر يم او نور څه غواړم.
زه وايم په جهان کې د ظلم بېرغ نسکور کړه.
حق او عدالت ته قوت ورکړه!
په زړونو کې رحم او د خير مينه واچوه!
په دماغونو کې د حق نور او د حقيقت رڼا پيدا کړه!
ته کولی شې چې د ظلم قوت په وړو وړو کاڼو ميده ميده او ذرې ذرې کړې يا د هوا په ماشو ظالمان تباه کړې.
مګر مونږ د اتوم په بمونو هم دا کار نشو کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحم وکړه

دتورې کېږدۍ او د ډېرو رموخاونده!
پدې سره او تکنده غرمه کې.
پدې وچه بیدیا او سپېره صحرا کې، چې یخې اوبه، یخ سیوری، توده ډوډۍ، شودې او مستې کوچ او پېروی، کورت او غوړي، بوڅې او پنیرونه هر څه له تاسره دي.
په خوارانو او بې وزلو رحم وکړه!
له مسافرو او لارویو نه خپل خوړونکي سپې ایسار کړه!
هر څوک چې راځي او ستا د کېږدۍ تر سیوري لاندې کېږي، هغه له خپلو سپیو نه وساته او قدر یې کوه!
ای د خروړو سپیو خاونده!
ستا د سپیو تاوان تاله رسېږي او د دوی په ضرر باندې ته نیولی یې.
سپي او نفس دواړه یو شان دي او هر شي ته خوله اچوي.
ته خپل سپي ونیسه او په مونږ رحم وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په خپلو سپیو دا ګمان مه کوه، چې دوی به هر وخت ستا دښمنو او غلیمانو ته غاپي. دوی د ېرځله د اسمان ستورو او سپوږمۍ ته هم غاپي او ستا په ملګرو او اشنایانو هم بلوسې او غوتې وهي.

آه – هېڅوک زما ناري نه اوري.
د خپلو سپیو حملې نه ویني.
زما غږ ترکېږدۍ نه رسیږي.
دوی ولې څه نه اوري؟
ولې څه نه ویني؟
ولې په چا رحم نه کوي؟
پردې خو به نه وي؟
کېږدۍ خو د پښتنو معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوداګر

هر څه چې خرڅوې هغه خرڅ کړه، مګر خپل دين او ايمان مه خرڅوه!
هر څه چې خورې هغه وخوره، مګر سود مه خوره او پنځه ګوتې په خوله مه منډه. هر څه چې اخلې هغه واخله، مګر د خوار وغريب ازار مه اخله!
له هر ځايه چې هرڅه راوړې رايې وړه، مګر ګوره چې بې انصافي او بيرحمي درسره رانوړې.
په اسونو او موټرو سورېږه! خو د چا په اوږو مه سپرېږه!
له ښاره اوزه، خو له نرخه او له چتې مه اوزه!
لوی لوی کورونه د ځان دپاره جوړ کړه، خو د خپل بام واورې د بل په بام مه غورځوه!
پېټي ډېر پيدا کړه، مګر خپل پېټی مه درنوه او ځانته اغزي مه کره.
د ځان غم دې وخوړ اوس د نورو غم هم وخوره!
لوې بنګلې دې پيدا کړې، لوړ همت هم پيدا کړه!
خلک وايي په ډېرو ليوني خوښ دي، ته هم په لږه ګټه قانع شه او ليونی کېږه مه!
بډايانو وبيژندلی، مګر خوار او غريب دې نه پېژني.
راشه! دوی ته ځان وښيه د دوی په غم کې شرکت وکړه!
پدې شرکت کې که هر څومره سهمونه ولري هغه هېڅکله نه ضايع کېږي او ګټه يې يو په لسه، بلکې بې حسابه ده مګر دا سود ناروا دی، بې انصافي نه ده انصاف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلک وپېژنئ!

هغه څوک چې د مملکت کارونه يې په لاس کې دي او د واک و اختيار خاوندان بلل کېږي يا په وطن کې تاثير او نفوذ لري پوره وپېژنئ!

هغه کسان چې زمونږ دپاره خدمت کوي يا زمونږ په سر تجارت کوي بايد وپېژنو او ښه يې وپېژنو.

پېژندل دانه دي، چې فلانکی رئيس يا وزير دی، هغه بل په ملک او وطن کې ډېر عزت او اعتبار لري، د دې بل مال او دولت ډېر دی. يا په لوړو ځايو کې په ښه نظر ليدل کېږي. دا راز پېژندل زه نه وايم زما مقصد انسان شناسي او د سړو پېژندل دي، نه د چوکيو او نومونو پېژنندنه.

مونږ بايد ترهرڅه دمخه سړي وپېژنو او دا معرفت يه صحيح ډول حاصل کړو.

د دې معرفت دپاره ډېرې پخې سترګې او صايب نظر په کار دی.

د انسان جوهر او ذاتي قيمت معلومول د جواهرو له پېژندلو يو په څو ګران او مهم کار دی، انسان په ډېرو پردو او ډېرو رنګونو کې پټ دی او غير له دغو جامو نه، ده نور کالي هم زښت ډېر اغوستي دي او ډېر لباسي مخلوق دی.

دی په هر ځای کې بېله جلوه لري د منبر په سر يو راز او په خلوت کې بل راز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بازار کې انګور نه خوري په کور کې بوتلونه په سر اړوي او په دوايرو کې د خلکو ويني څښي.

مونږ بايد د هر چا معنیٰ او حقيقت ته وګورو او په لباسونو، نومونو رنګونو ونه غولېږو. که تاسې زما منئ! د چا قصرونو، منصبونو ته مه ګورئ، بلکې کار، فکر، ارادې، عمل او ارزوګانو ته يې وګورئ!

تاسو بايد په سړو پسې وګرزئ او سړي ولټوئ!

هغه کسان، چې د ممکت بهبود او سعادت غواړي او د اجتماعي درد او احساس خاوندان دي هغه وپېژنئ او په محبت ورته وګورئ!

اوس هغه وخت تېر شو، چې يو سړی به د معاش او رتبې، عزت او اعتبار له مخې پېژندل کېده او بيا به د قوت او اقتدار له خوا ورته خلکو وکتل دی، عصر هغه باداران او اغاګان له اعتبار ه وغورځول او د وطن خدمتګارانو ته په قدر او احترام ګوري.

د دې وخت انسان په انسان کې معنويت او فضيلت لټوي.

پدې وخت کې هماغه سړی ښاغلی او منلی دی، چې وطن او مملکت ته يې خير او نفع رسېږي، اوس هغه وختونه لاړل چې خلکو به د جاه وجلال يا دريا او تدوی‍ړ په طلسم کې ځانونه پټ کړل او چا به يې کار او عمل ته نه کتل.

د دې زماني ائينه بل راز ده او علاوه د لباس او جامو په صفايي او خيرنتوب د انسان معنوي تورو الی او سپينوالی هم سړي ته ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې ښه ځېرشئ! دغه لوی خلک او د رتبو او مقامونو خاوندان ټول په رښتیا لوی نه دي او نه ټول واړه خلک حقیقتاً واړه او کوچني دي.

اوس مونږ پوهېدلی شو، چې په مشرانو کې کشران او په کشرانو مشران شته.

له لرې او له ورایه خلکو ته مه ګورئ او محض امریت او ماموریت په نظر کې مه نیسئ!

د وطن او مملکت صادق خدمتګاران له دروغجنو او مظاهره کوونکو نه بېل کړئ او خلک وپېژنئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کوم ځای دی؟

یو کور یې دلته دی بل په کابل کې، بل په یو بل ځای کې.
څه ځمکه په کوهدامان کې لري، څه په بغلان کې څه په یو بل ځای کې.
نغدې روپۍ یې په رشوتونو دلته پیدا کړې، مګر ګټه ورباندې نور بانکونه کوي په یوبل ځای کې.
ته وو ایه چې دا دکوم ځای دی؟
مېنه یې له دې خلکو سره نشته او د نورو ملکونو خلک ورته ډېر ګران دي.
د دې وطن له شعر او موسیقي نه خوند نه اخلي او د خارجي موزیک په صفت مړېږي نه، مونږ ته په نفرت ګوري او د پردیو مستخدمینو په مقابل کې ډېره تواضع کوي.
ته وو ایه چې دا دکوم ځای دی؟
دی د هېڅ ځای نه دی، ځکه چې هر ځای د ده دی او سړی ورته هر ځای یې ویلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! دا هغه مرغان دي، چې څلور فصلونه په څلورو مملکتونو کې تېروي او وطن نلري، وطن نه پېژني، د يوه وطن په هوا کې نه الوزي او د وطن سړې او تودې نشې تېرولی. دا هغه عياشان دي چې بې له عيش او راحت نه نور څه نه پېژني او له وطن سره هېڅ مينه او علاقه نلري.

مونږ هغه کسان د دې وطن بلبلي وو، چې د وطن په کاڼو او بوټو سر ورکوي او په سختو ورځو کې د وطن په کار ېږي، که څه هم پوله او پټی نلري او په زړو کوډلو او جونګړو کې اوسي.

هو! زما په عقيده دا وطن د هغه چا نه دی، چې د ډېرو ځمکو قبالې يې اخستې دي، بلکې د هغه چا دی، چې د وطن مينه يې په زړه کې ده او له وطن سره علاقه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوم یو ښه دی؟

یو دی چې په خبرو ډېر ښه پوهېږي د هر مطلب د پاره ډېرښه پېرایه او ښه دلایل پیدا کولی شي، د خپل منطق په زور هر څوک تېرباسي او له ډېره عقله وېښته چوي.

ساحرنه دی، مګر یو شی په بل راز ښودلی شي او خلکو په اذهانو او نظرونو هر راز لوبې کوي.

عملاً هېڅ نه کوي، مګر په خوله هر څه کوي او هر کار ځانته منسوبوي.

بل هغه دی، چې ډېرې خبرې او مبالغې نشي کولی، د ځان ښودلو او ځان ستایلو اقتدار نلري، په هره خبره کې لکه د شرومبو مچ نه لوېږي، د هر چا توجه ځانته نشي جلبولی، په مجلوسونو کې په وچ زور ځانته د خبرو موقع نه پیدا کوي او په پټه خوله کار کوي، په دماغ کې یې ښه ښه فکرونه او په زړه کې یې د وطن او قام مینه ډېره ده، مګر په خوله څه نه وایي او خپل صفتونه نشي کولی.

ته وو ایه چې کوم یو ښه دی؟

زه خو وایم، چې دی ښه دی، مګر د هغه قدر کېږي او د ده نه کېږي.

هغه پېژنو او دا نه، د هغه ساحرانه کلمات راباندې اثر کوي او د ده صفایي او معنوي فضیلت را نه پټ دی.

هو! مونږ په خبرو غولېږو او حقایق نشو لیدلی.

مونږ باید دا نقیصه رفع کړو او د خپل احساس او ادراک علاج وکړو.

مونږ په غوږو اورو او په سترګو څه نه وینو، ځکه کارونه خراب او خبرې ښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وښیه څوک دی؟

اصلي نوم يې نشم اخستلی، مګر رسمي نوم يې مامور صاحب دی.

په کار نه پوهېږي، مګر په خوشامدو او چاپلوسۍ ډېر ښه پوهېږي.

د لويو او معتبرينو په مخ کې د حاضرباش او خانه سامان کار کوي، مګر د خوارانو او غريبانو سلام هم نه اخلي.

سواد نلري، مکتب يې نه دی لوستی، مدرسه يې نه ده لېدلې، اخبار او کتاب نشي لوستلی، مګرماموريت کولی او ساتلی شي.

په درباري او ضاعو کې د ټولو استاذ دی، مګر انسانيت او سړيتوب يې هېڅ نزده، مکتوب نشي ليکلی، مګر شطرنج کولی شي.

لياقت نلري، مګر ډوډۍ لري.

د خدای اطاعت ته يې ملا ماته ده، مګر د امرانو په اطاعت کې اول نمبر اخلي، دنيا يې ډېره ده، مګر همت يې کم دی.

تنخوا يې لږه ده او جايداد يې ډېر دی.

مسافر او فقير ته يوه سوې مړۍ نه ورکوي، مګر مېلمنو ته هره شپه چرګان حلالوي.

غل نه دی، مګر له غلو سره سمه نيمه برخه لري. ساحرنه دی، مګر په يو څو خبرو لوی لوی خلک ړانده او کاڼه کړي.

وښيه! څوک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رشوت خوره! ته را په یاد شوې

چاوویـل: ټنـدېږي، مګـر مړیـږي نـه، مـا تـه سمدلاسـه تـه راپـه یادشوې.

بل وویل: ګېډه خو یې مړه ده، مګر سترګې یې وږې دي، بیـا تـه را په یاد شوې.

یوه وویل: قصاب نه دی، مګر ډېر خلک یې بې تیغه حلال کړې دي، دلته هم ته را په یاد شوې.

هغه بل وویل: منګولې او پنجې یې د لېوانو نه دي او خونخوار دی، دا ځل هم ته را په یاد شوې.

بې ګناه خلک مې په زندان کې ولیدل، ته را په یاد شوې.

هغـه ورځ چـا پوښـتنه وکـړه، چـې پـه غلـو زهېـر، د مجرمینـو طرفدار د مظلومـانو دښمن، د نـا حقـۍ ملګـرې، د قـاتلانو حـامي څوک دی؟

ماته ته را په یا دشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیاست

وایه یو څه کوه بل څه.
له بل نه پوښتنه کوه! پخپله هېڅ مه وایه!
په شپه کې د لمر وړانګې ښیه! په ورځ کې د تورتم ننښې.
که خبر وې ځان ناخبره کړه! که خبر نه وې د باخبرۍ مظاهره کوه!
شکره لکه مرچ خوره، مرچ لکه شکره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلک څه وايي؟

يو وايي په دوايرو کې بې پيسو د چا کار نه کېږي، بل وايي د خان او ملک رسوخ او اعتبار ورځ په ورځ زياتېږي او ضعيفانو ته پنجې تېرې کېږي.

څوک وايي دلته نوی نهضت او فعاليت نشته، ځنې وايي صحيح اشخاص او د فکر خاوندان نشته.

شاعر وايي: نشاط او طراوت، ذوق او سرور، احساسات او جذبات نشته.

ملاوايي: د جلال اباد په نوي ښار کې مسجد او د اذان غږ نشته.

رجب خان وايي: د جلال اباد نوی ښار جوړ نشو او زوړ ښار په لوی لاس وران شو.

د نوي ښار نقشه لکه د سيد جمال الدين قبر، يا د قرغې بند هېڅ نه جوړېږي او هېڅوک نشي پوهېدلی، چې د ښار مخه کومې خوا ته ده او څنګه يا کله جوړېږي.

حميد وايي:

چې دې نکړ په نيکيو ننګ و نام لوړ
په دوه چمه دې د ختو مشه بام لوړ

بل ځای وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ریــا پــه حــق پرســتو پــورې خانــدې**
**پـــه هـــردم دبـــرهمن بـــت پرســـتي**

یونس وايي:

**بنـــدګي چـــې د ریـــا کـــوي یونســـه!**
**د هغـــه ږیـــره خیشـــته ده نـــایي غـــوړاي**
**ښـه لبـاس کـې څـه د خـدای بنـدګي نشـي؟**
**چـــې جامـــه دې د ریـــا واغوســـته برګـــه**

علي خان وايي:

**ژوبـل زړه بـه دې روغ نکـړي علــي خانــه!**
**پســې مــه ځــه جراحــان دي طبیــب نشــته**
**د بغــل پــه کتــاب څــه شــی علــم بویــه**
**هــر صــحاف پــه ملایــانو حســاب نــه دی**

پیرمحمد وايي:

**داد فریـــاد مـــې ترفلکـــه نـــه رســـېږي**
**د پتنـــګ پـــه دود وربتبـــرم خمـــوش ځکـــه**

شیدا وايي:

**چـــې لبـــده پکـــې اثـــر د الـــم نشـــي**
**څـــه حاصـــل لکـــه شـــبنم لـــه چشـــم تـــره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک وايي؟؟

څوک وايي چې کوږ بار تر منزله نه رسېږي او د دروغو منزل لنډ دی.

د دروغو مزل خو تر اخرته پورې دې او کاږه بارونه ترهماغه وخته مزله ته رسېږي. څوک وايي چې بد ګرزې بد پرزې.

که دا خبره رښتيا وای اوس، خو به يو سړی روغ نه و پاته.

څوک وايي چې د دروغجن مخ تور دی. ما خو ډېر دروغجن وليدل، چې مخونه يې تک سپين دي.

څوک وايي، چې د شيطانانو دې کور وران شي.

څوک وايي، چې د غله په غره کې ځای نشته.

رادې شي ودې ګوري، چې ښارونه بازارونه ترې نه دي ډک؟

څو ک وايي چې غل نه يې له پاچا مه ډارېږه!

ايا د ناحقۍ له شاهدانو نه ويره نه ده په کار؟

څوک وايي چې په تشو خبرو کار نه کېږي؟ دلته خو په خبرو هرڅه کېږي او بې خبرو هېڅ نه کېږي.

څوک وايي چې د غله په زړه خلی وي، ډېر غله شته چې بيخي زړه نلري.

څوک وايي چې ډېر وايي لږ ترې خېږي، ما خو وليدل چې هېڅ ترې نه خېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړو ؟؟

مونږ ډېر کارونه لرو او زمونږ وظایف ډېر سنګین دي.
هر څه چې کوو ، هېڅ نه کېږي او هېڅ نشو کوی دا ولې؟
دا ځکه چې: کار په سړیو کېږي او مونږ ډېر د کارسړي نلرو.
څوک چې لږ غوندې سم او صحیح کارکولی شي، خلک یې نه خوښوي او ناکامه کوي یې، هغه چې د خلکو خوښوي هغه یې د خلکو له مراعاتونو نور هېڅ نه کوي او د خلکو د خوشحالۍ دپاره هرڅه کوي.
د څنګه خلکو مراعات او خوشحالي؟
د هغو خلکو چې پخپل خیر و شر هېڅ نه پوهېږي.
ژرنده او جمایت نه پېژني.
لکه ګډې او اوزې په قصاب او شپون پسې یو راز منډې وهي.
دوه ملکان یې یو د بل سیوری په ډانګونو وهي.
د دوه خانانو خوسي یې یو ځای نه څري.
د دوه پیرانو مریدان یې یو له بل سره د خدای دپاره دښمني کوي.
دوه ملایان یې یو په بل پسې نه ځي.
اجتماعي شعور او احساس پکې نشته.
له حق او حقیقت، انصاف او عدالت سره مینه نلري.
ښه نو مونږ څه وکړو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ باید یو څو تنه د کار سړي پیدا کړو.

چې هم کار وکړي هم په کار پوه وي هم د کار کولو صحیح طریقه ورته معلومه وي.

ځینې کسان وایي په یو څو ګلانو نه پسرلی کېږي، په یوه مملکت کې څو تنه هېڅ نشي کولی. څو تنه به کوم ځای ته ورسېږي، ترڅو ټول نه شي کارونه نه کېږي.

په دغسې خبرو ساده ګان ډېر ژرغولېږي او هغه کسان، چې انسان ته یوازې د جسمانیت له خوا نه ګوري، بلکې تدبیر، فکر او د ادراک قوت ته ګوري هغه پوهېږي، چې یو سم او صحیح انسان د یوې سمې او صحیح نقشې او صحیح پروګرام په طرح کولو په دنیا کې لوی لوی کارونه کوي او ډېر خلک په سمه لاره د عالي مقصد په لوري روانولی او بیولی شي.

د دغه شان څو تنو سړو له لاسه ډېر ډېر کارونه کېږي او دغسې اشخاص هر ځای ته رسېدلی شي.

په دغسې یوه ګل باندې سل پسرلیه جوړېږي، مګر په څو پسرلیو کې مونږ دغه شان څو ګلونه نشو پیدا کولی، ځکه چې نه یې شو پېژندلی.

زه دا نه وایم، چې نشته یا پدې خاورو کې استعداد محوه شویدي، بلکې وایم چې باید په دغسې سړو پسې وګرزو او د وطن غرونه رغونه، کلي او کورونه ورپسې ولټوو.

مونږ نه یو خبر، چې زمونږ په غرونو کې څه راز ګنجونه ترخاورو لاندې پټ پراته دي؟ پدې وچې او سپېره بیدیا کې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای د حیات اوبه تر ځمکې لاندې غلې شوېدي؟ په دغو خوارو او زړو جامو کې څه راز انسانان پیدا کېږي؟

په دغو خلکو کې چې زمونږ نظر او توجه نه جلبوي، څه فکرونه او څه ارزوګانې موجودې دي که مونږ په دې پوه شو چې.

**دیوسف څېرو جامو کې څه ګناه ده**
**ښه لباس کې چې ګناه کړې زلیخاده**
**راځئ، څېرې کړو دا ښې جامې رنګینې**
**پکې وګورو څېرې ډېرې ننګینې**

نو هله به داشخاصو حقیقت او ماهیت ته ورسېږو او زمونږ انتخاب به د لباس او څو خوږو خبرو له مخې نه وي، بلکې د معنیٰ او حقیقي هویت له حیثه به وي.

مونږ باید هر چا ته په ځیرځیر وګورو او په خلکو کې سترګې وغړوو.

سترګې غړول یا کتل دانه دي، لکه چې اوس هم ځینې د جاه وجلال خاوندان نورو ته به حقارت ګوري.

ډېر خلک شته چې د چا تر ږېرې لاندې یې کلونه تیر کړي، مګر لیدلي یې نه دي.

ډېر خلک وایي او زه هم وایم، چې د کار سري نشته، ځکه کارونه خراب دي.

دا خبره له لویو نه نیولې تر وړو پورې هر یو کوي، مګر سوال دا دی چې چېرته او په کوم ځای کې؟ په یوه کورنۍ او یوه ښار کې نشته؟ که په وطن او هېواد کې که چېرې د کلي او کور خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، نو کله کله خو په يوه کاله کې د ښځو او به هم نه وي، مګر په بل ځای کې سيند بهېږي او په ځينو کورونو کې ويالې روانې وي.
که په وطن او مملکت کې يې لټو، نو په ګوشته کې هم ځوانان شته او لعل پوره خو په مېږو پوره ده.
که په زړه کې فساد او خيانت نلري! که صحيح نيت او ښې ارزوګانې درسره وي، که د حق او حقيقت په قوت عقيده لري.
له حق ويلو او حقيقت ښکاره کولو مه وېرېږئ او په حقاني جرئت ناحقه ظلمونه او د اوهامو بوتان مات کړئ!
په هر ځای او هر چا کې، چې خيانتونه او فسادونه، ظلمونه او بد کارونه، ريا او تزوير، بې کفايتي او نالايقي وينئ ورسره جهاد وکړئ او په هر مورد کې خپل صحيح او انتقادي نظريات ښکاره کړئ!
له هېچا مه وېرېږئ او هېڅکله سترګې مه پټوئ!
که د خپل شخصي او نفسي اغراضو دپاره کارکوئ!
که د وطن او مملکت په نامه خلک غولوئ!
که په زړه کې تڼګي او برګي لرئ!
نو د دې عصر بصيرت نه وويرېږئ او پوه شي چې کاږه بارونه ترمزله نه رسېږي او بې اساسه عمارتونه ډېر ژر نړېږي.
که يو امر په تاسې باندې سترګې سرې کړي او له قانون او عدالت نه خلاف امرونه کوي، که يو خان او ملک په خپل زور او قوت له تاسې نه بيځايه لحاظونه او مراعاتونه غواړي، که څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړو مقاماتو ته لاره لري او په تاسې د سفارش خطونه راوړي مه وبرېږي او په حق ټینګ ودرېږئ.

که تاسې خیانت ته اقدام کوئ یا د نفس د شیطان دپاره حق باطلوئ که هر څومره موافقتونه درسره وي او قوي لاسونه درسره شریک وي، که ټول عمر مو یو ه او بل ته تملقونه کړي وي، نو د سبا ورځې له باز خواست نه ووېرېږئ!

هو! دمظلومانو او بې وزلو له آه و فریاد نه وویرېږئ! هغه کسان چې تاسې خپلو معایبو ته ملتفت کوي او ستاسې نقایص درښیي له هغوی نه مه وېرېږئ، مګر له هغو تملقینو وډارشئ، چې ستاسې خیانت ستایي او ستاسې په سترګو پردې غوړوي.

چا چې په مملکتي دواېرو کې لکه د شرکتو امران یوازې په پیسو کومه رتبه پیدا کړېده یا یې په خوشامدو او تملقونو ځان یوه حد ته رسولی دی او وظیفه نه پېژني، بلکې اشخاص او درباریان پېژني هغه باید له خپل اینده سرنوشت څخه ووېرېږي.

هغه کسان چې پخواني یې پېژنئ او له وطن او ملیت سره علاقمند وي د مملکت له تخت و تاج او له خپل اولولامر او پادشاه سره رښتیانې مینه او علاقه لري، د حق او عدالت له مقتضا سره سم د خدای دپاره کارکوي نو :

(لاخوف علیهم ولاهم یحزنون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وو بربړئ او مه وربړئ

که په زړه کې فساد او خیانت نه لرئ! که صحیح نیت او ښې ارزوګانې درسره وي، که د حق او حقیقت په قوت عقیده لرئ.
له حق ویلو او حقیقت ښکاره کولو مه وبربړئ او په حقاني جرئت ناحقه ظلمونه او د اوهامو بوتان مات کړئ!
په هر ځای او هر چا کې چې خیانتونه او فسادونه، ظلمونه او بدکارونه، ریا او تزویر، بې کفایتي او نالایقي وینئ، ورسره جهاد وکړئ او په هر مورد کې خپل صحیح او انتقادي نظریات ښکاره کړئ!
له هېچا مه وبربړئي او هېڅکله سترګې مه پټوئ!
که د خپل شخصي او نفسي اغراضو لپاره کار کوئ!
که د وطن او مملکت په نامه خلک غولوئ!
که په زړه کې تنګي او برګي لرئ!
نو ددې عصر له بصیرت نه وو بربړئ او پوه شئ چې کاږه بارونه تر منزله نه رسېږي او بې اساسه عمارتونه ډېر ژر نړېږي.
که یو آمر په تاسې باندې سترګې سرې کړي او له قانون او عدالت نه خلاف امرونه کوي، که یو خان او ملک په خپل زور او قوت له تاسې نه بېځایه لحاظونه او مراعاتونه غواړي، که څوک لوړو مقاماتو ته لاره لري او په تاسې د سفارش خطونه راوړي مه وبربړئ او په حق ټینګ ودرېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تاسې خيانت ته اقدام کوئ يا د نفس د شيطان لپاره حق باطلوي که هر څومره موافقتونه درسره وي او قوي لاسونه درسره شريک وي، که ټول عمر مو يوه او بل ته تملقونه کړي وي، نو د سبا ورځې له بازخواست نه وبرېږئ!

هو! د مظلومانو او بېوزلو له آه و فرياد نه وبرېږئ!

هغه کسان چې تاسې خپلو معايبو ته متلفت کوي او ستاسې نقايص درښيي له هغوی نه مه وبرېږئ! مګر له هغو متملقينو نه وډارشئ چې ستاسې غفلت او خيانت ستايي او ستاسې په سترګو پردې غوړوي.

چاچې په مملکتي دوايرو کې لکه د شرکتو امران يوازې په پيسو کومه رتبه پيدا کړې ده يا يې په خوشامدو او تملقونو ځان يوه حد ته رسولی دی او وظيفه نه پېژني، بلکې اشخاص او درباريان پېژني هغه بايد له خپل اينده سرنوشت څخه وبرېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استاذ ویل!

استاذ مونږ ته درس راکاوه او مونږ یې ډېر ښه پوه کولو.
د ده په تعلیمونو اجتماعي شعور او احساس ډېر قوي کېده او په مغزو کې بیداري پیدا کېدله، ده مونږ ته د حساب او محاسبې اصول هم ښودل او ویل یې تاسو باید هر وخت له ځانه سره حساب وکړئ او حسابي خلک اوسئ!
یوه ورځ یې د حساب په درس کې مونږ ته وویل:
که یو عدد له بل عدد سره داسې یو ځای کړو، چې یو پاس او بل لاندې وي، لکه ۲ "۲"، نوڅلور (۴) تېنه جوړېږي او د یوه وجود په بل کې محوه کېږي او استقلال یې ورکېږي.
مګر که دواړه څنګ په څنګ یو ځای کړو، لکه (۲۲) نودوه وېشت ورځنې جوړېږي او دوه او شل کېږي د دواړو عددونو شکلونه اوصورتونه هم په خپل حال پاته کېږي، ځکه چې پدې صورت کې د ملګرتیا، اتفاق او وروروله‍ راز پټ دی او په هغه بل صورت کې تفوق تسلط او محوه کول مضمر دي.
ده ویل که د اتفاق او ملګرتیا په صورت یو تن په ځان پسې بل روان کړی شي، نو قدر او مقدر یې ډېر زیاتېږي او مرتبه یې لوړېږي.
(یعنې له احادو نه، عشراتو ماتو او لوفو...ته خبره رسېږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پنځه الفونه یو د بل په سر د پاسه کېږدو هماغه پنځه ورځني جوړېږي او شکل وصورت یې هم محوه کېږي. زمونږ استاذ مونږ ته په حساب او ریاضي کې هم د اجتماعیاتو او سیاسیاتو د فلسفي درسونه راکول او مونږ یې پوه کولو، چې باید یو له بل سره داسې یو ځای شو چې د تنازع...په میدان کې څنګ په څنګ ودرېږو او څوک د چا په سر باندې پښې کښېنږدي، یو د بل استقلال سلب نکړي، د لا نوي کولو او محوه کولو غرض په کې نه وي، بلکې یوه د بل درجه او مرتبه لوړه کړي. ده ویل: مونږ به یو مخکې کوو او مشر کوو به یې، مګر یو د بل په سر نه سورېږو او د بل د ټیټولو چم به نه کوو.

زمونږ استاد دا هم ویل:که مونږ دوه مساوي عدونه لکه(۱)-(۱)-(۲)-(۲)-(۳)-(۳) هر یو له بل نه وړاندې وروسته کړو نتیجه یې یوه ده، مګر په دوه متفاوتو عددنو کې تقدیم و تاخیر ډېر فاحش فرق راولي او په مقدار کې ډېر تفاوت راځي.

که مونږ یو او نه یو ځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نولس کېږي، مګر شل کېږي نه، که هم دغه دوه عددونه داسې ولیکل شي (۹۱) خبره سلوته نږدې کېږي او ډېر زیادت پکې راځي. همدغه سبب دی چې په جوامعو کې هغه څوک دمخه کېږي چې قدر او مقدار یې له هغه بل نه زیات وي او د ده په مخکې توب باندې دجامعې قدر او قیمت ډېر لوړېږي، مونږ باید په دې سره پوه شو او د هر چا استعداد معیار، مبلغ او مقدار ته وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عجیب انسان

ړوند نه دی، مګر خپل عیبونه نه ويني.
کوڼ نه دی، مګر خپله اوري او د بل نه.
زړه لري زړه سوی نلري.
خپله لږه پوهه ورته ډېره ښکاري، د بل ډېر علم ورته لږ معلومېږي.
د بل لږ مال ډېر په نظر ورځي او خپل ډېر مالونه ورته لږ ښکاره کېږي.
د دې دپاره، چې خلک ورته لاس په نامه و درېږي، خلکو ته لاس په نامه درېږي، د فرعونیت دپاره غلامي قبلوي او د عزت دپاره ذلت ته غاړه اږدي.
دین په دنیا خرڅوي او دنیا په پوچو اعتباراتو پلوري.
لکۍ نلري او خلک ورته بې لکۍ نه وايي.
څلور پښې نلري او په څلورو روان دی.
آس نه دی، مګر خلک په لغتو وهي.
ښکر نلري، مګر سرتمبه دی.
له عقله پیاده دی، مګر هېڅکله پلی نه ګرزي او په موټرکې هم د خپل جهل په خره سپور وي.
ته به وایې داڅوک دی؟ زه وایم: بې پوهې زورور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خان لالا

خان لالا هېڅکله بې نوکرو او سړیو نه ګرزي.
دی هېچا یوازې نه دی لېدلی.
پخپل صفت هر وخت خوشحالېږي، مګر دی بې له خپلو اصافو بله خبره نشي اورېدلی.
که بل څوک د ده صفتونه بیان نکړي دی پخپله صفت په ښه شان کولی شي او لکه سپایي پخپله ځان ستایې.
خان لال بخششونه هم کوي او په کال کې په زرهاهو روپۍ نقد او جنس یوه او بل ته ورکوي، مګر خوار او غریب ته سوې مړۍ هم نه ورکوي.
حاکم او علاقه دار، مدیر او مامور، خان او ملک ته سل قسمه طعامونه تیاروي، مګر مسافر، کونډې او یتیم ته یو سکړک هم نشي ورکولی.
که تاسې خان لالا خوشحالوئ، نو قلم او کاغذ راواخلئ او د ده بخششونه حساب کړئ یا یې خرڅ یو په لسه زیات وښیي، مثلاً د ده په مخکې ووایئ، چې د خان په کور کې یو کور کمند د کال څلویښت منه کلګېږي او د غوړو یو خو یې هېڅ حساب نشته.
خان لال نور صفتونه هېڅ نه پېژني، پام کوئ چې د فضل و لیاقت خبرې د ده په مخکې ونکړئ او د اجتماعي خدماتو اخلاقي فضایلو نوم په خوله وانخلئ، تاسې به د خانانو په خوي او بوي بلد نه یاست، مګر ما له رجب خان سره ډېر صحبتونه کړي او دوی ډېر ښه پېژنم.
ما ځینې داسې خانان هم لېدلي دي، چې له خوارۍ ژرندې ساتي او له کبره مز نه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رشوتونه

رسمي رشوت: هغه رشوت چې حاکمان، ماموران، قاضیان، منصبداران یې اخلي.

غیر رسمي: هغه چې خان، ملک، ناظر او نورو ته ورکول کېږي.

معنوي رشوت: تملق مخامخ صفتونه، دعاګانې او داسې نور.

د پاک نفسو رشوت: دا یکه، د حقوقو پیسې، خدمتونه مېلمستیا.

د ظالمانو رشوت: هغه رشوت چې حق باطلوي او باطل حق کوي.

د هوښیارانو رشوت: چې کار له حق او اصولو سره سم وکړي او رشوت پکې واخلي.

افراطي رشوت: چې د بانکونو د سعامو اخستلو دپاره وي.

غیر افراطي رشوت: چې د نس مړولو او تن پټولو دپاره وي.

د ریاکارانو رشوت: لږ شی ردول او په مجلسونو کې یادول او په ډېرو باندې غلي کېدل.

د فاسقانو رشوت: پېمخي

د احمقانو رشوت: د رشوت په طمع او امید له حق او قانون نه تېرېدل.

د محطاطو رشوت: د یوه او بل لحاظونه او مراعاتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د متملقينو منطق

يوه پاچا له چانه پوښتنه وکړه، چې زما په ورغوو باندې ولې وېښته نشته.

هغه وويل: ځکه چې پاچا پخپلو لاسونو باندې په لپو لپو روپۍ خلکو ته ورکوي او ورغوي يې سولېږي.

پاچا وويل: چې د نورو خلکو ورغوي، خو هم ماغوندي دي.

هغه وويل: هغوی هم پخپلو لپو ستا له لپو نه څه اخلي او ورغوي يې سولېږي.

پاچا بيا وويل: هغه چې زه هېڅ نه ورکوم د هغوی ورغوي هم دغه شان دي

هغه په ځواب کې وويل: هغوی چې ستا بخششونه د نورو په حق کېويني، نو له ډېر حسرت او ارمانه نه خپل ورغوي سولوي او افسوسونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دښځو ډار

**یوه وویل:** زه له خپلې ښځې دومره وربږم، چې هر څه وايي هغه کوم.

**بل وویل:** زه بې له ویلو هم د هغې په رضا کار کوم.

**درېیم غږ کړ،** چې زه هېڅکله بې لـه څـه تحفې او سوغاتـه کورتـه نشم تللی.

**څلورم وویل:** ما له ډاره بیخي ښځه نه ده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مونږ په هر چا پسې نه ځو

یو ملګری په لاره کې مخکې شو.

**بل ورته وویل:** مونږ پښتانه یو په چا پسې نه ځو او څوک نه پرېږدو چې له مونږ نه دمخه شي.

**هغه وویل:** رښتيا چې تاسې په خرو پسې ځئ او خره په مخکې وي يا د اسونو په مخکې منډې وهئ او په سړو پسې هېڅکله نه ځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په خرو کې هم الفت شته

له یوه لیکونکي سره، چې تخلص یې الفت و، څو تنه ملګري ولاړ و، څو تنه خره په لاره تېرېدل چې وربوزونه یې یو له بله نږدې کړي و او څټو نه یې ګرول.

یوه غږ کړ، چې په خرو کې هم الفت شته.

الفت سمدلاسه وویل:هو! لکه زه چې په تاسې کې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رجب خان دعوتنامه

ښاغلی...له ډېرې مودې مې دا سودا وه، چې يوه شپه تاسې مېلمانه کړم، مګر جرئت مې نشو کولی ځکه چې اوږه ډېر ګران دي.

نن سهار ستاسې طالع بيدارې وې، چې د حاتم طايي کتاب لاس ته راغی او تر تاثير لاندې يې راغلم په همدغه وخت کې دا مشهور بيت هم راپه يادشو.

ميهمان روزي بخود ميارود بس ګناه ميزبان رامي برد

نو مې له ځان سره فيصله وکړه، چې د ګل کرم وخت هم دی او د پنج کتاب ملا صاحب هم ويلي دي:

کرم مايۀ شادماني بود کرم حصل زنده ګانی بود

نو راشه! په يوه دانه ګل کرم به جناب قاضي صاحب او دوه نور ملګري خوشحاله کړې او ضمناً به د خپل جواد او سخا يوه دوه ناحقي شاهدان هم د قاضي په مخکې تېر کړې، نو ای له ګرانو اوړو نه ګرانو ملګرو!

(توکل په خدای) بيګا ته زما ځای ته راشئ!

مګر ګورئ! خدای پاک فرمايلي دي: (کلوا و اشربوا ولاتسرفوا)

نو تاسې هم بې امري مه کوئ! ځکه چې د هوښيارانو متل دی(نيم نان، راحت جان).

بله داچې:

طمـــع رانيايـــد کـــه چنـــدان کنـــی
کـــه صـــاحب کـــرم راپيشـــمان کنـــی

(لاهور رجب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتیجه یعنې څه؟

رجب خان: دا مامورین او میرزایان چې نتیجه وایي د دې څه معنیٰ او نتیجه څه شي ته وایي؟

عجب خان: لکه له شودو نه چې څوک پېروی تول کړي یا له مستو نه کوچ وباسي نتیجه هم دغه شان شی دی. کوم مامور، چې د یوې فقرې تحقیق او تفتیش ته مقرر شي او له خلکو سره دومره سوال او جواب وکړي، چې مقصد او مدعا ورکه شي، نو بیا چې له هغو پاڼو نه مطلب راباسي نتیجه ورته وایي.

رجب خان: ښه دې پوه کړم هغه ورځ، چې زمونږ کلي کې مړی شوی و او حاکم صاحب له مېرزایانو سره راغی قاتلان خو تښیدلي وو، مګر دوی دا نور خلک له سوال وجواب لاندې ونیو. لا یو سوال به یې څو څو ځله کاوه. زه حېران یم چې ولې دوی یوه خبره دومره شاربي او خلک په تور او سپین اړوي. اوس پوه شم چې دوی کوچ ورځنې ایستل او پیسې یې پکې اخستلې، نو هر کله چې نتیجه او پیسې لاس ته ورغلې بیا څوک په مړي پسې ونه ګرزېدل او نه یې چاپوښتنه وکړه.

ښه د میرزایانو په نتیجه خو دې پوه کړم اوس یو څو نورې نتیجې هم راوښیه.

عجب خان: که نتیجه په یوه ځای کې فرق کوي، ځکه وایم چې زمونږ په ملک کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| د علم نتیجه: | امامتي کول او خیراتونه خوړل |
| د ماموریت نتیجه: | رشوتونه اخستل |
| د مال او ثروت نتیجه: | سود کول |
| د هوښیارۍ نتیجه: | چل او فریب |
| د ناپوهۍ نتیجه: | شرارتونه او فسادونه |
| د نادارۍ نتیجه: | غلا او ناحقه دعوې |
| د قوت نتیجه: | ظلم او تعدي |
| د چالاکۍ نتیجه: | معتبري |
| د چاپلوسۍ نتیجه: | د امرینو خوشحالي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان یعنې څه؟

رجب خان خو به تاسې پېژنئ، چې وظیفې یې نه دي خوړلي، مګر ملا شوی دی، د ادبیاتو په فاکولته کې یې څه نه دي لوستي، خو مقالې لیکلي او شعرونه ویل شي.

د استدلال قوت یې هم بد نه دی او په فیلولوجۍ کې لاس څه، چې پښې هم لري، څنګه چې د ده خبرې عجیبې غریبې دي هغسې یې دلایل هم دي.

هغه ورځ چا ورنه پوښتنه وکړه، چې انسان یعنې څه؟

ده وویل:

منطقیان ورته حیوان ناطق وایي، یعنې هغه حیوان چې خبرې کوي

شاعران وايي:

**په ناطق حیوان تعریف چې د انسان کړي**
**په خبرو غولیدلي هلکان دي**
**سړي نه دي چې یې کار د سړونه وي**
**په خبرو کې هرڅومره ښه پوهېږي**

ډاروین وایي: انسان د بیزو زوی یا لمسی دی، مګر زه بې خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحبه بل چا ته انسان نشم ویلی، ځکه چې پاک خدای انسان ته ظلوم او جهول ویلي دي او له خان نه زیات ظالم او جاهل نه پیدا کېږي.

رجب خان د لغوي تحقیق په وخت کې کله، چې پښتو یا فارسي لغتونه عربي ته راکاږي، نو خان او خاین له یوې مادې نه مشتق بولي، مګر کوم وخت چې عربي لغتونه پښتو کوي، نو بیا وایي چې (انس) یا انسان له (نس) نه ماخوذ دی، د هر چا چې نس لوی وي او په پردیو مالونو هم نه مړېږي هغه خان او حضرت انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحالي او غم

له خوبه راپاڅېدلم، سترګې مې ومښلې د ډول او سرنې اواز مې تر غوږه شو.

یوه شېبه وروسته سره ډولۍ او لويه ورا راښکاره شوه چې ډېر خلک ورسره خوشحاله روان وو.

زه هم له دوی سره ملګری شوم او په دغه خوشحالۍ کې مې ځان شريک کړ.

ما غوندې نورهم ډېرخلک له دې ډولۍ سره روان و او په پردي واده کې يې لاسونه غورځول. څوک چې د دنيا په خوشحاليو کې مطالعه لري هغه به ماته هېڅ تعجب ونکړي.

که مونږ د دنيا لويه ورا وګورو، نو د خوشحالي ناوې د يوه کور ته ورځي، مګر وچولي د ډېرو غوږېدلي وي.

د ډولۍ دننه حال چاته نه وي معلوم، ډولۍ خاوند په راز راز تصوراتو کې ورک وي او نه پوهېږي چې، بېګا ته به څه راز بشره ويني؟

دغه مجهوله ليلي او نامعلوم حقيقت په ښايسته حجابونو کې پټ وي او ټوله ساحري يې په همدغه پټوالي کې وي.

په دغه حال کې، چې د واده خاوند لا د حسن او جمال له مخه پوړنۍ نه و اخستی او يوازې د مېنې او محبت په کيف مست و، خپل ځان يې د سعادت او نېکمرغۍ رڼا ته ډېر نږدې ګاڼه، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقیقت کې همدغه شېبه دی د سعادت په غېږکې و او د خوشحالۍ پلوشو یې شاو وخوا رڼا کړې وه.

د دنیا هر راز نیکبختي او هر ډول خوشحالي د انسان په احساس او تصور کې ځای لري، همدغه احساس دی چې د غم شپې خوشحالې ورځې یو له بله بېلوي.

همدغه سبب دی چې یو شی یو سړي خوشحالوي او بل یې خپه کوي، دیوه د پاره غم د بل ښادي شي.

مونږ په دغه ګمان، چې د خپل یوه ملګري کور ته د خوشحالۍ ډولي وړو ټول خوشحاله و چا اسونه ځغلول، چابه ننبې ویشتلې ځینو اتڼونه کول، ځینو ټوکې او مسخرې کولې او په همدغه شان وضعیت ماښام تېاره کلي ته ورسېدلو او ډولۍ د کاله په مخکې ښکته شوه، ښځې راغلې او د ډولۍ پردې یې جګې کړې، مګر بې له دینه چې یوه ښایسته مړه ناوې ووینې نور څه پکې نه و.

دغې ښکلې پېغلې نه غوښتل چې په دغه کاله ننوزي او خپل ګران ملګری په بل چا بدل کړي.

دغه اجباري واده دا مجبوره کړه، چې په زهرو ځان ووژني او له ډولۍ نه جنازه جوړه کړي، د دې حال له لیدو سره سم د ژړا اوازونه پورته شوه او د هر چا په احساس کې بدلون راغلی، هم دغه وخت مونږ وپوهېدو، چې مونږ له یوې جنازې سره خپل تصور او ګمان خوسحاله او په خندا روان کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ګمان دومره قوي تاثيردرلود ، چې مړی يې راباندې په ډول او سرني کور ته وړ، زما يوه ملګري وويل: په رښتيا چې خوشحالي ځوک په زور او اقتدار يا په ډېرو پيسو کورته نشي راوړلی، بلکې د زړونو موافقت غواړي.

يو بل ملګری(چې د دې واقعې له عکس سره مخامخ شوی و) هغه وويل: هر کله چې ګمان دومره موثر دی، ځومره به ښه وي چې دا قوت شامدام پاک وساتو او په ښه لاره کې يې صرف کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارزو

هلته لرې د غره په لمن کې د لمر پلوشو ته څه وځلیدل، لکه چې په اسمان کې ستوري او په زړونو کې د ارزو ښکلی مخ ځلېږي.
زه نه پوهېږم چې دا د سترګو د پاره ځلیدونکی شی څه شی دی؟
د کومې مستې پېغلې د لاس ائینه ده، که د کومې معشوقې د غاړې امېل نه کومه قیمت بها مرغلره لویدلې ده؟
د هغې تجلي پلوشه ده، چې په کوه طور کې یې ځان ښکاره کړ که له کوم کان او معدن له کوم ښکلي غمي راوتلي دي؟
دغه شان ډېر فکرونه او ګمانونه پېدا شول او زه بې په هغه لوري روان کړم، زه نه پوهېدم چې په څه شي پسې ځم او څه به په لاس راشي؟
زما تصور اتو او خیالاتو دغه مجهول شی زما په نظر کې ډېر ښایسته کړی و، زه خپل مطلوب ته په ډېرلوړ قیمت قایل وم.
ماله ځانه سره ویل، چې په غرونو کې هرڅه موندل کېږي او په دنیا کې ځینې داسې غرونه هم شته چې د اخدای استازو پکې راز ونیاز درلود او د خدای د فرمانونو ځانګو پکې ځنګېدلې ده. د لمر او سپوږمۍ لومړۍ پلوشې په دوی لوېږي او د خدای د رحمت ورېځې مدام د دوی په سرګرزي.
دغه راز ډېر خیالونه او تصورات راسره ملګري و، چې زه هلته ورغلم او خپل مقصد ته ورسېدم، هغه شی په حقیقت کې هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی نه و او د دنیا په بازار کې یې هېڅ قیمت نه درلوده. زه پوه شوم چې دنیا مونږ هر وخت په همدغسې شیانو غولوي او ډېر خوشې شیان یې راته له وراځلولي دي.

له مونږ سره هر وخت لوړ فکرونه او سترخیالات ملګري وي، مګر عملاً په دغسې ناوړه او خوشې شیانو پسې روان یو.

هغه څه چې مونږ له لرې وینو او نه یو ور رسېدلي مونږ ته ډېر ښایسته ښکاره کېږي او په لوړ قیمت ورته قایلېږي، مګر پس له رسېدلو پوهېږو چې مونږ په هسې او خوشې شیانو پسې هڅه کوو او په داسې شي پسې ځو چې هېڅ نه په کارېږي. هماغه لیلیٰ چې خلک یې په دیدن پسې ړندېږي، ځینې نور رسېدلي دي هغوی یې اوس له کته غورځوي او هېڅ قدر یې ورسره نشته.

دا لیلې د انسان هماغه ارزو ده، چې مخکې له رسېدلو یو راز وي او وروسته تر رسېدلو بل راز کېږي او د زړونو له کوره ایستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اجتماعي نظريات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکر

په هغه تورتم کې چې شعوراو احساس د رندو په شان امسا ټکوي – هلته چې دشرق و غرب امتیاز نشي کېدای او هرڅه مجهوله وي. په ځان کې چې د اسمان ستوري چا ته لوري او لودن نه ښي او سترګه نه ښکاري، په هغه وخت کې چې بې له حیرت او ابهامه بل هېڅ شی نه وي موجود او قبلې پته نه وي معلومه، سړی به کومې خوا ته درېږي؟ او کوم لوري ته به سجده کوي؟

په دغه وخت کې که دې لمر خاته خواته ولاړ وي، ده ته د لمر بنده نه ویل کېږي، بلکې د قبلې اهل باله شي.

د ده قبله او کعبه په دغه حال کې د مشرق (۱) په لوري انتقال کوي او په دغسې مواقعو کې چې انسان هرې خواته دفکر په نغوته مخ ور اړوي د لوی ښتن مخ هماغه لور وي او د خدای کور هماغته بویه.

په دغه شان موقف کې که ځلور تنه ځلورو خواو ته دخپل فکر په اشاره او اجازه مخه کړې او ددوه تنو فکر هم په یوه خوا اتفاق ونکړي، ځلور واړه داسې حال لري لکه چې کعبه په مېنځ کې وي او هر یوه یې یوه دیوال ته مخامخ ولاړ وي.

دلته منطق او برهان سړي ته په یقین سره دا وایي، چې پدې ځلورو واړو مختلف او مخالف فکرونه پخپل دربار کې قبلوي او دیوه لمونځ هم له قبلې نه چپ نه ګڼي.

دلته منطقي قیاس د درو تنو په غلطوالي قطعي حکم کوي او په احتمالي ډول دیوه تن د فکر په صحت قایلېږي، ځکه چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه څلورتنه، شرق وغرب،جنوب او شمال ته نه وي ولاړ، بلکې په څلورو کنجونو درېدلي وي ټول په غطه ولاړ دي او يوه هم صحيح لوری نه دی موندلی، مګر دغه علمي او عقبي فيصله سره له دغه برهانه اعتبار نلري او د هر يوه فکر حق ګڼل کېږي، ځکه چې په دغه حين کې له انسان سره بې له فکر کولو او تجربې څخه بله وسيله نشته او هېڅ يو د بل د فکر په منلو او قبلولونه دي مکلف،که په دوی کې يو تن ډېر هوښيار وي هغه نور د خپل فکر په پيروۍ نشي مجبورولی او نه هغه بل دا کولی شي، چې ده ته به يوه خوا حقه معلومېږي او سره له دې به د بل په فکر پسې درومي او کعبه به د بل په نظرګوري.

دلته د هر يوه فکري او عقلي تکليف همدغه دی، چې پخپله فکر وکړي او له خپل فکر نه کار واخلي.

په اسلام کې دڅلورو مذهبونو حقانيت په همدغه اساس بنا دی او هغه فکري اختلاف، چې د څلورو امامانو مېنځ کې موجود دی د هېڅ يوه د فکر حقانيت نه سلبوي.

له دېنه انکار نشي کېدای، چې د انسان فکر قاصر او ضعيف دی، د ده په نظر کې يو شی په بل راز معلومېږي په ډېرو شيانو کې د انسان فکر غولېږي، سهوه کېږي او غلطېږي، مګر سره له دې لوی خدای پخپل حق او صحيح کتاب کې هر ځای انسان ته د تفکر او تعقل امر کوي او هغه څوک، چې فکر نه کوي ملامت بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدغه ځایه مونږ د فکر د ازادۍ په ضرورت پوهېدلی شو او په اجتماعي مسایلو کې فکر کول او فکر ښکاره کول یو ډېر ضروري امر ګڼو.

مونږ باید فکر او د فکر خاوندانو ته موقع ورکړو، چې خپل کار وکړي او خپله وظیفه په ازادانه ډول اجرا کړي.

دنن ورځې دېموکراسي هم انسان ته همدغه توصیه کوي چې هر څوک باید خپل اجتماعي افکار او نظریات څرګند کړي او فکرونه مختنق نشي.

که څوک کوم نا شنا او نوی فکر ښکاره کوي څوک دا حق نلري، چې هغه له ستوني کلک ونیسي او ملامت یې کړي، ځکه چې هر فکر ارومرو حق نه وي او حق ته نشي رسېدلی. هر سړي په دې مکلف هم نه دی، چې هر ګوره پخپل فکر کې حقیقت ته ځان رسوي او هېڅکله به نه سهوه کېږي، مګر دا د هر یوه وظیفه ده چې فکر به کوي او حقیقت به لټوي.

زمونږ به فکرکولو او په حقایقو پسې په ګرزو کې دوه اجره دي او که سهوه شوو، نو فکر کول پخپله یو ښه کار دی او انسان له غفلته پرې خلاصېږي.

د دنیا ډېر لوی مفکرین او مشهور پوهان ډېر ځله پخپل فکر کې سهوه شوي او غلط افکار ورځني پاته دي، چې انسان د بدبختۍ خواته بیايي، مګر سره له دې د فکر ازادي یو ضروري امر دی.

که څوک وو ایي چې انسانانو په دنیا کې ډېر بدبد کارونه وکړه او ډېر ضررونه او فسادونه یې انساني جوامعو ته ورسول، راځئ چې دغه نسل قطع کړو او انسان پرې نږدو چې دی دنیا ته راشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره عیناً داسې معلومېږي لکه چه سرې د فکر غلطي او اضرار په نظر کې نیسې او د فکر ازادي سلبوي.

دوی دومره فکر نه کوي، چې د انساني جوامعو ورکول د دې دپاره چې دوی ته ضرر رسېږي یا دوی چاته ضرر ونه رسوي څومره غلطه خبره ده.

د فکر مختنق کول او محوه کول د انسانیت په ستوني پښې اېښودل او انساني جامعه د حیوانیت خواته رابلل دي.

مونږ باېد فکر وکړو او بې فکره ازادي که د خاینانو، غدارانو او ریا کارانو دپاره ضرر لري دیوه ملت دپاره ډېر مفید معلومېږي او د سړیتوب تر قیود پورې موقوفه ده.

که فکرونه ازاد شي او هر څوک خپل نظریات ښکاره کړی شي مفکرین او فکري مشغله پیدا کېږي، دغه د مملکت مهم مسائل چې اوس پکې فکرونه ګنګس او حیران دي او د مشکلاتو علاج رانه ورک دی، اصلي علت یې همدغه دی چې په کلونو کلونو فکرونه ایسار شوي او مختنق شوي دي، له دغسې محبوس او مقید فکر نه د حل لاره غوښتل هېڅ معنیٰ نلري.

مونږ اوس پخپل مملکت کې لوی لوی خلق لرو او عالمان هم شته، مګر د فکر خاوندان ورته نشو وېلی، ځکه چې دوی فکر نشو کولی او فکر یې نشو ښکاره کولی. دلته تفکر مشق او تمرین چا ته نه دی کړی او د دې ورزش دپاره خلق نه دي تربیه شوي، دلته ډېرو پوهانو د ډېرو ناپوهو خلقو خبرو ته ښه ویلي او د دې په ځای چې څوک له چا نه فکر وغواړي کور کورانه تسلیم او اطاعت غوښتل شویدی، پدې ځای کې پوهان مجبور شویدي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دین او مذهب مخالف ته د دین حامي وو ایي او تل د زوررو فکر وستایي. ځوکاله د مخه چاپدې هېواد کې ښو ته ښه او بدو ته بد نشو ویلي، څوک چې د فکر او رایې خاوندان بلل کېده په زندانونو کې واچول شوه او فکرونه پکې مضمحل شوه اوس دنیا بل راز شوه او د دې عصر کارونه له مونږ نه فکر غواړي او د پخو فکرونو تقاضا کوي، مونږ اوس مجبور یو چې فکر او د فکر خاوندان پیدا کړو، یعنې د فکر کولو مشق او تمرین وکړو، د دې مشق د پاره میدان او غولی په کار دی، چې هغه جراید او مطبوعات دي. مطبوعات باید ازادي وي او ازاد فکرونه پکې ځای پیدا کړي پدې کار کې ډېرې فایدې دي او دغه ازادي زمونږ د پاره ډېره ضرور ده. اوس زمونږ په مغزو کې فکرونه وچ شوي او لکه هغه جنبین، چې ډېره موده د مور په ګېډه کې مړ پاته شي او نشي متولد کېدای، مونږ هم د فکر په تولید قادر نه یو، که چېرې د جرایدو او مطبوعاتو ازادي دیوه قانون له مخې پیدا شوه له دماغونو نه به څه وزېږي او سرګرداني به ورکه شي.

هر یو به د خپل فکر په صحت او غلطۍ پوه شي، ځکه چې فکر ازاد شي انتقاد هم ازادېږي او هر څوک ښو ته ښه او بدو ته بد ویلی شي.

دغه د فکر مشق او تمرین به په فکر کې قوت او رشد پیدا کړي. زمونږ مفکرین به په اجتماعیاتو، اقتصادیاتو او سیاسیاتو کې سمې او صحیح لارې ومومي او زمونږ مشکلات به خدای (ج) حل کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ به د سمو او صحیح فکرونو قدر وکړو او د فکر خریداران به په وطن کې پیدا شي، مفکرین به علم او عرفان ته راغب شي چې د علمي تتبعاتو په رڼا کې ښه فکرونه ومومي او ښې لارې وپلټي.

که فکر ازاد شو هر څوک به د خپل حق مطالبه وکړي او خپل حق به وغواړي.

عدالت په همدغه وسیله په یوه مملکت کې قایمېدلی شي او مظالم ورکېږي مونږ باید مظلوم ته داحق ورکړو، چې د ظالم ظلم او د خاین خیانت بیان کړي او حق وویلی شي، همدغه شی فکر ازادولی شي. دلته به اخلاقي شجاعت او اسلامي جرئت او حقانیت پیدا شي بیا به ظالمان د دغومره ظلم او خاینان د دغومره خیانت جرئت نشي کولی او هر څوک به خپله چاره په اوبو کې ویني.

فکر او قلم چې هر څومره ازاد شي هغومره اعمال او افعال مقید کېږي او قوانین تطبیق پیدا کوي، یعنې له اصولو او قوانینو نه خلاف څوک نشي کولی او هر سړی پخپل عمل او تکرار کې محتاط وي.

په هرځای کې چې ښو ته ښه او بدو ته بد نه ویل کېږي هلته ښه او بد مشتبه کېږي او امتیاز یې له مېنځه ځي، په دغسې ځایو کې د ظلم او خیانت دپاره زمېنه مساعده کېږي او عدالت مري، د همدې، لامله په اسلام کې حق ګویې او ظالمانو ته حق ویل ډېر لوی عبادت او فضلیت ګڼل شوی او له هرڅه نه زیات اجر او ثواب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام په ارکانو کې د ژبې اقرار او د زړه تصدیق دواړه ضرور ګڼل شوي او د دې خبرې همدغه معنیٰ ده، چې باید سړی خپل عقاید او افکار ظاهر کړي او د افکارو د اظهار د پاره زمینه مساعده کړي، هغه څه ته په غیر دیموکراسي مملکت کې افکار او نظریات نشو و نما نشي کولي او د فکرخاوندان نه پیدا کېږي.

د دیموکراسۍ او دکتاتورۍ په بحث کې ځینې پوهان وایي په ابتدائي او بې علمه ملتونو کې یو ښه دکتاتور په کار دی، چې پخپله فکر واخلي، پخپله نظریه روان شي او پیشرفت وکړي، دوی پخپل بیان کې دا یو شرط زیاتوي، چې دکتاتور باید د ځان دپاره کار ونکړي او وطن خواه وملت خواه سړی وي، د دې نظریې خاوندان دلایل هم لري او وایي په کوم هېواد کې چې عمومي فکر ړوند او کوڼ وي، د خیر او د شر تمیز په ښه شان نشي کولی او پخپل بهبود نه پوهېږي، هلته که دیموکراسي رایجه شي مملکت د انحطاط خواته درومي او پرمخ تګ یې له عقله لرې خبره ده.

دا نظریه زمونږ په وطن کې د ډاکتر اقبال له اشعارو او د ځینو نورو مفکرینو له اثارو اقتباس شوېده، مګر د دنیا ډېرپوهان په هرځای او هر وخت کې دیموکراسي او د افکارو ازادي له بل شان حکومتونو غوره ګڼي او د دیموکراسۍ او دکتاتورۍ په باب کې وایي«د مېلمستیا ډېره خرابه کوټه د انتظار له ډېرې ښې کوټې نه بهتر ده»

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې باندې باید سړی اعتراف وکړي، چې هر فکر حق نه وي او ډېر ځله د ډېرو کسانو فکر هم خطا کېږي، نو دیوه دکتاتور فکر به څنګه هر وخت او په هره مسئله کې له سهو او خطانه خلاص وي.

دا ممکنه ده چې د ډېرو پوهانو او هوښیارانو د فکرپه مرسته حق او حقیقت ته ورسېږو، مګر په یوه فکر باندې هر وخت د حقایقو کشفول امکان نلري.

د یوه مجتهد او اماک په حق کې هم داخبره منل شوېده، چې شېخ کله سهوه کېږي او کله حق ته رسېږي.

د یوه سړي فکر او د ډېرو فکر هېڅکله یو راز قیمت او یو حق نشي پیدا کولی. که یو تن فکر وکړي او فکر يې له عقل او قیاس سره برابر هم وي بیا هم د اجتماع، یعنې د ډېرو خلقو د فکر په مقابل کې ضعیف دی او د جماعت د فرد له فیصلې نه قوت لري، پدې خبره کې هېڅ تردد نه دی پکار، چې دیموکراسۍ او شورایې اصول هرګوره ښه وي او په هغه ځای کې چې هر څوک د فکر کولو او فکرښکاره کولو حق لري او کارونه دجماعت په فکر کېږي هلته دعدالت امکان له هغه ځای نه زیات موجود دی، چې یو فکر حاکمیت او تسلط لري او ټول کارونه د یوه سړي خوښې ته سپارل شوي وي، د یوه سړي فکر د اعتماد وړنه دی، انسان سره له دې چې خدای ډېر فضایل ورکړي بیا هم یوازې په انفرادي صورت یو ضعیف متحیر او متردد مخلوق دی، چې پخپله پخپل فکر باندې اعتماد او تکیه نشي کولی او په هر شي کې د اجتماع شاګرد دی او د جماعت تاثیر لاندې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دا خبره بله یوه باریکي لري، چې ظاهراً د تناقض رنګ پیدا کوي، ځکه چې کله فرد ستایو او حق یې ګڼو کله ورته قاصر او ضعیفه وایو او عدم اعتماد پرې ښکاره کوو، د همدې لامله د جماعت فکر مرجح او غوره ګڼو، مګر که څوک دقت وکړي هغه پوهیږي چې د فرد فکر سره له نېمګړتیا او قصوره د خیرو شر، د ښو او بدو ممیز دی، که سړی سل ځله پخپل فکر کې غلط شي بیا هم باید په هره خبره کې فکر وکړي او فکر پرې نږدي.

فکر د انسان یو داسې ملګری دی، چې که هرڅومره سهوې او غلطۍ ورځنې ووینې او ډېر تاوانونه ور ورسوي بیا هم لاس ورځنې نه اخلي او په هره برخه کې ترېنه سلا او مشوره غواړي، دا چې مونږ دیوه سړي فکر د نورو افرادو دفکر په مقابل کې نه منو، معنی یې دانه ده چې د فرد فکر ته زیاته اعتنا نه لرو، که مونږ د یوه سړي فکر ته هرڅه وسپارو معلومه خبره ده چې دبل فرد او دنورو افرادو فکر ته څه اهمیت نه ورکوو او په احترام ورته نه ګورو.

ځیني داسې افراد شته چې پخپل غلط فکر ډېر ټینګ درېږي او د بل صحیح فکرته نه ور اوړي، دهمدې لامله وایو چې دیوه مملکت کارونه باید په یوه فکر اجرا نشي او یوه فکرته هر څه ونه سپارل شي.

د هر سړي فکر د هغه د تصوراتو او شغل و مصروفیت له تاثیر لاندې وي او واقعات و حوادث، تلقینات او تبلیغات فکر اړوي رااړوي، حب او بغض، خوشبیني او بد بینې د فکر په بدلون کې ډېر دخل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوه سړي فکر چې يوې خوا ته متوجه شي په هغه خوا کې ډېر باريک شيان هم ويني، مګر په بله خوا کې ډېر واضح شيان نشي ليدای يا يې نشي منلی، نو هر کله چې څو تنه په يوه موضوع کې فکر وکړي او هر يو د مختلف نظر خاوندوی، نو موضوعاتو ته له مختلفو خواو کتل کېږي او ټول اطراف او جوانب سنجول کېږي، د دغو ټولو فکرونو له مقارېې او مقابلې څخه يوه معتدله فيصله په لاس راځي او له انفرادي فکر څخه افراط او تفريط ورکېږي

مونږ بايد د هر فرد فکر ته په احترام وګورو او په حق وروته قايل شو، د هيڅا فکر بې له قوي او منطقي دلايلو د بل د فکر تابع ونه ګڼو او دا ونه وايو، چې يو دې د بل په فکر پسې په پټو سترګو او بې دليليه روان شي، مګر د فکرونو شريکول او د فکر ټولول يوه ضروري خبره ده او د منطق وبرهان يا صحيح استدلال په مقابل کې له خپل فکره تېرېدل او د بل فکر منل په کار دي.

د اشتباه په وخت کې چې له څوتنو نه قبله ورکه شي هر يو به پخپل فکر يوې خوا ته درېږي، مګر که له يوه سړي سره قطب نما يا داسې صحيح اله موجوده وي، چې لوري او لودن معلوموي هلته به هرڅوک هر طرف ته مخ نه ګرزوي.

په فکر کولو کې بايد له دقت او تملق نه کار واخستل شي، ډېر خلق وي چې فکر يې يوې خبرې ته ډېر ژر رسېږي او د چا خبره په نيمه پوهېږي، مګر په مسائلو سطحي او سرسري تېرېږي دغسې کسان په رشتيا، چې په نيمه پوهېږي او پوره نه دي پوهېدلي، د يوه عالم او بې علمه په فکر کې همدغو مره فرق وي، چې د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کې دقت موجود وي او د دې بل نظر برسېره او ځرښنده تېرېږي.

فکر باید له فعل او عمل سره تماس او تعلق ولري او د تجاربو په محک يې صحت او سقم معلوم شي، تجربه په حيات کې ډېر تاثير لري او پس له کړو او کارکولو لاس ته راځي. هر کله چې افکار عملي شي او پس له تجربې نه يې صحت معلوم شي هغه وخت د علم درجه مومي او قوت پيدا کوي.

چې له لرې سرې کاندې سنجشونه
کارته نه رانږدې کېږي کړي فکرونه
له دې فکر او سنجشه پيدا کېږي
دماغونو کې سودا زړو کې غمونه

بې له فکره چې ځوک کار کړي خوشې زيار کړي
چې بې کاره کړي فکرونه ځان خوار کړي
چې عمل او فکر يو له بله بېل شي
عمل خوار شي فکر ورکه سمه لار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کار او عمل

وروسته له فکر کولو کار او عمل په کار دی، بې عمله فکر او بې فکره عمل یوهم سمه او صحیح نتیجه نلري، فکر دهمدې دپاره دی چې سړي ته کار او دکار سمه طریقه وښیي. د انسان صلاحیت او قابلیت د کار او عمل له مخې معلومېږي.

تقوی او عدالت، ظلم او فسق د انسان په اعمالو او کردار کې ځان ښیي، له ښه فکر په ښه اراده او له ښې ارادې نه ښه عمل پیدا کېږي، ځکه کار او عمل ته دفکر نتیجه او غایه وایو او اصلي مقصد یې بولو.

فکرپخوا له عمله د یوه مړي مثال لري او مفکوره په عمل پیدا کېږي، د فکر صحت او غلطي پس له کار او عمله معلومېږي، هغه فکر چې عملي کېدای نشي څه قیمت نلري.

څوک چې فکرکولی شي او کارنشي کولی هغه لکه ګوډ او شل داسې دی، چې هېڅ ځای ته نه رسېږي او په هر وخت کې بل ته محتاج دی.

هغه چې کار کولی شي او فکر نشي کولی د ړندو مثال لري، چې لیاره نهویني او په لیار ه تللی شي.

کار دانسان هغه اقتدار څرګندوي، چې د لوی ښښتن له قدرت څخه فیض او برخه لري او انسان ته د خلافت حق ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنطق پوهانو انسان په نطق (عقل) او فکرله نورو حیوانانو بېل کړی، مګر که نوي اصطلاحات جایز وګڼل شي نو په کاراو فعالیت یې بېلول بهتر دي.

د ځمکې په ټولو ژوو او حیواناتو کې انسان یو فعال او کاریګر مخلوق دی، چې د ده په کارونو او فعالیتونو دا دنیا معموره او ودانه ده دغه لوی لوی ښارونه او لوړې ماڼۍ دغه د کالر فابریکې او ماشینونه، دغه سمسور باغونه او شنه فصلونه، دغه لوی جهازونه د اورګاډي او طیارې د انسان فعالیت او کار شواهد دي، چې انکار ترېنه نشي کېدلی.

پاک خدای په کار او فعالیت کې د خلقت او ایجاد قوت ایښی دی او داسې څه ترېنه پیدا کېږي چې دمخه یې تصور هم نشي کېدای.

دا ممکنه ده چې دریابونه وچ شي، دغرونو کانې تمام شي، د پادشاهانو خزانې تشې شي، په معادنو کې څه پاته نشي او هر څه خلاص شي، مګر هغه څه چې د کار او عمل په کڅوړه کې دي هغه تمامېده نلري او وخت په وخت نوي شیان ترې را اوزي.

د انسان اصلي او حقیقي ثروت کار او د کار استعداد دی، په همدغه شي انسان هر څه پیدا کوي او له جهانه ددنیا او اخرت استفاده کوي، انسان دکار او فعالیت په مرسته مړه مواد هم په کار اچوي او د ژوندیو شیانو کارترېنه اخلي، دغه ماشینونه چې ده په حرکت راوستلي دي او شپه ورځ کار کوي، دا خبره ثابتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې انسان په نورو شیانو کې هم دکار او فعالیت استعداد پیداکولی شي.

د انسان په قدرت کې دانشته چې بې روحه شیان ژوندي کړي، مګر دا کولی شي چې له ژوندیو شیانو نه پکې زیات قوت او ګړندیتوب پیداکړي او په هوا کې یې وګرزوي.

په کار باندې اثار او نتایج مرتب کېږي او ددنیا واخرت پانګه همدغه شی دی.

صالح عملونه اوښه کارونه د خدای په دربار کې ډېرقدرلري او په مثقالونو خرڅېږي.په فعالیت او کار کې پاک خدای دومره برکت ایښی دی چې سړی ورته په یوه معین مقدار او معیار نشي قایلیدلی، دا کېدای شي چې د کار او زیار په اثر له یوه زړي نه سمسور باغونه جوړ شي او له لړو دانونه خروارونه پیدا شي.

د انسانانو په کار او عمل غرونه سوري شوه، بیا باغونه زرغون شوه په دریابونو کې لارې جوړې شوې هوا او فضاء له پښولاندې شوه، د ځمکې له سینې نه پټ شیان راووتل او د اتوم بمونه پیدا شوه.

که اوس هم څوک د کار په قوت او قدرت نه قایلېږي هغه به ډېر بې شعوره وي.

د انسان په مټ او بازو، زړه او دماغ کې دکار او عمل یو د راز قوت او استعداد موجود دی، چې له هر څه نه هرڅه جوړولی شي او په عناصرو کې تغېر او تحول راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان په خورا قوي اختراعاتو کې کار ډېره مهمه او ستره برخه لري.

دنیا له ایجاد نه تر اخرته پورې په دغه اوږده او طولاني سفرکې د انسان د لارې توښه وپانګه همدغه دکار اوفعالیت قوت او طاقت دی، چې ورځ په ورځ یې اثر او برکت زیاتېږي. په دغه څوري کې هېڅ نقصان نه راځي.

په کوم هېواد کې چې د کار او عمل خاوندان موجود دي هلته د انسانانو جونګړې او کنډرې په عالي قصرونو او لوړو ماڼیو بدلې شویدي، هلته تل د سیندونو مخه نیول شوې او دانسان په خوښه یې مجرا پیداکړېده، په هغه ځای کې غرونه او رغرونه او رغونه شق شوي او ډېر پېچومي اوار شوي، هلته په سرکونو باندې د خرو او غریو په ځای اورګاډي او موټرونه چلېږي او په حیات کې سل رازه راحت او سهولت لیده شي.

بېکاره او بې فعالیته انسانان اوس هم په سمڅو او غارونو کې استوګنه لري او د حیواناتو څرمنې اغوندي، د هغوی خوراک اوس هم د غرو بوټي دي او له وحشیانو نه د ژوند په لحاظ ډېر لږ فرق لري.

کارد انسانانو ډېر مشکلات او احتیاجات رفع کوي او ډېرې اسانۍ پېښوي، مګر دا حله چې له کار سره فکر او عقل ملګري وي او یو له بله مرسته وکړي. د پوهانو او ناپوهانو کار د فایدې او نتیجې په لحاظ دځمکې او اسمان قدر ته فرق لري. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه چې فکر او عقل يې نه خوښوي دګټې په ځای زيان او ضرر لري.

په کار او عمل کې بايد اشتراک او اجتماعي تعاون موجود وي، ځکه چې انفرادي فعاليت ډېر لږ متافع لري او لکه انفرادي محدود تجارت سرګرداني يې ډېره او ګټه يې لږه وي. يو سړی دا کولی شي، چې د حيات او ژوند له لياري يوازې واړه واړه کاني لرې کړي، مګر هغه پېچومي چې په دغه لاره کې موجود دي ډېرو خلقو مشترک فعاليت او ګډه سعيه غواړي، دا پېچومي هغه وخت اوارېږي، چې ټول ورته متوجه شي او په ګډه کار وکړي.

ترڅو چې په يوه ملت کې اجتماعي همکاري پيدا نشي د حيات لوړې ژورې نه ورکېږي او پوره راحت او سهولت نشي پيدا کېدلی.

مونږ بايد اول د فکر او عمل موافقه حاصله کړو او بيا د ډېرو افرادو فعاليتونه متفق کړو، چې يوې سمې او صحيح نتيجې ته ورسېږو.

وايي چې په يوه وچه بيديا کې يو شل او يو ړوند يو ځای شوه، هلته اوبه نه وې، سيوری نه و، ډوډۍ نه وه او د دواړو ژوند په خطر کې و.

ړانده لياره نه ليده او نه پوهيده چې کومې خواته ودانې او ابادي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شل تـه لـوري او لـودن معلـوم و ، مګـر تللـی نشـو او پښـې يـې نـه وې.

دوی دواړه وروسته له مفاهمي او موافقي نـه پـدې راضـي شـوه، چې شل ړانده ته ورپه شاشي.

دی به هغه ته لیاره ښي او هغه به ځي.

پـه دغـه ډول دواړه ودانـۍ او ابـادۍ تـه ورسـېدل او يخـې اوبـه توده، ډوډۍ يې پيدا کړه. دغه شان د عمـل اشـتراک ډېـره صـحيح نسخه ده او ډېرمشکلات پرې حل کېږي.

کارونه دنتبجې او فايدې په لحاظ په دوه ډوله دي:

يو هغه کارونه دي چې نتيجه يې ژر لاس ته راځي او ګټـه يـې پـه لږ وخت کې معلومېږي ځينې نور داسې دي، چې نفع او فايـده يـې ځنډ غواړي او پس له ډېر انتظار يې نتيجه راوزي.

د دې دواړو کارونو مثال داسې دی، لکه ځېنې نور په ډېر وخت کې کمال ته رسېږي او ثمره يې پس له ډېر وخته ځرګندېږي.

يو چرګوړی په څو ورځو کې لـه هګـۍ راوزي او پـه څومېاشـتو کـې پـه هګيـو راځـې او ډېربچې راوړي، يـوه اسـپه پـس لـه څـو مياشتو يو بچی راوړي او هغه هم پس لـه ډېـرو مېاشـتو د سـپرلی کېږي او ډېر انتظار په کار دی، چې يو سړی يوه ځای ته ورسوي.

همدغه شان يو حيوان په څو مياشتوکې بلوغ او کمال ته رسېږي او يو انسان پس له ډېرو کلونو رشد او ځلميتـوب تـه رسـيږي، نـو هغه نتايج چې پس له ډېـرو ختـه پـه لاس راځي لـه هغـو نتـايجو نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر او مهم دي، چې په څو ورځو کې حاصلېږي. کارونه او اعمال هم د نتايجو او فوايدو په اعتبار ځينې اني او ځينې ځنډني دي.

څنګه چې علاجونه او چارې په فوري او اساسي علاجونو بېلېږي او بې له يوه فوري او اني ضرورته مونږ د خپلو رنځورانو اساسي علاج ته متوجه کېږو بايد کارونه هم په اساسي ډول شروع کړو او هغه کارونه، چې پس له ځنډه ځنډني فوايد لري له نظره ونه غورځوو،

کوم ملتونه چې کار ته د اني او فوري منافعو په لحاظ ګوري او نتايجو ته انتظار نشي ايستلی هغه له لويو او مهمو منافعو محروم دي او تل يې په چړګو او چړګوړو نظر وي، هغوی د دې په ځای چې د څو کالو د پاره اساسي پلانونه طرح کړي او هغه عملي کړي شپې او ورځې په نظرکې نيسي او د چا خبره خپلې شپې تېروي.

هغوی پدې باندې ښه نه دي پوه شوي، چې د ملتونو عمر لکه د يوه فرد عمر لنډ او محدودنه دی، چې په دغسې لنډو پروګرامونو سرته ورسېږي او اني ګټې په نظرکې ونيسي.

هر کله چې يو دهقان تخم کري او نه مياشتې وروسته حاصل اخلي يو ملت بايد هم داسې تخمونه وکري، چې شل د برش کاله يا يو قرن او دوه قرنه وروسته نتايج ورکوي او فوايد يې ظاهرېږي.

د دې ديموکراسي حکومتونو او استبدادي حکومتونو يو فرق همدغه دی، په کوم ځای کې چې ملي شورا ګانې موجو دې وي او د ملت وکلاء د ملت خير و شر سنجوي، نو د ملت عمر او پايښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نظر کې نيسي او د نقشو طرحه کولو په وخت کې د ملت خير و شر سنجوي، مگر يو مستبد حکومت چې هر څه کوي خپلې شخصي گټې ته گوري او د خپل عمر په احاطه کې دځان گټه لټوي. مونږ بايد په اجتماعي امورو او کارونو کې اساس بهبود له نظره ونه غورځوو او لوټه اينبودل او تبربدل په هيڅ کار کې غوره نکړو. که يو فرد دا نشي کولی، چې پخپل کار او عمل کې سل کاله وروسته په نظرکې ونيسي يو ملت خو بايد خپله اينده او راتلونکی نسل هېر نکړي او داسې کار ونه وکړي، چې لمسو او کړوسو ته يې هم نفع او فايده ورسېږي او د ودانۍ اساس يې ډېر ټينګ او متين وي، هر کله چې يو سپين ږيری دهقان په اخر عمر کې نوي نيالگی ږدي، چې روستنی يې سيوري ته کښيني او ميوه يې وخوري يو ملت به ولې داسې کوي، چې لکه يو دکاندار هر وخت ځانته له بازاره ميوه واخلي او د باغ جوړولو په فکر کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له کار سره علاقه

په کتابونو کې یې راوړیدي، چې له کار سره علاقه د سړي ټول فکر د کار خواته متوجه کوي او هر څومره چې د کار مینه په زړه کې زیاته شي دانسان په کوښښ کې هغومره زیاتوالی راځي او کار ښه کېږي.

دا خبره محض کتابي خبره هم نه ده کله که تاسې پخپلو مزدورانو پسې د کار کولو په وخت کې څار کړی وي دابه درته معلومه شوي وي، چې ناراسته لوګړی خپل لور په لوټه تېره کوي او هېڅ کار نه کوي، ځکه چې هغه له کار سره مینه او علاقه نلري او د کار شوق یې په زړه کې نشته. ډېر خلق دي چې سړی ورځني تېرېږي، نو هغه څوک چې محض د شپو او ورځو تېرېدل غنیمت ګڼي او شکرونه باسي هغه به کار ته په څه نظر ګوري او له سره به څه علاقه لري؟

زمونږ ډېر ښه مامورین او کارکونکي هغه کسان دي چې په حاضری ټینګ دي او په وخت کار ته راځي که څه هم هېڅ کار نه کوي او قصې کوي.

اکثره خلق چې له اجتماعي امورو سره علاقه نبي پدې ټکي ډېر زور اچوي، چې څوک کار نه کوي او له کارسره علاقه نلري.

که رښتیا ووایو تشخیص بد تشخیص نه دی، خلقو مرض پېژندلی دی، مګر په علاج کې نه دي کړېدلي چې له کار سره علاقه څه وخت او څنګه پیدا کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا لـه دېنه چې وګړي د تعليم او تربيت پـه اثر يـو اجتماعي شعور او احساس پيدا کړي او وطن خپل کور وګڼي او د مزدورانو چم ورسره ونکړي مونږ څه کولی شو؟ او د کار علاقه څنګه پيدا کولی شو؟ د دې سوال پـه جواب کې د هر چا خوښه چې هر څه وايي.

زه خو يو مهم ټکي ته اشاره کوم او وايم که دلته غړيدونکې او بينا سترګې پيدا شوې او کار تـه يې کتل اروړو لـه کار سره علاقه پيدا کېږي او کارونه ښه کېږي، تر اوسه پورې خو پـه هره اداره کـې يـو امـر او مشـر د تفتـيش پـه ډول نـوزي سمدلاسـه حاضري ګوري او بل هېڅ شي نشي ليدلی تردې وخته خو مونږ د خاضرۍ اخستلو او حاضرۍ ليدلو نه يو اوښتي او کار تـه نه ګورو، پـه هېڅ اداراه کې هېڅوک پـه وزګار کښېناستلو او کار نـه کولو له جزا لاندې نه دي راغلي او حاضرګڼل شويدي.

هر کله کـه د کـار مبصرين پـه کـار پسـې وګرزېدل او کارته يې کتل، د هرچا پېشرفت او ترقي د کار لـه مخې وشوه او نور شيان له مينځه ووتل له کار سره به علاقه پيدا شي او کارته بـه پـه مينه او محبت خلق وګوري.

انسان له خپل پېشرفت او خپلې ترقۍ سره ټينګه علاقه لـري کـه ترقي بې له کارکولو په بل راز ممکنه نه وه او د چا کار نـه ورکېده د کـار مينـه پـه زړونـو کـې ځـای نيسـي او لـه کـار سـره علاقـه پيدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر بازار کې چې هره متاع ښه خرڅېږي خلق هماغه شی ورته راوړي او په هماغه شي پسې ګرزي، که دکار خریداران پیداشوه او کارونو قدر او قیمت پیدا کړ، د خلقو په متو کې به زور او قوت پیدا شي او ډېر درانه پېټي به په اسانه او چټوي، بیا به زوړونه دغسې ساړه نه وي او خلق به د تملق او چاپلوسي به عوض کار کوي او هرڅه به د کار په لمن کې غواړي. خلق به پدې پوه شي چې کار او زیار لکه یو کامل پېرخپل مرید لوړو مراتبو او مدارجو ته رسولی شي او په کار باندې هر راز کارونه کېږي.

که زمونږ ښار ته یو نوی کاروان راغی او د کار ښایسته او ښکلې منظره یې خلقو ته وښودله بیا به د کار غلامي په باداری او سرداری خپله ښه بدله کړي او پادشاهان به یې خریداران شي.

اوس خو کار د نوکرانو اومزدورانو کار دی، مګر که اصلي او حقیقي خېره یې څرګنده شوه زلیخا به یې په مینه او محبت افتخار وکړي او غلام به زښت ډېر عزیز شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده

له دې حربي ټانکونو نه هغه خوا ، د ډېرو توپونو او ډېرو لښکرو ترشا ، له هوايي طيارو نه ډېر پورته يو دا راز قوت ليدل کېږي، چې په ټولو قوتونو غالب دی. له دې قوت سره نه اور او نه اوبه مقاومت کولی شي او نه ورسره په توره او علم مقابله کېږي.

دا قوت هغه عقيده ده چې انسان هر راز ايثار او قربانۍ ته تياروي او په ملتونو کې يو فعال عقل نه وېرېدونکی عشق فرهادي عزم او سيلابي حرکت پيدا کوي، چې هېڅوک او هېڅ شی يې مخه نشي نيولی، که تاسې کوم داسې ملت ګورئ چې هغه په هېڅ شي عقيده او باورنلري او د هېڅ شي دپاره له سراو ماله نشي تېرېدلی يقين وکړئ، چې هغه ملت لکه د اوبو څګ ډېر ژر ورکېږي او محوه کېږي.

هغه د روح خوشحالي او د زړه اطمينان چې سړی يې نه په مال او دولت کې موندلی شي او نه يې د علم و فلسفې په رڼا کې څوک مومي نه په لوړو ماڼيو کې پيدا کېږي نه په زيب وزينت او جاه وجلال کې ليده شي، د عقيدې خاوندان يې د عقيدې په لاره کې په هر قدم کې مومي او هر ساعت يې استقبال کوي.

کوم کسان چې نه په ديني اساسونو ايمان لري اونه په اخلاقي او روحاني نواميسو ګرو هېدلي دي، نه يې په نظر کې ملي شعاير څه قېمت لري هغه په هېڅ مه حسابوئ او هېڅ يې وګڼئ.

انسان يوازې دغه چاته نه وايي چې شکل او بڼه يې د بنيادمو وي او د انسانانو جامې يې اغوستي وي. هغه اشخاص چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوراک او څښاک نه هغه خوا نور څه نه پېژني او له مادي خوندونو نه غېر بله قبله او کعبه نلري هغه باید دهوا دمرغانو په شمېر کې راشي، چې د دنیا له باغ وبڼ نه میوې او دانې ټولوي، په ګېډو اوشنو پېڅونو کې اوسي او نور هېڅ کار نلري او هېڅ کار نکوي.

بې عقیدې خلک لکه د لارو کوڅو خځلې داسې وي، چې هوایې بادونه یې هرې خواته وړي او لوبې پرې کوي، مګر هغه چې عقېده لري او په یوه عقېده ټینګ ولاړ وي د هغوی عزم او اراده دومره قوي وي، چې د نمرود له اوره هم نه وېرېږي او په خطراتو ډېر زړور ورځې.

د عقېدې پیداکول او ټینګول یو قوي او مقتدر پالونکي غواړي، چې عملاً د عقیدې به نشر او تحکیم کې برخه واخلي او عقېدې عاشق وبلل شي.

د عقېدې په ټینګوالي او کلکوالي کې ادبیات ډېره حصه لري، بلکې کېداى شي چې عقاید ایجاد کړي او یوملت دځینو شیانو معتقد وګرزوي.

دغه د وطنیت او ملېت مفکوره چې دځېنو اقوامو دپاره عقېده ګرزېدلې ده په اصل کې د دې عصر د ادب مولود دى او شعر و ادب پکې عقېدوي قوت پیداکړېدى. څنګه چې شعر او ادب عقاید ټینګوي فلسفه او سیاست په عقاېدو کې ضعف او فتور راولي او له خرافاتو سره یې برابر وي. د شعر او ادب دا وظیفه ده چې معتقدت او اخلاقي مبادي ټېنګ وساتي او په دغسې ذهني روابطو د یو ه ملت ارتباط او اتصال قوي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخلاق

ښايي چې دا عنوان د هر چا خوښ نشي او هر څوک دغه مضمون تر اخره ونه لولي، مګر رنځورانو ته سړی ښېخونده دارو هم ورکوي او دواګانې اکثره بدخونده او بې مزې وي.

مونږ ډېر سره او سپين مخونه، غټې څټونه او قوي وجودونه ګورو چې په راز راز روحي او اخلاقي مرضونو اخته دي او ډاکټرانو ته ځانونه نه ښيي.

زمونږ طبيبان هم په دغسې ناجوړيو ښه نه شي پوهېدلی او له مريض نه د طبيب حال ډېر بتر معلومېږي.

د يوه ملت دپاره ترهرڅه دمخه دا په کار دي، چې خپل اخلاقي شان او وضعيت ته ملتفت شي او خپل زړه او دماغ معاينه کړي، د اخلاقو رڼا زمونږ په هېواد کې لکه د غلو ډېوه ډېره خړه او کم نوره ده په دغسې تياره او تورتم کې د انسانيت او سړيتوب صفات او خويونه ورکېږي او سړي ته څه نه پاته کېږي.

مونږ اوس نږدې داسې مرحلې ته رسېدلي يو چې بد اخلاق ښه ګڼو او په ناوړه خويونو افتخار کوو، ځکه چې اخلاقي ذايقه مو بايللي ده او خواږه راباندې ترخه لګېږي.

اوس مونږ فريب چل او ټګي هوښياري بولو، له يوه او بل سره مجامله او منافقت، ښځايه مراعاتونه او د حق ويلو په ځای کې چوپ کېښېناستل مهارت او هنر ګڼو. صداقت راته د ساده‌ګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوي او خصلت معلومېږي او سخاوت د بدوي او ابتدايي اقوامو عادت شمېرو.

ډېر خلق شته چې له اخلاقي مباحثو څخه مړښت او بې نيازي ښکاره کوي او وايي هغه خويونه، چې پخوا ستايل کېده اوس نه په کارېږي، مونږ بايد زاړه تعليمونه پرېږدو او پدې اقتصادي عصرکې د جود او سخا سندرې ونه وايو.

زه دامنم چې د دې عصر اقتضاء په اخلاقو او عاداتو کې څه تغير پېښ کړي او اخلاقي ذوق يې څه قدر ته لړلي دي، پدې وخت کې دصداقت او سخاوت عناوين د چا توجه نه جلبوي، مګر دا نشم منلی چې اخلاقي تعليم بيفايدې دی اوضرورت ورته نشته.

ترڅو پورې چې انسان په دروغو شرمېږي ترهغه وخته چې يو انسان د بل انسان صميميت او ملګرتيا ته محتاج دی، تر هغه زمانه چې انسان په مينه او معاونت خوشحالېږي او د دوستۍ قدر کوي مونږ به رښتيا او وفا، اخلاص او محبت، ايثار او سخا ستايو او احسان او نېکۍ ته به په ښه سترګه ګورو.

ځينې کسان چې په دوايرو کې کارونه کوي او رسمي وظايف لري هغوی د اخلاقو له کتابه يوه يا دوه شيه غوره کړي او هماغه کافي ګڼي.

دوی ډېرځله په وظيفه شناسۍ او پاک نفسۍ وياړي او د چا اخلاقي مراعات په ځان لازم نه ګڼي، بلکې بې پروايۍ او بې اعتنايۍ ورته ښه معلومېږي او له لحاظ و خاطر سره مجادله ضرور بولي. داراز خلق سره له جديت او فعاليته او سره له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چا نه رشوتونه نه اخلي او لـه حقـه نـه تېرېږي، خلقـو تـه ښـه نـه معلومېږي او په نفرت لبـدل کېږي، ځکـه چې دوی هغـه انسـان او اخلاقي جاذبه نلري، چې د خلقو توجه جلبوي او پـه زړونـو تسـلط پيداکوي.

دوی پـدې رازنـه دي پوهېـدلي، چې ژونـدون يـوازې فعاليـت او ماشيني حرکت نـه دی، چې سـړی پـرې اکتفـاء وکـړي او پـه نـورڅـه پسې ونه ګرزي

څنګه چې مونږ په اجتماعي حيات کې يو دبل دپاره کار کـوو او تعـاون تـه اړ يـو، يـو د بـل تزکيـې تـه هـم محتـاج يـو او د دوسـتانه علايقو او رابطو په ساتلو تر هغـه حـده، چې اخـلاق اجـازه راکـوي مکلف ګڼل کېږو.

اجتماعي ژوند له مونږ نه دا غـواړي چې له خلقو سـره يـو ښـه راز اتصـال او قرابت پيـدا کـړو او د اخلاقـو پـه مرسـته پـه زړونـو کـې محبتونه توليدکړو.

که دغه انسـاني جاذبـه نـه وي موجـوده، نـو دغـه کلي او ښـارونه چې مونږ پکې اوسو مونږ نشي راټولولی او د دوه ورونو ژونـد هـم ډېر تريخېږي او بېخونده کېږي.

اخلاق بايد په مونږ کې لورينه او پېرزوينـه پيـداکړي، لـه زړونـو او سينو څخه عنادونه او ضد وکدورت وباسي. ژبه پـه رښـتيا ويلـو او حق بيانولو وچلوي او د حرص او شهواتو مخه ونيسي.

ديوه ملت اخلاق چې فاسد او خراب شي هغه ارومـرو دانحطـاط او ټيټوالي خواته درومي او له ډېرو بد بختيو سره مواجه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه ملت کې که اخلاقي پابندي نه وي موجوده هلته قوانین او اجتماعي نظام د مفاسدو او مظالمو مخه نشي نیولی او عدالت نشي قایمېدای. هغه خلق چې له ښو اخلاقو تېرشویدي او اخلاقي تربیه نلري هلته ډېر فجایع او مصیبتونه لېدل کېږي او انسانان سمه لاره پرېږدي په نفس وشیطان، هوا او هوس پسې درومي

هلته عیاشي او شهوت پرستي، دروغ ویل او حق پټول رواج پیدا کوي او د خېر و صلاح مینه له زړونو څخه وزي، په انساني شعور او ادراک کې تغییر پېښېږي، د ښو او بدو تمیز څوک نشي کولی، د فضایلو قدر او قیمت کمېږي، صبر و ثبات استقامت او حقانیت په افرادو کې نه پاته کېږي، هرڅوک هرڅه کوي او شرم و حیاله سترګو وزي. هغه تقوي او عفت چې انسان له هلاکت او رذالت څخه ساتي ضایع کېږي او افرا ط و تفریط د عدالت او مساوات ځای نیسي.

د دغو ټولو ملاحظاتو په اثر یو ملت باید خپلې خزانې دومره ټینګې ونه ساتي، لکه چې خپل ملي او عالي اخلاق سات.

د اخلاقو ساتنه تر هرڅه زیاته ضرور ده، که اخلاق نه و ، هېڅ نشته او هېڅ نه پکاریږي. بې اخلاقو ژوند د مریضانو او رنځورانو ژوند دی، چې له ډېرو شتو سره بېخونده او بې مزې دی.

دغه راز ناجوړتیا صحیح ادیبان او لیکوال ورکولي او کمولي شي او د همدوی کار دی، چې لوړ او عالي اخلاق په ملت کې وساتي او محوه کېدو ته یې پرې نږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعلیم او تربیت

چا چې د تعلیم او تربیت ټکی اوربدلی او د دواړو په مفهوم او معنیٰ کې یې غور او دقت کړیدی هغه پوهېږي، چې تعلیم بېل شی او تربیت بېل شی دی.

علم په ټوله نړۍ کې تقریباً یو راز وي، مګر تربیت په هر ملت او هر مملکت کې بل راز کېږي. علم په لږ وخت کې د یو څه کتابونو په وړلو او ترجمه کولو له یوه ځایه بل ځای ته نقل شي، مګر د تربیت انتقال عمرونه او ډېر وسایل غواړي.

د علم ښودنه د یوه ملا او معلم کار دی، مګر تربیه کول د محیط او جامعې، د مور او پلار، د کور او کورنۍ د یوه قاید او مرشد وظیفه ده.

علم په الفاظو او کلماتو کې ځای لري، مګر تربیت په عمل او کردار کې ځان ښيي د غه راز تعبیرات زښت ډېر دی او سړی کولی شي چې د تعلیم او تربیت راز راز تعریفونه وکړي او بېل بېل لفظونه ورته په هر ژبه کې پیدا کړي، تعلیم ته ښودنه یا پوهونه ووایي او تربیت روزنه او پالنه وبولي، هغه اسان او دا ګران کار وګڼي. د مدنیت او تهذیب، اخلاقو او عاداتو اساس تربیت وبولي او په اختراعاتو او اکتشافاتو کې علم ته زیاته برخه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کېدی شي چې د یوه سړي فهم او ادراک پوهغه او هوښیاري زیاته وي کتابونه یې ډېر لوستي وي معلومات یې له مدني اشخاصو نه هیڅ کم نه وي، مګر د تهذیب او تمدن په لحاظ په ډېرو ابتدایي مراحلو کې پاته دي.

یو سړی دا کولی شي چې د معلوماتو او نظریاتو په اعتبار د خپلې جامعې او محیط له عمومي سطحې ډېر لوړ شي خپل لباس او خپل ظواهر بل راز کړي، مګر خپله محیطي او نژادي تربیه هغومره نشي اړولی او هغه ترقي چې په هغه خوا کې کوي دلته یې لسمه برخه هم نشي کړای. رښتیا وایي چې څنګه غر هغسې یې کربوړي، که یو سړی هر څه وکړي او سل رازه صابون په ځان ووهي بیاهم د خپل هېواد تربیوي رنګ له ځانه نشي لرې کولی او خپله ملي تربیه نشي اړولی. ښایي چې تاسې په غرونو کې له سمې نه ښه ښه ملایان پیدا کړئ، چې د کتاب په حاشیو او نکتو به ډېر ښه پوهېږي، په منطق او فلسفه کې به یې شهرت لري او یوځای به ته رسېدلی وي، مګر وضعیت او ناسته ولاړه به یې د غره والو غوندې وي او په اخلاقو او عاداتو کې به له هغوی نه څه ډېرفرق نلري.هغه به په ښارونو کې ډېرې شپې تېرې کړې وي علم به یې له سمي او اوارې نه غره ته خېژولی وي، مګر د ښاروالو او سمه والو تربیت به یې له ځانه سره نه وي وړی، ډېر پوهان به وي چې په ډېرو دقیقو علمي مسایلو به پوهېږي، مګر کوم نواقص او عیبونه چې د محیط په تربیه کې وي هغه به نشي لیدای او پدې باب کې به له عوامو ډېر فرق نلري. دلته هغه مشهوره قصه را

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادېږي چې د پښتنو په سیمه کې دوه غرونه دي یو ته ایلم او بل ته دوه سري وایي، څه خلق چې د ایلم په لمنه کې اوسي هغوی خپل غر جګ ګڼي، څه نور چې د دوه سري په اړخ پراته دي هغوی وایي دوه سری هسک غر دی. د دوی په مېنځکې هروخت یو طالب العلم له خپل استاذ سره دا بحث راواخیست چې مونږ ولې ټول عمر په خوشې خبره جنګونه کوو او دا جنګونه یې د حماقت او نادانۍ سند او حجت ګڼه پدې بحث کې له طالب نه وویل شوه: معلومه خبره ده چې د ایلم غر جګ دی او دوه سری ټیټ دی، دلته د ملاصاحب هغه ټولې خبرې هېرې او طالب ته یې په بدو او ردو ویلو شروع وکړه، طالب هم د ایلم په غره ټینګ ولاړ و او له استاذ سره په جګړه اخته شو. وګورئ! دوی دواړه د علم او پوهې له خوا پوهېدل چې دا جګړه د ناپوهۍ علامه ده، مګر د محیط له تاثیره یې ځانونه خلاص نشو کړای او که هرڅه و بیا هم یو د«ایلم او بل دوه سري و». علم او پوهه سړی پوه کولی شي، مګر منع کولی یې نشي ځکه چې تربیه په علم باندې غلبه لري. یو سړی دا کولی شي چې بل په خبره پوه کړي، مګر ښه کولی یې نه شي، انسان په ډېرو شیانو پوهېږي، مګر پوهول یې د علم کار دی، خو ښه کول او په ښه لاره بیول صحیح تربیت غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ذوق

څوک چې د یوه ښه شعر په لوستلو ، د یوې ښکلې نغمې په اروېدلو ، د یوې ښې منظرې په لیدلو پخپل نفسي حالت او کیفیت کې تغیر ویني او د خوشحالۍ احساس کوي هغه ته د ذوق خاوند ویل کېږي او هغه چې له دې ټولو شیانو پټې سترګې تېرېږي او په بې اعتنایۍ ورته ګوري د بې ذوقو په ټولګي کښې راځي.

د یوه مدني او بدوي انسان فرق هم د ذوق او حساسیت په اعتبار ډېر ښه معلومېږي.

هغه څه چې یو شاعر او د شعور خاوند یې د اسمان په رڼو ستورو ، د سپوږمۍ په سپینه رڼا ، د دریاب په مستۍ ، د شنوبڼونو په سمسورتیا ، د بلبلو په نغمو ، د ښکلو په ناز او خندا کې ګوري د غرو شپانه او ساده انسانان یې هم ویني، مګر په دواړو یو شان اثر نه کوي او په احساس کې یې ډېرتفاوت موجود وي.

هغه کسان چې د شعر او ادب له اغېزي لاندې نه دي راغلي او دغه حلال سحرېې تاثیرنه کوي باید پخپل ځان وویرېږي او پوه شي چې انساني احساس یې ډېر کمزوری دی او له ذوق څخه لرې برخه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ذوق چې انسان ته د خوړو او تروو خوند ښيي حيوانات يې هم لري او مچان هم د خوړو احساس کولی شي، مګر هغه بل ذوق چې د لطايفو او محاسنو په خوند باندې پوهېدل دي هغه يو بل شان تلذذ دی، چې په خوراکونو کې هېڅکله نه موندل کېږي او تل شهواني خوندونونه هسک مقام لري.

دا ذوق بلبله د ګلزار لور ته بيايي او د هغه ذوق کارغه په مردارو پسې ګرزوي. بې ذوقي د انسان دپاره لوی عيب دی او هغه څوک چې د ښو خبرو او انساني فضايل په خوند او کيف نشي پوهېدلي له ډېر لوی نعمته محروم دی. هغه چاته د زړکو له اوازه د زرکو کباب خوند ورکوي او د رباب له ترنګه د غوري شرنګ ته زيات خوشحالېږي. د هغه په حال افسوس او حسرت په کار دی.

دغه شان خلق دوطن له خرابۍ نه دخپلې اشتها په خرابۍ ډېرخپه کېږي او بې له شخوند وهلو په خوند نشي پوهېدلی، څوک چې د خير رسولو او عواطفو ذوق پيداکړي هغه بياله دېنه، چې ځان وږي پرېږدي او بل موړکړي ډېر خوند اخلي او دغه مزه په ډېرو خوندورو طعامونو کې نه مومي.

پوهان او مشران بايد د صحيح او انساني ذوق په پيدا کولو او روزلو کوښښ وکړي او حيواني ذوقونه په انساني ذوقونو بدل کاندي. هغه کسان چې دشهواتو په استسقا اخته دي او دا تنده پکې زياته شوېده که هغوی هر څومره خوړوب او سېراب شي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سونه يې پړسېږي، مګر تنده يې نه ماتېږي او قناعت يې نه حاصلېږي.

د دوی اساسي علاج دانه دی، چې خواړه او اوبه پرې زيات کړو، بلکې اصلي چاره يې پرهېز او د رنځور ذوق مخالفت دی.

که ذوق مريض او عليل وي يا له فسق او فجور سره اشنا شي دغه ملکوتي انسان د حيواناتو په غوجل کې تړلی او مقام يې ټيټوي، مګر که دغه مادي ذوق له معنوي عالم سره اشنايي پيدا کړي او نور خوندونه وپېژني انساني سويه لوړېږي او عالي اخلاق په محبت کې رواج مومي، د ذوق تربيه او پالنه د عالي ادب او شعر کار دی او په ادبي درسونو ذوق عرفاني کېږي.

هغه روحي امراض چې ډاکټران يې علاج نشي کړای د شعر او ادب خاوندان يې په اسانۍ چاره کولی شي.

که په شعر او ادب کې معنوي ذوق او عرفاني شعور حلول کړي او شاعر د ظواهرو په ځای حقايق او معاني وستايي کېدای شي، چې د يوه ملت په روحياتو، اخلاقو او عاداتو کې تغير پېښ کړي او ذوق يې ور واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیال

خیال یو پټ معنوي قوت دی، چې له واقعاتو او محسوساتو نه هغه خوا ځینې شیانویني او په غیبي حقایقو پورې زړه تړي.

په کومه لاره چې خیال تلی شي هلته عقل د ړندو په شان ټپېږي او څه نه ویني. د انسان د فکر او عقل ماڼۍ په خیال ولاړه ده او د ملتونو په حیات کې ډېره ستره او مهمه برخه لري.

کوم علوم چې عقل پرې یقین کړېدی او د خیال برخه پکې ډېره لږه معلومېږي که غور او دقت وکړو خیال پکې ډېره برخه لري.

که تاسې له یوه ریاضي دان څخه د (واحد) تعریف وغواړئ، چې د ریاضیاتو ابتداء او انتها ګڼل کېږي یا د هندسې له یوه عالم څخه د (نقطې) پوښتنه وکړئ، چې ټول خطوط ورځنې پیدا شوي او له خطوطو څخه بیا طول، عرض او عمق، یعنې مقائیس ثلاثه پیدا شوې، دغه د صحرا کاڼي چې مونږ یې په حجریت او کاڼیتوب پېژنو داهم د خیال اغېزه ده او د انسان تخیل د تحجر او تجمد په صورت ورته قایل شویدی.

که چېرې انسان د خیال له قوته محروم وای او بې له محسوساتو یې نور څه نه لیدلی عقل او فکر یې دغې درجې ته نشو رسېدلی او په غیب یې ایمان نشو راوړلی. خیال په انساني ژوند کې نشاط او سرور پیدا کوي او احساسات وعواطف روي. هغه شی چې د انسان په نظر کې معنوي محسنات او روحي امال ځلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خيال دی او همدغه شی، لکه يوه ښکلې حوره انسان په هرحال کې خوښ او خوشحاله ساتي.

د وطنخواهۍ احساس، د ازادۍ ارزو، د شهرت تمنا د انسان يوه خيالي معشوقه ده او همدغه شی يې يوې خوا او بلې خواته بيايي او لوی لوی کارونه پرې کوي. همدغه انساني تخيلات دي چې د يوه ملت خواره واره افراد راغونډوي او اجتماعي جذبات و احساسات ژوندي کوي. خيال په شعر او ادب کې ډېر دخل لري او شعراء او ادبا د خيال په مرسته عواطف او مشاعر راويښوي.

چېرته چې شعر او ادب کمزوري او خيالات مړه وي هغه ملت هم مړېلل کېږي او انسانان د ماديا تو په مينه کې ورکېږي، هلته په زړنو باندې مايوسي او افسردګي غلبه پيدا کوي او د عرفان نهضت او ارتقا مينه له مغزو نه وزي.

په دغسې ځايونو کې خلق په مساجدو کې ناست وي سرونه يې په زنګنو ايښې وي. خطيبان خطبې او خطابې لولی، مګر د دوی په زړونو کې هېڅ جذبه، هېڅ جوش او حرکت نه پيدا کېږي او ټول په مراقبه کې ويده وي.

مجالس او محافل بې روحه وي، جرايد او مطبوعات څوک نه لولي، خلق ظاهراً په کلو او ښارونو کې اوسي، مګر په زړونو کې سره بېل او جدا وي.

د هر چا غم او خوشحالي ځانته وي، هېڅوک له هېچا سره رابطه او علاقه نلري همدردي او غمشريکي له منځه ځي او يوه بېشعوره ړنده دنيا جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په شعر او ادب کې له خيال او تخيل څخه کار واخيستل شي او له خيال نه استفاده وشي له ړندو سترګو نه هم اوښکې تويوي او له کاڼو نه سخت زړونه نرموي. تاسې فرض کړئ، چې په يو ځای زورور سيلاب راشي او ډېرو خلقو کورونه خراب کړي، ډېر مالونه او ډېر انسانان له ځانه سره يوسي او ښځې و نر، ماشومان او سپين ږيري په اوبو کې لاهو کړي که مونږ دغه حادثه د يوه خبر او اطلاق په صورت شايع کړو، دومره تاثيربه ونکړي لکه چې يو اديب دغه واقعه په يوه ډرام کې تصوير کړي يا يو شاعر ورځنې موثر او مهيج شعر جوړ کړي او خيال پکې خپله ساحري صرف کاندي. دا واضحه خبره ده چې خيال په عواطفو او احساساتو باندې حاکميت لري او تعقل محض دغومره رقت او دقت نشي جلبولی. که انسان يوازې د عقل په نغوته کار کولی، نو د سېلاب يو مختصر خبر او د تلفاتو احصائيه کافي وه، چې د مصيبت لېدونکو دپاره د نورو همدردي او د لسوزي حاصله کړي او د شعر و رومان وظيفه په ځای کړي، مګر دا هېڅکله نشي چې يوه سړه بې روحه معقوله خبره لکه يو شعر او ادبي شاهکار چې له خيال او تخيل نه پکې کار اخيستل شوی په زړونو اثر وکړي او عواطف وخوځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرص او عشق

**چــې انسـان ګـدای کـوي حـرص د دنیـا دی**
**چــې ګـدا کانـدي سـلطان عشـق د لـیلا دی**

کورپه کور او کلي په کلي ګرزېدمه ،د هر چابه چې څه پـه خدای لوریدل هغه به یې زما په څولۍ کې غورځول، رنګ پـه رنګ غلې او دانې به زماپه ګوډي کې ټولېدی او پـه کچکول کې بـه مې څو ډوله ټوکان جمع شوه، مګر زه یې نـه قـانع کـولم او زماسر ګرداني یې نشوه ورکولی له یوه کلي به بل ته تلم او له بل نه بل ته، هېڅ نـه وم خبر، چې زما لیلې پـه کوم کور کې ده او څه شي سرګردانه کړې یم.

هو! زه لکه د هـوا مرغـه همدغسې سرګردانه ګرزېدم او هـېڅ نـه پوهېدم، چې د کوم دام او کوم ښکاري ښکار یم، دا د نس او غلـو دانو دپاره سرګرداني به کله او څنګه قطع شي؟ په هر پټي، هر باغ او هر کور کې څه خورم، مګر مړېږم نـه، دا ټـول عـالم او ټولـه دنیـا زما دحرص علاج نه شي کولی اونه زما د غوښتنو تنده ماتېږي.

لکه چې یو هوایي مرغه په یو ه پټي، یوه بـاغ او یوه بڼ کې نـه ایسـارېږي او د یـوې ونـې پـه میـوو نـه بسـیا کېږي زه هـم هېڅکله دیوه کلي پـه خېروخیـرات نـه مړېږم او نـه پـه ډېرو ګرزېدو ستړی کېږم لکه چې د دې سرګردانۍ او نه مړېدو علاج هډو ښخي شته نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په دې نه پوهېدم، چې د ګلزار بلبلې ولې لکه نور مرغان پدې ځینو پټو کې په دانو پسې نه ګرزي؟ یا لکه د مرداري کارغان په مردارو غوښو پسې څارنه کوي.

د دې سر کشفول زما دپاره ډېرګران و او د دنیا په دغسې رموزاتو پوهېدل څه اسان کار هم نه دی. د علم او پوهې ریباران د هر چا کور ته لاره نلري او په یوه قرن کې که ایله یو ځل د چا کورته کوم نوی خبر راوړي، دا راز له مانه او ټولې دنیا نه هم پټ و، چې د حرص علاج په څه شي کېږي؟ او څه چې د انسان مخه له ټولو شیانو یوه شي ته راګرزوي هغه څه شی دی؟ هغه وخت چې زه هلته ورسېدم بې د ښیښې له یوې مماتې ټوټې نور هېڅ نه و.

ما ته نه پوهېږم چا په غوږ کې وویل، چې دنیا هر وخت مونږ په همدا سې برېښېدونکو شیانو غولوي او ډېرخوشې شیان راته ځلوي.

له مونږ سره هر وخت لوړ فکرونه او لوړ خیالات ملګري وي، مګر عملاً دغسې ناوړه او خوشې شیانوته ور روان یو، مګر ترڅو چې نه یو ور رسېدلي دخپل خوشې تګ او بې فایدو منډو په حقیقت نه پوهېږو او نه یو خبر، چې مونږ په څنګه شیانو پسې هڅه کوو؟

دا ځلېدونکي ښیښه، چې ماته خپلو تصوراتو او خیالاتو ډېره ښایسته کړې وه زما هماغه ارزو وه چې وروسته تر رسېدلو یې هېڅ قیمت نه درلود. که تاسې خپلو ارزو ګانو ته کله رسېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاست او خپله ټوله کېسه در په یاد وي یقین به وکړئ، چې هېڅ ارزو وروسته تر موندلو هغه پخوانۍ قدر او قیمت نلري.

ډېر ښکلي شته چې د یوه او بل په نظر کې به یې همدغومره ښکلا درلوده، لکه چې ماته خپله مجهوله ارزو ترڅه وخته ښکلي وه.

که تاسې لږ څه خپلو خاطراتو ته رجوع وکړئ او د عالم رویه په نظر کې ونیسئ هره ارزو، چې تاسې یې وروسته تر موندلو د خپل زړه له کوره باسي نورو پسې لوغړن درپه در ګرزي او نه یې مومي د همدې له امله وایي:

**څــــوک یـــــې دیـــــدن پســـــې ړنـــــدیږي**
**څوک یې له کټه غورځـوي چـې خـوب راځینـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مشرانو عشق

څوک چې لوی شي او د مشرتوب لوړې درجې ته ورسېږي هغه بیا په دغسې ډیوو، چې په یوه کورکې بلېږي ځان نه سېزي او نه لکه هلکان په کوم سپین مخ یا ملالو سترګو خپل زړه بایلي.

هغه هېڅکله د دنیا په سرو او سپنو داسې نه مین کېږي، لکه په مال مین سوداګر چې شپه او ورځ ددنیا په غم کې ورک وي او بل هېڅ شي ته یې پام نه وي، مال لا څه چې د خپل ځان د خپلو لوڼو او زامنو، د خپل ټبر او کهول مینه او دوستي هم پرې دومره غلبه نه کوي، چې نور هر څه هېرکړي او یوازې خپل غم وژاړي.

مشران او لوی خلق دغه ټول محبتونه چې واړه خلق یې لري په عشق قربانوي، چې هغه د ملت اوهېواد عشق دی.

د همدغه عشق په اثر د ملتو مشران د مشرتوب حق پیداکوي او د باباتوب مقام او منزلت مومي.

څنګه چې یو طفل او کوچنی د ډېرې ناپوهۍ په وخت کې خپل پلار پېژني او په غېږ کې ځان ورغورځوي ملتونه هم که هرڅومره بې تعلیمه وي د خپلو خواخوږو مشرانو تمیز کولی شي او د دوی په ځولۍ کې ځان اچوي، خپل ټول مقدرات دوی ته سپاري او په دوی اعتماد کوي.

د عشق په جاذبه کې دغه قوت موجود دی، چې احمدشاه غوندې د پنځه ویشت کالو ځلمی دټولو پښتنو بابا کړي او د ډیلي په تخت یې کښېنوي. د پښتونخوا او پښتنو عشق احمدشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا ته لویه شهنشاهي ورکړه او ډېرو سپین ږیرو د ده باباتوب ومانه، ځکه چې دی ربښتیانی مشر و او هغه عشق چې په مشرانو کې پیدا کېږي په ده کې موجود و.

ده په دروغو خپل وطن او هېواد ته دانه دي ویلي:

**ستا د عشق له وینو ډک شوه ځیګرونه**
**ستاپه لاره کې بایلي ځلمي سرونه**
**تاته راشمه زړګی زما فارغ شي**
**بې له تا مې اندېښنې زړه ماروونه**
**د ډیلې تخت هېرومه چې رایاد کړم**
**زما دښکلي پښتونخوا د غروسرونه**
**که تمامه دنیا یو خواته بل ځواني**
**زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه**
**احمدشاه به دغه ستا قدر هېرنه کا**
**که ونیسي د تمام جهان ملکونه**

څوک چې معنوي رشد او بلوغ ته ورسېږي او د مشرتوب درجه ومومي هغه له وطن او هېواد سره همدغسې عشق پیدا کوي او وطن ته د عشق په نظر ګوري، هغه بیا د غرو په څوکو یې نشي لیدای او هر چاته ځان نه ښیي.

څنګه چې یو ښاپېرک ځلانده لمر نشي لیدای، یو د ځلمیتوب احساس نشي کړای. د دغو تېتو ډیوو پتنګان د ستورو ډیوو ته نه رسېږي، دغه عالي عشق ته هم هر څوک نه رسېږي او نشي رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا عشق د مشرانو او لويو خلقو په برخه دی او ښېل کيف لري.
د دې عشق نښې او علامې بل راز دي او ځانته شواهد لري.
تاسې دغه عشق او د حسن وجمال عشق سره ښېل کړي او هغه چې مجنون او ليلیٰ په عشق کې يې وينئ له سترګو لرې کړي.
دا هغه راز مېنه ده، چې د پلار او ځوی، د مرشد او مريد، د شاګرد او استاذ ترمېنځ وي او بې له غمخورۍ او خيرخواهۍ نور مظاهر نلري.
پدې عشق کې رازونياز، بې پروايي او تغافل نه ځايېږي او نه پکې رقيب او ريبار شته. له دې عشق سره رحم وعاطفه، ثبات او متانت همدردي او ايثار ملګري وي او له هرراز تهمتونو يې لمن پاکه ده.
دلته ليونتوب او له خپلو پرديو ښېلېده نشته او نه پکې د معشوقو له لاسه شکايت او له رقيبانو سره حسد ليدل کېږي.
له دې عشق سره د پيسو مينه او د ماديا تو محبت نه يو ځای کېږي. هغه څوک چې په پيسو مين وي او پيسې ټولوي هغه هېڅکله يو قام په ځان باندې نشي راټولولی هغه کسان چې قومونه پرې غونډېږي هغه پيسې نه غونډوي او دغه مينه له زړه څخه باسي.
کوم اشخاص چې قصې ګټي هغه پيسې نه ګټي او په بت شکنۍ افتخار کوي.
دا کبدای شي چې قلندران او دروېشان د ملت مشران شي او خلق يې په مشرتوب ومني، مګر د پيسو مينان او سودخواره يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدې خواره هېڅکله د مشرتوب درجه نه مومي او نه د مشرانو عشق پیدا کولی شي.

ای هغو کسانو، چې د مشرتوب ارزو لرئ او لویوالی غواړئ!

راشئ! چې د خودخواهۍ او تیښتو مینو مراندې اوتنابونه پرې کړو او د لمرو سپوږمۍ په خوا کې خپلې خیمې ودروو.

راشئ! چې یو ملي او وطني شعور پیدا کړو او د وطن غرو او رغو، کاڼو او بوټو ته په مینه او محبت وګورو.

که دغه شعور او دغه احساس ژوندی شو بیا هر یو بل ته محبوب معلومېږي او هېڅوک به هېچا ته په نفرت نه ګوري.

یو بداې به دخوارانو دلداري کوي، یو عالم به ناپوهانو ته سمه لاره ښیي، یو طبیب به د رنځورانو په علاج پسې ګرزي، یو قوي به د ضعیف پېټی په اوږو اخلي او ټول به یو له بله ځارېږي.

راشئ! چې همدغسې وکړو او د دې ځای په یتیمانووژاړو، د یتیمانو اوښکې پاکې کړو او د دردمنو له حاله ځان خبر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوازېتوب

هغه خوارېه ملګري څه شوو ، چې ټوله ورځ به مې ورسره لوبې کولې او يو ساعت به هم نه بېلېدو.
هغه کاڼي به اوس چېرته وي چې د شپې به مې هم په جيب کې ساتل او يوه شېبه په مې له ځانه نه بېلول.
هغه ونې به اوس څنګه وي، چې مونږ پکې ټالونه اچول له ملګرو سره به مو يو ځای ځنګل.
دا شيان اوس يو هم نشته او زه بېخي يوازې يم.
هغه خاورې چې ما به په کوڅو کې ورسره لوبې کولې باد ويوړې او زما خوشحالي هم ورسره لاړه.
هغه د ګاټو او لوبو ميدان به هم وران شوي وي، د ګودر غارېه به هغسې نه وي، د خيزونو ځای به هم بل راز وي.
دا څه وشوه؟ او څه راپېښ شوه چې زه يې له دې ټولو بېل کړم او بېخي يوازې شوم.
زه خو به يو ساعت له خپلو ملګرو نه بېلېدم او بې له هغوی مې ساعت نه تېرېده اوس، ولې يو ملګری نلرم او چاته نه نزدې کېږم.
هغه بله ورځ چې زما يو پخوانی ملګری دلته راغلی و. ما ورسره هغسې د مينې مرکه ونکړه او بل راز راته ښکارېده، هغه به څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپه شوی وي او په زړه کې به یې څه تېرشوي وي، هغه به وایي ده اوس خپله جامه بدله کړه او خپل پخواني اشنایان یې پرېښودل.

ما ته خو دی زښت ډېرګران و او له هرچا نه به مې ښه ګاڼه، ده هېڅکله دا ګمان نه کاوه، چې زه به له ده سره دغسې بې پروایي کوم او د ده مینه او محبت به هېروم.

ماهم دغه تصور هېڅکله نه کاوه، چې موږ او دی به دومره پردي کېږو او زړه ملګرتیا به پرېږدو.

نه پوهېږم زما او د ده ترمینځ چا توري کتهوې وګرزولې او زمونږ زړونه یې یو له بله تور کړه.

دی خو زما ډېرخوږ ملګری وو، ما ولې د ده قدر ونکړ، ولې مې ده ته په مینه او محبت ونه کتل؟ کالي یې زاړه و او څه یې نه درلوده که د ناپوهۍ په وجه راته بل راز ښکاره شو؟.

زه اوس د عزت او اعتبار خاوند یم او دی لاچا نه دی پېژندلی که کوم بل علت اوسبب موجود دی، چې زه او دی یې له زړونو نه لرې کړو او پخوانۍ رابطه یې قطع کړه.

ښایي چې دغه خبرې ټولې رښتیا وي، ما ډېره موده څه تور اوسپین ولوستل او دی په هماغه پخواني حال پاته دی. زه اوس له کتابونو او اخبارونو سره اشنا شوم او دی یوه چټۍ نشي لوستلی. زه په یوه ماڼۍ کې د ماموریت په چوکۍ ناست یم او دی پخپل کور کې پوزی نلري. زما خلق قدر کوي او د ده سلام هم نه اخلي، مګر دا نو ولې زما او د ده د بېلتون سبب کېږي، ولې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ده مکرتیا قطع کوي، که یوتن څه نلري او غرېب وي هغه سره به سړی خپله اشنايي قطع کوي او که به مرسته او کومک ورسره کوي.

که د سړي يو ملګری ناپوه وي او په څه نه پوهېږي هغه به پوه کوي او که به يې له خپل مجلسه شړي.

هغه انسان چې د پوهې او لياقت دعوه کوي او ځان د پوهانو د ډلې ګڼي، څنګه دا قبلولي شي چې د خپل هېواد خواران او غريبان له خپلې مينې او محبته محروم کړي او علم و پوهه د بېلتون او لرې والي موجب وګڼي، دا عادات خو له يو ځلمې انسان سره نه ښايي.

علم او پوهه بايد يو سړی له نورو نه بېل او لرې نکړي او نه د دنيا عزت او اعتبار يو انسان له خوار او غريبانو نه وشکوي.

هغه علم چې د کوډو په شان دوه خواره ملګري او دغرور موجب ګرزي له ناپوهی‌ نه يې زيان او ضرر ډېر دی او هغه سواد چې سړي له محيط او اجتماع نه لري کوي او له نورو نه د سړي زړه توروي په حقيقت کې همدغه توره کتهو ده او ماتول يې پکار دي.

که څوک غواړي، چې په اجتماع کې ژوند وکړي او له محيط نه استفاده وکړي، د علم او لياقت غرور دې له ځانه لرې خپله هوښياري او د بل ناپوهي دې حايل نه ګڼي.

سړيتوب او انسانيت دی نه هېروي، اجتماعي مېلان دی نه بايلي، خوار و غريب ته دې په خوارو سترګو نه کوري، له ملګرو دې په هېڅ وخت او هېڅ حال کې نه بېلېږي، بلکې رادې شي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جماعت سره دې خپل غم شریک کړي او خپله خوشحالي دې هم د نورو په خوشحالۍ کې ولټوي، خپل زړه او فکر دې له نورو نه نه بېلوي، يو ځای دی ورسره خاندي او يو ځای دې ورسره ژاړي، د دوی په خوښه دې کار کوي، چې د ده په خوښه کار وشي.

خوشحالي او کاميابي همدلته ده او په يوازې توب کې نشته هر څوک چې له نورو نه پردی او لرې شو، هغه هېڅکله نشي خوشحالېدلی او په يوه پټ اورسوزي.

د (من شذ شذ في النار) همدغه معنیٰ ده او د دنيا دوزخ همدغه يوازېتوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه او ته

مونږ باید دلته دا سې اورونه بل نکړو، چې کلي او ښارونه وسېزي او په لوګي یې د بصیرت سترګې ړندې شي، ځکه چې دا اور د حسد اور او د شیطان له کوره دي.

مونږ به خپلې ډیوې له هغه اوره لګوو چې په کوه طور کې یې ځان ښکاره کړی او د زړونو او داغونو خونې روښانه کوي.

د حضرت ابراهیم (ع) پیروان باید پخپل عمل او یقین سور اور ځانته ګلزار کړي او پخپل لاس د عالم د سېزلو دپاره دوزخونه جوړ نکړي.

هر چاچې پخپل زړه کې د حسد اور مړکړ د دوزخ اور یې نشي سېزلی او په سرو لمبو کې سلامت پاته کیږي.

هغه څوک چې له یوه جماعت او جمعیت نه په نفرت او عناد وزي هغه هر وخت په سره اور کې سوزي او تل په اورکې وي.

ته پدې پوه شه چې زما او ستا بېلتون لویه ګناه ده.

که دوه مین سره بېل شي پروا نشته، ځکه چې عشق او محبت یې نور هم زیاتیږي او د وصال ارزو قوي کیږي، مګر د دوه ورونو بېلتون او هغه بېلتون چې د بغض وحسد په سبب پیدا شي عالمونه تباه کوي او ملتونه بربادوي.

زما او ستا نزدې کېدل، یوکېدل، پخلاکېدل، ملګري کېدل، ډېر لوی اجر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه او ته د وصل دپاره یو ، ځکه چې فصل او بېلول د شیطان کار دی.

زه او ته به سره نږدې کېږو او ژرژر به قدمونه اخلو چې دغه فاصله د لوی خدای په فضل او مرحمت له مېنځه واخستل شي.

زه او ته که هر څومره نږدې شو هماغومره خدای ته هم نږدې کېږو ، ځکه چې ارومرو به په نفس و شیطان پښې ږدو او له نفسي او شخصي اغراضو به تېرېږو. زه او ته به ځانته نه ګورو د ملت مملکت خېر و سعادت ته به ګورو.

مونږ باید ملي اجتماعي ګټې په نظر کې ونیسو او له لوړ افق څخه نظر وکړو. زه به د یو کېدو او نږدې کېدو دپاره خپل هرڅه له تا قربان کړم، مګر ته هر څه له ځانه مه قربانوه او عمومي مصلحت په نظر کې نیسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سترګې مه پټوئ!

ښه وګورئ! سترګې مه پټوئ! خدای ته ورتګ دی د قیامت ورځ راتلونکې ده. سترګې پټول، حق نه ویل، د حق په ځای کې چوپ کښېناستل ډېره لويه او عظيمه ګناه ده.

وګورئ! او په ځیرځیر وګورئ، که ستاسې سترګې خلاصې شوې که تاسې هرڅه ولېدای شوه، که ستاسې بینایي معلومه شوه ډېره لویه او ستره ګټه به وکړئ.

ستاسې ډېرې بدبختۍ په سترګو غړولو، لیدلو او کتلو ورکېږي.

تاسې د سترګو په حکمت ښه نه یاست پوه شوي او پوره کار مو له خپلو سترګو نه دی اخستی.

هغه کسان چې ګوري او وینې غله ورځنې څه نشي پټولی او غدی پرې نه لوېږي.

تاسې خپلې سترګې غړوئ او ګورئ، مګر څه نه وینئ او څه نشي لیدای، تاسې به وایاست چې مونږ شپه او ورځ پېژنو، تور او سپین بېلوو، د انسان او حیوان فرق کولی شو، که مونږ څه نه لیدلی هر ګوره د چا د موټرلاندې به شوي وو یا به په کندو او کپرو کې لوېدلي وو، په سم سرک به نه وو روان او بې لارې به تللو.

زه وایم چې اوس هم ډېر خلق بې لارې روان دي او سمه لار یې پرې ایښې ده، ډېر خلق له ګړنګونو لویدلي دي، مګرځانته نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملتفت. دغه شان ليدل او كتل چې مونږ كولى شو حيوانات يې هم كولى شي او د موټرو له مخې اوښان هم ځانونه په څنګوي، واښه او اوبه ويني، له پاڼو او كمرو ځان نه غورځوي او له حسې خطراتو نه ډډه كوي.

د انسان ليده او كاته بايد له حيوان نه ډېر فرق ولري. د بنيادم نظر بايد دومره سطحي او سرسري نه وي.

راځئ! چې مونږ او تاسې د خپل نظر امتحان وركړو، چې مونږ څه ليدلى شو كه نه. مقصد مې دانه دى چې دا ولې شپې مياشت په مازديګر ياغرمه كې ګورو، يا به څوكروه لرې يو شى معلوموو، چې انسان دى كه حيوان، نردى كه ښځه؟ سپور دى كه پلى؟زما مطلب بل شان امتحان دى او بل راز سترګې مې په كار دي.

هو! زه هغه سترګې غواړم چې غدر، خيانت، ريا، ټګي، ظلم او تلبيس، بلكې ابليس ورنه ډډه كوي او دغه شيان ليدلى شي.

زه وايم دغه خلق چې تاسې په لارو او كوڅو كې په بازارونو او مساجدو كې يا په دوايرو او وزارتو كې په كراتو او مراتو ليدلي او كتلي دي ايا تاسې دوى په رښتيا ليدلي او كه اشتباه مو كړېده.

زه ګمان كوم چې ډېرو خلقو ډېرخلق نه دي ليدلي او ورسره اشنايان شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه سترګې چې له مونږ سره شته له کاره وتلي دي او څه نه وېني، دغه شان سترګې دهوا له مرغانو او دځمکې له ځناورو او حیواناتو سره هم شته.

هغه سترګې چې له رنګونو او اجسامونه پرته نورشیان لیدلی شي هغه زمونږ په کور او کلي کې له چاسره نشته او مونږ په رښتیاڅه نه وینو. ما ته دا سودا په ټینګه پیدا شوې او زړه ته مې داخبره لوېدلې ده، چې مونږ څه نشو لیدلی که زه غلط شوی یم زما سودا وباسئ او ماپوه کړې.

ما خو دمخه وویل، چې زه له تاسې نه په رڼا ورځ د ستورو لیدل نه غواړم زه وایم دغه کسان، چې تاسې یې هره ورځ خبرې کوئ او ورسره مخامخ کېږئ یا په موټر او بګیوکې ستاله مخه تېرېږي تاسې یې پېژني چې دا څوک دي او څنګه خلق دي؟

هغه چې په ښوښو ماڼیو کې اوسي، په اعلیٰ موټرونو کې سپرېږي نفیس لباسونه اغوندي او ښه ښه خوراکونه خوري ایا په دوی کې خاینین، غداران ظالمان او منافقان نشته؟

دوی ټول کاریګر لایق او صحیح اشخاص دي؟ دوی دغه جایدادونه او دا دومره ډېرې پیسې په مشروع ډول، په کار او لیاقت پیدا کړېدي؟

دغه نور چې ډوډۍ نه مومي، د ناستې ځای نلري په تن لغړ او په خېټه وږي دي په دوی کې د وطن صادق خدمتګاران، پاک نفسه زحمت کشه او لایق اشخاص بیخي نشته؟ دوی ټول څرمې بېکاره او غیرمستحق اشخاص دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې ښه وګورئ! او ډېرغور وکړئ که دلته خاینانو، غدارانو او ظالمانو په ظلمونو، رشوتونو او خیانتونو عالي قصرونو، نفیس موټرونه پاخه جایدادونه او لوړ مقامونه پیدا کړي وي او ډېرخلق او صالح اشخاص چې لس، شل کاله یې د وطن خدمت په صداقت او پاک نفسي کړي وي هغه نن خوار وزار، بې کوره او بې اوره ګرزي او هېڅ نلري، نوتاسې یقین وکړئ چې مونږ رانده یو او څه نه وینو که چېرې د رندو بازار نه وای او خلقو ښه او بد لیدلی هېڅکله به دغسې نه کېدلی او نه به شوی.

که زمونږ په سترګو پردې نه وای د رشوت خورو په کور کې به دا ښایسته پردې نه ځړېدلې او د قصور خاوندان به په قصرونو او ماڼیو کې نه اوسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زمانې تعبير

که تاسې هېر زړي نه یاست او سترګې نه پټوئ، نو په دغو لږو کلونو کې په عالم کې ډېر لوی تغير پېښ شوی او زمانه بېخي بل راز شويده، مګر دا تغير محسوس نه دی معقول دی او د عقل خاوندان پرې ډېر ښه پوهېدلی شي.

د انسان وجود که څه هم په هماغه پخواني حال دی، هماغه دوه سترګې، دوه غوږونه او دوه پښې لري، مګر هغه څه چې نن ليدلی شي پخوا يې نشو ليدلی، هغه څه چې نن يې اوري پخوا يې نشو اورېدلی، تر هغه ځايه چې نن رسېږي پخوا نشو رسېدلی، په هغه شي چې نن پوهېږي پخوانه پوهېده، هغه څه چې نن ويلی شي پخوا يې نشو ويلي.

څوکاله پخوا زمونږ نوکرانو او مزدورانو زمونږ له جلب لاندې منډې وهلې، مګر نن راسره په موټر کې يو ځای سپاره دي او هغومره فرق نلرو.

يو وخت و، چې ما به هغه څوک ښه ګاڼه چې چاته به يې زيان او ضرر نه رسېده، مګر څه موده وروسته په دغومره ښه توب نه قانع کېدم او له ښو خلقو نه مې ښه ښه ارزوګانې هم غوښتلې، ما به ويل ښه سړی هماغه دی، چې په زړه کې يې د وطن او ملت دپاره ښې ارزوګانې او ښه نيتونه موجود وي، مګر نن پدې هم نه يم قانع او هغه څوک ښه بولم چې ښه ښه کارونه کوي او د ايثار او فدا کارۍ په ميدان کې داخل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یوازې زما حال نه دی نورهم ډېرملګري شته چې بې عمله ایمان کافي نه ګڼي او تشو ارزوګانو ته په څه قیمت نه دي قایل.

که څوک نن له مونږ نه ستاینه او محبوبیت غواړي او ارزو لري، چې مونږ ورته ښه وو ایو او ښه یې وګڼو هغه دې پدې باندې پوه شي، چې تش لستوني او بې لاسه لستوني مونږ نه خوښوو، بلکې کار او عمل ته ګورو او د هر چا جدوجهد، قرباني او فداکاري په نظرکې نیسو. مونږ اوس له پخوانه هوښیارشوي یو او سادګان نه یو. مونږ خلق پېژنو او په زړونو کې ډېرښه پوهېږو.

مونږ رښتیا ویلی شو. زمونږ په زړونو کې بې د خدای له وېرې بله وېره نشته،مونږ حقایق څرګندوو او حق وایو، مګر د دې کار دپاره په یو ه ترتیب قایل یو او هغومره څه وایو چې خلق پرې پوه کولی شو.

مونږ د ځان او د بل د پوهولو او وېښولو ټېنګه اراده لرو او داکار هېڅکله نه پرېږدو.

مونږ غواړو چې اعمالو او افکارو نه د لوی خدای په توفیق خیري او ناولتیا ګانې ورکې کړو او دضرورت په وخت کې ډېرې ناپاکه جامې په تېږو وټکوو او په څوباړو یې ووهو.

مونږ ځینې لوړ کسان وینو چې اخلاق یې ډېر ټیټ دي، په بدو او ناوړه اعمالو نه شرمېږي، د فسق په شهرت پروانلري، خیانت ورته بد نه معلومېږي، په پردې ناموس ډېر زړور ورځي، په رشوتونو قصرونه او ماڼۍ ابادوي او په ډېرو هسکو ځایونو کې ناست دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ غواړو چې دوی خپل ځانونه اصلاح کړي او په رښتیا توبې وباسي، خپل خدای ته رجوع وکړي او په نیکو اعمالو خپل نفسیات ووینځې او پخواني عادتونه پرېږدي.

د دې زمانې همدغه تقاضا ده او د زمانې تغیر له دوی څخه دغه نفسي تغیر غواړي. که دوی غواړي چې زمانه یې رسوا نکړي او څوک یې سترګو ته خلي ور نه وړي باید خپل ځانونه اصلاح کړي او پوه شي چې زمانه بل راز شوه او بل راز خلق غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برابر نه دي

صحرا ته ولاړ م هېڅ کانړی له بل سره برابرنه و، غرونو ته وختلم ځيني جګ او ځيني ټيټ و، په باغونو وګرزېدم دټولو بوټو وده او لوړتيا يوراز نه وه، د درياب کبان مې وليدل يو له بله په تول کې برابر نه ختل، د هوا مرغان هم ځيني غټ او ځيني واړه وو، ښارونه مې وکتل د ځينو کورو ديوالونه و او د ځينو نه و، کورونو نه ننوتم، ځيني غولي لوی، ځيني واړه و، په دوايرو کې وګرزېدم ټول مېزونه او ټولې چوکۍ يو شان نه وې، کتابخانې مې وکتلې د درستو کتابو قطع او حجم برابرنه و، هېوادونه مې وليدل ځيني تاوده و، ځيني ساړه، انسانان مې وکتل ځوک جوړ و او ځوک ناجوړه، ځوک ړانده و او ځوک بينا.

د لوی خدای کتاب مې بېرته کړ داخبرې مې پکې وليدې.

ايا پوه او ناپوه برابر دي؟ د ړانده او بينا ترمېنځ څه فرق نشته؟ د د وزخ او جنت خاوندان څه توپېر نلري؟ نور او ظلمت يو راز دی؟ پدې پوښتنو راوېښ شوم او په عالم کې مې بيا سترګې وغړولې. هغه فرقونه چې په نورو انواعو او اجناسو کې و، په انسانانو کې يو په سله زيات معلومېده.

هغه ښاپېريان او ديوان چې خلقو له کوه قاف نه هغه خوا لټول ماپه دوی کې وليدل د پرښتو او لعينانو په معنی' پوه شوم، قصابان او شپانه مې وپېژندل. د عدل او ظلم، علم او جهل، خير او شر، سعادت او شقاوت فرقونه راته واضح شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې ښه وپوهېدم چې:

جــو دانـــې قـــدر يـــو لعـــل پکـــې مونـــده شـــي
نـــور جهـــان واړه د تـــورو کـــانو غـــر دی

ماته دامعلومه شوه چې د ډېرو لويو ملتو او لويو ټولنو قدر او قيمت په يو څو تنو پورې تړلې وي، چې که هغه ورځني ليرې شي هېڅ ورته نه پاته کېږي او د متمدنو اقوامو فرق له وحشيانو نه په يو څوتنو باندې کېږي، لکه چې د انسان په جسم کې مخ سترګې، پوزه چې په وجود کې ډېره محدوده او لږه حصه ده يو انسان له بل ځنې بېلوي دغسې ملتونه او ټولنې هم ديو څو محدودو اشخاصو په وجود امتياز پيدا کوي او بېلېږي.

پـه هرمملکت کې يو څوتنه محدود اشخاص وي، چې د هغه مملکت سترګې او پوزه ګڼل کېږي او د يوه هېواد نوم او نشان لوړوي.

لکه چې يو انسان پخپل ټول وجود کې دوه سترګې لري چې د هغو په بينايي او بصيرت يوې خوا او بلې خوا ته حرکت کوي او د ملت سترګې ګڼل کېږي.

د همـدې لامله ښـه اوبـد د دوی پـه سـترګو ليـدل کېـږي، د فکرکولو او خيرو شرسنجولو اميد دوی ته کېږي، د هېواد ترقي او لوړتيا د دوی د سعې او عمل محصول باله شي او هرڅه په دوی پورې مربوط او موقوف وي. کله چې په توره شپه کې يو ټولګی خلق چېرته روان وي، نو ډيوه يا چراغ له يوه يادوه تنو سره وي او نور ټول د هغوی په رڼا کې روان وي لاره ګوري، که دغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا خاوندان له دوی نه بېل شي ټول په تورتم کې پاته کېږي او بیا ځوک کندې کپرې نشي لېدای. د عقل او فکر رڼا هم له محدودو اشخاصو سره وي، مګر فایده یې عامه وي او هر چاته لاره ښيي.

یو ملت باید د رڼا د خاوندانو قدر وکړي او پدې پوه شي چې بې له دوی نه په ټولو تورتم او تیاره راځي او لاره ورکېږي.

هغه مشعل چې مونږ ته دلارې ټیټ وپاس راښیي او زمونږ مخه رڼا کوي د دوی په لاس کې دي او دوی پیدا کړي، که دوی نه و رڼا نشته او په هر قدم کې د لویدلو او پریوتلو خطرات موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام دردمنو!

عابده! هغه څه چې ته يې په ډېرو وظايفو او نوافلو کې لټوې د خدای د مخلوق په خدمت کې ډېر ښه موندل کېږي.
زاهده! څه شی چې ته يې د ځان په ورېږ کولو او نفلي روژو نيولو کې غواړې د مساکينو او فقيرانو په مړولو هم لاس ته درځي.
عارفه! چوپ کښېناستل او دخدای په فکر او ذکرمشغولېدل عبادت دی، مگر زورورو ته حق ويل او حق بيانول ډېر لوی او ستر عبادت دی. مسلمانه! دقران تلاوت ثواب لري، مگر په قران باندې عمل کول فرض دی. ای د تقویٰ او رياضت خاوندانو! تاسې له خپلو کوټنيو سرونه را وباسئ له دې سپينو څادرونو مخونه راښکاره کړئ او په علم کې سترگې وغړوئ، چې د خدای د مخلوق څه حال دی؟
تاسې انصاف وکړئ، چې تسبيح اړول ډېر ثواب لري که په سرو غرمو کې يوې کول او يومسکين مړول؟ په جای نماز باندې قرار کښيناستل ښه دي؟ که دخدای په لاره کې ستړي کېدل؟
رښتيا ووايا ست چې دبل په خيرات روژه ماتول ډېر ثواب لري که خپل مال له مسکين او فقير سره خوړل؟
ماپوه کړئ! چې پاک خدای د خيرات او شکرانو په اخستلو ډېر خوشحالېږي؟ که په ورکولو يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ؟ د خدای رضا او د اخرت ثوابونو په ګرانو او سختو کارونو کې او د مخلوق په خدمت کې ولټوئ! یو مظلوم د ظالم له منګولو خلاص کړئ، د یوې کونډې په سر پوړنی واچوئ، د یوه یتیم اوښکې پاکې کړئ!

یوه پوروړي ته پور ورکړئ، دیوه رنځور دارو او درمل وکړئ. دغه خواران او غریبان چې دپاک خدای صادق او ساده بندګان دي خپل خدمت ته مه رابولئ او مه یې مریدان کوي، بلکې تاسې د دوی مریدان شئ او خدمت یې وکړئ، د خدای رضا او د خدای جنت په دغه ډول حاصلولی شئ او د دنیا ګټه په هغه بل صورت لاس ته نه درځي او درغلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سبا فکر

هغه څه چې د ریا او تذویر په پردو کې پټ و اوس څرګند ېږي. تر اوسه پورې شپه وه، تورتم و، تیاره وه، هېچاهېڅ نه لیدل هرڅه د تورې شپې له تورې پردې لاندې پټ و.

ما ته نه لیدې، تا زه نشوم لیدای، زما په سترګو او ستاپه مخ پردې برتې وې ما ته نه پېژندلی او تا هم خپل ځان نشو پېژندلی، نن د حقایقو له مخې پوړنی پورته کېږي او ښه و بد ځان ښکاره کوي، ته پدې پوه شه! چې پس له دېنه څوک خپل معایب نشي پټولی. که څوک هر څومره کوښښ وکړي چې خپل نواقص پټ کړي او ښایسته رنګونه ورپورې ومښي کامیابېدلی نشي او خواري یې څه ځای نه نیسي.

که څوک هوښیاروي هغه باید د ځان اصلاح ته اساساً متوجه شي او ځان ونه غولوي، هغه ودانۍ چې نن سبا نړېږي په اخېړونو نه ټینګېږي او رنګ وروغن یې بیفایدې معلومېږي.

مونږ باید دخپل راتلو نکي ژوند دپاره پاخه دیوالونه جګ کړو او پوخ تعمیر بنا کړو، له هغه کوره باید ووزو چې نن سبا لوېږي او رنګېږي، سړی باید داسې کور جوړ کړي چې د زامنو او لمسیانو شپې یې پکې هم تېرې شي او ودانۍ یې پخه وي.

مطلب دانه دی چې ټول به له کاڼو او ګټو جوړ شوی وي او د ختو په ځای به پکې سمټ لګېدلي وي، ځکه چې دغه راز کورونه خواران او غریبان نشي جوړولی. زما مقصد بل راز کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې کور چې يوه ښځه به يې هم د ظلم او خيانت په پيسو نه وي جوړه شوي او په ودانولو کې يې مظلومان نه وي ازار شوي.

هو! ښه کور هماغه دی چې همسايه ته يې ضرر نه وي رسېدلی او هېڅکله يې د بام واورې د بل په بام نه وي لوېدلی، لوی لوی ګناهونه پکې نه وي شوي. د فساد او ضرر فکرونه پکې نه وي موجود.

ښه کور دا نه دی چې ښايسته او رنګينې پردې پکې زوړندې وي او ښه ښه خوراکونه پکې وخوړل شي يا ډېر نفيس سامان او ولوازم ولري.

دا شيان وي او که نه وي، مګر پخپل حق قناعت، رحم او عاطفه، عفت او فضيلت چې په کوم کور کې وي هغه ښه کور دی او هېڅکله نه ورانېږي کوم کور چې اهل او صالح اولاد لري او ماران و لړمان پکې نه وي قصر وي که جونګړه هغه کور ښه کور دی او سعادت په همدغسې کورونو کې دی. دغه راز کور خواران او غريبان هم جوړولی شي، مګر يو غيرصالح انسان هېڅکله نشي پيدا کولی.

هرڅوک چې ځانته په دنيا کې کور جوړوي بايد دحميد دابيت واوري:

که دې نکړ په نېکيو ننګ ونام لوړ
په دوه چومه دې د خټو مشه بام لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پخوانۍ ډیوې

کله چې سړی یوازې شي او څوک نه وي نوله خیال او تصور سره یې زیات سرو کارشي او راز راز فکرونه کوي.

څوک چې له دغې فکري مراقبې سره اشناوي هغه پوهېږي چې انسان په دغسې وخت کې هر څه په بل رازویني او دجهان هره ذره ورته دسکندر آئینه شي.

په همدغسې مواقعوکې سړی په پچه خېژي او کشمېر وینې او د مرغانو په هګیوکې راز راز نغمې اوري. زه هم په کوټه کې یوازې ناست وم او فکرو یوړم، مخامخ یو منقش رف ښکارېده چې هرهر څه پکې ایښې و او زما دخیالاتو له تلون سره یې ډېره مرسته کوله، دغه راز رفونه سړی د دې وخت په ودانې کې نه ویني او د پخوا وخت تعمېري وضعیت سړي ته ښیي. دا کور که څه هم زوړ او د پخواني وخت تعمیري وضعیت سړي ته ښیي. دا کور که څه هم زوړ او پخوانی دی، مګر د برق مزي ورته رانغوتلي دي او سامان یې هم نوی شویدی. دلته پخواني او اوسني نوي او زاړه شیان یو ځای شوي او عجیب منظرلري.

د تجدد او نوي عصر اثار او استازي دې کاله ته راغلي دي، مګر د کور ساختمان یې لانه دی بدل کړی.

په کور کې که څه هم برق لګېږي، مګر پاس په رف باندې د تورو تېلو مسینه ډیوه ایښې ده چې مخصوص نقش ونګار لري او دوه درې طبقې یې تشکیل کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځنګ کې يې يو بل ډول چراغ هم شته چې د شمع بلولو د پاره جوړ شوي او اوس په لږو کورونو کې پيدا کېږي. هغه خوار ورځنې د خاورينو تېلو لاټين ايښې او سړي پوهېږي، چې دغو چراغو هر يوه پخپل وخت کې دا کور رڼا کړی او دې خلقو يې رڼا کې ډېرې شپې تېرې کړي دي، مګر اوس د ټولو دوره تېره شوې ده او د شپې په کوټه کې برق لګېږي.

زمانه وخت په وخت نوي شيان له ځان سره راوړي، مګر زاړه هم څوک هيسته نه غورځوي او په جګو ځايونو کې ځای ورکوي. دا عادت بد عادت نه دی بايد په هر کور او هر هېواد کې همدغه عادت جاري وي او څوک د چا زاړه خدمتونه هېر نکړي، مګر کارونه بايد وخت په وخت له نورو شيانو نه واخستل شي او په کورونو کې نوې رڼاګانې پيدا شي.

زمانه ښايي چې زاړه شيان له کاره وغورځوي او نوي هم زاړه کاندې چې د غورځولو شي، مګر انسانان يې د زمانې په تاخچو او رفونو، د تاريخ په پاڼو کې ساتي او په اوچتو ځايونو کې يې ږدي.

هغه چاچې لومړی ځل د تېلو خاورينه ډيوه بله کړې د برق له مخترع نه يې پوهان په کمه ستر ګه نه ګوري او قدر يې کوي.

انسان او جهان په هروخت او هر حال کې يوې رڼا ته محتاج دی او دا رڼا وخت په وخت خپل شان او صورت بدلوي او په ظروفو کې يې تغير راځي د همدغه بدلون او تغير په اثر انسان د علم، د معرفت په لوړوالي او د پوهې په زياتولو او تجلي کې زيار کاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چا چې د خاورو ډېوه جوړه کړې او هغه چې د مسو ډېوه سازه کړې ده یا یې دښیښې په فانوس کې کومه شمع لګولې ده د برق او برېښنا تر مخترع پورې هر یوه کوښښ کړې، چې د رڼا دپاره یوه وسیله پیدا کړي او بشپړه تیاره خونه رڼا کړي، دوی هریو نور او رڼا پالونکي او روزونکي دي چې دبصیرت خاوندان ورته په ډېرقدر او احترام ګوري.

هغه رڼا چې د خاورو له تېلو پیدا کېږي، هغه نور چې له لمر او سپوږمۍ څخه راځي هغه برق چې د اوبو له جریانه حاصلېږي بې د ظرف او محل له تبدیله څه ډېرفرق نلري.

که څوک په دغو ظاهري صورتونو نه غولېږي دغو نوو احادیثو قالبونو او ظروفو ته نه ګوري، د شړشمو او پنبې په بوټو، د غوزانو او زیتون په ونو کې یوه رڼا او یوراز تېل موجود دي چې په هرراز ډېوه کې بېل کېفیت پیدا کوي.

هغه نور چې کلیم په کوه طور کې لیده د زیتون په هره ونه کې شته، مګر محرمانه سترګې غواړي.که دانسان تعقل قوي شي او د حواسو له کړکیو راننوتلې ده او بې له دېنه په ده باندې توره شپه ده په هرشي کې به یو نور ګوري او د وجود په نړۍ کې به دا تور او سپین نه وي.

اوس مونږ دحواسو له تاثیرلاندې راغلي یو چې په تېلو غوړ لاسونه په پنبه او پندانه وچوو او د سترګو کتل یا لامسه قوه مونږ ته حقیقت بل راز کوي او ظرف راته مختلف انواع او اجناس په مخکې دروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دغه راز راز لوښي او منګي چې په هر کورکې په بېل بېل صورت وينو زمونږ د نظرمانع نشي، نو په هر کور کې د يوې ويالې او چېنې اوبه دي او د ټولو مشرب يو دی، که مونږ د سيند او ويالې کوهي او کاريز، واورې او باران په شکلونو، صورتونو او نومونو ونه غولېږو پوهېږو چې همدغه يو شی په څو نومونو يادوو او زمونږ حواسو راته واوره او باران دوه شيه کړيدي. په حقيقت کې همدغه يو حلاوت دی، چې په خټکي، هندوانه، توت،انګور، ناک، مڼه، شفتالو او نورو کې يې حلول کړي او په هر محل کې يې بېل صورت بېل رنګ بېل خوند بېل نوم پيدا کړی دی.

دغه لوی او واړه خمونه چې د بېلوبېلو ميوو او دانو شربتونه او عرقونه پکې پراته دي ټول يو راز کيف لري او دکجوري او اربشو په مېنځکې څه ډېر فرق نشته.

په دغسې کتنه چې سړی له صورتونو هغه خوا وګوري پوهېږي چې کورت او شړومبې له يوې غړکې راوتلي دي او مايعات و جمادات زمونږ احساس او شعور بېل کړی.

هغه وخت چې زمونږ تماس له ماديا تو نه قطع شي او مجرد شو ښايي، چې د نن ورځې علم او معرفت بل راز شي او دغه رڼا بل شانې ووينو، د نن ورځې تنوېري وسايل به لکه د دې کوتې بې کاره ډيوې له کاره ولوېږي او علم و پوهه به په نورو قالبونو کې ځان ښکاره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبي بحثونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادب

د ادب د کلمې اصل:

اصل يې(هذب) دی د بې عيبه په معنیٰ.

د هذب کلمه په اصل کې د هغې ونې دپاره استعماليدله چې ځينې څانګې او ځينې ښاخونه به يې قطع شوه او صافه به شوه. وروسته دا کلمه له محسوساتو نه معنوياتو ته رانقل شوه او هغه چاته هم وويل شوه، چې عيبونه به يې ورک شوه، يعنې مهذب به شو.

اهل لغت ټول په دې باندې متفق دي، چې د مهذب کلمه ديوه کامل انسان دپاره د ونې له تهذيبه رانقل شوې ده، ځکه چې معنوي او عقلي امور له حسي اشياو څخه ماخوذ دي لکه د عقل کلمه چې د اوښ له جلب او عقل څخه ماخوذه ده.

نو د هذب دکلمې (ذ) په (د) بدل شو او دغه ابدال په عربي کې ډېرمثالونه لري لکه: هذم، هدم، جذم، د قطع په معنیٰ (ه) په (همزه) بدله شو ه او دا ابدال هم په عربي کې متعارف دی لکه: اهل، آل، ماده او داسې نور....

نو هذب هدب شو او هدب په ادب بدل شو.

ځينې وايي چې په يوناني ژبه کې اديب هغه چاته ويل کېده، چې د عادت په معنیٰ دی او د حال وشان په معنیٰ هم ذکر شوی دی لکه:(کداب ال فرعون) مګر دغه راز اشتقاق په عربي کې ډېر نظاير نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادب د کلمې تاریخ

ځینې وایي چې دا کلمه د جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتدا کې نه وه، ځکه چې نه د هغه وخت په ادبي اثارو کې راغلې ده او نه په قران کې شته، بلکې لومړی ځل دا کلمه په دې نبوي حدیث (ادبني ربي فاحسن تادیبي) کې ذکر شوې ده(دا حدیث محدثینو په دغو الفاظو نه دی ظبط کړې) ځینې نور وایي: چې دا کلمه د جاهلیت په زمانه کې هم وه او دا چې د هغه وخت په اشعارو او قران کریم کې نشته د دې دلیل نشي کېدای، چې دا کلمه په اشعارو او قران کریم کې نشته د دې دلیل نشي کیدای چې دا کلمه په هغه وخت کې هډو موجوده نه وه.

دوی د خپلې مدعا د ثبوت دپاره دا دلیل راوړي کوم وخت چې دا کلمه په حدیث او د اصحابو یا د تابعینو په اقوالو کې راغله او هېڅایې د معنیٰ او مفهوم پوښتنه ونکړه، معلومه ده چې پخوا هم وه او ارتجالانه ویل شوې. وایي چې دا کلمه د حضرت علي (رض) په اقوالو کې هم ډېره راغلې ده او د جاهلیت په وخت کې هم (اکثم) بن صیفي د بني تمیمو مشهور خطیب ذکر کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادب تعریف

لغوي معنیٰ خو یې تهذیب دی او څه شی چې له چا سره یاله کوم شي سره لایق او مناسب وي هم ادب ورته ویل کېږي لکه: د مجلس اداب د معاشرت اداب او داسې نور....

اصطلاحاً ادب هغه پوهه ده چې انسان پخپله وینا او بیان کې له خطا او غلطۍ څخه ساتي، ځکه ادبي علوم هماغه علوم بلل کېږي چې د وینا ښه والی او بدوالی، غلط او صحیح، خوږوالی او پیکه توب ښیي او په تعریف کې ویل شوي دي چې ادب د ښو الفاظو په وسیله د خپلو احساساتو او ادراکاتو یا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اوریدونکو په ذهن کې یې کښېښول دي، یعنې ادب یوازې د افکارو او روحي حالاتو اظهار نه دی، بلکې له یوه ذهنه بل ذهن ته انتقال او ابلاغ هم پکې ملحوظ دی. دا انتقال که په ښه ډول او مهارت سره وي چې هم په کې ښه کلمات انتخاب شوي وي او هم د کلماتو د ښه ترکیب او ښه استعمال په لحاظ د فصاحت او باغت مراعات شوی وي ادب ورته ویل کېږي او که داسې نه وي، نو عادي خبرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادب تقسیم

ادب د خپل جوهري او ذاتي تقسیم په لحاظ دوه ډوله دی.

## ادب محض، ادب مخلوط:

ادب محض هغه دی چې بې د بیان له لطف او خوږوالي څخه او بې د بدیع احساس له تحریک بل مقصد او بله غایه پکې نه وي، لکه ځینې عشقي غزلې چې د رحمان بابا یا د حمید او خوشحال او نورو شاعرانو په دیوانو کې ګورو یا ځینې منثور اشعار چې د طبیعي مناظرو یا د احساساتو او عواطفو تمثیل پکې وي.

مخلوط ادب دېته وایي چې یو ادیب کوم تاریخي، علمي، اجتماعي مطلب په ادبي پیرایه کې راوړي او ادبي رنګ ورکړي، نو دلته ادب واسطه ده او په لومړي صورت کې غایه ده.

د لومړي قسم ادب په لحاظ د ادب موضوع شاعرانه احساسات او عواطف، روحي کیفیتونه، حسن او جمال، د طبیعت ښکلي مظاهر او مناظر، نفسي اغېزې، قلبي تمایلات ګڼل کېږي، مګر دوهم قسم ادب هر څه په غېږ کې نیسي او کېدی شي چې سړیساینس او تخنیکي یا ریاضي مسایلو ته هم ادبي رنګ ورکړي او ادب په هر څه کې ګډ کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

څوک وايي هغه موزون کلام دی چې د انسان په احساساتو او عواطفو کې تحريک پيدا کوي ځينې نور وايي هر کلام چې دغه کار کولی شي وزن او قافيه ولري او که نه هغه شعر دی.

څوک بيا وايي: نه هر څه چې په زړه اثر کوي او په انسان کې تعجب يا جوش او جذبه پيدا کوي هغه شعر دی، نو د دوی په نظر کې جهان ټول شعر دی چې سرې يې د اسمان په ستورو او شفق کې د ډکو او مستو سيندونو په څپو، د ګلونو چمنونو په رنګ او طراوت کې، د غرو په لوړو څوکو، د ابشارونو په مستۍ، د بلبلو په شور د ښکلو په ښايسته سترګو کې ګوري، نه يوازې دا د مهجورو او ارزومندو په اوسيليو، د دردمنو په اه وفرياد د مظلومانو په ژړا کې هم شعري کيفيت موجود دی.

له دغسې مختلفو تعريفونو څخه معلومېږي چې يو داسې کلام چې په زړه او احساساتو تاثير کوي او په کلاسيکې تعبير (بديعي احساسات په شور راولي) هغه ارومرو شعر دی، نو که ځينې نور شيان هم شعر وي وي به، مګر هغه شعر چې خلق پرې يو شاعر ستايي هغه همدغه شی دی او په الفاظو کې ځای لري. د دې شعر د عناصرو او اصلي اجزاو په باب کې ډېرې خبرې شويدي چا په شعر کې وزن ډېر مهم جز بللی دی او چا ادبي صنعتونو ته په ډېر اعتنا کتلي دي، پخوا به خلکو دغه شعري صنايع چې ځينې لفظي او ځينې معنوي دي د شعر په ماهيت او حقيقت کې داخل ګڼل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر اوس يې د شعر لباس او زيور بولي، همدغه سبب دی چې د پخوا وخت ادبي مبصرينو او منقدينو دغو صنعتو ته په اصلي نظر کتل او د شعر قيمت يې په همدغه معيار سنجاوه. د دوی په نظرکې به ښه شعر هماغه ؤ، چې کوم معنوي صنعت پکې ولکه: صنعت طباق صنعت مقابله، مراعات النظير، صنعت مشاکله، صنعت مزاوجه صنعت طباق، صنعت عکس، صنعت جمع او تفريق، جمع او تقسيم، جمع او تفريق وتقسيم، حسن تعليل، استتباع، اطراد، تعجب او داسې نور...

يا به پکې له لفظي صنايعوکار اخستل شوی و، لکه: تجنيس، قلب اشتقاق، ردالعجز علي الصدر، ذوالقافيتين، متلون او داسې نور...

مګر اوس څوک په دغه راز جامو او کالو نه غولېږي او د شعر ناوې پخپله ګوري. په دې کې څه شک نشته چې يو ښه لباس په هر وخت کې هر چا ته ضرور دي او بې لباسه شيان ښه نه ښکاره کېږي، مګر لباس په هر وخت کې تغير کوي او د زيب وزينت سامان وخت په وخت بل راز کېږي کله خلک اوږدې جامې اغوندې کله لنډې، يو وخت بخۍ او چکنونه رواج وي بل وخت ساده لباس ښه ګڼل کېږي، کله به کالو کې ډېر افراط کېږي او کله بيا هغه پايزيبونه او د سرو نتکۍ له رواجه ولوېږي، شعر هم په دې وخت کې خپل لباس او زيور له پخوانه بل راز کړيدی او هغه ټول پخواني کالي نه اغوندي که څوک يې په ډېر زور او تکلف ور واغوندي، نو خلک يې نه خوښوي بلکې عيب يې ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اوسنۍ نظريه چې د شعر به باب کې پیدا شوې او شعر غیر له دغو ادبي صنايعو څخه يو بل معنوي شي بولي د پښتو په اشعارو کې يې له پخوانه تطبيق وينو او زمونږ د دې وخت ځينو ښاغلو اديبانو چې د دغه صنعتو دپاره په ډېر تکليف يو يو بيت چېرته په ديوانونو کې د مثال او نمونې په ډول پيدا کړی دا هماغه صنعتونه دي چې په غير قصدي او ازادي ډول په پښتو اشعارو کې پيدا شوی او څه ډېر زيات کوښښ ورپسې نه دی شوی، يعنې پښتنو شاعرانو د خپل زړه، خپلو احساساتو او عواطفو ترجماني کوله او خپلې سندرې به يې ويلې، نوکه به ځينې صنعتونه هم په کې راغله راتله به، مګر دوی اصلي شی نه ګاڼه او همدغه شي ته يې شعر نه ويلې، بلکې د زيور او لباس په نظر يې ورته کتل.

د دې دپاره چې دا خبره په خوشبېنۍ او محض تعبيراتو حمل نشي شعر به دځينو پښتنو شاعرانو په نظرکې وښيو، چې دوی شعرته په کومه سترګه کتلي دي او د شعر ماهيت دوی ته څنګه جلوه کړې ده؟

## شعر د خوشحال خان په نظر کې:

لکــــه غشـــــي لــــره بويــــه تيــــر انــــداز
هســــې شــــعر لــــره بويــــه ســــحر ســــاز
همېشــــــه د زړه پــــــه لاس تلــــــه د وزن
زيــــات و کــــم لــــه وزنــــه يــــو تــــورې غمــــاز

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه تـــور اس د حقیقـــت نـــاوې ســـپره کـــا
پـــه ســـپین مـــخ پلـــو نیـــولی د مجـــاز
ســـل جلـــوې ســـل کرشـــمې ســـل مکیزونـــه
پـــه نظـــر کـــې یـــې ښـــکاره د ســـترګو نـــاز
د صـــنعت زیـــور پـــه خـــو رنګـــه ورپـــورې
د تشـــبیه چنـــدڼ چـــووه بانـــدې طـــراز
د مضـــمون د نزاکـــت غمـــزه ورځخـــه
ســـر تـــر پایـــه درســـت صـــورت ســـره یـــو راز
کـــه پـــه نظـــم کـــې کارګـــه او ټپـــوس راوړي
هـــم د زړونـــو پـــه ښـــکار ګرځـــي لکـــه بـــاز
چـــې یـــوه وینـــا یـــې وکـــړه هوښـــیار هغـــه
عـــاقلان بـــه ویـــل کانـــدي پـــه ایجـــاز

***

خوشحال په دې بیتو کې کمال کوي چې خپل اغاز په غشي او تېراندازۍ کوي، ځکه چې د شعر غشی هم په زړونو لګېږي او همدغه یې هدف دی، سحر ویل ورته که څه هم نوی تعبیر نه دی، مګر منلې او مسلمه خبره ده، دا چې له وزنه یو زیات یاکم توری غماز بولي ډېره ښه خبره ده او له غمازنه ورته بله ښه کلمه نشو پیدا کولی، که وو ایو چې د غماز کلمه به هیچا دغسې په ځای نه وي استعمال کړې څه غلطه خبره به نه وي، د خوشحال له دغه شعر څخه معلومېږي، چې دی بې وزنه کلام ته شعر نه وایي، په دریم بیت کې، چې د حقیقت ناوې په تور اس سپروي او په سپین مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې د مجاز پلو نيسي څومره ښه تعبير دی، ځکه چې حقيقت و مجاز علاوه په دغه مفهوم، چې د بلاغت په فن کې يې لري او د يوې کلمې استعمال په موضوع له معنیٰ کې حقيقت بولي او په نورو ځايو کې يې مجاز ګڼي. د تصوف او عرفان په لحاظ بله معنیٰ لري او نور کوايف پکې لېده شي. په هر صورت مونږ ويلی شو، چې خوشحال بې حقيقته کلام ته شعر نه وايي او بې د حقيقت له سپين مخه د مجاز ښايسته پلو او رنګين پوړنی هم څه اصلي غايه نه بولي.

د خوشحال په نظر کې شعر يوه حقيقي ناوې ده، چې هم سپين مخ لري هم مجازي پلو، چې له سلو جلوو، سلو کرشمو مکيزونو سره يې په سترګو کې هم نازشته او د صنعت څورنګه زيور ورپورې دی.

وګورئ! چې خوشحال صنعت ته د زيور په سترګه ګوري او اصلي معشوقه يې نه ګڼي د مضمون د نزاکت غمزه هم بې له صنعته يو بل شی ګڼي، د مضمون د نزاکت غمزه هم بې له صنعته يو بل شی ګڼي او سر ترپايه د شعر په صورت کې تناسب او يوراز والی غواړي بيا نو وايي، چې په دغسې نظم کې که کارګه او تپوس راوړل شي هم داسې باز ورځنې جوړشي، چې د زړونو ښکار کوي.

هو! د شعر له زړونو سره کار دی او د همدغه ښکار د پاره پيدا شوی دی. په دې بيت کې علاوه په دې لطف چې له کارغه او تپوس نه زړه وړونکي باز جوړوي دا لطف هم شته چې د زړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکار په یادولو سړي ته د خپلې اولې مسرۍ تېر اندازي او غشي هم یادوي، په وروستي بیت کې چې ایجاز یوه شاعرانه او ادبي هوښیاري بولي ښایي، چې د خپل دغه شعر ایجاز او زیاتو دلالتونو ته به هم اشاره کوي، چې څومره ښه مطالب یې پکې ځای کړي دي او په یو څوبیتوکې یې دومره څه ویلي دي چې یوه لویه مقاله یا یوه رساله ورځنې جوړېدی شي.

## شعر د حمید په نظر کې:

شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا دستي وتلی دم له خولې د مړه دی
یا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنون ته معما ښکلې لیلیٰ ده
یا له ښاره د حیرت وتلی فوج دی

دلته که څه هم حمید په ظاهره کې وایي، چې شعر نه دی، مګر مطلب یې دا دی چې همدغه شی شعر دی او په دې درې بیتو کې دی خپله نظریه د شعر په باب کې پوره ښکاره کوي که څوک دا بیتونه په دقت وګوري هغه پوهېږي، چې حمید شعر ته څه وایي او شعر د ده په نظریه کې څنګه ښکاره شوی دی؟ (د دې بیتو په مورد به خاص وي، مګر حکم یې عام دی) دی وایي شعر یا د زخمي زړه خوناب دی یا هغه وروستی دم دی، چې له صورت او کالبوت څخه په ډېر حسرت وتلی وي او ډېرې ارزوګانې پرې ایښې وي یا د عشق د نیم بسمل مرغه یا مجنون د لیلې معماده یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینو د جوش موج یا یو عالم حیرت دی، چې دې ورته فوج وایي او حیرت له ښاره یې راوتلی ګڼي.

د حمید زیات مهارت په دې کې دی، چې د شعر په تعریف کې یو عالم تردد ښکاره کوي او سړی پوهوي چې شعر پېژندل څه اسانه کارنه دی. دا اسانه خبره ده چې سړی ووایي: شعر د انسان بدیعي احساسات خوځوي، مګر که پوښتنه وشي چې څنګه او په څه راز او شعر دومره اغیزه له کومه کړه؟ نو خبره ډېره ګرانېږي او د حمید غوندې یو موشګاف بویه چې دا ځواب ووایي او د شعر په معرفي کې د شعر د تاثیر علت او سبب هم بیان کړي.

د حمېد دغه تعریف چې د شعر دپاره شاعرانه تعریف دی مونږ دې ته ملتفت کوي، چې شعر یو درد او احساس، یو د عشق او جمال پیغام د یوه هېجان او اعجاب او تحبر موج دی، چې په الفاظو او کلماتو کې یې ګورو.

## شعر د شیدا په نظر کې:

مضـــــمون د شـــــعر لکـــــه پیکـــــر دی
رنګـــین الفـــاظ یـــې رخـــت و زیـــور دی
ورتـــــه ضـــــرور دي دا دواړه څېـــــزه
پیکـــر کـــه هـــر څـــو دلربـــا تـــر دی

***

شیدا هم په شعر کې پیکر او زیور سره بېل کړی دی او داسې نه کوي، چې یوازې رنګېنو الفاظو ته شعر ووایي او شاعري په

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفاظو کې ولټوي، مګر بې رخت و زیوره پېکر هم نه خوښوي او په دې ضرورت اقرار کوي. که رښتیا ووایو له دغه ضرور ته هېڅوک سترګې نشي پټولی او رنګین الفاظ دا حق لري، چې رخت و زیور یې وبولو ، ځکه چې د الفاظو تاثیر یوه منلې خبره ده او هر څوک پوهېږي، چې ادبي کلمات په هر چا او هر ځای کې قوي حاکمیت لري.

ډېر شعرونه شته چې یو مضمون پکې راغلی دی او د توارد په اثر کې هغه څه چې یوه شاعر ویلي بل هم ویلي دي، مګر د یوه الفاظ شاعرانه دي او د بل نه دي، ځکه د یوه شعر ښه ګڼل کېږي او د بل هغومره نه.

## شعر د علي خان په نظر کې:

**عذاب نه دی نه ثواب، شعر خو ثوب دی**
**ګاه یې اغوندي انسان ګاه یې سبوع**
**عنوانات دي د ابیات معنون حکم**
**ښه بد ګوره محمول او د موضوع**

د علي خان له دې دوه بیتو معلومېږي، چې دی منظوم الفاظ شعر ګڼي او وایي، چې شعر یو لباس دی چې کله به یې ښه سړی اغوندي او کله بد ، یعنې دی لکه خوشحال او شیدا شعر یو پیکر نه بولي چې لباس ته محتاج وي، بلکې لباس یې ګڼي چې کله یو ښه شي او کله بد شي ته په غاړه کېږي، د علي خان نظریه هم د شعر په نسبت لکه د پخوانیو نظریه داسې ده اوس هم ځینې کسان شته چې وایي شعر یو ښایسته لوښی دی، چې کله پکې دوا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله پکې زهر لوېږي یا شعر یو زیو ر دی چې کله ښې ښځې او کله بدې ته په غاړه کېږي.(۱)

مګر د علي خان په نظر کې یو شی شته، چې دی یې دې خبرې ته اړ کړی دی چې شعرته لباس وواېي، هغه شی دا دی چې علي خان له ځینو داسې ملایانو سره خبري کوي، چې هغوی شعر ممنوع ګڼي، نو دی مجبور دی چې شعر ته نه ثواب او نه عذاب[۱] وواېي، بلکې ثوب یې وبولي او د شعر لمنه د دوی له لاسه خلاصه کړي، د همدې لامله د دغو بیتو اغاز هم په دې ډول کوي:

**عالمـــان شـــعر پـــه څـــه ګڼـــي ممنـــوع**
**ډېـــر ابیـــات لـــه آنحضـــرته دي مســـموع**
**عذاب نـه دی نـه ثـواب شـعر خـو ثـوب دی**
**ګـــاه یـــې اغونـــدي انســـان ګـــاهې ســـبوع**

که چېرې علي خان یې ددغسې کوم عامله د شعر حقیقت بیانولی یا چا ترېنه پوښتنه کړې وای چې شعر څه شی دی؟ یقین دی چې شعر به یې تش لستوڼی نه و ګڼلی، ځکه چې علي خان کوم داسې شاعرنه دی، چې د شعر حقیقت او معنویت ته نه وي پریوتلی او محض منظوم الفاظ ورته شعر ښکاره شوي وي، که څوک د ده دیوان وګوري او د ده شعرونه له نظره تېرکړي یقین به وکړي چې د سړي مطلب په یوه شي کې بل شانته وي، نظریه یې هم بل راز شي.

---

(۱) په دې باب په (بله ډیوه) کې یو مضمون شته، چې دلته یې بیا نه رانقلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمان بابا چې د شعر او ادب په مقام کې لوړځای لري او سړی یقین کولی شي، چې د ده له نظره د شعر حقیقت پټ نه دی پاته، خو ما ته یې په دیوان کې کوم شعر مخې ته نه دی راغلی، چې ده د شعر په نسبت خپله نظریه پکې ښکاره کړې وي او مونږ پوه شو چې شعرد ده په نظر کې څه راز و؟ مګر چې د شعر رنګ و صورت ته یې ګورو او داهم په نظر کې نیسو چې دی خپل شعر په ساده انشاء او سوزان شعر ستایي پوهېږو چې دی په شعر کې معنوي حقیقت او سوز خوښوي او ساده جمال ورته ښه ښکاره کېږي.

## په ژوند کې د شعر او ادب اغېزه:

که ژوند او حیات ته ښه ځیرشو او د انسانانو کامیابي او ناکامي په نظرکې ونیسو. د بدبختیو او نیکبختیو په پټو پټو سببونو پسې سترګې وغړوو پوهېږو، چې ادب او ادبي رجال په دنیا کې موفق دی او ژوند د ادب په ادابو روان دی. هغه اشخاص چې په جامعه کې مقبول دي او هغه کسان چې په بدنظر کتل کېږي په عقل او فکر عمل او کردار کې به یې لږ فرق وي، مګر په ادبي لحاظ به ډېر تفاوت لري.

داچې له یوه بل نه اورو فلانکی په خبره پوهېږي یا د ښه سلوک خاوند دی، فلانی سړیتوب لري، د دې ټولو خبرو راجع د هغه ادبي حیثیت او شخصیت ته وي او د هغه له ادبي اوصافو څخه مختلف تعبیرونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که سړی د اشخاصو شخصیت تحلیل کړي او هغه ټول صفتونه چې د اشخاصو شخصیت ترې نه تشکیلیږي، تجزیه کاندي هېڅ شک نشته چې ادبي خصایص او ممیزات پکې ستره برخه لري او د اجتماعي سعادت او شقاوت سر په همدغه ځای کې دی، دلته تاسې د ځینو بدبختو شاعرانو حال او حیات په نظر کې مه نیسئ، ځکه چې دوی د هغو ادباو په نسبت چې له مواقعو نه په خوږو، ظرافتونو او لطایفو، ادبي حکایاتو او اشعارو استفادې کوي خورا لږ دي او هېڅ په حساب کې نه راځي.

دلته غرض له ادب او ادباو څخه یوازې شعر او شاعران نه دي، بلکې هغه اشخاص دي، چې د وخت او حال له مقتضا سره سم له خپل ادبي اقتداره له خپلو اوضاعو او حرکاتو له خپلو خبرو او اظهاراتو کار اخیستلی شي او کله کله مناسب بیتونه هم په ځینو مواردو کې ویلی شي، نو دغه راز ادبا تاسې د شعر او په تذکرو او جرایدو یا مجلو کې مه لټوئ، بلکې په مجالسو او محافلو لارو او کوڅو کوروکلي کې یې وګوري، چې څومره ډېر او څومره موفق دی.

که چېرې شعر و ادب یو وبولو او شاعرانو ته د دغې ډیوې سوي پتنګان وو ایو ویلی یې شو، مګر کوم اشخاص چې د دغې ډیوې په رڼاکې ناست دي او ادبي محفل یې جوړکړی کله د شمع په نسبت او کله د پتنګ په نسپت ښه ښه بیتونه وایي او په مخکې ورته کتاب و کباب دواړه ایښي وي، دا هماغه ادبا دي چې له شعر او ادبه ګټه او استفاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چاته به پخپل کوروکلي کې ځينې کسان معلوم وي چې هغوی په خلقو کې نفوذ او تاثير لري او دغه نفوذ د دوی له ادبي اقتداره پيدا شوي وي، ځوک چې له خلقو سره په خوږه ژبه خبرې کوي، پخپل مقصد او مطلب هر څوک ښه پوهولی شي.

د خپلې مدعا دپاره ادبي دلايل چې په عامه طبقه، بلکې په خواصو هم ډېر تاثير لري. پيداکولی شي هغه هر ګوره په جامعه کې مقبوليت لري او په ادبي مهارت باندې عزت، ثروت، شخصيت، ښه شعريت، هرڅه ګټلی شي، ځکه چې ادب زمونږ په ژوند او حيات کې حاکميت لري او په دغو خوږو پسې هر څوک هڅه کوي.

کله چې مونږ خپله يو او خپګان راپېښ شوي وي. يا کوم مصيبت او بدبختي راغلې وي، نو په ادبي ويناو خپله تسلي کوو او په شعرونو خپل غم غلطوو، په دغسې احوالو کې که په يوه داسې صحبت او مجلس کې ګډون وکړو چې هلته لطايف او ظرافتونه وي ياڅوک دم او مصيبت صبر و استقامت په نسبت شعرونه وايي او راز راز حکايتونه کوي، ضرور هغه پخواني حال نه پاته کېږي او په وضعيت کې تغيير راځي. که چېرې کوم د ښادۍ مجلس وي يا د دوه تنو د پخلاکولو او نژدې کولو دپاره کوم مجلس منعقد شوی وي هلته هم ادبي منطق او ادبي استدلال دخوشالۍ شعرونه ډېر کار کوي. که د دوه تنو څه جګړه او دعوه وي، نو هم په ادبي براهينو او شواهدو ښې ښې فيصلې کېږي. دغه راز حياتي جريانات چې په نظرکې ونيسو ويلی شو چې ادب

زمونږ هغه ملګري دي، چې په غم او ښادۍ کې راسره دي او يوه خوږه يارانه راسره لري کله چې تياره او تورتم له هرې خوا زمونږ په ژوند احاطه وکړي او د علم، د عقل رڼا زيري راکوي په همدغومره وينا هم د ادب تعريف نه تماميږي بايد ووايو چې ادب په جګړو او دعوکې شاهد او حکم هم دی، ځکه چې په اکثرو مجالسو کې چې يوه خبره د څو تنو په قضاوت فيصله کيږي هلته ادب او ادبي اقتدار ډير ډير کومکونه کوي، که خبره دواړو ته ولاړه شي هغه ځای کې هم ادب لار لري او هرڅوک يې له تاثير لاندې راځي، له دغسې محافلو او مجالسو چې تير شو او خرابات ته ننوزو هلته هم دغه د پوهانو او صوفيانو اشنا (شعر و ادب) له رندانو سره ډيرې پټې او ښکاره خبرې لري او پوره محرم معلوميږي، مګر عجيبه لا داده چې دغه بزم او بزميانو همنشين د خطابو په ممبرونو هم دريږي او په مکتبو او مدرسو کې د اخلاقو درس هم ورکوي. کله چې دوطن او مليت د ناموس ساتلو وخت راشي بيا داسې سندرې وايي چې د توريالیو او ننګياليو وينې په جوش راځي او ځانونه اورته غورځوي، داځکه چې شعر و ادب د حيات هره خواکې کار لري او حصرو اختصاص نه قبلوي. هر شاعر چې ګورې په يوه شعر کې به ځان يوراز ښيي او په بل کې به بل شان معلوميږي همدغه سبب دی، چې ځينې کسان د شاعر معنیٰ په (متلون المرزاج) باندې کوي او وايي شاعر هغه څوک دی، چې د خپلو احساساتو تابع وي او هر څه يې چې په زړه وګرځي هغه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتيا وايي شاعران خپل احساسات او عواطف نه شي پټولی او ارومرو يې خلکو ته په شعر کې ښکاره کوي، مګر دا تعريف يوازې د شاعر دپاره نه دی او هر انسان همدغسې شی دی.

هرڅوک چې تاسې ګورئ د خپلو احساساتو لړ او ډېر تابع دی او له خپل زړه څخه ترجماني کوي، خو د نورو خلکو خبرې باد وړي او د شاعر پاتې کېږي، ځکه د مزاج په تلون يوازې دی يادېږي او بل چاته څوک ګوته نه نيسي. که چېرې همدغه سړی چې شاعرپه دغه صفت پېژني خپل ځانته وګوري او هير زړی نه وي پوه به شي چې انسان په ټوله اوقاتو کې يوازې نه وي او په ډېرو شيانو کې يې فکر يو راز او بل راز کېږي، ډېر ځله په کوم مجلس کې په کومه موضوع بحث کېږي او راز راز مختلف ومخالف نظريات او دليلونه راوړل کېږي، چې د اکثرو اشخاصو فکرونه هم ورسره اوړي را اوړي او خيالونه بل راز کېږي. ډېر اشخاص شته چې يوه ورځ يوه سړي ته ښه وايي بله ورځ يې بد بولي يو وخت د يوې مفکورې طرفدار وي، بل وخت د بلې. کله چې څوک د ده احساسات او جذبات راوينښ کړي بل شان شي، چې په طبعي احوالو کې بل ډول، د يوه کتاب او بل کتاب په کتلو ډېر فرق په کې راځي او واقعات وحوادث بيخي بل شی ورځنې جوړوي، نو که څوک خپل نفسي احوال او روحي کيفيات په نظر کې ونيسي ارومرو به اقرار وکړي چې زه پرون بل څوک وم نن بل څوک يم سبا به بل څوک شم، په محراب و ممبر کې يو راز جلوې کوم او په کور وخلوت کې بل شان کارونه لرم! نو دا خوي يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرنه دی د ډېرو دی. هر انسان، چې کله له دنیا نه مرورشي اخرت په خوب کې ویني کله بیا د دنیا یوه شېبه عیش او عشرت له جنتونو سره نه برابروي.

انسان په ډېرو احوالو کې د احساسي او ادبي اغیزو تابع وي او کله له تعقل او تفکرڅخه کار اخلي، ځکه چې ژوندون د اکثریت په اعتبار ادبي دی نه عقلاني، ادب او احساس د زماني او مکاني اغېزو او حوادثو له تاثیر لاندې وي او تعقل هم دغو اغیزو او تاثیراتو ته غاړه ایښې ده، نو هر کله چې ژوند د مختلفو احوالو نوم دی او شعر د شاعر رنګ پیدا کوي. یو وخت به پکې د ننګ، د غیرت خبرې وي بل وخت به ننګ وغیرت په ډېرو ولي، نو هېڅ تعجب نشته که خوشحال خان یو وخت وایي:

**مخ د هغو تور شه چې یې مینې نفساني دي**
**یوه مینه باقي ده نورې کل مینې فاني دي**
**مکړه د نفس نغوته د هوا په لوري مه ځه**
**واړه د نفس چارې شیطاني، نه رحماني دي**
**کړ د بدو مکړه بد کاران د بدو کړ کا**
**هر چې نېکوکار دي د نېکۍ په دهقاني دي**
**وخورې خملي پاځې نه دی فکر نه دی ذکر**
**ته څه سړی نه یې دا خویونه حیواني دي**
**مه اوسه بې ذکره همېشه اوسه په فکر**
**ذکر فکر واړه د زړه کار دی روحاني دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډېر خلق ناپوه دي چې يې ډار نه شي لـه مرګـه**
**خانـدي هوسـيږي پـه څـه خـوښ پـه نـاداني**

***

همدغه واعظ په بل وخت کې د نفساني مينو او خواهشاتو لـه اثـر لانـدې راځي او پـه ښـکاره نـارې وهي، چې خولـه يـې راکـړه. يا وايي:

**مست يم مې پرست يم همېشه اياغ په دست يـم**
**يو ساعت چې ځي رابا ندې غم دی بـې اياغـه**
**تـل هـوا هـوس کـړه تراولـه يـو پـه لـس کـړه**
**سـتاله غمــه څــه دي کــه زه ولاړم لــه فراغــه**

مګر په دې ويلو يې هم تنده نه ماتېږي او په ډېرو صريحو الفاظو د هغه جهان سفرهم قبلوي، خو د لاس بريوخبره ده، نو هرکله چې انسان همدغسې شی دی چې کله طاعت کوي کله ګناه او هېڅ انسان داسې نه شي کېدای چې دنفس له خواهشاتو چور لاس واخلي يا شپه او روځ په لهوولعب مصروف شي او هېڅکله ورته د مړينې فکر پيدانه شي. شعر هم نه بشپړه اخلاقي کېږي او نه بيخـې شـهواني کيـدی شـي، نوکـه څـوک پـه دې بـاب کـې شاعرملامتوي بايد مطلق انسان ملامت کړي چې ولې کله داسې او کله هغسې وي يا په بل عبارت هم دا کوي هم هغه، که چېرې شاعرهم دنورو غونډې تېګ يا هوښيار شي چې د زړه خبرې او خپل تمايل پټ کړي ژوندېې يوراز او نغمه يې بل راز وي په شعر کې به هرګوره دغه خواند او کيف په تانه شي، ځکه چې شعر خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې لامله په همدغه وجه د تاثیر او اغېزې په لحاظ له علم او فلسفې نه میدان وړی دی او هغه کسان چې ادبي او خطابي اقتدار لري او د خپل ادبي استدلال او ادبي سحر په اثر د خلقو په احساساتو لوبې کوي په هغو کسانو غلبه مومي، چې د خلکو عقلي اقناع ته توجه لري او له علمي براهینو کار اخلي، د همدې لامله د اجتماعیاتو یو لوی عالم (ګوستاولویون) وایي:

که غواړې چې یو جمعیت له خپل تاثیرلاندې راولې، نوهرڅه چې ورته وایې په تاکېدي ډول یې وایه اوپه ډېرحراراتې مکرکوه.! صحیح براهین اومثبت حقایق پرېږده او له علمي او منطقي جدل څخه کارمه اخله، له هغو حرکاتو او تمثیلو نو ډېرکاراخله چې حواس له تاثیرلاندې. مجازي عبارات،جالب نظرتشبیهات ساحرانه کلمات لکه حریت،وطن ورورولي،علم حقیقت،مساوات ډېرډېروایه! پخپلو خبرو کې دخلقو خواهشات له نظرلادې نیسه نه عقلونه،

دکوستاولویون له دې څوخبرو به معلومه شوې وي، چې د ادب تاثیر په خلقو باندې له علم او تعقل نه زیات دی او صحیح براهین یا مثبت حقایق دومره اثرنه لري، لکه چې مجازي عبارت او جالب نظرتشبیهات یې لري.

که مونږ پخپله هم په حیات کې دقت وکړو راته معلومېږي چې ادبي تعبیرات او ادبي براهین په رښتیا ډېرقوي دي او دغه راز ادبي دجال چې لکه ګوستالویون دجمعیتونو د متاثرکولو په چل پوه شوی دی او د خپلې وینا په ادبي جاذبه یا دخپلو اوضاعو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکاتو په مرسته په خلکو تاثیراچولی شي هغه که لیکونکي وي او که نه وي، پخپله شعر وایي او که د نورو له اشعارو کاراخلي په جامعه کې نفوذ پیداکوي او له علمي او عملي رجالو څخه برکښېنې.

دغه راز اشخاص چې مثالونو ښودلو ته یې ضرورت نشته پرېږدي او یوازې هغه شاعران په نظر کې نیسي، چې پخپلو اشعارو یې له پادشاهانو او لویو خلقو څخه ډېرانعامونه اخستي دي او ډېر قدرونه یې لیدلي دي د دوی شمېر هم دومره زیات دی، چې لکه خزانه هومره یو لوی کتاب پرې ډک دی او ځوتنه یې دلته یادوو:

امیرخسرو: دې شاعر له ډېرو پادشاهانو او لویو خلکو څخه بخششونه لېدلي، چې د ټولو بیان اوږدېږي یوه صله یې، چې له سلطان قطب الدین څخه اخستې ده هغه د یوه هاتي (فیل) په تول سره او سپین وو.

فرخي سیستاني: په یوه قصیده له امیرابوالمظفر ناصرالدین طغاني څخه چې دبلخ حاکم و دوه ځلویښت اسونه په جایزه کې واخیستل.

فطرتي کشمېري: په دوه بېتو له اکبر بادشاه څخه دوولس زره روپۍ انعام واخیست.

سید ذوالفقار شرواني ته په یوه مدحیه قصیده یو ه وزیر (۷) خرواره وربښنم ورکړه.

دانشي مشهدي ته شهزاده دارالشکوه په دې یوه بیت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تاکــه را ســر ســبز کــن ای ابرنیســان دربهــار**
**قطـره تـا مـی میتـو اندشـد چـرا گـوهر شـود**

***

یو لک روپۍ وبخښلې:

حياتي کاشي: ده ته جهانګيږ پادشاه د تغلق نامې په يوه مبحث باندې د ده په تول سره او سپين ورکړه.

ارزقي وايي: چې طغانشاه سلجوقي کومه ورځ د تختـه نرد لوبـه کوله، مګر لوبه يې ښه نه وه او ده ته دومره قهر ورغلی و، چې هر ساعت به يې تورې ته لاس کاوه او د مجلس خلق ډېر پـه ويره کې وو، په دې وخت کې ارزقي يوه رباعي وويله چې د ده لـه لـوبې يـې د حسن تعليل په ډول ښه تعبير وکړ او دی پـرې دومـره خوشحالـه شـو، چې پنځـه سوه طلايې ور وبخښـلې او لوبـه کـونکي هـم لـه خطره خلاص شول، رباعي داده:

**گرشاه سه شش خواست سـه يـک نقشـی فتـاد**
**تـــوظن نبــری کــــه کعبتـــين دا دنــــداد**
**شــش چــون نگريسـت حشـمت حضـرت شـاه**
**از حشـــــمت شــــاه روی برخـــــاک نهــــاد**

په دې رباعي کې نه کومه فلسفه شتـه نـه څـه علـم، فقـط همـدومره خبره ده چې طغانشـاه کعبتـين غورځـوي چـې شـپږخاله راووزي، مګر تقدير داسې پېښوي، چې د شپږو خـالو مـخ د ځمکـې لـور تـه کېـږي او درې خالـه راوزي، څـه چـې پادشـاه غـواړي هغسـې نـه کېږي، ځکه ده ته قهر ورځي او وضعيت يې بـل رازکېـږي. ارزقـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه وخت کې وايي هغه شپږ خاله چې شاه يې غواړي د شاه له هيبته مخ په خاورو پړدي او د ده دحشمت احترام کوي، پادشاه لکه چې په هيڅ خپه شوی و دغسې په هيڅ او خوشې خبره خوشحالېږي او هغه لاس چې تورې ته يې وړ بخشش ته يې اوږدوي.

دې خبرې ته څه ډېر تعجب مه کوئ انسان په همدغسې خبرو يو راز او بل راز کېږي او ادب دغسې ډېرې اغيزې لري.

سلطان محمود هم کوم وخت په بل حال کې و او د اياز د څڼو لنډولو حکم يې صادرکړ، چې د هغه څڼې لنډې شوې پخپل حکم ورته پښېمانتيا پيدا شوه چې دامې څه وکړه؟ او څه رانه وشوه؟ سلطان که څه هم ډېر ډېر کارونه کولی شو، مګر هغه څڼې يې په هغه ساعت نه شوې او پړدولی او حسن وجمال يې بېرته ژرنه شو راګرځولی.

دا پښېماني ورو ورو زياتيده او دی يې دې حد ته ورساوه، چې په مجلس کې هېڅا خبرې نه شوې کولی پوهان او هوښياران حيران وو چې څه وکړي، عقل ومنطق په دې وخت کې څه کارنه شو کولی او دا غم بې له شعره په بل شي نه سرېږ ده. د ټولو سترګې عنصري ته اوښتې او هغه څه چې په سلطانانو هم اثر او غلبه لري د عنصري په برخه وه، نو هغه راغی او دا رباعي يې وويله:

**گرعيب سر زلف بت از کاستن است**
**چه جای بغم نشتن و خاستن است**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وقـت طـرب و نشـاط و مـی خواسـتن اسـت**
**کاراســـتن ســـر و زپیراســـتن اســـت**

د دې رباعي پـه ویلـو غـم ورک شـو او خوشـحالي راغلـه سلطان د عنصري خوله درې ځله له جواهرو ډکه کړه که څوک دې رباعي تـه د کـوم حقیقت یا د تعقل په سترګه ګوري هېڅ بـه پـه نظر ورشـي او وايي به، چې په دې کې نوڅه دي؟ مګر دا هم د شعر لوی قوت دی چې هېڅ پکې نه وي هم یو لوی سلطان له خپل اثر لاندې راولـي او په ډېرو جواهرو ځان خرڅوي.

دیوه بل بادشاه نقل کوي، چې خپلې عملې ته یې وویل:

سبا به فلانکي ځای ته د ښکار دپاره ځو، مګر هر څوک که دمخه تللی و سر یې د وهلو دی، سبا چې پادشاه لـه خپلې عملې سره روان شـو ګـورې چـې یـو سـړی دمخـه روان دی او ښـکار تـه ځـي پادشاه په ډېر قهر وویل: ته نه یې خبر چې ما پرون څه ویلي وو او ستاسزا څـه ده؟ سـړی شـاعر و او پـوه شـو چـې بـې لـه شـعره بـل هېڅوک د پادشاهانو د قهر د عتاب ځواب نه شي ویلی، نو یې دا بیت وو ایه:

**مـــن ان ســـتاره صـــبحم کـــه از طریـــق ادب**
**همېشــــه پیشــــرو افتــــاب مــــی باشــــم**

***

دا بیت نه و بیخې اوبه وې چې د قهر و غضب په اورتـوېې شـوې او عتاب په لطف و مرحمت بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز ادبي اغېزې اوس هم شته، مګر په بل رنګ اوس هم که څوک چاته په دغسې خبرو سمدلاسه جواهر او طلا ورکوي، نو په زړه کې خوځای ورکوي او څو ورځې پس يې په غير مستقيم ډول تاثيرات څرګندېږي. اوس هم مونږ ملتفت نه يو کنه هر څوک تر يوه حده د خوږو خبرو او ادبي تعبيراتو له اثر لاندې راځي او د دغسې کسانو قدر کوي. يوه ورځ چا حکايت کاوه، چې زه وروسته له څه مودې مسافرت نه خپل کوروکلي ته راغلم او تقدير په دواړو سترګو په غومبسو وچيچلم، نو څوک به چې ليدو ته راته ورته به ويل کيده، چې صحت يې ښه نه دی او د راوتلو يا کښيناستلو توان يې نشته بله ورځ يو اشنا يې راغی چې د خواږه صحبت خاوند و او د هغه د خوږو خبرو خاطرات مانه وو هيرکړي.

نو هر څه مې چې وکړه د هغه له صحبته مې زړه صبر نه شو کړای او په پټو سترګو يې مجلس ته ورغلم هغه، چې زه به دې حال وليدم راته يې وويل: ډېره موده نه وې راغلی د دې ځای غومبسې هم درپسې خپه شوې وې او په سترګو يې ښکل کړې! که سړی فکر وکړي دا خبره، چې مونږ ولې چيچې او دڅه دباره دا کارکوي؟ مګر ادبي تعبيرات که څه هم واقعيت پکې نه وي، خو اثر پکې وي او ويلی شو، چې د دغه سړي ليده به هم په دغسې حال کې د همدغه راز خبرو په اثرکې وو او په حقيقت کې همدغه خبره د ليدو واسطه شوه.

دې راز خبروته بايد سړی په بې اعتنايئ ونه ګوري، ځکه چې مونږ هر يو په مجلسونوکې په همدغسې خبرو هم خوشحالېږو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم قانع کېږو، چې که څوک ورته د علم او علمي استدلال په عينکو ګوري. د قناعت وړ به نه وي، مګر څوک پکې له قضاوت او حکمت نه کار نه اخلي او په پټو سترګو يې مني.

مشهوره ده، چې کوم وخت شيخ بوعلي سينا د بو سعيد ابوالخير په مجلس کې ناست و او څوک راغی چې سرمې خوړېږي، هغه يې په دمولو شروع وکړه بوعلي سينا په خندا شو، بوسعيد ابوالخير ترې پوښتنه وکړه چې ولې خاندې؟ده وويل چې د سر درد ښايي، چې د صفرا په اثر وي، نو دم يې څه چاره کولی شي؟ سعيد ابوالخير ورته يوه سخته خبره له خولې وايسته چې شيخ ډېرخپه او متاثر شو او بيا يې ورته وويل په تاغوندې لوی حکيم باندې يوه عادي کلمه دومره تاثيرکوي، نو په دې سړي به ولې اسماالله اثر نه کوي شيخ چوپ شه او د دې خبرې په جواب کې يې هېڅ ونه شو ويلی. سړی چې د ابوسعيد ابوالخير په خبره کې غور کوي پوهېږي چې ده له ادبي استدلال څخه کار اخستی، مګر ابوعلي غوندې يو لوی سړی پرې قانع شوی او د سعيد ابوالخير په نسبت يې ويلي دي: هغه څه چې زه پرې پوهېږم دی يېويني.

په دې کې څه شک نشته چې دمونه ډېر تاثير لري او ډېرخلق پرې سمدلاسه جوړېږي، مګر دغه دليل دعلم ومنطق په لحاظ دبحث ډېر مجال لري، خو ادبي دلايل بې بحثه منل کېږي او هغه جدل چې په علمي براهينو کې کېږي دلته نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطابې مقام دا امتیاز پیدا کړی، چې څوک به یې د خبرو تردید نه کوي او هرڅه به یې اوري، په شعراو ادب کې ډېرې خبرې شته چې څوک یې د عمل ومنطق له مخې اثبات نه شي کولی، مګر د دې لامله چې منکر او معترض نه لري، نو سړی ورته مسلمان ویلی شي.

د رحمان بابا دا بیت:

**باد چې ستا په زلفو باندې نېت د پرېشانۍ کړ**
**ځکه یې ګردونه د جهان واړه په سر دي**

د واقعیت او حقیقت په لحاظ هماغسې خبره ده لکه د غومبسو چیچلو په نسبت چې دمخه تېره شوه، ځکه چې دلته هم د باد په سر د جهان ګردونه کېدل د دې دپاره چې زلفې پرېشانوي د شاعر یوتصور دی، چې دی به یې هم په زړه کې نه مني، مګر د رحمابابا دیوان به په زرهاو تنو لوستی وي او هېڅ فکر به ورته د دې خبرې په تردید کې نه وي پیدا شوی، ځکه چې ادبي لذت یې سړی دغسې سوداګانو ته نه پرېږدي. په یوه بیت کې خوشحال خان خټک هم خپلې معشوقې ته وایي:

**په ملال مه کاته عاشقان وژنې**
**ستا په سترګو کې چړې دي د قصاب**

***

مګر هېڅوک نه وایي چې په سترګو کې خو چړې نه ځایېږي او که په سترګو کې چړې وي، نو چې عاشقان وژني خو سترګې به مړې کړي، دا بیت سره له دغه اعتراضه چې هېڅوک یې نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی او نه یې کوي په اورېدونکو تاثیرکوي او د انتخاب وړ ورته ښکاري، د دې سبب همدا دی چې شعر و ادب ښې ځای لري او څوک ورته په هغه سترګه نه ګوري چې نورو خبرو ته ګوري.
په شعر کې لکه چې خوشحال ویلي:

**که په نظم کې کارګه او تپوس راوړي**
**هم د زړونو په ښکار ګرځي لکه باز**

تپوسان او کارغان د بازانو کار کوي، بلکې باز زړونه نه شي وړلی او دوی زړونه وړي.
په کومو خبرو کې چې د ادب مالګه ګډه شي هغه په هر چا اثر کوي او هر څوک یې خوښوي. وایي چې د (هارون الرشید) دوه زامن وو، چې یو پرې ډېر ګران و او بل لږ، چا ورځنې د سبب علت پوښتنه وکړه، پادشاه د هغه په مخکې خپل ناګران زوی راوغوښت، هلته څو دانې مسواکونه هم پراته وو، نو خپل دغه زوی ته یې وویل چې داځه دي؟ هغه وویل:
(مساویک) یعنې مسواکونه، دی یې رخصت کړ او خپل ګران زوی یې راوباله هغه نه یې چې تپوس وکړ، هغه داجمله استعمال نه کړه، ځکه چې دې جملې سره یې التباس درلود چې سړی چاته په عربي ووایي، چې ستا مساوي، یعنې کاف پکې خطابي شي او اضافي ترکیب شي.
نو خپل مقصد یې په بل راز ادا کړ او ویې ویل چې مفرد یې (مسواک) دي، پادشاه هغه سړي ته وویل چې اوس خوبه د دواړو په فرق پوه شوی یې. له دې واقعې او دې جواب څخه معلومېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د پادشاه یو زوی ادیب و او په ادبي دقایقو له هغه بل نه ښه پوهیده، ځکه ورته ګران و.

وګورئ! ادب او ادبي خبرې په زامنو کې هم فرق راولي او د پلار په نظر کې هم یو زوی له بل شخه ښه کوي.

له کوم با ادبه سړي نه چاپوښتنه وکړه چې ته لوی یې که فلانکی؟ ده په ځواب کې وویل چې زما کلونه له هغه نه زیات دي او داسې یې ونه ویل چې زه ترهغه لوی یم، ځکه چې ځانته لوی ویل ورته مناسب نه ښکاریده.

دا خبره البته څه علمي او فلسفي قیمت نه لري، مګر خپل ادبي قیمت په کتابونو کې ژوندی پاته شوه او د زمانې یادونه وی نه ورله.

په یوه ښه سړي چا څو اعتراضه وکړه او ورته یې وویل چې انګور خو پاک او حلال دي او د انګورو اوبه هم پاکې دي، نو شراب ولې ناپاک او نجس دي؟ بل داچې سړی که څه په سترګو نه ویني نو څه پوهیږي چې هغه شته (غرض یې له خدای څخه انکار و) دریم اعتراض یې دا و، چې کارونه خو ټول تقدیر کوي او هر څه چې چا ته مقرر وي هغه رسیږي، نو یو سړی ولې د چا په وژلو قصاص کیږي او ملامتیږي؟ د ښه سړي په مخکې یوه خښته پرته وه هغه یې را واخیسته او دی یې پرې وویشت، سړی ولاړه عرض یې وکړ او د هغه وخت حاکم دی راوغوښت، چې که تا د ده جواب نه شو ویلی، نو په خښته دې ولې ویشته او ولې دې ژوبلاوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه سړي ورته وويل: ما خو نورځه نه دي کړي او د ده درې واړو سوالونو ځواب مې ورکړی دی.

دی وايي انګور او د انګورو اوبه پاکې دي، نو شراب ولې مردار دي، ما دې پوه کړ چې دغه خښته خو له خاورو او اوبو جوړه شوه که دې څوک په خاورو يا په اوبو ووهي نه ژوبلېږي که خاورې او اوبه يو ځا ی کړي او خښته شي، نو په خښته هم څوک نه دي ژوبل شوي، مګر چې لمر ته يې کېږدي او وچې شي، نو بيا سړی ژوبلوي. بل دی وايي چې کارونه، خو ټول تقدير کوي نو يو سړی ولې په بل ملامتېږي؟ د ده ژوبليده خو هم د تقدير کار و دی ولې زما دلاسه عرض او شکايت کوي. دا چې وايي څه چې سړی په سترګو نه ويني هغه نشته، نو دغه درد چې دی ورځنې فرياد کوي دا خوهم څوک په سترګه نه ويني.

په دې خبرو حاکم هم قانع شو او عارض هم نور څه ونه شوه ويلی، مګر چې سړی ګوري دا ځوابونه ادبي دي او دغه ښه سړي که دعلم و فسلفې په اساس ورسره بحث کړی وای ښايي چې هغه يې دومره ژرنه وای قانع کړی او نه يې ځان دغسې په اسانه خلاص کړی وای.

يوه بل چا قصه کوله چې زه يوه ورځ ديوه حاکم په حضور کې ناست وم، چې يو سړی راغی او د چاله لاسه يې په سر خاورې باد کړې، حاکم ته د ده عرض بې اساسه معلوم شو چې دی دروغ وايي او په ناحقه عرضونه کوي، نوحکم يې وکړ چې ويې وهئ! سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په مخ شپېړې وخوړې بیا را وړاندې شو او ویې ویل: حاکم صاحب!

تـــا چـــې پـــه مـــخ شپېـــړه راکـــړه
لـــه اوښـــکو ډکـــې ســـترګې چاتـــه واړومـــه

د دې لنډۍ په اورېدو د حاکم وضعیت او فکر بدل شو او امر یې وکړ، چې د ده په عرض کې دې غور او تحقیق وشي.

## د ادب تاثیر په اسلامي فقه او دیني احکامو کې:

ادب او ادبي فنون خو د هر علم او هرې پوهې دپاره یوه ښه وسیله ده بشر په علم و معرفت کې اصلي او اساسي برخه لري، مګر په دیني احکامو او مسایلو کې یې دومره تاثیر وینو، چې ټوله فقه راته یو ادبي استنباط معلومېږي.

که چېرې د اسلام علماو ادبي قوانین نه وای کشف کړي او په ادبي اجتهاداتو نه وای موفق شوي هېڅکله به څوک د قران کریم په اسراو او معانیو نه وو پوه شوي او دغه موجوده تفاسیر به میدان ته نه وو راوتلي. د قران اعجاز او فصاحت، بلاغت به چاته نه ومعلوم، اسلامي فقه به نه وه تدوین شوې فرایض او واجبات به له مستحباتو او مباحاتو چا نه وو بېل کړي، هغه اوامر چې یو ازې اباحت ترې معلومېږي او هغه امرونه، چې د سوال و جواب دپاره دي دواړه به یو راز ګڼل کېده او د ډېرو حقایقو په مخ به پرده پرته وه. همدغه ادبي اصول او قوانین دي، چې خلک یې د خدای د کتاب په فصاحت و بلاغت وپوهول او د خدای احکام یې ور ښوول، د اصول الفقه، اصول البیان، اصول البلاغت، فقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللغه او صرفي او نحوي مسايلو په مرسته يې معنیٰ ته لار پيدا کړه او د فکر او اجتهاد خاوندان پيدا شول.

هر کله چې زمونږ ديني کتاب(قرآن کريم) د فصاحت او بلاغت له حيثه د اعجاز حد ته رسېدلی او زمونږ ښکلی رسول (ص) هم افصح العرب بلل کېږي، نو د دغسې کتاب او دغه راز پيغمبر په وينا پوره پوهېدل ډېره ادبي پوهه غواړي او هر څومره، چې څوک د ادب په دقايقو زيات پوه شي، هوغومره د قرآن په شاعراتو او عباراتو، دلالتونو او اقتضاآتو ښه پوهېږي او په نبوي احاديثو کې بصيرت پيدا کوي. که مونږ اصول الفقه په غور وګورو، بې له ادبي مسايلو چې په نصوصو پورې تعلق او اختصاص لري، بل شی نه دی. که چېرې د دين امامان له عربي لغت او ادب سره پوره نه وای اشنا، دغه صحيح اجتهادونه به نه وو شوي.

په اصول الفقه کې د شرعي احکامو پېژندل په څلورو تقسيمونو پورې اړه لري:

اول تقسيم: د لفظ په اعتبار دی د صيغې او لغت له حيثه چې اقسام يې دادي: خاص، عام، مشترک، ماول، دا تقسيم د کلمې په اصل وضع پورې تعلق لري.

دوهم تقسيم: د معنیٰ د ظهور او خفا په اعتبار دی، چې هريو(ظهور – خفا )څلور څلور قسمونه لري:

د ظهور اقسام: ظاهر، نص، مفسر، محکم.

د خفا اقسام:خفي، مشکل، مجمل، متشابه.

دريم تقسيم :د لفظ د استعمال په اعتبار دی اقسام يې دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیت، مجاز، صریح، کنایه.

څلورم تقسیم: د مراد او مقصد پېژندلو اعتبار دی چې قسمونه یې دا دي: عبارت دنص، اشارت دنص، دلالت دنص، اقتضا دنص (۱)

لومړی او دریم تقسیم په کلمه پورې تعلق لري او دوهم د څلورم په کلام پورې وروسته تر دغو تقسیماتو اوس د مثال په ډول د ځینو اقسامو تاثیر او اغېزه په فقه او احکاموکې د اختصار په ډول ښیو.

حقیقت او مجاز: حقیقت په درې ډوله دی: متعذر حقیقت، مهجور حقیقت، متعارف حقیقت، که چېرې دیوه لفظ حقیقي معنیٰ متعذره یا مهجوره وي د ټولو په اتفاق مجاز مرادېږي نه حقیقت[۲]

نو که یو سړی قسم وخوري، چې زه به د فلانکي کره قدم کښېږدم او بیا دهغه کاله ته په اس سپور ننوزي قسم پرې اوړي، که څه هم حقیقتاً یې قدم نه دی ایښی که چېرې له دروازې نه قدم دننه کړي او بې له دېنه چې ننوزي هغه کره قدم کښېږدي قسم پرې نه اوړي که څه هم حقیقتاً یې قدم ورکره ایښې دي، ځکه چې دلته له قدم ایښودلو نه مجازي معنیٰ مرادېږي چې ننوتل دي نه قدم اېښودل، نو حقیقت دلته عرفاً مهجور دی، همدغه شان په دې حدیث کې (لاتبیعوا الدرهم بالدرهمین ولاالصاع بالصاعین)

(۱) هرکله چې ددغوټولو تفصیل زښت ډېر اوږدېږي او په دغسې ضمني بحث کې نشي راتلای، نو له ټول تفصیل څخه به یې صرفنظر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یوه روپۍ په دوو روپو او یوه پیمانه په دوو پیمانو خرڅول منع شوي دي. د پیمانې حقیقي معنیٰ متروکه ده او غرض ورځنې د یوې پیمانې او دوه پیمانو غله ده، نو که څوک د لرګي یا د کوم بل شي یوه کونډۍ او کاسه په دوو باندې خرڅوي سود او ربا ورته نه ویل کېږي، ځکه چې له یوه لفظ څخه به یوه حال کې حقیقي او مجازي دواړه معناوې نه مرادیږي.

که یو لفظ مستعمل حقیقت لري او په مقابل کې یې متعارف مجاز نه وي موجود د ټولو په اتفاق حقیقت مراد دی نه مجاز او که متعارف هم دی، نو امام ابوحنیفه رح وایي چې حقیقت اولیٰ دی او د امام محمد او ابو یوسف په نزد د مجاز په عموم باندې عمل کېږي.

د دوی اختلاف هلته معلومېږي چې یو سړی قسم یاد کړي چې زه دغه غنم نه خورم او بیایې نینې یا ډوډۍ و خوري، نو د امام ابو حنیفه په نزد د نینو په خوراک حانث کېږي او د ډوډۍ متعارف مجاز دی، نو دی حقیقت ته په مجاز باندې ترجیح ورکوي، مګر د هغو دوو نورو امامانو په نزد د دواړو خوراک د مجاز دعموم په ډول حانث کېږي.

## صریح او کنایه:

سریح هغه لفظ دی چې معنیٰ یې څرګنده او ښکاره وي او کنایه هغه کلمه ده چې معنیٰ یې څه قدرته پټه وي، د فقه په احکامو کې دا دوه لفظونه ډېر فرق لري، که صریح الفاظ د چاله خولې ووزي لکه طلاق او عتاق که د ټوکو په قسم وي او که په زړه کې یې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مطلب نیولي وي هم خپل کار کوي او طلاق یا عتاق واقع کېږي او نیت ته هېڅ ضرورت نشته، مګر په کنایاتو کې نیت یا د حال دلالت ضرور دی، که یو سړی په غلا (سرقد) یا زنا اقرار وکړي، نو د دې لا مله چې دا الفاظ صریح دي حد کېږي، یعنې د غلا په اقرار یې که له لسو روپو کمه نه وي لاس غوڅېږي او په دې بل اقرار په دُرو کېږي یا سنګسارېږي، مګر که د زنا د کلمې په عوض جماع ووایي یا د غلا او سرقې په ځای (مثلاً) ووایې چې جماع هسې یو ځای کېدو معنیٰ هم لري او اخستل هم ډېر ډولونه لري او احتمال لري چې په بیع به یې ورنه اخستي وي.

## ظاهر نص، مفسر محکم:

هغه کلام چې مراد یې ښکاره وي او تامل او پوښتنې ته پکې حاجت نه وي او له صیغې څخه مطلب او مراد معلومېږي ظاهر ورته ویل کېږي او نص هغه وي چې له ظاهرنه پکې وضاحت زیات وي.

که څوک ووایي: ماته چې د کلي خلک راغله، نو احمد مې ولید. دلته د کلي د خلکو راتګ یوه ظاهره خبره ده چې څه خفا نه لري، مګر د احمد لیدل نصي بلل کېږي، ځکه چې دلته علاوه د معنیٰ په ښکاره والي د کلام صوق هم د احمد دلیدلو خواته دی او خبره اصلاً د همدغه مطلب دپاره روانه شوې ده.

مفسر هغه کلام دی چې له نص نه هم پکې زیات وضاحت وي او د تاویل وتخصیص احتمال پکې هېڅ نه وي موجود لکه دا ایت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«فسجد الملکة کلهم اجمعون» په دې ایت کې د ملایکو سجده کول ظاهر بلل کېږي، مګر د ادم علیه السلام تعظیم پکې نص دی ځکه چې د کلام سیاق د همدغه تعظیم د بیان د پاره دی، یعنې همدغه تعظیم بیانول پکې اصلي مقصد دی.

هرکله چې« فسجد الملکة » وویل شوه دا احتمال پیدا شو، چې ټولو ملایکو به سجده کړې وي او که ځینو؟ ځکه چې د جمع اطلاق په درې تنو او دوو باندې لاهم کله کله کیږي بل دا احتمال هم و، چې هرې ملاکې به یوازې یوازې ورته سجده کړې وي که ټولو به یو ځای سر په ځمکه ایښی وي؟ چې«کلهم اجمعون» وویل شوه دغه احتمالات رفع او کلام مفسر شو (۱)

که چېرې ددغو درې قسمو(ظاهر، نص، مفسر) یو له بله تعارض پېښ شي، نو مفسر په نص او نص په ظاهر قوي دی، لکه په دې دوو ایاتو کې:

«واحل لکم ماوراء ذلکم ان تبتغوا باموالکم»، «فانکحوا ماطاب لکم من النسامثنې وثلث ورباع» چې په لومړي ایت کې بې له محرماتو چې په ایت کې دمخه ذکرشوي دي د نورو ښځو روا والی هر څو چې وي د عدد له تعینه ترې معلومېږي او دوهم ایت له څلورو نه زیاتې نه رواکوي، نو دلته د دواړو ایاتو مقابله راغله، مګر د دې لامله چې دوهم نص او لومړی ظاهر دی دا حکم په هغه زورور شو او له څلورو نه تجاوز نه دی روا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د استثنا بحث:

د دین د مجتهدینو اکثر مذهبي اختلاقات په ادبي اختلاف مین وي چې یو له دغسې اختلافونو څخه د استثنا بحث دی،په دې بحث کې د امام اعظم(ابوحنیفه) او امام شافعي رحمة الله علی هما ترمنځ اختلاف دی.

امام اعظم صاحب وایي که یو سړی اقرار وکړي، چې په ما باندې د فلانکي سل روپۍ دي، مګر لس کمې نو داکلام په حقیقت کې داسې دی، لکه چې ده ویلي دي د فلانکي پر ما باندې نوي روپۍ دي، یعنې لکه چې په لسو باندې بیخي له اصله اقرار نه وي شوي اما شافعي صاحب وایي چې نه، ده یو ځل په سلو اقرار کړی وروسته یې لس د جګړې او معارضې په ډول ترېنه کمې کړي.

دا اختلاف ښایي چې ځینو کسانو ته لکه یوه لفظي نزاع داسې ښکاره شي، مګر په شرعي احکامو او د قران کریم په تفسیر کې دخل او تاثیر لري شافعي(رح)وایي: که مونږ استثناً داسې وګڼو لکه چې په مستثنا بیخي اقرار نه وي شوی، نو د توحید د کلمې (لاالـه الله ) معنیٰ به داسې شي، چې نور خدایان نشته، یعنې د نوروخدایانو نفي به یې معنیٰ شي او اثبات به پکې را نه شي، مګر که مستثنی د معارضې په ډول له مستثنی منه څخه جلا کړو معنیٰ به یې داسې شي: نور خدایان نشته، مګر یو خدای شته، نو هم نه نفي شي او هم به اثبات شي امام اعظم صاحب په ځواب کې وایي، چې په کلمه توحید کې مقصد د نورو خدیانو نفي ده، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د خدای په وجود ، خو مشرکان هم قایل دي، مګر شریکان ورسره پیداکوي او که مونږ په استثنا کې په معارضه قایل شو ، چې لومړی په ټولو حکم وکړو بیا مستثنې ورځې وباسو ، نو په دې ایت کې ((فلبث فیهم الف سنة الاخمسین عاما)) چې خدای پاک فرمایي:

نوح علیه السلام پخپل قوم کې پنځوس کم زرکاله تېر کړه که اول په زرو کالو حکم وکړو او بیا پنځوس ترینه وباسو د خدای په کلام کې به کذب راشي((نعوذبالله منها))همدغه د استثنا په مساله کې یو بل ځای هم دا دواړه امامان اختلاف لري که یو سړی ووایي، چې په ما باندې زر روپۍ د احمد دي، زر د محمود دي زر د زید دي، مګر سل کمې. امام شافعي صاحب وایي چې د هر یوه لکه شرط چې له هر یوه معطوف سره تعلق پیدا کوي دغسې استثناء هم ده، مګر امام اعظم صاحب وایي چې سل روپۍ یوازې له وروستي سړي څخه کمېږي او شرط او استثنا یو له بله فرق لري، ځکه چې که د شرط په ډول سړی ووایي زه به یوه میاشت روژې ونیسم یو ځل به پسه خیرات کړم، یو ځل به قران ختم کړم که فلانکی راغی، نو شرط له درې واړو جملو سره تعلق پیدا کوي، مګر استثنا یو له بله فرق لري، ځکه چې که د شرط په ډول سړی ووایي زه به یوه میاشت روژې ونیسم یو ځل به پسه خیرات کړم یو ځل به قران ختم کړم که فلانکی راغی، نو شرط له درې واړو جملو سره تعلق پیداکوي، مګر استثنا هغسې نه ده او بېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم لري دا بحث د دوی ترمېنځ دعربي ادب به لحاظ ډېر دقيق نکات لري، چې نور بخث پکې د طوالت موجب ګرځي

## لغوي تدقيق:

لغوي تدقيق هم په ديني احکامو کې ډېر تاثيرکړی دی، چې د نمونې په ډول يې دا څومثالو نه ښيو:

په دې ايت کې ((ولاتقل لهمااف)) چې خدای پاک د مورپلار په حق کې ((اف)) ويل منع کړه. د لغوي تدقيق خاوندان په دې پوه شول چې له دې کلمې څخه غرض اذيت او ضرر دی، ځکه چې دا معنیٰ په دې لغت کې پرته ده او اهل لغت پرې پوهېږي، نو د دغه لغت په تقاضا په همدغه ايت د مورو پلار وهل او رټل هم منع شول، ځکه چې په دې کې اذي او ضرر لازيات دي، مګر که په کوم قوم کې د (اف) کلمه د خوشحالتيا دپاره استعمالېږي او څه ضرر پکې نه وي، نو بيا اف ويل څه ګناه نه لري.

په عربي کې د (لحم) کلمه چې په پښتو يې غوسه بولي له (التحام) څخه مشتقه ده څوك، چې په دغه ژبه کې د لغوي ذوق خاوند دی هغه پوهېږي چې په دې کلمه کې دشدت او قوت معنیٰ پرته ده، چې هغه معنیٰ د کب (ماهي) په غوښه کې نشته، نو که څوك قسم وخوري چې زه (لحم) (۱) نه خورم او بيا کب وخوري قسم پرې نه اوړي، ځکه چې دې ته د لغوي تدقيق په لحاظ لحم نه ويل کېږي (۲)

همدغه شان که کوم عرب وو ايي چې زه (فاکهة) نه خورم او بيا انګور خوري، ده فکهه چې مونږ ورته ميوه وايو نه ده خوړلې ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په عربي کې فاکهه دخوراك هغو شيانو ته وايي چې تلذذ پکې وي او غذا نه وي، نو د دې لامله چې په انګور کې غذايت شته له فاکهې څخه دلغوي تحقيق په لحاظ وزي.

فقهي مسالې له ادبي مسايلو بيان او معاني يا نورو ادبي علومو او فنونوسره داسې تاوې راتاوې دي، چې ځوك يې يوله بله نه شي بيلولی او د همدغسې قوي ارتباط په اثر کې ويلی شو، چې د اسلامي فقهې زياته برخه له هغو ادبي تدقيقاتو راوتلې ده چې د دين امامانو او عالمانو په عربي لغت او ادب کې کړي دي.

که ځوك غواړي، چې د خدای په کلام پوه شي په فقه کې دې بصيرت پيدا کړي او د احکامو فلسفه ورمعلومه شي بايد اديب شي او په ادبي دقايقو وپوهېږي په کلماتو کې عام وخاص، مشترك و موؤل، حقيقت و مجاز صريح وکنايه وپېژني، د کلام سياق و سباق، د ظهور او خفا مراتب ورمعلوم شي. د نص په عبارت او اشارت دلالت و اقتضا پوه شي او په استعماراتو کې بينايي پيدا کړي. همدغه سبب دی چې له ديني پوهې سره ادبي پوهه هم تړلې ده او يو بينا فقيه هېڅکله له ادب او ادبي علومو نه شي مستغني کيدای. که دغه احتياج او دغه تلازم په تفصيل سره وښودل شي يو کتاب پرې ډکېږي او په دغسې فصل يا باب کې نه ځايېږي، ځکه په همدغومره لږ بحث اکتفاکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ابن زبعري د اعتراض ځواب:

د دې ایت په استناد (انکم وماتعبدون حصب جهنم) ابن زبعري د اعتراض په ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې وویل:

چې عیسی (ع) او عزیر(ع) ته خو هم عبادت شوی دی، نو دوی به هم په اورسوځي؟ رسول الله (ص) ورته په جواب کې وویل: (ما اجهلك بلغة قومك) یعني ولې دخپل قوم په ژبه نه پوهېږي او د دې امتیاز نه شې کولی چې (ما) په (ما تعبدون) کې د غیر ذوي العقولو دپاره استعمالېږي او د ذوی العقولو دپاره په ژبه کې (من) استعمالېږي، نو دلته غرض بوتان او اصنام دي.

وګورئ په دې ځای کې زمونږ پېغمبرد دې اعتراض ځواب د ادب په اصولو او د لغت د تدقیق په اساس څنګه ښه کړی دی او په دغسې ادبي دقایقو پوهېدل دقران په لحاظ څومره ضرور دي. دغه راز ادبي پوهه معرفت کې ډېره اغېزه لري او معلومېږي چې د ډېرو دیني مسایلو نیلي او ریښې ورپورې تړلي دي.

## د ادب ښه او ګاڼه:

په یوه ادبي کلام او شعر کې دوه ډوله ښکلیتوب وینو چې یو د ادب په معنوي او حقیقي پیکر او صورت کې ځای لري بل یې په لباس او زیور کې. دا دوه جماله باید یو له بله وپېژندل شي او هر یو د خپل قیمت په لحاظ اهمیت ولري ځینې اشخاص ښایي، چې یوازې په رنګینو الفاظو او دکلام په اقسامو باندې لوبې کول ادب وبولي، مګر د ادب بیناد د معنا په لحاظ په نورو شیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه دی، چې عواطف او احساسات، خیال او تمثیل یې بولي پخوانیو ادباو او د ادب مبصرینو او منقدینو د ادب دپاره څه احکام او اصول مقررکړي دي، چې باید کلمات او د کلماتو ترکیب له هغو مقرراتو سره سم وي او کلام هم د دوی د موضوعه اصولو په قرار د بیان وبدیع په زیور او ګاڼه ښایسته شي.

په دې کې هیڅ شك نشته چې دا شیان د کلام په محاسبو کې تاثیر لري او څوك چې په ادب باندې بحث کوي او ادبي خصایص بیانوي ضرور به په دغو ادبي اصولو او احکامو هم بحث کوي، مګر حقیقي ادب د اوسني پوهانو په نظرکې بل شی دی او څه چې پخوا نوور ته په ډېره اعتنا او مقصودي نظر کتل دوی ورته د اداتو او ادواتو په نظرګوري.

اوس خلك د ادب ذاتیاتو او ذاتي خصایصوته ډېر اهمیت ورکوي او پخوا د ادب حلیه او ګاڼه ډېره له نظر لاندې وه. که څوك د اوسني او پخواني ادب فرق د اسلوب په ضعف او تانت باندې کوي دا فرق صحیح نه دی، ځکه چې په دواړو کې ضعف او متانت پیدا کولی شو، د دې دوو ډولو ادب صحیح فرق دا دی هغه څه چې په پخواني ادب کې غایه وه اوس واسطه ګڼل کېږي، یعنې لفظي او معنوي صنایع چې په قدیم ادب کې د غایې په حیث لیدل کېده اوس د واسطې حیث لري او په ادب کې نسبت پخواته د کایناتو او حیات خفا یا او دقایق په وسیع او اصلي نظرکتل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ادبي فنون او ادبي مسایل چې په بیان وبدیع او معانې کې ورڅخه بحث کېږي هغه ټول دفصاحت او بلاغت له عنوان لاندې راځي او همدغه دوه شیه اصلي او اساسي بلل کېږي.

**فصاحت:** د ظهور او څرګند والي په معنیٰ دي او هر کلمه یا کلام چې مطلب او معنیٰ یې ښکاره وي فصیحه کلمه او فصیح کلام ورته ویلی شو. د دغسې کلام ویونکي ته هم فصیح ویل کېږي، یعنې فصاحت یو صفت دی چې کلمه، کلام، متکلم درې واړه پرې ستایلی شو، دکلمې فصاحت دا دی چې غیر مانوسه او له لغوي قیاسه مخالفه نه وي او حروف یې هم تنافر ونه لري، نو کومه کلمه چې په ژبه کې مانوسه نه وي او استعمال یې نادر وي لکه: بژه کیدل غیر فصیحه کلمه ورته ویلی شو همدغه شان (واخاني) (وکاني) د (واخلئ) په ځای د دې لامله چې له لغوي او صرفي قانونه مخالفت لري غېرفصیح الفاظ دي، د حروفو تنافر او ثقل په صحیح ذوق معلومېږي او کم معین قانون ورته نه شو ټاکلی.

د کلام فصاحت دا دی چې له فصیحو کلماتو یې ترکیب راغلی وي او دغه ترکیب په نحوي قانون برابر وي او څه ضعف ونقصان یې په تالیف کې نه وي، یعنې لکه چې د کلمې په فصاحت کې له صرفي او لغوي قانون سره مطابقت لازم دی دغسې په کلام کې هم د نحوي قانون مراعات ضرور دي.

که چېرې کوم کلام په ترکیب او تالیف کې څه نقصان ولري یا یې کومه کلمه په مقصودي معنیٰ واضح دلالت نه کوي، نو په کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تعقيد پيدا کېږي او معنیٰ يې مبهمه کېږي، يعنې د فصيح کلام له تعريفه وزي.

د فصيح کلام په تعريف کې ځينې دا ټکي هم زياتوي چې بايد يې فايدې تکرار پکې نه وي.

## بلاغت:

د بلاغت لغوي معنیٰ اخر وانتها ته رسېدل دي، نوکه څوك پخپل عبارت اوخپله وينا دخپل مقصد او مراد انتهايي حد ته ورسيږي دا هم بلاغت بلل کېږي او د ادب په اصطلاح همدغه د بلاغت معنیٰ ده.

بلاغت دکلام او متکلم صفت کېدی شي، مګر يوې کلمې ته بليغه کلمه نه ويل کېږي د فصاحت او بلاغت بل فرق دا دی چې دفصاحت رجع لفظ ته ده او دبلاغت معنیٰ ته په هر بليغ کلام کې اورومرو فصاحت موجود وي او بې فصاحته يوه کلام ته بليغ نه شي ويلي، مګر بلاغت له فصاحت سره نه دی تړلی او بې بلاغته هم فصاحت موجودېدلی شي او دا دواړه د بسيط او مرکب مثال لري يا لکه جنس او نوعه داسې دي.

دبلاغت په تعريف کې ويل شوي چې بلاغت ديوه کلام مطابقت دی له مقتضای حال سره، يعنې هغه کلام چې له محل او موقع د مخاطب او ويونکي له حال سره سم او مناسب وي هغه بليغ کلام دی. د دې لامله چې د فصاحت او بلاغت بحث د ټولو ادبي فنونو په بحث کې شامل دي او مستقل کتاب غواړي او په دې باب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه لیکل شوي هم دي، نو دغه د ادب د ګاڼې برخه (ادبي فنون او صنايع) پرېږدو او د ادب په بڼه او اصلي وجود څه خبرې کوو.

او سني ادبيان او ادب څېړونکي په ادب کې اصلي او جوهري شيان لکه د مخه وويل شوه عواطف او احساسات، تخيل او تمثيل ګڼي او د شعر او ادب تاثير او اغيزه هم په همدغو شيانو کې ګوري نه په صنايعو کې.

## عواطف:

عاطفه هغه داخلي قوه ده، چې په نفس کې تاثير لري او نفسونه متاثر کوي، مګر دا هم بايد ووايو چې ټول هغه شيان چې په نفس اثر کوي حقيقي ادب يې نه شو بللی، ځکه چې ځينې شاعران او خطيبان چې عمومي اميال ور معلوم دي د عوامو په شعور لوبې کوي او د ځينو کلماتو په استعمال لکه: وطنيت، مليت، قومي لوړتيا... د دوی احساسات راوپښوي او متاثر کوي يې، مګر دا تاثير د اني اقتضاتو تابع وي، نو چې هغه اقتضاات بل راز شي د دوی وينا بيا هېڅ قيمت نه لري او في الحاله له اعتباره لوېږي، دغه راز عواطف چې يو ټينګ حقيقي اساس نه لري د بليغ ادب مميزه نه شي کېدای، نو په عواطفو کې څو شيه ضروردي چې دلته پرې بحث کوو.

## د عواطفو صدق:

د عاطفې صدق دا دی، عاطفه يو حقيقي اساس ولري او د شاعر د زړه غږ وي. که په يو شعر کې دا شی نه وي، نو ساړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشبیهات، پیکه توصیفونه، تکلفي مبالغې څه تاثیر نه لري او ذوق ورځنې نفرت کوي.

بلیغ او عالي ادب کله چې ځینې کسان ګومان کوي په وهم او کذب نه دي، بلکې دعواطفو په صدق مبني دي. که تاسې یو غزل را وخلئ چې شاعر پکې د زړه په شعور د جمال لوړو مدارجو ته رسېدلی وي او دعاطفې صداقت پکې وي او له یوه بل غزل سره یې مقایسه کړئ، چې په تکلف او تصنع جوړ شوی وي او له مبالغو نه ډك وي رښتیاني عواطف پکې نه وي او محض لفاظي وي، درته معلومه به شي چې د تاثیر په لحاظ دځمکې او اسمان قدر فرق لري.

د ځینو عروضي شاعرانو ځینې اشعار چې د ادبي صنعتونو، تشبیهاتو او استعارو زور پکې لیده شي او له مبالغو نه ډك وي هغو ملي سندرو قدرته خوند او تاثیر نه لري، چې شاعرانو جوړې کړي او ډېرې ساده وي، ځکه چې په دې راز سندرو کې یوه صادقه مینه، یو رښتیانی جوش او عواطف موجود وي، چې په زړونو اثرکوي.

د مثال په ډول دا دوه نمونې وګورئ:

لومړی نمونه چې له صنعت او تشبیه پکې کار اخستل شوی:(۱)

**روغ به نه شم بې وصاله راشه کښېنه**
**څه خبر زما له حاله راشه کښېنه**
**اخر کړی دی فرار رم سر ښتانو**
**د وحشت په خوی غزاله راشه کښېنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه مــراد د عنــدليب بــې وفــا ګلــه
جلــوه ګرشــوې پــس لــه کالــه راشــه کښــينه
زه ارام لکــه بســمل پــه پرهــار مــومم
د خپــل يــار شــام وهلالــه راشــه کښــينه
نــازکې د يــار د طبــع کــړه موزونــه
ای شــيدا نازکخيالــه راشــه کښــينه

دوهمه نمونه د ملي سندرې يوه ټوټه:

نــن زمــا دپــاره تــه امېــل پــه غــاړه راځــه
لــه هوســه غورځــوه لســتونې دواړه راځــه
په کالو چې ځــان سنبال کــړې زينــت ناکــه شــې
تــه لــه نــورو بخونــو زياتــه ښــيوه ناکــه شــې
د عاشــقو لړمانــه لــره قصــابه شــې
نــن زمــا دپــاره تــه امېــل پــه غــاړه راځــه
له هوســه.......................................................

***

چــې بورجــل لــره راځــې عــالم خبــر کــه تــه
پــه زلفــانو ورتــه پــورې مښــک عنبــر کــه تــه
يــو ځلــي خــو پــه عجــم ځــان برابــر کــه تــه
چــې مــوزي کــره شــوې بنــده ژاړه ژاړه راځــه
نــن زمــا دپــاره تــه امېــل پــه غــاړه راځــه
لــه هوســـه..............................................

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ! په دې دوه نمونه کې یوه ارزو او یو هوس لیدل کېږي په لومړۍ نمونه کې شاعر خپلې معشوقې ته وایي، چې راشه کښینه او په دوهمه نمونه کې ورته وایي چې امېل په غاړه او په ډېر هوس راځه! مګر دوهم اواز، چې د زړه غږ دی ډېر خوږ لګي او یو بل شان اثرلري.

لومړنی شاعر له خپلې نازکخیالۍ کار اخلي او خپلې محبوبې ته رم سرشته غزال بې وفا ګل، د خمو ابرو او شهلا سترګو لرونکې او شام وهلاك وایي او خپله ځان ورته بسمل معرفي کوي، مګر سره له دې ټولو تشبیهاتو او استعمارو بې له دې نه چې ووایو په دې شعرکې میو مړاوي بې روحه جمال پروت دی نور به څه ووایو.

په دوهم شعرکې چې یو ه رښتیانۍ ارزو او حقیقي عاطفه موجوده ده او له ساختګي خبرو نه کارنه دی اخستل شوی لکه هر څه چې زړه غوښتي دي هغه ویل شوي. شعر یو مستي او جذابیت پیدا کړی او په عواطفو کې تحریك پیدا کوي.

یو شاعر باید په دې پوه شي چې شعر او غزل د زړه له ارزو او احساسه د اثر اقتباس کوي نه له ادبي صنایعو او هماغه شعر په زړونو ډېره اغیزه کوي چې له زړه راوتلي وي، نو باید سړی زړه د شعر ماخذ وګڼي او له احساساتو او عواطفو، قلبي تمایلاتو او رښتیانیو جذباتو په کې کار واخلي. په دې صورت کې نوتشبیه او استعماره، تخیل وتمثیل هم ورح پیدا کوي او په ادبي صنعتونو کې هم یو حقیقي کیف پیدا کېږي، مګر که سړی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر کې یو ازې ادبي فنون استخدام کړي او بې له کوم قلبي تاثره رنګین الفاظ پیدا کوي او سره نښلوي یې نظم به جوړشي، فن وصنعت به پکې وي، مګر د زړه متحس کولو او د بدیعي احساساتو دتحریك قوت به پکې نه وي.

همدغه ټکي ته (سرفلیپ سیدني) پریوتی دی چې وایي، ما غوښتل چې له خپل رښتیاني عشق نه یو غزل جوړکړم او خپل ټول رنځونه پکې ځای کړم ګوندې زما په عزیز اشنا اثر وکړ او زړه سوی پکې پیدا کاندي په دې فکر راپاڅیدم څه بدیعي صنایع چې ذوق خوښول هغه مې مطالعه کړه کتابونه مې ولټول چې څه ښکلي کلمات او تعبیرات پیدا کړم کلمات په ډېر تکلیف پیدا کېدل او هر کلمه د ذوق انتخاب ته اړه وه، بدیعي صنعت چې د فطرت مولود و د دقت او مطالعې په مخکې یې ځای نه درلوده، د نورو بحرونه او اوزان او د موسیقي څپې ماته نا اشنا ایسېدې، چې کتل مې زما طبعي د فصیحي وینا توان نه درلود او سریې دعاجزۍ په میدان کښېښود، قلم مې په غاښ کړ او شونډې مې له قهره وچیچلې په دغه وخت کې راته ذوق وویل: لیونیه! خپل زړه ته رجوع وکړه او هرڅه چې وایي هغه لیکه! د دې نوموړي شاعر له وینا څخه هم پوره نه لټوي، چې ښکلي کلمات او تعبیرات پیدا کړي بې له دې نه چې قلم په غاښ کړي او شونډې وچیچي نور څه لاس ته نه ورځي، مګر که زړه ته مراجعه وکړي او د زړه د وینا ریکارډ ثبت کړي هغه چې هر څه وي ساده خبرې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تشبیهات او استعارې وي په دوارو حالونو کې ورته شعر ویلی شو او تاثیر پکې وینو.
د مثال په ډول یو څو نور شعرونه هم وګورئ، چې په ځینو کې ادبي فنونو کې دومره ډېرنشته او یوازې دهمدې لامله چې دزړه نارې دي په زړه اثرکوي، مګر ځینې نور چې څه قدرته په تکلیف او د صنعت په زور جوړ شوي ښایست لري، خو دلبري او دلربایي نه لري:

لومړی قسم شعرونه: (۱)

**په سرو لبانو دې پېزوان وهي ټالنونه کنه**
**زلفې جالونه کنه**

***

**سترګې دې تورې جلې – زلفې سمسورې جلې**
**ستاپه تندي کې عجب خوندکاشنه خالونه کنه**
**زلفې جالونه کنه**

***

**وخت د بهار دی جلې – وطن ګلزار دی جلې**
**راځه شا کړي ستا غمونه غرونه کنه**
**زلفې جالونه کنه**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې تا مې تاب وي کله – په ماکې اب وي کله
ما په شا کړي ستاغمونه غرونه کنه
زلفې جالونه کنه

***

د باره خان خبرې – درومرجان خبرې
زما د شعر نه قربان شه نور شعرونه کنه
زلفې جالونه کنه

(باره خان)

(۲)

چېچې مې په زړه ځي دغم داسې داسې
ژوندون مې کړ تنګ ستا ستم داسې داسې
نه پاتې مجنون نه فرهاد نه شيرين شه
فنا شو په عشق کې عالم داسې داسې
سيلاب مې د اوښکو په مخ ځي همېش
بهيږي له سترګو مې نم داسې داسې
مين دې د در يم اى ماه جبينې
کړيږم مدام خورم قسم داسې داسې
غماز مې پرېباسي د غم په خندق کې
زه غواړم مدام ستا کرم داسې داسې
نور وزه! مشال د عمل ځانته بل کړه
شته ځاى دخطر په تورتم داسې داسې

(نوروز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

مسته په خندا د جینکو په مخکې میره ځي
خیال يې په چا نشته دی د ټول مالت کجیره ځي

***

مسته چې منګی په تندي کښېږدي نېغه نېغه ځي
مخکې شي له نجونو ګودر غاړې ته بېدریغه ځي
واړه عاشقان يې له دنیا څخه بې تېغه ځي
دا لکه کوتره له دې ټولو هوا ګیره ځي

***

مه کوه خونکارې دومره کبر په خوارانو ته
رحم کرم بویه په بې وزلو عاشقانو ته
مه اخله ازار د کباب شوو پتنګانو ته
ودې سوم په شمع سرې لمبې مې د ضمیره ځي

***

وه د نجونو میرې ته لا څومره لوی دماغ لرې
زه د بڼ طوطي یم ته د سرو ګلونو باغ لرې
تا ته کتی نه شم په تندي کې بل چراغ لرې
نجونې د مالت واړه دا ستا د ورورسته څیره ځي

***

وخت د پسرلي دی وطن ټول د ګل په خبر شنه
سخت ساعت د ژمي د هر چا له زړګي هیر شنه

ورې چې بلبل و د ګلاب په پرخه سیر شنه
نن د باغ په لوري هغه ستا اشنا خانمیره ځي
(خان میر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم قسم اشعار چې دصنعت په زور جوړشوي:

(۱)

**خط په مخ د صنم راغی که میاشت ګیر شوه په هاله کې**
**دا یې غاښ په خوله کې زیب کا که ژاله شوه په لاله کې**
**هسې رنګ سحر جادو کا په نظر د شهلا سترګو**
**نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې**
**لکه ونښلي مرغۍ چې په سست دام د سلو لومو**
**هسې زه پرېشانو زلفو کې ایستم په کشاله کې**
**دا زما له غمه شین زړه پکې خیال د یار د زلفو**
**هسې رنګ زیب و زینت کا لکه مې په شنه پیاله کې**
**ما ویل عین ګنه ګل دی د غنچې په لمن نغښتي**
**که مې کوت یو ګل اندام و پروت په سبزه دوشاله کې**
**سر تر پایه تیغ د هجر لکهني سوری سوری کړم**
**ځکه یم مدام دا هسې په فریاد و په ناله کې**
**که یار غواړې هومره ژاړه څو درځي عبدالحمیده**
**دا په دا چې در مونده شي په دریاب نه په ناله کې**
**(حمید )**

(۲)

**دا حسینه پري مسته په خوا راغله**
**که دې مځکې ته سپوږمۍ د سما راغله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه رونتیـــوب زمـــا د اوښـــکو شـــبنم نـــه دی
غنچـــې خولـــه چـــې د ګـــل رخ پـــه خنـــدا راغلـــه
دجنـــون زنځیـــر مـــې پریـــووت وګـــردن تـــه
چـــې پـــه زړه مـــې ســـتا د زلفـــو ســـودا راغلـــه
چـــې دې تیـــغ دغمـــزې واچـــاوه وځنـــګ تـــه
زه هغـــه ســـاعت شـــوم پـــوه چـــې قضـــا راغلـــه
پـــه ژړا بـــه مـــې لمـــن لنـــده وي ډیـــره
کـــه څرګنـــده مـــې پـــه ســـترګو شـــهاراغله
خانګـــل ګـــل دمضـــمون تـــول ترهســـې حـــدکړ
چـــې بلبلـــه د فارســـي پـــه ژړا راغلـــه
(خانګل )

(۳)

دا پـــه خـــوب کـــې راښـــکاره شـــو د دلبـــر مـــخ
کـــه پـــه ابـــر کـــې ښـــکاره شـــو د قمـــر مـــخ
چـــې یـــې ولیـــده دا ســـتا جـــوهر د غاښـــو
پـــټ لـــه شـــرمه پخپـــل اب کـــې کـــړ ګـــوهر مـــخ
لـــه حیـــا دې غـــټ مـــخ تـــه کتـــې نـــه شـــم
کلـــه لیـــده پـــه خـــوړو ســـترګو شـــي د لمـــر مـــخ
را پـــه یـــاد چـــې دې د ســـرو شـــونډو خـــواږه کـــړم
ټکـــوم لکـــه مګـــس عبـــث خپـــل ســـر مـــخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قلنـــــدر د مبـــــرا هلتـــــه عاشـــــق بولـــــه**
**کـــــه يـــــې ونيـــــو ســـــتا بـــــانړو تـــــه د ټټـــــر مـــــخ**
(قلندر)

لـه دې دوه ډولـه اشـعارو څخه بـه معلومـه شـوې وي چـې ځينـې شاعران د ځينو اشعارو پـه جوړلو کې لکه صنعتګران فکرکوي چې يوه کلمه لـه يوه ځايـه او بله ځايـه را پيدا کړي او پيوند يې کاندي، نو وروسته تر ډېرو فکرونو او کوښښونو يو نظم جوړشي چې تکلف او صنعت پکې لـه ورا معلوم وي او لکـه چې يـو شاعروايي:

**هـــــر کـــــه ســـــخن را بســـــخن ضـــــم کنـــــد**
**قطـــــره ای از خـــــون جگـــــر کـــــم کنـــــد**

***

دا منظومه هم په ډېرې جګرخونۍ او ډېرو فکرونو جوړه شوې ده، نو دغسې شاعرته لکه چې خواجه حافظ وايي:

"صنعتګر است، اما طبع روان ندارد."

صنعتګر ويلي شو، مګر د رواني طبع خاوند يې نه شو بللی.

ځينې نور شاعران داسې وي چې دوی تـه د جمال يا حقيقت پلوشه په يوه شي کې ځان ښکاره کړي يا يو بل نفسي او قوي عامل پيدا شي، نو عواطف او احساسات په جوش راشي او بې له څه بندش او تامله د زړه الهامات پـه خولـه راځي. دا راز اشعار ساده وي او که رنګين پـه اورېدونکو اثرکوي، بلکې اثر نـه چې سحر وجادو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز شعرونه لکه چې په ملي سندرو کې وينو د ديو ان د خاوندانو په اشعارو کې يې هم ډېرې نمونې مومو او د رحمان بابا او حميد ، د خوشحال او د عبدالقادر، د علي خان او ډېرو نورو شاعرانو په ديوانو کې ډېرسوزان او موثر شعرونه شته او دا ثوك نه شي ويلی، چې عروضي اشعار له صادقو احساساتو او عواطفو خالي دي.

په ملي سندرو کې هم کله کله ډېر تشبيهات او استعمارات وي، مګر سړی پوهېږي چې په دې شعرکې سلاست او رواني، جوش او مستي عواطف او جذبات شته او د شاعر د زړه نغمه ده، د نمونې په ډول دا څو بيته وګورئ:

**يــــــا تيـــــک ســـــــتا پـــــــه جبـــــــين دی**
**يـــــــــا ســـــــــــــترګه د ســـــــــباده**
**ياجــــــــام د چـــــــــين مـــــــــاچين دی**
**يـــــــــا ســــــــپينه خولـــــــه زيبـــــــا ده**

***

**يــا عطــر د ګلانــو – يــا ســتا د مــخ خــولې دي**
**يــا تــورې د فــولادو – يــا ســترګې د ليلــې دي**
**يــا کيــف دی د شــرابو – يــا بنــګ د بنګــالي دي**
**يــاهجر ســخترين دی - يــا تبــه يــا وبــا ده**

** *

**يــابغ د ښــکلو ګلــو – يــا ســتا ښــکلي کاکــل دی**
**اوازی د بلبلـــو – يـــا زړه د حميـــد ګـــل دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یا تېغ د غوڅولو – یا ستا خوني چارګل دی**
**یا دا مرغه زرین دی – یا هغه محبوبا ده**
(حمید ګل)

بې له دغسې ملي اشعارو چې په ملي اوزانوکې ویل شوي دي په عروضي اشعاروکې هم ډېر ساده او بې تکلفه اشعار مومو، چې د زړه له تاثیره پیدا شوي او په زړه اثرکوي چې یوه نمونه یې داده:

**سحر باده! د اشنا په کوڅه ورشه**
**زما دپاره په کې وګرځه کوتر شه**
**لوی وکم چې وي تول وونه په سترګو**
**په احوال سره د هر یوه خبر شه**
**هر یوه چې زما له حاله پوښتېدلې**
**په ژړا ورته په اوښکو کې احمر شه**
**که خبرې زما دپاره درته وکړي**
**مخ راکوز کړه زما ولوري ته چپر شه**
**د نسیم په رپار دې ښه نه شي رحیمه**
**د دلدار په لور پخپله قلندر شه**
(عبدالرحیم هوتك)

بله نمونه:

**راشه راشه ستا تر دواړو سترګو ځار شم**
**هم مخ دې پروانه غوندې نثار شم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د زړه ولـــې مــې پــه تاپســې پــرې كيــږي**
**راتــه وګــوره قربــان دې تــر ديـــدار شــم**
**شـــېريني بـــه دې د وصـــل هيـــره نــه كـــړم**
**كــه هــر څــو غربــت زده او خــوار و زار شــم**
**چــې دې خيــال پــه زړه كــې رايشــي دننــه**
**اور مــې واخلــي پــه نــارو او پــه كوكــار شــم**
**د اختــر پــه ورځ كــه مــخ راتــه ښــكاره كــړې**
**قربـــاني بـــه دې پـــه مينـــه د رخســـار شـــم**
**جنتونــــه پــــه خــــاطر كلـــه را درومــــي**
**چــې پــه شــوق ګــډ ستا د حســن پــه ګلــزار شــم**
**ســتا وصــال پــه بخــارا كــې رحــيم بيــا مونــد**
**صـــدقه تـــر ټولـــو ځمكـــو د بخـــار شـــم**

(عبدالريحم هوتك)

دغه دوه ډوله شعرونه چې په يوه ډول كې رښتياني عواطف وي او په بل كې نه وي دا سې مثال لري: لكه چې يو شاعر د خپلې محبوبې يا د خپل اولاد په مړينه كې مرثيه جوړه كړي او يو بل شاعر د كوم لوى او معتبر سړي په مرګ كې د مكافاتو دپاره مرثيه وليكي او كوښښ وكړي، چې ډېر اوصاف ورپورې وتړي او ډېر شعري صنعتونه پكې ځاى كاندې، مګر هغه د زړه درد او رښتيانې عاطفه چې په لومړنۍ مرثيه كې وي په دې كې نه وي، يعنې دوهمه مرثيه نور هر څه لري، مګر د زړه رښتيانى تاثير نه لري او په پردي غم ژاړي، نو دا شعر هېڅكله هغسې نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای او هغه مقام ته نه شي رسېدلی، ځکه چې هغه روحي اتصال او رابطه چې په لوړ شعر کې د مړي او شاعر ترمينځ موجوده ده دلته نشته او همدغه شی حقيقي او غيرحقيقي ادب يوله بله بېلوي او بېل بېل قيمت ورته ټاکي.

## د عواطفو تجلي او ظهور:

کله يو شاعر د ډېرښه تامل او فکر خاوند وي، مګر دانه شي کولی چې نور خلك دخپلو افکارو او تاملاتو په ښه والي او ښايست متاثر کاندې، ځکه چې دد ده عواطف که څه هم صدق پکې وي مګر د تجلي او ظهور درجې ته نه وي رسېدلي. دلته تر يوه حده د موضوع خصوصيت هم دخل لري. ځينې موضوعات دي چې عواطف پکې لکه د اور لمبه رڼا کوي او ناري طبيعت لري لکه: وطنيت، حب، غم او داسې نور، مګر ځنيې موضوعات لکه فلسفي افکار او اجتماعي نظريات يخ او ساړه وي، چې په هغه اندازه تودوالی او حرارت پکې نه پيدا کېږي، نو مونږ دانه وايو چې يو اديب دې دغه راز موضوعات هم هغسې کړي او هغومره جذابيت او هيجان دې پکې پيدا کاندي، بلکې دا وايو چې په کومه موضوع کې چې دی داخلېږي څومره کيدای شي خپل لوستونکي دې له تاثير لاندې راولي او يا په دې کېږي چې خپل تاثر پوره او واضح وښودلي شي.

په همدغه برخه کې اديبان او شاعران يو له بله فرق او تفاوت لري د ځينو عواطف ډېر تيز او بارز وي د ځينو نه وي، په ځينو کې شعري طبيعت قوي وي او په ځېنو کې ضعيف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه تنه ادیبان به وي چې په تاریخي رجالو کې به په کوم یوه څه لیکلي یو به یې لکه یو مورخ داسې تصویر کړي، چې خپل دغه تاریخي نګارش ته به ادبي رنګ هم ورکړي هغه بل به ورته په شعري سترګه وګوري او نفسیت به یې په نظر کې ونیسې، لکه چې په سید جمال الدین ډېرې مقالې او نظمونه ولیکل شوه چې په ځېنو کې ادبي خواته تمایل لیدل کېږي او په ځینو کې تاریخي خوا قوي ده او د هر چا شاعرانه مزاج پکې خپل خصوصیت ښیي.

## د عواطفو ثبات او نه رالویده:

ځینې لیکونکي او شاعران وي چې عواطف یې ثبات او دوام نه لري، یعنې دیوه مضمون او یوه شعر اغاز او انجام یې ډېر فرق لري او کلام یې له خپل حسن او خوږوالي څخه ابتذال او پیکه توب ته رالوېږي، یو بیت یا دیوه مصرع یې ډېره ښه او موثره وي، مګر بل بیت او بله مصرع به یې هغسې نه وي او په وینا کې یې د ادبي قیمت په لحاظ لوړې ژورې، تیټ وپاس وموجود وي دلته مقصد دانه دی چې په دغه ډول یو راز والي هم د بلاغت له اصولو مخالفه خبره ده او لکه چې د کلام رالویده او ټیټوالی عیب دی یو رازوالی یې هم عیب دی او ملال راولي، نو په لیکونکي لازمه ده چې له یوه صورت نه بل صورت ته انتقال وکړي او پخپل کلام کې له تفنن څخه کار واخلي. دا کار البته په تغزلي اشعارو کې اسان معلومېږي، ځکه چې یو خو داراز اشعار لنډ وي بل پکې د یوه مطلب ارتباط ساتل هم لازم نه وي، مګر په قصایدو کې ګران ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خیال:

وايي چې خيال يوه قوه ده چې غير مريې شيان او هغه شيان چې مشاهده يې نه شو کولی زمونږ له نظره تېروي، مګر دا تعريف پوره نه دی او دغه راز معاني په يوه منطقي تعريف کې راوړل کېږي هم نه.

نو وروسته به يې د بحث په ضمن کې رنګونه او ډولونه څه نه څه وښيو، خيال په ادب کې يو خاص مقام لري او په عواطفو کې ډېر تاثير پيدا کوي که فرضاً کله مونږ يو خبر اورو، چې په کوم ځا ی کې څه طوفان پېښ شوی، چې دومره اثر نه کوي لکه چې دغه حادثه د کوم اديب او شاعر له قلمه په ادبي رسم شي او تخيل نه پکې کار واخستل شي.

## ادبي خيال په درې ډوله دی:

### (۱) مبتکر خيال:

دا هغه شی دی چې د انسان ادراکاتو ته يو نوی صورت ورکوي او اکثره شاعران يې د تشبيه او استعارې په ډول پخپل کلام کې پيدا کوي لکه د حميد دابيت:

**دا زما له غمه شين زړه پکې خيال د يار د شونډو**
**هسې رنګ زيب و زينت کا لکه می په شنه پياله کې**

***

مګر که څوک د کلام په موضوع او اسلوب کې د تخيل له ابتکار او نويتوبه کار واخيستلي شي نسبت هغه تخيل ته چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشبیه او استعاره کې وې زیات اهمیت لري او دتخیل دغه راز بداعت ډېر لږ او نادر هم وي، چې یو مثال یې دیوه انګلیسي شاعر یو شعر دی، چې د دنیا لوی لوی خلك دسعادت په طلب کې په دې ډول تصویروي:

یو ښار دی چې دیوالونه یې ډېر جګ او دروازه یې ډېره وړه او تنګه ده، دا ښار د سعادت ښار دی، چې د جهان نوموړي او لوی لوی خلك ورپسې ګرځي. دې دروازې ته یو لوی حربي سړی راځي چې ډېر هېوادونه یې فتح کړي دي او په ډېرو دښمنو یې برې موندلی، مګر د دې لامله چې عسکري لباسونه او اسلحې یې په غاړه دي په دغه دروازه نه شي ننوتلی او حیران درېږي.

وروسته ترده یو لوی عالم له خپل علمي لباس او غټو غټو تالیفاتو سره راځي او دی هم په دغه دروازه دخپل ځان ځاییدو امکان نه ویني، په ده پسې نور د سیاست او مال خاوندان رارسېږي او هریو دلته حیران درېږي چې څه وکړي؟ په دې حال کې یوه کوچنۍ جنۍ راپیدا کېږي او په ډېرې خوشحالۍ په دغه دروازه ننوځي او بیا څه شېبه وروسته بېرته راوځي دوی ته وایي چې ولې ولاړ یاست؟ دوی وایي دروازه وړه ده او مونږ نشو ننوتلی. هغه وایي کالي او اسبابونه وغورځوي او ننوزي! دوی یو بل ته ګوري او متردد کېږي، مګر جینۍ اصرار کوي چې هلئ زرشئ، چې ډېر عجیب ښار دی او هرڅه پکې شته، په دې ډله کې یو تن خپل کالي غورځوي او ننوځي هغه نورهم چې ده ته ګوري هر څه له ځانه لرې کوي او ښار ته داخلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

د دې شعر ښایست او جمال د تخیل له ابتکاره پیدا شوی او دتخیل ابتکار په اصل مضمون او د بیان په اسلوب کې ځای لري.

په پښتو کې هم چا په ارزو باندې څه لیکلي چې خلاصه یې داده:

هلته لرې دغره په لمن کې د لمر پلوشو ته څه شی ځلیده، ما گومان کاوه چې کوم ډېر قیمتي ځیز دی او له کوم معدن څخه کومه قیمت بها دانه راوتلې ده په همدې گومان ور روان شوم او ډېر خوشحاله وم، چې هلته ورسېدم گورم چې دښیښې یوه ماته ټوټه پرته ده او نور هېڅ نشته. دا وه زما ارزو او د ارزو اغاز او انجام.

دلته هم په اصل موضوع کې یو تخیلي ابتکار لیده شي.

## (۲) مصور خیال:

څه شی چې یوا دیب په سترگو ویني او پرې پوهېږي، نو چې هغه د خپل خیال په مرسته تصویرکړي مصورخیال ورته وایي مثال یې دا دی:

یوه سړي د شپې له مخې تبې کولې او هره شپه به یې تر سبا پورې تبه وه چا ورځنې د احوال پوښتنه وکړه چې تبه دې څه وخت او څنگه وي؟ ده وویل یوه حیاناکه ښځه ده چې دشپې په توره پرده کې زیارت ته راځي او سبا دوخته بېرته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۳) مفسر خیال:

کله چې کوم ادیب په یوه شي کې څه روحي یا ادبي کیفیت حس کړي او له مادي مشاهداتو نه پټو او معنوي مشاهداتو ته انتقال وکړي، لکه چې ځینې ادبا د یوه سیند یا یوه غره له لیدو ځنې ځنې تاریخي واقعاتو ته ولاړ شي او د تېرو حوادثو او زاړه عظمت تجلیات پکې وګوري، نو دا مفسرخیال باله شي، چې یومثال یې دا دی:

**په لمن د تورو غرونو د خیبر وادي راګېره**
**لکه تور دیوان چې کښیني له پرې نه ګېرچاپېره**
**پټ پنهان هره ذره کې د خیبر خوني داستان دی**
**یو تاریخ یې په مخ لیک دی یو یاداشت دتېر دوران دی**
**ورو په ورو د غرونو خواکې یو کاروان روان سفر کړي**
**دا را یاد مې په زړګي کې تېر شوی دور منظر کړي**
**یوه ورځ به چېرې دلته د محمود کاروان روان و**
**ګرد غبار د ده د فوج به رسېدلې تر اسمان و**
**د تکبیر نارې اوچتې اورېدلې دې جهان وي**
**د دې ملک ذرې ذرې به له دهشته په لړزان وي**
**په دې خاوره دي تېر شوي د بابر، غوري فوجونه**
**ابدالي، نادر راغلی پرې به فخر کړي دا غرونه**

سید رسول (رسا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته تردې چې د خیال ډولونه څه نه څه وښودل شوه باید ووایو، چې تخیل د شعر یو داسې عنصر او رکن دی، چې که ووایو شعر په حقیقت کې بې له تخیله بل شی نه دی، هم ورسره ښايي. همدغه تخیل دی چې جهان او د جهان هره ذره شاعرته له نور عالمه په بل رازښيي، چې کله يې له لمر او سپوږمۍ سره په خبرو راولي او کله يې د ګل په خندا، د شمع په ژړا، د نسیم په پیغامونو پوهوي. يو وخت ورته ډك سیندونه لکه سراب بې ابه ښکاره کړي بل وخت ورته د يوه مظلوم څو قطرې اوښکې لکه يو سيلاب داسې وښيي. که دغه شاعرانه خیال له شاعر سره ملګری نه وي شاعر به هم لکه نور دغه جهان ته په عادي نظر ګوري او هیڅ شی به پرې دومره اثر نه کوي. همدغه خيال دی چې شاعر ته ډېر پټ او مرموز شیان ښکاره کوي او هغه څه چې عوام، بلکې خواص يې هم نه شي ليدای، دی يې وينې او تعبيرونه ورځنې کوي همدغه تخیل دی چې شعر او فلسفه دواړه ترينه پيداکېږي او په شاعر و فيلسوف دواړو کې ليدل کېږي.کوم فلاسفه چې د ابتکار و ايجاد قوت لري هغه ارومرو دتخیل خاوندان دي او له تخیل نه ډېر کار اخلي، نو ويلی شو چې په نيوتن او ارسطو کې هماغه قوي تخیل موجود و، چې په هومر او فردوسي کې موجود و، مګر د استعمال په طريقه کې فرق و او مقصد وغرض پکې بيل و. د يوه فيلسوف تخیل د مسايلو په حل کولو او تحقيق کې سرفېږي، مګر د يوه شاعر تخيل د احساساتو او عواطفو دتحريك دپاره په کار لوېږي. ځينې محققين وايي چې له شعري

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیلاتو نه فلسفه پیدا کېږي او له فلسفې نه بیا علم پیدا شي، یعنې شاعرانه خیالات او فلسفه او علم داسې مثال لري لکه د سپیدو چاودلو د وخت، د لمانځه د وخت او د لمر ختو رڼا، نو په دغه ترتیب هماغه شاعرانه خیالات چې څه قدر زیات روښانه شي فلسفه شي او فلسفه کې چې زیاته رڼا یې پیدا شي علم شي په دې اساس سړی حکم کولی شي، چې د بشر د معرفت تاریخچه له شعره څخه شروع کېږي او په علم ختمېږي.

هومر د یونان معروف شاعر په داسې عصر کې پیدا شو چې د فلسفې څه پته نه لګېده او دغه نوموړی شاعر له حکمت او فلسفې نه دمخه دنیا ته راغلی، مګر وروسته تر ده ارسطو د ده د طبع له اکتشافاتو اقتباسونه کوي او د ده په کلماتو استشهاد کوي. کېزو د فرانسې یو لیکونکی لیکي، چې د هومر په اشعارو کې د انسان او عالم حقیقت او د هر شي اساس موجود دی.

که سړی څه قدر ته دقیق شي، نو د عقل او فکر مانۍ په خیال ولاړه ده او خیال په علومو کې زښت ډېر دخل لري، نور علوم خو لاپرېږده هغه علمونه چې د عقل په نزد بیخي منلی دی، لکه ریاضي او هندسه. دا هم دانسان له خیاله پیدا شوي دي، که چېرې له یوه ریاضي دان څخه (واحلم) د تعریف پوښتنه وکړو چې د ریاضیاتو ابتدا او انتها ګڼل کېږي یا د هندسې دیوه عالم څخه د (نقطې) تعریف و غواړو چې ټول خطوط ورځنې پیدا دي یقین دی چې دا دواړه شیان ( واحد – نقطه ) به یو داسې شی راوښیي چې بې له خیاله به بل وجود نه لري او یو تخیلي شي به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې مونږ یو کانې د حس او عقل په مرسته په تحجر او تجمد پېژنو داهم یو خیال دی. د انسان تخیل دغه صورت ورکړی دی.
تخیل سره له دغومره اهمیته چې په شعرو ادب کې یې لري که څوك یې په تشخیص کې وغولېږي او له اوهامونو یې فرق ونکړي شي یا یې بېځایه استعمال کړي، نو شعر بېخونده کوي او قیمت یې راټیټوي ځینې اوهام، چې ځینو شاعرانو پخپل شعر کې راوړي دي دومره بې لطفه دي، چې سړی ورته شعر نشي ویلی، بلکې واهمي کلام یې بللی شي لکه امرا القیس چې پخپل یوه شعر کې وایي:

**اتقتلنـــــي والمشـــــر فـــــي مضــــاجعې**
**د مســــــنونة زرق کانیـــــان اغــــوال**

مطلب یې دا دی چې رقیب به ما څنګه مړکړي، چې زما په خواکې د یمن مشرقي توره ایښې ده او داسې نېزې راسره دي لکه د غولانو داړې، نو دلته غول او د هغه داړې یو محض وهمي شی دی، چې ښایي بې امرالقیس بل څوك ترې ونه وېرېږي که څوك تخیل بې ځایه استعمال کړي، نو هم ښه نه ښکارېږي، مثلاً یو شاعر د بهار او پسرلي په صفت کې د دې په ځای، چې شنه چمنونه، زېړ او سره ګلان، ابشارونه وستایي او له تمثیل څخه کار واخلي د تخیل خواته زور وکړي او خیالي شیان تصویروي یا دیوه چا په مدح او ستاینه کې د هغه واقعي او حقیقي صفات پرېږدي او د تخیل په زور ورته خیالي اوصاف پیدا کوي او ورپورې تړي یې، چې هېڅ حقیقت او واقعیت پکې نه وي، نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په شعر کې عیب باله شي او د خیال بېځایه استعمال بلل کېږي.

## تمثیل:

تمثیل دې ته وایي، چې شاعر او ادیب یو مضمون یا یوه معنیٰ داسې بیان کړي چې اصلي صورت یې سترګو ته درېږي.
تمثیل هم په شعر کې یو اساسي جزګڼل کېږي او زښت ډېر اهمیت لري، ارسطو وایي چې شعر په تمثیل او محاکات ولاړ دی، نو که په کوم کلام کې دا شی نه وي هغه شعر نه بلل کېږي د همدې لامله پخپل کتاب الشعر کې لیکي چې یو له هغو شیانو څخه چې انساني غرایز بلل کېږي د تقلید حس او د تمثیل ذوق دی، نو هر کله چې شعر هم یو ډول نقل او تمثیل دی د انسان په طبیعت ارومرو اثر کوي او انسان ورځنې خوند و حظ اخلي، نو د ارسطو په نظر به د شعر د تاثیرسبب تمثیل دی.
کوم شعر چې له تمثیل نه پکې کار اخستل کېږي هغه دیوه رسم مثال لري چې باید د موضوع دقیق نکات په نظر کې ونیول شي او له اصل سره مطابقت ولري.
په تمثیلي شعر کې کله دشعر موضوع یوه منظره یا واقعه وي او کله داحساساتو او تمایلاتو تمثیل په نظر کې وي په دغه وروستي حصه کې شاعر له رسام څخه موفق دی او ځینې نفسي کیفیات شته چې په رسم کې نه راځي او په شعر کې راځي ځینې تمثیلي اشعاردي چې شاعر پکې له تخیل څخه هم ډېر کار اخلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر په ځينو کې يو ازې تمثيل وي او له تخيل نه هېڅ کارنه وي اخستل شوی.

په ځينو مواردو کې د شعر لوی صفت همداوي چې تمثيل ښه قوي وي او حقيقت په نظر کې ښه مجسم شي.

د تمثيل په باب کې که د شعر ښه نمونه ګورئ، نو د ښاغلي رښتين د باغ ننداره وګورئ چې د کابل مجلې په (۱۷۶) ګڼه کې نشرشوې او د تمثيل پوره اقتدار پکې معلومېږي.

د تخيل زور او قوت که په پښتو اشعارو کې لټوئ، نو د ښاغلي خادم په اشعارو کې يې ښې ښې نمونې شته، د احساساتو او عواطفو صدق او تجلي د ښاغلي بېنوا په (بې وزلي شرق) کې وګورئ، چې د شاعر درد او رښتيانۍ تاثر پکې له ورا معلوم دی او په همدغه شي دې شعر لوړ قيمت پيدا کړی دی.

## د دې بحث خلاصه:

د شعر او ادب اصلي عناصر او اساسي اجزا دمعنويت په لحاظ دا دي:

عاطفه، احساس، خيال تمثيل، نو په هر شعر کې چې دغه شيان يا يو له دغو څخه موجود وي هغه شعر دی او په انسان باندې اثر کوي په کوم شعر کې چې دغه شيان نشته او يوازې رنګين الفاظ او شعري صنعتونه پکې دي هغه لکه يو تش ښايسته لستونی داسې وي او کوم حقيقي کيف پکې نه ليدل کېږي او ننداره به يې کوي، مګر څوك چې په شعر او ادب کې کومه معنیٰ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لتهوي هغه پرې نه قانع کېږي او يو له دغو معنوي اجزاو او عناصرو څخه پکې غواړي.

د پښتو اشعارو ته چې سړی ګوري او د صنعت او معنیٰ په لحاظ په کې غور کوي معلومېږي چې صنعت ته په ضمني نظر کتل شوي او د معنیٰ لورته زياته توجه موجوده ده، يعنې ضرور پکې يا نور عواطف او احساسات وي يا يو عالي تخيل او لوړه مفکوره پکې ليدل کېږي يا له ښه تمثيل او تصوير څخه پکې کار اخستل شوي وي او ځينې اشعار، خو لا داسې وي چې دغه ټول معنوي مزايا او ښېګڼې پکې سړی مومي او د بليغ او عالي ادب ښې نمونې يې ګڼلی شو.(۱)

## عاميانه بلاغت:

څو کاله د مخه ديوه لوی سړي په مجلس کې د غرو د خلکو په پوهه او هوښيارۍ خبرې کېدې، دې سړي چې د هېواد په يوه غرنۍ حصه کې ديوه سترحاکم په حيث شپې ورځې تېرې کړې وې هغه خلك يې ډېر زيات ستايل او مکرر به يې ويل چې دوی په خبرو له هر چانه ښه پوهېږي، خو که څوك له دوی سره د دوی په ژبه وغږېږي او مفاهمه ورسره وکړي. په همدې غرو رغو کې داسې خلق شته چې سړی يې خبرو ته حيران پاته کېږي او د تعليم له خاوندانو نه يې په وينا کې څه فرق نه ليدل کېږي.

دا بحث لا نه وقطع شوی چې د هماغه ځای څوتنه تور ږيږي او سپين ږيري راغلل او د مجلس خلك د دوی اوضاعو او خبرو ته د تېر بحث په اثر کې ښه متوجه شوه، چې ودرې دوی څه وايي؟ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه ګرېږي؟ دوی د خپل دغه حاکم له څه مودې مفارقت څخه چې د رنځورتیا په اثرکې پېښ شوی و خپل خپګان ښکاره کړ او بیا یې خواهش* وکړ، چې که صحت یې ښه وي بېرته ورشي او د دوی اداره پخپل لاس کې ونیسي، مګر دا مقصد یې په دې ډول ادا کړ، چې زمونږ په ملك کې مشهوره ده چې په یوه غره کې که تر(۷) کالو پورې د سړي غږ وانه ورېدل شي د هغه غرو ماران ښاماران کېږي او پخپل مینځ کې یو له بله سره خوري، نو که ستاسې غږ هلته نه وي له مونږ نه بل شی جوړېږي او یودبل غوښې خورو.

دې خبرې په ما اثر وکړ او زه یې دې لورې ته ملتف کړم چې عام خلك او هغه کسان چې په تورو ټکو نه پوهېږي او دفصاحت وبلاغت نوم یې هم نه دی اورېدلی پخپله وینا کې دبلاغت خاوندان دي او په خبرو کې یې شعري او ادبي کیف لیده شي.

وګورئ دغه سړی له یوه ادبي منطق او تمثیل او تشبیه نه څومره ښه کار واخیست او خپل مقصد او مطلب یې د بلاغت له اصولو سره سم داسې ادا کړ، چې د خپل مراد کنه او انتها یې حد ته ورسېده چې دیوه مقصد همدغه راز بیان ته بلاغت او ویونکي ته یې بلیغ ویل کېږي.

که څوك د پښتنو په جرګو او مرکو کې ناست وي او د دوی خطبې یې اورېدلي وي هغه ته به په عامیانه محاورو کې دغسې

* دښاعلي (مجروح )،(بېنوا)،(خادم )،(رښتین ) اشعار د دې خبرې تصدیق په ښه شان کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې نمونې يادې وي او دا بـه ورتـه معلومـه وي، چې پښتانه پخپلو مرکو کې هر وخت له دغسې ښوښو تمثيلونو او ملي رواياتو کار اخلي. د خپل مقصد دپاره لومړی يو موافق تمثيل او ادبي استدلال پيدا کوي بيا خپله خبره پرې سپروي، د دوی دبلاغت زور او قوت په همدغو تمثيلو او رواياتو يا متلونو کې وي او تشبيهات او استعارې يې هم خورا قوي وي، هغه څوك چې په مرکو کې د خبرو حق لري او د ملي مجالسو خطيبان او بلغا بلل کېږي د خپل مقصد له شروع نه دمخه يو حکايت کوي يا له ملي رواياتو او عنعناتو څخه د خپل بيان دپاره يو ښه تمهيد پيداکوي وروسته بيا خپل مقصد ته راځي او خپل مطلب بيانوي، نو په دې صورت کې د دوی وينا دومره قوت مومي چې څوك ورځنې انکارنشي کولی او هر څوك يې په معقوليت باور کوي. که څوك په دې مجلس کې د دوی د خبرې ترديد کوي او مخالفه نظريه قايموي هغه مجبور دی، چې د ده مدعا په خلاف به يو قوي تمهيد او حکايت پيدا کوي او خپله خبره به قوي ښيي. په دې وخت کې نو يوه ادبي مبارزه شروع شي او د ميدان وړلو دپاره زيات فصاحت او بلاغت په کار دی، مګر هغه بلاغت چې عوام پرې پوهېږي او په عاميانه ادب کې ځای لري. په همدغه قوت د مرکو مشران او وکيلان غټې غټې خبرې اوروي او هرڅوك پخپل قوي منطق او ادبي استدلال قانع کوي. دپښتنو دمشرۍ راز هم په همدې کې دی، چې سړی بايد له ملي عنعناتو او رواياتو نه ښه خبر وي، هغه خبرې چې دوی پرې قانع کېږي او هغه استدلال چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی په افکارو او روحیاتو قوي اثرلري ځانته معلوم کاندي دغه راز خبرې ښايي چې مونږ او تاسې ته هېڅ ښکاره شي، مګر په عامه طبقه ډېر اثر کوي، په ځينو مجالسو کې چې زه ناست وم او هلته د پښتنو د روغې د اصولو پوهان راټول شوي وو. ډېر ځله مې په داسې مواردو کې چې خلك به يې د خپلو عزيزانو احترام ته رابلل او دابه يې ورته ويل چې خپل کام اوخپل کام او خپلو عزيزانو ته په سپکه مه ګوري يو د بل عذر قبلوي او ننواتو ته په درنه سترګه ګوري، د يوه منلي او مسلم دليل په ډول به يې ويل چې لوخې د خپل کام سپکه غوښته سر يې په درياب کې وچ شو. دې خبرې به خلك ډېر متحس کړه او زيات تاثير به يې وکړ، زه د دې خبرې په سرو برنه يم خبرچې عنعنوي اصل او اساس به يې څه وي؟ مګر لوخې چې ګورم رښتيا په اوبو کې ولاړې وي او سرونه يې وچ وي، نو دا خبرې که څه هم څه اصل او حقيقت ونلري تاثير، خو لري او له يوې ډېرې صحيح فلسفې نه په عوامو باندې زيات اثرکوي.

که څوك غواړي چې خپل مخاطب او اوريدونکي د خپلو خبرو له تاثير لاندې راولي، نو بايد له هغه سره داسې وغږېږي چې منطق او ادب يې په هغه تاثير وکړي. تشبيهات او استعارات، تخيل او تصوير، استدلال او استشهاد يې د هغه له فکر او ذوق سره سم وي او په نظرکې يې له مسلمانو څخه وي.

زمونږ ادبا او شعرا بايد دې خواته ملتفت وي او په خپل شعراو ادب کې له عاميانه بلاغت نه چې د عوامو په وېناو، متلونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

روایاتو، قصو او افسانو کې ځای لري پوره کار واخلي، په هغو تشبیهاتو او استعارو خپل کلام رنګین کړي چې دوی ورسره اشنادي او پرې پوهېږي چې زمونږ ادب هم ملي رنګ پیدا کوي او د ملت په ذوق برابر شي.

د پښتو لنډۍ او چاربیتې چې په هر چاښې لګېږي او عمومي مقبولیت لري یو سبب یې همدغه دی چې له عامیانه بلاغت نه پکې کار اخیستلی شو او کلمات وتعبیرات داسې دي چې عام خلق پرې ښه پوهېدلی شي او هېڅ نا اشنایي پکې نه ګوري وینا یې هم د حال له مقتضا سره سمه وي او له حیات سره پوره تطبیق لري دمثال په ډول به یو څولنډۍ هم راوړو.

## د پښتو څو لنډۍ:

کله چې مونږ کوچیانۍ لنډۍ او د ګوچیانو ټپې اورو پوهېږو چې دا لنډۍ د کوچیانو له حال او حیات سره څومره اتصال لري او د دوی حیاتي وضعیت څنګه ښه تصوېروي لکه دا لنډۍ:

**اوښانو بیا غاړې کړې**
**چې پرې سپرې دي سپینې خولې زېړ پېزوانونه**

که چاکله د کوچیانو روانې کډې لیدلي وي چې په اوښانو باندې پښتنې پېغلې سپرې وي او اوښان یوه خوا بله خوا غاړه کړوي او ترشاګوري هغه د دې لنډۍ په بلاغتي کیف ښه پوهیدلی شي چې دلته ویونکي څه شاعرانه او ساحرانه مهارت خرڅ کړیدی، چې له یوې خوا دغه منظره او وضعیت ډېر ښه تمثیلوي او له بلې خوادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې ته هم تلمیح او اشارت کوي چې اوښان هم ددغو پېغلو د ښایست او جمال احساس کوي او د دوی نندارو ته مخ راګرځوي.

په دغسې مواردو کې چې مطلب د دغو پېغلو ستاینه ده ښایې چې ډېر تعبیرات پیدا شي، مګر هر تعبیر به دکوچیانو له حال او حیات سره دغومره موافق نه وي او نه به پکې دغومره بلاغت موجود وي.

په یوه بله لنډۍ کې یوه کوچۍ پېغله خپل اشنا ته وایي:

**تـــر دې خـــروړي ســـپې راتېـــر شـــه**
**تـــر دې ملالـــۍ خـــولې بـــه زه درتېـــره شـــمه**

په دې لنډۍ کې یو شرط او تعلیق لیدل کېږي، چې باید مین یې پرځای کړي او د ملالۍ خولې په مقابل کې یو ګران کار قبول کړي، چې هغه له خروړي سپي څخه تېریدل دي. په دې ځای کې البته ډېر مشکل شرطونه پیدا کېده چې باید په مین تحمیل شوي وای، مګر د کوچیانو له حال او ژوند سره به یې دغومره موافقت نه درلود لکه چې دا شرط یې لري.

یوه کوچۍ پېغله باید هر څوك له خپل خروړي سپي څخه وډار کړي او خپل سپی لکه لېوه یا زمری خلکو ته وښیي. دلته ټوپك یا توپونه یادول له حیات سره مناسبت او موافقت نلري او نه دغه ادبي لطف پکې شته چې د خروړي سپي په لفظ کې موجود دی.

دا د همدغه لفظ اثر دی چې ځینې د تصوف خاوندان له دې لنډۍ نه د حقیقت په نامه یوه بله معنیٰ اخلي او وایي چې خروړی سپی نفس دی او له دې نه تېریدل خدای ته رسېدل دي که دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپ او توپخانې يادې شوې وای د دغسې تاويل دپاره به هم څه مجال نه و او دومره ظرفيت په دې لنډۍ کې نه پيدا کېده.

د دې لنډۍ په ځواب کې يوه د تورې خاوند او توريالی مين خپلې معشوقې ته وايي:

**د سپينې خولې تن راته کېده**
**که د چړو په څوکو لار وي دربه شمه**

دا هم يو بليغ تعبير دی او له ده سره مناسب ايسي، ځکه دچړو په څوکو تېرېدل انتهايي مشکلات قبلول دي او سړی پوهېږي، چې د دغسې سختې لارې يون دومره ګران دی چې له خرو ړو سپو تېرېدل ورته هېڅ دي او څوك چې دا قبلوي هغه په خرو ړو سپيو هم نه ايسارېږي.

که سړی په شعر و ادب کې ښه غور وکړي د دې فن ټوله ساحري په يوه ښه او بليغ تعبير کې مضمره ده که څوك د خپل مقصد دپاره يو قوي او لطيف تعبير ومومي چې مبتذل او پيکه نه وي، دې سړی په يقين سره د شعر او ادب حق په ځای کړی او د بلاغت سکه يې قايمه کړېده. په دې تعبير کې دانه ده لازمه چې ارومرو به پکې اغراق او مبالغه وي، بلکې لازمه ده چې لطف او ملاحت او حسن به پکې وي او يو نوی تعبير او ښه تصوير ورته ويل کېږي، لکه په دې لنډۍ کې:

**مخ په مړوند کله پټېږي**
**ظالمه ياره سلامي ولاړه يمه**

وګورئ دلته يوازې يو ښه تصوير او ښه تعبير په سړي اثرکوي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حیاناکو پېغلو عادت دی چې منګی به یې په اوږه وي او ګودر له به ځي، نو چې ځوك نارینه په مخه ورشي خپل مړوند مخې ته نیسي او دربړي، په دې وضعیت ښایي چې کوم اشنا متاثر شوی وي او څه ګله یې ورلېږلې وي، نو دا ورته وایي چې زه تا ته سلامي ولاړه یم هسې نه چې خپل مخ پټوم، ځکه چې مخ په مړوند نه پټېږي. رښتیا وایي لمر چاپه ګوته نه دی پټ کړی دا به د سلامي په وضعیت ولاړه وي.

په یوه بله لنډۍ کې یو مین د خپلې لیلیٰ په پوزه سره نتکۍ ګوري او سپینې خولې ته یې زړه کېږي، نو خپله ارزو په دې ډول ورته څرګندوي:

**ســتا پــه نتکــۍ کــې شــیطان ناســت دی**
**هــره شــېبه مــې ســتا خــولګۍ تــه لمســوینه**

دا خو معلومه خبره ده چې دی په چل کې ورځنې خوله غواړي مګر که ورته ووایي چې خوله راکړه یا مې ستا خولې ته ډېر زړه کېږي دا به یوه بې لطفه غوښتنه وي او شعر به نه وي، نو دا د شاعر کار دی، چې په دې خبره کې خوند پیدا کړي او شعر ورځنې جوړ کاندي، نو اول نتکۍ ستایي بیا پکې شیطان کښېښوي، وروسته تردې نو ورته وایي چې ستاله خپله کوره دی چې ما په کراره نه پرېږدي او ستا خولګۍ ته مې لمسوي. ښایي چې خبرې د شعري سحر په مرسته په هغې اثر کړی وي او هغې هم ویلي وي:

د سپینې خولې واك مې درکړی......

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې اکثره لنډۍ داسې وي چې دغه راز نازکي او باریکې هم پکې نه وي او نه له دغسې پیرایو نه پکې کار اخستل شوی وي، مګر په زړه خوږې لګي او ښه لطف لري لکه چې یو مین خپلې مینې ته وایي:

**که دنیایي شرمونه نه وای**
**تا به منګی ووړ زه به تش درسره تلمه**

دا لنډۍ څومره ساده ده چې هېڅ صنعت هېڅ تخیل پکې نشته او بې له تشو تللو هغه هم هله چې دنیایي شرم نه وای نور څه نه لري، مګر مینه او محبت پکې ځای لري او د عاطفې ترجماني کوي، نو د محبت په لاره او دمینې دپاره تش تګ، بلکې د تګ ارزو هم لطف لري او په زړه اثر کوي.

په یوه بله لنډۍ کې یو عاشق خپلې معشوقې ته پیغام استوي چې زه ستا د خولګۍ په امید درځم او په هرقیمت چې وي غواړم یې وایي:

**که مې اجل ستا په خولګۍ وي**
**سبا کفن په سر ترم تاله درځمه**

***

په دې لنډۍ کې هم د تشبیهاتو او نازکخیالۍ څه رنګ نشته، مګر رنګ یې څه کوې خوند یې ګوره! د خپلې محبوبې بورجل ته به ډېر خلك په مختلفو لارو تللي وي، خو په دغه ډول چې د دې لنډۍ خاوند او ویونکي ورځي بل څوك به نه وي ورغلي هر څوك چې چېرته ځي او سفرکوي، نو د لارې توښه او د سفر سامان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانـه سـره اخلـي، مګـر دی کفـن پـه سـرتړي او روانېـږي، دا تـګ شاعرانه تګ دی چې بې له شاعره دبل چا ورته نه پـام کېـږي او ده به هم له پتنګه زده کړي وي.

د مينې او محبت خبرې کـه هـر څـومره سـاده او بـې سـاختـه وي هغـومره ښـې وي پـه يـوه لنډۍ کـې يـو مـين خپلـې مينـې تـه دکـور ورانـۍ ښـېرا کوي او ورته وايي:

کـــور دې نـــړدې ديـــدن دې لـــرې
ديېوال دې ړنـګ شـه چـې ورېـا دې ووينمـه

مګـر سـړی پـوهېږي چې دا ښـېرا لـه مينـې او محبتـه ده او پـه دې ښيراو کې عشـق او محبت مضـمر دی داهـم هماغـه شـان ښـېرا دي لکه چې يوه مينه خپل مين ته وايي:

تـــوتې تـــوتې پـــه تـــورو راشـــې
چـــې پرهارونـــه دې ګنـــډم خولـــه درکومـــه

***

نوکوم زخمونه چې دغسې ملهم پيدا کوي سړی به پرې ولـې نـه خوشحالېږي او ولې به دغسې ښې دعاګانې ښيرا بولي؟ هم داده چې د مينې اومحبت خبرې دېرې خوږې دي کـه داخبره هر څـومره مکـرره شـي بـد مـه وړئ، ځکـه چـې مينـه پـه همـدغو مکـررو توصيفونو ارزي.

په کومه خبره کې چې د مينې او محبت جلوه وي هغـه کـه پـه هر عبارت وي شعر دی او همدغسې خبرو ته شعر ويل کېږي.

يوه معشوقه بې له کومې تشبيه او استعاري خپل مين ته وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ســــــترګې مــــــې تاتــــــه تــــــوروله**
**چـــې تـــه رانغلـــې پـــه ســـالويې پاكومـــه**

***

څوك چې په مينه او محبت پوهېږي او د شعر حقيقت او هويت ته رسېدلي وي هغه به دا لنډۍ هېڅکله هېره نه کړي او د لوړو اشعارو نمونه به يې وګڼي، ځکه چې د عشق او محبت په عالم کې چاته سترګې تورول او د هغه د نه راتلو په سبب يې بېرته پاکول ډېر لوړ قيمت لري.

يو بل ځای يو ارمانجن مين وايي:

**زمـــا جانـــان دې راســـــــــــــــره وي**
**پـــه مـــا دې تيـــرې د مېـــرو راچلوينـــه**

سرې چې ګوري ډېر خلكويني چې د پيسو دپاره تېرې چلوي او څوك ورته هېڅ نه ملتفت کېږي، مګر يو مين چې د خپل جانان د وصال په مقابل کې تيرو چلولو ته تن ږدي، د ده نارا وړې تيرې د عشق او شعر په ماڼۍ کې لګېږي او يو يادګار ورځنې پاته کېږي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی سبک او نوی ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدای قانون

مونږ د خپلو کورونو له څنګه په دېره کې ناست وو. له پاسه یو لاروی راغی، د ونې ډډ ته یې ډډه ولګوله، ډوډۍ یې له ملا نه پرانیستله په مزه مزه یې له څه شي سره خوړله مونږه ډېر وږي تږي وو، هغه ځان موړ کړ او یخې اوبه یې وڅښلې، مونږ روژه ووه هغه بوزه وه، ځکه چې په مسافرو باندې روژې نشته.

لاروي وویل: ماته د خوړلو اجازه شته تاسو ته نشته.

ماته خدای خواړه اوبه روا کړي دي په تاسو یې ایسار کړي دي.

دا د خدای قانون دی، د دې قانون په رمز او معنی تاسې نه پوهېږئ.

د خدای کارونه بې حکمته نه دي.

تاسې د دغه عملي تعلیم په اصلي معنیٰ ښه فکر وکړئ! تاسې ولې وږي یاست زه ولې موړ یم؟

زه په کار او او مقصد پسې روان یم، ناست نه یم زما په ژوند کې درېدل نشته، ځکه ما نه وږی کوي.

تاسې ځای په ځای پراته یاست ستاسې حرکت لنډ دی، ځکه یې وږي کړئ.

تاسې د خدای قانون منلی دی، مګر پوه شوی پرې نه یاست. زه د دې دپاره راو ګرزېدم، چې تاسې پوه کړم او له لوږې نجات ومومئ.

پاڅېږئ روان شئ او لرې ځای په نظر کې ونیسئ لوږه او تنده په توقف او سکون کې ده په حرکت کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کار فکر

دکور مېرمن ناروغه وه، د دوا پیسې نه وې، غله خلاصه وه ماشومان وږي وو، په کور کې څه نه وو پاته چې پیسې پرنغدې شي.

د کور خاوند یوه ورځ په پور پسې وګرځیده دوستانو، اشنایانو خپلوانو هېڅ ورنکړه، بله روځ په ګدایۍ پسې ووت، د سخیانو او غنیانو له کورونو نه نا امیده راغی.

دربمه ورځ ورته د کار فکر پیدا شو کار ته یې ملا وتړله په کار پسې روان شو، کار یې وکړ په دغه ورځ یې کورته دوا او ډوډۍ راوړه د کورمېرمن او ماشومان ډېرخوشحاله شوه.

چې رنځور جوړ شي او وږی موړ شي له دېنه لویه خوشحالي بله نشته.

که څوك خوشحالي غواړي په کار کې دې ولټوي.

د رنځورانو علاج په کار باندې کېږي.

چې وږي مړوي هغه کار دی.

چې سړی خوار شي او خپلوان ترېنه لاس واخلي.

چې څوك پور ورنکړي او اشنایان نا اشنا شي.

چې سخیان ورته ووایي خدای دې درکړي.

چې له هر چا او له هرې خوا نا امیده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه وخت کې کار په کارېږي.
پلار خپل ځوی ته تر یوه وخته ډوډۍ ورکوي بیا یې له ځانه
بېلوي.
چې ځوی لوی شو بیا مور هم شیدې نه ورکوي.
مګر د کار مهربانې او احسان په هر وخت کې وي.
د کار برکت په هېڅ کې نشته.
هغه چې د خان مزدوري کوي خان څه نه ورکوي کار یې ورکوي.
نو راشه، د کار سړی شه!
د کار سړی او د سردار سړی ډېر فرق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه خبرنه وم

له خوبه راوېښ شوم ډېر وږی وم.

تا زما له سرلاندې ډوډۍ ایښې وه مانه لیده په دسترخان کې پټه وه.

ما ستا دسترخان ونه لټاوه د خلقو درګاه ته ودرېدم.

زه خبرنه وم چې ډوډۍ زماله پښولاندې ده او ما پردي کور ته لاس نیولی دی.

زه ډېر وروسته پوه شوم، چې د ځمکې دسترخان له ډوډۍ ډک دی او زه ګدایي کوم.

که زه پوه وای ما به د ډوډۍ دپاره ځانته دومره باداران نه پیدا کول.

زه ستا د درګاه د خاورو په قدر پوه نشوم زه نه وم خبر چې پدې خاورو کې هرڅه شته.

هو! تا زمونږ دپاره ډېرڅه پیدا کړېدي، مګر مونږ نه یو پوه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې د ځمکې د تیږو د پاره ډکې ویالې او ډك سیندونه بهېږي د وږو د پاره هم په هره پوله ډوډۍ ایښې ده.

هلئ! زر کوئ! دغه وږي فقیران خبرکړئ، چې د خدای دسترخان ولټوي.

ټول نعمتونه همدغلته دي.

له خلقو سره بې له کاره او بې له زیاره څه نشته.

تاسې د خدای په نامه له چانه څه مه غواړئ.

د خدای په نامه څه ورکړئ، ځکه چې خدای تاسو ته هرڅه درکړیدي. که تاسې هر څه ولټوئ په دغو خاورو کې یې ومومئ.

په لټولو هر څه پیداکېږي.

که تاسې وزګار کښېنئ او هر څه له ځانه وغواړئ هر څه شته که ګدایي کوئ هېڅ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خیرخاوند

هغه خپله غوا په پولو او لښتیو پوول.

دهقانان پوهېدل چې دی پردی کښت په غوا باندې نه خوري.

غوا به کله کله د خلقو کښت ته خوله اچوله، مګر ده یې جلب نیوه.

دغه لږ زیان د قصد له مخې نه نه و، ځکه چاڅه نه ویل.

د غوا خاوند پوهېده چې په پولو او لښتیو باندې غوا ښه مړېږي.

که غوا خوشې وي او پردۍ شوتله خوري یا ټنډېږي یا لنډۍ او بوچۍ کور ته راځي. د ده غوا کټاره نه وه، ډېرې ښې شودې یې کولې، هر چا به ویل چې ډېره ښه غوا ده، د غوا شودې او شړومبې هغه یوازې نه خوړلې د مېلمنو، د مسافرو، د همسایه ګانو برخه هم پکې وه.

خلقو ویل: دا سړی ډېر ښه سړی دی دا کور د خیر او برکت کور دی.

هو! څوك چې خپل نفس دغسې وساتي او جلب یې خوشې نکړي هغه د خیر او برکت خاوند دی.

د هغه ضرر چا ته نه رسېږي خیر یې رسېږي.

د هغه غوا هم وږې نه پاته کېږي او شودې یې ډېرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ديموکراسي

په شفتالو کې زړی دی په زړي کې د شفتالو ونه ده، د غنمو په وړو کې دانې شته په دانو کې همدغسې وړی شته.

په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې چرګه.

دغه يوه دانه پندانه چې ګورې تېل او پلته دواړه لري او په حقيقت کې بله ډيوه ده، مګر ستا سترګې پټې دي دغه رڼا نه ويني.

ته نه يې خبر چې په يوه دانه او په يوه څاڅکي کې عالمونه پراته دي.

ته پخپله هم دغنم په دانه کې ويده وې بيا دې په يوه څاڅکي او بوکې لامبو وهله نن ځانته لوی سړی وايې او په لويه بېړۍ کې ناست په لويو سيندونو کې حرکت کوې.

څه شی چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی.

يا هغه چې تاته لوی ښکاري هغه هم لوی دی.

ته ونه لويه ګڼې هغه په يوه زړي کې ده.

تاته زړی وړوکی معلومېږي په هغه کې غټه ونه ځای شوېده، دغه غټه هندواڼه چې ګورې کال ته نشي پاته کېدای او عمر يې ډېر لږدی.

دغه د هندوانې کوچنی زړی تاته هر کال تازه هندوانې درکوي.

د زړي قيمت له هندوانې نه لږ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنداونـه پـه زړي کـې سـاتلې ده کـه زړی ورك شـو هندوانـه ورکېږي.

که میندې او پلرونه خپل واړه ماشومان ساتي واړه او کوچني هم قام او ټبر ساتي.

نو راشه! هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکه چې دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته ټول برابر دي یوائې خدای لوی دی او بس.

د نن ورځې دیموکراسي له همدغسې کتنې پیدا شوه او د ډېر دقت نتیجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق

ته له ډېرقوت او ډېرو لښکرو سره په دغه ښار راغلې.

د دې ښار له خلقو سره دې ډېر جنګونه وکړه.

له دې خوا له هغې خوا ډېر خلق و وژل شوه، ډېرې وینې تویې شوې، ډېرې ککرۍ له پښو لاندې شوې.

ستا مخه چا ونشوه نیولی.

تا د ډېرو مړو به سرونو پښې کېښودې او په ډېر قوت له خپلو لښکرو سره د لوی فاتح په شان ښار ته راننوتلې.

ته ډېر په قار وې تا غوښتل، چې ښار لوټ کړې او قتل عام جوړ کړې، مګر دا کار تا ونشو کړای.

ستامخې ته د ښار یو ښکلې پېغله راغله ستا زړه یې ویووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاخپـل زړه د هغـې لـه پنجو خلاص نکړای شـو او لـه خپـل ټـول قوت سره يوې پېغلې ته تسليم شوې.
تاپه ځان باندې د يو فاتح ګمان کاوه، مګر فاتح بل څوك و.
ته نه وې خبر چې دننه په ښار کې بل راز قوت موجود دی.
تاپه ډېر زور او قـوت ځـان اسـير کـړ او د خپـل اسـارت دپـاره دې ډېرې قربانۍ ورکړې.
که له تا سره دغه قوت نه وای او شکست دې خوړلی وای تـه نـه اسيرکېدی، دعشق مقام ته رسېدل څه اسانه کار نه دی.
تـه اوس دا ښـار نشـې لوټـولی، دا خلـق نشـې وژلـی، ځکـه چـې عشق او محبت اجازه نه در کوي.
ته بايد د دوی خدمت وکړې او د دوی خدمتګار شې.
هو! عشق له پادشاهانو نه خدمتګاران جوړولی شي.
دلته سکندر بل راز کېږي او د جهانګېرۍ حرص نه پاته کېږي.
سنګر څوك نشي ماتولی دلته زور او قوت ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عمل

هغه خپله امساټکوله او بازار ته راغی.
په سترګو یې څه نه لیدل، خو په نامه یې هرڅه پېژندل.
له ده نه خپلو ماشومانو وڅکي غوښتې وې.
دی په وڅکو پسې راغلی و.
دغسې ډېر رانده بازار ته راځي او څه اخلي.
دکانداران دهغوی په سترګو کې خاورې اچوي او پردي مالونه ورکوي.
ده ته یې هم له خاورو نه ډکې وڅکې ورکړې او هرڅه پکې ګډ وو.
هغه روان وو او ځولۍ یې له لاسه خوشې شوه.
د هغه ارزو له خاورو سره برابره شوه.
هغه د زمکې په سرلاس وګرزاوه او هر څه یې ټول کړه.
هغه نه پوهېده چې خپل کور ته څه شی وړي؟
ده غوندې ډېر رانده دلته راځي او له ځانه سره څه وړي، چې د ورړلو نه دي.
هو! د ړندو عمل همدغسې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ایمان ځای زړه دی او دی بې زړه دی

چې ورړوکی و له شیشکو او پېریانو ډارېده.
چې لږ غوندې غټ شو د ملاصاحب له ډاره په سبق نه پوهېده په کوروکلي کې له غلیمانو په ښار کې له پولیسانو، د ایمان ځای زړه دی او دی ډېر بې زړه دی.
د شپې په خوب کې هم ډارېږي او خپسکی یې نیسي.
لویه خدایه! په کوم زړه کې چې دومره وېره وي ستا وېره ډېره نه ځایېږي، ستا خوف ته ډېر لږ ځای پاته کېږي.
که ستا ډار او د ظالمانو ډار په یو زړه کې یو شان موجود وي له دېنه لویه ګناه بله نشته.
کاشکې دوی یوازې له تا ډارېدلی او ستا دښمنانو ډار یې په زړه کې نه وای.
د خلقو ډار ستا وېره په زړونو کې کموي او ایمان ته زیان رسوي.
ستا ضعیفه بنده ګان یوازې له تانه نه وېرېږي له نورو نه هم وېرېږي دوی اوس د زورورو له ډاره حق نشي ویلی او نه دحق طرفداریې.
ته په دروغو خپه کېږې دوی له ډاره رښتیا نشي ویلی.
ستا ظلم نه دی خوښ دوی له وېرې د ظالمانو خدمتونه او صفتونه کوي.
هغه مسلمان چېرته دی چې یوازې له تا ډارېږي او بس.
ستا بنده باید د ډاربنده وي. د نمرود له ډاره یې سترګه ونه سوزي د فرعون په مقابل کې مغلوب نشي، له مرګه ونه وېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زمونږ باغ

د دې باغ ونې ټولې زړې دي، ډډونه او ښاخونه يې وچ دي په ميوو کې يې زښت ډېر فرق راغلی دی، ميوو لاڅه چې سيوری هم نيم نه دی پاته، تازګي نشته، خيابانونه او چمنونه خراب دي باغ ټول اغزو او ناکاره بوټو نيولی دی.

د ګلانو يو نيم بوټی که وي هغه دربو او کبلو لاندې کړيدي دلته اوس طوطيان او بلبلې نه راځي، پدې چمن کې اوس شاروي ځري، د ونو پاڼې په پسرلي کې زېړې ښکاري دا ونې د وهلو دي.

د دې زړو ونو نيلو او ريښو ټوله ځمکه نيولې ده د ځمکې قوت يې ډېر کم کړيدی، مګر څانګو او ښاخونو ته يې فايده ډېره لږه رسېږي، دا ونې اوس بې ثمره او بې حاصله دي.

د باغ خاوند بايد ټولې له بيخه وباسي، په ځای يې نوی نيالګي کېږدي. مونږ بايد ډېر انتظار وکاږو، چې دلته بيا سيوری او ميوه پيدا شي، په دې باغ و بڼ کې بيا تازه ګي ووينو، که ماليار کال په کال چينجنې زړې ونې ايستلی او نوي نيالګي يې په ځای اېښودلی باغ به اوس هم هماغسې سمسور و.

د باغ عمر او د ونو عمر به يو شان نه و.

ونې به ورکېدی باغ به نه ورکېده.

اجتماعي ژوند به له فردي او شخصي ژوند نه نه قربانيده.

څوك چې زړې ونې په باغ کې ساتي باغ به يې همدغسې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې تميزي

ډېر ښه اس و ، خو د بې تميزو په لاس کې وو.
ځوك يې په قدر پوه نشو ه باوغان پرې موړه کېښوده.
د يابوکار يې ترې واخيست.
هغه خبر نه و ، چې دغسې اس د پادشاهانو په کمند کې هم نشته او قيمت يې ډېر زيات دی.
چېرته چې علم او فراست نه وي خلق د اس او يابو فرق نشي کولی هلته عربي اسونه له موړو لاندې زخميان شي او د خرو په غاړه د زرو کټورې وي.
په دغسې وخت کې چې عمومي شعور ړوند وي او څه نه ويني.
حافظ د خلقو د بې تميزي اعلان کوي:

**اسپ تازی شده مجروح بزير پالان**
**طوق زرين همه در گردن خر می بينم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ظالم فلسفه

یو سړی د غلیمانو په خوله شل کاله بندي شو.

هر چا به ویل: حاکم ناروا وکړه. دومره ظلم هېڅوك نه کوي.

دلته عدالت نشته، قانون ته څوك نه ګوري، په بډو او رشوتونو هرڅه کېږي، مونږ له دې حاکم سره نور ګذران نشو کولی.

بندي چې له زندان نه را ووت د هنر او کمال نوم یې په وطن کې خپور شو او ډېر د کارسړی وخوت.

حاکم ویل: زه پوهېدم چې دی بې ګناه دی، مګر که مادی نه وای بندي کړی غلیمانو واژه یا به ده څوك وژلي و، ده بې زندانه ژوند نشو کولی د ده حیات په خطر کې و، د ده دغه هنر او کمال د زندان برکت دی که دی پوه شي ماله ده سره ډېر لوی احسان کړی دی، انسان پخپل خیر و شر نه پوهېږي، ډېرځله په ښوباندې د بدو ګمان کوي.

که دی پوه شي بندیتوب د ده دپاره خیر و، ما د ده خیر په زندان کې لیده.

ډېرکارونه دي چې په ظاهره بد معلومېږي په حقیقت کې ښه وي د خلقو په نظر کې ظلم وي چې فلسفه یې ولټوي رحم او دلسوزي وي.

ناپوهه خلق خیرخواهان نه پیژني، په احسان نه پوهېږي، دوستي ورته دښمني ښکاري په مدرسه باندې د زندان ګمان کوي.

مونږ د دوی په خوشحالۍ پسې نه ګرزو د دوی په خیر پسې ګرزو.

دوی پخپل خیر نه پوهېږي او خپل خیر نشي سنجولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دستور العمل

خاص مجلس و، ټول غلي ناست وو، يو هم خبر نه و چې څه به وايي؟ دومره پوهېدل چې مطلب ډېر مهم دی.

پس له څه قدر سکوت نه، هغه وويل: غير له سرو او سپينو ډېر قيمت بها نه شته، چې جواهر او الماس هغومره قېمت نلري.

حکومت بايد هغه ډېر ټينګ وساتي.

که هغه و، هر څه شته، که هغه نه و هېڅ نشته، دحکومت اساس او بنياد هماغه دی، بې له هغه حکومت نشي قايمېدلی.

د خزانو ساتنه هغومره ضرورنه ده، د هغه شي ساتل فرض دي.

د سياست په دنياکې هېڅ شی هغومره قيمت نلري.

په دې خبره ټول په فکر کې شوه.

چا ګمان کاوه چې مراد عدالت دی حکومت بايد دغه شی ډېر ټينګ وساتي او له الماس نه يې بهتر وګڼي.

د ځينو دا خيال و، چې د مملکت استقلال له هر څه نه زيات قيمت لري. يو سياستمدار بايد د همدغه شي د ساتلو ډېره ټينګه توصيه وکړي.

څه نورو تصور کاوه چې مقصد دملت خوشحالي ده.

ديوه ديموکرات حکومت اساس همدغه دی جواهر او الماس دومره قيمت نلري.

پس له يو څه وقفې هغه خپل مطلب ښکاره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پوهېده چې زما په خبرو پوهېدل څه اسانه کار نه دی.

هغه وویل: د حکومت ډار باید ډېر ټینګ وساتل شي او حاکمان له ډېر تشدد نه کار واخلي. د حکومت ډار که د خلقو په سترګو کې و خزانو ته څوک کاږه نشي کتلی له ګدامونو نه مږك هم غله نشي وړلی، سره او سپین که په ډاګ پراته وي څوك ورته نه ګوري. که دا ویره د خلقو په زړه کې وه ظلم ته به عدالت وایي بې رحمي به رحم ګڼي.

که ډار نه و او خلق سپین سترګي شوه، نو بیا ګذاره ډېر مشکله ده.

تاسې کوښښ وکړئ، چې دغه ډار د خلقو په زړونو او سترګو کې وساتئ او دا قیمت بها څیز ضایع نشي، د دې شي په قیمت باندې ښه پوه شي!

دا هغه شی دی چې په وینو تویولو، په کورونو ورانولو، په مالونو لوټولو لاس ته راغلي دي تاسې یې په اسانه مه ورکوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصلي غل

ستا خوښه چې غل ورته وايې که د غلو مل؟ زه يې غل بولم.
د دې غله لاس قاضي يا مفتي نشي پرېکولی.
د ده له لاسه هر څه کېږي او ډېر قوت ورسره دی.
حاکمان ده ته څه نشي ويلی.
د پوليسانو زور په ده نه رسېږي.
د دې غله احترام قوماندان هم کوي.
دا غل ډېر زورور غل دی.
د ده مخه څوك د ورځې هم نشي نيولی.
دی د سرکار په مال کې هم برخه لري او په خزانه شريك دی.
په ده باندې حقه شاهدي اداکول ډېر ګران کار دی.
په ده باندې هېڅوك دعوه نشي کولی.
ده ته يوائې زه غل ويلی شم او بس.
دا هغه غل دی چې له سترګو نه رانجه نه پټوي سترګې پټوي.
غله پيسې پټوي.
دې غله پټوي. خيانتونه پټوي، ظلمونه پټوي.
اصلي غل همدغه دی.
نور غله د ده په سيوري کې پټ دي.
ترڅو دی ورك نشي غله نه ورکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غلو منطق

له ورځې نه شپه ښه ده او له رڼا نه تورتم.
شپه د راحت د پاره ده ورځ د زحمت د پاره.
د عیش او عشرت وخت شپه ده.
سازونه سرودونه په شپه کې وي.
وصالونه په شپه کې صورت نیسي.
ساقي او شاهد د شپې ښه ښکاره کېږي.
بزمي محفلونه د شپې وي.
د حیات اوبه په تورتم کې دي.
په تیاره کې د ستر او پرده پوشۍ راز پټ دی.
تاسې د تورتم په قدر نه پوهېږئ.
شپې لکه د خوبانو زلفې چې هر څومره اوږدې وي هغومره ښې وي.
په سپینو مخونو باندې باید تورې زلفې خورې وي.
ښکلې او ښایسته مېرمنې په تورو پردو کې پټې ښې دي.
مونږ او دوی د پردې ترشا په تیاره کې هر څه کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زمونږ له عملونو پرده لرې شوه او هر چا په رڼا کې ولیدو مونږ ته به په نفرت وګوري.
زمونږ د پاره شپه ډېره ښه ده.
تاسې کوښښ وکړئ، چې د ورځې هم تورتم او تیاره وي.
د وهم او خوف تیاره د ورځو رڼا کموي.
له ظلم سره ظلمت او تورتم تړلی دی.
د وږو خلقو په سترګو باندې توره شپه وي.
د ناپوهۍ تیاره له شپې نه کمه نه ده.
باید تل ترتله تیاره وي، ځکه چې د حیات اوبه په تورتم کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غلو ډیوه

سپوږمۍ ورکه شوه، شپه ډېره تیاره وه، غله په تور نم کې راغله په کاله ننوتل.

دوی خبرنه و، چې ښه ښه مالونه چېرته ایښي دي، ځکه یې ډیوه ولګوله او مال یې لټاوه.

د کورو کلي خلقو چې رڼا ولیده را پاڅېدل دغلو مخه یې ونیوله او غله یې وپېژندل یوه وویل: له تورتم نه د غلو ډیوه هم ښه ده.

مونږ غله په رڼا کې ولیدل او راویښ شوو.

هو! مونږ غلو راویښ کړو.

زمونږ په کور کې غلو ډیوه ولګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حاکم اشتباه

دومره ظلم او ستم. دومره تغافل او بې روايي. دومره کبر او غرور.

داسې سخت زړه؟

بې رحمي او بې غوري انتها ته ورسېده.

د زړونو له ازاره هېڅ نه وېرېږي.

زما په ژړا يې زړه نرم نشو.

زما فريادونه نه اوري.

زما عذرونه او زارۍ تاثير نلري.

زه په ډېر اميد ورشم. زما په زړه کې ډېرې خبرې وي.

زه وايم خپل ټول عرضونه به وکړم.

هغه لکه برېښنا د سترګو په رپ کې له سترګو پناشي.

له ډېرې استغنا راته ګوري هم نه.

عاشق د معشوقې له لاسه دغه راز شکايتونه کول.

حاکم اشتباه وکړه، هغه يې سياستاً بندي کړ او په سياسي بنديانو کې حساب شو.

آهِ! د وطن مينان په دغسې خبرو زندان ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه لري او څه نه لري؟

ځمکې لري، ژرندې لري، قلاګانې لري.
راډیو نه لري، موټرنه لري، چوکۍ نه لري.
سر لري، سترګې لري، زړه لري، غوږونه لري.
ذوق نه لري، فکر نه لري، شعور نه لري، احساس نه لري.
ټغرونه لري، توشکونه لري، رخت خوابونه لري.
جارو نه لري، ځنډل نه لري، مینځل نه لري.
ګوخانې لري، طبېلې لري،تحویلخانې لري.
حمام نه لري، تشنات نلري، صابون نه لري.
جوار لري، غنم لري، وریجې لري، پیسې لري،
خیرات نه لري، زکات نه لري، صحت نه لري، راحت نه لري.
حرص لري، غم لري، سودا لري ظلم لري و ناروا لري.
قناعت نه لري، صبرنه لري فضیلت نه لري، رحم نه لري.
جهل لري، بخل لري، حسد لري، رقیبان لري، دښمنان لري.
علم نه لري، اخلاق نه لري، سواد نه لري.
زامن لري، نمسۍ لري، لونې لري، ورونه لري.
مکتب نه لري، معلم نه لري، ملا نه لري، مېرزا نه لري.
کبرلري، غرور لري، بدبیني لري، بدګماني لري.
انصاف نه لري، ضمیر نه لري، وجدان نه لري.
څوک؟
زمونږ خان او زمونږ ملك.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آمر او مامور

زه به په تریو وچولي خبرې کوم.
ته به لکه مجرم کوږ اومېږ ولاړ یې بلې صاحب به وایې.
زه به په هر کار کې کارلرم.
ته به زما په کار کې د فکر کولو حق هم نه لرې.
زه به هېڅ نه کوم، ته به زما په امر هر څه کوې.
خدمت به ته کوې نام نېکي به زما وي.
کار به زه ورانوم ملامت به ته یې.
منډې به ته وهې ستومانه به زه یم.
څومره چې له مرګه وېرېږې له مانه به هم ډارېږې.
په هره اندازه چې له ژوند سره علاقه لرې له ماسره به یې هم لرې.
یوازې محبت مې نه دی په کار زما له خوفه باید زړونه ورپېږي.
زما په حضور کې بې له عجز، نیازه هېڅ خدمت نه قبلېږي.
کـه عــاجزي او د غلامــۍ خــوی درســره و هــر راز خیانتونــه معافېږي.
پام کوه! چې پخپل خدمت او لیاقت مغرور نشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چې راځې که هر څومره مهم کارونه دې کړي و لکه ګنهګار سر ټيټی راځه!

خپل خدمتونه مه يادوه!

په قانون استناد مه کوه!

ما ته ځان وسپاره، زما په خوشحالۍ کې هرڅه ولټوه! ستا ترقي زما په اطاعت پورې تړلې ده.

ستا ترفيع په همدغسې تواضع کې پټه ده، ته خپل ځان او خپل حد وپېژنه.

ته به فکر وکړه چې زه څوك يم او ته څوك يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توره پرده

سپوږمۍ چې په تورو ورېځو کې پټه شي په جهان باندې توره پرده غوړېږي او هر څه په تور تم کې ورک وي.

په دغسې توره تیاره کې د انسان بینایي کار نه کوي، ړانده او د نظر خاوندان یو راز وي، ښه مخونه او بد مخونه فرق نه لري، د سپین او تور تمېز نشي کېدای خپل او پردي پېژندل کېږي.

د حقیقت او جمال رڼا له سپوږمۍ پټوالي په سترګو لاڅه چې په زړونو هم تیاره راولي که دا تیاره ورکه نشي او دغه رڼا له تورې پردې لاندې وي د ذوق او نظر د خاوندانو شپه نه سبا کېږي.

د شعر او ادب دنیا نه جوړېږي.

فکر، شعور او احساس نه ویښېږي.

د کار او حرکت اراده نه پېدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند نغمه

ټول غلي دي، هېڅوك څه نه وايي، د ژوند نغمه غلې ده په دغسې خاموشۍ کې ذوقونه مري، فکرونه محوه کېږي، نشاط او فرحت لکه وحشي مرغه له انسانانو نه تښتي.

زه غواړم د دغه سکوت طلسم مات کړم او خپله سرینده وغږوم دا سرینده مادعشق له هېواده او دبلبلو له کوره راوړېده.

زما د سرينديې اواز ډېرخوږ دی.

راشئ! کښېنئ زما نغمې واورئ!

زه نه غواړم چې ارزو ګانې مړې او زړونه ساړه وي.

زه د احساساتو اوجذباتو د ويښولو دپاره راغلم.

دغه ده ماخپله سرينده راواخيستله خپلې نغمې شروع کوم.

آه – داڅه وشوه؟ له دې سرينديې نه خوهېڅ اواز نه پورته کېږي.

سوری نه خونه ده ما ته ښکاري تاورنه يې ټول په ځای دي.

دا ولې نه غږېږي! له دېنه لويه ضايعه بله نشته.

پوه شوم، وپوهېدم دا سرينده د بلبلو د کور ده او بې د ګلونو له خوا بل چېرته نه غږېږي.

دا سرينده له عشق سره تعلق او ارتباط لري. تارونه يې هم په هماغه مقام پورې تړلي دي.

زه بايد ګل زار ته ننووزم او د ګلونو په حرم کې د خپلې سرينديې اواز واورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بایـد د نـرګس سـترګې، د غـوټۍ خنـدا ، د چنـدړو لښـتې، د سنبلو پرېشانه زلفې وګورم او د حسن په ګل زار کې خپله سرینده وغړوم بې له دېنه دغه خاموشي نه ورکېږي او خوشحالي نه پیدا کېږي.

دا توري وربځې باید دلمر او سپوږمۍ له مخې لري شي.

د بلبلانو پنجرې او قفسونه باید مات شي.

د بـاغ تړلـی ور بایـد ببرتـه شـي چې خوشـحالي راشـي او ذوق وشعور سترګې وغړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحالي

ستا د شجاعت او شهامت ترانه ډېره خوږه ده.

دا ترانه ډېر مشهور شاعر جوړه کړه، سازندګانو ورته ډېر ښه اهنګ پيدا کړ اوس يې د وطن جونه او پېغلې په ډېر شوق وايي او ته يې په اورېدو ډېر خوشحاله يې.

ټول خلق تاته په ډېر قدر او احترام ګوري، دا نه هلته يو ځای بل ځای ستا د تورې او سربازۍ صفتونه دي او ته له ډېرې خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېږې.

په هغه ورځ چې ته د جنګ او جګړې له ميدانه بريالی راغلی ستا په افتخار جشن ونيول شو په تا باندې له هر خوا ګلونه شيندل کېده ستا په غاړه کې خلقو د ګلو هارونه اچول ټولې سترګې تاته متوجه وې او په تا باندې خوشحالي ورېدله. دا خوشحالي تاله هغه ځايه راوړه، چې هلته د ګوليو او بمنو باران ورېده او ژوند ډېر په خطر کې و، ته به هر ساعت له مرګ سره مخامخ کېدې او ډېر لوی غم درسره و.

هو! د مشرانو خوشحالي په همدغسې مشکلاتو او خطراتو او غمونو کې پټه وي او کو چنيان خوشې په خوشې خوشحاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړ خیالونه او ژور فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آزادي

په کوم حق د هوا ازاد مرغان په پنجرو کې اچوي؟
څه حق لري چې دغه اسماني نغمه وال له ګوښه ځايونو، له چينو او لښتيو، د سپيدو له رڼا او د ونو له څانګو څخه بيلوي او د ژوند پانګه تري نه اخلي.
انسانه! ته په رښتيا داګومان لرې چې لوی خدای دغه ښايسته مخلوق ته دا ورونونه او ښکې د دې دپاره ورکړيدي چې ته يې وشکوې؟
ايا بې له دغه ظلم او ستمه ته ښه ژوند نشې کولی؟
اخر دغو بېګناهو څه کړيدي چې ټول عمر به ستا په زندان کې تېروي.
دا څه معلومه ده چې د دغو بيګناه بنديانو سرنوشت زمونږ له سرنوشت سره نه دي تړلي.
دا چاته معلومه ده چې د دغومرغيو آه به د ظالمانو حاکمانو په خبر په مونږ راونه ګرځي او مونږ به ونه ځوروي.
آه- هېڅوك نه پوهېږي چې په دغه جهان کې زمونږ له کړو نه څه نتيجه ولاړېږي؟
زمونږ له هغو جنايتونو چې په خندا او خوشحالۍ انجام مومي د اسرارو په چارراهۍ کې څه پيدا کېږي؟
کله چې د شنه اسمان سپك وزره مرغان چې د دې لويې فضا الوتلو ته پيدا دي په پنجرو کې ايساروي، هغه وخت چې د اسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نېلي درياب ښايسته لامبوزن دخپل ظلم په زندان کې اچوي دا فکر نه کوي چې يوه ورځ به د دوی په وينو لړلي نوکان له قفسونو څخه راووزي او تاسو ته به در ورسېږي.

ايا تاسو دا فکرنه کوئ چې هرچېرته چې يو بندي د ظلم او ستم له لاسه فرياد کوي خدای ورته په رحم او مهربانۍ ګوري.

د خدای دپاره د شنو فصلونو او کښتونو کونجي دغو بنديانو ته وسپارئ.

بلبلان ازاد کړئ مرغۍ خوشې کړئ.

دغه ښکلې پنجرې چې د زينت دپاره ستاسو په کورونو کې ځړېږي په ډېر دقت وګورئ.

د جهان هغه تله چې تاسې يې نه وينئ دوه پلې لري.

همدغه د قفس نري او زري مزي دي چې د زندانو او جېلونو تور آهنين سيخونه ترينه جوړېږي.

د اسمانونو، د چمنونو، د سيندونو بې ازاره لارويو ته زيان مه رسوئ او ازادۍ ته يې په احترام وګورئ.

د دغو بېوزلو او بې ګناهو ازادي مه ايساروئ، چې د تقدير او سر نوشت قاضي او حاکم ستاسو ازادي سلب نه کړي.

هغه چې د ظالمانو له ظلمه فرياد کوي پخپله هم ظلم او تېري کوي.

انسانه! ته په رښتيا ازادي غواړې او ازادي دې خوښه ده؟

که دغسې وي، نو بيا ولې دغه بندي او د خپل ظلم پته خوله شاهد پخپل کور کې ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالمه! ولې فریاد کوې چې په مابندې ظلم او تېری کوي.

لږ څه خو دغه بیوزلی بندي وګوره چې سیوری یې په تا باندې پرېوتی دی.

دغه قفس ته خو لږ غوندې ځیر شه، چې ستا په کورکې ځوړند دی او ته نه پوهېږې چې د دې پنجرې د سیخونو ترشا، چې اوس په کې یو بې ګناه مرغه نغمه سرايي کوي د یوه زندان اساس او بنیاد ایښودل کېږي.

(هوګو)

# اجتماعي عیبونه

هغه څوک چې له ټولو اجتماعي عیبونو، یعنې له خودپرستۍ، تعصب، خطاکارۍ او دروغو نه خلاص وي له اجتماع سره به دومره مخالف وي، چې بې له انزوا نه به هېڅکله ژوند ونکړی شي.

(ګوستاولویون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل ویل

**ګل بورا ته ویل:**

زه او ته تقدیر یو له بله بیل کړي یو. زه دلته پاته کېږم، مګر ته هرې خوا ته الوزې او هر لور ته تلی شې، سره له دې ما او تا یو په بل پورې زړه تړلی او له خلکو نه لرې خوا په خوا ژوند کوو.

زه او ته دومره یو بل ته ورته یو چې کله کله دواړو ته ګل ویل کېږي، افسوس دی چې ته له نسیم سره پرواز کوې او زه په زمکه کې زنداني یم.

ما څومره ارزو لرله چې له تا سره والوزم او ستا په مخکې خپله خوشبويي خپره کړم، مګر ته دومره لرې ځې چې زه درسره ملګرتیا نشم کولی.

ته همېشه په ګلونو کې پرواز کوې، زه یوازې د خپل سیوري ننداره کوم، چې د لمر له ګرزیدو سره زما شاوخوا ګرځي.

ته ځې او بیا راځې بیا بېرته ځې او د بل ځای قصد کوې، مګر ما وینې چې هر سحر پخپل ځای ټینګ ولاړیم او اوښکې تویوم.

بوراګله! د دې دپاره چې زما او ستا یارانه ټینګه پاته شي یا ته ما غوندې خپلې نیلې په زمکه کې خښې کړه یا ماته بڼې او وزرونه راکړه، چې تا غوندې والوزم او له تاسو سره پرواز کړم.

(هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپېږزره کاله پخوا

شپېږزره کاله کېږي، چې سړی د سړو په وژنه لګیا دي.

...اسمان هر کله د زنبق د ګلونو او د ښایسته مرغیو د ځالو په صورت خپل استازي را استوي، چې دوی د صلح او محبت خواته راوبولي، مګر دغه د مینې پېغامونه د خلقو له زړونو څخه د لېونتوب اثر نه وړي.

له ډېره وخته د ځمکې د خلکو زوروره مینه له وژلو او وینو تویولو سره پیدا شوې ده. ډېره موده کېږي چې د ملتونو خوږه او جذابه موسیقي د جنګ او جګړې ساز او سرود دی.

ډېروخت دی چې افتخار د وېرونکي خپسکې بڼه پیدا کړې ده، چې په دیو هیکله ارابه په لاره تېرېږي او ښځې، نران، لوی، واړه له پښو لاندې چیتوي.

اوس زمونږ سعادت او نېکبختي له ډېرې مشکل پسندۍ نه کار اخلي او هغه وخت یې وچولی غوړېدلی وي، چې خلك ووایي (ځوځانو نه وژنو) اوس باید د سعادت ګټلو دپاره د جنګ نغاره وډنګېږي.

هر چېرته د پولادو برق په چلیدو دی، په هر ځای کې د بلو لمبو لوګي او لوخړې پورته کېږي.

هغه خلك چې ډلې ډلې د خلکو د وژلو دپاره د جنګ میدان ته روان دي د خپلو تورو شپو د رونولو دپاره د توپونو د خولو لمبو ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټول کارونه يوازې د قومونو د مشرانو د جاه طلبۍ د پاره دي.

هغوی لا په مونږ باندې خاورې نه وې اړولې چې زمونږ په قبرونو باندې د دوستۍ معاهدې کوي.

ځناور او مرغان لا د جنګ په ميدان کې زمونږ په وينو او هډوکو پسې ګرځي او دغه اقايان يو له بله سلامونه او احترامونه مبادله کوي.

زمونږ په ننني دنيا کې هېڅ ملت نه غواړي چې يو بل ملت خپل ګاونډ ووينې.

هغه کسان چې د دوی د حکومت دوام زمونږ د حماقت نتيجه ده هره ورځ د قهر او کينې احساس زمونږ په روح کې تقويه کوي او هغه اور ته لمن وهي چې دوی په خپله بل کړي دي.

ښايي چې له يوه سيوري لاندې ارام کښېناستل د يوې چينې خوږې اوبه څښل، له يوې ګڼې او ګورې ونې لاندې له خپلو رويا و سره مشغولا خوند او لذت ولري، مګر د نن ورځې انسان له دې ټولو خوندونو نه زيات خوند د خپلو ورونو په وژله کې مومي.

هغه وخت چې سپېدې چوي او د رڼا پيغام جهان ته راوړي، هغه وخت چې د سحر مرغه نغمه سرايي کوي دغه جګړه مار انسان د وژلو او وينو تويولو په فکر کې وي او له کينې نه کار اخلي.

(هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حضرت محمد "ص"

هغه (ص) پوهیده چې د عمر وروستۍ سلګۍ ده او د ژوند رڼا کله د مازیګرزېړی لمر درنګ ساعت له سترګو پنا کېږي.

دی به تل په فکر کې ډوب و او په هېڅ‌چا به یې پړه نه اچوله.

چې په لاره به روان و. له هرې خوا سلامونه پرې ویل کېده، ده به هم هرچاته په مهربانۍ ځوا ب وایه.

په ډېره کې یې شل ویښتان سپین نه لیدل کېده او زهیرتیا یې ورځ په ورځ زیاتېده کله به چې اوښانو اوبه څښلې دی به ورته ودریده او هغه ورځې به یې په زړه ګرځېدې، چې ده به د خپل تره اوښان څرول.

هر وخت به دخدای په درګا کې په راز او نیاز مشعول و.

خوراك یې بیخي لږ و او ډېر ځله به یې په نس پورې تېږې تړلې.

پخپل لاس به یې خپلې مېږې لوشلې، چې جامې به یې و شکېدې په زمکه به کښېناست او خپل کالي به یې پخپله ګنډل.

د ځوانۍ قوت یې نه و پاته، ډېرو روژو د ده بدن کمزوری کړی و. په ډېرو اوږدو ورځو کې به یې د رمضان ټولې روژې نیولې. د درې شپیتو کالو و چې ناڅاپه تبه پرې راغله.

هغه قران چې د خدای له لوري پرې نازل شوی و، ټول یې ولوست د اسلام بېرغ یې سعید ته په لاس کې ورکړ او هغه ته یې وویل:

دا زما د ژوند وروستۍ ورځ ده ته په دې پوه شه چې بې له یوه خدایه بل خدای نشته، ته د هغه په لاره کې جهاد وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ډېر ارام معلومېده، مګر نظر يې د هغه لوړ پرواز عقاب غوندې و، چې د لوړې فضا په ترکولو مجبور شوی وي.

په دغه ورځ هم دی د هر وخت په شان د لمانځه دپاره مسجد ته راغلی او په حضرت علي يې تکيه کړې وه، مومنان او مسلمانان ورپسې را روان وو او په مخکې يې مقدس بېرغ رپېده.

چې مسجد ته ورسېده رنګ يې الوتی و او خلکوته يې وويل:

ای خلکو! که چېرې دپاك خدای ج اراده نه وای ما به له يو ړانده او ناپوه نه څه فرق نه درلود.

زمونږ سرنوشت يې د دې له سرنوشت سره په يوه ملکوتي پيوند کلك وتاړه، چې په غم او ښادۍ کې راسره وي.

په دغه ښکلي بخشش بايد ډېر خوشحاله شو او دا ښايسته حوره ډېره وستايو، د زړه په کور کې د کور د مېرمنې ځای بايد ورته پرېږدو او ډېر پام وکړو، چې هغه بد ګذرانه او بد خويه خوانښې، يعنې عقل د دې ښکلي نازنينې ناوې زړه ازار نکړي.

اوه! يوازې همدغه جنۍ په ما باندې نه ده ګرانه د دې له خور سره هم زه ډېره ټينګه علاقه لرم.

خور يې له دينه لږ څه لويه او جدي شانته ده چې (اميد) ورته وايي:

څومره به ښه وي چې دغه مهربانه ملګرې چې له ډېرې مودې زما د سعادت پانګه ده تر هغه وخت راسره وي، چې زما د ژوند ډيوه مړه شي او ژوند خاتمه ومومي.

(ګوښته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مرګه نه و بربړم

له مرګه نه و بربړم، که څوك راته ووايي چې نن شپه مرې زه به ووايم، چې د خدای رضا مې قبوله ده، مګر خدای دې نه کا چې څوك راته ووايي د يوه تن ژوند ستاله لاسه تريخ دی.

(کانت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غم خوښي

زما دا خبره بې له پوهانو بل چاته مه کوئ، ځکه چې ناپوهان بې له ملنډو په نور څه نه پوهېږي.

زه غواړم هغه ژوك وستايم چې ځانته اور لټوي او لکه پتنګ سره اور ته ځان غورځوي.

د عشق په شپو کې چې د ژوند نيالګي کرل کېږي او د حيات ډيوه لاس په لاس ګرځي د سپنې سپوږمۍ په ليدلو ستا په روح کې يو مرموز هيجان پيدا کېږي، ته بيا خپل ځان د تورتم په زندان کې بندي کړې، ځکه چې هره ګړۍ د يوه مقام ارزو درسره وي.

ته بيا د اوږدې لارې او د ګران سفر له غمه خلاصيږې او خپله اروا په بيړه د نورو اوصفا چينې ته استوې، چې د شوق لمبه لکه پتنګ ځان ستي کړي.

ترڅو چې په دغه نکته پوه نشې (مړشه چې ژوندی شې) په دغه تورتم او تياره جهان کې به لکه نوم ورکي مېلمه او سېږې.

(ګوېته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند لوبه

څه موده ما او تا یو له بله زړونه تړلي وو او په غم او ښادۍ کې ملګري وو.
په وارو وارو مو د ښځې او مېړه لوبه شروع کړه بې له دې نه چې خبره جګړو او دعوو ته ووزي.
ډېر ځله مو یو له بل سره وخندل د دوو مینو غوندې د بل په مخ د مینې لاسونه راښکېل، شوخي مو وکړه یو له بله مو خوله واخستله او خوله مو ورکړه.
په اخرکې مو د وړو په شان په ځنګلونو او کښتونوکې دا لاداد او پټپټاني لوبه شروع کړه او یو له بله داسې پټ شوو، چې تر اوسه مو سره نه دي موندلي. (هاینه)

# پوهه

د پوهې قوت ته وزرونه مه پیدا کوئ، بلکې څه سرپ ورپورې وتړئ. (بیکن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هر چا وځورولم

ځينو پخپل عشق وځورولم، ځينو په کينه زما زړه ازار کړ.
چا د عشق په زهرو زما ډوډۍ ولړله.
چا زما د شرابو په پياله کې د کينې زهر توی کړه.
مګر له هر چانه هغه چا ډېر وځورولم چې نه يې راسره کينه پيدا شوه او نه مينه.

((هاينه))

# زما ترانې

زما ترانې ټولې په زهرو لړلې دي.
ولې به نه وي لړلې، ايا تا زما د زندګۍ په جام کې زهر توی نکړه؟
زما ترانې ټولې په زهر ولړې دي، ولې به نه وي لړلې ايا زه پخپل زړه کې په زرهاو ماران نلرم؟
ايا له دغو ټولو مارانو علاوه ته زما په زړه کې ځای نه لرې، ای زما دلداره!

(هاينه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هوسونو مرګ

زما هوسونه مړه شوه، مګر زه لاژوندی یم.
ما خپل زړه له خوږو او خوندورو رویاو څخه وشکاوه او مړنه شوم.
اوس ماته بې له رنځ تېرولو او غم خوړلو نه نور څه نه دي پاته.
زما غلی او چوپ زړه د همېشه دپاره د امیدو له تودوالي محروم دی.
زما د سرنوشت طوفانونو زما د ژوند تر او تازه ګل مړاوی کړ اوس زه یوازې له نا امیدۍ او افسرده ګۍ سره مخامخ یم او د نجات وروستۍ ګړۍ ته ګورم.
زه هغه وچه پاڼه یم، چې منی او خزان یې لیدلی، مګر دا لا په لغړ ښاخ پاتې ده او د ساړه ژمي بادونه یې رېږدوي. (پوشکین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر حال

ترخو چې د هنر رب النوع تازه طعمه ونه غواړي شاعر غلی او ارام دی.
دی هم د نورو غونډې په خوړو او اوبو پسې هڅه کوي او د وګړو په شان په ډېرو وړو کارونو باندې بوخت وي.
د ده اسماني سرینده غلې وي او هېڅ غږ ترینه نه خیژي.
زړه یې له غم او رنځه فارغ وي او د ژوند له مبتذلو خوښیو سره یې تعلق وي.
لنډه دا چې د جهان بې هنره خلکو غوندې عادي ژوند لري.
کله چې ناڅاپه د هنر رب النوع د شاعر په زړه کې څه واچوي روح یې لکه ګربته، چې له درانه خوبه پاڅېږي ریږدي او له دغه احمقانه وخت تېرولو څخه خوابدي کېږي.
د جهان له عادي شور او غوغا څخه تښتي او خپل سر د خلکو ناڅیزه بوتانو ته نه ټیټوي، بلکې په ډېر قار او ټینګار له دغه عالمه کناره کېږي. د ډکو سیندونو په موجونو او د ځنګلو په شاعرانه زمزمو پسې روانیږي.
(پوشکین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر ته

شاعره! د خلکو په ستاینه مه غولېږه! ځکه چې د مدح او تحسین نغاره ژرغلي کېږي.

د احمقانو او بېشعوره خلکو خندا او وینا ته غوږ مه ږده!

تل غلی، جدي او ټینګ اوسه!

ته پادشاه یې باید د شاهانو غوندې په انزوا کې ژوند وکړې.

ته خپله لاره مه پرېږده او هغه ځای ته ولاړ شه، چې ستا ازاد طبیعت یې درښیي.

ته د خپلو هغو اندېښنو او خیالاتو محصول، چې په تا باندې ډېر قدر لري خلکو ته وړیا ورکړه او په خپله دغه بخشش له چا نه مه غواړه.

اجر او مزدوري مه غواړه، ځکه چې ستا مکافات بې له تا نه بل څوك تا ته نشي درکولی.

ته پخپله د خپل ځان قاضي یې، ځکه چې هېڅوك ستا په باب کې تا غوندې سختګیر نه دی.

ای مشکل پسند هنرمنده! ایا ته پخپل کار پخپله خوښ یې؟ ایا ستا زړه خوشحاله دی؟ که دغسې وي نو بیا څه پروا ده که خلك له تا سره دښمني وکړي او تاته بدوواییي.

پرېږده چې احمقان د هغه معبد په غولي کې لاړې توکړي، چې په محراب کې یې ستا د نبوغ اور لمبې کوي. پرېږده دوی د خپلې بې عقلۍ په وجه ستا د ځلاند مشعل پایې ولړزوي.

(پوشکین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادب او محبت

پام یې نه و، د دې په ځای چې په ډېر ادب راته (تاسو) ووایي، په ډېره مینه یې راته وویل: (ته)

په دغه وخت کې د خوشحالۍ او خوشبختي خیال زما مضطرب او پرېشانه روح ونمانځه او عاشقانه مچې یې ترې واخستله.

زه اوس د هغې په مخکې ولاړ یم او یوه شېبه ترېنه سترګې نشم اړولی.

په خوله وایم: ای ښکلې پېغلې (تاسو) څومره په ادب یاست، مګر په زړه کې وایم:

ته پر ما باندې څومره ګرانه یې.

(پوشکین)

# د حقیقت اظهار

که زه د حقیقت په اظهار کې زیان ووینم پروا نشته، خو چې حقیقت زما د چوپوالي په وجه زیان ونه ویني.

(مترلینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیغمبر

د معنیٰ تنده او تلوسه راسره وه.

په چوپه او غلې بیدیا کې لالهانده ګرځېدم.

هغه پرښته چې شپږ وزرونه لري له پاسه راکوزه شوه او خپلې ګوتې یې چې له خوب او خیاله سپکې وې زما سترګو ته رانږدې کړې.

ما د وارخطا ګربتي غوندې خپلې سترګې رانونیستې.

د هغې لاس زما د غوږونو له څنګه تېر شو زما په غوږونو کې ناڅاپه یو مرموز اواز پیدا شو.

همدغه وخت ما د اسمان دړه د تپېدو اواز واورېده.

د دریاب له موجونو لاندې مې د بحري حیواناتو تګ راتګ ولیده.

د کورو په بوټوکې مې د تاك څانګې او پاڼې لیدې، چې وده کوي او لوېږي.

پرښته زما شونډو ته رانږدې شوه زما هغه ژبه یې رانه پریکړه چې کار یې نیش وهل وو.

بیا یې پخپلو لاسونو چې په وینو لړلي وو یوه بله ژبه زما په خوله کې کېښېښوده.

زما په ځیګر یې تېره توره ومنډله زما رپیدونکی زړه یې راوایست او د اور سوځوونکې لمبه یې زما په سینه کې ننویستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د یوه مړي په شان غلې او بې حرکته د بیابان په شګو کې پرېوتم دغه وخت مې ناڅاپه خدایي غږ تر غوږه شو، چې ماته یې ویل: پاڅېږه! سترګې وغوړوه، د خدای فرمان ته غوږ ونیسه او د اجرا دپاره یې سمدلاسه روان شه له بیابانونو او دریابونو نه تېر شه پخپلو خبرو د ایمان اور د خلکو په زړو کې بل کړه!

(پوشکین)

# د نېکانو ارمان

د نیکانو لوی ارمان دا دی، چې د سړو جوړولو په کار کې برخه ولري که څه هم د دوی کار پټ پاته شي او څوك پرې پوه نشي.

(سپنسر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قبر او ګل

قبر سره ګل ته ویل:
ای د عاشقانو ګله! هغه د اوښکو څاڅکي چې هره شپه د چرګ غږ او سحر له سترګو ستا په ښکلي بڼه راتویېږي ته پرې څه کوې؟
ګل وویل:
اول ته راته ووایه! هغه چې ته یې هر وخت خپلې ګېډې ته ننباسې څه ورسره کوې؟
قبر وویل: ګله! زه له هرې اروا نه چې ماته یې سپاري پرښته جوړوم او اسمان ته یې لېږم.
ګل وویل: قبره! زه دغه اوښکې ورو ورو د عطرو او عسلو په صورت تبدیلوم او خلکو ته یې ورکوم!
(هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افتخار

دا طلایي سکه چې د دنیا په بازار کې د افتخار په نامه چلند لري هېڅ ګڼمه.
هو! زه ورته په کرکه ګورم او له پښولاندې یې کوم.
هغه چې د خپل هنر مزدوري غواړي د ټیټ فطرت خاوند دی.
هغه چې د دغه بازار په سرو او سپینو پسې لېوال دی پرېږدئ، چې دې بې ارزښه سکې ته لاس وغځوي.
دا سکه هغه څوك اخلي چې ځان خرڅوي.
که ته غواړې چې دغه خلق وپېرې، نو راشه دوی ټول ځانونه خرڅوي.
ته باید دوی ته یو مناسب قیمت وټاکې او خپله امیانۍ وشرنګوې.
که داسې ونکړې، نو د دوی په تقویٰ اعتراف کوې.
ایا ته نه پوهېږې چې دوی ټول د تقویٰ خاوندان دي.
افتخار او تقویٰ تل اوږه په اوږه وړاندې ځي.
ترڅو چې دنیا شته خلق د تقویٰ بها په افتخار تادیه کوي.
د افتخار د سکې اواز دې، چې دنیا یې په پښو ودرولې ده.
ما پرېږدئ، چې د جهان د پرهېزګارانو په مقابل کې بد معامله اوسم.
پرېږدئ چې زه د افتخار خاوندانو ته هېڅ ښکاره شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې ځان د دغسې خلکو په مخکې وينم زړه مې خپلې اندازې نه زيات د حقارت تمنا لري.
زه دغه طلايي سکه چې د جهان په بازار کې رواج لري او د افتخار په نامه يادېږي هېڅ ګڼمه او په نفرت ورته ګورم.
زه اوس د افتخار او تقوىٰ غوندې ورو ځيزونو په مخکې نه يم ولاړ.
زه دغه وخت له ډېرو لويو حقايقو سره مخامخ يم، چې يا بايد غلى او چوپ پاته شم يا بايد ډېرې لويې خبرې وکړم.
اى زما پوهې او هوښيارې! راشه هغه څه ووايه چې د نورو په فکر کې نه راځي.
(نيچه)

## څه غواړم؟

د ډېرو خلکو له پټو رازونو خبرشوم، مګر له ځانه لا خبرنه يم.
زما سترګې ماته دومره نږدې دي چې مانشي ليداى.
زما زړه غواړي چې له ځانه څه قدر لرې شم او خپله څېره ووينم، مګر دومره لرې نه لکه چې له غليم نه لرې يم.
اوس زما ډېر نژدې دوستان هم له مانه ډېرلري دي.
زه غواړم د دوست او دښمن ترمنځ يوه فاصله ولرم، ترڅو چې هغه څه په ځان کې وليدى شم چې په ماکې شته.
اوس پوه شوې! چې زما زړه څه غواړي؟
(نيچه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بېدای فقر

لس کاله کېږي چې یو ځاځکی باران په ما باندې ونه ورېده.

د یوه سړي وږمه په ما ونه لګېده، د مینې او محبت برخه زما د زړه په کښت پرې نه وته، ځکه چې په دغه ځمکه هېڅکله باران نه ورېږي.

زما پوهې! زه اوس تاته مخ اړوم او تاته اسره لرم چې په داسې وچکالۍ کې ته وچتوب غوره نکړې.

له تا نه هیله لرم چې زما د پاره روح خوښونکي وږمه، زړه خوشحالوونکي پرخه، ژوند پالوونکي او ریا شي.

پخوا تردې ما ورېځو ته ویل چې زما له مخې نه لرې شي، چې د رڼا پلوشه په ما باندې ډېره پرېوزي او مخه مې ښه رڼا کوي.

اوس د هغو ورېځو په لاره کې دامونه ږدم، چې ګوندې یوه شېبه زما په سر باندې سیوری شي او زما خبر واخلي.

پخوا له دېنه په تریخ حقیقت پسې ګرځېدم اوس د تصادف څېو ته لاس غځوم او غواړم، چې میلمه پالونکی شم، خپله برخه او دخپل وچولي لیك له ځانه ونه شړم، نن زرتش له خپلې سختې نه لاس اخستی دی او لکه تود باد، چې کنګل ویلې کوي خپل ملایمت څرګندوي.

تر اوسه لا پخپل کوهستان کې انتظار کاږي، مګر د غره له لوړې څوکې راښکته شوي دي له هغو کنګلو نه چې تل ترتله ساړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ترلي پاته کېږي يو قدم را ټيټ شوي دي ستومانه دي، مګر خوشحاله معلومېږي.

غلی شه! چې حقيقت لکه ټينګه وريځ زما په سر تېرېږي د ورېځې له زړه نه يو غير مريي برق ځليدونکی دی.

حقيقت ورو ورو له ډېرو لويو پټه پايو او پلو څخه زما په لوري رابښکته کېږي راشه! ګرانه حقيقته.

چوپ شه! دا زما حقيقت دی، چې په ځيرځير او خواږه اضطراب راته ګوري او کتل يې لکه د ستورو کتل جذاب او شيطنت اميز معلومېږي ته به وايې چې زما د نېکمرغۍ راز يې پخپل حدس موندلی دی او پوه شوی دی، چې نن ولې د غره له لوړې څوکې رابښکته شوی يم، ولې ملايم او ارام يم؟ ته به وايې چې له ليدو او کتو يې يو ګلرنګه بښامارته خوله وازه کړېده.

غلی شه! چې زما حقيقت څه وايي:

افسوس دی ستا په حال ای زرتشته! ستا حال د هغه چا غوندې دی چې سوچه زر يې خوړلي وي، اخر به ستا ګېډه څېرې کړي او دغه زر به ترېنه وباسي.

زرتشته! ته له اندازې نه زيات بډای، له حده زيات د خلکو سترګې بربښوې او په زړونو کې ځانته حسد پيدا کوې.

زه د ستا د ځليدونکي رڼا په مخکې دربدای نشم او سيوري ته پناه وړم او رېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بډایه! څه ولاړ شه! څه روانېږه ای زرتشته له خپل لمر نه لرې شه!
ته غواړې چې له خپلې هغې رڼا نه چې له سره ډېره زیاته ده نورو ته په لپو لپو څه ورکړې.

ته په دې نه پوهېږې، چې هغه شی چې له تا سره په رښتیا زیات دی پخپله ته یې.

که غواړې چې چاته څه ورکړې له ځانه تېر شه خپل ځان ورکړه ای زرتشته!

ته وایې لس کاله کېږي چې یو څاڅکی باران په ماباندې نه دی ورېدلی. د یوه سړي وږمه راباندې نه ده لګېدلې، د مینې شبنم زما په زړه نه دی پرېوتی.

ته دا اسره لرې چې په مینه درته وګوري او تا ښه وګڼي.

ایا ته نه پوهېږې چې د خوشبختۍ پلوشو او حرارت شاوخوا ځمکه سوزولې هغه زمکه چې له بارانه محرومه ده له عشقه هم څه برخه نه لري.

اوس ستا ستاینه څوك نه کوي، بلکې ته د خپل دسترخوان د پوټو ټولوونکو ستاینه کوې.

زه تا پېژنم چې ډېر فقیر بډای یې.

ستا ډېر شته تا په عذابوي، ته خپل ځان په ډېره ورکړه ستومانه کوې، خپلې ارامتیا نه ګورې له خپل ځان سره علاقه نه ښیې.

ستا باطن همېشه هماغه شان په شکنجه کې دی، لکه چې په یو انبار کې له اندازې او ګنجایش نه زیات غنم واچول شي یا په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه کې له حده زياته مينه پيدا شي. ته خپل ځان قربانوې، خو ځوك ستا ، ستاينه نه کوي!

ای بې پوهې هوښياره! که غواړې چې په نورو ګران شې بايد ډېر فقير شي.

دا خلك له هغه چاسره مينه کوي، چې په زحمت کې وي هغه چا ته يوه مړی ډوډۍ ورکوي چې وږی وي.

ای زرتشته! که غواړې چې چاته څه ورکړې، نو خپل ځان ورکړه او له ځانه تېرشه! زما خبره واوره، زه ستا حقيقت يم!

(نيچه)

# هېرول

هغه څوك چې څه نشي هېرولی ښه سړی نه دی.

څوك چې همېشه د بل د ملامتۍ له خاطره له ځان سره څه ساتي د ښه زړه خاوند نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له هر چا نه لرې

رټل او رټل کېده یو هم ښه نه ګڼم او له دواړو نه کرکه لرم.
د چا اطاعت نشم کولی او له چانه اطاعت هم نه غواړم.
هغه چې له ځانه نه وېرېږي بل هم نه ویروي.
په نورو باندې هماغه څوك حكومت كولی شي چې نور ویروي.
زه به څنګه دغه کارته زړه ښه کړم چې د خپل ژوند په اداره هم نه یم خوښ.
زه غواړم چې د ځنګله یا د سیند حیواناتو غوندې یوه شیبه ځان هېر کړم چېرته یوازې کښېنم.
له خپلو لرې اوږدو رویاو سره مشغول شم.
خپل ځان له ډېر لرې ځایه دلته راوبولم.
له ځانه زړه وشکوم او بې له ځانه له بل چاسره څه مشغولا ونه لرم. (نیچه)

# د شاعر خوشبختي

د کلي رونق اوښتی دی، د خزان سیلۍ ټوله ښکلا له ځان سره وړېده، مګر شاعر د تېرو په یا د خپل غم سپکوي.
دی فکر کوي چې له داسې بدایعو نه یوه ښکلې تابلو جوړه کړي چې هېڅ خارجي وجود نه لري.
دی رښتیا ډېر خوشبخت دی چې برباد شوی ښایست د خپل خیال په دام کې نیولی او ساتلی شي.
(ایشندرف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تسلي

د ژوند پانه زیړه ده. اوس تا تورو خاورو ته سپاري او دی د خاورو اولاد دی، مګر غم مه کوه! ستا له خاورونه به یو داسې نیالګی زرغون شي، چې هر کال به نوي ګلونه نیسي او هر پسرلی به ستا په یاد عطر افشاني کوي.

(ورکرت)

# هابیل او قابیل

د قابیل نسله! ته ارام ویده شه! ښه څکه، تل موړ او خوشحاله اوسه! ځکه چې ژوند تا ته په ډېره مینه خاندي.

مګر ته ای د هابیل نسله! ټول عمر په خوارۍ او بدبختۍ کې غوټه اوسه او په زحمت مړ شه!

د قابیل اولاده! ډېر خوشحاله اوسه ځکه چې اسمان تا ته په ډېر ښه نظر کتلي دي او ته یې خوښ کړې یې.

د هابیل اولاده! ته همدغسې په غمونو، زحمتونو او سختیو کې تل ترتله ژوند کوه!

د قابیل زوزاده! خانده او خوشحالېږه، ځکه چې ستا کښت ډېر ښه راغلی او ستا رمې کال په کال زیاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر ته ای د هابیل زوزاده! همدغه شان په لوږه شپې سباکوه او فریاد کوه.

د قابیل بچیو! تاسې تودو نغریو ته نزدې کښېنئ او ځانونه تاوده کړئ، مګر تاسې ای د هابیل بچیانو! لکه ګېدړان په سمڅو او غارونو کې له سړو نه وربېږدئ او ورپیرېږي خپل ټبر هم زیات کړئ او هرکال نوي اولادونه راوړئ.

مګر تاسو ای د هابیل نمسیانو! خپله اشتها وسېځئ او له خپلې کمپلې نه هېڅکله پښې مه باسئ!

د قابیل ټبره! ته د ځنګلونو د حشراتو غوندې تل خوره او غټېږه!

مګرته د هابیل ټبره! له خپلو اولادونو سره په کورونو او کوڅو کې سرګردانه ګرځه!

اه! د قابیل نسله! که ته مړهم شې ستا په غوښو و هډوکو به ځمکه تیاره شي او کښت به یې ډېر ښه راشي، مګر ته ای دهابیل نسله! په ژوند هم څه حاصل نه لرې او هېڅ لاس ته نه درځي.

مګر ګوره! ای د قابیل نسله سره له دغو ټولو شیانو یو لوی شرم هم ستا په برخه رسېدلی دی، هغه دا چې ستا په حکومت کې (پاله او کرکۍ د سرنېزې په مقابل کې مغلوبه ده.)

ته! ای د هابیل نسله، دا ځمکه پرېږده او اسمان ته خېژه ځکه چې ځمکه یې ستا دپاره نه ده پیدا کړې.

(بودلر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سخاوت

سخاوت دا نه دی چې سړی چاته ډېر څه ورکړي، بلکې په ځای ورکړه سخاوت دی.

(لاربروېر)

# بې اسرې

یتیم هلك وم، د دنیا له شتو نه مې دوه رڼې سترګې درلودې چې د زړه ارامتیا پکې لیدل کېده.

زه په ډېر امید د لویو ښارونو خلکو ته ورغلم، مګر دوی ماته څه اعتنا ونکړه ځکه چې دوی ته ډېر زرنګ ښکاره نشوم.

شل کلن وم چې یو پټ اور زما په زړه کې بل شو او یو ناڅاپه چې راته ټولې ښځې ښکلې او ښایسته ښکاره شوې زه په ټولو مین شوم، مګر په دوی کې یوه هم په ما مینه نه شوه او یوې ته هم زه ښکلی ښکاره نشوم. که څه هم ما وطن او پادشاه نه درلود، مګر بیا هم د جنګ میدان ته ورغلم چې مړشم، خو مرګ قبول نکړم.

زه اوس نه پوهېږم چې دلته څه کار لرم او د څه دپاره یم؟ ماته دانه ده معلومه چې دنیا ته پخواله وخته راغلی یم او که وخت رانه تېرشوی دی.

(ورلن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلك او شاعر

یوه ورځ هغه لوی او پراخه میدان هغه لوړ او اوچت غره ته وویل:

(ستا په وچولي کې د ژوند نخه هېڅ نشته، ستا پر مخ باندې همېشه د سیلیو او بادونو څپېړې لګېږي)

په همدغه وخت کې د اولس خلکو شاعر ته وویل: ستا سرو کار تل له خیال او اندېښنو سره دی او ستا د وجود هېڅ نه دي په کار.

سنګین غره په ځواب کې وویل:

(زه یم چې ستا له سینې نه هر راز بوټي راکاږم، د غرمې سوځونکي تودوخه پخپل ساړه دم باندې سړومه، د طوفاني ورېځو مخه نیسم پخپلو ګوتو د واورو بخري جوړوم او ذخیره کوم یې زما له سینې څخه د اوبو لښتي روانېږي او تاته د ژوند پیغام دروړي)

شاعرهم خلکو ته وویل: (پرېږدئ چې زه سر په زنګانه کښېږدم او فکر وکړم ایا تاسو نه وینئ، چې زما د زړه له چینې نه ډېرې خوږې اوبه راخوټېږي، چې د بشرتنده ماتوي.

(ګویته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان

همېشه وبرېدل، په هر وخت کې هيله او اسره لرل، هر کله د پخوانيو خاطراتو يادونه، دايمي شکايتونه، مسلسله ناراضايتي، د دروغو په لذت پسې افسوس او ارمان، په حقيقت پسې هېڅکله نه ګرځېدل، خپل ځان له خپل اصلي قېمت نه کله زبات او کله کم ګڼل، يوازې په غم او محنت کې ځان پېژندنه او د ګور په غاړه د ژوند په ماهيت پوهېدل.

دا دی د انسان حقيقت يا لږ تر لږه زما مفهوم او معنیٰ سره له دغو ټولو خبرو زه پخپل ژوند کې يو حقيقي افتخار لرم هغه دا چې د دروغو په شهرت پسې هېڅکله نه يم ګرځيدلی.

هېڅکله مې بې د عشق له درشله بل شي ته سرنه دی ټيټ کړی. زه عشق همېشه له ځانه لرې کړی او بېل کړي يم او د ښه نامه تنده يې په ماکې پيدا کړېده مګر عشق او افتخار يوه هم تر اوسه پورې بې د زړه له غمه نور څه نه دي راکړي

(الفيري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په انګلستان کې

د غم داستان بیانول او داسې څوك لرل چې په دغه داستان پوه شي او خپل پټ غمونه پکې ووینې د غمجن زړه دپاره ډېره ښه تسلي ده.

یوه وخت دغه تسلي زما په برخه رسېدلې وه، مګر کله چې ما دانګلستان په خاوره کې قدم کېښود.

هغه وخت چې ما د دې ځای خلك ولیدل، چې ډېرو تېنګو او تورو وریځو د دوی له نظره شین اسمان پټ کړیدی، نو زه له دغې تسلۍ نه محروم شوم. دلته هېڅوك نشته چې د زړه په ژبه پوه شي.

اوه! دا ساړه خلك، دا یخ زړونه چې د خدای (ج) له نامه نه هم غافل پاته دي بې له طلاو څخه بل خدای نه پېژني او بې له پیسونه بل شي ته په تقدس نه دي قایل.

کشکې زما د زړه اهونه دومره پورته لاړشي چې دالپ د کوهستان لمنو ته ورسېږي، ښایي چې هلته داسې خلك ومومي چې د عاشقانو د زړه په غمونو او رازونو پوهېږي.

(الفیري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوېي

ای د فصلونو او کښتونو پالونکیه!
ای وفادار خدمتګاره! ته د ډېر لوی او ارام قوت ښکارندوی یې.
زه له تاسره ډېره مینه لرم ته په ما باندې ډېر ګران یې.
له تاسره د صلح غوښتلو او عزة النفس روح موجود دی.
ته لکه یوه خاموشه مجسمه خپلې کروندې ته ګورې او د دې دپاره چې د فداکارۍ وظیفه ترسره کړې پخپله خوښه درانه جغ ته سر ټیټوې.
ته د انسان په خدمت کې د موقر فرمان بردار په ډول خپل عمر تېروې، هر وخت چې هغه تا وهي او ژوبلوي دې ته ورته سر راګرځوې او په صبر او تحمل ورته غلی او ارام ګورې.
ته پوهېږې چې د جهان ودانول ستا وظیفه ده.
ته دانسان دتېري په مقابل کې څه نه وایې او شکایت ستا عادت نه دی.
ته سرکشي او نافرماني نه کوې، مګر زه ستا د دردمند روح اواز اورم چې دبخار په ډول اسمان ته خېژي.
زه ستا د درد خفیفه ناله اوروم، چې د اسماني سرود او د فداکارۍ د سرود په شان په دغه فضا کې خپرېږي.
ستا حقیقت په دغه شنه او غلي کښت کې ځای لري.
زه په همدغه هنداره کې وینم ای وفا دار خدمتګاره!
(کاردوچې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټاګور نغمې

هغه ماشوم چې ډېرې ښايسته شاهانه جامې اغوستې دي او د جواهرو قېمتي اميل يې په غاړه دی ډېر ښکلی ښکاري، مګر د نورو ماشومانو غوندې معصومانه لوبې نشي کولی او هغه خوشحالي ده هېره کړيده.

دی چې هر قدم اخلي ښايسته جامې يې په پښو کې ښښلي.

له ده سره تل دغه ډار ملګری دی، چې کالي يې په خاورو نشي ځکه له نورو نه لېرې ګرځي او يوازې معلومېږي.

د ده حرکت ازاد نه دی او له خاورونه ډېره ډډه کوي.

د ماشوم مورې! د ماشوم دغه راز پاك ساتل چې دغومره قيد او تکليف ورسره وي ماشوم ته زيان رسوي او له ډېرخه يې محروموي.

همدغه شی دی نه پرېږدي چې د ژوند په صحنه او د انسانانو په ډله کې داخل شي.

(۲)

چېرته چې زړونه له ډار او وېرې څخه په امن کې دي سرونه هر ځای ته هسکيدلي شي.

چېرته چې علم او فکر ازاد دی.

چېرته چې دغه لوی جهان په وړو وړو فکرونو نه کوچنی کېږي.

چېرته چې کلمات د حقيقت او راستۍ له کومي څخه راوزي.

چېرته چې بې نتيجې کوښښونه لاس غځوي او مطلب ته رسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته چې د کار او عمل لاسونه نه دي تړلي.
هلته چې د استدلال د چينې رڼې اوبه د عنعناتو وچ ځنګله ته لاره نه لري.
هلته چې ذهنونه او دماغونه نشو و نما کوي.
لويه خدايه! ته ماپه دغسې فردوس او ازاد جهان کې له خوبه راويښ کړه.

(۳)

لويه خدايه! زما مناجات دادي.
د افلاس نيلې زما نه زړه وشکوه او لرې يې وغورځوه.
ماته توفيق راکړه چې خپلې خوښۍ او مصيبتونه په اسانۍ وزغملی شم.
توفيق راکړه چې غريب او بېنوا له نظره ونه غورځوم او د ډېر بې باکه قوت په مخکې هم سرټيټ نه کړم.
زه دا توان غواړم، چې د دنيا له خسيسو شيانو نه ځان وژغورم او خپل قوت، خپله مينه ستا خوښې ته وسپارم.

(۴)

بس همدغومره ارزو راته پرېږده چې هر لورته تا پرې وليدای شم.
په هرڅه کې تاووينم او بيله تا نه بل چاته خپله مينه وړاندې نکړم.
هو! زه همدغو مزه ارزو غواړم چې يوازې له تاسره زما تعلق وساتي نور څه نه غواړم، ايکې يو زور لانه غواړم چې ما ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضا پابند کړي او په دغه نیمګړي ژوند کې زما سروکار له تاسره وي.

دا زولونه د مینې او محبت زولنه ده.

هغه چې له ماسره مینه لري غواړي چې له هرې خوا نه زما مخه ځانته راوګرځوي ایا ستا محبت له ماسره دغه راز نه دی؟

ته پوهېږې چې ستا مینه له ماسره ډېره زیاته ده، مګر بیا دې هم زه ازاد پرېښی یم.

زما دوستان ما ځکه یوازې نه پرېږدي چې زه دوی هېر نکړم.

ډېرې ورځې وشوې، مګر ما یوځل هم ته پخپلو سترګو ونه لیدې.

که څه هم ما ستا نمانځنه په ځای نکړه او پخپل زړه کې مې تاته مناسب ځای جوړ نکړی شو، مګر بیا هم ستا مینه زما مینې ته انتظار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او پرښته

شاعر: د اسمان پرښتې! که زما د سترګو يوه اوښکه او زما د شونډو يوه بوسه ستا دپاره کافي وي زه دا دواړه له تانه نه دريغوم.

دا د دې دپاره چې که ته بېرته اسمان ته وخېژې، چې زما د عشق يادګار درسره وي، مګر له مانه دا اميد مه کوه چې زه به دهيلې او اسرې دپاره يا د افتخار او سعادت دپاره حتیٰ، چې د رنځ او غم دپاره کومه نغمه سازه کړم.

زه غواړم چې خپله ژبه غلې وساتم او د زړه خبرې واورم.

پرښته: شاعره داڅه وايې؟ زه خو دخزان سيلۍ نه يم چې اوښکې خپله غذا وګڼم او دغه دغم اولاد د اوبو ځاځکي وبولم.

هغه بوسه چې ته يې ستايې له تانه نه غواړم، ځکه چې د بوسې درکولو دپاره زه تاته راغلې يم او غواړم چې ستا د وجود له کښت نه بيحاصله ګياه لرې کړم، چې هغه د تنګدستۍ او تنبلۍ بوټي دي او د زړه غم نه دی.

ستا غم يوازې په خدای پورې تعلق لري.

که ستا غم هر څومره زيات وي ته د خپل زړه دغه مقدس زخم همدغسې پرېږده پټۍ او ملهم پرې هېڅکله مه ږده، ځکه چې د بشر د لويوالي دپاره لوی لوی غمونه په کار دي او بل هېڅ شی يې دغومره نشي لويولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعره! ته دا ګومان مه کوه چې د غم د ښکلا ادراک ته خاموشي ضرور ده، ځکه چې له ټولو نه ښکلې نغمه هماغه ده چې ډېره نا اميدي په کې وي.

د زړه شاعرانو جاويدانه اواز زما په ياد دی چې بوده او تنسته يې له اوښکو او اوهونو څخه اوبدلې ده.

ماهيخور مرغه سترې او ستومانه د ماښام په تياره کې خپل ځنګله او ځالې ته راشي او خپل بچې وږي ووينې، چې د ساحل له څنډې ورته رامنډې وهي او خولې يې د طعمې دپاره نيولې وي، نو دی په يوه لويه تېږه کښېني او اسمان ته په ډېر حسرت ګوري.

دی پوهيږي چې بيهوده، د بيحاصله ساحل او خاموش درياب په سر باندې د طعمې دپاره پرواز کړی او هېڅ يې نه دي موندلي.

سره له دې بيا هم دی تش لاس نه دی راغلی او خپلخونين زړه ورسره شته، چې خپلو بچيو ته يې اخرينه طعمه کړي.

دا مرغه غلی او ارام په ګټه پر يوازې او خپل ځېږې ځيګر خپلو وږو بچيانو ته وړاندې کوي په دغه وخت کې يې له څنګه وينې بهيږي او دی د مينې په ميو مست په ځمکه پريوزي.

په دې فداکارۍ کې کله د تدريجي مرګ له شکنجې لاندې سترې شي او ويره ورته پيدا شي چې د ژوند اخيرين رمق له لاسه ورنکړي، نو ځکه نيم ژواندی را پورته شي او خپل وزرونه وڅنډي په دغه وخت کې چې د شپې وروستۍ شومه وي د وداع يو داسې مرګاني فرياد له زړه راوباسي چې دريايي مرغان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحله تښتي او هغه مسافر چې د سیند په غاړه تېرېږي له وحشته رېږدي او خدای ته ځان سپاري.

شاعره! ته په دې پوه شه، چې د ټولو حقیقي شاعرانو سرنوشت همدغه دی چې د ماهیخور مرغه په شان د خپل زړه د وینو دسترخان خپور کړي او خلك په دغه دسترخان میلمانه او خوشحاله کړي.

کله چې شاعران له خاورو شوو اسرو، له رنځونو او غمونو له عشق او نا امیدۍ نه حکایت کوي د دوی خبرې که هر څومره ښکلي وي بیا هم له زړونو نه غم نه وړي.

د شاعر خبره لکه تېره توره داسې ده، چې په هوا کې حرکت کوي او یوه ځلانده حلقه تشکیلوي، مگر په څوکه کې یې همېشه د وینو څاڅي لیدی شي.

(( الفرد دوموسه ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غم او خوشحالي

خوشحالي هغه غم دی چې پلو یې له مخه لرې شوی دی.

هغه چینه چې ستاسې خوښۍ او خوشحالۍ ترینه راخوټېږي په حقیقت کې ستاسو له اوښکو نه ډکه ده.

هرڅومره چې د غم شوکارې ستاسو د وجود لوښي وگروي او ژور ځای پکې جوړ کړي، هغومره پکې د خوشحالۍ دپاره ډېر ځای پیدا کېږي.

ایا ستاسو دغه کنډول چې له شرابو نه ډك دی د کلام په داش کې په اور باندې نه و ایښی؟

ایا دغه د دورې شپېلۍ چې په اواز یې ستاسې روح خوشحالېږي په تېره تېغ غوڅه شوې او جوړه شوې نه ده؟

کله چې جوړه شوې نه ده؟

کله چې پخپل زړه کې خوشحالي وینئ که خپل زړه وگورئ دا به درته څرگنده شي، چې هماغه څیز چې تاسو یې غمجن کړي یاست تاسې خوشحاله کوي.

کله چې ستاسو په زړه کې غم پیدا شي که پخپل زړه کې سترگې وغړوئ په دې به پوه شئ، چې د هاغه شي دپاره اوښکې تویوي چې تاسې یې خوشحاله کړي یاست.

ځینې خوشحالي لویه گڼي او غم وړوکی، ځینې غم لوی گڼي او خوشحالي ته په کمه سترگه گوري. زه وایم دوی داوړه یو له بله بیل نه دي او دواړه یو ځای راځي کله یو له تاسو سره مخامخ کښیني هغه بل ستاسو په بستر کې ویده وي تاسې لکه د ترازو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهين د غم او خوشحالۍ ترمنځ واقع ياست کله چې د تلې پلې تشې وي تاسو غلي ياست.
کله چې زرګر په تاسو باندې خپل زرتلي، نو د غم يا خوشحالۍ پله درنيږي او سپکيږي.
(( خليل جبران ))

# پارلمان

پارلمان د دولت زړه دی او د حکومت مثال لري چې په ټولو غړو يې فرمان چليږي. که دماغ له کاره ولوېږي سړی ژوند کولی شي لکه لېونيان او احمقان چې ژوندي دي، مګر که زړه کار ونکړی شي ژوند ختميږي.
((روسو))

# ژوند

دا مه وايه چې ژوند يو دايمي بزم دی، ځکه چې دا خبره احمقان کوي.
دا هم مه وايه چې ژوند تل تر تله مصيبت دی، ځکه دا دبې زړه او ضعيفو خلکو خبره ده.
لکه چې د ونو شنې څانګې په پسرلي کې له خوشحالۍ رېږدي، خانده! لکه چې د سيند موجونه په لويو ګټو لګيږي او فرياد کوي. ژاړه! د جهان ټول خوندونه وڅکه او ټول دردونه وزغمه بيا ووايه هرڅه چې دي ډېر دي، مګر له خوب او خيال سره شباهت لري. ((پاديامانتوپولس))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قوت او جرئت

د سیند په اوبو کې مخ پورته تګ قوت او جرئت غواړي او د اوبو له جریان سره موافق تګ مړه کبان هم کولی شي.

# تاریخ

هغه ماته لوی او واړه څه فرق نه لري چې هر څه ده پیدا کړي دي او د ټولو خالق دی. هر چېرته چې هغه شته هر څه شته او هېڅ ځای نشته چې هغه په کې نشته زه له دومره کوچنیتوب سره، چې هېڅ نه یم هرڅه یمه.

ځکه چې د ځمکې، د ستورو او د شمسي کال او لادیم.

زه له هغې خاورې پیدا یم چې د قیصر لاس، د افلاطون ماغزه، د مسیح زړه او د شکسپیر نبوغ یې په ذراتو کې ګډ دي. (امرسن)

# لوړه پایه

په دغه جهان کې د هر چا د لوړیدو دپاره یوه پله او پایه په کار ده، چې هغه درد او الم دی.

((اناتول فرانس))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدبختي

بدبختي ده، چې عقل او پوهه تربیه کوي.
((هوګو))

# عقل

که غواړې چې دعقل په زیان او ضرر پوه شې، دا ومنې چې عقل هغه قوتونه په سړي کې وژني چې ژوند پرې ولاړ دی.
ژوندون په عمل او اراده ولاړدی.
غوښتنه او اراده د هر پیشرفت اصل او اساس دی.
څومره چې عقل زیاتېږي هغومره اراده ضعیفه کېږي.
که انسان په هرڅه پوه شي یقین وکړه چې بیا به هېڅ نه غواړي او هېڅ ارزو به ورسره نه وي، یعنې اراده به نه لري.
عمل له ارادې څخه پیدا کېږي او اراده له ارزوڅخه.
دا دواړه له هغه شي سره نه یو ځای کېږي، چې د حکیمانو او فیلسوفانو په برخه رسېدلي دي، یعنې تردد او تامل.
زه ډېرې پوهې له ژوند څخه عاجز کړی یم.
ډېر فکر د سړي قوت او مقاومت کموي.
ناپلیون، سزار او د دوی امثال هغه کسان نه وو چې ډېر فکر کوي، ځکه یې هغه څه وکړی شو چې زړه یې غوښتل.
((اناتول فرانس))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترقي او تکامل

زه په دې عقيده يم، چې د بشر تکامل به په ډېر ځنډ انجام مومي.

د دنيا سير ډېر بطي دی، د بشر نبوغ په تقليد کې دی، د ابتکار خونده يې نشته، لکه چې په فزيك کې د ثقل قانون موجود دی چې زمونږ تعلق د ځمکې له زړې کرې سره ساتي په روان شناسۍ کې هم دغه قانون وجود لري او زمونږ دلچسپي د زاړه جهان سره ټينګوي.

ګويتې هم ويلي دي چې خلق لا د اصلي ګناه د اتمي برخمې په اختراع نه دي بريالي شوي.

(( اناتول فرانس ))

# د ژوند ضروري شرط

ناپوهي يوازې د نېکبختۍ لازمي شرط نه دی، د ژوند ضروري شرط هم دی. که مونږ په هرڅه پوه شو يو ساعت هم دژوند تحمل نشو کولی.

هغه احساسات چې ژوند مونږ ته ښه ښکاره کوي يا ژوند راته د تحمل وړ ښيي له دروغو څخه زېږي او په موهوماتو باندې تغذيه کېږي.

((اناتول فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علم او اخلاق

له علم څخه دیوي اخلاقي نتیجې امید لرل ډېره لویه اشتباه ده.
دري سوه کاله پخوا خلك په دې عقیده وو. چې ځمکه د خلقت او بدیا کېدو مرکز دی او نن مونږ پوهېږو، چې د لمر یوه منجمده ټوټه ده.

اوس پوهېږو، چې د ستورو په سطحه کې څه ګازونه سوځي.
په دې هم پوه شوي یو چې دغه جهان چې مونږ پکې د ګرد او غبار یوې ذرې غوندې یو تل د جوړولو او ورانولو په حال کې دی.
مونږ ته دا معلومه شوه چې پرله پسې ځینې ستورې پیداکېږي او ځینې له مینځه ځي، مګر دغو خارق العاده اکتشافاتو زمونږ په اخلاقو کې څه تغیر رانووست.
ایا نن میندې له خپلو بچیانو سره له پخوانه زیاته مینه لري؟
یا دغه مینه له پخوانه کمه شویده؟ ایا اوس دښکلا په احساس کې له پخوانه څه زیادت یا نقصان راغلی دی؟ ایا نن د زړورو قهرمانانو په زړه کې له پخوانه څه فرق لیدل کېږي؟
ځمکه لویه وي او که کوچنۍ وي د بشر په حال کې څه تغیر نه راولي. ځمکه لویه ده په دې شرط چې غم او رنځ پکې وي او عشق موجود وي.

غم او عشق د غیر فاني ښکلا جاویداني مرکزونه دي.
غم یو داسې نعمت دی چې قیمت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ښیګڼې چې په ځان کې وینو او هغه څه چې ژوند زمونږ په نظر کې ښه ښکاره کوي دهمدغه لوی نعمت اغېزه ده.

زمونږ ترحم، شجاعت شهامت او نور فضایل او ملکات د همدغه شي مرهون دي.

اخلاق طبیعتاً په احساساتو باندې تکیه لري او بس.

((اناتول فرانس))

# فکر او احساسات

تاسې وایاست، چې د ټولو مصیبتونو او بدبختیو علت زمونږ فکر دی، که غواړئ چې د فکر په نحوست قایل شئ باید په قدرت او عظمت کې یې ډېره مبالغه وکړئ، مګر په دې خبره باید پوه شئ چې فکر په احساساتو او غرایزو باندې ډېر لږ تسلط لري.

هغه خلك چې د فکر له تاثیر لاندې ډېر زیات راغلي دي هغوی هم د نورو په شان متکبر شهواني او بخیلان دي.

چېرته چې تمدن ډېر وړاندې تللی هلته هم هغه کارونه ډېر لږ دي چې په فلسفې اصولو اجرا کېږي.

مونږ د غرایز و او احساساتو په مقابل کې دومره ضعیف او ذلیل یو چې زه هېڅکله یوه داسې شعوري حالت ته نه شم قایلېدلی چې له طبیعي حالت سره مخالف وي.

(( اناتول فرانس))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمسخر او ترحم

هر څومره چې د انسان په ژوندانه کې ډېر فکر کوم هغومره راسره دا عقیده ټینګېږي، چې باید د بنیادم د اعمالو شاهد او قاضي تمسخر او ترحم وي.

دا دوه ښه مشاوران یو پخپله د خندا ژوند زمونږ په نظر کې محبوب کوي او بل پخپله ژړا ژوند را ته مقدس ښکاره کوي.

هغه تمسخر چې زه یې لرم بې رحمه نه دی په عشق او ښکلا باندې ملنډې نه وهي، بلکې ډېر ملایم او نېکوکار دی.

د ده په خندا قهر سړېږي او مونږ ته داښيي چې باید د اشرارو او احمقانو په مقابل کې له تمسخر نه کار واخلو.

که دا حس له مونږ سره نه وي، نو زمونږ په زړه کې هرګوره نفرت پیدا کېږي

(اناتول فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خلکو انتظار

خلك هر وخت په اجتماعي چارو کې ډېرو لويو تغييراتو ته انتظار لري.

دا هغه دايمي اشتباه ده چې دغيب ويلو له روح نه يې نشات کړيدی.

زه دا منم چې ژوند په رښتيا بې ثباته دی او ژوندي شيان تل تغيېر کوي، مګر د تغير محسوس نه دي.

د دنياهره ترقي ډېره ځنډنۍ او منظمه ده.

ناڅاپي او سريع تغييرات هېڅکله نه دي پيدا شوي او نشي پيدا کيدای، ټول اقتصادي تحولات د طبيعي قواو په رحيمانه ځنډ انجام مومي.

دا خبره زمونږ له احساساتو سره مخالفه وي او که موافقه، مګر يو منلې حقيقت دی چې هرڅه هماغه شان دي چې پخوا وو.

زمونږ اجتماعي وضع د هماغه دماغو او کيفياتو نتيجه ده چې دمخه موجود و، لکه چې علت او سبب هغو احوالو ته ويل کېږي چې وروسته تردې به موجود شي.

دا تسلسل تر ډېره وخته ديوه حال ثبات ساتي او په ژوند کې نظم او ارامتيا پيدا کوي.

دا خبره رښتيا ده، چې دغه حال نه هغه ارواګانې خوشالوي چې د نورو شيانو ډېره تنده ورسره ده او نه په هغو زړونو کې خوښي اچوي، چې شفقت په کې نشته، مګر د جهان نظم همدغه تقاضا لري او مونږ بايد تن ورته کښېږدو. مونږ بايد پخپل زړه کې يو څه حرارت او له ځان سره څه اشتباهات ولرو، مګر اني او عجيب وغريب موفقيتونه ونه غواړو او د معجزې انتظار ونه لرو.

(اناتول فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خطرناك

مونږ ته هغه كسان خطرناك ښكاري، چې روحيه يې زمونږ له روحيې نه مخالفه وي.
هغه چې زمونږ خوبونه پكې نشته مونږ ورته بدا اخلاقه وايو.
څوك چې زمونږ په اشتباهاتو مبتلا نه دي مونږ ته شكاك معلومېږي او دا فكر نه كوو، چې هغوی به په نورو شبهاتو مبتلا وي.
(اناتول فرانس)

# د ژوندانه مخ او څټ

ژوند لكه د زري ټوټو كې مخ او څټ لري. هغه ښكلا چې په مخ كې شته په څټ كې نشته مگر، د ټوټې اوبدانه (بافت) له مخ نه په څټ كې ښه ليدل كېږي.
(شوپنهاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ليونتوب او حماقت

زه باور لرم چې بشر په هر وخت او په هرځای کې د خپل مصرف دپاره د جنون او حماقت کافي ذخيره لري.

دا سرمايه هر څنګه چې وي بې حاصله نه ده.

کله چې ګورم چې يوه پخوانۍ اشتباه ورکه شوه بې له دينه، چې په دغه کار خوشحاله شم د بلې اشتباه په باب کې فکر کوم چې د زړې اشتباه ځای نيسي.

زه په ډېر تشويش له ځانه پوښتنه کوم چې ايا دغه نوې اشتباه به له زړې نه ډېره خطرناکه نه وي؟ که ښه فکر وکړو زاړه اوهام او زاړه خرافات له نورنه لږ زيات دي، ځکه چې هغه د زمانې په مرور صيقل شويدي او ضرر يې کم شوی دی.

«اناتول فرانس»

# په ځان باور

هر څوک چې په ځان باندې اطمينان او باور لري خلك د هغه ملګري کېږي. په ځان باور يو داسې صفت دی چې د هر چا خوښيږي.

خلك له قطعي او يقيني مطالبو سره مينه لري نه له دلايلو سره، دليل او برهان د وګړو اندېښنې او پرېشاني زياتوي.

اوس ساده ګي خوښوي او په ساده خبرو پوهېږي.

خلکو ته بايد څنګه او څه راز ونه وايو، بلکې هو يا نه ورته ووايو او بس.

«اناتول فرانس»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعصب

تعصب او عدم اغماض په هر عصر کې شته.

هر څه چې زمونږ خوښ وي زمونږ په نظر کې لوړ معلومېږي او نمانځنه يې کوو. که څوک مونږ ته زمونږ د بتانو عيب ښکاره کړي خوابدي کېږو.

خلك په مشکله دې ته حاضرېږي، چې د خپلو عقايدو په منشا او منبع کې لږ غوندې ايراد قبول کړي.

که چاپخپلو اصولو او معتقداتو کې غور او فکر کولی هېڅکله به نه وو معتقد شوي.

(اناتوس فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځان و پېژنه!

دا خبره چې ځان وپېژنه د يوناني فلسفې له حماقتونو څخه يو لوی حماقت دی، مونږ به هېڅکله نه ځان وپېژنو او نه نور.

ټول مشکلات په همدغه ځای کې دي او په همدغې موضوع پورې ارتباط لري.

د دنيا جوړول دومره ګران کار نه دی لکه پېژندل يې چې ګران کار دی.

ښايي چې بشري نبوغ يوه ورځ دنيا جوړه کړی شي، مګر دا توفيق به هېڅکله ونه مومي چې پرې پوه هم شي.

د بشر په پوهه او نبوغ باندې دا ډېره لويه تعدي ده، چې د حقيقت په لټون کې به کار ولوېږي. څه شی چې له پوهې نه پکې استفاده کېږي د اشياو لږ غوندې حقيقت پېژندل او ترينه خوند اخستل دي.

(اناتول فرانس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شخصیت

مونږ غواړو چې خپل شخصیت له ځان سره هغه بل جهان ته هم یوسو ، له مونږ سره دا عقیده موجوده ده چې که څوك ځان هلته ونه پېژني هر سعادت چې د ده په برخه وي په ده پورې به څه ربط نه لري، بلکې د بل چامال به وي.

له دینه غافل یو ، چې زمونږ شخصیت دلته په دغه جهان کې هم محفوظ نه دی او په ژوندانه کې څوڅله یورا زاو بل راز کېږي.

زه چې اوس له اتیا کالو نه اوښتی یم له هغه شل کلن، (( موریس میترلینګ )) سره هېڅ شباهت نه لرم، بلکې هغه هېڅ نه پېژنم.

همدارنګه له هغه لس کلن هلك سره هم مشابه نه یم چې یوه شېبه هم په ځای نه و ناست او تل به په لوبه مشغول و.

ما ته اوس هغه پردې او بیګانه معلومېږي.

هرکله چې په دې نړۍ کې زمونږ شخصیت بدلېږي، نو بیا ولې دا انتظار لرو ، چې هغه بل جهان ته به یې هم له ځان سره وړو.

(( مترلینګ ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بقا

پسونه طبیعت د سختیو په مقابل کې مقاومت نشي کولی که انسان دغه نوع د خپل خوراك دپاره نه وای ساتلی اوس به یې نسل ورك و، مګر اوس چې دغه حیوان په دنیا کې ژوندی پاته دی سعادت یې په برخه نه دی ځکه چې د وژلو او خوړلو دپاره یې ساتلي دي.

هر حیوان او هر یو بوټی چې دلته وینئ، سر نوشت یې هم دغه دی کاڼي او معدنیات هم دغه راز دي، مګر زمونږ غم دومره نه دی چې د دوی تغیر ووینو او په بدبختۍ یې پوه شو.

((مترلینګ))

# کب

هغه کب چې یوازې ژوند کوي او هغه کبان چې په یوه ځای کې ګډ ژوند کوي یوه اندازه پوهه لري، مګر سره له دې ډېر کبان شته چې یوازې نه اوسیږي.

مونږ نه پوهېږو، چې د دوی د اجتماع سبب څه شی دی؟

ښایې چې دوی به د ځینو ځناورو او بلاګانو له ډاره او د ځان ساتلو دپاره یو ځای شوي وي، مګر همدغه ګډ ژوند او یو ځای اوسي د دې سبب وګرځیده چې انسان یې ژر ښکار کړي.

(( مترلینګ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه چې دنیا ته رانغله

په ملیاردونو نطفې ضایع کېږي او په دې باب کې تاسې ډېر افراط کوئ.

ستاسو ښځې ډېرې لږې نطفې قبلوي چې هغه په انسانانو بدلیږي، هغه نطفې چې ضایع کېږي او څه ترینه نه جوړېږي ستاسو د خوابدۍ او خپګان موجب نه ګرځي، تاسو ته معلومه ده چې دغه په سلهاو زرو ملیاردونو نطفې، چې په هره پیړۍ یا نیمه پېړۍ کې له دې جهانه ځي او هېڅ ترینه نه جوړیږي د انسانیت توان په کې شته او بالقوه انسانان ورته ویلی شو، مګر دوی ته هغه چانس نه پیدا کېږي چې مونږ غوندې انسانان شي، لکه چې مونږ ته هغه چانس په لاس نه راځي چې د مشتري کره رانه جوړه شي او هغو مره عمر ولرو.

ایا دغه بالقوه انسانان د فکري او معنوي ژوند خاوندان وو او که نه؟ که نه وو، نو څنګه ورته بالقوه انسانان ویلی شو؟

اوس چې دوی مړه شو او مونږ غوندې نشو ایا د دنیا په اوضاعو کې څه تغیر راغی؟ ایا د دوی ځای تش پاته شو او هغه کار، چې باید دوی سرته رسولی وای سر ته ونه رسېده.

((مترلینګ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه به یو ؟

مونږ غواړو چې په هغه بل عالم کې هم خپل ځان وپېژنو او پوه شو ، چې ته (اسمیت) یې زه (موریس) یم، مګر دا نه ده معلومه چې هلته به خپل کوم شخصیت غوره کوو ؟

ایا ته به دا غواړې چې زمونږ د بدو کارونو سزا به زمونږ کوم شخصیت ویني؟ هغه موریس چې اوس له اتیاکالو نه اوښتی دی، که هغه شل کلن موریس به وي چې بېل شخیصت یې درلود .

په رښتیا چې مونږ تر اوسه نه یو پوه شوي، چې په څه صورت به د خدای حضور ته وړاندې کېږو ، سپین ږیري به یو که ځوانان او که ماشومان.

(مترلینګ)

# ستاسو فکر

ستاسې فکر چې هرڅه وي تاسو هماغه یاست.

هېڅ امکان نه لري، چې څوك له خپل فکره لوی شي یا د خپل فکر له حدودو څخه تجاوز وکړي.

( مترلینګ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که طبابت ترقي وکړي

ښايي چې يوه ورځ طبابت دومره ترقي وکړي چې طبيبان د سړي زړه او نور زاړه له کاره وتلي شيان بدل کړي او د سر په کوپړۍ کې هم نور ماغزه واچوي.

لکه چې زاړه ماغزه بدل شي، نو طبعاً دغه حافظه هم نه پاته کېږي چې د تېر ژوند پوهه او معلومات،کينه او مينه يانور خاطرات پکې ساتلي دي، چې دا حافظه لاړه شي هغه شخصيت هم درومي چې له دغې حافظې سره ټينګ تعلق لري.

په دغه صورت کې بيا څوک خپل ځان نشي پېژندلی او په دې نه پوهېږي چې زه څوک يم؟ يعنې د ده او ديوه مړي ترمنځ به څه فرق نه وي، مګر څېره او تنه به يې په کوڅو او بازارو کې حرکت کوي.

دا زيان چې د مغزو له بدولون څخه سړي ته رسيږي د مرګ او مړينې له زيات کم نه دي، دغه جسد چې وروسته تردې دلته او هلته ګرځي هغه پخوانی سړی نه دی بل څوک دی. هر تندر چې په ده پريوزي په هغه پخواني شخص پورې څه تعلق نلري، بلکې په يوه بل نا اشنا سړي پورې ربط پيدا کوي.

(مترلېنګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه غواړئ؟

که پاك خدای له تاسو نه پوښتنه وکړي چې څه غواړئ؟
تاسو په ځواب کې څه ووایاست؟
ایا داسې ژوند به وغواړئ چې تل ترتله او هېڅ زړښت او هېڅ راز بدبختې هېڅ تغیر په کې نه وي.
دغسې ژوند خو عیناً د هغه غتې کاڼي حال ته ورته دی چې په ملیونو کاله په یوه ځای پروت وي او هېڅ تغییراو تحول پکې نه راځي.
زه یقین لرم چې که تاسې د جاویداني عمر په حقیقت پوه شئ. هېڅکله به یې له خدایه ونه غواړئ.
جاویداني سعادت هم دجاویداني عمرپه شان دی یا په بل عبارت جاویداني بدبختي ده.
(مترلینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوه او ناپوه

دا چې پوه او ناپوه يو دبل په ژبه نه پوهېږي سبب يې دا دی چې پوه په هغه شي بدلېږي چې دی پرې پوه شوی دی.
دی هغه څه ناپوه ته نشي ويلي چې د ده به زړه کې ځای لري.
که تاسې يوه ورځ د جهان په اسرارو پوه شئ پخپله به هماغه اسرار شي او ماته به دخپل زړه خبرې نشي کولی!
ليونی ما ته وايي ته هم ليونی شوې يې لکه ځينې فيلسوفان چې په اخر د عمرکې ليونيان کېږي او چټيات وايي.
ښايي چې زه ليونتوب قبول کړم، ځکه چې تر اوسه پورې لا د ليونتوب او هوښياری ترمېنځ عقلاً يې تفاوت نه دی موجود، مګر تاسو چې هوښياران ياست فکر وکړئ چې څه وايئ؟
(مترلينګ)

# مرګ

که مرګ په دنيا کې نه وای هېچا به د ژوندانه بارته غاړه نه وای ايښې همدغه د مرګ ويره ده چې مونږ ژوند کوو او د دغه ډار په وجه تر زړښته پورې د ژوندانه پيټې په اوږو وړو.
(مترلينګ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روح

که له مانه پوښتنه وکړئ چې روح څه شی دی؟
زه تاسو ته څه ځواب نشم ویلی، مګر له تاسونه به پوښتنه وکړم چې جسم څه شی دی؟ هر کله که موږ جسم یا (ماده) وپېژنو د روح په پېژندلو به هم بریالي شو، مګر اوس چې یو هم نه پیژنو باید په دې باندې ځان خوشحاله کړو، چې روح د جسم حرکت دی او جسم د روح (شکل اوصورت) دی.
(مترلینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افلاطون

که د یونان افلاطون څه دپاسه دوه زره کاله پس مونږ ته راشي مونږ به کومه موضوع ده ته وړاندې کړو، چې د ده توجه واړوي او دی څه قدرته حیران کړي.

په اخلاقي، اجتماعي او سیاسي لحاظ که مونږ مریتوب لغوه کړیدی خو څو ډوله بل راز غلامي پیدا شوې ده، چې هغه ځای یې ډك کړیدی. مونږ کوم نوی شی نه لرو چې هغه ته یې وړاندې کړو.

زمونږسیاسي، اجتماعي او اخلاقي دروغ د هغه دپاره کوم نوی مضمون نه دی او اوسني سلوك هغه ته څه نویتوب لري.

په فزيك، شیمي، ژوند پیژندانه طبابت او جراحۍ کې چې څه کشفیات شوي دي په اول کې به په تعجب کې واچوي، مګر د دې لامله چې هغه ډېر موشګاف او ځیر کېدونکي دي ډېر ژر به پوه شي، چې زمونږ کشفیاتو د روح دپاره کومه نوې غذانه ده پیدا کړې او د اسرارو له مخې پرده نه ده پورته شوې.

څه شی چې د هغه پوره توجه ځانته راګرځولی شي هغه یې سیمه موجونه دي، چې په یوه شیبه کې هرځای ته غږ رسوي. ممکنه ده چې دغه شی د ده ارتباط له هغو اسرارو سره پیدا کړي چې په مبهم ډول یې پخپلو کتابونو کې ورته اشاره کړې ده.

په هرحال کوم د توجه وړ شی چې په دوه زره کالو کې مونږ کشف کړی دی همدغه دی، چې د علت په ادراك یې لانه یو موفق شوي او دانه ده معلومه، چې دوه زرکاله وروسته به د توجه وړ څه شی کشف کړو.

(مترلینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زمونږ پوهه

مونږ د فولادو په یوه تړلي خونه کې ژوند کوو ، چې دوه وړوکي سوري لري او بس، له یوه سوري نه لږ غوندې رڼا راځي او له بل نه لږ غوندې اواز رانتوزي، مونږ له همدغو دوو سوريو څخه د جهان اوضاع معلومو او همدغه وجه ده، چې بې له رڼا او بې لـه غـږه پـه نور څه نه پوهيزو.

(مترلینګ)

# بدې خبرې

بدې او ناوړه خبرې چې زیان او ضرر لري ډېرې ژرخپرېـږي، ښې او حسابي خبرې چې فايده پکې وي ژرنه خپرېږي.

هو! بدې او ناکاره خبرې لکه تلونکي او خپريدونکي ناروغي لـه يوه نه بل ته او له بل نه بل ته ځي.

ښې خبرې لکه صحت او روغتيا له يوه نه بل ته نه درومي.

(مترلینګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انساني سلوك

انسان باید هغه مینه چې له نورو سره یې کوي له ډېر لوړ ځایه واخلي او په ډېر لوړ همت له نورو سره وچلیږي.

ترڅو چې ممکنه ده چې خلکو ته دې د عشق په نظر وګوري، نه ښایي چې د خپل ترحم او شفقت سیورې په چا باندې وغورځوي.

ترڅو چې د عدالت له مخې چاته څه ورکولی شي نه ښایې، چې د احسان له مخې چاته څه وبخښي.

ترڅو چې د چا احترام کولی شي نه ښایي چې د احسان له مخې چاته څه وبخښي.

ترڅو چې د چا احترام کولی شي نه ښایې چې د هغه د لجویي او دلداري وکړي.

(مترلینګ)

# انساني کمال

هغه لوی کمال چې د تحول او تکامل په لاره کې د ژوندیو شیانو په برخه رسېدلي دي قبلي عواطف دي، چې په انسان کې لیده شي. که څوك غواړي چې له حیواناتو نه لرې وي باید دغه عواطف چې رحم، مروت، کرم، شجاعت او نوعه پرستي ده په ځان کې وروزي. (ډاروین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکر روزنه

څه شی دی چې په بشر کې ژور فکرونه روزي؟
علم او پوهه نه ده، کار نه دی، د عواطفو او احساساتو هېجان هم نه دی، یوازې رنځ او مشقت دی، چې د انسان په فکر کې ژوروالی پیدا کوي او ښايي، چې د همدې لامله په دنیا کې غمونه او رنځونه ډېر شوي دي..

(هینر)

# ښکلیتوب

کله چې ښکلیتوب د دعوې دپاره را ولاړ شي د هر ناطق ژبه کلي کېږي.

(شکسپیر)

# ښایست

ښایست هغه مېمله دی چې په هر کور کې قدر او عزت لري.

(ګوېته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیاست مدار

که یو سیاستمدار جنایت وکړي ښایي، چې عفوه شي، مګر که د خبط مرتکب شي، نو د عفوې وړ نه دی.

(بیسمارك)

# غولول

ټول تر یوه وخته غولېږي، ځینې د همېشه دپاره هم غولولی شي، مګر ټول د همېشه دپاره نه غولېږي.

(ابراهام لینکلن)

# فکر په شعر کې

فکر باید په شعر کې داسې پټ وي لکه غذایي خاصیت، چې په میوه کې پټ دی. میوه هم غذا ده، مګر لذیذه چې د خوړلو په وخت کې له لذته ویلې شي، خو بدن ترینه غذایي ماده اخلي او دغه محسوس غذا په لذت کې پټه ده.

(پل والري)

# بدبختي او شعر

د بدې ورځې خاوندان د مصیبت او ناکامۍ په وخت کې شعر ته مخه کوي او څه چې دوی له رنځ او غم نه زده کړي وي په اشعارو کې یې نورو ته وړاندې کوي.

(شیلي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق او سعادت

هغه څوك ډېر نيكبخت دى، چې خداى ورته داسې زړه وركړى دى، چې د عشق او سوزو ګداز لايق دى.
چا چې د عالم اوضاع او د انسان زړه د عشق په دوه مخيزه هنداره كې نه دى ليدلى هغه هېڅ حقيقت نه دى ليدلى او په هېڅ نه دى پوه شوى.
(هوګو)

# پوهه او عشق

پوهه د عقل په غېږكې پرورش نه مومي، بلكې د عشق په لمن كې وده كوي، د پوهې نيالګى بايد د عشق په ګلدان كې وكرل شي او د احساساتو په اوبو ابياري شي.
(مترلينګ)

# ښوونځى

د علم او پوهې هر ښوونځى چې پرانيستل كېږي، د زندان دروازه تړل كېږي.
(هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فکر پانګه

د فکر او پوهې تړوله پانګه باید روحي او اخلاقي عظمت ته تسلیمه شي.

(مترلینګ)

# معرفت

معرفت هغه شی دی، چې وروسته د هرڅه له لوستلو او د هرڅه له هېرولو نه په دماغ کې پاته کېږي.

(ادوارد هریو)

# عالم او علما

علم له خطا څخه خلاص دی، مګر علما تل په خطا کې وي.

(اناتول فرانس)

# ځان ښودل

یا ځان هغسې وښیه، چې یې یا هغه شان اوسه چې ځان ښیې.

(بایزید بسطامي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښه کار علت

که زمونږ د ښو کارونو علت او سبب څرګند شي نو ډېر کسان پخپلو ښو کارونو خړ او خجل شي.

(ريواردل)

## تاج او قلم

ترڅو چې د ادب قلم زما په لاس کې دی هېڅکله به ونه وايم، چې ولې مې شاهي تاج په سربندې نشته.

(ولتر)

## مطبوعات او تاريخ

مطبوعات د اوسني تاريخ اساس او بنياد دی. مونږ بايد خپل تاريخ مشوش نکړو، ځوک چې مطبوعاتو ازادي محدودوي د وطن او ملت تاريخ ته زيان رسوي.

(پوانکاره)

## حکومت او روزنامه

که له مانه پوښتنه وکړي، چې په وطن کې بې روزنامې حکومت وي که بې حکومت روزنامه؟ زه به هرګوره دوهمه خبره غوره کړم.

(جفرسن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځان سعادت

که یوازې خپل سعادت وغواړو څه ګرانه خبره نه ده، مګر مونږ غواړو چې له نورو نه زیات مسعود شو او دا کار ډېر مشکل دی، ځکه چې نور هغومره مسعود نه دي، لکه چې مونږ یې تصور کوو.
(مو نتیسکو)

# ځان مسعود ګڼل

یوازې دا کافي نه ده، چې د سعادت خاوندان شو، بلکې پـه دې پوهیدل په کار دي چې مونږ د سعادت خاوندان یو.
(مترلینګ)

# اجبار او اختیار

څومره چې د وجود مرتبه او درجه لوړېږي هغومره اجبار کمېږي او اختیـار زیـاتېږي. همدغـه سبب دی چې د کـاڼي مجبوریت لـه بوټي او نیالګي نـه زیات دی او حیوانات لـه نباتـاتو نـه هم زیات اختیار لري، انسان بیا له حیوان څخه هم پورتـه دی او ډېر اختیـار لري.
(بوترو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل او زړه

عقل د زړه په خوښه کارکوي او زړه ته ګوري، هغه څه چې زړه يې نه غواړي عقل پکې لاره نشي پيدا کولای، يعنې زړه په سر باندې حکومت کوي او سر په زړه حاکميت نه لري.

(شوپنهاور)

# کينه او مينه

کينه او مينه د نفسي احوالو او کيفياتو له اختلافه پيدا کېږي او په عقل پورې څه اړه نه لري.

(شوپنهاور)

# احتمالي مصيبت

هرڅه پخواله وخته په نظر کې نيول او لرې کتل ښه کار دی، مګر د سبا ورځې په احتمالي مصيبت نن غمجن کېدل ښه کار نه دی.

له دېنه چې په هوا کې ځانته زندان جوړوو ولې يو ښه قصر نه جوړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیاقت لرل

که بتان مات کړې کوم  سترکار دې نه دی کړی.
حقیقي شهامت دا دی چې پخپل ځان کې د بت پرستۍ خوی ورك کړې.

(نېچه )

# لوی خلك

لوی خلك له سیندونو نه خپل هدف ته بې لارې درومي او د دوی شهامت همدغه دی، چې له کرانو پرُ پېچه لارو څخه نه ډارېږي.

((نېچه ))

# اجتماع

په اجتماع کې داخل شه! ځکه چې په جمعیت کې سړی صیقل کېږي او ټینګېږي یوازیتوب سړی ملایم کوي او فاسدوي یې.

(نېچه )

# د جنګ اساس

د غلیم غولول د جنګ اساس دی، ځکه زما هغه پټه زغره چې ما اغوستې ده د ګیدړ پوټکی دی.

(نیچه )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نجیبه غریزه

هغه غریزه چې له ټولو غرایزونه نجیبه ده نجابت یې په ډېر احتیاط زیاتره، یعنې په هرکیلو محبت چې له نورو سره یې لرې یو ګرام نفرت له ځان سره زیات کړه.

(نېچه)

# شهرت او شرافت

که په افتخار او شهرت پسې ګرځې، نو زما پند مه هیروه! هغه دا چې له شرافت نه لاس واخله!

(نیچه)

# هدیه قبلول

زه د هغه چا له خوشبختۍ نه خبر نه یم، چې د خلکو له لاسه هدیه قبولي، ځکه چې له ما سره دا عقیده موجوده ده، چې له هدیې قبلولو نه غلا ښه ده.

(نېچه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هېرول

هرڅه هېرکړه، هرڅه هېر کړه هېرول ډېر لوی هنر دی!
هغه درونډ بار، چې تاسره دی له ځانه وغورځوه.
که غواړې چې والوزې، که ارزو لرې چې له لوړو او هسکو څوکو سره اشنا شې درانه او سنګين شيان سيند ته وغورځوه، دغه دی سيند ، هله ژر شه خپل ځان سيند ته وغورځوه د هېرولو هنر ډېرلوی هنر دی.
(نيچه)

# ځان غوښتنه

خودخواهي او ځان غوښتنه په مطلق ډول له ژوند سره موافقت نه کوي.
يوازې ځان غوښتل په حقيقت کې ځان محدود کول او له ځانه څه کمول دي.
که جود او فيض نه وي ژوند نشته.
په حقيقت کې بشپړه او کامله خودخواهي په پوره غيرخواهۍ کې پټه ده او اخلاق هېڅکله انفرادي کېدلی نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مکررات

په دغو ګڼو کې چې علم او پوهه ډېره زياته ښه يې څه وينې؟

سترګې وغړوې او ښه وګورې چې غير له مکرراتو نه نور څه وينې؟

ايا دا ټولې خبرې چې په يو قسم موضوعاتو کې اورې بې د سبك او انشاء له تنوع او بې د شواهدو او مثالونو له رنګينۍ يا د چاپ له ښکليو به نور څه لري؟

د دې خبرو حقيقي تاثير، عمق او ارزښت همدغه دی چې په راز راز پيرايو کې بيابيا ويل کېږي او له يوه دمخه په بل مخ اوړي، نو په دغه ظاهري ثروت کې فقر او لوږه پټه ده او په دغه روژه کې د مړښت احساس کېږي.

(بيکن)

# نېکي

په سترګو کې د ليدلو قوه يوازې نه ده کافي.

که زمونږ سترګې بينا هم وي او په اشياو کې رنګونه هم موجود وي بيا هم رڼا ته محتاج يو او په تورتم کې څه نشو ليدلی.

همدغه رڼا ده چې د ليدلو قوه له اشياوو سره مربوطوي او د دې باعث ګرځي چې مونږ څه ووينو.

لمر پخپله د ليدو قوه نه ده، د ليدو وسيله ده، د همدغې وسيلې له برکته مونږ د بينايي احساس کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په دې پوه شه، چې لمر د نېکۍ ثمره ده او له نیکۍ سره شباهت لري. هماغه نسبت چې په لیدلي جهان کې یې د بېنایي قوت له لیدولو شیانو سره لري د ادراك په جهان کې یې د فهم قوه هم له هغو شیانو سره لري چې د پوهیدلو وړ دي.

څنګه چې په تیاره کې څه نه لیدل کېږي او سترګې رڼا ته اوړي د دې روح هم هغه څه نهویني، چې د حقیقت رڼا پرې نه وي پریوتې. څه شی چې د معرفت وړ شیان په حقیقت پورې مربوطوي او روح ته د پوهېدو استعداد ورکوي د نیکۍ تصور دی چې د علم او حقیقت علت بلل کېږي او انسان حق لري چې په لیدلې دنیا کې رڼا او د لیدلو قوه له لمر سره مشابه وګڼي، مګر که لمر یې ګڼي نو لویه اشتباه کوي. همدارنګه د ادراك په عالم کې انسان حق لري چې علم او حقیقت د نېکۍ نظیر وګڼي، مګر که عین نېکي یې ګڼي داهم اشتباه ده، ځکه چې د نېکۍ مقام له دینه ډېر پورته دی.

لمر لیدل شو شیانو ته یوازې دلیل کېدو قابلیت نه بخښي، بلکې په پیدا ایښت او نشو ونما کې یې هم تاثیر لري او غذا ورکوي.

همدغه شان د پوهېدلو وړ شیان له نېکۍ نه یوازې همدغه استفاده نه کوي، چې د پوهېدلو وړ وګرځي، بلکې په ماهیت او پیدا ایښت کې یې هم دخل لري.

(افلاطون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د طبیعت قوانین

د طبیعت قوانین واجب او ضروري نه دي. د جهان اصل او اساس تغیر او حرکت دی، هرکله چې دغه تغیر مکرر شي، نو عادت وګرځي او د قانون نوم پیدا کړي.

د یوه خوړ اوبه په اول کې یوه معینه مجرا نلري او د خپل جریان په وسیله ځانته لاره او مجرا پیداکوي وروسته بیا دغه مجرا د اوبو سیر او حرکت قاعده او قانون بلل کېږي، ډېر امکان لري چې دغه مجرا بدله شي او یوه بله مجرا ورته پیدا شي په همدغه لحاظ د طبیعت چارې د یوه معین او ضروري قانون تابع نشو ګڼلې.

(بونرو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انساني تکليف

ښه نيت او نيکه اراده د خير او نيکۍ مبدا ده.

نيکه اراده او ښه نيت دا دی چې انسان خپل تکليف وپيژني او پيروي يې وکړي.

کليف بايد خاص دپاره په ځای کړ شي، يعنې د ګټې او زيان لحاظ په کې نه وي.

تکليف هغه عمل دی، چې د يوې کلي قاعدې متابعت دپاره وي او محض د قانون په احترام اجرا شي.

هغه څوک چې يو کار د قانون دپاره کوي او هغه چې کار يې له قانون سره موافق وي يو راز نه دي.

د دوهم سړي عمل ته مشروع ويلی، شو مګر خير او اخلاقي عمل ورته نشو ويلی.

د دې دپاره چې د يوه سړي کار اخلاقي ارزښت پيدا کړي يوازې دا کافي نه ده، چې عمل يې له تکليف سره موافق وي، بلکې دا لازمه ده چې تکليف دپاره وي.

د ځان ساتنه له تکليف سره موافق کار دی، مګر د دې لامله چې طبيعت ورته ميلان لري اخلاقي عمل ورته نشو ويلی.

هغه څوک چې ډېر زړه سواندی او د رقت په وجه له چا سره احسان کوي ښه کوي، مګر اخلاقي عمل نه اجرا کوي که همدغه سړی له خلقو نه جفا ويني زړه به يې سخت شي او احسان په لاس واخلي، مګر که څوک له خلکو نه جفاګانې ويني او د تکليف په ځای کولو دپاره احسان کوي هغه يو اخلاقي عمل اجرا کوي.

(کانت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوند زما په نظر کې غوښتل دي او هره غوښتنه له یوه احتیاج یا محرومیت څخه پیدا کېږي، یعني له غم او درد څخه.

که د یوه سړي هره ارزو په اسانه او سمدلاسه حاصله شي کسالت ورته پیدا کېږي، چې له رنځ او غم نه لوی مصیبت دی.

د انسان ژوند همېشه د غم او کسالت ترمینځ واقع دی.

سړی چې هر څومره غم څخه لرې شي هغومره کسالت ته نزدې شي په هره اندازه چې مونږ له کسالت څخه ځان وساتو په هماغه اندازه له غم سره قرابت پیدا کوو.

دا دوه افتونه یو د بل ضد دي، که انسان له یوه څخه خلاص شي د بل په منګولو کې لوېږي.

څنګه چې غم او رنځ له احتیاج او محرومیت څخه پیدا کېږي کسالت له راحت او رفاهیت څخه پیدا کېږي.

هر چېرته خواران او غریبان له احتیاج او محرومیت سره په جګړه اخته دي او بډایان له کسالت سره په مجادله کې دي.

همدغه کسالت دی، چې د عېش او راحت خاوندان یې په ښکار او قمار په افیونو او نورو نېشو مشغول کړي او مجبور کړي دي یا یې د دوی مخه تزییناتو او تجمل ته کړځولې ده.

د انسان استعداد او قوت دا غواړي، چې احتیاج او محرومیت لرې کړي او د ژوند په جګړه کې په کار ولوېږي، نو کله چې احتیاج او محرومیت له مینځه لاړ شي او په دغه مبارزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معطلي راشي دغه عاطل قوت پخپله يو مونږ پيټی شي او انسان مجبور کاندي، چې بې هوده يې صرف کړي او له کسالت څخه ځان وژغوري.

(کرلوس) د بډايانو بدبختي داسې بيانوي: (يو د دې دپاره چې له کسالت نه وتښتي خپله ښايسته ماڼۍ پرېږدي او په تفريح پسې يوه خوا او بله خوا منډې وهي. بل په ډېره بيړه له خپلې ښځې او اولادونو څخه چېرته لرې درومي، مګر مقصد ته نه رسيږي او بيرته له هماغه دښمن، يعنې کسالت سره بيا کورته راځي او چاره ترينه ورکه وي.

(شوپنهاور)

# هېرول

هغه څوک چې څه نشي هېرولی ښه سړی نه دی. څوک چې همېشه د بل د ملامتۍ خاطره له ځان سره ساتي د ښه زړه خاوند نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حکمت او سعادت

ارسطو وایي: حکیم او عاقل هغه څوك دی چې خپل غمونه او دردونه لږ کړي، نه دا چې په ډېرو لذتونو پسې هڅه وکړي.

زه هم د حکمت ډېره ټینګه او قوي پایه همدغه ګڼم، چې سړی له غمونو او دردونو څخه وتښتي، نه دا چې په لذت پسې منډه واخلي.

یعنې سعادت به هغه ګریز (تېښته) کې دی، نه په دغه شتاب (هڅه) کې. هغه کسان ډېر غولېدلي دي، چې ارزوګانو ته رسېدل سعادت ګڼي، ځکه چې له ارزوګانو سره وداع کول او بې نیازي ته رسېدل سعادت دی.

هرڅومره چې د خواهشاتو تله سپکه وي انسان هماغومره سعادت ته نژدې وي. که حقیقت ته وګورو یو روغ او جوړ فقیر له یوه رنځور غاړې بډایي څخه ډېر نیکبخته دی.

سقراط وایي: ډېرکسان دي چې نه جواهر لري نه سره سپین، نه یې ډېر ښه لباس په غاړه کې شته نه به لوړو ماڼیو او ښو قصرونو کې استوګنه لري، مګر سره له دې له بډایانو نه خوشحاله ژوند کوي.

شکسپیروایي: ځینې کسان لکه توتیان داسې دي چې د خندا نندارې یې نشي خندولی.

دا زمونږ خپل خوی او طبیعت دی، چې زمونږ د ژوند او سعادت اساس ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ باید د سعادت تومنه په ځان کې ولټوو او په دې پوه شو، چې د هر چا نېکبختي پخپله په ده پورې مربوطه ده.

په ځان باندې اتکا او نورو ته نه متوسل کېده له ډېرو قیدونو او احتیاجاتو څخه ځان خلاصول او خپله ازادي زیاتول سعادت دی.

هغه څوك چې په باطن کې غني دي له خارجي جهان څخه یوه منفي هدیه غواړي او بس چې هغه فراغت دی.

د هغه مهمه ارزو داده چې له خلقو نه لرې او په څنګ وي چې په دغه وسیله له ځانه استفاده وکړی شي.

لوی خلك له هرڅه نه فراغت خوښوي او خپلې ازادۍ ته ډېره توجه لري، یعني همدغه شی سعادت ګڼي.

ارسطو وايي: سعادت په فراغت او ازادۍ کې دی.

سقراط هم ازادي او فراغت ستر نعمت ګڼلی دی.

څومره چې د یوه سړي فکري او عقلي پانګه زیاتېږي هغومره یې تعلق له دنیا نه او د دنیا له خلکو څخه کمېږي.

هغه بیا خپل سعادت د دنیا په نعمتونو کې نه لټوي، بلکې لکه معنوي لذتونو څخه خوند اخلي او حقیقي سعادت ته رسیږي.

(شوپنهاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انشاء

د هر لیکونکي انشاء د هغه د فکر ایینه ده.

که غواړې، چې د یوه لیکونکي حقیقي ارزښت ځانته معلوم کړئ، دېته مه ګورئ چې ده څه موضوع کې فکرکړی دی یا د ده د فکر محصول څه شی دی.

د یوه مولف او لیکونکي د مقام پېژندلو د پاره همدغه کافي ده چې مونږ پوه شو چې ده څه راز فکرکړی دی او دفکر کولو طرزیې څنګه دی؟

د هر لیکونکي انشاء لکه خمیره داسې ده، چې مختلف شکلونه او صورتونه قبلوي، مګر دا صورتونه که هر څومره مختلف وي بیا هم خمیره یوه ده.

(شوپنهاور)

# مطالعه او تفکر

څنګه چې ډېره زیاته مطالعه فکر وسعت او ودې ته نه پرېږدي ډېر لیکل او ډېر لوستل هم د حقایقو د معرفت مخه نیسي.

د دنیا ډېره لویه کتابخانه چې بې نظمه او بې ترتیبه وي هغه ارزښت نه لري، چې یوه کوچنۍ منظمه کتابخانه یې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه راز ډېره زياته پوهه چې په ذهن او دماغ کې ښه هضم شوې نه وي له هغو لږو معلوماتو نه لږ قيمت لري چې په جزئياتو کې يې ډېر غور او دقت نه وي شوی.

په حقايقو باندې سړی هغه وخت پوهېدلی شي چې د عليت په قانون پوه شي او په جزئياتو کې مطالعه ولري.

څنګه چې انسان مطالعې ته ضرورت لري تفکر ته يې هم لري، مطالعه او تفکر د انسان په ذهن کې دوه متضاد تاثيرونه لري، چې که يو زيات شي هغه بل کمېږي.

مطالعه د سړي ذهن دهغو افکارو او عقايدو له تاثير لاندې روالي، چې ممکنه ده د انسان له ذاتي احتياجاتو سره مخالفت ولري.

ازاد تفکر، يعنې د هغه طبعي او حرکت تعقيب چې محيط او ضروري مسايل يې د انسان په ذهن کې پيدا کوي د مطالعې په شان څه خاص شی په ذهن کې موجود نه وي، بلکې د فکر کولو تومنه ذهن ته سپاري همدغه سبب دی چې ډېره زياته مطالعه د شخصي فکر د پرورش مخه نيسي او سړی څه قدر سطحي او ناپوهي کوي.

علماء او پوهان هماغه کسان دي چې ډېر کتابونه يې لوستي دي، مګر نوابغ او د فکر خاوندان، چې د انساني مدنيت لارښودونکي دي او د بشريت قافله د ترقۍ خواته بيايي هغه کسان دي چې د جهان په کتاب کې يې غور کړی دی او د نورو په خبرو کې يې خپل فکر نه دی بايللی.

(شوپنهاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوي او خصلت

د انسان خوي هېڅکله تغيير نه کوي، هر سړی په زلميتوب او زړښت کې هماغه دی چې په کوچنيتوب کې و.

د ده ډېر لوی هنر دا دی چې کله کله فريبنده (غولونکي) صورت اختياروي او د افسون نقاب پخپل مخ غوړوي.

که غواړئ چې دغه حقيقت د تجربې له مخې ځانته معلوم کړئ، نو د هغه اشنا او ملګري په حرکاتو او رفتار کې ښه دقت وکړئ، چې ډېر کلونو ترينه بېل شوي ياست، وروسته له دغه غور او دقت څخه به دا ومنئ، چې د ده خوی او خصلت هېڅ تغير نه دی کړی او هماغه شی دی چې دمخه و.

ځينې کسان په ظاهره انکار کوي او دا خبره نه مني، مګر په باطن کې پوره باور لري چې د انسان خوي او خصلت تغيير نه قبلوي.

همدغه سبب دی چې څوك له چانه څه ټګي برګي ويني په هغه باندې بيا اعتماد نه کوي.

که څوك د چا په نظر يو ځل ښه ورغی د هغه په باب هم خپله نظريه نه بدلوي د انسان خوی او خصلت فطري شی دی او همدغه يې د لوړوالي معيار دی. که څوك د فطرت په لحاظ لوی نه وي، نو واړه اشخاص په مصنوعي وسايلو لويېږي.

(شوپنهاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوستانه مناسبت

سړی د ځوانۍ په وخت کې دا فکر کوي چې د انسانانو مناسبات په یوه ښه اساس او په حقیقي اصولو ولاړ دي، مګر کله چې د ژوندانه یو څه مراحل طي کړي، نو بیا پوه شي چې بشري مناسبات بې له شخصي ګټې په بل شي نه دي ولاړ.

هرڅوك چې ډېر مال لري او د لوړ مقام خاوند دی هغه په خلکو کې محبوب او محترم دی، هغه بل چې د ښه نیت او ښو احساساتو خاوند دی، مګر په دوستۍ کې یې څه ګټه نشته څوك ورسره مینه نه لري.

(شوپنهاور)

# بدي او ضرر

څومره چې لوړ او عالي مبادي په یوه بد سړي کې فاسد شوي دي، په ځناورو کې هغومره نه دي فاسد، بدي په هغه شي کې لږه ده چې د ابتکار مبدا په کې نشته، ذکاوت چې د ابتکار مبدا ده بدي زیاتوي او ضرر یې ډېر وي. د یوه ظالم انسان ضرر زر ځله د یوه مضر حیوان له ضرر نه زیات دی، لکه چې د یوه جماد ضرر له حیوان نه لږ دی او ظالم له ظالم نه ډېربد دی.

(ارسطو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لویه اشتباه

څوک چې دا فکر کوي چې پوهه او فضیلت د سړي قیمت او مقام په جامعه کې لوړوي ډېره لویه اشتباه کوي، ځکه چې دغه شی بالعکس کینه او دښمني پیدا کوي نه مینه او محبت.

د علم او فضل اظهار بل شی نه دی د نورو د نادانۍ تایید دی، څنګه چې ثروت او مقام د سړي قیمت په جامعه کې لوړوي علم او عقل د نورو د کینې او نفرت موجب ګرځي.

پوهان او هوښیاران د خلکو مینه او محبت نشي جلبولی، بلکې بدبیني او تمسخر ځانته جلبوي.

(شوپنهاور)

# افتخار

هغه افتخار چې لکه د څېړۍ ونه په ډېر وخت کې وده کوي او غځېږي دوام او پایښت یې هم ډېر وي.

هغه بل افتخار چې لکه د پسرلي بوټی ژر پیدا کېږي او ژر لوېږي له یوه فصل نه زیات دوام نه لري او ډېر ژر له مینځه ځي.

د هنر خاوند چې له ابدیت نه هر څومره زیاته استفاده وکړي، یعنې په ټول انسانیت پورې تعلق ولري هماغومره له خپل عصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه پردی وي، دا ځکه چې د هغه اثر د هغه په عصر پورې اختصاص نه لري، بلکې د بشر د تاریخ یو جز وي، د همدې لامله معاصرین ورته ښه نه ګوري، بلکې بالعکس په هغو کتابونو پسې هڅه کوي چې ورځني مسایل په کې وي.

(شوپنهاور)

# غضب او شهوت

هغه بې اعتدالي چې په غضب کې وي له هغې بې اعتدالۍ نه ښه ده، چې په شهوت کې وي، یعنې د غضبي قوې افراط د شهواني قوې له افراط څخه ښه دی.

قهر او غضب د عقل غږ پوره نشي اوریدلی او داسې مثال لري، لکه چې یو نوکر د خپل بادار امر لږغوندې واوري او د تعمیل دپاره منډه واخلي، یعنې امر ته تر اخره غوږ کښېنږدي او په کار پسې وځغلي، مګر شهوت د عقل یا حسن په یوه اشاره دخوند او لذت په لوري هڅه کوي او امر ته هېڅ نه ګوري.

د غضب خاوند مکار نه دی او غضب هم مکرجن نه دی.

مګر له شهوت سره تړلی دی او د شهوت کار دی.

همدغه سبب دی، چې د غضب په ډېروالي کې دومره رسوایي نشته لکه چې د شهوت په ډېروالي کې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوستي

دوستي يوازې يو ضروري امر نه دی، بلکې يوه ډېره شريفه او ابرومنده عاطفه هم ده، ځينې وايي چې دوستي يو ډول مشابهت دی او هماغه اشخاص يو د بل دوستان وي چې يوله بله مشابهت لري، د همدې لا مله باز له باز سره او کوتره له کوترې سره الوزي.

ځينې نور په دې عقيده دي چې که دوه تنه يو کار او يوه پېشه لري، نو هغه هېڅکله نشي دوستان کېدلی.

څوک چې د فطرت په قوانينو استناد کوي، لکه (اوريپيدس) هغه وايي: د وچې ځمکې باران خوښ دی او باراني ورېځې دا غواړي چې په ځمکه باران واوري.

هراکلېس په دې فکر دی، چې ضديت د نزدې کېدو موجب دی او ډېر ښه موافقتونه له مخالفتونو څخه پيدا دي.

دا خبرې به پرېږدو او دا به ووايو چې د دوستۍ موضوع څه شی دی؟خير که لذت منفعت؟

هغه کسان حقيقي دوستان نه دي، چې د منفعت دپاره دوستي کوي او په ګټه مين دي. د دوی دوستي به تر هماغه وخته وي، چې يو له بله ګټه کوي او د ګټې اميد موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا دوستي چې په لذت بنا ده او په خوند پسې ګرځي هغه هم له حقيقي دوستۍ نه خبرنه دی، د هغه دوستي هم بې بنياده ده، ځکه چې لذت هم لکه منفعت بې ثباته دی او ژر ژر بدلېږي.

په دې دواړو دوستيو کې دوست بالذات مقصود نه دی، بلکې لذت یامنفعت اصلي مقصد دی.

پوره او حقيقي دوستي هغه ده چې د ښو خلکو ترمېنځ پيدا کېږي او په ښه والي بنا ده.

هغه خلك چې د خير خاوندان دي او د بل خير غواړي مينه يې بو يه بل ذاتي او حقيقي ده.

دا دوستي په خير او فضيلت بنا ده او پايه يې ډېره ټينګه ده.

دوست هغه دی چې د دوست خير غواړي او خير ور رسوي.

په دوستۍ کې دا شرط دی، چې يو له بله له عواطفو ډك احساسات ولري او دا احساسات او عواطف دواړو خواو ته معلوم وي.

په دوستۍ کې اميزش او الفت ناسته ولاړه ضروري ده.

دوستۍ د مساوات په اساس ټينګېږي، چې هر يو د بل حق ادا کړي او هر يو د بل محب وي.

ډېر خلك دا غواړي چې د نورو محبوب شي او پخپله د هېچا محب نه وي په همدغه وجه خپل متملقين په ځان راغوندوي، مګر دوستان نشي پيدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متملق هماغه دي چې خپل ځان ټيټ ګڼي يا لږ تر لږه خپل دوست ته داښيي، چې زه په تا دومره نه يم ګران لکه چې ته پر ماګران يې، ځکه دغسې کسانو ته دوستان نشو ويلی.

دوستي هغه مينه ده چې له دوست څخه بيرته انعکاس کوي او له يوې خوا نه نه وي، همدغه سبب دی چې د انسان مينه له سرو او سپينو سره يا له ښو جامو او ښو خوراکونو سره دوستي نه ده، ځکه چې له يو خوا ده او بيرته انعکاس نه کوي.

په دوستۍ کې مقابله بالمثل په کار ده او بې مساواته دوستي دوستي نه ده.

مينه له يوې خوا پيدا کېدای شي، مګر دوستي له يوه طرفه هېڅکله نه وي. دوستي که د لذت يا منفعت په اثر وي کېدای شي، چې بد خلك له بدو خلکو سره يا ښه اشخاص له بدو کسانو سره دوستان شي، مګر که خير او فضيلت د دوستۍ اساس وي، نو د ښو او بدو ترمېنځ دوستۍ نه پيدا کېږي.

حقيقي دوستي هماغه ده، چې د نېکانو او ښو خلکو په پاکو زړونو کې ځای لري او په خير او فضيلت بنا ده.

(ارسطو)

# ښکلا

ښکلا يوه منطقي قضيه ده چې صغري يې سترګې دي او کبر يې زړه دی، نتيجه يې عشق دی.

(سقراط)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وحشي او مدني انسان

عمومي نظریه دا ده چې وحشي انسان په هېڅ ډول اخلاقي اصولو پابندي نه لري، بلکې هر وخت د خپلو غرایزو تابع وي او هر کله د خپل میل او خواهش رضا غواړي. انسان پېژندونکي پوهان دا نظریه نه مني او وایي:

وحشي هغه دی چې د ادابو او رسومو ډېر پابند وي او په ناسته ولاړه تګ او راتګ، بلکې په اقدام او هغه خبره کې د خاصو اصولو او مقرراتو پېروي کوي، یعنې وحشي انسان هغه مریی دی چې پخپل رفتار او کردار کې د یوې طایفې د عاداتو دلاس اله وي او متمدن انسان دغه راز نه دی.

(جان دیوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کابل مجله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستا شان

که زه ښه وکړم ته راسره ښه کوې که بد وکړم د بدو سزا راکوې.
که ستا مینه زما په زړه کې پیدا شي په محبت راته ګوري.
که زه بې مینې شم ستا مهرباني کمېږي.
ستا د رحمت بارانونه په ماباندې هغه وخت وربېږي، چې زما په زړه کې رحم وي.
زه چې هرڅه وکړم ته هماغسې را سره کوې.
که څوك په عذاب کړم په عذابوې مې. که ستا په امر او ستا په نامه چاته څه ورکړم په عوض کې ډېرڅه راکوي.
زما نېك بختي زما په عمل اړه لري او جنت یا دوزخ ته تګ زما د ښه عمل او بد عمل نتیجه ده.
زمونږ عقل او فکر همدغه دی، مونږ چې تا ته پخپله آیینه کې وګورو ستاپه باب دغه راز فکر کوو ، که مونږ ځانته ونه ګورو ستا لوی شانته وګورو ته زمونږ له خیال او فکر نه ډېر لوی یې او ستا لویي مونږ پوره نه شو لیدی.
ستا ذات او ستا شان زمونږ له عقل او فکر نه ډېر اوچت دی.
مونږ چې د ځان غوندې خلکو دپاره کالي نیسو او هغه د سر په سترګو نه وینو یا لنډ وي یا اوږده. ستا کارونه زمونږ په خیال او فکر کې نه راځي او بس همدومره پوهېږو ، چې ته مونږ غوندې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې، مونږ ډېر واړه او کوچني يو او ته ډېر لوی يې، چې په وهم او قياس کې نه ځايېږي.

دا زمونږ کار دی، چې د ښو په مقابل کې ښه وکړو او د بدو په مقابل کې بد، که مونږ څوك ووهو حاکمان مونږ وهي، که مونږ د ځمکې په لمن کې غنم وشيندو او اوبه ورکړو ډېر غنم راکوي او زمونږ اب و دانه ځمکه بې عرضه نه پرېږدي.

که د يوه نيالګي پالنه او روزنه وکړو ډېره خوږه ميوه او يخ سيوری راکوي که سوداګر ته پيسې ولېږو څه چې وغواړو راکوي يې، که له يوه ماشوم سره مينه وکړو له مونږ سره مينه کوي ستا شان له مخلوق نه اوچت دی. ستا اراده زمونږ د ارادې تابع نه ده.

ستا کړه زمونږ له کړو نه پيدا کېږي.

ستامحبت زمونږ له محبت نه وروسته نه دی.[1]

[1] - کابل مجله ۱۳۳۶ کال، ګڼه، دپښتنۍ دويم مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مدرسې نه ایستل

استاد وویل: ځان وړوکی وګڼه او د لویوالي خیال له سره لرې کړه!

شاګرد حیران غوندې شو او په ډېر احترام یې وویل: که سړی ځان صغیر وګڼي او روژه وخوري، څوك به یې نه ملامتوي؟ ایا د حقیقت په مخ پرده اچول څه بدکار نه دی؟

استاد: ته زما په مقصد پوه نه شوې، زه وایم لویې ښه نه ده: ځانته په حقارت کتل ښه کار دی، سړی باید خپل ځان له هر چانه ټیټ او ښکته وګڼي، که غواړې چې په رښتیا لوی سړی شې په مانا کې ځان وړوکی وګڼه او په لوی نظر ځانته مه ګوره!

شاګرد: دا څنګه کېدای شي چې سړی یو ځل پوه شي چې لوی یم او بیا پخپل نظر کې ځان کوچنی ماشوم کړي که دا کار ممکن وي او په رښتیا یوه لوی سړي ته ځان وړوکی او حقیر ښکاره شي، نو بیا هېڅ کله نه شي لویېدای.

هغه چې ځانته په درانه نظرنه ګوري، په سپکو کارونو نه شرمېږي او لوی لوی کارونه نه شي کولی. سړی باید ځان لوی وګڼي او لوی مسولیت قبول کړي. شاګرد ته استاد یوڅه وویل او عصر و زمانې بل سبق ورکاوه، استاد په تنګ شو او خپل شاګرد یې د شیطان په نامه له مدرسې نه وایست.[۱]

---

[۱] - کابل مجله ۱۳۳۴ کال ۶ ګڼه، پښتنی (۳) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان څه غواړي؟

کوم انسان او څنګه انسان؟ د پوښتنې سرې باید معلوم شي، چې څوک دی او څه دی او څه شی ته زیات احتیاج لري. که مونږ دا پوښتنه له کوم ړانده نه وکړو خبره دمخه فیصله ده، چې ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوه سترګې، همدرانګه یو وږی په اوبو پسې هڅه کوي رنځور وایي:

روغ صورت پاچایي ده او د صحت خاوندان نور څه غواړي.

دا پوښتنه ډېرې ډېډې او اړخونه لري، تاسې هېڅکله داګمان مه کوئ، چې لیکونکی دکوم مریض تپوس کوي یاله کوم وږي تږي سره کړېږي.

دا سوال له دغسې ضروري او بدیعي خوایجو نه هغه خوا ځای لري. د عشق په لېونیو پورې هم څه ارتباط نه لري، ځکه چې د هغوی لیلې مغلومه ده او پوهېږو، چې د ګلزار بلبلې سره ګلونه او پتنګان بلې ډیوې غواړي.

دا پوښتنه له هغوکسانو څخه ده چې په تن پټ او په نس ماړه دي، د عقل او بصیرت دعوې کوي او په انساني مطالبو کې لږه ډېره مطالعه لري یا په ملایي تعبیر له ماکولاتو نه معقولاتو ته رسېدل دي، مګر دلته هم ښایي چې ټول یو راز جواب رانه کړي یو به وایي زه د ملت او وطن سعادت غواړم بل به خبره دبشریت خواهۍ ته ورسوي او له عصري ریا کارۍ نه به کار واخلي، دغه راز غټې دعوې هر څوک په رښتیاو نشي کولی او په دنیا کې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ خلک دي، چې دغه راز عالي شعور به لري، نو د دې دپاره چې د دغسې لويو دعو مخه ونيول شي، يو ټکی په خپله پوښتنه کې زياتوو او وايو:

ته د خپل ځان دپاره څه غواړې؟ ډېرې پيسې؟ که نوم او شهرت؟ عزت او اعتبار ته ډېر احتياج لرې، که له دې حده تېر شوې يې او غواړې چې د عالم له شور و شره ځان ليرې کړې او د علم او معرفت په دنيا کې د حقيقت رڼا ولټوې، هغه خوند چې دنيادار يې په جاه وجلال، زينت او ارايش، خوړو او خوندور شيانو کې پيدا کړي؟

رښتيا ووايه! چې ته څوک يې او څه غواړې؟ دا وروستۍ دعوه هر څوک نه شي کولی او هر سړی دغسې نه شي کېدای له ډېرو ډوډۍ غړپو او وچو ماديونو څخه اورو" تواضع کم کن و در مبلغ افزای) ځينې نور لا وايي (مرا نان ده، کفش بر سر بزن) همدغه راز اشخاص دي، چې په دنيا کې عموميت او کثريت لري يا په بل عبارت وطنونه ترې ډک دي په هر ځای او هره طبقه کې چې ګورو په همدغه شي پسې هڅه کېږي او د ټولو کوښښونو غايه همدغه شی دی. چې مال او دنيا يې بولي، که تاسې د هر چاړه ته غوږ ورنژدې کړئ په ډېرو سينو کې همدغه څه ترينه غواړي، هر زيارت لره چې ځي مراد يې همدغه شی وي او په بتخانه او حرم کې همدغه ورکه لټوي. څوک يې د دلبرو د صدقې دپاره غواړي او څوک يې اصلي معشوقه بولي. ډېر لږ کسان دي چې دمال او دنيا په سيوري کې نوم او شهرت عزت او اعتبار هم لټوي او د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوښو ته سرونه نه نيسي، يعنې د نورو تواضع او پيسې دوا ړه غواړي او په يوه کمبوت هم نه راضي کېږي دا راز خلک خپل ځان له تش ماديت نه پورته ګڼي او په يوازي پيسو نه خوشالېږي، مګر له پيسو هم زړه نه شي صبرولی او په تش نوم نه غوړېږي دوی وايي.

**هغه نه يم چې په مال به افتخار کړم**
**يا د تش نامه دپاره به هر کار کړم**

دوی مال او دولت د راحت او اسايش، عيش وعشرت دپاره غواړي او د افتخار دپاره يې نورو څيزونو ته زړه کېږي.

دا هغه خلک دي چې په دنيا کې دوه برخې غواړي، يعنې له شلو زامنو سره دنجلۍ مېرمن هوس هم لري، دوی په ظاهره وايي (ادمی فربه شود از راه گوش) مګر د نوش فکر هم تل ورسره وي او ثنا وصفت سره مال او دولت ګډ او مخلوط غواړي، همدغه راز خلک په دنيا کې اکثراً کامياب وي او د مهارت خاوندان بلل کېږي، د دوی شاوخوا ډېر خلک راټولېږي او له هر چاسره سر خوځوي، د دوی په مجلس کې خواږه او تروه شيان، کتاب او کباب، د اخرت فکرونه او دنيايي نعمتونه هرڅه وي او هر ډول خلک ورته راځي، د داسې کسانو مستخدمين زښت ډېر وي، مګر هغوی په ځان نه پوهېږي او نه وي خبر چې مونږ څومره خدمت کوو او له څه راز تسخير لاندې راغلي يو همدغه طبقه ده چې د جهان ګډې وډې ښه او بد د دوی لاس کې دي او څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي هغه کوي، همدوی د نورو خلکو ولیان او وصیان وي او د دنیا ظاهري متصرفین ورته ویلی شو.

له دې کسانو نه چې تېر شو او سترګې وغړو، چې له دې دوه صنفونه هغه خوا هم څوک شته چې درېیم صنف وباله شي که یه؟ نو ډېر لږ او بیخي لږ کسان وینو چې هغه له دې سطحې نه ډېر پورته دي، مګر له عمومي نظره لویدلي او هرڅوک یې نهویني، دا راز خلک هماغه کسان دي چې یوه علمي فکر کې ډوب تللي او نور هر څه یې هېر کړي دي، په ظاهره په دې نړۍ کې اوسېږي، مګر شپې ورځې یې په بل عالم کې تېرېږي، په هغو شیانو چې مونږ خوشحالېږو یا خپه کېږو دوی نه خبرېږي او څه چې نور خلک یې ارزو لري دوی یې نه غواړي دغه راز فلسفیانه یا شاعرانه مزاج، چې په هر چا کې پیدا شي هغه بیا له دې عالمه د شوق و ذوق په لحاظ بېلېږي هغه د دې عالم په بدبختیو او غمونو ژاړي، مګر د خپلو اوښکو اجرا له دوی نه نه غواړي، د هغه ټول کوښښ د پوهېدلو دپاره وي او پوهه پخپله یو داسې حقیقت ګڼي چې نور ټول خواهشات او لذتونه مغلوبوي، څوک چې دغه ذوق او دا تصور رښتیا پیدا کړي هغه بیا په دنیا کې بل هېڅ شی د لوړوالي او ټیټوالي معیارنه ګڼي، دغه بداییي یا دنیوي عزتونه او عبارات چې نورو ته د تعظیم سرونه ټیټوي د ده په نظر کې هېڅ قدر او قیمت نه لري او نه په دغسې شیانو کې له چاسره رقابت او حسادت پیدا کوي، دا راز کسان هېڅکله خپله پوهه او معرفت چې د لوی خدای یوه لویه عطیه ده او له قراني

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدایاتو نه رښا اخلي ددنیا په قلیله متاع او لږو پیسو نه خرڅوي، ځکه چې له دغسې زیانمن تجارت څخه خدای هم انسان منع کړی دی. علم او پوهه د انسان هغه شرف دی چې خرڅول یې لوی عیب دی. هغه کسان چې دې تجارت ته زړه ښه کوي او خپله بینایي خرڅوي ړانده دي او د بینایی په قدر نه پوهېږي. یو پتنګ هېڅکله یوه بله ډیوه د دنیا په مال نه پلوري، ځکه چې په ده توره شپه راځي او په تورتم کې ژوند نه شي کولی او هېڅ وخت هغه کیف د دنیا په سروګلوکې نه شي پیداکولی.

اوس ډېرکسان په دې عقیده دي، چې د انسان اصلي او حقیقي فایده مال دی او ځینې نور ورسره جاه و جلال هم ملګري کوي، دوی وایي: نور ټول شیان د همدغې غایې پټ او ښکاره وسایل دي، چې د همدغه مقصد دپاره انسان استخداموي.

څوک چې دا وایي ښایي چې هغه به خپلې آینې ته ګوري او د عامو وګړو په روش او خوي او مزاج باندې په استناد کوي.

نو راشئ چې د انسان په فطرت او طبیعت کې مطالعه پیل کړو او وګورو، چې انسان څوک دی او څه غواړي؟ دا خو څرګنده ده چې د مال حب او د تملک مینه د ده په غرایزو کې داخله ده، په خپل ژوند او حیات کې دغه شي ته احتیاج او ضرورت لري.

دی هېڅکله داسې نه شي کولی چې په تشو نندارو یا تصوراتو شپې ورځې تېرې کړي او له نغري نه یې هېڅ دود پورته نه شي، مګر له دې حقیقته هم انکار نه شو کولی چې د ده په غم او خوشحالی، سعادت او شقاوت کې نور شیونه قوي تاثیر لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې مال دی نه شي قانع کولی، د نورو ملتو حال احوال يوې خواته پرېږدئ يوازې د پښتنو ژوند تحليل کړئ، چې دوی د دنيا مال ته په څه نظر ګوري او څه راز تعبيرات ورځنې کوي. زه دلته يوازې د خوشال خټک يا حميد او نورو پښتنو شاعرانو په بيتونو استناد نه کوم، چې هغوی پښتانه راښيم چې په دنيا پسې شپه او ورځ سرګردانه دي په هلو ځلو او ډېرو خواريو يې لاس ته راولي، مګر د ننګ وغيرت په ځای کې دخپل عمر ټوله خواري بربادوي او هيڅ ورته نه پاته کېږي، نو لږ څه ښار او بازار ته واوزئ او د ملت په طبيعت کې ننوزئ يوازې د دوی د دنيا سرګرداني په نظرکې مه نيسي، بلکې د سرښندلو او مال قربانولو په وخت کې يې وګورئ، چې دوی څه غواړي او څه کوي؟ يوه وړه طعنه يا يو شاباس او افرين په دوی څومره اثر لري او څه راز ايثار او قربانۍ ته يې حاضروي.

نو د اکثريت او عموميت په لحاظ هم ويلي شو، چې خلکو په مال او دنيا ايمان نه دی راوړی او اصلي غايه نه ده، ډېر خلک شته چې له خوارۍ ژړنده، ستايي او له کبره مز نه اخلي، مال او دنيا دلاس خېري او د هندو ږيره بولي، دپښتون او پښتونولۍ په مفهوم کې نور شيونه داخل ګڼي او هغه بدايان چې يوازې پيسې لري په نورو نومو يادوي، د انسان شرف او اهميت په نورو حقايقو پېژني او يو شتمن سړی مجبورېږي، چې د مال په قربانۍ خپل ځان هغې اصلي غايې ته ورسوي، دغسې چې يو مسلمان په خپل مخکې يوه قبله او کعبه لري، چې د مال په زاد و راحله ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي او هغه د خپل سیر او سفر غایه ګڼي. هر ملت پخپله ذهني او معنوي دنیا کې هم یوه لوړه غایه لري، چې د مال توښه ورته ضرور ایسي او د مال پیدا کولو علت یې غایه ګڼل کېږي، په ډېرو ممالکو او ملتو کې ګورو چې ډېرکسان خپل لوړ منصبونه او لوړ مراتب پرېږدي، مګر خپله یوه نظریه او مفکوره چې ښایي هېڅ مادي منافع به پکې نه وي نه پرېږدي.

وروسته تر دغسې ډېرو فکرونو، چې په انساني نړۍ کې یې کوو او مختلف طبقات په نظر کې نیسو، یعنې له زید و عمر نه تیریږو او بشري مفهوم ته ګورو حیرانېږو، چې انسان څه غواړي او څه غایه لري؟ که په یوه ملت کې دغه غایه درک شي او د یوې عمیقې مطالعې په اثر کې دغه نفسي او روحي راز او شر ښه تعین شي، نو د هغه ملت په نهضت او ویښولو کې ښه کار ورځنې اخیستل کېږي او همدغه راز نبض پېژندل د یوه ملت د پوهانو او رهبرانو اصلي وظیفه ده، چې په اجتماعي حیات کې خورا ډېر دخل او تاثیر لري، ځوک چې د یوه ملت شایق کېږي هغه باید په دې پوه شي، چې دغه ملت څه غواړي؟ او له همدغه پوهې استفاده وکړي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۴ کال، ۱ ګڼه ۱۰،۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کارونه

ځینې کلمات شته، چې که سړی ورځنې په نورو کلماتو تعبیرکوي او حقیقت یې لټوي معنیٰ یې ګرانېږي او داسې مثال لري لکه چې سړی دلاس غوټه په خوله خلاصوي یا له رښا نه تیارې ته ځي، دا ځکه چې د بشر پوهه او معرفت بې د الفاظو د زده کړې څه بل شی نه دی، نو که انسان الفاظو او کلماتو ته قانع نه شي یو اسانه او عام فهمه مفهوم هم مشکلېږي او د هغو کلماتو تعبیر، چې لوی او واړه، پوه او ناپوه یې په ورځ کې له سلو ځلو نه زیات وايي هم څه اسانه کار نه دی.

کار هم له همدغسې کلماتو څخه یوه کلمه ده چې که تعبیر یې په فعل او عمل سره وکړو په لوی لاس یې معنیٰ پټوو او د بنې اسرائیلو غوا ورځنې جوړېږي.

که وواېو کار د غړو او لاس و پښو حرکت دی، نو یو ګوځنه وهلې سړي خو شپه او ورځ په حرکت کې وي، مګر څوک یې کاریګر نه بولي، ډېر خلک دي چې خوشحال ګرځېدل کار نه ګڼې او خبرې هم د کار جانب مقابل ګڼي، مګر ځینې کسان یوه ځای ته د چا خبرې وړي او وايي هلته کار لرم. یو سړی ځای په ځای ولاړ وي او د یوه شي حفاظت او مراقبت کوي، مګر دغه درېدل او کتل که څه هم هېڅ حرکت به پکې رانه شي کار باله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ووایو د انسان هغه عمل او حرکت دی چې د یوې فایدې دپاره وي دلته له کارنه د فایدې پېژندل ګرانېږي او ډېر بې فایدې کارونه چې خلک کار بولي کار له تعریفه وزي.
که کار ته په لغوي او صرفي عینکو وګورو، نو ځینې صرفي او ګرامري افعال د کار د فعل په معنیٰ شته چې د انسان قصد او اراده په کې هېڅ دخل نه لري، لکه لوېدل، رنځورېدل، مړه کېدل چې ځوک یې په کار کې نه حسابوي، بلکې ځینې افعال لا بیخي په انسان پورې هېڅ ربط او تعلق نه لري، لکه د کاڼو ماتېدل، د پاڼو رژېدل، د بوټو لویېدل او داسې نور.
که ځینې فکري او دماغي کارونه په نظر کې ونیسو، نو بیا مجبورېږو، چې تصور ته هم کار ووایو او په یو خیالي وجود ورته قابل شو، چې د حادثې او واقعې له دایرې نه هم کار خارج وبولو.
دا لغوي بحث او تحقیق به په همدغه ځای پرېږدو او کارته به د اجتماعي مفاد او مصلیت په سترګه وګورو چې کار څه شی دی؟ دا چې خلک وایي فلانکی د کار سړی دی یا د ملت، جامعې او مملکت دپاره ښه کار کوي څه معنیٰ؟
په دې لحاظ نو کار یو بل راز مفهوم پیدا کوي او ډېر افعال لکه خوب و خندا ځښل او خوړل د کار له مفهوم وزي او یوازې همدغه افعال پاتې کېږي، چې په اجتماعي نظام کې پوره دخل او اغېزه لري. که یو سړی یوې کوي یو بل هم قلم را اخلي اخبار ته مقاله لیکي هغه بل ناست وي د اجتماعي چارو د بهبود دپاره فکر کوي هر یو کار کوي او دکار سړي بلل کېږي.
هو! دا ټول کارونه دي، مګر د ټولو اهمیت یو راز نه دی ځینې کارونه به وي، چې خولې په کې نه تویېږي، غړي به پکې ډېرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړې کېږي، مګر قدر او قيمت به يې ډېر وي، دغسې دنيا کې سره او سپين جوار او غنم خر مُهرې او نعلونه تفاوت لري، د انسانانو کارونه هم جګ او ټيټ قيمتونه لري او ټولې چارې يو له بله برابرې نه دي.

هغه کارونه چې پوهه او فکر په کې خرڅېږي له پنډونو چلولو او کاڼو ماتولو نه زيات اهميت لري، کوم کار چې هرڅوک يې کولی شي او هغه کار چې ډېره موده تعليم غواړي هېڅکله نه برابرېږي.

د کارونو د قيمت دپاره دوه اصلي معياره موجود دي، يو ضرورت او احتياج بل دکار کوونکو ندرت او لږوالی.

ضرورت او احتياج په يوه ملک کې فرق کوي کوم خلک چې له علم او معنیٰ سره ښه نه وي اشنا شوي او عرفاني ذوق نه وي پيدا کړی هغوی علم و معرفت ته خپل ضرورت او احتياج پوره نه حس کوي او عرفاني رجال په کې ډېر قدر نه شي پيدا کولی، هغه جوامع چې د وضعيت په قيمت نه وي پوه شوي هلته د نفيسو صنايعو خاوندان له نورونه څه زيات امتياز نه لري.

په يوه محيط کې چې هر څوک په ماديا تو افتخار کوي هلته د فضيلت خاوندان حقير وي، ځکه چې احتياج ورته نه ليدل کېږي که څه هم انسان په هر وخت کې ورته احتياج لري، نو که د ضرورت او احتياج په ځای د ضرورت او احتياج احساس او ليدل معيار کړو بهتره به وه، ځکه چې بې احساسه احتياج هېڅ تاثير نه لري. په ځينو ځايو کې چې خلک ديوه مکتب معلم ته خپل ضرورت او احتياج نهويني او په دې نه پوهېږي چې علم او پوهې ته شديد ضرورت موجود دی هغوی تعليم او ښوونه کوم قيمتي او مهم کارنه ګڼي او په اصلي کارونو کې يې نه حسابوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی چې دیوه مملکت علمي، ادبي، اداري او عملي کارونه په نظر کې ونیسي او د هر کار په قیمت او اهمیت کې غور وکړي هغه پوهېږي، چې په محیط کې کوم ډول کارونه اصلي ګڼل کېږي او کوم فرعي دي. اداره مهمه ده که علم؟ ادب ډېر قدر لري که معرفت؟ نو په دغو چارو کې چې هر کار مهم او اهمیت یې هم زیات وي. له همدې لامله هغه څوک چې په غرونو کې د رمو اداره کوي له هغه چانه زیات اهمیت لري چې په کور کې مېږې او رمې ساتي. په کوم محیط کې چې خلک د کامل تهذیب او صحیح تربیت خاوندان وي هلته د یوې قوي ارادې خاوند ته دومره احتیاج نه وي، لکه په غیر مدني اقوامو کې چې وي، همدغه سبب دی چې په علمي دوایرو کې اداره خپل قیمت کموي او علمي اقتدار زیات اهمیت پیدا کوي.

همدغه شان په کومو هېوادونو کې چې ادب په علم او احساس تعقل غالب وي هلته ادب له علم نه زیات اهمیت لري او ادبي رجال له علماو نه بر کښېني، یعنې لکه چې په یوه مکتب او مدرسه کې دیوه عالم او معلم وینا قیمت لري په یوه باغ کې د بلبلو نارې قدر لري او د محل ومحیط کارونه لوړېږي او ټيټېږي. څومره چې په یوه سیند او دریاب کې موجونه او طوفانونه زیات وي هغومره د کښتۍ او کښتیبان اهمیت زیات وي، مګر په وچه ځمکه کې ورته هغه قدر نه پاته کېږي؟[1]

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۳ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وده او تکامل

بابه جانه! هغه وخت چې زه نه وم ته وې، مګر د چا پلار او بابا نه وې.

هو، ته هماغه وخت بابا او دادا شوې چې مونږ راغلو او ستا شاو خوا راټول شوو، خلک وايي چې بې اولاده هم څوک پلار کېدای نه شي او نه څوک بې لمسيانو بابا کېدی شي. رښتيا چې په اجتماعي دنيا کې يوازې توب هېڅ مانانه لري او مشرهم کشر ته زښت ډېر محتاج دی. هغه وخت چې تا کور او کډه زامن او لمسيان نه درلودل ته دغه څوک نه وې، چې نن يې، ته په هغه وخت کې يو زړی وې، مګر نن سمسور باغ شوې او خوندورې خوږې ميوې لرې.

ته اوس د بلبلو کور او ستا په ګلزار کې د ژوندانه شور او غوغا پيدا شوه، مګر پخوا لکه يو مړ جسد په خاورو کې پروت خورا کوچنی وې.

څنګه چې پخواله مانه پلار او بابا نه وې دغسې د کوچنيتوب په وخت کې ځلمی او د نطفه توب په وخت کې ژوندی نه بلل کېږې.

که دغه څانګه او شاخونه له تانه لرې شي بيا هم تا ته څوک ونه، نه وايي او ستاپه حيات کې هېڅ برګ و بار نه پاته کېږي ته بيا د پسرلي له فضانه څه برخه لرې او نه د هوا مرغان دغسې سر پرېکړو ونو ته راښکته کېږي، په رښتيا چې ستا ژوند په مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې دی او بې له مونږ نه ژوند نه شي کولی، لکه چې مونږ بې له تانه خپله تازګي او حیات نه شو ساتلی، که کله زه ستا د مهربانۍ شکریه کوم او ځان بېل ګڼم دا به زما لویه ناپوهي وي، ځکه چې زه له تانه هېڅ بېلتون نه لرم او په هېڅ راز نه شم بېلېدلی.

د دې شینکې باغ ټولې ونې له همدغې ځمکې پیدا شوي له په همدغه خاورو کې وده کړې ده، مګر د دې ځمکې ښایست او قدرهم په همدغو ونو پورې تړلی دی، که دغه نیالګی دلته نه وای روزل شوي، دې وچو او سپېرو خاورو به دا قیمت نه درلود، نو د دې ځمکې څه احسان په دې ونو نه شته، بلکې دا ځمکه له سورې لاندې ژوند کوي.

که کومه غټه ونه خپلو څانګو او ښاخونو ته وده (نشو ونما) قوت ورکوي نه په خپله غټوالی او لویوالی کې کوښښ کوي، هسې نه چې له کوم بل شي سره احسان کوي دغه راز مرسته، خو زړه هم له نورو غړو سره کوي، مګر څه احسان نه باروي، دې نه باید فیاضي ونه وایو، بلکې غټېدل او لویېدل یې تکامل بولي. د باغ خاوند په دې ښه پوهېږي چې دغه ونه د ښورې په ځای سرې ته خوږې میوې ورکوي، ځکه ورته انبارونه راچلوي او تربیه یې کوي.[1]

---

[1] - کابل مجله. ۱۳۲۳ کال، ۱۲ ګڼه ۱ - ۱٦ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشومان

مونږ ناست وو. ماشومان زمونږ له څنګه نژدې په لوبو مشغول وو.

کله به يو له بله په هسې خبره ونښتل، چيغې به جګې شوې، ژړا انګولا به وه، کله به د خندا شور او زوږ دومره او چت شو، چې په عذاب به يې کړو.

يوه به چې د بل د لوبو شيان ګډوډ کړه هغه به په قهر شو کنځلې به يې کولې او هرڅه به يې ويل.

زمونږ پام نه و يو راپاڅېده د بل مخ يې شوکارې کړ د هغه پر مخ ويني روانې شوې او له مستۍ نه جنګ جوړ شو.

مونږ ويل خبر دې واړه دي نه پوهېږي.

هو! ماشومان واړه دي، مګر دومره واړه نه لکه مونږ چې د لوی خدای په حضور کې کوچنيان يو، د ماشومانو پوهه له مونږ نه لږه ده، مګر زمونږ پوهه د هغه په نسبت ډېره لږه ده زمونږ لوبې هم د وړو غونډې دي زمونږ خندا او ژړا هماغسې ده، ماشومان پوهېږي چې دوی واړه دي، مګر مونږ په خپل کوچنيتوب هم نه پوهېږو په رښتيا چې مونږ له ماشومانو نه واړه يو او زمونږ خدای ډېر لوی دی.

مونږ بايد خوشحاله اوسو، ځکه چې خوشحالي د ماشومانو مال دی.[1]

---

[1] - کابل مجله ۱۳۲٦ کال،٦ ګڼه،دپښتنۍ دويم مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریا کاران

**د کاغــذ پــه ګـــل بلبلـــې نـــه ټـــولېږي**
**بـــې مېـــوې دی بـــاغ وبـــڼ د ریـــا کـــار**

ریا کار یوازې هغه نه دی چې په ډېرو نفلونو ځان سترې کړي او بې له دې نه چې خلکو ته ځان وښیي په کې یې د عبادت سره هېڅ مینه نه وي، هغه څوک چې له خپل کار او وظیفې سره اصلي علاقه نه لري او یوازې د خپل امر یا ځینو نورو کسانو د غولولو دپاره خپل ځان د کار شین ټاکو ښیې دا هم ریا کاري ده، خو دومره خبره ده چې هغه له خدای سره او دی له خلکو سره په خپل ګمان چل او ټګي کوي، ډېر کسان شته، چې په مجلسونو کې له ډېر کار نه شکایتونه کوي او ځان داسې ښیي چې ټول کارونه همدی کوي او دنیا د ده په ښکر ولاړه ده، دغه راز خلک هم اکثراً ریا کار وي او په حقیقت کې هېڅ نه کوي. ځینې نور دا راز اشخاص هم شته هر ځای په یو مخصوص وضعیت چې یو عالم درد او تاثیر ورسره ملګری وي اجتماعي بحثونه شروع کړي او دا څرګندوي، چې یوازې همدې د وطن خواهۍ او وظیفه شناسۍ او پاکنفسۍ غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمونه ده او بس. هر څوک ګمان کوي چې که دغسې صحیح اشخاص او باحرارته ځلمیان زیات شي ټول کارونه به ښه شي او هر څه به ترسره شي، مګر خدای خوخبر دی چې د ده په زړه کې بې دځان له مینې نور هېڅ نه وي او غیر له شخصي اغراضو او مطالبو نور څه نه پېژني دا هم ریاکاران دي او د دې اصل ریا کاري همدغه شی دی.

په هر وخت کې یو ملت او مملکت ځینې شیان ښه ګڼي او په ښه سترګه ورته ګوري.

هغه وخت کې فضایل ګڼل کېږي نور هرڅوک چې فضیلتونه لري یا ورسره علاقه لري جامعه هغو اشخاصو ته په ښه نظر ګوري او روزي یې دا راز فضایل او ښېګڼې چې جامعه یې له اشخاصو څخه غواړي ارومرو لږ څه مشکل کار هم وي او هرڅوک یې نه شي کولی، نو له یو خوا دغه اشخاص او له بل خوا دغه دیوې اجتماعي ترغیب او د ریا کارۍ او منافقت فکر پیدا کړی او ځینې کسان مجبور شي چې ځان په هماغه رنګ جمعیت او ټولنې ته وښیي چې هغوی یې خوښوي او په شعر ورته ګوري.

دا کار تر یوې اندازې پورې اسان هم ایسي او چلند هم لري، ځکه چې انسان سره له ډېر عمیق او دقیق فکر ظاهر بین هم دی یو ډول سادګي هم په کې شته په جمعیت کې د دقیق او عمیق فکر خاوندان هم ډېر لږ وي، نو اکثریت د هغو کسانو وي چې هر چا او هرشي ته له ورا او له لرې وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ټولو خبرو په اثر کې نتیجه دا شي چې اشخاص او هغه کسان چې د عقیدې له مخې اجتماعي فضایل پېژني ډېر لږ او نادر وي، مګر ریا کاران زښت ډېر پیدا شي او مظاهره کوونکي مخلصینو ځای ونیسي دغه راز کسان چې میدان ته راوځي (ځایونه) ونیسي هلته کارونه په حقیقي ډول نه اجراکېږي او هر څه یو نمایشي صورت لري، په دغسې ځایونو کې جدیت او فعالیت هم دا معنیٰ نه لري چې سړی ډېر کار وکړي یا یو کار په ښه ډول اجرا کړي، بلکې هغه ځوک جدي او فعال ایسي چې په مظاهراتو او ریا کارۍ کې مېړنی وي. دا راز کسان چې لکه او پښتې په توره شپه کې الوزي او خلک د اور د شجرې ګمان پرې کوي یوازې همدومره رڼا لري، چې خپل ځان خلکو ته وښیي او بس، یعنې هېڅکله داسې نه کېږي چې کومه تیاره خونه رڼا کړي یا ځوک ورځنې خپله ډیوه ولګوي.

دا حال ترهغه پورې په یو مملکت کې دوام کوي چې دهغوی توره شپه سبا شي او اجتماعي شعور خپلې سترګې ښې پوره وغړوي، یعنې خلک لکه هلکان په تشو خبرو ونه غولېږي او هر چاته یا هر شي ته په اني او سرسري نظر ونه ګوري.

دغه د ریاکارۍ دوره چې په کوم وطن راشي او حقایق لاښه نه وي پېژندل شوي سړی غل او کاروانی نه پېژني او له لاسو پښو، دماغ او نورو اعضاو څخه ژبه ډېر کار کوي. سړی چې په ځینو ادارو یا لارو او کوڅو کې ګرځي او په ریا کارانو پسې سترګې غړوي ډېرې عجیبې نمونېویني او داسې ایسي، چې دا مرض د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مني له ريزش نه هم عام دی. ډېر خلک دي چې په خپلو کوروکې له خپلـو ملګـرو او اشـنايانو دوسـتانو او خپلوانـو سـره د دروغـو کيسې کوي او په دغو کيسو کې خپل ځان هغوی ته داسې ښکاره کوي چې د هېواد لوی لـوی خلک ده تـه پـه درنـه سترګه ګوري او دی په هغوی کې مخصوص مقام لـري، دغـه راز کسـان کـه دغسـې خبرې ونکړي او ځان په بل ډول چاته ښکارنه کاندي ځوک يې بيـا سلام هم نه عليک کوي او هېڅ قدر ورته نه پاتي کېږي، ډېر زامـن شته چې په لارو او کوڅو کې له خپلو ملګرو او همزولـو سـره دغـه ډول اوسي، مګر د پلار په مخ کې بيخي بل څوک وي او بـل شـان خوي لري، ځکه چې د ځينـو کسـانو حضور کې ځان ډېر مطبع او مخلص ښکاره کوي، مګر پسې شا به ورپسې سل خبرې کوي، نـو که ووايو چې د انسان فطرت ځان بل راز ښيي څه ډېره مبالغه به نـه وي، ځکه چې انسان په اصل خلقت کې داسې پيدا شوی چې هـم ځينې ټيټې خواهشات او حيواني شهوات لري هم يـو شعور خدای ورکـړی، چې ښـه او بـد پـرې پېژني او د خپلـو نقايصـو احسـاس کوي، نو دی مجبور دي چې خپل مصايب پټ کړي او ځان بل شان وښـيي عـلاوه پـه دې دا اجتمـاعي مخلـوق لـه يـوې ټـولنې سـره ژونـدون او معاملـه لـري، نو بايـد خپـل ځـان ټولنې تـه ښـه معرفـي کړي او پـه دغسې ځان ښودنه ورځنې ښه استفاده وکړي. د دغسـې ملا د خطابو په اثر کې سړی ويلی شي، چې انسان له ريا نـه بيخـي ځان خلاص کاندي. ډېر ځلې داسې پېښېږي چې په يوه مجلس کې يو شی بدګڼل کېږي او هغه ښه وي. سړی دا نشي کولی چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه کړي او عقیده یې وګرځوي دی خپله عقیده بل راز ښکاره کړي او مخالفت وکړي ډېر ضرر وینې په دغسې واقعوکې خپل مخالفت پټول او چپوالي سره خپل ځان موافق ښودل دي، مګر دا بده نه ده خپل فضایل او ممیزات ښودل او ښکاره کول هم په یو ښه صورت وي جایز ځه، بلکې ښه مغیرکار دی. که یو معلم یا عالم د تعلیم او تدریس په ذریعه خپل علمي اقتدار او لیاقت خلکو ته ښیي، دغه راز اظهار او ښودنه که څه هم د لغوي معنیٰ په لحاظ ریا بلل کېږي، مګر ریا نه ده، همدارنګه هغه ملت خواهان او وطن غوښتونکي چې عملاً دغه عالي عشق او مینه دخدمت او ایثار او فدایت په رڼا کې خلکو ته ښیي دغه راز حقیقي او واقعي مظاهرات ډېر ښه او د تقدیر وړ دي. کومه ریا چې حقیقت بلل کېږي او زیان لري هغه عبارت دی له هغو مظاهراتو او ځان ښودنې څخه چې د خلکو غولونې او سترګې تړل په کې مقتدر وي، لکه چې ځینې ډېر خلک یې په خپلو صحنو کې کوي او دیو ه جمعیت په سترګو کې خاورې اچوي.

په ډېرو مجالسو کې ګورو چې هماغه کسان خیانت او خیانت کارانو ته ډېر بد وایي چې په خپله په کې هر چانه ډېره برخه لري همدغه راز بډې او رشوت هم هماغه اشخاص ډېر بد بولي، چې په خپله یې خوري له منافقت نه هم هماغه څوک ډېرسر ټکوي چې په دغه مرض په خپله اخته وي، یعنې اکثراً داسې پېښېږي چې هر څوک هماغه عیب ډېر ګڼي چې دی یې په پخله لري او هماغه صفت ستایي او دعوا یې کوي چې دی یې نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته زه هم په ځان ويرېږم، چې د ريا په موضوع کې ليکل ريا کاري نه شي او همدغه شی باعث شوی نه وي، له دغسې قومي او لساني ريا کارۍ نه چې واوړو د عمل په ساحه کې هم په څو ډوله ريا او ډېر ريا کاران ليدلی شو، چې څوک په يو راز او څوک په بل راز خپل ځان جدي او کارګير ښکاره کوي، مګر د کار هېڅ پته نه معلومېږي. تاسې به ځينې ناراحته مزدوران ليدلي وي، چې د نګران سترګو ته ګوري او په هماغه شېبه کار کوي، چې څوک ورته ګوري، دغسې چې په دغه طايفه کې د چا ليدنه او کتل تاثير لري په نورو طبقو کې هم له ډېرو خلکو سره د کار کولو فکر دومره نشته لکه د کار ښودنې ورسره دي، لکه چې په ځينو مواردو کې ځينې مامورين او کاتبان ټوله ورځ په کيسو او خبرو تيروي، مګر په هم هغه وخت کې چې يو امر په دواړو وګرزي، نو خپل سر په کار باندې دومره ټيټ کړي، چې که هغه څو دقيقې د ده د ميز په منځ کې ودرېږي هم دې يې نه ويني او نه ورته ګوري.

د دغسې ريا کارۍ اصلي علت دا دی چې دغه راز امران او کار غوښتونکي خپل لاس لاندې مامور ته ګوري، چې په کار بوخت دي او که نه، نو که چېرې د ميز په سر يو کاتب چې شخصي خط يا د رخصتۍ رقعه ليکي هغه هم په کار کې حسابيږي او د ده جديت ښيي، مګر که سړی کار ګوري چې شوی او که نه؟ او د چا کار چې د کولو په وخت کې چانه وې ليدلی پټ پاتې نشي څوک دغسې ريا کارۍ ته نه مجبورېږي او نه دغسې چمونه کوي، نو د دې مرض اساسي چاره دا ده چې يوازې حرکتونه ونه ګورو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې نتيجې، د کار کم وکيف ته وګورو، ځکه چې څوک هر څه وينې او هرڅه خوښوي خلک هماغه ور ښيي او په څه چې نظر جلبېږي هماغه شی ميدان ته راوزي.

مونږ ښايي دغسې ډېر امراض ولرو، چې بايد اساسي علاج يې وشي او علتونو ته يې متوجه شو، ډېر نقايص به وي چې مونږ يې په نورو کې ګورو او هغه په حقيقت کې مونږ ته عايدوي. که مونږ او تاسې ظاهربين نشو څوک ريا کاري نشي کولی او نه يې کوي، نو ريا په حقيقت کې زما د ظاهر بينۍ عکس دی چې په بل کې يې ګورم او بد ورته وايم. که څوک غواړي چې يو سړی په بل رنګ ونهويني رنګه عينکې دې له سترګو لرې کړي او هرڅه دې په خپلو سترګو وګوري.[1]

[1] - کابل مجله ۱۳۲۳ کا ل.۱۰ ګڼه ۷،۱۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپنو کبړدۍ

د غره په لمن کې په جګه غونډۍ توره کبړدۍ ولاړه ده یو لور ته یې په ښېښترو او څېړیو پټ هسک غر ښکاري او بل لور ته یې شین بڼ د سړي ترسترګو کېږي. د غونډۍ په خوا کې یو لوی ځوړ دی او سپیني اوبه، چې د غره له یوه جګ ځایه راتوییږي کړي وړې پکې بهیږي او له ځان سره څه وایي.

د کبړدۍ څښتن یو کنډک وزې لري، چې یو زوی یې وزې او بل ورغمي هر ورځ د څړ د پاره بیایي، مازیګر مهال چې وزې راشي او د ورغمو سترګو پرې ونښلي یو بل ته د اسې ناري وهي، چې د میندو او بچو مینه ترې له ورایه څرګندیږي.

کله کله، چې ځول او وربځې وي د کبړدۍ څښتن څه نور پیڅولونه له کبړدۍ سره ونښلوي او خپلې وزې ترې لاندې پنډې کړي.

دا کبړدۍ چې د دې سړي او د وزو د پاره یو ښه سبب دی د همدې وزو له وزغمو جوړه شوې ده.

هو! دا کبړدۍ د همدغو وزو له وزغمو څخه جوړه شوې ده، خو وزغمي د وزو په شا باندې نورې هم شته چې د کبړدۍ کار ورځنې نه اخیستل کېږي او نه د ړلۍ د ګاټو مخه نیوای شي.

کوم وخت چې دې سړي د وریو له شاد او زغني پرې کولې زه په دې نه پوهیدم، چې دا به یوه ورځ د همدغو وزو په ښه راشي مابه ویل چې دا سړی د دې وزو په پیسو او وزغنو دواړو باندې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه کوي او په وزو باندې هېڅ زړه سوی نه لري، خو داسې نه ده دی خپلې وزې ډېرې ښې روزې، ده هېڅکله د خپلو وزو غوښو ته زړه نه کېږي، یوازې پی ورځنی اخلي او خپل ښه پرې کوي، پی هم ټولې نه ترې اخلي د وزو په غولانځو کې دومره څه پرېږدي، چې بچي یې ورباندې ښه ماړه شي. دا پی هم دی وړیا نه خوري، دی ترڅو وزې ښې مړې نه کړي د پیو اسره نه کوي، نو سړی ویلای شي چې پی هم دی د وزو په غولانځو کې اچوي چې د ورغمو ښه هم ورسره کېږي. دی پخپلو وزو دومره زهیر دی چې یا یې پخپلو زامنو پیایی یا ورته داسې سړی نیسي، چې هغه لکه لېوه د وړو وینو ته تږی نه وي او ډېر زړه سوانده وي چې ټوله شپه په ویښه تېروي او لېوان د وزو داړلو ته نه پرېږدي. دی ډېر پام کوي چې وزې یې داسې بوټي ونه خوري، چې هغه ورته ښه نه وي او نه یې په داسې لاره بیایي چې ګړنګونه او پانې نه وي او د لویدلو ډار پکې وي.

وګورئ! د وزو خاوند له خپلو وزو څنې څنګه ښه ګټه کوله او څومره ښه یې ورسره کول، د یوه قام پیاوړي او پوه مشران هم له خپل قام سره همداسې کوي، نو دغسې زړه سوانده مشرته به ولې سړی خپل ځان نه سپاري، بې له دغه راز مشرانو خو د یو قام ژوندون هم ډېرګران دی په تېره بیا په دې وخت کې چې ویښو او پیاوړو مشرانو ته ډېر اړولې لیدل کېږي..(١)

---

(١)کابل مجله ١٣١٩ حمل،٣ ګڼه،٦-٧ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قضاوت شعور

ځينې کسان دي چې په خپله پړه نه شي پوهېدلی او ټول نور خلک په خپل حق کې ملامت بولي، دوی هرڅه کولی شي مګر په ځان باندې د ملامتیۍ حکم نشي کولي او خپله ګناه ورته د نورو له سوابه ښه ښکاري، دوی په خپل ځان او په خپلو کړو کې هېڅ قصور نهویني او داسې معلومېږي، لکه چې د دوی سترګې د ځان د لیدو دپاره نه وي د دوی تر ډیوې لاندې همېشه تیاره موجوده وي او هغه څه چې باید په ځان کې وګوري په جهان کې یې ویني، دوی چې په خپل ګریوان کې سرښکته کړي او ځانته متوجه شي یوه وړه ملامتي نه شي لیدلای، مګر چې بل ته متوجه شي ډېر واړه شیان په نظر کې غټ ورځي او په لړمانه کې هډوکي پیدا کوي، د دغسې اشخاصو انساني شعور ډېر کمزوری دی او د وجدا ن سترګې یې ړندې وي، دا راز خلک د انصاف او عدالت په پوله هم کله نه وي تېر شوي او بل آس له خپل ټټو سره هېڅکله نه برابروي، دغسې انسانان چې د خپل عیب او قصور له لیدلو عاجز دي او دغه توان نه لري چې د خپل سهوه او خپل نقسان اعتراف وکړي، د خپل ځان اصلاح هېڅکله نه شي کولی او خپل عیب ورته هنر معلومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه قضاوت شعور چې په حیوان کې نشته او په انسان کې شته سړی مجبوروي، چې خپل ښه او بد وسنجوي او هغه وخت چې د ده معامله له نورو سره پیدا شي ځان ته ترخځونه وهي او ډېره ښه منصفي وکړي، هغه وخت چې انسان د ځان او د بل حق کې حکمیت کوي او ځانته د قضاوت په حق قایلېږي. باید خود خواهي او خود غرضي پرېږدي، د ځان مینه له زړه نه وباسي، د خپل او پردي فرق ونه کړي، د حق په ستوني پښې کېږدي او له حق څخه تېر نشي، عدالت او حقانیت له انسان نه همدغه تقاضا لري او د قضاوت شعور دا غواړي چې انسان به له ځانه سترګې نه پټوي او په خپل قصور به اعتراف کوي.

زه دا نه وایم چې څوک په هېڅکله کوم بد یا ناوړه کار نه کوي، هېڅکله به د چا په حق کې ګرم او ملامت نه وي او نه به د نفس او شیطان په لار درومي، ځکه چې زه په دنیا کې د یوه معصوم انسان انتظار نه لرم او د انسانانو په هېواد کې پرښتې نه غواړم. زما ارزو یوازې همدغه ده چې انسان یو اصلاحي احساس او د تفاوت صحیح شعور ولري، چې خپل نفس محاکمه کړی شي او په خپله ګناه اعتراف وکړي. کله چې انسان له ځانه سره یوازې کېږي او په خپل ګرایون کې سرښکته کوي باید خپل عیبونه خپل نقصانونه ولیدای شي او ندامت وکړي. همدغه پښېماني او ندامت انسان اصلاح کوي او پاک خدای پرې خوشالېږي.

انسانان هم هغه انسانان ډېر ښه ګڼي چې په حق اعتراف کوي او خپله پړه مني، هغه څوک چې ګناه کوي او ځان ګناهکار نه بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته په قهر او نفرت ګوري او د خدای د رحم او مهربانۍ مستحق نه ګڼل کېږي. د انسان او شیطان فرق همدغه دی چې یو په خپل قصور او پخپله ګناه اقرار کوي او مغفرت غواړي هغه بل د خپلې سرکشۍ او نافرمانۍ دپاره دلایل پیدا کوي او ځان ګرم نه بولي.

د عصیان او بغاوت فرق هم همدغه دی او هغه شی چې له ګناه نه لوی جرم بلل کېږي، په خپله ګناه نه قایدل او خپله پړه نه منل دي.(۱)

(۱)کابل مجله، ۱۳۳۳کال، ٦ګڼه، ۱– ۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بختوره

دا ښـځه ځلو ېښـت کلنـه ده، مګـر پـه خـواره جامـه کې اوسي او خـوراک يـې هـم خـوار دی، ځکـه لـه خپـل عمـر نـه زياتـه پخـه معلومېږي.

دا غريبه په خواری او مزدورۍ شپې ورځې تېر وي او خپل بچي په هلوځلو، د يوه او بل پـه مزدورۍ ساتي، مګـر پـه همدغـه حال کې يې خپل يو زوی په مکتب کې اچولی او د اولاد تعليم تـه يې هم توجه شته.

زه د دې ښځې له حاله ډېرخبر نه يم که څه هم دواړه د يوه کلي يو او يو وخت مو کورونه ډېر نږدې وو، ځکه چې زه ډېره موده پخوا دغه کلي نه ښار ته راغلم او د کلي ژوند مې پرېښود سربېره پردې په مونږ کې دا خوی هم شته، چې کـه څوک لږ غونـدې معتبر شي هغه بيا د مځکې خلک نه ويني او د خوارو غريب په حال ړوند او کوڼ شي.

مګر بيا هم په رندو کې د يوې سترګې خاوند پاچا دی او دغـه راز پاچايي زما پـه برخـه رسېدلې ده، زه تـر ډېره حده زيـار کـاږم، چې د کوندو رنډو او خوارو غريب لـه زړه نـه خبر شم، د همدې لـه امله د دغې ښځې حال راته لږ غوندې معلوم دی او دومره خبر يـم چې د دې يـو مېړه مړ شو، نـو همـاغـه کلي کې د هغـه تربـره پـرې نکاح وتړله، چې له دېنه ډېر مشر و او خپل عمر يې خوړلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه بوډا شازلمی اوه کاله پس په حق ورسېده او دا بختوره ښځه بیا کونډه شوه، یوه ځوانه یا نیمزالې ښځه، چې د زاړه بوډا له قید خلاصه شي ستاسو خوښه چې بختوره یې ګڼئ او که نه؟ زه خو ورته بختوره وایم (که څه هم اصلي نوم یې بل دی).

هو! بختوره دوهم ځل بیا کونډه شوله او دغه نیک بخته یا بدبخته کونډه یوه ورځ سرماتې او لاس ماتې محلي حکومت ته راغله او دخپل مظلومیت عرض و داد یې کاوه، دا کیسه ډېره اوږده ده زه یې له نورو برخو تېرېږم، مګر یوه خبره نشم هېرولی، هغه دا چې هغې وویل: زه کونډه یم، ځکه مې خلک سرماتوي.

د بختورې شپږکلن زوی هلته ولاړ او مورته یې وویل: ولې (لالی) دې مېړه نه دی؟ قاضي صیب خو د ماشوم خبره وانه وریده، ځکه چې د ماشومانو شاهدي نه ده قبوله او په همدغه وجه مشران د کشرانو خبرې نه اوري، مګر په ماکې دومره لرې نه و، چې ماشوم غږ مې غوږ ته ورسیږي. ما د ماشوم خبره بې څه ونه ګڼله، ځکه د حقیقت په لټون کې شوم او دا راته معلومه شوه، چې د بختورې دوهم مېړه چې مړشو، نو د هغه تربرونو بختورې ته وویل:

د پښتنو کونډه، مېړوښه ده.

ته باید له دې ځایه بل ځای ته په خوارۍ او غریبۍ پسې لاړه نه شې، نه چې ته له بل قامه کوم مېړه وکړې او مونږ ته سپکه را واړوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بختورې وويل: زه هېڅ کله بل مېړه نه کوم هر چېرته چې يم کونډه به يم زما زړه له ميړه نه داسې تور دی، چې بل ميړه ته به هېڅکله زړه ښه نه کړم.

تاسې ما ازاده پرېږدئ، چې خپلو بچو ته نفقه او جامه پيدا کړم.

تربرونو دا خبره ونه منله او پخپله خبره ټينګ وو، اخره کې بختورې د هغوی په کورنۍ کې د لسو ورځو په هلک (لالي) غږ وکړ، چې لالی زما مېړه دی زه به د ده په نامه ناسته يم.

تربرونه په دې قانع شوه او پوه شول، چې دا اوس بل مېړه نشي کولای، ځکه يې ازاده پرېښوده.

وګورئ! يوه ځلوېښت کلنه ښځه هم د لس ورځې هلک ميرمن کېدای شي چې د لسو ورځو هلک قبول کړي او په دغه ډول د خپل تېر عمر تلافي وکړي. اوس بختوره پوره ازادي لري او په خوارۍ مزدورۍ پسې، له خپل مېړه او بې د هغه له اجازې لري ځايو ته مسافرت کولای شي د عصرې ژوند يوه کامله نمونه ده.

په همدغه وجه زه دغې ښځې ته بختوره وايم او په همدغه نامه يې معرفي کوم. [1]

---

[1] کابل مجله، وری، ۱۳۴۰ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱۹ – ۲۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځان ساتل

**یــوه ورځـــې ســحر ووې پــه خنــدان کــې**
**دا قــانون مــدام جــاري دی پــه دنیــا کــې**
**چـــې ضـــعیف د زورور خـــواکې ورکیـــږي**
**لکه ورکه  چې سـپوږمۍ شـوه د لمـر خـوا کـې**

هـو! سـپوږمۍ چې هـرو خـت دا خپـل نیمگړی اسـتقلال لـه لاسـه ورکړی او د لمر په خواکې ځای ونیسي، خو خپل موجودیت بایلي او د لمـر پـه پلوشـو کې ورکـه شـي، لکـه ضـعیفان چې د قـوي او زورورو پـه خواکې ورکیږي او محوه کیږي یـا لکـه هغـه قـوم چې د بل قوم لاس لاندې وي او د هغوی د علم وعرفان په رڼا کې د دوی ذات او جمال ترې نیسي (علم و عرفان که څه هم د بشریت مشترک مال دی، مگر یو قوم یې د خپلې ژبې په واسطه خپلولی شي)).

خیـر دا بـل بحث دی مـونږ بیرتـه خپلـې موضـوع تـه راگـرزو او دقوت په ټکي رڼا اچوو.

دا خو طبیعي قانون دی چې د حیات ماشین یې د ضعیفانو لـه خوړو په بل شي نه چلیږي او ترڅو یو مړنشي بل نه مړیږي.

وگوره! مرغومی او تنکی وری.... پـه شنه گیـاه چـاغ او تیـار شي او بیا د یوه قوي جنس د پـاره غـوړه او خونـدوره مړۍ جوړه شي.

بزگـر هـم چې پخپـل کښـت کې للون کـوي ضـعیف بـوټي باسـي او قوي پریږدي، لکه چې ضعیفان پـه دنیـا کې هیڅ حق د بقـا نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور او قوت تل ليوانو ته په رمو کې برخه او د درياب کبانو ته په چنجيو باندې د رزق حواله ورکوي؟

هو! دا د طبيعت کرشمه ده چې له يوې خوا داړونکي ليوان او له بلې خوا د مظلوميت نمايندګان لکه پسونه او نور بې وسلې حيوانات پيدا کړي، ترڅو چې د ځمکې مخ په وينو سور او رنګين شي، نو ويلی شو چې د ځمکې مخ د خونريزۍ صحنه او د زور ازميلو ميدان دی.

نه يوازې ځمکه، د اسمان لمنې هم کله کله لکه کربلا په وينو رنګينېږي او فضا هم د جګړو او کار زار د پاره مستعده ګرزي، زور او قوت تل خپل ښتن ته دضعيفانو وينې لکه اب حيات ښکاره کوي او مجبوروي يې چې يا د چا اوښکې تويې کړي او يا يې وينې وبهوي، ځکه چې وقوت باغ او بڼ يې له وينو په بل شي وده نکوي او بايد د قصاب غولی او د لېوه پنچې دواړه په وينو سره وي دا ځکه چې له غوښو نورشيان لکه: غنم، وريجې، خوږې ميوې، شودې او داسې نور د انسان متلون ذوق او هوس نشي قانع کولی او نه د لېوانو غذا کيدای شي، نو انسان به ترينه دمدنيت په مرسته مړې جوړوي او پس له ډېرو تحولاتو او څو رازه تغيراتو به يې خوري او لېوه به يې د خپلو پنجو په فطري زور ترخولې کوي.

نو انسان ته خدای د غوښو خوراک روا کړی دی او ليوه هم چا ندی منع کړی که نه دا څېرونکې پنجې به يې نه درلودلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا څرګنده خبره ده او هر څوک يې منلی شي، چې زور او قوت ژوندون وقايه او د حيات د بن دپاره يوښه پسرلی دی او دا هېڅ ممکنه نه ده چې د هر چا حيات بې د بل له استهلاک ځنې محفوظ وساتل شي، ځکه چې نباتات هم يو قسم د حيات اوبه نشوې نمايي قوت لري، چې استهلاک يې د انسان او حيوان د بقا دپاره ضرور دي، نو لازمه ده چې بعضې د بعضو دپاره قربان شي.

په حيواناتو کې خو طبعاً همدغه قانون دی چې ضعيفان قربانېږي او قوي باقي پاتې کېږي. انسانان که څه هم لدې قانونه بيخې نشي خلاصيدلی، مګر لکه سپي په خپلو مينځوکې يو په بل ښکاره خولې نه لګوي او غوښې يې نه خوري اګر که اکثره حيوانات هم د خپلې نوعې د غوښو نه پرهېز دي او دا کار يوازې په انسانانو پورې خاص ندی، مګر صحيح انسانان برسيره پدې چې د خپلو هم نوعانو غوښې نه خوري او ابرو يې نه تويوي، يو له بله سره مرسته او ملګرتيا هم کوي چې دا خوي د حيات د ساتلو دپاره ډېر ضرور دي او همدغسې قوم بايد باقي پاتې شي.

خير د انسان د فضليت دلايل خو زښت ډېر دی، مګر څه شی چې د ده د بقا د ضرورت دليل کېدای شي هغه دا دی، چې ټول موجودات د ځمکې حاصل او کښت بلل کېږي، نو هرڅوک چې د ځمکې د ابادۍ وړ او د کره ارض معمار او ابادوونکي بالله شي هغه حق لري، چې بعضې موجودات خپل بقا دپاره قربان کړي او دا خو نه يوازې انسان دی چې له وچو ميرو نه شنه باغونه او لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی ښارونه جوړوي او د ځمکې مخ په هر راز بوټو او کوکیو ښایسته کوي.

هو! دا یوازې د انسان لاس دی چې د دنیا بازار ته یې رنګ و روغن ورکړی او د تمدن په نقش ونګار یې ښایسته کړی دی.

بلبل او بورا یې په ګلو خوشحاله کړی او پتنګ ته یې لکه شمع با حرارته معشوقه پیدا کړېده، زراعت او فلاحت خو د ده په توجه دومره ترقي کوي، چې د مرغانو خولې یې په باغو کې په هر راز میوو خوږې کړې او حیوانات یې په شنه او تنکۍ ګیاه ماړه کړي دي.

طوطیان د شنو ونو په سروکې د ده شکریه ادا کوي. عندلیب او قمري د ده د سعې او کوشش ثنا او صفت کوي چرګان د ده د دسترخوان پوتې خوري، مېږیان او نور حشرات هم د ده غلې له امباره بېنوا نه ځي. انسان دی چې د زراعت او فلا په هنداره کې د کال څلور فصلونه د فلمونو په صورت ښیي او دنیا لکه یوه سینما د ساعت تېرۍ ځای ښکاره کوي که نه په سپیره ځمکه او وچ ډګر بهار او خزان هېڅ فرق نه لري او نه زمانه بې شپو او ورځو نور رنګونه پیدا کولی شي، نو زمان او مکان د ده مرهون دی او مدنیت وعرفان د ده د فکري قوت او استعداد مظاهره بلل کېږي.

ښه! نو دغسې یوه شریفه نوعه چې وجود ته یې دنیا ډېر احتیاج او ضرورت لري او پخپل زیار او کوښښ مړه او سپیره ځمکه ویښوي او دومره څه پکې پیدا کوي، چې د حیواناتو ښه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره کېږي ایا هغه ته عقل او شریعت د ځمکې په پیداوار کې دومره حق نه ورکوي، چې خپل حیات پرې محافظه کړي.

ایا هغه پسه چې انسان د هغه حیات اداره کړی دی دا به ورته ښه وي، چې په غوښو او وینو یې یو لیوه موړشي او د نورو پسونو خېرولو او داړلو ته لاقوت پیدا کړي او که دا چې د انسان په وجود کې تحلیل شي او د یوه شریف مخلوق جز وګرزي؟ نو د انسان اصلاحي او تعمیري قوت ده ته په حیواناتو کې د تصرف حق ورکوي او د ده د باداری جغ د نورو په غاړه ږدي که دانه وي انسان او لیوه څه فرق نه لري دواړه د پسه ورمېږ ماتوي او غوښې یې خوري، لیوه یې لا اومه خوري او دی یې په اور هم کړوي.[1]

[1] کابل مجله. ۱۳۱۸ کال، ۱۱ ګڼه ۸. ۱۰، مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کټوري

هغه څوک چې هېڅ نه لري هم څوک مېلمه کوي؟ هو! يوه ورځ زه يوه داسې سړي کره ميلمه وم چې پوله او پټې يې هېڅ نه درلود په لو او لور يې خپلې شپې تېرولې او د کاله ټول خځوړي يې دومره نه و، چې د يوه بډاي او شته من سړي د غاړې کالي پوره کړي. پدې کاله کې بې له سپوږمۍ بله ډيوه نه وه او د هر څه سرو برۍ دی خپل لاس و.

دې سړي په دغه ورځ برسيره پدې چې خپل زوی (کټوري) ته يوه سدرۍ او يوه سره خولۍ اخستې کورته يې هم څه غوښه راوړې وه کټوري چې وروسته له ډېرو وختونو خولۍ موندلې او نوې سدرۍ يې اغوستې ده له هلکانو سره لوبې کوي او داسې منډې وهي لکه چې نور هلکان پلی او دی سپور وي، کله چې کاله ته راشي او د غوښو کټو په نغري باندې ووينې په منډه بيرته ځي او نور هلکان خبروي، نه زيرى پرې کوي، نورو هلکانو که څه هم پدغه ورځ لا څه چې ډېرې ورځې يې غوښه په سترګو نه ده ليدلې، خوښتانه دي او ورته ښه نه ښکاري چې د دوی له کاله د بل په کور کې ښه څه پاخه شوي وي. هو! هېڅکله دوی دانشي زغملی چې بل څوک له دوی نه پورته او لوړ وي، نو هر يوه چا لړمون او چالرې او کلمې ښودلې يوه يوه به لا ويل چې مونږ غلمينه ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چرګ پوخ کړی دی، دا خبرې دوی په داسې خوند کولې لکه چې لګیاوي خوري یې، نه خدابږو په خوړلو کې یې لا دومره خوند نشته، کتوری یوازې له هلکانو سره دا خوږې خبرې نه کوي موږې یې هم د ښځو په ډله کې ناسته ده او وایي: وئ! لاړه شم چې د غوښو کتو مې ونه سوزي، غوښه خو نه سوزي، ځکه چې کتو تر خولې له اوبو ډکه ده هغه تر سبا هم نه وچېږي، خو دا غواړي چې نورې ښځې خبرې کړي.

د کتوري پلار هم چې خپل ګلالی زوی په ښو کالیو کې ویني من من غوښه اخلي او په کالیو کې نه ځایږي، خو له بلې خوا چې د خپلې ښځې زاړه ټیکرې او شکیدلي کمیس ته ګوري سور او تور تول په زړه کې ګرزي، خو داسې څوک نشته چې د ده زړه پرې ورشي او څه پور تري وغواړي، سره له دې تر اوسه پورې ما دغسې خوښې په ډېرو لویو او شتمنو کورونو کې ونه لېدله، ځکه چې د شتمنو او بډایانو زړونه هغه څه غواړي چې هېڅکله یې لاس نه ور رسیږي د دوی خوښې دومره وړیا نه ده، چې په دومره وړو وړو خبرو لاس ته راشي، د دوی سترکې په تولـه نړۍ هم نه مړېږي. د لویو کورو لوی لاڅه چې وړو ته یې هم ډېر خوندور څېزونه بې خونده او وریښمیني ټوټې، لکه بیستۍ داسې ښکاري، د دوی نړۍ وریجې که هر څومره غوړې او غوښې پکې ډېرې وي د نورو د تناره له تک سور سکړک او شیدو سبو یا شړومبو ځنې په خوند کې ببرته پاتې کېږي نه پوهېږي چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې؟ سپین پګړی خو وایي چې د دوی په نګولي کې پرښتې خوند ړدي پرښتې دي چې دوی سره خو دومره ښه کوي.

نه ښه دی که ښه ځېزونه د نورو په مخکې ایښي وي خوند د دوی په برخه رسېدلی دی، ښه چې خوند د دوی په برخه رسېدلی او خوښي هم د دوی په کور کې ډېره ده، نو دوی نور څه غواړي.

دوی خو دومره ډېر ناروغه کېږي هم نه، چې لکه بډایان په لوړو وریجو او لړ کلکو غوښو نس خوری شي، دوی خو بې ترو ځیزونو ښایسته ډېره ډوډۍ خوړلی شي او که نور څه ونه مومي د غره شنې مومانې، نانګه، پرګي او نور هم خوړلی شي، ځکه چې دوی لا د پستو او خوندورو ځیزونو خوند نه دی لیدلی، دوی په لږ څه ډېر خوښیږي او د چا ښه هېڅکله نه هېروي، نور ښه خو لاڅه کوي دوی د یوه سړي په تشه خبره دومره خوښیږي ته به وایې چې ټوله نړۍ د همدوی شوه، دوی له هغو لویو سړیو چې دوی سره کله کله په خلاصه ټنده خبرې کوي ککرۍ هم نه سپموي، وش (وی) د دوی ککرۍ څومره وړیا دي ښایي، چې دوی په لږ څه دومره خوښیږي او بډایان په ډېر څه هم نه خوښېږي، نو ولې څوک له دوی سره ښه نه کوي.[1]

---

[1]- ۳۱۸ کال ۹، ګڼه ۳۰، ۳۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر مقام

ای د سوي زړګي خاونده! ته د دنیا هغه قلندر یې: چې د دوهۍ په غاړه د سطانۍ خوبونه وینې او د اسمان په ستورو حکمونه او نازونه کوې ته، هغه څوک یې چې زړه دې د ښکلو او نازولو پښو لاندې دی، مګر د ماغ دې په اسمانو کې لوبې کوي.

هو! ستا زړه او دماغ یو له بله ډېرلېرې دي او ته هر وخت په دوه نړیو کې ژوند کوې، ته لکه یو بې پروا پادشاه له ډېرو شتو سره دې نیمګړي بازار ته راغلې، مګر ستا شته دلته هېڅ قیمت نه لري او پدې بازار کې نه چلېږي، دلته څوک د نستر نوزر په دوه پیسونه اخلي او نه هغه سرې اوښکې، چې شاعر یې د یاقوتو و مهماني بولي څه بها لري.

ته رښتیا وایې:

که مې څوک په فقیرۍ شمېري فقیر یم
که مې څوک په امیرۍ شمېري امیریم
د کاملې عقیدې له برکته
د دوهۍ په غاړه ناست شاه جهان یم
ګدای میکده کیست وقت مستي بین
که ناز بر فلک وحکم برستاره کنم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مـــاغ برفلـــک ودل بزيـــر پـــاى بتـــان**
**زه سـبا چــه ميطلبــي دل کجـا دمـاغ کجاسـت**
**نقـــد شـــاعر در خـــور بـــازار نيســـت**
**نـــان بـــه ســـيم نســـترن نتـــوان خريـــد**

ستا پېغامونه بيا راغله او ستا د سرو اوښکو مهماني راورسيده ته وايې ځومره به ښه وکه زما سرينديې د ندافانو د ډانډس کار کولی شواى يا د بلبلو د نغمو قدرکيدلی.

دا سندره تاپه ډېر خوند وويله او ستا د رباب خواږه غږ ته د هوا مرغان هم راښکته شو، مګر هغه اوښان چې پرې خپل بار وړي د دې نغمو په خوند نه پوهېږي او بې لـه وښو نـه نـور څه نه پېژني. تاله ما نه پوښتنه کړې، چې د شاعر مقام چېر ته دی؟ زه نه پوهېږم چې ته پدې پوښتنه کې د څه راز جواب ارزو لرې؟ که غواړې چې خپل مقام د خلکو په نظر او هغه ځاى کې وپېژني، چې تـه پـه کې ژوند کوې او خلک په کې په ځايونو او مقامونو جګړې کوي، نو راشه!! چې در ويې ښيم:

په هغه شپه چې مونږ او تاسې وويل چې سبا به تـه...بجو...ځاى ته ځو.

سبا زه او ته راغلو خو هغه دوه نور...لا نه وو راغلي، موټروان تـه مـو ډېـر وويـل چـې دمخـه ځـاى راکـړي، خـو هغـه تـه د ... مديرصاحب او د... سرکاتب ويلي و، چې سبا مونږ...ځاى ته ځو د موټر په مخکې به بل څوک نه کښينوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـوی هـم څـه شـېبه وروسـته راغـلـل او معلومـه شـوه چـې زمـونږ ملګـري وو، دوی مـونږ تـه ډېـر وويـل چـې راځـئ تاسـې دمخـه کښېنئ، مګر مونږ ته موټروو ان په کوز سرکې ځايونه تعين کړي وو.

مونږ هغه وخت پدې نه پوهيدو، چې بر ځايونه خدای د ډېرو خلکو دپاره پيدا کړي دي او نه زمونږ په نظرکې دې خبرې څه معنیٰ درلوده، چې يو ملګری به له بله نه په پټه د ځای په نيولو کې کوښښونه کوي يا به موټروانان په پټه ګوري.

څه ساعت وروسته د موټر خلک پـوره شوه او مـوټر وخوځيـده - د لارې ګردونه په خير تېر شوه، مونږ هم يوه کلي ته ورسيدو چې هلته بايد شپه تېره کړو، هلته هم زمونږ د ناستې کوټـه لـه مـوټر نـه کمه نه وه او بر سر و کوز سر يې هماغه مثال درلود.

دا شپه هم په خير تېره شوه او سبا د سيل و تفريح اصلي ځای تـه ورسيدو، د هغـه ځای مشر او د واک خاونـد خپـل کـور تـه وبللو، چې د دغه ځای طبيعي ښايست او ښکلو مناظرو مونږ غوندې څو تنه نور هم رابللي وو او په همدې کور کې ميلمانه وو.

دا دوه ډولې که څه هم بيل بيـل راز خلـک وو، خو بيا يې هم لـه ليرې څه نه څه اشنايي لرله او په نومونو يې يو له بله پېژندل.

کـه چېـرې پـه دنيـا کـې دروغ ويـل رواج نـه وي او ظـاهري خبـرې اعتبار ولري، نو ويلی شم چې نصب العين او ايده ال يې هم يـو او مشترک و، چې د وطن لوړتيا او د ملک سعادت يې بولي. پدې کـور کـې هـم زمـونږ د مـوټر وړانـدې ناسـت ملګـري د هغـه رسـمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتباط په اثر کې چې له کوربه سره يې درلود ښايسته نمانځل کېده او هغو نورو هم د خپل اعتبار او معتبرۍ په اندازه ځايونه نيولي و، چا چې لوړو مقاماتو ته زياته لاره درلوده او ډېر صاحبان يې پېژندل هغه له ټولو نه وړاندې ناست و او غټو غټو بالښتونو ته يې اړخ لګولی و په خبرو کې بې هم غټ خلک زيات يادول او هرساعت به يې د هغوی د صحبتو خبرې اترې کولې، تابه ويلې چې ټول عمر يې له همدوی سره تېر شوی دی او هېڅ کله يې له کوم خوارو غريب سره د خدای په جات هم کومه خبره نه ده کړې.

زما شاعره وروره! په دغه شپه ما ته هغه شپه راپه يادشوه چې زه او ته ماښام له بېړۍ نه ښکته شوو او د بېړۍ له نورو ملګرو سره يو ځای د خان هجرې ته ولاړو، مونږ د خپلې بېړۍ ملګري نه و پېژندلي، چې څوک دي او څه کار لري؟ مګر د خان په حجره کې مو وپېژندل چې د سور ځنډي لونګۍ خاوند د...ځای خان او د خان په حجره کې يې ډېر قدر او عزت کېده هغه بل هم، چې د علاقه دار ميرزا و ډېره نمانځنه يې کيدله او له نورو ملايانو نه يې ډېر فرق درلود.

هغه بل مور سوداګر، چې ببر پوستين يې اغوستی و او هرساعت به يې د پوزې نسوار کول هر چابه ورته څنګ وڅټ واهه او په ښو ښو نومونو به يې ياداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا به هم په یاد وي، چې زه او ته څنګه ایسیدو؟ او په کوم ځای کې ناست وو؟ له ما او تا نه چې پوښتنه وشوه مونږ څه وویل چې څوک یو او څه کار لرو؟؟

زه تاته د لوی خدای په بې نیازۍ سوګند خورم، چې ما ستا په معرفۍ کې ستا د تحقیر اراده نه درلوده او دا راته نه وه معلومه، چې شاعر به په دې حجره کې د سازنده معنیٰ لري او موسیقي ته به په سپک نظر کتل کېږي، ځکه چې پدې تحقیر کې زه هم درسره شریک وم.

سحر چې زه او ته له کلي راووتو او خپل ځانونه مو د خلکو په نظر کې ولیدل ډېر خپه وو.

تاته په همدغه شپه دا سودا پیدا شوه چې له خپل ذهني او خیالي اسمانه راښکته شې او همدغو خلکو غوندې شې، مګر د دې دنیا دا عادت دی، چې که سړی د ځان لوړتیا دپاره کوښښ کوي پچه ورته پیچومی کېږي او که له ګړنګه ځان غورځوي په ډېر زیار یې هم نه مومي ته به هرڅه شې، مګر د هغه میرزا ځای به ونه نیسې.

تا ما ته وویل په کوم هېواد کې چې انسان په دباندیني وضعیت پېژندل کېږي او د غټو خلکو پېژندنه او اشنایي پکې اکسیر وي هلته باید سړی په معنوي فضایلو او پټو ښېګڼو پسې ونه ګرزي او نه خپل عمر د نفس په تزکیه او تربیه کې تیرکړي.

دا مطلب تا په ډېرو جذابو پیرایو کې ونغښت او ودې ویل هغه څوک چې نه یو وړې مړولی شي او نه یو بربنډ پټولی شي، نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهـل او تکـول لـه لاسـه پـوره وي او نـه د چـا د لښـتې پـه مخکـې سپرکيدی شي د هغه به څه قدر او څه قيمت وي؟؟

تالکه يو هوښيار زړه سواندې ماتـه د دې دنيـا د اسـتوګنې لارې ښودلي او ويلي دي:

څه کېږي که څوک يوه داسې سړي تـه غـاړه ټيټـه کړي، چې پـه سلو ځايو او حجرو کې ورتـه سرونه ټيټېږي او هر څوک ورتـه پـه ښه سترګه ګوري.

پدې تجارت کې، خو هيڅ تاوان نشته او په هرحساب يې ګټه تر زيانه ډېره ده، ماهم دا خبره له تاسره ومنله او په تاپسې روان شوم چې ناڅاپه د شعر جذبه راغله او شاعرانه تخيلاتو لـه تانـه بيـل کړم، زه نه يم خبر چې کوم ځای ته ولاړم او چېرته ورسېدم؟

خو دومره پوهېږم چې هلته د دې ټيټو خلکو دود او دستور هيڅ نه و او نه دا فکرونه او خيالات پکې چليدل.

هلته هيڅ انسان د بل په کمال نه شو تېريدلی او نـه د يـوه سړي غټوالی په بل کې حلول کولی شو. د هر چا قدر او قيمت د نفسي او ذاتي موجوديت په لحاظ و او هيڅوک د چا پـه ښـو ګڼلو او بـد کتلو نه بل راز کيده.

زما په زړه کې د دغسې شهرتونو او اعتباراتو احساس او شعور مړ شو او لکه يو ګنهکار بنده خدايي محکمې تـه وړانـدې شـوم، چې هلته بې له خدايه د بل چابندګي ډېره بده ايسيدله او د نورو ثنا ويل لويه ګناه وه، ځکه زما پـه اراده ډېر لغتونـه وويـل شـوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپوهېدم چې سړی تل د خان په حجره کې نه او سېږي او نه په هر کور کې د دغسې مېلمنو قدرت زيات وي.

ماته بې له الفاظو دا وويل شوه چې دځمکې او اسمانو خاوند بې د انسان له نفسي حقيقت او اعمالو نه بل شي ته نه ګوري او د حق په حضور کې دغه باطل رنګونه او اعتبارات نه پاته کېږي.[1]

---

[1]-کابل مجله ۱۳۲۳ کال،۱ ګڼه، ۸- ۱۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه ژوند کوو ؟؟

هغه ورځ په کور کې ناست وم، چې دروازه وټکيدله او ورپسې متصل د زنځير شرنګهار پورته شو، په بيړه له کوره راووتم او له خپل يوه دوست سره مخامخ شوم وروسته تر يوه مختصر روغبړ څخه معلومه شوه، چې د ده د زوى واده دى او زه بايد خپل اشنا دکاندار ته ورسره ولاړشم، چې ټوکري ورباندې ګران خرڅ نکړي او په سودا کې يې ونه غولوي.

د دوستانو خبره سرى په ډاګ نشي غور ځولى، نو بې له کومې بانې او پلمې ورسره وخوځيدم په دکان کې مو لا سودا نه وه تمامه کړې، چې کټورى راپيدا شو او ډېر وارخطا معلوميده له هغه نه مو چې پوښتنه وکړه پخپل کورو کلي کې يې له چاسره خپرې لګولې وې، چې د ده له لاسه عريضې ته تللى و او پخپل سر يې خاورې باد کړې وې.

له کټوري سره تګ لا ډېر ضرور، چې له وهلو ټکولو نه خلاص شي او څوک ورسره ګوتې ماتې نکړي، که زه ورسره نه يم خدايزده چې څه به ورسره وشي او څومره به زيانمن شي، زه بايد په غم او خوشحالۍ کې له خپلو دوستانو سره مرسته وکړم او ورسره وځغلم، هغه څوک چې پنځه تنه يې پېژني او اشنايان پيدا کړي د هر چامخ ور اوړي او هر څوک ورځنې يو ځاى او بل ځاى ته تګ غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې مود ده کار خلاص کړ او بیرته را وګرزیدو په لاره کې راته زلمی ولاړ و، چې باید ډاکتر ورته وګورم چې کور ته ورسره و لاړشي او د زوی علاج یې په ښه شان وکړي.

دا کار هم بې زما د لحاظ خرڅولو نه نه کیده او واسطې ته پکې ډېر ضرورت لیدل کېده له ناکامه بیا بېرته وګرزیدو او د ډاکتر کوټې ته ورغلو هغه خپل تګ که څه هم ډېرګران خرڅاوه، خو زمونږ خبره یې ځمکې ته ونه غورځوله او راسره روان شو په دغه وخت کې نه پوهېږم څه پېښ شوي و، چې ګاډي وانان په سلو روپو هم نه راضي کیدل، خو ښه و چې کلي ته ننوتو ګورو چې د میراجان په کور خړې اوښتې وې.

د کلي کور خلکو ته مو وویل، چې خدای دې انصاف درکړي، ولې په یوه سړي باندې په نا حقه ګوتې لګوئ او بد ورته وایئ، اخرمسلماني ده او د قیامت ورځ مو په مخکې ده، خپل خدای ته به سبا څه جواب ورکوئ، یو مسلمان په ناحقه ځورول څومره بد کار دی.

هغوی وویل مونږ څه وکړو؟

ګلاجان د یوه او بل په کاله ننوت، چې تاسې به ضرور بد پرې وایئ او ګوتې به پرې لګوئ. هغه بله ورځ چې علاقه دار غوښتې وو هغه هم وویل زه یې پېژنم، چې بد سړی دی او تاسې یې پرده کوئ که چاپه تحقیق کې چشم پوشي وکړه زه به ورسره ګورم.

نو مونږ څه وکړو ګلاجان هلته هم خپله خبره پخه کړې وه او مونږ ته یې هم ځینې خبرې وکړې، چې که تاسې پرې بد ونه وایئ سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ تاسې ته بد ښږي او جرم درباندې راځي. په دغه وخت کې زه لږ څه د حيات او ژوندانه کيف او ډول ته ملتفت شوم چې مونږ څنګه ژوند کوو؟ او په ژوندون کې څه شی ته ډېرمحتاج يو؟ که کله يوه ډاکټر ته ورځو او علاج ته مو ضرورت پيښ شي، نو هم به اشنايان ور ولو او که په يوه دکان کې سودا کوو يا يوه ځای ته په ګاډی کې ځو هلته هم اشنايۍ او پېژندګلوۍ ته ضرورت ليدل کېږي.

په تحقيقاتي او جزايي امورو کې هم اشنايي دومره اغيزه لري چې ښه بد کړي او بد ښه کاندي، ځکه چې دوستي او اشنايي په ټولو حقايقو غلبه لري او د طلا په نرخ خرڅېږي. همدغه سبب دی چې مونږ په اشنايۍ او پيژندګلوۍ، پسې لکه باښه لوړې ژورې لټوو او سرونه پرې ماتو، د يوه سړي کمال او لياقت شخصيت او لويوالی په همدغه معيار سنجوو، چې څومره او څنګه خلک يې پېژني او د اشنايۍ په برکت څه کارونه کولی شي.

غوښې د هر چا خوښې دي، مګر د پيشکې ورپسې زړې دی، اشنايي په هر ملک کې ښه ده، مګر په دې ځای کې د کيميا بوټی دی کوم کارونه چې دلته په اشنايۍ کېږي. هېچرې نه کېږي او په هېڅ شي نه کېږي د همدې له امله وايي:

**يارمې هندو زه مسلمان يم د يار دپاره درمسال جاروکومه**

يار د يار دپاره خوري د غويي غوښې

هر کله چې د يارۍ او اشنايۍ دپاره هندو د مسلمان او مسلمان د هندو چمونه کوي او ناحق د حقو ځاي نيسي، ته ووايه! چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي به دبدو خلکو په اشنايۍ کې له څومره ګناهونو سره اشنا کېږي او د هغوی د خواهشاتو دپاره به څه څه کارونه کوي.

ځينې کسان وي چې له خپلو دوستانو او اشنايانو کله کله داسې کارونه هم غواړي، چې نه په عقل برابرېږي، نه له شريعت او قانون سره موافقت لري، په ځينو وختوکې بايد يو اشنا له بل اشناسره په ناحقو دعوا او جګړو کې داسې ملګری شي، چې هم به ورسره منډې رامنډې وهي او هم به په سلو دروازو او سلو کوڅو ورسره ګرزي، ځکه چې دغسې وسايلو او وسايطو ته هرڅوک محتاج دي او هرسړی مجبورېږي، چې خپل اکثر کارونه په دغسې وسيلو اجرا کړي.

ټول کارونه او ټول شيان لکه د نان واي ډوډۍ داسې نه دي، چې په يوه معين نرخ او معين مقدار د هر چالاس ته ورشي او کومې واسطې ته پکې ضرورت نه وي يا لکه د جمعې لمونځ هر څوک يې بې د ملا امام له اشنايۍ وکړی شي، ځکه چې زمونږ اکثر اجتماعي کارونه چې په يوه او بل اړه لري د اشخاصو په کيفي وضيعت او اني حالتونو موقوف وي، که کله د يوه سړي طبيعت ښه او پام يې په نيکو وي غرونه د سړي په مخکې اواروي، مګر که په چپ اړخ را پاڅيدلی وي، نو بيا يې هېڅوک لارې ته نشي راوستلی او سړي ته پچه پېچومی کوي، د همدې له امله افراد هم پخپلو کارو کې په ځان اعتماد نشي کولی او نه د محض معقوليت او حقيقت په ډاډ کوم کار ته وړاندې کېدی شي، هره ورځ د يوې ورځې دپاره د يوه او بل معقول او نامعقول مراعاتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او د دې دپاره چې بل څوک د ده بيځايه لحاظونه وکړي، دی هم د هر چا لحاظ کوي او په همدغه مراعات او لحاظ کې خپل پېشرفت او خپل تجارت هم ګوري، همدغه شی ده ته دور انديشې او عاقبت سنجي معلومېږي، نو ځکه د ضرورت په وخت کې هر راز بې قانونه او بې لارې کارونه کوي، مګر لحاظ او مراعات په هېڅ حال کې نه پرېږدي، که کله کوم سړی په يوه ښه نيت او پاک فکر له دغسې مراعاتونو او لحاظونو سره مبارزه او جګړه شروع کړي خلک ورپسې سل خبرې کوي او په سلو نومو يې ستايي، هر څوک يې ملامتوي او د هر چا په نظر کې بد ايسي، هېڅوک ورته په ښه سترګه نه ګوري او د ټولو د سترګو اغزې شي.

که څوک غواړي چې هرعيب يې پټ وي او ډېر دوستان ولري بايد د دوست او اشنا مراعات ولري او هرڅه چې هغه وو ايي دی يې ومني که ديوه دوست خواهش په قانون برابر وي او که نه، ګناه وي او که خيانت ګران وي او که اسان سړی بايد پکې نه ونه وايي او د يار دپاره درمسالونه جارو کړي.

مونږ له خدايه هېڅ کله په دعا کې دا نه غواړو، چې يا له اسمانه پخه ډوډۍ راته را ولېږي يا د الوتلو وزرونه راکړه چې مونږ وروخېژو، مګر د يوه دوست او اشنا څخه په ځينې کارونو کې دغسې مرسته او معاونت هم غواړو او د غرو قدر بارونه ورباندې ږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په مدني کار او اجتماعي حیات کې دا خبره ډېره ضرور ایسي، چې د دغسې اشنایۍ لمن ټنډه کړو او خلکو ته دا وښیو، چې رسمي او اجتماعي امور د یوه قانوني او وظیفوي شعور په اثر په یوه مثبت ډول او مقرر صورت اجراکېږي، چې هېڅوک او هېڅ شي پکې متاثر نشي او هېڅ راز اشنایي یا مخالفت او موافقت پکې تغیر نشي پیښولی.

که مونږ پدې موفق شو، چې د قضاوت او حکمت په وخت کې پخپل ورور باندې رحم او په دښمن قهر ونکړو باید په دې پوه شوو چې اشنایي په شخصي او اخلاقي امورو کې تاثیر لري او له خپلو حدودو نه هغه خوا حقوقي مسایلو ته تجاوز نشي کولی بیا به هېڅکله دغسې چمونه نه کو او نه به په واسطو او وسیلو پسې ګرځو، نو څه به کوو؟ د احتیاج په وخت کې به ورته قرض یا بخشش پیسې لېږو، مګر د هغه دپاره به د دروغو شاهدان کېږو نه او نه به له حق او حقیقت سره جنګ او جګړه کوو، له خپل ملګري سره به په لور، یوو او غاښورو کې مرسته کوو، مګر پردۍ پولې به ورته نه وهو.

زمونږ ارواحو له لوی خدای سره عهد کړی، چې په نیکۍ او تقویٰ کې به له نورو سره مرسته کوو، مګر په ظلم وګناه کې به د چا نه ملګري کېږو [1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۳ کال، ۱ ګڼه، ٦ – ۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ

په باغ کې بعضې ونې او بوټې زاړه او ورک شي او بعضې نوي پیدا شي، کله پرې ږلۍ وشي میوه یې خرابه کړي او کله پرې سختې سیلۍ راوالوزي لوی لوی ښاخونه پکې مات کړي، کله یې پاڼې زیړې، کله بیخي نه وي، ډیرخزانونه پرې راځي او تیریږي، مګر باغ لاهماغه شان ځای پر ځای وي، ونې بدلې شي، میوې بعضې ورکې او بعضې نوې پیدا شي، خو د باغ نوم نه ورکیږي، نو څوک چې په دغه راز پوهېدلې وي، هغه لکه باغوان د باغ خدمت کوي او په یوه بوټي یا یوې ونې پورې زړه نه تړي. کورنۍ هم همدغه شان بهار او خزان زړښت او ځواني لري هر راز طوفانونه او مصیبتونه پرې راځي، مګر نوم یې باقي وي، خلک یې بیخي بدل شي، خو اصلیت یې نه بدلیږي.

وګورئ! د پښتنو په کورنۍ کې اوس هغه پخواني پښتانه یو هم نشته سره لدې پښتانه یادیږي، داځکه چې دا پښتانه هم د هماغو ونو نیلې دي، چې اوس ونې شوې دي، د دې ونو میوه که څه هم پخوانی خوند نه لري او نه پکې هغه غټوالی شته، مګر نوعیت یې نه دی بدل شوی.

دا د باغ خاصیت دی چې د ونو له نیلو نور نیالګي پیدا کیږي او له هغه څخه نور، خو په میوو کې یې هغه مزه نه پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! د باغ د میوو خوند ساتل ډېر مهارت غواړي که یو باغ د چا د ودانۍ د سیوري لاندې شي هم میوه یې بېخونده کېږي، نو لکه څنګه چې یوه کورنۍ د علم و عرفان رڼا ته احتیاج لري همدا رنګه باغ هم د لمر او سپوږمۍ رڼا ته ضرورت لري.

که په باغ کې بعضې ونې دومره جګې شي چې له نورو ونو نه د لمر او سپوږمۍ تاثیر ایسار کړي، د ټیټو ونو په میوو کې مزه نه پاتې کېږي او لکه هغه کورنۍ چې د بل چا سیوري لاندې شي او یا پخپل منځ کې یو په بل دومره لوړ شي چې طبیعي فیوضات یو له بله منع کړي هرومرو پکې هغه پخوانۍ خوند نه پاتې کېږي، نو څرګنده ده چې نباتي او انساني حیات ډېر نږدې او ټینګ مناسبت سره لري. څنګه چې غټې ونې د ضعیفو چینجیو له لاسه خرابېږي همدغه شان د کورنیو او ملتو حال هم دی.

بعضې داسې چینجي شته چې په سترګو نه لیدل کېږي او د لویو کورنیو سټه له بیخه باسي، دا چینجي هغه کیسې او اوهام دي چې خلک د سعې او عمل له میدانه راګرزوي او د مایوست خواته یې بیایي، داسې کیسې خپله نه پیدا کېږي، زورور قومونه یې په راز راز وسایلو په ضعیفو قومونو کې نشروي او د هغوی مخه د ارتقا او کامیابۍ له لوري راګرزوي.

کوم قوم چې د وهم پرستۍ په مرض ګرفتار شي او بې اساسه خیالات پکې ځای ونیسي هغه که څه هم په ظاهر روغ رمټ معلومېږي، مګر لکه چینجنه ونه پکې هېڅ نه وي پاتې، داسې قوم د جدوجهد په اثر هېڅ نه وي قایل. په هر کار کې شګوم نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هر څه د تصادف نتيجه بولي، په بعضې ورځو کې ورته سفر لوی خطر ښکاري او د چرګ بې وخته اذان يا د سپي انګولل، د مصيبت پيغام او د بدې پېښې قاصد ګڼي. دوی تل خپل حاجتونه د قبرو له مړو او جنډو څخه غواړي، زيار او کوشش ته هېڅکله مراجعت نه کوي، نو دغسې يو قوم چې جدوجهد ورته حرص اوعدم قناعت معرفي شوی وي، سعيه ورته شنډه ونه او بېهوده شی ښکاري، ضرور بايد لکه خس و خاشاک ځانونه د زمانې شديد طوفان او تند باد ته وسپاري، چې هر لور ته يې ويسي او ځمکې له مخ يې ورک کړي دا راز افکار، چې د قوم د ورکوالي سببونه دي او يو قوم د بدبختی په ميدان کې لاس تر زنې کښېنوي اول د هغه قوم په ادبياتو کې او وروسته د خلکو په ذهنيت کې ځای نيسي، هو! په شعر کې دا تاثير شته، چې يو فکر هم د خلکو په نظر کې ښه او ښايسته ښکاره کړي، شعر دا اقتدار لري چې بودائيت، مسيحيت د تصوف په نامه په اسلام کې داخل کړي.

خدای پاک وايي چې انسان هر څه د خپلې سعي په اثر کې مومي، مګر شعر وايي:

**(سعی خود نتوان برد پی بگو هر مقصود**
**خيـال باشـد کنـی کـار بـی حوالـه برايـد)**

شردی چې خلک انزوا او ګوشه نشينۍ ته رابولي او وايي:

**( بـه بـر زخلـق و زعنقـا قبـاس کـار بگيـر**
**کـه صيت گوشـه نشـينان زقـاف تـا قافسـت)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

((جدا ورکه گذر گاه عافیت تنگست))
هر څوک چې دا لاندیني بیتونه واوري:

(غم دنیائی چند خوری باده بخور
حیف باشد دل دانا که مشوش باشد)
(ازین رباط دو درچون ضرور است رحیل
رواق طاق معشیت چه سر بلند وچه پست
(به هست ونیست مرنجان ضمیر و خوش مباش
که نیستی است انجام هر کمال که هست)

هغه که دنیا سره هر څومره علاقه او دلچسپي لري باید بې علاقې شي او په بد نظر ورته وګوري، ښه ده رحمان بابا خو په دې موضوع کې د نورو په لارنه دی تللی او دنیا یې پدې شان معرفي کړې ده:

( ښه ده ښه ده دا دنیا چې توښه ده دعقبیٰ )

خوشحال خان هم باالعکس د نورو شعراو په څېر د سعې او عمل طرفداري کړېده او خلکو ته یې داسې درس ورکړی:

(که غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل چې په دریاب کې ګوهرنشته)

نه یوازې خوشال، حمید هم د تنبلۍ په اړه پدې ډول پرېکړه کوي او وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دهمه بلاووسرتن اسايي ده     خرڅاوه شي لټ غويي پرقصابانو)
نو د ننیو ادیبانو او لیکوالو کار دی چې خلکو ته یوه داسې ادبي دنیا پیدا کړي، چې اساس یې عزم وهمت، جدوجهد، سعیه او عمل وي او هغه کسان چې له ډېرې مودې د همای د سیوري په انتظار شل او شوټ ناست دي راپاڅوي، د زیار او کوشش لمن په لاس کې ورکړي، دغه اوهام ترینه هېر کړي، هو! دا اوهام د ادبیاتو له لارې راغلي او په همدغه لار باید بېرته ووزي.
د دې بیت اثر:

**(مصلحت دید من آنست که یاران همه کار**
**بگذارند وخم طره یاری گیرند)**

باید پدې راز بیتونو کې:

**(وختو اسمان ته په وزر د ازادۍ بشر**
**ته لابند په زلفو یې دا خیال خوشې عبث دی )**
(خادم)

له دماغونو وزي او ورک شي، دغه شان نوې نغمې که دخلکو غوږو ته ورسېږي ژر به انشاالله دمقصد لارمونده کړي او ور روان به شي، ادبیان او لیکونکي کولی شي چې هماغه د شمعې سوزېدل او د فرهاد او شیرینې نوم دخلکو غوږونوته پدې شان ورسوي:

**لکه شمع که ځان وسیزې په اور ته**
**نوبه هله کړې رڼا مینه او کور ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که فرهاد غوندي دې غرونه سوري نکړه**
**د شېرين وطن په عشق کې یې نام تور ته**

اوس باید د دې ډول بیتونو په غرض:

**(په ګلګو نه چهره ځاځکي دخولو چې ترنظر شي**
**د شبنم په رنګ کې وینم دګلابو طوفان کله )**

خلکو ته داسې وویل شي:

**(په خولو یې د تندې که ابیارې کړي**
**د وطن د ګلو باغ به کړې سمسور ته)**

اوسني لیکونکي باید د دې وخت ضروریات په نظر کې ونیسي او د خلکو رهبري وکړي، لکه څنګه چې یو د زمانې نبض شناس شاعر وایي:

**(هره ورځ د زمانې احوال بدلېږي**
**هره شپه نوي خوبونه نوی تعبیر )**

همدغه شان باید د شعرا نغمې هم بدلې او په شعري او ادبي دنیا کې نوي افکار ځای ونیسي داسې نوي هم نه چې له محیط سره هېڅ نه تطبیقېږي، ځکه دا خو له بارانه پاڅېدل او ناوې ته کښیناستل دي او شاعر باید خپل کام ته د امن ځای ونېسي او پخپلو دردونو یې خبر کړي، د شاعر دا وظیفه ده چې دکام په غم وژاړي او هغوی هم وژړوي هسې نه چې خزان ورته پسرلی ښکاره کړي یا په غم کې ورته سرېندې ووهي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۱۸ ل کال، ۱۲ ګڼه، ۵۲ – ۵۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکرونه هم تغیر مومي

غټ او واړه شیان څه چې په دنیا کې دي بعضې ډېر ژر او بعضې څه موده وروسته تغیر مومي. انسان هم سره له ډېرو صفاتو د همدغه تعبیر په لار کې واقع دی، عقل، ذوق او هر څه یې تغیر کوي او په نورو شیانو کې هم تغیر پېښوي، که سړی د تاریخ پاڼو او موزیم خانو ته مراجعت وکړي او د انسان مختلف حالات او اثار تر نظر لاندې ونیسي پدې به پوه شي، چې انسان هېڅکله په یوه حال نشي قانع کېدلی او همېشه پخپل حال کې تحول او تلون غواړي، د انسان همدغه تحول غوښتونکی طبیعت چې په هېڅ حال نه قانع کېږي، کله د خپل کاله په نقشه کې تغیر پېښوي او کله پخپل لباس کې تحول پېدا کوي. د دنیا د ابادۍ او د انسان د ټولو پیشرفتونو لوی سبب، نو انسان طبعاً د تجدد خواته مایل دی او همیشه زاړه شیان په نوو بدلوي او یو ډول تر اخره پورې نه پالي، که سړی یوازې د انسان لباس په نظرکې ونیسي او په مختلفو اقسامو یې غور وکړي پوه به شي چې خیاطانو د تن په جامو کې څومره تحولات او تغیرات کړي دي او لا کوي یې.

د خیاط لیاقت پوهه او ښه والی همدغه دی چې هر وخت د خلکو خواهش ته وګوري او هغسې جامه جوړه کړي، یعنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

محیط په خوښه کار وکړي، هسې نه چې خلک یو څه غواړي او دی نور څه کوي.

د انسان فکر هم لکه د خیاط ماشین داسې دی، چې باید هر وخت داسې کار وکړي، چې خلک یې غواړي او خوښوي یې، د انسان قابلیت هم دېته وایي، چې خپل فکر د خلکو او محیط له تقاضا سره تطبیق کړی شي، همدغه شي ته ذکاوت او هوښاري هم ویل کېږي او د یوه سړي د قابلیت پوره سند کېدلی شي.

هر څوک چې له خپل فکره داسې کارنشي اخیستلی، چې د خلکو له احتیاجاتو او د محیط له مقتضې سره سم وي هغه هېڅکله په دنیا کې د خوشحالۍ ژوندون او ښه زیست نشي کولی او نه په اجتماعي حیات کې څه برخه لري، څومره انسانان چې په یوه مملکت کې اوسیږي او یو ملت ورته ویل کېږي، دوی ټول د یوه لوی ماشین په ډول دي چې واړه واړه څرخونه او مختلفې پرزې لري، چې باید ټول د یو مقصد دپاره حرکت او کار وکړي او خپله وظیفه اجرا کړي، پدې څرخو کې که هر څرخ له عمومي ارادې سره سم کارنشي کولی، نو هغه بېکاره او خراب ګڼل کېږي، بلکې نور هم له کاره باسي.

نو دا هم معلومه شوه چې ښه والی او هوښیاري په حقیقت کې همدغه شی دی، چې سړی خپل افکار له محیط سره تطبیق کړی شي او له عمومي ارادې سره سم د مشترك مفاد دپاره کار وکړي، هر څوک چې خپل افکار له محیط سره نشي تطبیقولی هغه، لکه یو بې خبره دهقان داسې دی، چې د زراعت وخت او موسم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دی معلوم او بې وخته پخپل پټې کې څه کري، چې هغه هېڅکله نه شنه کېږي او تخم هم ضایع کېږي.

د دې سړي کار که څه هم په اصل او په خپل وخت کې ډېر ښه کار دی، مګر دی ورځنې هېڅ نتیجه نشي اخیستلی او خلکو ته خپل لېونتوب ښیي.

ځوك، چې یوازې د خپل فکر په محیط کې ګرځي او عمومي نظر نه لري، یعنې خپل افکار یې له محیط سره نه وي تطبیق کړي د هغه فکر په هر ځای او د هر چاپه نظر کې صحیح نه وي.

یو وخت یو ظریف سړی چې په سره رود کې اوسېده بازار ته روان و ، چا ورته وویل چې ماته یوه ټوټه راوړه چې ابي رنګ یې وي او ساده وي هغه، چې له بازاره راغی، نو سره شېرچایي ټوټه یې ورته راوړه او وریې کړه د ټوټې خاوند ورته وویل، چې ما خو ابي ټوټه غوښتې وه او تا سره بخنه ټوټه راوړه، ظریف ورته په خندا شو چې د سره رود او به خو همدغه شان رنګ لري.

ځوک چې عمومي نظر نه لري او یوازې د خپل فکر په غولي کې خاپوړې کوي، یعنې خپل افکار یې له عام محیط سره نه وي تطبیق کړي، چې د خپل کاله د اوبو رنګ ابي رنګ ګڼي او نور ځایونه په نظر کې نه نیسي، نو هر ځوک که غواړي چې حقیقت ته ورسېږي او افکار یې په هرځای کې صحیح وګڼل شي هغه باید خپلو افکارو ته وسعت ورکړي، دې خبرې ته باید ادبیان او لیکونکي زیات ملتفت شي او ډېره توجه ورته وکړي، ځکه چې دوی له خپل محیط سره زیات فکري ارتباط لري او تل خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظریات خلکو ته وا ړندې کوي، نوکه د دوی افکار له محیط سره موافق نه وي او څوک ورته خپل احتیاج نه حس کوي هېڅوک یې نه قبلوي او شنډ پاتې کېږي، نو دوی هم باید لکه نور کسبګر د خلکو د ذوق او ډول رعایت وکړي، یعنې ښه شیان په ښه لباس کې خلکو ته وړاندې کړي او محیطي احتیاجات په نظر کې ونیسي، څه چې لیکي باید پخواله لیکلو څخه سترګې ښې وغړوي او په خلاصو سترګو څه ولیکي، نو د ده افکار هرو مرو عمومي رواج پیدا کوي او خلک یې ښه قبلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعرانه خیال

چپه چپې او قراره قراري وه، سپوږمۍ د ځمکې په مخ رڼا غورزولې وه، هېڅ طرف زوږ او زوږ نه و.
یو ژور لښتی په شنه ګیاه پټ او پېچلی له اوبو نه ډک او غلی روان و.
هر چا چې دا وضعیت لیده ګمان یې کاوه، چې دا اوبه بې شعوره نه دي، په عزم او اراده کوم طرف ته ځي، ماهم دا خبره حس کړه او ورپسې روان شوم، څه ساعت وروسته ګورم چې به شنه باغ کې قدم وهم پدې باغ کې هر راز بوټې ولاړ دي دا اوبه چې ډېره موده پخوا هم دې باغ ته راغلې وې د دې باغ په شنو پاڼو، خوږو میوو ښایسته ګلانو کې یې حلول کړی، دا شین بڼ تازه چمن یې د انسانانو، مرغانو، حیواناتو دپاره ساز کړی و، دا اوبه لکه دتاک په رګو کې ننوتې وې، ډېر خلک یې په خپل خوند مست کړي او د ډېرو نشه یې د ښکو په پاڼو زیاته کړې وه، په یوه بوټي کې ځان لکه عسل خوږ کړي او په بل کې یې د سرکې تریووالی پیدا کړی و، په ګني کې یوراز او په مرچ کې یې بل راز مزه ایښې وه دا اوبه برسیره پردې چې د دې میوو او ګلانو د وجود سبب ګرزېدلې وې په تعمیر او ودانۍ کې یې هم برخه اخیستې، د دې باغ دیوال او ګردچاپیر سرایونه یې سرته رسولي وو. دې اوبو یوازې د ځمکې په مخ تردد نه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې د همدردۍ حرارت يې په زړه کې پيدا شوی، دا اقيانوس له دريابه جگې شوي او په وچو جزيرو باندې يې د رحمت څاڅکي شيندي او لکه د گل له پاڼو هوا ته هسکې شوې دي، کله يې په لويو دريابو کې د انسانانو بېړۍ او درانه جازونه په سر گرزولي او د څاروي وظيفه يې اجرا کړې ده، دا اوبه که څه هم د ونو جگوجگو څوکو ته رسېدلې دي، خو خلک د ځمکې په سر گرزېدلی شي، څه شی نه ډوبوي، دغه اوبه چې کله يخ کې ځای نيسي او د توري اب په ځا ی او کله دگل په پاڼو (ښايسته جامه) کې ننوزي د حسن او جمال مظاهر ه کوي او ځينې وخت د صدف په صاف زړه کې ځان تربيه کوي او د جوهري په دکان کې د تجارت بازار تودوي، ودې شي چې شاعرانه خيال هم دغسې يو شی دی.[۱]

---

[۱] - کابل مجله،۱۳۱۸ کال، ٦ گڼه، ۵۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیاره او رڼا

نه پوهېږم خوب دی که بیداري، خیال دی که حقیقت، دنیا په تیاره او تږمۍ کې واقع ده، له شرقه ترغربه تور ټیکري غوړېدلي هر څومره چې یوه خوا بله خوا ګورم هېڅ نه ګورم.

هر لور ته تورتم او تپه تیاره ده. زه ګمان کوم په داسې کره کې یم، چې د انسان هوس په کې هېڅ نه دي کرلي او نه د تمدن لاس په کې څه نقش او نګار کړی او دا یوه طبیعي او ساده منطقه ده، چې د فکر او کار اثر پکې نشته. ټول مخلوق ویده او دنیا په هماغه پخواني حال پاتې ده، هېڅ تغیر پکې نه دی پېښ شوی، ځکه چې زه څه نه وینم. زما په نظر کې دنیا په خوب ویده او خپه خپه ښکاري.

زه ګمان کړم چې دنیا د خوب زانګو ده او خلک پکې غلي پراته او یو په بل اړه او غرض نه لري، زه تصور کړم چې دنیا یو سپیره ډاګ او وچه بیدیا ده هېڅ پکې نشته د هر چالاس تش او خالي دی، خبر نه یم چې څه شته، خو زه د جهل په تیاره کې پټې سترګې پروت یم څه نه وینم او دا هغه دنیا ده چې د بشریت معموره ګرزېدلې او بله شوې، زه په همدې تیاره او بې خبرۍ کې، چې یو ناڅاپه سپینه رڼا پیدا شوه او د دنیا بازار راته ښکاره شه.

نه پوهېږم دا رڼا له څه شي پیدا شوه، د حقیقت معشوقې مخ ښکاره که او که علم لمر پخوا وختونه د صبح صادق قاصد راولېږه او که د بشر د حکمت برق او بریښنا وه خیر هرڅه چې و خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوې دنیا یې له هر شي ډکه پکه راوښوده، چې هرڅوک یې محتاج او هرڅوک له مانه بې نیاز و، هر چا څه درلوده او هرشي نوی رنګ پیدا کړی و، میخانیکي اسبابو په کایناتو کې عیجیب او غریب تحول څرګند کړی او د هنر کیمیا وسپنې ته پښې او وزرونه ورکړي، په دنیا کې بله دنیا جوړه شوې د دماغ د زړه خونه نوې شوې، نوی فکر، نوی خیال پیدا شوی، زه علاوه پدې چې په مادیاتو کې برخه نه لرم یو سر او دوه غوږه یم په معنوي هستۍ کې هم لکه الف هېڅ نه لرم زه داسې ښکارم چې له کومې بلې کرې ځمکې ته نوی راغلي یم.

هو! زه د بېخبرۍ او بېکارۍ له دنیا د علم او عمل دنیا ته نوی راغلی یم.

زه له خوبه نوی راپاڅېدلی یم. پس له دې به لکه د وړوکي هلک د یوه شي او بل شي نوم زده کوم او هرشي ته به د تعجب په سترګه ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بله دنیا

نیمه شپه ده هېڅوک له ځایه حرکت نکړي، مګر زه لکه سر سام بې ارادې روان یم په مخ کې مې غرونه او سیندونه راځي، خو زما مانع کیدای نشي په لوړو او ژورو لکه نسیم یا بریښنا څرخنده تېرېږم هېڅ شی مې په مخ کې حایل کېږي نه.

یوه شیبه وروسته نه یم خبر، چې ما د څومره مودې لار په څو دقیقو کې قطع کړې، خو له دغې دنیا چې زه ورسره اشنا وم وتلې او یوې نوې دنیا ته د تعجب په سترګو ګورم زما او د دې خلکو ترمنځ دومره بعد او فاصله ده لکه چې د اولې ورځې انسان یې د دې وخت له انسان سره لري. دلته هر څو نوي او هغې دنیا سره چې زه ترې راغلی یم هېڅ مشابهت نه لري. حسن او جمال ټول همدلته جمع شوي، عیش او عشرت د همدې خلکو په برخه رسېدلي دي، د دې ځای وګړي چې لکه د یوه چمن ګلان یو شان تر او تازه ښکاري. ماته هغه تفاوت او ټیټ و پا س چې ما د انسانانو په ډله کې لیدلی رایادوي او هغه کسان چې د فقر او ضعف نمایندګان وو، راته وې دلته که هر څومره میخانې او د ساعت تېرۍ وسیلې ډېرې دي، مګر خلک یې دومره نه دي بیخوده کړي چې له اینده حیات نه غافل او په دې شعر قانع شي، ګویا دې ځای ته لا د قناعت لغت نه دی رسېدلی او حرص بد نه دی معرفي شوی، هر طرف ته کار خانې او فابریکې جارې دي، نوي نوي کشفیات او اختراعات کېږي، خو افسوس چې زه د دې ځای د شیانو نوم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژنم او تعبیرترې نشم کولی، مګر دومره پوهېږم چې دټولې دنیا د تسخیر دپاره کفایت کړي. د دې ځای په کتاب کې ډېر شیان چې ما ته بد معرفي شوي و ښه ښودل شوي او د اخلاقو په غټو عنوانو کې لوی تغیر او تبدیل پیدا شوی دی، دلته په عوض د تواضع او امیدواری، دعزة النفس درس ورکول کېږي او دصداقت په ځای سیاست ستایل کېږي، زه پدې ښایسته وینا کې ښکته او پورته ګرزم د بشریت د امراضو دوا، لکه همدردي او نور...لټوم خو بې له زهر داروغازو او جهانسوزه اور بل څه نه وینم او وروسته له ډېرو پوښتنو راته ویل کېږي، چې ته د شرق موزیم خانو ته مراجعیت وکړه ګوندې د شلو قرنو پخوا ارمغان دهغه ځای په زړو او شکیدلو پاڼو کې پیدا کېږي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۱۸ل کال، ۵ ګڼه، ۳٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بشریت قافله او منزل مقصود

نن چې د بشریت قافله او د انسانیت کاروان، د مدنیت او عرفان په بازار کې قدم وهي او د حکمت په رڼا د مهجولاتو په تور تم کې اوبه د حیات لټوي، له اوسپنې د هوا مرغان او له فولادو نه د دریاب کبان جوړوي، له لوبونه بریښنا (برق) او له هوا نه وینا اخلي، نن چې له شرقه ترغربه د انسان ژغ هر غوږ ته بې کاغذ او لفافې او بې ټکسه د پوستې رسي.

نن چې هر سړی ددنیا په حال احوال او د لرې لرې خلکو په کاروبار خبر دی، د یوه او بل په حق کې پیشگویي کوي، نن چې د بشرله سترگو پردې لرې شوي، لرې او نږدې وړې وړې ذرې وینې او له ډېره عقله وېښته چوي دا ټول د نن او پرون ورځې د زیار او زحمت نتیجه ده او دیوه قرن محصول نه دی، دا معنوي سرمایه د بشر د اولې ورځې پانگه ده، چې ورو ورو زیاته شوه او په مرور د زمان له یوې دانې درمندونه او له یوه زنې باغونه جوړ شوي، د بنیادم فکر لکه طفل ډېره موده دحیات په غولې خاپوړې کوي او د حرکت او عمل په میدان او د تجربو په گدۍ ډېر کار ته پاځېدلي او سر په ځېرۍ لگېدلي، پس له ډېرو پرزېدلو یې یو یا دوه قدمه د ترقۍ لور ته اخیستي. دا طفل په بیابان د دنیا کې چې هېڅ لور لار او رڼا نه وه او هر طرف مارکنډېو او اغزیو ډک و لوڅې پښې یوه خوا او بله خوا لکه سودایي او تندي یې تېرې کړې، په کنډو او کپرو په خطر کې ولیدلې، لکه یوسف (ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرېې په څاه او زندان کې تېر شوی، د زمانې له مصايبو نه يې د سر په کاسه کې اوبه څښلي.

کله د تصادف په ګام او کله د تدبير په قدم وړاندې تللی.

ډېرې ککرې پدې ارمان کې خاورې شوي چې يوه غوره د پښې تجزيه کې يا له يوې هسې تيل وباسي او لـه بلې پلتـه تـاوده کي، خپله تياره کوټه پدې رڼا او خپله توره خونه پدې روښانه کي.

لنډه دا لکه څنګه چې بنيادم دا اوسني صورت او قدوقامت پس لـه ډېـرو تحولاتـو مونـدلی، اول ځـل لـه غـذايي مـوادو مائيـت تـه راغلی (مني شوی) او پس له هغه د مينې پرچې (علته) ګرزېدلي او بيا يې دغوښې شکل پيدا کړې او پـه تـدريج سره هډوکي جوړ او په غوښه کې پټ شه، وروسته تردې يې زړه، سترګې، غوږونـه او بې حسـابه اجـزا د بـدن او پـزې يې د وجـود، چې ځانتـه يـو علـم (تشريح) پکې تدوين شوي دي په کار خانه د قدرت کې جوړ شوي او يو مکمل وجود، چې خدای په اشرف المخلوقات سره ستايلی د خدای په قدرت دنيا ته راغلی، همدارنګه يې فکر هم د تحول پايه ختلي او دې اوسني مقام ته رسېدلی دی، بنيادم ډېره موده په صـحرا تنهـايي او نـادانۍ کـې پـه ډار او تـرس ګرزېـدلی او لکـه ښاپېرک په سمڅو او غـرو کـې پـټ شـوی، هـر سـاعت لـه مختلفـو اوازو د حيواناتو او غرهار د تالندې وېرېدلی او له ډاره يې يوه او بل شي ته سجدې کړې، پس له ډېره وختـه د ملګرتيـا او تعـاون پـه فايده پوه او د غلو لـه ډاره د کلي او کور شو، لـه همدې وختـه د قوميت، نوعيت، قرابت، نيلی پـه ځمکـه کې چلېـدلی، د محبت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـفقت، جمعیـت سلسـلې اوږدې شـوې او د بنیـادمو قـافلې او کاروانونه د ترقۍ له لارې مخ پر وړاندې د منزل مقصود طرف تـه تللي او هرې طايفې ځانته يوه پناګاه لټولې او ځان يې څه شی او ډېر ترسيه کړې.

چا د غربيت په خونه کې اړولي او چا د قوميت په مرغانچه کې ځان ځای کړی. مسلمانان په فراخ باغ د دين او ديانت کې پراته او د يوه باغوان لاس لاندې تربيه کېږي، پدې باغ کې هرقسم بوټي او هر راز ګلان او ونې چې هر يو بېله مزه، بېله ميوه، عليحده رنګ او ګوښې فايده لري موجود دی، تر انګورو پورې د هر ځای ميوه پيدا کېږي او د هر چا خوله پرې خوږېږي.

دا باغ خصوصي نه دی. د هر چا زړه چې ورته وشي په يوه کلمه کلپ ورته خلاصيږي او ور ورته بيرته کېږي.[1]

---

[1] - کابل مجله ۱۳۱۷ کال، ګڼه ۴۵ – ۴۶ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محبت لېوال

راشه چې زه خپل زړګي ته مراجعت وکړم، چې په دغه حساسه نړۍ کې د مينې او محبت څه يادګارونه پاتې دي او که نه! دغه زړګی چې د محبت په هر راز لوموکې نښتی او د عشق په پنجرو کې يې ډېر رياضتونه ايستلي دي ګوندې د عشق او مينې تېرحالونه لکه د سينما فلمونه يو يو راته ښکاره کړي او دا راته ووايي، چې عشق او محبت په انسان باندې څه کوي، ترڅو چې د دنيا په مخ د حسن او جمال مظاهر ليدل کېږي او د انسان په سترګو کې د ليدلو او کتلو احساس وي هرومرو به د انسان په زړه کې يو ډول مينه او د يو شي محبت وي، مګر محبتونه دي چې ډېر ژر د انسان له زړه محوه کېږي او هېڅ اثر يې نه پاتې کېږي.

هو! انسان کله کله خپل زړه له لمر او سپوږمۍ او د اسمان په ستورو هم بايلي، مګر کوم وخت چې هغه ورته لويدونکي او پريوتونکي ښکاره شي، نو ډېر ژر ورځنې بېزاره شي او په يوه داسې ذات پسې ګرځي، چې هغه هېڅکله نه محوه کېږ او تل ترتله وي.

دا راز محبت د انسان جسم او روح دواړه داسې رڼا کوي، چې بيا لمر او سپوږمۍ هم ورته له شرمه کتلی نشي، مګر دا محبت په هر زړه کې نه پيدا کېږي او نه د هر چا لاس ور رسېږي، دا پاك

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت دی او په داسې زړه کې ځای نیسي چې هلته بل هېڅ محبت لاره نه لري.

هرکله چې محبتونه راز راز او ډول ډول دي او په هېڅ وخت کې د انسان زړه، چې د محبت نړۍ ورته وواېو له مینې تش او خالي نه وي، نو زه به اوس خپل زړګي ته رجوع وکړم او هغه ټول محبتونه به یو یو راپه زړه کړم، چې په دغه نړۍ کې پیدا شوي او بیا ورک شوي دي.

ښه مې په یاد دي کله چې زه په کوڅوکې له وړو سره ګرزېدم او کور کې به مې څه کول زما په زړه کې بې له محبته بل هېڅ شی نه و، زه په همدغه وخت کې محبت د خپل مور له غېږې او د کاله له خلکو ښېل کړی او له پردیو هلکانو سره یې ملګری کړی وم.

زه به هغه وخت د خپلې مور له څنګه پاڅېدم او په منډه به دباندې تلم، که هغې به ماته هر څومره ناړې وهلې مابه سترګې نه ور اړولې، ځکه چې خپلو ملګرو ته به ورتلم او هغوی به مې لټول.

زه به د هغوی خوږې مرکې ته داسې په شوق ورتلم لکه یو مین چې په نیمه شپه کې د خپلې معشوقې حضور ته په څه طمع ځي او بل هیڅا ته یې پام نه وي، مګر کوم امیدونه چې یو مین خپلې معشوقې د وصال په وخت کې لري زما په زړه کې به هغه شان یوه ارزو هم نه وه او نه به مې د دغسې شیانو تصور کولی شو، زما محبت په دغه وخت کې په هېڅ راز مادي او معنوي اغراضو بنا نه و. په دغه حین کې ما هر راز مرسته او ښېګڼه د محبت د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله، مګر د هېڅ شي دپاره به مې له چاسره محبت نه کاوه، زما محبت په دغه وخت کې یو پاک او مجرد محبت و، چې په هېڅ ډول اغراضو نه وککړ شوی، مګر څه موده وروسته چې ما د خپلو همدغو ملګرو په ښکلو مخونو او معنادارو سترګو کې بعضې کیفیتونه ولیدی شوه، نو زه له یو بل شان محبت سره اشنا شوم او زما په زړه کې د هغوی په نسبت یو بل راز مینه پیدا شوه پدغه وخت کې زما زړګی لکه یوه وړه کښتۍ دمحبت په دریاب کې ولویده، چې د مینې او عشق موجونو او چپو ورباندې لوبې کولې.

له دې محبت سره زښت ډېر اظطراب او ناقراري ملګرې وه، چې همېشه به زه له مشکلاتو سره مخامخ کېدم، مګر دغه ټول مشکلات مینې او محبت زما په نظر کې دومره اسانه کړي وو چې ما به ورځنې خوند اخستلو.

پدې وخت کې زما په زړګي کې مینې او محبت داسې تنده پیدا کړې وه، چې د دغه دریاب ټولې اوبه یې وچې کړې او په وچ ډګر پاتې شو.

ځنګه چې دغه اضطراب او ناقراري ورکه شوه او زما زړګی لکه مړی یا ویده لږ څه له سرګردانۍ خلاص شو، نه پوهېږم چې بیاله کومې خوا د محبت نسیم را والوت او زما په زړه کې یې لکه د پسرلي هوا بیا د مینې احساس ژوندی کړ، پدې وخت کې زه د خپل مفاد دپاره هر طرف لېوال او سرګردا ن ګرزېدم چې یوه شیبه به هم قرار نه کیناستم، زما زړګی په دې حال کې هم د محبت له پنجو خلاص نه و، مګر دومره شوي و، چې زما په نظر کې یې له هر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني مفاد ښايسته کړی و ، چې ما خپل زړه کلک ور پورې تړلی و او هر طرف ته به په همدغه نيت ګرزېدم.

زما زړګی پدې وخت کې هم هېڅکله نه دی قانع شوی او لکه د ملنګانو کچکول هرڅومره چې به پخپلو خواهشاتو ډکېده سمدلاسه به بېرته تشېده او نور څه به يې غوښته. پدې محبت ما هر راز ذلت او تحقير قبلولو او د خپل مفاد دپاره به تل د نوموړو او غتو خلکو په وره کې ولاړوم، چې دوی به راته له هر چا ځيني ښه ښکاره کېدل او له همدوی سره به مې مينه لرله.

مګر دا مينه اساسي او اصلي نه وه، ترڅو چې ما خپل (مفاد) د دوی په کور کې ليده، له دوی سره به مې مينه درلوده او د دوی احترام به مې کاوه او کله به مې چې دغه طمع د دوی له وره پرې شوه، نو بيا به مې پېژندل هم نه.

کوم وخت چې دا حرص يا دا محبت زما په زړه کې سوړ شو او زه ورځني خلاص شوم د دې دنيا هرڅه راته فاني او تېريدونکي ښکاره شوه، نو خپله مينه مې ورځني وشکوله، د دنيا هر څه مې نورو ته پرېښودل او ماله يو بل عالم سره لاره پيدا کړه، هغه پخوانی محبت مې له زړه ومينځل شو او يو بل ډول محبت پکې ځای ونيولو.

پدې محبت کې هېڅ قسم اضطراب نه شته، بلکې زياته ډاډينه او قراري پکې ليدله کېږي، دا محبت هېڅکله نه محوه کېږي، ځکه چې له فاني او محوه کيدونکو شيانو سره تعلق او رابطه نه لري.

اوس که زه په دې عالم کې هم له چا سره محبت او مينه لرم هغه به له دا سې شيانو دپاره وي، چې هېڅکله نه ورکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو! زه خو اوس لکه بلبل او بورا داسې نه يم، چې په ظاهري ښکليتوب وغولېږم او د دې جهان په هغو ګلانو پورې زړه وتړم چې ډېر ژر فنا کېږي او د مني باد يې هرې خواته وړي، زه د داسې څه دپاره له چا سره د لږې مودې دپاره مينه نه پيدا کوم، زه اوس په دنيا کې له داسې خلکو سره مينه او محبت لرم، چې هغوی يوه داسې پټه او معنوي پانګه لري، چې په هېڅ شان نه ضايع کېږي او د زمانې سيلاب يې نه شي وړلی، دا پانګه د انسان هغه معنوي او اخلاقي موجوديت دی، چې په هېڅ وخت کې خپل حسن او قيمت نه بايلي، مګر هر څوک يې نه لري او نه د هر چا په برخه کېږي.

دا انسان هغه ثروت دی، چې په دنيا کې ورباندې ښه نوم او عام محبوبيت ګټې او په اخرت کې ورباندې د خدای رضا لاس ته راولي، نو که څوک غواړي چې په دنيا کې د زړونو مملکت لاندې کړي او دغه راز جهانګيري يې په نصيب شي، هغه بايد په همدغه شي د خلکو زړونه خپل کړي او خپل مينه پکې ځای کاندي.

په دنيا کې بل هېڅ نشته چې د انسان په زړه کې لکه ښه اخلاق بادوامه او عميق تاثير وکړی شي، همدغه شی دی چې انسا ن ته د نورو د تسخير دپاره ورکړشوی او دی ورباندې له نورو امتياز پيدا کوي.[1]

---

[1] - کابل مجله ۱۲۱۹۰کال ۱۱ ګڼه ۳،۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهه او معرفت

کله چې د تورو شپو په تورتم کې راته سل راز شيشکې او پيريان ښکاريدل او زه به ورځنې په خوب کې هم وبرېدم، نن هغه شيان يو نه وينم – نه پوهېږم چې څه وخت زما نظر بل راز و او که دغو پټو مخلوقاتو راسره اشنايي درلوده، ما پخپلو سترګو د ښاپيريانو رانجه پورې کړي وو، که مې د کوم پير او فقير خولۍ په سر کړې وه، هرڅه چې و او هرګمان چې ته کوې، خو زه چې کله ماخستن يوازې له کوره ووتم کانې، بوټي به راته د پيريانو لښکر جوړ شو او هر شي به زما په نظر کې بل راز جوله کوله.

يوه شپه چې يوازې له کاله ووتم او له کلي بهر شوم نا څاپه راته يوه توره بلا راښکاره شوه او زما په زړه کې يې عجيب او غريب حرکت پيدا کړ، هرې خواته چې مې سترګې اړولې د خوف او ويرې نا اشنا ښځه مې په مخکې ولاړه وه، د پلرو او نيکونو هديره راته د بلاګانو مېنه او د پېريانو کور ښکاره کيده. له هرې شناختي راته سل پيريه جوړ شو او زه يې په سل رازه موهومو عذابونو سره وېرولم، د وطن کانې او بوټي راته روې او شيشکې شوې، چې زما زړه يې له ګوګله ايسته او هر ډول ويروونکي خيالات او تصورات يې راته پيدا کول، هېڅ نه پوهېدم چې له ماسره به څه کېږي او څه به راته پيښېږي، مګر څومره چې توره بلا راته نژدې کېده هغومره زه د مرګ او فنا لور ته وړاندې کېدم او يقين مې درلود، چې په هېڅ راز ور څخه نشم خلاصيدلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې دا هماغه بلاوه چې د کلي ټول هلکان ورځنې وېربدل او هره شيبه به يې د لوبو په ميدانو کې د دوهۍ په غاړه يا د تناره په سرکيسې او خبرې کيدلې.

همدغه شېبه زما د ژوندون وروستۍ ساعت او اخره برخه وه، چې بايد له خپلو ټولو ارزوګانو سره واع وکړم او ځان د مرګ بېرحمه پنجو ته وسپارم.

ډېر افسوسونه مې وکړه، چې پدې وخت کې ولې له خپل کوره را ووتلم او د دغې بدبختۍ استقبال مې کاوه، مګر په افسوس او حسرت نو څه کېږي، څه شی چې سړي ته تقدير پيښوي هغه پېښيږي او دا وروستی عقل له هېچا سره ړومبي نه وي، ډېر ځله سړی په ځينو ارادو پسې له کوره بهر شي، مګر نه پوهېږي چې په لاره کې ورته څه پېښېږي او څه کېږي. که چېرې انسان دغه راز پېښې پخوا له پېښېدو ليدلې وي هېڅکله به يې د خپلو ټولو ارادو تعقيب نه کاوه او لکه يو شل به ځای په ځا ی ناست و، هېڅکله به له کنډو کپرو او ګړنګو څخه نه لويده، ځکه چې تل د سکون په يوه داسې کړنګ کې پروت و، چې را پورته کېدی به نشو.

د دغې شپې او دغه حال تصوير زه داسې اوس ښه نشم کولی او نه يې تاسې هغسې احساس کولی شئ، زما افکار په دغه وخت کې ټول د خوف يوې تورې نقطې ته متوجه و او بې له خوفه مې نور هېڅ نه ليدل، هېڅوک نه و چې زه يې له دغې بلا خلاص کړی وای، يا ورته دا اميد شوی وای، پخپل وطن کې له خپل کور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي څخه څو قدمه هغه خوا زه بې وزلی، بې اسرې او بېکسه وم، هېچاته مې څه هیله نه درلوده، له خپلو او خپلوانو، ملګرو او اشنایانو، مور او پلار څخه امید قطع شو او په تمامه معنیٰ راته ځان یوازې او بې مرستې ښکاره شو.

نه پوهېږم، چې کله به په تاسې باندې دغسې حال راغلی وي، چې اوس د دې کلماتو په معنیٰ پوه شې او زما په تېر شوي حال لږ څه رحم وکړئ که یه؟ که تاسې له دغسې زمان او مکان سره اشنا نه یاست او دغه راز مو نه دی لیدلی، زما خبرې به خدا ېږو، چې څه وبولئ، د افادې قوه هم دلته ډېره ضعیفه ده، د هغه حال د تصویر او تقریر دپاره لا تر اوسه کلمات نه دي وضع شوي او که وضع شوي هم وي زه یې د استعمال په چل نه پوهېږم، د دغسې فجیح حال تصویر راته ډېر ګران ښکاري، زه هېڅکله دېته نه یم حاضر، چې د خیال په عالم کې بېرته هغه حال ته رجوع وکړم او بیا تاسې ته د دې کیسې جزیات او واړه ټکي پوره بیان کړم، که چېرې دنیا تکرارهم قبول کړي او زه بېرته کوچنی شم، هماغه شپه بیا راشي او زه په هماغه تورو شپو تورو پردو کې دا حال بیا وونیم یقین دی، چې په هغه حال کې هېڅوك نشم پوهولی. که دا هم وشي او دا ټول غیرممکن شیان امکان پیدا کړي بیا هم یقین نه لري چې د اوریدونکو زړه به زما په حال وسوزي او څه چې په ما تېر شوي وي دوی به یې په اورېدلو هغسې متاثر شي. د لیدو او اوریدو دومره فرق دی لکه د ړانده او بینا، نو بیا ویلی شم، چې د هر بدبخت حال ستاسې په نزد له یوې کیسې او افسانې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات اهمیت نه لري، همیشه او په هرځای کې د بدي ورځې د خاوندانو حال د نورو دپاره قال شي، په هر ځای کې ځمکه هماغه سوزي چې اور پرې بلېږي، په هر هېواد کې پردي غم نیم اختر وي، هېڅکله داسې نه دي شوي، چې د سترګو کار له غوږو واخیستل شي یا د یوې سترګې په ړوندوالي د بلې سترګې بینایي لږه شي دا ټول هغه ممتنعات دي، چې فرض يې هم ممتنع دی، نو زه هېڅکله له تاسې دانه غواړم چې تاسې دې زما د حال داسې احساس وکړئ لکه چې ماکړی دی، زه همدومره غواړم چې زما په حق کې يې یو مشکل حال قبول کړئ او د وېرې سخت عذاب وګنئ، زه په دغه وخت کې نور له خپله حاله خبرنه شوم او ونه پوهېدم، چې ځمکه مې له پښو نه کومې خواته ولاړه او زما د وینو په جریان کې څه تغیر راغی، خو هرڅه رانه هیر شوه او نور مې د خوف احساس هم ونکړای شو، تاسې فرض کړئ چې زه هم لکه یو بې حس او بې شعوره کاڼی په دغه بیدیا کې پرېوتم، چې عقل او شعور، احساس او خیال هر څه رانه ولاړل او بېخي یوازې پاتې شوم، دا حال که څه هم یو موقتي مرګ و، چې ځوک به يې نه خوښوي او جمادي حالت به يې بولي، خو زه يې له دغسې مهیب او وېرونکي ژوندون خلاص کړم او د ټولو غمونو په مخ کې حایل شو.

څه شېبه وروسته چې دا حال هم لکه د انسان نور ښه او بد حالونه له سترګو پناه شو او ما خپلې سترګې وغړولې بې له دېنه، چې خپل ورور مې تر څنګ ناست و او زما تلې او لاسونه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مښل بل هېڅوک او هېڅ شی نه و، کومې تورې بلا چې زه يې يوه شېبه مخکې وبرولم او ژوندون يې راته يو لوی غم او سخت عذاب ګرزولی و، هغه مې سکنی ورور او د خپل کاله سړی و.

وګورئ!! کله کله سړي ته خپل خواخوږي او خپلوان بلا کېږي او په بله بڼه يېويني، يعنې لکه يوسف خپل ورور لېوه شي او په بلاګانو يې خوري.

دغه راز تياره او تورتم چې په هرځای کې وي هلته سړي ته دغسې حالونه پېښيږي چې له خپلو ورونو څخه هم وېرېږي او هغه څوک چې د ده مټ او بازو وي د خپل بدګمان په اثر کې ورته لکه بلا داسې ايسي، د دغسې تيارې نسبت که څه هم په ظاهره تورو شپو ته کېږي، مګر په حقيقت کې له ناپوهۍ او نه پېژندلو څخه پيدا کېږي، په کوم ځای کې چې د جهل او نادانۍ تورې پردې د خلکو په سترګو غوړېدلې وي هلته سړي ته هر څوک نا اشنا ايسي او د خپل کوروکلي خلک ورته د راز راز بلاګانو په ډول معلومېږي، هر چا نه يې په زړه کې وېره کېږي او په شپانه باندې د لېوه ګمان کوي، بې له وېرې بل شي نه پېژني او بې له بدګمانۍ او د خوف له تخيل څخه نورڅه نلري، همدغه سبب دی چې ناپوهو وګړو ته (چې په کوم ځای کې وي) يو حاکم داسې ښکاري لکه په توره شپه کې، چې سړي ته خپل ورور له ليرې ځان وښيي او دی يې نه پېژني، يعنې هغه څوک چې بايد دوی يې د خپلو حقوقو او خپل ځان حامي وګڼي په زړه کې ورسره مينه او علاقه پيدا کړي، ليرې لېرې ورځنې ګرزي او له ډاره ورته نږدې کېدی نشي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه ورته خپل ځان نه وي معرفي کړی او نه د پېژندلو په اثر کې ورته بل شان ښکاري.

بې علمه خلکو ته معارف هم داسې په نظر ورځي لکه چې يو عالم جهل او ناپوهی ته ګوري، مګر هغه کسان چې له علم او معرفت سره اشنا شي او معارف وپېژني، لکه تږي ورپسې وچې شونډې ګرځي او هرې خواته ورپسې هڅه کوي، په رښتيا چې اشنايي او پېژندنه د خلکو ميل او محبت ډېر ښه جلبوي او هغه لوی خلک چې پدې راز پوه شوي دي ډېره ښه استفاده ورځنې کولی شي.

تاسې به ډېر شيان او ډېر خلک ليدلي وي چې په اول کې ورځنې وېرېدلئ او ښه درته نه ښکاره کېدل، مګر وروسته چې ورسره اشنا شوي ياست او پېژندلي مودي اوس به درته محبوب او ښه ښکاره کېږي، يو وخت و چې انسان په دنيا کې له هر څه وېريده، دا سمان له ستورو او لمرو سپوږمۍ څخه يې هم ډار درلود، د تالندې له اوازه او له برېښنا څخه به په ځمځو او غارو کې پټېده، مګر اوس ورته يو شاعرانه منظر ايسي او شعرونه پرې وايي، ځکه چې پوهې او معرفت علم او پېژندګلوي د ډار او وېرې طلسمونه مات کړه او انسان ته يې ډېر زيات جرائت ورکړ، د همدې لامله اوس څوک له اور او اوبو څخه نه وېرېږي او نه ستورو او ارباب الانواعو ته هغسې سجدې کوي.

هو! پوهه او معرفت علم او پېژندنه يو قوت دی، چې په دريابونو کې يې نهنګان او په غرو کې يې پړانګان او لېوان ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، د اوهامو او خرافاتو د تورو کېږدیو مراندې یې پرېکړې، د دېوانو او ښاپېریانو کیسې یې ورکې کړې، د شیشکو او روو ډار یې د خلکو له زړه نه وایست او د مرګ وېره یې هم په زړونو کې کمه کړه، د مصر د فرعونیانو او ارباب الانواعو کیسه ختمه شوه او د جوګیانو خونې هم جوړې شوې، د اور هغه لمبې مړې شوې چې خلکو به یې بندګي کوله او د کوډګرو بیرغونه هم رنګ او نسکور شوه.

کوم ملت چې غواړي خپل هېواد کې هر راز مکروبونه ورک کړي او دغه ټولې بلاګانې ووژني، زړونه له دغه راز تصوراتو څخه او خیالات له موهومو اندېښنو څخه وژغوري جرات او شجاعت وروزي او انسان کې یو روحي او معنوي قوت وپالي د بدو ګمانونو او ویرونکو تخیلاتو ښه علاج وکړي او انسان ته هرڅه په رڼا کې څنګه چې وي هغسې وښيي هغه هرګوره د علم او پوهې د رڼا په خپرولو کې کوښښ کوي او دغه راز تیارې پخپل وطن کې ورکوي.

زما د وېرې کیسه که څه هم زما د کوچنیتوب د شپو او ورځو د لویې افسانې یا ډرامې یوه وړه برخه او کوچنۍ صحنه ده، مګر د اجتماعي حیات مرموز اسرار او رازونه پکې پراته دي، چې د حال په ژبه یو لوی تعلیم او مهم درد بلل کېږي.

که سړی د دنیا واقعاتو او خپلو مختلفو حالاتو ته په بې اعتنایۍ نه ګوري او له هغو رویاو څخه چې په وینښه یېویني نتایج اخلي، یقین دی چې ډېر ښه ښه عملي اساسونه لاس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې، چې سړی يې په ډېرو نظري مطالعاتو کې نشې پيدا کولی، همدغه قيمتي اساسونه دي چې د نن ورځې تازه او مهم علوم پرې بنا شوي دي او سړي ته په ژوندانه کې نوې نوې لارې ښيي، نو هېڅکله دغسې واقعاتو ته په عادي نظر مه ګورئ او بې نتيجې اخيستلو يې مه پرېږدئ، د ژوندانه راز پخپل ژوندون کې ولټوئ او د علم دتجربو مخ هم د حيات په هنداره کې وګورئ!!!.

تاسې به ډېرځله د يوې علمي مسلې په ډول اورېدلي وي، چې انسان د مجهول شي دښمن دی او په کوم شي چې نه پوهېږي يا يې نه پېژني هغه ورته ښه نه ښکاره کېږي، ماهم له ډيرو خلکو يوه فلسفي کليه (المرعدولما جهل) اورېدلې ده، مګر هغسې پرې نه يم پوهېدلی، چې د ژوندانه معلم او ښوونکي راته دا مبهمه معنیٰ وښودله او زما په زړه کې يې لکه د کاڼي نقش ثبت او رسم کړه. څه شی چې يو عالم يا فيلسوف پرې پوهېږي، هغه ما لکه يو صوفي په سترګو وليد او څه شی، چې يو عالم بلل کېږي زما دپاره حضوري علم وګرزېده، هغه څه چې ځينې خلک يې وايي او پرې پوهېږي، نه زما دپاره يوه نه هېريدونکي خاطره شوه، چې هېڅکله يې نه هيروم او که رښتيا ووايم هېڅکله يې نه شم هېرولی.

زما په ژوندانه کې دغسې ډېر اسرار او رموز شته، چې زه يې بې کلماتو او الفاظو په ځينو شيانو پوه کړی يم ماته يې په توره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه او داسې ځای کې، چې سترګه په سترګه نه ښکاریده ډېر څه را ښودلي دي او زه یې ملاکړی یم.

هغه څه چې خلک یې د کتاب په پاڼو کې ویني ما د زړه په سیپاره کې ولوستل، که څوک غواړي چې دغه بې صوته تعلیم حاصل کړي او لکه طوطي له نورو نه تشې خبرې زده نکړي پخپل ګریوان کې دې سربښکته کړي او د خپلو خاطراتو په دفتر کې دې د ژوندانه په اسرارو ځان پوه کړي، یعنې له نحوي ضمیر څخه دې نفسي ضمیر ته مخ راوګرزوي او هر څه دې له ځانه وغواړي د همدغه ضمیر حالات دې ځانته معلوم کړي او له همدغې کړکۍ څخه دې پوهې او معرفت ته لاره پیدا کړي.[1]

---

[1] - کابل مجله ۱۳۲۳ کال، ۱ ګڼه ۵- ۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه پوښتنې

په هغه تور تم کې چې غل او کاروانې نه پېژندل کېږي د حیات اوبه څه قیمت لري؟ هغه پوهه چې د شیطان له کوره وي، هغه اودس چې د مظلوم په وینو یا د یتیم په اوښکو کېږي، هغه کتاب چې د ناحقو دعوو د پاره پکې لارې لټول کېږي، هغه ملګری چې سړی له ځان سره په کږو لارو بیایي....

څه یې وبولو؟

کوم ړوند ، چې د امسا په ځای تورو مارانو ته لاس اچوي، کوم کوڼ چې خبره نه اوري او ورته خاندي، هغه سپوږمۍ چې غلو ته لاره ښیي او په مینو پسې مشالونه ګرزوي...

څه په کار؟

هغه لوی سړی چې د وړو مرغانو په دام کې نښلي یا د غټو په جال کې بندېږي او د خوشامدګرو د تشې وینا له اغیزې ځان نشي خلاصولی څوک دی؟

کوم زړه چې د احساس په اور کړیږي او دا سوي په پټه خوله زغمي، کوم فکر چې پخپل مخکې فولادي دیوالونو ویني، هغه تږي چې په اوبو کې وژونکي زهر ګوري... د هغو په حال رحم نه دی په کار؟

هغه کسان چې سترګې لري او ژبه نه لري، په غوږو اوري او په زړه کې نه پوهېږي، هغه څوک چې د خپل کور ماران او لړمان نشي وژلی، هغه کورونه چې د زورور سیلاب په لاره کې دي ایا د رحم او شفقت حق نه لري؟؟[1]

[1] - کابل مجله ۱۳۲۳ کال، ٦ ګڼه ۲۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوندانه روح

ته خپل زړه کې ښې سترګې وغړوه او خپل اشنایان په غړولو سترګو وګوره! چې تا دوی په کوم صفت غوره کړي دي؟؟

ټول د علم او فضل خاوندان دي؟ مال او دولت یې ډېر دی؟ د هېواد له مشرانو او غټانو څخه شمېرل کېږي؟ له نورو نه پکې پوهه او هوښیاري زیاته ده؟ که بل داسې صفت پکې شته چې په نورو کې نشته او یوازې همدوی یې لري؟

هر یو د دنیا له لوړو او عالي مکتبونو راوتلي دي؟ هر یو د لوړې څوکۍ او ستر مقام خاوند دی؟

له عیبونو او نقایصو نه خلاص دي؟ او هېڅ نیمګړتیا نه لري؟؟ نه نه هېڅکله داسې نه ده او په هېڅ ډول زه دا نشم منلی.

ته هم پوهېږې او ماته معلومه ده، چې ستا په اشنایانو او دوستانو کې هم هغه عیبونه پیدا کېږي، چې په نورو کې شته - ستا اشنایان هم له نورو انسانانو نه څه فوق العاده امتیاز نه لري او نه له اسمانه راښکته شوي دي، مګر مینه او محبت یې ورته ښکلې او ښاغلی ښيي. ستا په ملګرو او دوستانو کې بې علمه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیسواده خلک هم شته، مګر نور بېسواد ان ستا حضور ته لاره نه لري.

ځینو پوهانو ته د اشنایۍ او قدر په سترګو ګوري مګر، ځینې نور په نامه پېژني او بس. ټول بدایان هم تا ته یو راز نه ښکاره کېږي، له یوه سره مینه لري او له بل نه نفرت کوي. د لوړ رتبو او منصبو خاوندان هم تا ته یو راز نه ایسي. په هره طبقه کې اشنا او نااشنا درته ډېر فرق لري. دلته خوار او بډای کمالدار او بې کماله هېڅ معنیٰ نه لري او نه ستا اشنایي له دې شیانو پیدا شوې ده، مینه تل له مینې پیدا کېږي او اشنایي له دې شیانو هغه خوا یو بل شی غواړي، چې کله یې سړی په بې نامه او بې نشانه خلکو کې پیدا کوي او کله د علم وکمال مال او دولت په خاوندانو کې ولیدل شي.

کله یو عادي او معمولي سړی د چا په نظرکې ګران او ښاغلی شي او کله ښوښو خلکو ته سړی د نفرت په نظر ګوري.

هر کله چې تا ته سره له هغو احتیاجاتو چې ته یې لرې په یوازې علم تش جاه و جلال ځوک نشي ګرانیدلی او په تنها مال او کمال ستا اشنایي د چا په نصیب کېږي، نو په هغه بې نیاز ملکوتي مقام کې به دا شیان څه قیمت ولري، چې هلته دې شیانو ته هېڅ احتیاج نشته او بې له اخلاص او مینې بل شی ځان نشي ښکاره کولی، ځنګه چې ته هېڅ نااشنا له اشنا سره نه برابروې او هېڅ شی بې له مینې او محبته نه خوښوې، ګمان مه کوئ چې ستا جمال او کمال به بې له مینې او محبته څه ځای ونیسي یا به چاته ګران شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د لوی خدای په حضور کې هغه مقام غواړي چې د خدای د دوستانو په نصیب کېږي، که د شاهانو او مشرانو په دربار کې قرب او منزلت لټوي، که له یوه خوار او غریب نه د ربښتیانۍ ملګرتیا ارزو لري پخپل زړه کې مینه او محبت پیدا کړه.

هر سړی په هر وخت کې د مینې او محبت وړی دی او لوی خدای هم د مومنانو شدید محبت ستایي. هغه راز ژوندون چې هر څوک یې ارمان کوي او نه یې شي پیدا کولی.

هغه شی چې خلک یې سعادت او خوشحالي بولي، هغه خوند، چې سړی یې په سرو او سپینو یا خوندورو خوراکو کې نشي موندلی، په یوه شي کې پیدا کېږي چې د ځمکې، خلک ورته محبت وايي او په اسمانو کې د ژوندانه روح بلل کېږي..[1]

[1] - کابل مجله ۱۳۲۳ کال،٦ ګڼه ۲۳ -۲۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مشرانو عشق

څوک چې لوی شي او د مشرتوب لوړې درجې ته ورسېږي هغه بیا په دغسې ډېوو، چې په یوه یوه کورکې بلېږي ځان نه سیزي او نه لکه کشران او واړه افراد په کوم سپین مخ یا ملالو سترګو زړه بایلي.

هو! دغه زړه دومره وړیا نه وي، چې په دغسې عادي شیان مبتلا او په فاني ګلونو پسې لېوال شي، هغه هېڅکله د دنیا په سرو او سپینو داسې نه مین کېږي، چې لکه یو په مال مین سوداګر شپه اورځ په دغه غم کې ورک شي او بل هېڅ شي ته یې پام نه وي، مال لا څه چې د خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپلو لوڼو، زامنو په مینه او دوستۍ کې هم دومره ځان ورکوي، چې نور هېڅ نه پېژني او هرڅه هېر کړي، بلکې دغه ټول محبتونه چې واړه خلک یې لري په یوه محبت باندې قربانوي، چې هغه د ټولنې او ملک عشق بلل کېږي او پدې لاره کې هر راز زیار او زحمت قبلوي او هېڅ راز موانع ته اهمیت نه ورکوي، د همدغه عشق په اثر کې د ملتو مشران پخپل ملت باندې د هر راز اطاعت حق ثابتوي او دا ورباندې لازموي، چې تر پېړیو پېړیو خپل ځان د دوی مرهون او مدیون وګڼي، ځکه چې دغسې مشر د یوه ملت د پلار او بابا مثال لري، چې د ټولنې هر فرد دغه راز معنوي پلار ولې پېژني او احساس یې کوي، یعني لکه چې یو طفل پخپل طفلانه حالت او داسې وخت کې، چې له معانیو او مفهوماتو سره بله نه وي اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل پلار پېژني او خپل ځان غېږکې وغورځوي، ټولنه هم که د لوړ تعليم خاونده وي او که نه وي، د تهذيب او تمدن لوړې درجې ته رسېدلي وي او که نه، د خپلو خواخوږو او زړه سوانده مشرانو د مينې او پېرزوينې احساس کوي او خپل ځان سره له ټول مادي او معنوي موجوديته د دوی د عاطفې او شفقت په غېږکې اچوي او خپل مقدرات ورسپاري، ځکه چې عشق او محبت ارومرو د معشوق او محبوب په زړه اغېزه کوي او د مينې په حقوقو يې پوهوي. دلته بايد تاسې عشق او مينه د حسن او جمال له عشق څخه بېل کړئ او هغه منظره له سترګو لرې کړئ، چې د ګل او بلبل يا د مجنون او ليلې په مينه کې يې ګورئ.

زمونږ مقصد دلته هغه رازمينه ده چې د پلار او زوی د خوږو ملګرو، د مرشد او مريد، د استاذ او شاګرد، د مشر او کشر په زړونو کې وي، چې بې له غمخورۍ او خير خواهۍ څخه نور مظاهر نه لري په دې عشق کې ناز ونياز، هجرو وصال بې پروايي او تغافل نه ځايېږي او نه پکې رقيب او ريبار شته، دا مينه له هغې مينې څخه فيض او رڼا اخلي، چې يو رښتياني بنده يې له خپل خدای سره لري او د يوه حقيقي صوفي په زړه کې ځای لري.

له دې مينې سره رحم و عاطفه، متانت او ثبات، همدردي او شفقت ملګري وي او له هر راز تهمتونو څخه يې لمن پاکه وي، دلته لېونتوب او لېونيان د صحرا ګرزېده له خپلو او پرديو بېلېده هېڅ نه وي او نه پکې د معشوقو له لاسه شکايت يا له رقيبانو سره حسد ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې مينې سره انسان د مور په غېږ کې او د پلار په څنګ کې اشنا کېږي، مګر د ښکلو مينه له ګل او بلبل څخه اخيستل کېږي، چې بهار او خزان پکې لوی دخل لري او فريادونه، اغزي د غوټۍ دلتنګۍ هر هرڅه پکې شته او د شکايت هنګامه ورځنې پيدا کېږي. پدې مينه کې د روح اشنايي او توافق په کار دی، مګر په مينه کې د سترګو قبول او کتنه تاثير لري.

هلته پتنګان په بلو ډيوو ځانونه سيزي، مګر دلته مينان يو د بل په سر سيوري کېږي، د غمجنو زړونو دپاره پټۍ جوړوي او د تورو شپو خاوندانو ته ډيوې بلوي.

هو! سړی تر يوه وخته بې له رنګونو او ښکلو څېرو څخه نور څه نشي ليدلی او د همدغې مينې جاذبه يې ځانته راکاږي، ځينې کسان لا بې له ماديا تو او مال دولت څخه بل شی نه پېژني او همدغه شی خپله فايده بولي، بعضې په ځينو نومونو پسې لېوال وي او د شهرت په بنګو پسې ګردګرزي، چې دا ټولې مرحلې طی شي او سترګې ښې پخې شي، يعنې د دغه بشري کوچنيتوب دوره تمامه شي او انسان معنوي بلوغ ته ورسېږي يا په بل عبارت د لويوالي او مشرتوب حق پيدا کړي، هغه ته بيا خپل کوروکلی، خپل ټبر او خپل هېواد تش الفاظ نه معلومېږي، بلکې دغه کلی او پايدار مفهوم يې په نظر کې يو بل راز جلوه کوي، چې د خپلو غرو په څوکو، د صحرا په لمنو، د وطن په کاڼو او بوټو کې يوه يوه داسې تجلي ويني، چې هر څوک يې نشي ليدلی او هر چاته ځان نه ښيي، يعنې څنګه چې يو ښاپېرک ځلانده لمر نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلی، یو کوچنی د زلمیتوب احساس نشي کولی، یو کارغه لکه یو بلبل دګل ښایست نهویني، د دې ټېټو ډیوو پتنګان د ستورو ډیوو ته نه رسېږي، بې درد زړونه د دردمنو له حاله نه خبرېږي، یو مورنی ړوند د رنګونو امتیاز نشي کولی، همدغه شان دغه لیلې هم د عادي خلکو له نظره پټه وي او هر څوک یې مخ نه ویني.

همدغه سبب دی، چې د وطن مینه، د ملت عشق د ځینو کسانو دپاره یو ه خوشې خبره معلومېږي او دا باور نشي کولی، چې څوک دې د وطن په عشق او د ملت په مینه کې عشقانه بڼه پیدا کړي او ربښتیانی مین دې ورته وویل شي، دا د ډېر تعجب خبره ده چې یو سړی د یوې ښکلې پېغلې په عشق او مینه کې فرهاد یا مجنون کیدی شي، چې د خپل سرو مال، وقار او اعتبار، خپلو او پردو څه او څه...هېڅ پروانه کوي او په دغه لاره کې هرڅه قربانوي او یو کامل انسان د ملت دوستۍ په اغیزه دې حد ته نشي رسېدلی، چې د یوې جامعې په مینه کې د یوه مین او عاشق حیثیت پیدا کړي!!!

په کوم هېواد کې چې دغه راز پتنګان نه لیدل کېږي او دا حقیقت ورته دومره نا اشنا وي، چې منلی یې هم نشي، یقین دی چې هلته وګړي د عشق او مینې په ابتدایي منازلو کې پاتي دي او انساني شعور یو طفلانه او ابتدایي وضعیت لري، د دغسې ټبر په حال ډېر افسوسونه په کار دي، چې لوی سړی یې لکه کوچنیان بې له خپل شخصي او فردي کوره یا له خپلو ورونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خویندو نور ځوک نه پېژني او له خپلې کوځې ماسوا دکلي نورې کوځې ورته پردۍ ښکارېږي.

پدې عصر کې د یوه ملت حقیقي او معنوي پانګه، چې د هر راز پیشرفت او پرمختګ حامل بلل کېږي.

همدغه د وطن عشق او د ملت مینه ده، چې د ملتونو د اجتماعي شعور، دماغي انکشاف، لوړ تعلیم او عالي تربیې صحیح معیار باله شي، د دې مینې وړانګې او پلوشې لومړی ځل د هېواد د مشرانو او لویانو په زړونو رڼا غور ځوي او بیا یې نورخلک عملاً له دوی ځخه زده کوي او عمومیت پیدا کوي، مونږ باید دا مینه پیدا کړو او دغه عالي عشق له خپلو مشرانو ځخه زده کړو، دا عشق هم پټ نه پاتې کېږي او مینک خپل ځان پخپله ښيي، نو ځکه یې ځوک په تشو دعو نشي ګټلی، بلکې عملي مظاهرې غواړي، یعنې دا عشق په یوازې آه و فریاد او مصنوعي وضعیتونو نه ثابتېږي، بلکې له خپل راحت، له خپلو شخصي اغراضو او د ضرورت په وخت کې له سر او ماله تېریدل او سل رازه ایثار او قرباني غواړي، راشئ! چې د دې عالي مینې ربښتیانې مظاهرې وکړو او خپلو مشرانو ته دا ځرګنده کړو، چې مونږ ستاسې له پاکو زړونو ځخه د دغې رڼا اقتباس کړیدی او د وطن او ملیت په صحیح مفهوم او حقیقي عشق پوهېدلي یو.

راشئ! چې د خودخواهۍ او ټیټو مینو مراندې او تناوونه پرې کړو او د لمروسپوږمۍ په خوا کې خپلې خیمې ودروو. راشئ! چې اوس له دې کوچنیو ځالو والوزو او لوړ پروازونه وکړو، ترځو پورې به لکه کوچنیان شخصي کور په محدود غولي کې خاړپوځې کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ! یو ملي او وطني شعور پیداکړو او د وطن غرو، رغو، کاڼو، بوټو ته د پښتو ملت لوی او واړه، خوار او بډای، پوه او ناپوه ته د عشق او مینې په نظر وګورو، لکه چې یو پلار خپل زوی، یو ورور او یو خواخوږی مشر خپلو کشرانو ته ګوري، که دا شعور او دا احساس ژوندی شي بیا به تاسې ته خپل هېواد بل راز ښکاري او ارومرو به یو له بله ځارېږئ، خواروغریب، ړوند او شل د زړو او شلېدو جامو خاوندان به درته محبوب او د مینې وړ معلومېږي، هېڅا ته به څوک په نفرت نه ګوري، یو بډای به د خوارانو دلداري کوي، یو عالم به ناپوهانو ته ښه لاره ښیي، یو طبیب به د مریضانو په علاج پسې لکه یو مین لېوال ګرد ګرزي او یو پیاوړی غښتلی زلمی به د یوه ضعیف او ناتوان پیټی په اوږو اخلي.

راشئ! چې همدغسې وکړو او د دغې مینې خوند وګورو، کوم خوند چې د یوه حساس زړګي خاوند او یو زړه سواندی سړی د یوه یتیم د اوښکو له پاکولو څخه اخلي، یا هغه خوشحالي چې یو د عواطفو او شفقت خاوند یې د بې وزلو او مظلومانو په مرسته او ملګرتیا کې مومي، هېڅکله یې پتنګان په ځان سیزلو، بلبلان دګلو په عشق کې نه مومي.

کوم کیف او لذت، چې سړی یې په رحم او عاطفه، د زړه او ضمیر په پیروۍ کې حاصلوي، هغه څوک په نندارو او تماشو کې نشي پیداکولی او نه یې د هواوهوس خاوندان احساس کولی شي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۳ ل کال، ۳ ګڼه، ۵ – ۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستر قوت

ځوک وايي مال دی او ځوک يې په صنعت او تخنيک کې لټوي، ځينې وايي چې علم دی او ځينې يې په ډېرو افرادو غواړي، مګر کله کله چې سړی له دې ټانکونو هغه خوار ددې ډېرو لښکرو ترشا له هوايي طيارونه پورته نظر کوي، يو داراز قوت وينې چې پدې ټولو قوتو زورور او غښتلی دی، له دې قوت سره نه اور او اوبه مقاومت کولی شي او نه په توره او علم ورسره مقابله کېږي. دا قوت هغه عقيده ده چې انسان هر راز ايثار او قربانۍ ته تياروي او له يوه ملت نه بل شی جوړوي، که دا قوت له يوه ملت سره نه وي او نور هرڅه وي، ته يقين وکړه چې هېڅ يې نه په کارېږي او هرڅه يې پردي دي.

بې عقيدې انسان هېڅ نه دي کړي او هېڅ نشي کولی نه به يې وروسته تردې وکړي، ځوک چې له خپل ژوندون او سر و مال نه سوا يو داسې شی نه پېژني، چې دا ټول ورځنې ځار کړي هغه ته د لويو کارو هيله هېڅ وخت نه کېږي.

عقيده په انسان کې يو فعال عقل، نه ويريدونکی عشق، فرهادي عزم او يو سيلابي حرکت پيدا کوي، چې هېڅوک او هېڅ شی يې مخه نشي نيولی.

د نړۍ په غولي کې چې څه حق او ناحق جنګونه شويدي او کوم کام يا ملت پکې خپل ستر قوت او فوق العاده مقاومت ښودلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ارومرو په يوه عقيده بنا دی، چې من حيث عقيده ورته ستر قوت ويلی شو. عقيده په اصل کې د انسان او حيوان حد فاصل دی، چې د خپل شعوري ماهيت او متين موجوديت په لحاظ د ډېرې ستاينې حق لري، مګر وروسته چې يو خارجي موجود او جزيي مفهوم پيدا کوي، نو په دوو نوعو بېلېږي، چې حق او باطل عقايد ورته وايي او په دواړو صورتونو کې ورته قوت ويلی شو.

همدغه عقيده ده چې د چا دپاره ايمان او د چا دپاره مسلک شي، ځوک يې خپل نصب العين بولي او د ځينو دپاره عشق او مايه وګرزي.

داچې نن ځينې قومونه د مليت او وطنيت په نامه سرونه ورکوي بې له دېنه، چې يوه عقيده ورته ووايو بله معنیٰ ورته نشو پيدا کولی، همدارنګه کومو ملتونو، چې د حق او حقيقت بېرغ اوچت کړی او د دين دپاره يې جنګونه کړي هغوی هم هر څه د عقيدې په زور کړي دي.

همدغه سبب دی چې تر اوسه پورې د دنيا ژوندیو او قوي ملتونو هېڅکله عقيده نه ده بايللې او هېڅ وخت نه دی بې عقيدې شوی او نه د عقيدو مرکزونه زرګونو کلو په دنيا کې وران شوي دي، همدغه يوه کعبه شريفه ده چې پکې خلکو بتانو ته سجدې کړي دي او هم ورځنې د اسلامي عقيدې خاوندان طوافان کوي، همدغه اروپايي ملتونه دي، چې يو وخت يې د صليب دپاره سرونه ورکول او نن د وطن او مليت دپاره خپلې وينې تويوي، نو ويلی شو چې دوی عقيده ورکه کړې نه ده، بلکې بدله کړې يې ده، ځکه چې عقيده بدلېږي، مګر ورکېږي نه، که تاسې د دنيا پاخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زاړه ملتونه وګورئ، هلته په هر وخت کې د يوې عقيدې رڼا ځلېږي او هېڅکله پکې دا ډيوه نده مړه شوې.

پدې حاضر عصر کې هم هر ځای او په هر ملت کې يوه عقيده موجوده ده، چې خلک ورځنې قربانېږي، که تاسې کوم داسې ملت چېرته ګورئ، چې هلته د عقيدې پابندي او د عقيدې دپاره هر راز ايثار او قرباني نه وينئ يقين وکړئ، چې هغه ملت هېڅ وجود نه لري او لکه د اوبو ځګ په يوه آن کې ورکېدونکي دي، بې عقيده ګي هر وخت د خامۍ او طفلۍ دليل دی، په هر ځای کې چې د مليت اساس نه وي ټينګ شوی او يا بيخي تشکيل شوی نه وي هلته عقيده هم څه مو جوديت نه لري. که سړی د روح خوشحالي او د زړه اطمينان لټوي، نو نه يې په مال او دولت کې موندلی شي، نه يې د علم او فلسفې په رڼا کې ويني، نه په لوړو ماڼيو کې پيدا کېږي، نه يې سړی په زيبو زينت، جاه وجلال او نورو افتحاراتو کې ليدلی شي، مګر د عقيدې خاوندان يې د خپلې عقيدې په لاره کې په هر قدم کې مومي او هرساعت يې استقبال کوي.

څوک په يوه شي عقيده لري او کوم اصل ته د عقيدې په سترګو ګوري هغه شی له نورو ټولو شيانو لوړ او پورته ګڼي او هېڅ ورسره نه برابروي، همدغه سبب دی چې ځينې کسان د عقيدې دپاره خپل ځان اور او اوبو ته غورځوي او په ټولو خطراتو غلبه مومي، ځينې کسان به ځينې عقايد د اخرت دپاره مفيد ګڼي، مګر زه خو يې په دنيا کې هم لوی دولت او ستر قوت بولم، بلکې د انساني شعور يو قوي سند يې بولم، کوم کسان چې نه په ديني اساسونو ايمان لري او نه په اخلاقي او روحاني نواميسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګروهیدلي دي، نه یې په نظر کې ملي شعایر څه قیمت لري او نه په ژوند او حیات کې کومه معینه لاره او ټاکلی نصب العین لري تاسې یې هېڅ مه بولئ او په هېڅ یې حساب کړئ، ځکه چې انسان په اصل کې هغه چا ته نه وایي چې ظاهري بڼه لري او د انسانانو جامې یې اغوستې دي، دغسې کسان چې له خوراک او څکاک نه هغه خوا نور څه نه پېژني او له خوند ولذت غیر بله قبله او کعبه نه لري هغه باید د هوا د مرغانو په شمېر کې راولو او داسې یې وګڼو، چې دوی په دنیا کې یې له دېنه چې یو څه دانې او څه مېوې وخوري او ګڼو بوټو کې وګرزي نور هېڅ کار نه لري او د هېڅ کارنه دی، بې عقیدې کسان هېڅ وخت او په هېڅ کار کې ثبات او استقامت نشي پیدا کولی او نه یو اساس موجودیت لري، بلکې لکه د لارو او کوڅو خځکې داسې دي چې هوایي بادونه یې هرې خوا ته وړي او لوبې پرې کوي.

څوک چې عقېده لري او پخپله عقیده ټینګ وي هغه ارو مرو د عزت او ارادې خاوند وي او د نمرود له کارو دپاره یې تربیه کولی شي، همدا عقیده ده چې په انسان کې خوف و رجاء اخلاص او ایثار، مقاومت او ټینګار پیدا کوي، چې نه بیا سړی د خپل اعتقاد په لاره کې له مشکلاتو ویره لري او نه د سرو مال څه پروا کوي، دا د عقیدې کار دی، چې د سر دښمن ورونه کوي او دوه ورونه سره غلیمان کوي، ځکه چې دا قرابت او اشتراک په نورو ټولو کې نسبتاً غالب دی او دوستۍ او دښمنۍ باندې هم حاکمیت لري، کوم ملت چې هلته ټول افراد په یوه عقیده روزل شوي وي او په یوه عقیده ورغونډېږي هغه د سکه ورونو مثال

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري او هر يو د بل داسې ملګري وي، چې مرګ او ژوند يې سره تړلي وي.

همدغه پيدا کوي او کوښښ کوي چې هغه عقيده په ټولو افرادو کې ټينګه کړي، ځکه دوی باور لري چې بې له عقيدې نه يو ملت نشي ملت کېدی او يو معنوي قوي اتصال پکې نه پيدا کېږي، د همدې له امله ټينګار هم د هغوی د عقيدې په ټينګوالي کې اټکلوي او په همدغه اعتبار ورته ګوري.

پدې وخت کې ځينې کسان چې د اقتصاد ډېر طرفدران دي او له حد تېر اهميت ورکوي هغوی ګمان، بلکې يقين لري چې د يوه ملت د اتصال دپاره د منافعو اشتراک خورا زيات ضروري دي او پدې وخت کې بې له اقتصادي منفعت څخه بل شی د انسان شايق او وړاندې بيوونکې نشي کېدی، ځکه چې دوی دا عصر مادي عصر بولي او ګمان کوي، چې نن ورځ انسان هېڅکله د عقدې دپاره قرباني نشي ورکولی او نه په خيالي طلسمونو پورې زړه تړي، مګر دېته نه ګوري، چې انسان د دنيا په زرګونو کالو عمر کې د عقيدې له تاثيره ځان نه دی خلاص کړی او که اوس دا اراد هم ولري، نو له دغسې اوږدې او طولاني سلطې نه ځان خلاصول هم ډېر وخت غواړي او په اسانه نه کېږي، که فرضاً دا خبره ومنو، چې انسان په رښتيا بې له مادي منفعت څخه نور څه نه پېژني او هرڅه د مادي منفت دپاره کوي، نو بيا دا ګمان نشي کيدی چې يو ملت دې د خپلې ازادۍ او خپلواکۍ دپاره د سر او مال قربانۍ ته حاضر شي او يوه سلطه ونه مني، چې هغه يوازې د دوی معنوي موجوديت ته صدمه رسوي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم وخت کې چې يو ملت د سر او مال قربانۍ ته تيارېږي او د خپل استقلال په مدافعت کې هر راز تاوانونه ګالي همدغه د دې خبرې پوره دليل دی، چې انسان لا بېخي مادي شوی نه دی او يوه معنوي عقيده ورسره موجوده ده، چې دغسې قربانۍ ته يې حاضروي، ځکه چې د مادي منفعت دپاره څوک ځان نه وژني او نه خپل سرونه ښندي، د سربازۍ دپاره يا ټينګ ايمان په کار دی يا يوه داسې عقيده، چې د عشق په مرتبه کې وي او معنوي عالي عشق وبلل شي.

د عقيدې پيداکول او ټينګول خوشې په خوشې نه کېږي، بلکې يو قوي او مقتدر روزونکي غواړي، چې عملاً د عقيدې په نشر او تحکيم کې برخه واخلي او پخپله د خپلې عقيدې عاشق وبلل شي.

که څېرې يو سړی غواړي، چې په تش تبليغ يوه عقيده په خلکو کې پيدا او ټينګه کړي، لکه د يو مليت او وطنيت عشق يا د کوم مسلک پېروي او پالنه، دا کار هېڅکله نه کېږي او نه کومه صحيح نتيجه ورځنې اخيستل کېږي، ځکه چې پداسې ځايونو کې له غوږونو نه سترګې زيات دخل لري او خلک له دې لارې ډېر متاثر کېږي همدغه سبب دی چې هېڅوک اورېدل او ليدل يوراز نه ګڼي او د ديده وشنيده ترمنځ فرق کوي.

که چېرې يو سړی ديو مظلوم يو مفجيح او بد حال په سترګو ويني، د هغه په حال يې زيات زړه سوزي او ډېر متاثر کېږي، مګر کله يې که چا نه واوري، که څه هم هغه سړی پخپله وينا کې يو سحري او ادبي تاثير هم پيداکړی بيا هم هغومره زړه سوی او تاثير نشي پيداکولی، د همدې لامله اوس ځينې پاخه او مقتدر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکونکي خپل مهم مطالب د ډرامې او تمثیل په صورت په صحنو او تیاترونو کې ښیي، چې په لیدونکو باندې مجسم اثر وکړي او حاضرین د سترګو او غوږو د لارو حواسو په احساس متاثرشي نو هغه فایدا او لېدر چې یوه عقیده او یو فکر عملاً خلکو ته ښیي او په ژبه هم په موثر ډول تبلیغ وکړی شي، چې د ده احساسات او جذبات پکې راڅرګندوي، هغه ارومرو په نورو اثر کوي او یو قسم هیجاني امواج د خلکو په احساساتو او روحیاتو کې پیدا کوي، که دا دوه شیه په یوه تبلیغ او تلقین کې نه وي هغه د عادي خبرو مثال لري او هېڅ پرې نه مرتبېږي، لکه چې د ورځې په زرګونو خلک یو بل ته وایي (ښه کوئ بد مه کوئ) مګر هغوی بد کوي او ښه نه کوي.

په هر ملت کې د فکري او روحي اجتماع او اشتراک دپاره د لویې عقیدې او مفکورې نشر او تبلیغ خورا ضرور او حتمي ایسي، مګر د دې کار دپاره دغسې مبلغین، چې په ژبه او په عمل پر نورو باندې اثر وکړی شي لا ډېر ضرور ایسي او د یوه ملت لومړنۍ احتیاج ګڼل کېږي.[1]

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۳ل کال، ٦، ۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له کار سره علاقه

زمونږ په رسمي دوايرو کې ښايي چې دا ټکی (له کار سره علاقه) ډېر واورئ او همدغه شی د یوه مامور په پېشرفت او سوانحو کې ډېر اهمیت لري، که واړه دوایر له نظره لېرې کړو او د مملکت کارونه په مجموعي ډول په نظر کې ونیسو او وګورو، چې دغه کارونه څنګه او په څه راز کېږي؟ ښه دي او که خراب؟ بیا هم دا ټکی (له کار سره علاقه) تر سترګو کېږي او د سړي په زړه کې دا فکر اچوي، چې ترڅو مامورین او هغه کسان چې رسمي او اجتماعي وظایف لري له کار سره علاقه پیدا نکړي کارونه نه ښه کېږي او هېڅ نه کېږي. دا خبره ماپه وارو وارو ستا او دبل له خولې اورېدلې او هر څوک چې لږ او ډېر د اجتماعي درد اظهار کوي همدغه ځای د خارښت ځای ګڼي او ګروي يې، که رښتیا ووایم تشخیص بد تشخیص نه دی خلکو مرض را له پېژندلی دی، مګر په علاج کې نه دي ګړېدلي ماپه یوه نیم اجتماعي کتاب کې هم لیدلي یا د ځینو په تعبیر په کتابو کې یې هم راوړي دي چې له کار سره علاقه خورا ضروري ده او همدغه علاقه د دې باعث کېږي، چې د سړي ټول فکر د کار خواته تمرکز پیدا کړي او همدغه د فکر تمرکز د کارونو د اصلاح، د اشخاصو د دقت او د اسې نورو فضایلو سبب ګرزي، هرڅومره چې له یوه کار سره علاقه زیاتېږي هغومره سړی هڅه کوي، چې هغه کار پخپله موقع کې په صحیح ډول اجرا شي او هېڅ راز نقص پکې پاتې نشي، که د دې خبرې دلیل هم غواړئ څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه خبره نه ده، که په علمي فورمولونو ستاسې قناعت لږ څه ګران وي په ولسي خبرو هم ستاسې قانع کول امکان لري.

کله که تاسې د خپل کور په ابادولو او عمران کې پخپلو مزدورانو پسې څار کړی وي درته به معلومه شوې وي، چې یو مزدور له کار سره څومره چل ول کوي او خپله ورځ څنګه تېروي، دا خو مشهوره خبره ده چې ناراسته لوګری خپل لور په لوټه تېره کوي او دا بې له دېنه چې دوی له کار سره علاقه نه لري بل سبب نه لري. ډېر خلک دي چې سړی ورځنې پوښتنه وکړي چې څه حال دی؟ وايي شکر دی شپې تېرېږي، نو ته ووایه څوک چې محض د شپو او ورځو تېریدل غنیمت ګڼي او شکرونه باسي هغه به کارته په څه نظر ګوري او د هغه به له یوه کار سره څه علاقه وي؟ زما په ګمان ډېر کسان دي چې ښه ښه ساعتونه د همدې دپاره اخلي، چې مازدیګر په دایره کې کومه دقیقه زیاته تېره نه کړې، ډېر لږ کسان به وي، چې د سهار د حاضرۍ فکر به هم لري، مګر یوازې حاضري څه کړو څوک چې یوازې حاضرۍ سره علاقه لري هغه د دغه اجتماعي مرض علاج نشي کولای، مونږ له کار سره علاقه غواړو نه له تشې حاضرۍ سره.

دلته دا مقصد نه دی، چې زه نو حاضرۍ ته په درنه سترګه ګورم، بلکې دا وایم چې باید په حاضرۍ ټینګوالی د کار دپاره وغواړو او له کار سره علاقه څنګه پیدا کېږي؟ که یو ریاست او یا وزارت وغواړي چې مامورین یې له کارسره علاقه پیدا کړي څه به کوي؟ په یوه مملکت کې څه عوامل باید پیدا شي چې خلک له کار سره صحیح علاقه پیدا کړي او وظیفه د وظیفې په لحاظ وپېژني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې غټو تپوسونو جواب، چې ډېر فکر او سنجش غواړي. اصلاً یوه داسې موضوع ده چې باید د افتراح په ډول د ډېرو پوهانو فکر ته وسپارل شي او ډېر څه پکې ولیکل شي، ځکه چې د کوم سړي که یوې خواته پام شي بله خوا یې له نظره لیرې پاتې کېږي په دغسې پوښتنو کې هر چاته یو شی ډېر مهم معلومېږي او ټول زور په هماغه خوا اچوي، علاوه پدې د هر کار علل او اسباب هم په یو شان ښکاره نه وي، ځینې علتونه ډېر پټ او ډېر موثر وي، نو اکثره اشخاص ښکاره څرګندو شیانو ته ګوته نیسي او د پټو پلټنې نه کوي، نو زه که دلته څه وایم هغه به همدغسې شی وي او د دې پوښتنې پوره جواب به نه وي.

د اجتماعي وظایفو او مملکتي امورو د علاقه مندۍ دپاره ډېر شیان ضرور دي، چې ځینې یې ډېر عمر او ډېر وخت غواړي، چې باید یو ملت وروسته تر ډېرو مراحلو، چې تشکیل یې نسج او پوخوالی ومومي او د تعلیم وتربیې په اثر کې یو اجتماعي شعور پیدا کړي چې مملکت ورته خپل کور ښکاره شي او د مزدورانو چم ونکړي، دې حد ته رسېدل د ډېرې مودې کار دی او یوه طولاني عرفاني نقشه غواړي، زه په دغسې عللو کې اساسي بحث نشم کولی او تش همدومره وایم په کوم ځای کې چې صحیح کار نه پېژندل کېږي او همدغه شی د پېشرفت سریع عامل وي، هلته له کار سره ارومرو علاقه پیدا کېږي، یعنې دغسې چې یوه مامور ته حاضرې او معاشات استحقاق معلومېږي که کار او له کار سره رښتیانۍ علاقه څه اجر ولري ارومرو خلک له کارسره علاقه پیدا کوي. دلته باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مقصد توضیح شي او ووایم چې د کار مبصرین کولای شي په لاس لاندې مامورینو کې د کار علاقه پیدا کړي، مګر دا هله چې کار لیدونکي ظاهربین نه وي او ځوک یې په هغه دغه نشي غولولی، یعنې محض حرکت او منډې رامنډې د دوی په مخ کې نه حجاب کېږي او د هر چا په کار کې ډېر واړه ذرات هم لیدی شي او پوهېږي، چې دا کار علاوه په کمیت څومره صحت او کیفي حسن لري او په دې هم پوه وي، چې د دغه سړي په نظر کې چې دومره ډېر کار کوي څه غایه موجوده ده؟

څومره چې د ده د کار هنګامه ده هغومره کاریګر دی که یه؟

څوک چې د ده کارونه راته ستایي هغوی تش کار او ظاهري حرکاتو ته ګوري که په کیفیاتو کې هم تعمق کوي؟

ځینې وختونه سړی د خلکو له خولې(چې عمومي نغاره یې باید وبولو اوري چې فلانکی...هېڅ په کار ستړی کېږي نه او له فولادونه هم سخت او کلک دی، هغه بله ورځ چې سخته سیلۍ وه څوک له یوه کلي بل کلي ته نشو تلای، مګر ده له خپل ماموریته څوکوره لیرې فلانکي ځای ته، چې نه پوهېږم هلته څه پېښ شوي و، ځان ورساوه او په هماغه ورځ بېرته هم راغی، اکثراً دغسې اوازې لویو لویو ځایوته هم ورسېږي او دغسې ځینې نور عوامل هم پیدا شي، چې سړی جدي او فعال معرفي کړي، مګر چې سړی ورپسې څار وکړي هغه په هغه ورځ همدغه مقصد، یعنې هنګامې اچولو دپاره دا کار کړی وي او نور کسان، چې پدې سُر پوه شي هغه هم له دغسې تظاهر او عصري ریا کارۍ ځنې کار اخلي او خوشې په خوشې هرې خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسونه ځغلوي، نو دېته سړی له کار سره علاقه یارښتیانی فعالیت نشي ویلی او نه په دغسې جدیتونو او حرکاتو کارونه ښه کېږي.

دلته بیا مجبورېږو چې ووایو په هرځای کې چې د کارونو په لیدو کې ډېر دقت کېږي او صحیح کار قدر او قیمت لري هلته خلک له کار سره علاقه پیدا کوي او ښه کار کوي، ځکه چې انسان یو ترقي خواه موجود دی او له خپل پېشرفت او ارتقا سره ټینګه علاقه لري، که د ده په مخکې نورې لارې بندې شي چې په دروغو او ریا، تملق او چاپلوسۍ، غلا و فریب او نورو غیر مشروعو وسایلو پیشرفت ونکړی شي او پدې هم پوه شي، چې دلته کاریګر او بیکاره پټ نه پاتې کېږي، سړی د چا په سترګو کې خاورې نشي اچولی د وړاندې تګ دپاره یې بې له همدغې یوې صحیح لارې بله لارنشته. په شخصي اعتباراتو او اشنایي ګانو سړی نشي چلېدلی څوک له چا نه سترګې نه پټوي او نه په چل ول کارکېږي.

اړومرو صحیح کار ته ملاتړې او له کارسره علاقه پیداکوي، مګر که سړی وګوري، چې په ځینو نورو وسایلو سړی ډېر ګرانېږي او د پېشرفت په لاره کې صحیح کار اوله درجه عامل نه دی، څوک چې یوازې کار کولی شي او د پېشرفت دپاره نور وسایل نه لري د هغه غاښ هم څوک نه ګوري هلته، نو په افرادو کې یا نور فعالیتونه پیدا کېږي، چې هغه زرنګي، چالاکي څه وڅه غواړي یا خو داسې شی، چې په شپو ورځو تېرولو شکرونه باسي او هېڅ نه کوي، بلکې اکثریت او عمومیت دې خواته میل کوي او په عوض کې یاس او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدبينۍ ځای نيسي، د صحيح پېشرفتونو مثالونه او نمونې له خلکو ورکې شي او غلطې نمونې تر نظرلاندې وي.

د دې ټولو خبرو مقصد دا دی، چې انسان په اجتماعي حيات کې د مقايسې او نسبت په اصولو ډېرکلک دي ښه او بد حق او ناحق د کاميابۍ او ناکامۍ په رڼا کېويني او د نتايجو له مخې حکمونه کوي، ځوک چې ورته په حيات کې لږ څه کامياب معلومېږي د هغه پيروي او تعقيب کوي او لکه چې وايي: (ختکی له ختکي نه رنګ اخلي) اشخاص هم يوله بله متاثرکېږي او تقليد کوي، نو که چېرې هغه کسان چې له کار سره علاقه لري وپېژندل شي او ښه وګڼل شي، د پيشرفت دپاره نور غير معقول مسايل خنثیٰ شي او يوازې صحيح کارکول له کار سره علاقه لرل يو قوي موثر عامل وبلل شي. ځوک چې خپله وظيفه په ښه شان اجرا کوي دېته محتاج نشي، چې خپل کار وستايي ځان يوه او بل ځای ته ورسوي او د دلربايۍ دپاره له سلو نيرنګو کار واخلي. اورمرو له کار سره صحيح او رښتيانۍ علاقه پيدا کېږي او ځوک خپل لور په لوته نه تېره کوي، نه هغه فعاليت او لياقت چې بايد په کار او وظيفه کې صرف شي بلې خواته صرفېږي او نه غلط مجري پيدا کوي.[1]

[1] - کابل مجله،۱۳۲۴ل کال، ۴مه ګڼه، ۴ -٦ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهې غرور

هغه څوک چې پخپله پوهه مغرور دي او هر څه د پوهې په رڼا کې غواړي زښت ډېر غولېدلي او د ژوندانه په ضروریاتو، د کامیابۍ په اسرارو، د خوشبختۍ او خوشحالۍ په وسایلو کې یې هېڅ فکر نه دی کړی. د انسان له پوهې او هوښیارۍ هغه خوا نور شیان هم شته چې د ده په کامیابۍ او شخصیت کې ډېر دخل او تاثیر لري، مګر خلک دغه تاثیرات د ده د پوهې او هوښیارۍ محصول او ګمان کوي، چې ټول کارونه په عقلي او علمي لیاقت باندې کېږي.

همدغه سبب دی چې ځینې کسان یوازې د علم په زور هر څه غواړي او بل هېڅ شي ته توجه نه کوي. دلته د علم او عقل له فضیلت او اهمیت نه څه انکار نه کوم او پدې پوهېږم، چې دغه انکار جهل او ناپوهي ده، مګر د دې دپاره چې ځینې کسان نورو شیانو ته هم ملتفت شي او د علم و عقل له غروره نجات ومومي وایم، چې د انسان په خوشبختۍ او خوسحالۍ، لوړتیا او کامیابۍ کې ځینې نور شیان دخل لري، چې باید څوک ورځنې سترګې پټې نکړي او په بې اعتنابۍ ورته ونه ګوري.

ډېر ځله دوه تنه له یوه مکتبه را اوزي او په یوه دایره کې کارکوي، مګر هغه څوک چې په مکتب کې اول نمبر وي دلته ببرته پاتې کېږي او هغه بل واړندې ځي او حق هم لري، چې وړاندې ولاړ شي، ډېر طالبان له یوه ملا نه د ملایۍ پګړۍ وتړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر يو په جامعه او محيط کې ښه ومنل شي او هغه بل چې په حاشيو او نکتو ښه پوهېده هغومره اعتبار نکړي پيدا، ډېر اشخاص شته چې پخپله پوهه او لياقت ځانته دوستان پيدا کوي، خلکو ته سمه او صحيح لاره ښيي او پخپله هم په ښه لاره درومي، مګر ځينې نور پر لور کارونه کوي او هرڅوک ورته په بد نظر ګوري.

په دې کې هېڅ شک نشته، چې پوهه او علمي لياقت د انسان جمال او کمال دی او د هر چا په نظر کې ښکلې ايسي، مګر هر چا ته به پخپل ژوند او حيات کې معلومه شوې وي، چې په هر ښکلي څوک زړه نه بايلي او په يوازې ښکليتوب دلبري او دلربايي نه کېږي.

د انسان په پېشرفت او کاميابۍ کې ډېر واړه شيان، چې هېڅ په نظر کې نه راځي ډېر تاثيرات لري چې هغه بايد له پوهې او لياقت سره يو ځای شي. کوم سړی چې علم او پوهه لري، مګر ښه اخلاق او صحيح کرکټرنه لري په حقيقت کې هېڅ نه لري، هغه څوک چې دا هم لري، مګر د يوه خوږ صحبت او بيان قوت نه لري هغه هم نيمګړی دی او ځينې اشخاص ترينه وړاندې کېږي، څوک چې دا ټول صفتونه او مزايا پيدا کړي، مګر د نظافت او معاشرت د اصولو پابند نه وي بيا هم د چا نه خوښېږي او په حيات کې ځينې ناکامۍويني، که دا نقيصه هم رفع شي او دا ټولې نيمګړتياوې پوره کړي سره له دې هم که سړی زحمت کښي او فعاليت نه لري دی بېرته پاتې کېږي او نور خلک دمخه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غېر له دغو شيانو ځينې نورې خبرې هم شته چې په يوه او بل محيط کې فرق کوي او د هر ځای د خصوصيت تابع وي، په هر ځای او هر محيط کې يو څه معنوي صفات او مزايا شته چې په سړيتوب او انسانيت ورځنې تعبير کېږي، دا صفتونه بايد مونږ په يوازې پوهه او هوښياری، جاه و جلال، تروث او تمول، بلکې د انسان په اخلاقي او نفسي کيفياتو کې يې وګورو.

زه دامنم چې سړيتوب، پوهه اوهو ښياري غواړي، مګر يو شی نه دی او په ځينو مواردو کې سره بېلېږي، ځينې کسان به وي چې علم او پوهه به نه لري او سړيتوب به لري، کله به يو سړي پوه او هوښيار وي، مګر د سړيتوب دعوه به نشي کولی.

څنګه چې پوهه په بېلوبېلو مواردو کې فرق لري يو سړی د کتابو په تورو ښه پوهېږي، بل د خلکو په اوضاعو ښه پوره وي، ځينې په منطقي اصطلاحاتو او فلسفي مباحثو کې ډېر معلومات لري، ځينې نور په اولسي خبرو او کارونو ښه پوهېږي، دغسې د سړيتوب مفهوم هم په هر ملک او هر محيط کې بيلېږي او د اشخاصو جمعيتونو په نزد ډېر ثابت او معين صورت نه لري، مګر دومره پوهېږو چې تهذيب او ترتيب د سړيتوب په مفهوم کې مهمه برخه لري او همدغه شی د يوه انسان د پاره ترهرڅه دمخه ضروري دي.

د سړي معنیٰ دانه ده چې ارومرو به زيات علم او معلومات لري يابه په کوم فن او صفت کې ډېر ماهروي، دا رازصفات چې په علمي لياقت يا پوهه ورځنې تعبيرکېږي ديوه سړي انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیثیت او سړیتوب ته قدر کوي او ښه مرسته ورسره کوي، مګر یوازې همدغه شی سړی نشي مسعود کولی او نه تش علمي قابلیت سړیتوب بلل کېږي، که لږ څه نور هم تعمق وکړو یوازې سړیتوب هم د یوه انسان د خوشبختۍ او خوشحالۍ دپاره کافي نه دي.

دلته زما مطلب له خوشبختۍ څخه همدومره شی دی، چې یو انسان په اجتماعي حیات کې خلکو ته موفق او مسعود ښکاره شي او دی هم خپل ځان ناکام ونه ګڼي او مایوس نه وي، د دې مطلب د حصول دپاره البته د یوه سړي پوهه او سړیتوب ضرور دی چې په خپله پوهه او لیاقت ځینې کارونه وکړی شي او د سړیتوب او انسانیت په جامعه کې خپلې شپې ورځې ښې تېرې کړي، چې څوک ورته په بد نظر ونه ګوري، مګر یوازې دا چې سړی کار وکړی شي او د سړیتوب او انسانیت په جامعه کې خپلې شپې ورځې ښې تېرې کړي، چې څوک ورته په بد نظر ونه ګوري، کفایت نه کوي، سړی باید د یوه او بل د توجه جلبولو او د ځان د محبوبیت دپاره ځینې نور شیان هم ولري، یعنې د امېزش قوه، نشاط او بشاشت، د ملګرتیا تمایل، د محبت جاذبه، ښه څېره، صمیمیت ښودنه، د محبت دپاره ایثار، صداقت او کرامت نفس، وقار او متانت جدیت او فعالیت او داسې نور صفتونه هم په کار دي.

دغه راز ټول شیان، چې جمع شي د یوه سړي شخصیت ورځنې تشکل مومي او دغه مقبول او محبوب شخصیت د انسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې د ژوند ټولې کندې کېږې او اروي او په صحيح پيشرفت کې ورسره مرسته کوي. د دې ټول بحث نتيجه دا ده، چې بايد سړی د يوه صفت په لرلو لکه علم او عقل يا ښه سړيتوب او فعاليت مغرور نشي او د تش لياقت تر غرور لاندې رانشي.

ډېر کسان شته، چې په اجتماعي وظايفو کې داخل شوي دي او پخپل پېشرفت نه دي قانع، ځينې کسان په تصور کې راولئ، چې هغوی ورته له ځانه ټيټ معلومېږي او په دغه حکميت يا مقايسه کې يوازې يو شی په نظر کې نيسي، مګر دېته نه ګوري چې په يوه ګل هېڅکله نه پسرلی کېږي.

سړی بايد په حيات کې دقيق او عميق شي او وپوهېږي، چې انسان ډېرو شيانو ته وړې پرزې په سير و حرکت کې ورسره مرسته کوي، يو انسان هم په يوه يا دوو شيانو کې که څه هم ډېر مهم او قيمتي وي، خپل پېشرفت ته ادامه نشي ورکولې، دغه راز لياقتونه چې نور معاونه صفات نه لري، بې له ياس او بدبينۍ بله نتيجه نه لري. دغه راز کسان خپلې نيمګړتيا ته نه ګوري او بې دقته په محيط او جامعه پړه اچوي او د يوه ناقص او بې تعمقه حکمت په اثر په حيات کې د اجتماع او اجتماعي جرياناتو په نسبت بدبين او مايوس شي.

که څوک غواړي چې اجتماع ته نږدې شي او له اجتماع نه استفاده وکړي، د علم او لياقت غرور دې له ځانه ليرې کړي، خپله هوښياري او د بل ناپوهي دې په منځ کې حايل نه ګڼي، سړيتوب او انسانيت دې نه هېروي، بلکې رادې شي او له اجتماع سره دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل غم شریک کړي او خپله خوشحالي دې هم د نورو له خوشحالۍ سره یوځای کاندي، خپل زړه او فکر دې له دوی نه بېلوي، یو ځای دې ورسره خاندي او یوځای دې ژاړي، د دوی په خوښه دې کار کوي، چې د ده په خوښه هم کار وشي خپل ځان، خپلې جامې خپل، فکر خپل ژوند ، خپل ذوق، خپل شعور او هرڅه دې د محیط او جامعې په څېر رنګ کړي او دغه صیغه دې په ځان کې پیدا کاندي، ځکه چې خوشحالتیا او کامیابي همدلته ده او هېڅوک یې بل چېرته نشي پیدا کولی، هر څوک چې له اجتماع نه لیرې شو او خپل زړه او فکر یې له دوی نه بېل کړ هغه په اور کې لوېږي او شپه ورځ سوزي!

د (من شذ شذ في النار) همدغه معنیٰ ده او د دنیا دوزخ همدغه دی.[1]

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۴ ۵،کنه ۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل، قانون، غرایز

انسان که څه هم د عقل او تمیز خاوند دی او په همدغه شي خپل ځان له نورو حیواناتو بېلوي، مګر په خپلو کړو کې د عقل په نغوته دومره نه ځي، لکه چې غریزه یې یوې خوا او بلې خوا ته بیایي، کوم کارونه چې یو انسان په شپه او ورځ، میاشت او کال یا پخپل عمر کې کوي اکثراً یې د غریزې په قومانده اجرا کړي وي او ډېر لږ خورا بیخي لږ کارونه داسي وي، چې د عقل او سنجش په اثر کې شوي وي- دا چې مونږ کله یو شی ښه ګڼو راته بد ایسي، کله ګرزو او کله کینو، کله خاندو کله ژاړو، له ځینو شیانو وررېږو او په ځینو خوشالېږو، اکثره د غریزې کار دی او د عقل مشوره وکړي، عقل هم د اوبو څښل مصلحت ګڼي او اجازه ورکوي، مګر دی د ګټې او فایدې تر سنجولو او صحت ساتلو له فکره پخوا د غریزې په امر کنډول په سر را اړوي او اوبه څښي، نو مطلب دا نه دی، چې ټولې غریزې او افعال له عقل او مصلحت نه مخالف دي یا هر څه چې انسان د غریزې په تقاضا کوي هغه عقلاً ممنوع او غیر مفید وي، بلکې مقصد دا دی چې انسان پخپلو کړو کې د غریزې تابع دی او عقل د غریزې غوندې سابق نه دی، د انسان په ژوند کې ډېر لږ کارونه پېښېږي، چې هغه د خیر و شر سنجولو او فکر کولو په اثر اجرا کېږي.

ډېر کارونه دي چې انسان یې د مینې یا غضب د پاره کوي او عقل سړی ورځنې منع کوي، مګر د غریزې په مقابل کې یې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوله پیاز هم نه خوري، ځکه چې غریزه د انسان په اعصابو او عصبي جهاز کې نسبت عقل ته ښخ ځای او قوي حاکمیت لري او دغه حاکمیت په اطفالو او هغو کسانو کې چې طفولیت ته نږدې وي، یعنې معنیٰ کوچنی بلل کېږي او عقلي قوه پکې ښه نه وي قوي شوي، زیات لیدل کېږي، که مونږ په کلي، کور، وطن او هېواد، بلکې په نړۍ او دنیا کې سترګې وګرزوو او ځان د لویو او وړو اشخاصو له حال احوال او ژوندانه څخه خبر کړو راته به څرګنده شي، چې په دنیا کې لږ خلک تېر شوي یا فعلاً شته چې په ځینو مسایلو کې په غریزه بریالي شوي او د عقل په مشوره یې له غریزې نه مخالف کار کړیدی، په ډېرو لویو شخصیتونو کې سړی دغه نادر صفت موندلی شي او پوهېږي چې د عشق او غضب خواهشاتو او احساساتو له سکندر سدونو څخه اوښتل او د عقل په نغوته تلل څه اسان کار نه دی، چې هر څوک یې وکړی شي او هر یو پرې وستایل شي.

ترڅو پورې چې بشري نوع د عمومیت او اکثریت په لحاظ یوه معنوي رشد او عقلي بلوغ ته ونه رسیږي او علم لکه رزق او روزي هر چا ته لږ او ډېر ونه رسیږي هېڅ امکان نلري، چې عقل د غرایزو ځای ونیسي او په دنیا کې یو حقیقي عدالت قایم شي، مګر د دې خبرې دا معنیٰ نه ده چې مونږ به له ځانه نا امیده کېږو او هېڅ کوښښ به نه کوو چې ځان له هغې خوا نه دې خوا ته لږ څه نږدې کړو، ځکه چې په دنیا او د دنیا په تاریخ کې مونږ څو قرنه پخوا داسې نمونې او مثالونه پیدا کولی شو، چې د عدالت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیام او د حقیقت خوشحالتیا دپاره یې د عقل په مشوره داسې کارونه کړي، چې له غرایزو نه بیخي لیرې معلومېږي، ډېر د واک او حکم خاوندان تېر شوي دي، چې د حکمت او قضاوت په وخت کې یې د زوی او د ځان مینه هم هېره کړې ده او خپل ځان و پردی ورته یو شان ایسېدلی دی، داسې هم پېښ شوي دي چې عشق هم په دغه لاره کې مغلوب شوی او انسان له دغسې شخړو څخه بریالی راوتلی دی، نو دا کار د انسان دپاره څه غیر ممکن او محال نه دی او کېدی شي، چې انسان په اجتماعي او رسمي امورو کې د عقل او شریعت قانون او ټاکلو اصولو په لاره ولاړ شي او خپلې مینې او محبت، نفرت او عداوت ته څه اعتنا ونکړي، د همدې لامله انسان د شریعت لخوا د یو څه قوانینو په منلو مکلف شوی او په ځینو بدو کارو باندې، چې دی یې بې د عقل او مصلحت له مشورې د خپلو احساساتو او خواهشاتو یا غرایزو په اثر کې وکړي جزا مومي، د هر ملک او هر هېواد په اساسي قانون کې هم څه اصول او ضوابط شته چې انسان به د هغو نه مقابل کې په غرایزو پښې ږدي او خپل طبیعي او شخصي میل ته به نه ګوري، یعنې څنګه، چې یو سړی خپل مریض زوی ته، چې ډېر ورته ګران هم وي یوه داسې غذا نشي ورکولی، چې هغه ورته ضرر کوي، که څه هم هغه یې ډېره تقاضا کوي او په ژړلو یې غواړي، دغه راز یو خزانه دار هم خپلو خپلوانو ته بې رسمي برات او حوالې څه نشي ورکولی او نه یې یو حاکم او قاضي یو امر او واکدار د خپل ورور او خپل دوست هغه راز مراعات کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، چې اصول او قانون يې روا نه بولي. ډېر څه د انسان زړه غواړي، مګر کولی يې نشي او نه يې کوي، ځکه چې سړی پرې ملامتېږي او خلک ورته بد وايي، مونږ خپلو غرايزو او خپلو خوښيو ته په شخصي امورو کې تابع يو او غاړه ورځنې نشو غړولی، مګر د اجتماعي مسئوليت په ځای کې بيا ورسره په مجادله مکلف يو.

دمثال په ډول وايم که يو معلم په يوه مکتب کې ځوتنه خپل او پردي شاګردان لري، چې په زړه کې د ځينو شاګردانو لوړتيا غواړي او لورينه يې په هغوی باندې زياته وي. دی دا کولی شي، چې بې له رسمي اوقاتو هغوی ته ته تعليم ورکړي او له نورو نه زيات څه ور وښيي، مګر دا نشي کولی چې د تعليم په وخت او د مکتب په کوټه کې خپله ټوله توجه همدوی ته وقف کړي يا د لمبرو ورکولو په وخت کې خپلوان او اشنايان پالي، ځکه چې پدې وخت او په دغسې ځايونو کې محبت او عاطفه ګناه ده او د عدالت ملا ماتوي د دغه راز مراعاتونو او غرايزو له جغ لاندې په دغه ډول تګ په اجتماعي لحاظ يوه لويه تباهي ده، چې زيان او ضرر يې زښت ډېر دی او د خلکو مخه هم يوې صحيح او سمې لارې څخه بلې خواته را اړوي، هر څوک کوښښ کوي چې په کږو لارو خپل مطلب ته ورسېږي او د دې په ځای، چې حقيقت وپالي اشخاص پالي او د وسايلو درګاه ته لاس غزوي هيچاته د اعتماد بنفس او سعی عمل قوه نه پاتې کېږي او نه پداسې ځای کې سړی دجرياناتو په لړکې څه انتظام او معقوليت ليدی شي. دلته ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک دا ګمان وکړي چې په هرځای او هرهېوادکې ارومرو یوڅه قوانین او اصول وي، چې څوک دغرایزو اطاعت یادمینې او غضب پیروی ته نه پرېږدي او هرسړی مجبور وي چې دوست او دښمن چې حق کې لکه یو قانوني کتاب یو ډول حکم وکړي او هرچاته په یوه سترګه وګوري. دلته نو ضرور ایسي، چې سړی په قانون خبرې وکړي چې قانون څنګه شی دی او څه کولی شي؟ په اجمالي ډول خو همدومره ویلی شم چې قانون په یوه ملک کې داسې مثال لري لکه برق چې ټول ښار او ټول کورونه رڼا کوي، مګر که چېرې وشلېده نو ډېرکورونه هم سېزي او مسول یې هم نه پېژندل کېږي، یعنې په عین رڼاکې تورتم لري او له ګټې سره یې زیان هم تړلی دی.

د دې دپاره چې خبره ښه روښانه او سپېڅلې شي جزئیاتو ته به راشو او مثالونه به وښیو.

دوه تنه شاهدان که دیوه سړي په بدوالي شاهدي ورکړي هغه شرعاً او قانوناً بد ګڼل کېږي. که دکلي، کور خلک په یوه سړي بد ووايي یادیوه ځای حاکم او علاقه دار د چاپه حق کې د بدوالي نظریه ورکړي هغه ته ارومرو سزا ورکول کېږي. پدې قانون باندې هېڅوک څه اعتراض نشي کولی، ځکه چې که قانون د انسانانو قول او وینا ته څه اعتبار ورنکړي او سند یې ونه بولي د دنیا معاملې او کارونه ټول بې اجرا پاتې کېږي او د ژوندانه چارې معطلېږي، نو ضرورت او احتیاج عقل او نقل د همدې خبرې تائید او تاکیدکوي چې باید د یوه انسان او مسلمان خبره اعتبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري او دهمده په وينا حقيقت وپېژني، نو که چېرې هغه شاهد او هغه خلک چې يوه سرې ته بد وايي پخپله بد وي او د عناد له مخې د هغه په حق کې څه وايي يا د حکم د خاوند د دغسې پټو ظلمونو مخه ونيول شي او هېڅ واک په هيچا څه ظلم ونکړی شي، نو د دغسې ملاحظاتو په اثرکې ويلی شو چې قانون ديوی غذا مثال لري، چې يو فاسد وجود کې فاسد مواد ورځنې جوړېږي او بد تاثيرکوي، مګر که نه وي نو سړی ژوندون هم نشي کولي دهمدې لامله ځينې کسان ځينې خلکو ته خپل کارونه په داسې وخت کې وړاندې کوي، چې د هغه طبيعت ښه وي او پام يې په نيکو وي همدغه راز خلک اکثراً موفق هم وي او موقع شناس ورته ويل کېږي، ځکه چې په ډېرو خلکو کې د طبيعت ښه والی او بدوالی دومره تاثيرلري چې ښه يې له پامه بدېږي او بد ورته ښه ښکاره کېږي، که څوک به څه مجبور وو، چې دکار لپاره به يې د چا وچولي نه کتل بيا به يې دوستان او اشنايان پرې جرګه کول.

که چېرې څوک د خپلو تاثر او احساساتو تر اثر لاندې راتلای او هرچا دحق او حقيقت په تقاضا او دقانون دصحيح استعمال په خوښه کارکولای څه به خلکو ديوه او بل ناوړه مراعاتونه کول، ولې به خلکو ويلې، چې مربي لرې مربا خوره، د څه لپاره به يوه او بل ويلې چې زه بې وسيلې يم، زه واسطه نلرم هرڅه په واسطه کېږي، داټولې خبرې خو بې څه نه دي او خوشې په خوشې خلک دا نارې نه وهي. کوم کار چې ځينې کسان يې په يوه ساعت غوره مالی‌یا په لحاظ او خاطر کوي هغه د کوه قاف ديوان هم نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی، نو ترځو پورې، چې خلک په لحاظونو پسې ګرزي او په خوشامدو خوشحالېږي، ترکوم وخته چې خوشحالتیا په انسان حاکمیت لري او مراعات په حق او حقیقت غالب وي قانون او عدالت به مهم داشنا او نااشنا شعور لري او کارونه به ډیر ځله داشخاصو په کیفي او نفسي اغیزو، دوخت او موقع په تقاضا، د یوه او بل په سفارش اجراکېږي. دا حال البته دیوه ملت داجتماعي حیات رنځورتیا او او بدوالی ښي، مګر د دې رنځورتیا علاج هم ډېرګران دی او یوه اساسي مجاد له غواړي، ډېرشیان په کاردي چې دیوه ملت په اجتماعي حیات کې تغیر او تحول پیښ کړي یا په بل عبارت بد عادتونه ورک کړي او دخلکو مخه له کږو لارو راوګرزوي.

دیوه ملت لوړه او عالي رتبه په غرایزو باندې د مامورینو حاکمیت، د اداري چارو پوره لټون، د کار کوونکو اشخاصو مجبوریتونه رفع کول، دښو او بدو نه ورکیدل او نه پټیدل، دچاپه ظواهرو نه غولیدل، بد او ضرري خلکو ته مخه نه ورکول، داټول ددغسې اجتماعي اصلاحاتو دپاره ضرور او په عین حال کې ډېرګران کارهم ایسي. دلته باید د ډیرو خبرو دنتیجې په ډول ووایو چې انسان طبعاً د خیرخواته مایل او خیر خوښوونکی پیدا شوی دی، مګر په طبیعت کې یې دلوړتیا ارزو او ځینې نفسي خواهشات هم شته چې که دی په ښه لاره نشي ور رسیدلی او موانع یې په مخکې وي، نو بیا به په پټو او کږو لارو هم ځان ور رسوي او دځینو مجبوریتونو په اثرکې بد او ناوړه کارونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، نو د دې دپاره چې له انسان څخه بداو ناوړه سلوک ونه لیدل شي لازمه ایسي چې د ده لپاره یوښه سرک او سمه لاره جوړه شي چې خپلو مطالبو او مقالبو او مقاصدوته پرې ورسېږي او لارې کړو لو ته خپل مجبوریت حس نکړي، دا لاره باید ډېره او ږده هم وي چې دی یې د اوږدوالي په سب بله له اغزو ډکه لاره او پېچومی غوره کړي. دغه لار دې باید را وښودل شي چې په تاپسې بیناسترګې هم ځار کوي او ستاښه وبد په هېڅ شان نه پټېږي او نه ځوک دربانديې غولېږي، نور خلک هم باید له هغه لنډو لارو منع شي، ځکه چې انساني رمه هم لکه مېږې او پسونه داسې ایسي، چې که یو له لارې کوږ شي نور هم ورپسې ځي.[1]

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۳ کال، ۹ ګڼه، ۵ – ۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اجتماعي نظام

کارونه او وظایف دوه ډوله دي، یوه قسم ته انفرادي او بل ته اجتماعي ویل کېږي. دا چې یو سړی د یوه فرد لپاره خدمت کوي د شخصي او انفرادي کارونه په حساب کې راځي، مګر هغه څوک چې د خپل مملکت او ملت لپاره کار کوي دا اجتماعي وظایفو په نامه یادېږي.

هر کار او هره وظیفه په دغو دوو لحاظونو د قدر و قیمت په لحاظ فرق کوي او رنګ یې بدلېږي که یو عالم د یوه فرد تعلیم لپاره استخدام شي هغه بیل حیث لري او که په یوه مکتب یا مدرسه کې څو تنو ته تعلیم ورکوي هغه په بل نظر لیدل کېږي که څه هم دواړه یوه وظیفه اجرا کوي، چې نوم یې تعلیم او ښودنه ده هغه سړی کور ساتنه کوي او دیوه شخص نوکروي بیل نوم لري، مګر څوک چې د مملکت په عسکري نظام او دهېواد ساتونکو په جمعیت کې داخلېږي بل نوم او بل نشان پیدا کوي انفرادي. کارونه له یوې صحیح موازنې لاندې نه راځي او نه یو معین قیمت پیدا کوي، مګر اجتماعي وظایف ځانته یو معیار او میزان لري، هغه کاتبان چې د مفردو اشخاصو لپاره کارکوي په معاشونو کې یې ښایي چې ډېر فرقونه ولیدل شي، مګر د دوایرو کاتبان او سرکاتبان ماموران او مدیران ټاکلي معاشونه لري او څوک پکې تغیر نشي کولی همدغه شی دی چې معاش له مزدورۍ او اجورې نه معناً او کیفاً بېلوي او یو اغرازي حیثیت او اعتبار ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر دغه اعتباري رنګ دومره قوي او پوخ دی، چې د دغو کارونو نوعیت او حقیقت بیلوي او د هر چا په نظر کې یې بل بل راز ښیي، هغه څوک چې معاش اخلي او هغه څوک چې مزدوري او اجوره اخلي ډېرفرق لري او بیل بیل اشخاص ګڼل کېږي.

دغه معنوي قیمت چې په معاش کې شته لږ معاش کې شته لږ معاش ته په ډېره اجوره ترجیح ورکوي او یو مامورقانع کوي چې په ډېره مزدورۍ پسې ولاړنشي او دخپل خدمت نوعیت بدل نکړي، یعنې له رسمي دوایرو او اجتماعي وظایفو څخه شخصي خدمتونو او نوکریو ته زړه ښه نکړي او ماموریت په مزدورۍ بدل نه کاندي، څنګه چې یو فرد نورو افرادو ته ضرورت او احتیاج لري او د اجورې یا څه نفع او فایدې په مقابل کې خپل کارونه په یوه او بل اجرا کوي دغه شان اجتماع هم ډېرکارونه او ضرورتونه لري چې له افرادونه یې غواړي او په مقابل کې معاشونه ومنافع ورکوي، مګر دومره فرق شته چې یو فرد له خپل شخصي ثروت څخه هرڅومره چې وغواړي چاته یې ورکولی شي.

پخپلو تصرفاتو کې دکوم قانون او معین نظام تابع نه وي، مګر اجتماع ځانته یو نظام او قانون لري او پخپلو کارو او اجرااتو کې بې انتظامي نه خوښوي، ځکه یې دلته افراد داسې حقوق پیداکوي چې اجتماعي نظام په عدالت او منظمو اجرااتو مکلف کوي دهمدې لامله په رسمي دواېروکې یو معیار موجود دی او بې د وظایفو قیمت نه د رتبو معاش څه فرق نلري یو کاتب ۲. (مثلاً) په هر وزارت او هر ولایت کې یو اندازه معاش لري او دیته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مجبوربږي چې د معاش د پاره د خپلې تبديلۍ کوښښ وکړي د دې موازنې ساتل ځکه ضرور دي چې يو خو اجتماعي عدالت نه ساتل کېږي او بل د وظايفو تقسيمم هم خرابېږي او هر څوک هغه ځای ته هڅه کوي چې د ده کار هلته زيات قيمت لري، دلته مقصد دا نه دی چې ټول کارونه دې يو قيمت ولري، بلکې مطلب دا دی چې يو کاردې په يوه او بله دايره کې فرق نه لري يو محاسب يا يو د تحرير کاتب بايد په هره داېره کې يو راز استحقاق ولري هسې نه چې يو معلم اويوکاتب دې سره برابروي، ځکه چې دلته د کار او وظيفې جنس بدلېږي او هر يو د خپل اهميت او تکاليف په لحاظ بېل قيمت پيدا کوي غيرله دغې موازنې چې بايد په معاشونو کې وساتل شي لکه چې ساتل شوې ده يو بل شی هم ډېر ضرور دی او د خپل ضرورت په اندازه ګران هم دی ځينې کارونه په ځينو دوايروکې شته چې هلته د ځينو غيرمشرعو استفادو مجال هم شته، نو که د دغه راز استفادو مخه ونه نيول شي، د يوه اخبار کاتب (مثلاً) کوښښ کوي چې د يوې علاقه دارۍ کاتب شي دلته که څه م هم په معاش کې فرق نشته، مګر په معيشت کې فرق شته هغه ورځ زما يو دوست د خپل صحبت په ضمن کې وويل څو کاله مې تعليم وکړ پس له هغه چې کلي او کورته راغلم واده مې وکړ او مجبور شوم ځانته معاش پيدا کړم، زه او زما يو خيښ چې دباجه او سانډو په نامه يادېږي دواړه راغلو او په دوايرو کې ماموران شوو، زه دتعليم خاوندوم يو کتاب راته ميسر شو او هغه سواد نه درلود په يوه دايره کې تحويلدار مقرر شو، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحویلداري یې داسې وه چې مصرف یې زیات درلود او د ناوړې ګټې مجال پکې وځوکاله وروسته زه یوې رتبې ته ورسیدم او نوم مې وګاټه، مګر هغه ډېرې پیسې او پولې پټې پیدا کړه هغه بله ورځ چې زما زوی هغه کره ورغلی و، چې بېرته راغی راته ویلي یې ترور کره مې یوه داسې ښه راډیو وه او داسې ښه سازیې کاوه، په کورکې یې ډېرې ښې ښې قالینې هم اوارې وې او ښه ښه چپرکټونه یې لرل د ترور زوی مې راته ویلې چې تاسې ولې راډیو نه اخلئ ؟

دلته زما دوست راته وویل چې زه له خپل نصیب او قسمته کوم شکایت نلرم او دانه وایم چې دتحویلدار صاحب بېسوادي له مانه ښه شوه، ځکه چې که ماته هماغه تحویلداري سره له هغه مفاده راکړه شي زه به یې دځان لپاره عار او تنزیل وګڼم.

مګر دانه وایم چې دغه راز مظاهرپه ځینو اشخاصو تاثیرکوي او ځینې کسان له معنویت نه مادیت او له صداقت نه خیانت ته را کاږي، په اجتماعي نظام کې باید دغسې غیر شعوري بې عدالتي هم رانشي او داسې ونشي چې یو د تعلیم خاوند او یو بېسواده په معشیت کې دومره فرق ولري چې اطفال هم پرې پوه شي یو اجتماعي نظام که یو نویسنده او دعلم خاوند ته له یوه بېسواده تحویلدارنه زیات معاش ورکوي او پدې باب کې دحق سنجش او دکارقیمت ته قایلېږي غرض به پکې همدغه وي چې دهغه معشیت له دې بل نه ښه شي او امتیاز یې راشي نو که نتیجه بالعکس شي او دغه راز اجتماعي نواقص په ځینو دوایرو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رفع شي او څوک يې جلو ګيري ونکړي د معاشونو عدالت هېڅ نشي کولی او اجتماعي نظام د چاشکايت نشي رفع کولی. د اجتماعي نظام مهمه وظيفه داده چې په يوه ملک کې عدالت قايم کړي او هرچا ته د خپل کار د قيمت او اهميت په قرار برخه ورکړي؟او د سنجش او موازنې په اثرکې هرڅوک د خپل استحقاق په اندازه وروزي که يوه سړي ته يو فرد له خپل ماله هرڅومره شی ورکړي يا يو تن له خپل پتې او تجارت څخه هر څومره ګټه وکړي بل سړی څه ګله نه کوي او نه د اعتراض حق ځانته ورکوي، مګرکه اجتماعي نظام بې له کوم حق او استحقاقه يو ته زياته برخه ورکوي ډېر نور خوابدي کېږي او له خپلو وظايفو سره يې علاقه کمېږي. دلته ښايي څوک ووايي چې تحويلدارته اجتماعي نظام دغه راز لوړ معشيت نه دی ورکړی او دا دغسې مثال لري لکه چې يو غل په غلا او يو بډې خور په بډو ډېرمال پيدا کړي او له يوه بل مامور نه بډای شي، دا خبره رښتيا ده چې اجتماعي نظام هغه ته دومره مال نه دی ورکړی، بلکې هغه له اجتماعي نظام نه غلاکړې ده مګر که يو قاسم او ويشونکی (چې بايد يوشی په څوتنو داسې وويشي چې هرچاته خپل حق ورکړي او هېڅ بې عدالتي پکې رانشي) په تقسيم کې وغولېږي او ځينې کسان ترينه له خپل حق نه زيات څه پټ کړي هر څوک ورځنې شکايت کوي او عدالت هم ناراضه کېږي د دغسې غلاګانو مخه نه نيول علاوه پدې چې په ځينو مامورينو کې د شکايت فکر او شعور پيداکوي او ځينې کسان په بدولارو بيا يې د اجتماعي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصور او بې پروايي هم ښيي ددغسې اصلاحاتو لپاره يو اساسي فکرپه کاردی چې بايد په حسابي او شعوري سيستم کې اساسي اصلاحات وشي او محاسبين لکه دحساب ماشينونه داسې نه وي چې حساب او شمېرصحيح وښيي، مگر نظراو بصيرت هېڅ ونلري ښايي چې په ځينو دوايرو کې ډېرداسې تحويلداران پيداکړو چې په څوکالو کې يې له خپل معاشه يوپه لسه زياته گټه کړې او پخپل حسابي تخصص درلوداى ښايي چې اوس مې په حساب کې ډېرا اصولي نواقص ښودلي واى او دا ثابته شوې واى چې په حسابي امورو کې ځينې ناقص شته چې بايد رفع شي.

د مثال په ډول وايم يوه رسمي دايره چې دځينو شيانو اخيستلو ته ضرورت لري، نو له تحويدارسره يو دوه تنه دهئيت په ډول مقرر کړي چې هغه شيان په بازار کې واخلي او رايې وړي دغه هئيت که هغو شيانو ته په هرڅومره زيات قيمت قايل شي او د دکاندارانو کلانتريې تصديق وکړي حسابي دواير پکې څه نه وايي او دا کار اصولي گڼي، مگر د هغې دايرې يو سړى هماغه شيان که په بازار کې په نيم قيمت واخلي دا کار د مسئوليت موجب گرزي او دخيانت اتهام پکې پيدا کېږي نو دغه راز تحويلدار چې ديوه شي قېمت د دوه درې تنو په خوشحالولو او خوله خوږولو يو په لسه زيات ښودلى شي، نشي کولى؟ چې ناوړه استفادې وکړي او ځان بې مسوليته موړ کاندي، کولى يې شي کړي يې دي او وبه يې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغسې مواردو کې که زموږ اجتماعي نظام مکمل وي، په بازار هرڅه معین او ټاکلی نرخ ولري بې له دېنه چې هئیتونه وټاکل شي او تصدیقونه واخیستل شي، تحویلدار هېڅ نشي خوړلی او هرڅه پخپل اصلي قیمت اخیستل کېږي.

دلته دیوه حکایت په ضمن کې دیوه مامور او یو تحویلدار خبره منځ ته راغله او د بحث د مرکزیت حیث یې پیدا کړ، مګر اصلي او اساسي مطلب دادی چې په اجتماعي وظایفو کې باید یوه موازنه او شعور موجود وي او دهر چا وظیفه او کار د یوه صحیح معیار له مخې قدرو قېمت ولري هغه څوک چې اجتماع ته علمي او معنوي خدمتونه کوي له هغو کسانو چې د الاتو او ادواتو وظیفه اجرا کوي اومنډې رامنډې وهي هم دمعاش او معشیت په لحاظ، هم د اهمیت او اعتبار له حیثه لوړوالی او تفوق ولري او مادي ومعنوي تقدیر یې وشي چې هېڅکله دعرفاني وظیفې خاوند خپل ځان له اداري رجالونه کم ونه ګڼي او خپل اهمیت داجتماعي نظام په نظرکې لږ محسوس نه کاندي.

هغه کارچې اشخاص یې کولی شي له هغوکارونونه چې دېره موده تعلیم او تحصیل غواړي بې اهمیته معلوم نشي او په لحاظ قدر وقیمت ولري. که داسې نه وي نو علمي او عرفاني خواکمزورې کېږي او هرڅوک اداري چارو ته میل کوي. یو اجتماعي نظام باید خپل مامورین پدې هم پوه کړي چې هرڅوک هرکارنشي کولی نو که یود علم او معرفت خاوند ځانته اداري کارپیدا کړي هغه پیشرفت چې هلته کوي ښایي چې دلته هغومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

موفق ښکاره نشي او په عادي اشخاصو کې وګڼل شي، دا پوهول د ژبې او وینا کارنه دی باید په اجتماعي وظایفو کې هرڅوک چې کوم امتیاز او فوق العاده مهارت په کومه خواکې لري هغه وپېژندل شي او قیمت پیدا کړي، یعنې دا سې ونشي چې هرڅوک پزه توره کړي او ځان اهنګر وبولي، دغه راز شعور او بصیرت چې په اجتماعي نظام کې وي هرڅوک دیته مجبور وي چې دخپل استعداد او لیاقت له مخې یو کارانتخاب کړي نه دکاراو وظیفې دقیمت په لحاظ، ځینې کارونه چې خرابیږي او دبې صلاحیته اشخاصو لاس ته ورځي سبب یې همدا وي چې اشخاص خپل ځان او خپل استعداد ته نه ګوري او هرڅوک هماغه کارته وړاندې کېږي چې زیاته ګټه یا ډېرقدرلري، نو وړ او ناوړه اشخاص هماغه وظیفه اشغال کړي او کار لیدونکي هم دومره ډېر ښو او بدو ته نه ملتفت کېږي او په یوه نظر ورته ګوري دا وضعیت طبعاً د اجتماعي وظایفو موازنه خرابه وړي او ټول خلک یوه لورته زور کوي چې بیا سړی ځینو کارونوته په اعلانونو هم څوک نشي پیدا کولی، مګر په یوه بل کار هرڅوک سرونه ماتوي او وسایل ورته ګوري.[1]

[1] - کابل مجله،۱۳۲۴ کال،۹ ګڼه،۳-٦ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځان مینه

سپوږمۍ کله کله په هاله کې ایساربږي، مگر انسان هر وخت د حب ذات نفس په دایره کې راگیر دی او هېڅکله له دې دایرې نشي وتلی.

دا دایره په ځینو باندې دومره تنگه وي چې بې له ده نه بل هېڅوک او هېڅ شي ورسره نه ځایږي، مگر په ځینو کسانو باندې دومره پراخه وي چې عالمونه پکې ځایېدلی شي، څنگه چې وگړي ځینې په وړو او ځینې په لویو کورونو کې اوسېږي، څوک د خپلې استوگنې ځای یو کلی گڼي او څوک یو ښار یا یو مملکت خپل کور او ټاټوبي بولي، دغسې د خلکو د مینې او محبت دایرې هم لویې او وړې دي، مگر دا دایره که هرڅومره لویه وي بیا هم اصلاً د سړي له خپله ځانه چاپېره ده او نور پکې طفیلي وي.

که تاسې په ظاهره یو سړی وینئ چې له یوه او بل سره ډېره مینه کوي یا خپل ځان د کوم میلمه او دوست و اشنا په خدمت کې ستړی کوي دا مینه هم په اصل کې له ځان سره ده او د ځان مینه ورته ویلی شو، ځکه چې نفع یې ده ته راجع ده او گټه یې بېرته د ده کاله ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ووایو چې هر انسان په ځان مین دی او له ځان سره مینه لري یا د انسان په هرمحبت کې چې لـه هرچا او هرشي سره وي دځان مینه پټه پرته ده دروغ یې مه بولئ، ځکه چې له خپل ځان سره مینه او محبت د انسان په غرایزو کې حسابېږي او هېڅوک ترینه نـه دی خـلاص، ځینـو شـاعرانو کـه پخپلـو اشـعارو کـې خپلـو معشوقو ته ویلي دي چې په ائینه کې مه ګورئ چې په ځان مین او زموږ رقیبان نشئ، غولیدلي دي ځکه چې دا عشق او دا مینـه لـه حسـن وجمالـه یـا لـه محسـانو او فضـایلو بـې نیـازي لـري او هـېڅ مادي یامعنوي صفات نه غواړي.

که څوک ښکلی وي او که نه وي، ښه وي او کـه بـد ، جوړ وي او که ناجوړ، عالم وي او که جاهل، خواروي او که بډای لـه ځـان سـره مینه او په ځان پیرزوینه لـري، مګـر دا مینـه د هـر چادفکر او ذوق په لحاظ بېل بېل رنګونه او مختلف مظاهر لري.

یو به وي چې ځانته به ښه ډوډۍ پیدا کول له ځان سره مینـه ګڼـي او دځان مینه به ورځنې خیټواو دخیټې خدمتګار جوړ کړي، بـل به ګمان کوي چې په ښو جامو کې ځان پټول له ځان سره مینـه او پـه ځان پېرزوینه ده.

څوک به عزت او اعتبار ګڼل له ځان سره مینـه بـولي او ځینـې بـه په ډېرو پیسو او جایدادونو کې دغه مینه لټوي.

چاتـه بـه دا ښـه ښـکاري چـې ځانتـه عـیش وعشـرت برابـر کـړي او ځینـې بـه فضـایل پیـدا کول کـه څـه هـم ډېرمشـقتونه پکـې وي حـب نفـس ګڼـي او ریاضـت یـادنفس تـذلیل بـه ورتـه پـه ځـان لورینـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومېږي، نو ویلی شو چې دا محبت د انسان د فکر او ذهن په اعتبار خپل شکل او صورت بدلوي او دانسان شخصیت ورځینې تشکیلېږي په هره اندازه، چې افکار لوړ او عالي وي هرڅومره چې انسان له لوړو معانیو سره اشناشوی وي هغومره یې حب نفس او د انسان مینه هم یو ښه صورت او ښه مظهر پیدا کوي، مګر که فکر او نظر ټیټ وي او څوک ځانته په ټیټ نظر ګوري نو د ځان مینه یې مخ په ځوړي بیايي او په کندو کپرو کې یې غورځوي.

غرض دادی چې په دې باب کې دځان معرفت ډېرتاثیرلري که څوک دځان په پېژندنه کې یوه لوړ او عالي معیارته نه وي رسېدلې او بې له خپل جسمانیت نور خپل نفسي خواهشات پوره کړي، مګر که چا عقلاني او روحاني شعور پیدا کړی وي او ځان له جسمانیته ماورا یو بل شي بولي هغه بیا په نوو روحي او معنوي لذایذو پسې ګرزي او بل راز ارزوګانې ورته پیدا کېږي.

ځینو کسانو ویلي( فکرهرکس بقدرهمت اوست) مګر کیدای شي چې حقیقت بل راز وي او د هر چا همت دهغه دفکر او شعور احساس ادراک په اندازه وي، نو په هر صورت چې فکر دهمت په اندازه وي او که همت دفکر په اندازه وي، خو د فکر او همت ترمنځ یوه داسې رابطه شته چې باید یوله بله سره برابر وي او دځان مینه هم دهمدې دواړو معنوي عواملو په اعتبار یو عالي یا ادني مظهر پیدا کړي او کله کله دځان مینه په یو داسې رنګ کې ولیدل شي چې سړی ورته حب غیر یا د بل مینه وایي. څه موده دمخه دکابل مجلې یوه فاضل لیکونکي ښاغلي خادم د خیر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزيزې ترعنوان لاندې دخپل يوه دوست حکايت رانقل کړی و ، چې هغه لس کاله له يوه فاضل سره چې په محيط کې علمي او فلسفي شهرت لري پدې خبره بحث کړی و چې د ارادې محرک څه شی دی؟

دغه فاضل وايي په ټولو کاروکې دانسان دارادې محرک د ده د (حب ذات)غريزه ده او هغه هرڅوک چې وي وايي انسان بايد دومره خود غرضه نه وي او له حيوانه د (حب نفس )په غريزه کې فرق ولري، يعنې بايد په انسان کې د خير غريزه موجوده وي چې د خير لپاره ايثار وکړي او کله کله له خپلو شخصي اغراضواو منافعوتېرشي. په دې بحث کې ښاغلي خادم د دواړو جانبو دلايل راوړي او په اخرکې يې دخير دغريزې داثبات لپاره دخپل دوست له خولې دوه دليلونه راوړي او وايي چې يوه ورځ په بازار کې تيريدم او يوه داسې سړي چې ښی معتبره جامې يې اغوستې وې له يوه داسې چاسره جنګ درلوده چې زاړه او شکيدلي کالي يې په تن کې و زه د غريب سړي په خواشوم، يعنې د هغوښو جاموخاوند مې ملامت کړ او غريب سړی مې ترېنه خلاص کړ حاضرينو له ماڅخه تشکر وکړ او ماخپله لپاره ونيوله.

(۲)بله داچې يو دښې دريشۍ خاوند په باسيکل سپور او له يوه دهاتي سړي سره يې تصادم راغی او دابېچاره يې په ځمکه راوغورځاوه او علاوه پدې له بايسکله راکوز شو او دغه سړی يې نورهم واهه زه چې دلته حاضر وم ورورېاندې شوم ويل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغا! ته ملامته يې او که داسې؟ ته لاله ده نه معافي نه غواړې او وهې يې که ته داسې نه پرېږدې، نو زه ورځخه جداً مدافعه کوم.

وروسته تردې دوه حکايتونو بيا وايي چې دا باطني عامل او دغه ذهني محرک چې زه يې په دغوځايوکې د دوه مقتدرو سړو په مخکې ودرولم څه شی و؟ وروسته تردې پوښتنې د جواب په ډول وايي يو قسم دترحم او دحق دمرستې احساس په ماغلبه کړې وه او دځان د خطر او ضرر احتمال سره يې دمظلوم په مدافعه کې ودرولم او په دغو حادثو کې مې هېڅ اغراض او منافع خپل ونه ليدل. د مقالې په اخرکې ښاغلی خادم ليکي: دا و زما د ملګري تقريرزه پخپله هم په همدغه عقيده يم چې دغسې يو اساس په انسان کې شته چې ددغې غريزې په اثرکې انسان دخير، حقانيت او وظيفې لپاره ايثار کوي. زه له ښاغلي خادم سره داخبره پوره منم چې انسان ډېر د خيرکارونه هم کړيدي، مګر د ده له دوست سره يو ځوخبرې لرم:

اول خو دغه دوه مثاله چې ده دخپلې مدعا د اثبات لپاره راوړيدي خورا ضعيف دي او دجانب مقابل د دلايلو په مقابل کې څه موجوديت نه لري، دی وايي د ترحم او دحق دمرستې احساس په ما غلبه کړې وه او دځان د خطر او ضرر له احتمال سره يې د مظلوم په مدافعه کې ودرولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د ځان خطر نشته او په دغسې بازاري جنګونو او ګفتګوی کې کومه خبره د خدای له پاره کول یا څه خدای جاتي مداخله د ضرر احتمال نه لري.

البتــه محتاطو کســانو ته بــه داغتــه خبــره ښــکاري او زيــات زړورتوب به يې ګڼي، مګر ځينې نور يې ښايي چې قابل ذکرهم ونه بولي.

بله دا چې وايې په دغو حادثو کې مې هېڅ اغراض او منافع خپل ونه ليدل، مګر لومړۍ حادثې په اخرکې ويې چې حاضرينو له ماڅخه تشکر وکړ، نو دغه دحاضرينو تشکر يا غرض او نفع نشي کيدای پدې کې هېڅ شک نشته چې دانسان په ژوند کې دغه راز منافع ډېرقيمت لري او آن د همدغسې منافعولپاره ډېر ډېر کارونه کوي، مګرزما د دوست دوست که دانفع په نظر کې نه وي نيولې او د ترحم يا د حق د مرستې لپاره يې داکار کړی وي، نو دغسې کسانو سره خو ارومرو داخرت فکرونه وي او دخدای لپاره دغسې خطرونه او ضرورنه تـه وړاندې کېږي، نو بيا هم نشي ويلی چې پدې کې دځان دپاره څه منانع نه و ، مونږ خو دمخه وويل چې دځان مينه دهرچاد فکر او نظرپه لحاظ مختلف مظاهر پيدا کوي.

يو مسلمان چې په خدای او قيامت عقيده لري هغه اخروي ګټه له دنيايې ګټې نه ښه ګڼې او خپل نفس ذليلول، روژې نيول، ځان شهيدول د ځان لپاره نفع بولي او دځان مينه همدغسې کارونو ته وړاندې کوي، نو دغه د خيرغريزه او د خير ذات غريزه څه تضاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نلري لکه چې ده خيال کړيدی اولس کاله يې له يوه فاضل او عالم سره پدې بحثونه کړي دي.

يو سړی به وي چې د خير او نيکۍ په مينه کې به دځان خيرګڼي او حب ذات به يې دخير کارونو ته وړاندې کوي، نو دلته د حب ذات غريزه او دخيرغريزه اتفاق لري او يوله بله منافي نه دي، په دغسې مواردو کې خيرخواهي او خود خواهي څه فرق نلري او دواړه يو شی بلل کېږي دغسې کسان چې دحق اوحقيقت په طرفدارۍ راپاڅېږي او له حقيقي خطرونو څخه هم نه ويرېږي ارومرو يوه معنوي نفع د دوی په نظر او شعور يا ماتحت الشعور کې وي، که چېرې په دنيا کې يو ښه شهرت ياشخصيت ګټل د ده په نظر کې نه وي او نه غواړي چې دخوارانو او غريبانو يا عامې طبقې په نزدځان مقبول او محبوب کړي او ښه نوم پيداکړي ضرور به ورسره خدايي فکرونه او د اخرت سودا ملګرې وي او يوبل راز ګټه به چې د ده په نظر کې به ډېراهميت لري که څه هم نور يې احساس نشي کولی ده ته ځان ښکاره کوي، نوڅوک دانشي ويلی چې ده ته په دغه کارکې دځان منافع او قايدې وي، مګر دانفع او فايده به کله مادي وي او کله معنوي، موږبايد دځان مينه او حب ذات يوازې دا ونه ګڼو چې سړی به ارومرو دجسماني خواهشاتو او دنيوي عيش وراحت لپاره کارکوي، ځکه چې ځينې انسانان دفکرو عقيدې، مسلک او مذهب تربيې او تعليم په اثرکې دځينو معنوي او روحي ګټو لپاره خپل سراو مال قربانوي او همدغه قرباني له ځان سره مينه او په ځان پيرزوينه ګڼي. په اسلام کې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې اشخاص شته چې په (ويوثرون على انفسهم) باندې ساتل شوي دي، مګر د دې معنی داده چې دغه ظاهري ځان او مادي وجود ديوې عالي او لوړې مفکورې دپاره قربان کړي او دخپل روحاني وجود ګټه او فايده يې په نظر کې نيولې ده، نو که سړی په انساني اعمالو او افکارو کې ښه دقت وکړي په هر کارکې يو ډول فايده په نظر کې وي او ديوه عاقل سړي هيڅ ارادي حرکت بې دځان د فايدې نه نه وي. کوم کارونه چې موږ يې دخيردغريزې په اثر کې بولو او خيريې ګڼو هغه ارومرو د انسان لپاره کومه معنوي ګټه لري او د انسان د ذهنيت په اعتبار يوډول احتياج باله شي.

د انسان لپاره خودخواهي او دځان مينه چې حب ذات يا حب نفس ورته وايي عيب نه دی، بلکې صفت دی مګر دا هله چې انسان خپل ځان معناً او مادتاً وپېژني او دځان مينه يې د لوړتيا او فضايلو خواته بوزي، يعنې داسې ونکړي چې نفس او نفسي شهوات وپالي او عقل و ورح چې د انسان اصلي او معنوي ذات ورته ويلی شو له نظره وغورځوي او هيڅ مينه ورسره ونلري.

که يو سړی خود خواه وي او دغه خودخواهي په ده باندې باعث شي چې ځانته علم و فضيلت، نېک شهرت او اخلاقي اعتبار له نورونه زيات پيدا کړي او خپل معنوي او حقيقي تفوق په نورو باندې وغواړي دا خود خواهي يا ځان سره دغه راز مينه يو لوی صفت دی، مګر که خود خواهي خپله مجرا بدله کړي او په بده لار کې صرف شي، نو بيا ترټنه لوی عيب په عيبونو کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښاغلي خادم دوست ويلي چې انسان ولې دومره خود غرضه اوسي او ولې دى حيوان او انسان د (حب نفس) په غريزه کې فرق نلري؟ پدې خبروکې که د ده مقصد داوي چې انسان دې خود غرضي بيخي پريږدي، خو دا هيڅ ممکنه نه ده او داسې نشي کيداى چې انسان له اغراضونه بيخي لاس واخلي، مگر دا کيداى شي چې خپل اغراض ښه کړي او دبدو اغراضو په ځاى ښه اغراض ځانته پيداکاندي همدارنگه د حب نفس په غريزه کې له حيوانه داسې فرق پيدا کولى شي چې دى حب نفس دخير او فضايلو په لټون اوحصول کې وګڼي اوحيوان دحب نفس په اثرکې دخپل حيات دساتنې لپاره ديوه او بل په پټې کې ځان موړ کړي، مگر داسې نه کېږي چې حب نفس بيخي پرېږدي او خوشې په خوشې خپل ضررته ملاوتړي.

ځوک که دانسان لپاره دخيرپه غريزه قابلېږي او د دې غريزې په اثريې له نورو حيواناتو بيلوي ضرور بايد د دې غريزې منشا او ريشه عقل و ادراک وبولي او يو عاقل هرکارکې دځان يوه مادي معنوي، دنيوي يا اخروي ګټه په نظرکې نيسي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۲۵ کال، ۱ ګڼه،٦- ۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان جریده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خان ناظر

خان د ډېر ځمکو او جایداد خاوند و، ځکه یې مزدوران دهقانان او اجاره داران هم ډېرو او ډېر نوکران یې درلودل چې چا ورته اسونه ساتل چا به ټوپک ګرزول او چا به دتازیانو او بازو باښو ساتنه په غاړه درلوده.

خان به په ولس کې سترګې غړولې او داسې سړی به یې دناظرۍ او بالابینۍ لپاره پیدا کاوه چې کال په کال په اجاره دارانو باندې اجارې زیاتې کړي او د دهقانانو په خوارۍ خوارۍ ځمکې ابادې کړي.

ناظر به دخان دخوشحالۍ لپاره له اجاره دارانو، دهقانانو اومزدورانو سره ډېربد سلوک کاوه او خلک به یې له لاسه ډېر په عذاب وو.

د ناظر اصلي منظور د خان خدمت و چې باید ډېرخلک د یوه تن دګټې او خوشحالۍ دپاره په کار واچوي او دغه استثماري وظیفه په ښه شان سرته ورسوي.

ډېرښه ناظربه هماغه و چې خواران نور هم خوار کړي او دخان خاني نوره سم چاغه کاندي، دکورو کلي خلک له خان، نه خپه نه و او له ناظرنه به یې ډېرسرتکاوه، هرچاویل خان پخپله ډېرښه سړی دی خود ناظردې بچې مړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ناظرچې به څه موده ناظري وکړه او خلک به یې پوزې ته راوستل خان به هغه لرې کاوه او بل به یې راپیدا کاوه.
هغه به له پخواني ناظرنه دخان لپاره ډیرې تودې منډې وهلې، ځکه چې (نوکر نو اهو بدو میگیرد) ډېره پخه خبره ده.
هغه به پخواني ناظرته نه کتل چې خلک ورته په څومره کرکه ګوري او څوک یې اوس سلام هم نه اخلي، نه پوهېږم دخان طالع بیدارې وې او که د خلکو بخت ویده وچې هرنوی ناظر به په خان پرستۍ کې له بل نه وړاندې ټوپ واهه او د استثماري نقشو په جوړولوکې به یې خپل ایمان زیات خوار اوه مګرخان یوناظر هم له دوه کالونه زیات نه ساته او خپل خیریې په همدې کې لیدلی و.
په رښتیا چې دریم ناظر به له دوهم نه هم تیره واړوله او دخان ګټه به یې اسمان ته ورسوله. دی به هم څه موده وروسته د نورو له سرنوشت سره مخامخ شو او د ډېرو خلکو دښمني به یې په څو ورځو خپل اولاد ته پریښوده.
دا سلسله همدغسې جاري وه او د ناظر په بدلون به څه قدر دخلکو تسکین کیده او زاړه خاطرات به په نوو امیدونو بدلیدل.
د اولس نخبه اشخاص به دناظرۍ په طمع دخان په شاو خوا څرخیدل او په لطافت الحیل به بې دهغه توجه ځانته جلبوله. په دې مسابقه کې علاوه په چاکرانه اهلیت او لیاقت دخان اعتماد ډېرزیات اهمیت درلود او دغه دبخت باز دهر چاپه سر نه کښیناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نـاظرۍ عمرکـه لنـډ و د سـتاژ دوره يـې ډېـره اوږده او پـه ډېرخدمت دغه عزت او حرمت ګټل کيده.

کجيرخان چې هوښيار او ځيرک سړی و وروسته له ډېرانتظار څخه د ناظر په منظور پوه شو او د غلو دانوکلي ګانې ور وسپارل شوې.

دا ناظرلـه نـورو نـه پـه عقـل او فکرپـوخ و، ځکـه يـې دنـاظرۍ طرزبدل کړ او خلکو ته يې ځان بې واکه او بې اختياره وښود.

ده به چې هرڅه هرچاسره کول هغـه بـه يـې پـه دې پوهـاوه چې دی دخان فکر او اراده تمثيلوی او د يوه تواچي حيثيت لري.

دی پخپله هېڅ نشي کولی، هرڅه چې کوي خان يې کوي، خلک بايد هرڅه له خانه وګڼي او ناظر معذور او مجبور وبولي.

دغه وخت هرڅوک په دغه راز پوه شو چې خبره په کـوم ځـای کې ده، امر او نهې د چا کاردی.

وروسته تردې بيا چا ونه ويلې چې خـان پخپلـه ډېرښـه سـړی دی خو دناظردې بچي مړه شي.

خلـک پـدې وپوهيـدل چې د نـاظر بچي هـېڅ ګنـاه نلري، بلکې پخپله ناظر هم اصلي ګنهکار نـه بلـل کېـږي، هوښـيار ناظرکـه نـور څـه ونکـړه او دخلکوپـه حـال کې يـې کـوم ښـه بـدلون رانـه وسـت دخلکوسترګې يې څه قدرخلاصې کړې او اصـلي نـاظريې هرچاتـه پـه ګوته کړ.

ديته وايي: غير مستقيم خدمت.[1]

---

[1] - افغان جريده، د۱۳۵۱ کال د وري د ۲۱ نېټې ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمیت پېژندنه

نورخلک د کیفیت په تشخیص کې هم ډېرماهر وي او زه د کیفیت په تمیزکې هم غولېږم یا حیرانېږم، د دې لپاره چې تاسې خپل حیرت ته حیران غوندې کړم ځینې مثالونه به درته وړاندې کړم. زما مثالونه ډېرساده دي، مګر زه تر هغو ساده یم او د ډېرې سادګۍ په وجه راته عام فهمه شیان هم مشکل شي.

مثلاً یو سړی په شپه کې شل رکاته نفل په نیم ساعت کې کوي او یوبل یې په یوه ساعت کې کوي او یو بل په یوه ساعت کې دوه رکاته نفل کوي، یعنې یو په یوه رکات کې سورت بقرلولي او هغه بل پکې د فیل سورت.

زه نه پوهېږم چې د رکاتونو په حساب شل رکاته ډېرعبادت وګڼم که دوخت په اعتبار یو ساعت عبادت له نیم ساعت نه زیات وبولم.

یوسړی دکوم شرعي عذر به وجه د جوزا په میاشت کې چې د روژې له میاشتې سره مصادفه وي روژې خوري او بیا دقوس په میاشت کې قضایي روژې نیسي دلته ورځ د یوځل طلوع او غروب په اعتبار دکمیت په تله برابرې دي او که دساعتونو او دقایقو په حساب سنجول کېږي.

په ژورنالیستۍ کې هم دکمیت مسئله پېچیده ګي پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ليكوال يوې جريدې ته يوه اوږده مقاله چې دوه مخه نيسي يوبل دوه ورې مقالې چې نيمه صفحه نيسي.

په دې مورد کې هم دکميت په لحاظ دا سوال پيدا کېږي چې دکوم يوه برخه په جريده کې زياته ده ايا د کميت معيار دمقالو الفاظ او کلمات دي که د مقالو عنوانونه.

په رسمي او ادارې چارو کې هم دکميت مسئله مشتبه کېږي.

په يوه وزارت کې يوماًمور خارج ته سفر کوي اوڅلور مياشتې تيروي يوبل مامور درې ځله خارج ته ځي او هرځل يوه هفته هلته تيروي.

ديوه سفرخرڅ به زر ډالر کېږي او دبل له سوونو څخه تجاوز نه کوي دلته هم حېرانيږم، چې دکميت معيار دسفرونوکرات او مرات دی که ورځې او مياشتې يا د ډالرو حساب د شورى د تقنيني دورې حساب هم رانه ورکېږي.

دا دوره په قانون کې څلور کاله ده په هرکال کې اوه مياشتې دکارموده ده په هره مياشت کې که له عمومي تعطيل سره تصادف ونکړي دولس ورځې دعمومي جلسولپاره تخصيص شويدي چې په دغه حساب ديوې دورې عمومي مجلسونه له (درې سوو څخه) تجاوز نه کوي، نو که چېرې ولسي جرګه په يوه دوره کې څلور سوه عمومي جلسې دايرې کړي او په يوه بله دوره کې درې سوه جلسې هم پوره نکړي يادمشرانو جرګه په يوه دوره کې خپل يو دوه مياشتې اجلاس اصلاً داير نکړي، نو دا دوه دورې به دکميت په لحاظ مساوي ګڼو که څنګه؟ يعنې دکار د ورځو په حساب به

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه دوره له بلې نه کمه ګڼو او که معاش اخیستلو ته به وګورو او دواړه به مساوي وبولو؟

که یو سړی لکه لیمو کوچنی او بل لکه چکوتره غټ وي ایا دوی دواړه دکمیت په لحاظ یو دی که څه دیوه کرتۍ دبل لپاره واسکټ هم نشي کېدای.

که نه دجسامت په لحاظ دیوه اوښ قرباني له اوه پسونو سره مساوي ګڼلی شو او دکمیت معیار سرشماري نه ده.

که څه هم (عقل بسر است نه به سال).[1]

[1] - افغان جریده، ۱۳۵۰ کال دلیندۍ ۲۲ نېټه، ۱٦ ګڼه، ۴۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اداري سیاست

یوه ملګري راته خپله کیسه داسې شروع کړه:

د انتظار په کوټه کې زما غوندې ډېر خلک د ملاقات په امید ناست وو او دروازې ته به یې ترېښولاندې کتل.

له نورو نه خبرنه یم چې په څه چورت کې وو، خو ما پخپل زړه کې خبرې جوړولې او ځان سره به مې کرل او رېبل چې څه به وایم او څه به اورم؟

کله به مې زړه د زمري کړ او په دې فکر کې به شوم چې راشه له اخلاقي شجاعت نه کار واخله خپل قانوني حق په صراحت وغواړه، ځان د شخصیت او کرکترخاوند وښیه او د اهلیت و لیاقت په ښودلو جلالتماب تر معنوي نفوذ او تاثیر لاندې راوله! ګوندې په درانه نظر راته وګوري او مناسب کار در کړي.

بیا به مې ویل هسې نه چې دا راز خبرې په جنابعالي بدې و لګېږي او د سرکار کچرې و تورېږي یاکله شخ ورته ښکاره شم او په چپیانو کې مې و شمېري نوښه به داوي چې اداب او نزاکتونه په نظر کې ونیسم او د اخلاص او عقیدې په څرګندولو د هغه شخص اعتماد او حسن نظر ځانته جلب کړم.

د دې غلامانه فکرتراغېزې لاندې مې د تملق او چاپلوسۍ الفاظ او کلمات لټول او د ماهرانه جملو په جوړولو بوخت وم چې پېشخدمت راغی او زه یې د جلالتماب لوړ حضورته دعوت کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قد نما ائینه کې مې ځانته ونه کتل چې نکتایي او نوره وضع مې څنګه ده او په اول نظر کې به څنګه ورشم؟ په دغسې جنجالي حال کې په دروازه سرکوزی ور ننوتم او په ټیټ سر مې د ارادت لاس ور وړاندې کړ ښاغلی جلالتماب د مهربانۍ له خوا لږ غوندې له ځایه جګ شوی شانته و او خبرې یې له ماسره کریمانه وې.

د کوټې لوکس فرنیچر او نفیس سامان د جلالتماب له عطوفت سره زه ترعجیب تاثیرلاندې راوستم او حیران وم چې د تشکرحق څنګه ادا کړم؟

عادي او معمولي الفاظو نشو کولی چې زما احساسات څنګه چې غواړم هغسې څرګند کړي، ځکه مې د حال او وضع په مرسته خپل عجزاو انکسار تمثیل کړ او حرکاتو سکناتو مې وښودله چې زه څومره ترتاثیرلاندې راغلی یم.

هغه څه چې ښاغلي جلالتماب زما د حال او وضع په هنداره کې ولیدل نو رحیمانه عواطف یې راوپښ غوندې شول او په طولاني صحبت کې یې د برخه راته وویل چې ځینې ټکي یې دادي:

د وطن مینې او احساس زه مجبور کړم چې دا درنه وظیفه په دغسې مشکلو حالاتو او شرایطو کې ومنم او د خدمت په مقابل کې سپکې سپورې واورم، په جرایدو او مظاهراتو کې راباندې تورونه ولګول شي او بشري کرامت مې ترپښو لاندې شي.

د افسوس ځای دی چې دلته وچ او لامده یوشان سوزي او خلک پدې نه پوهېږي چې زه په مجلس کې څه وایم او څه رازپېشنهادونه وړاندې کوم څه وکړم زه ببخي یوازې یم او نور ټول مې یوې خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رغړي زه تاغوندې منور اشخاص ښه ګڼم او قلبي علاقه ورسره لرم، اهليت او لياقت ته په احترام ګورم مګر ته پخپله هوښيار سړی يې او په نيمه پوهېږې.

زه تاته داډ درکوم چې ستا په کار کې به خپل نهايي کوښښ ونه سپه وم، زه ستا په سر جنګ ته هم ولاړيم، ته شل ورځې پس خبر واخله، مګر يو ځل... صاحب او... صاحب هم وګوره.

د ده له حضوره چې مرخص شوم د نورو صاحبانو دليدو په فکر کې شوم او لوړ جناب ته ورغلم، داخل زه دلويانو له حضور سره لږ غوندې بلد شوی وم او په دوهم نقش کې مې مهارت نور هم زيات شوی و. لويان خدای په لويه ورځ پيدا کړي او يو جنس غوندې خلک دي، ځکه يې کړه وړه خبرې او طرز تفکر ډېر مشابه وي.

دغه اعلي جناب هم زه پخپلو خبرو له ځانه ډېر خوشحاله کړم او خپل نظريې زما په باب ډېر ښه وښود، خو دا يې وفرمايل چې زه بس ستا دکار په باب... صاحب ته وايم ته هغه ته ورشه او ورسره په تماس کې شه (!) خدای به هرڅه اسانه کړي. ده کنايتاً زه په دې پوه کړم چې عقل فعال بل دی او (خورد کلانکار) هم بل څوک دی.

دغه وخت ما ته هغه وخت را په ياد شو، چې يوه زيارت ته څوتنه ورغلو او منجور راته وويل: تاسو بايد اول هغه وړوکي زيارت ته ورشئ، چې دلوی زيارت شاته و، ځکه چې لوی صاحب همدغسې ويلي و چې دحاجت خاوندان بايد اول هغه ته ورشي او خپل حاجت دهغه په وسيله له لوی زيارت څخه وغواړي.

دا امر مې هم په ځای کړ او واړه کلانکار ته ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښتیا چې هغه په سیاسي هنر او مهارت کې په نورو مخ اړاوه او زه یې ډېره موده د خوف ورجاء دیاس او امید ترمنځ په اعراف کې وساتلم.

په دغه موده کې یې زه دفوټبال دتوپ په شان یوه بل ته غورځولم او زه هم له ډېرې خوشحالۍ په هوا ګرزیدم، ترڅو چې دوی ستړي شول او زه هم له سرګردانۍ خلاص شوم، مګر په دې پوه نشوم چې کار څوک کوي او دعا چیرته قبلیږي.

زما طالع چاترلي دي او دتوبې ور کوم دی؟ دا هم راته معلومه نشوه چې ښاغلي جلالتماب زما په سرله چاسره جنګونه وکړل او په دغه جنګ کې څه تلفات پیښ شول.

پاک خدای دې زما دغه ګناه راعفوه کړي چې زما په سبب دهغې سنګرمات شو او جلالتمابان یوله بله خوابدي شول.

دغه صاحبان چې زه یې په زیارت څوځو ځله مشرف شوم او هریوه راته خپل نظر ډېر ښه ښوده د نورو لپاره هر یو ټک وپټری وه.

هرچابه ویل فلانکی دهغه صاحب په پېرزوینه او توجه د ولایت یا ریاست خاوند شو او هغه بل معینۍ او معونۍ ته ورسېده.

دا یوازې زه وم چې دټولو په توجه مدیریا مامور هم نشوم.

د ملګري خبرې چې دغه حدته ورسېدې، نو یوه هوښیار سړي ورته وویل:

زیارتونه اکثراً همدغسې وي چې یوه ته مواد ورکوي او بل ته نه.

زیارت ته باید سړی یو شی یوسي چې څه ترېنه راوړي.

چې تش ځې تش به راځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيارتونه نذرغواړي.

ځوک چې د زيارت نغري نه تودوي نغرى به يې همدغسې سوړ وي.

يوبل سړى چې له اداري سياست سره اشنا و هغه خبره له بلې خوا راګرز کړه او ويې ويل:

زه تاسوته څه وايم، مګر تاسي به يې هيچاته نه واياست او زما خبرې به ټينګې په غوږ کې نيسئ، هغه موږ له قسمه تېرکړو او بيايې وويل:

د اداري سياست تقاضا همدغه ده او له نامطلوبو اشخاصو سره همدغسې کوي.

يعنې وزير په معين لاس پاکوي او معين په وزير.

دغسې ساده ځوانانو ته هر يو خپل ځان مهربان او خيرخواه معرفي کوي او بل ورته شيخ مير، يعنې مناع الخيرښيي.

همدغه سياست دى چې مقام دخپل بام واورې په بل اچوي او قسم قسم خلک اعلى او عالي العال مقام ته بدبينه کوي.

داخبره هم ديوه سياستمدار خبره ده ښايي چې داهم د اداري سياست په تقاضا منځ ته راغلې وي او څه چل پکې وي چې ليکونکي او اخبار چلوونکي به هم پرې نه پوهېږي، ځکه يې خپروي.[1]

[1] - افغان جريده، ۱۳۵۱ کال، دغويي ۱۸ نېټه، ۳۵ ګڼه، ۱ - ۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشتباه

کله د اشتباه له مخې داسې هم شوي دي چې د جنګ په محاذ کې یوه جبهه په بلې باندې غالبه شوې وي، مګر دغه د فتحې او غلبې خبرچې دغالبې جبهې مشرته ورکړل شوی هغه بل راز پوه شویدی او ګمان یې کړي چې غلبه د جانب مقابل په برخه ده ځکه سم دلاسه تښتېدلی او ګټلی میدان یې بایللی دی.

دا راز تاریخي اشتباه ګانې به بل وخت ته پرېږدو او سیاسي اشتباهات به هم نه څېړو.

اوس به هغه اشتباه ګانې په ګوته کړو چې لویانو ته جزیې او بې اهمیته ښکاري او تاریخونه یې هم غالباً نه ثبتوي.

وایي چې یو سړی له ځان سره لګیا او ویل یې:

په زړه کې رحم او عاطفه نلري، له ډېرې استغنا چاته نه ګوري، دچاپه ژړا او فریاد یې زړه نه سوزي.

دومره ظلم او ستم، دومره کبراو غرور، دومره تغافل او بې پروایي له هیچاسره نه ښایي.

زه په څومره امید ورغلم، مګر زما عرض یې وانورېده او زماهیلې یې تر پښو لاندې کړې.

خدای دې هغه ماغوندې کړي چې زما دزړه حال ورمعلوم شي.

عاشق دخپلې معشوقې له لاسه دغه راز شکایتونه کول، مګر مخبر اشتباه وکړه او دغه خبرې یې په سرکار والا پورې مربوطې وګڼلې، ځکه یې دهغه په باب ډېر بد رپوټ حکومت ته وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړاو په دغسې اشتباه دعشق محجور د سیاسي محبوس په حیث په زندان کې ولویداو ډېر کړاوونه یې وګالل.

تعجب مه کوئ! دغسې اشتباهاتو ډېرخلک د توپ خولې ته ترلي او ډېر کورونه یې وران کړیدي.

وایي چې په تېرو زمانو کې یو جنت مکان، مغفور او مرحوم امیر د مني په ورځو کې په کوم باغ کې ناست وو، د باغ تر شایو لاروی تېرېده او دا بیت یې په لوړ اواز له ځان سره وایه:

**ای زاغ دریـــن بـــاغ تماشـــا چـــه میکنـــی**
**گـل رفـت وسـبزه رفـت تـو تنهـا چـه میکنـی**

دا غږ چې دمبارک غوږ ته ورسیده دا اشتباه پیدا شوه چې لاروی امیرصاحب په غوږ وهي او د شعر په ژبه ناوړه نسبت کوي، ځکه یې هغه د دغه منحوس بیت په ویلو په بیت الاحزان کې بندي کړ.

داهم وایي چې زړه زمانه کې یو سړي خوب ولیده چې سرې جامې یې اغوستې دي او په اس سپور دی. د خپل خوب په معنی نه پوهېده ځکه یې خپلو ملګرو ته وایه.

یوه ملګري یې د خوب تعبیر په دې ډول وکړ چې ته به پادشاه شې، ځکه چې اس دا قبال نښه ده او سرې جامې سرخ رویي ده.

دا ناوړه خوب او دغه بد تعبیرکوم خبر امیرصاحب ته ورساوه هغه یو قضایي هئیت د دغه لوی جرم اوستر خیانت لپاره وټاکه چې په نتیجه کې خوب لیدونکی ته داعدام جزا تعین شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې هغه وخت دخوب په تعبیر او تفسیر کې معبر اشتباه نه وای کړی او دغه غلط تعبیرمنځته نه وای راغلی خوب لیدونکی به ولې وژل کېده.

که معبر ویلی وای چې سرې جامې دشهادت علامه ده او په اس سپریدل د سرکارسپاهي کېدل دي نه به داخبره کوم ځای ته رسېدلې وه او نه به ورته قضایي مجلس ټاکل شوی و.

څنګه چې معبر د خوب په تعبیر کې اشتباه وکړه قضائیه هئیت هم پخپل قضاوت کې له اشتباه سره مخامخ شو. مقصددانه دی چې داعدام جزا درنه او سنګینه ده.

د دغسې لوی جرم په مقابل کې ښایي چې دا جزا ډېره خفیفه وي.

د قاضیانو اشتباه دا وه چې په خوب کې سرې جامې اغوستل او په اس سپرېدل جرم نه دی حتی په ویښه هم هغه کار جرم نه ګڼل کېږي.

اصلي جرم هغه غلط او ناوړه تعبیر و چې سرې جامې اغوستل او په اس سپرېدل یې پادشاهي وګڼله او سړی یې دتوپ خولې ته وتاړه. قاضیانو د دې پرځای چې معبرته سزا ورکړي د خوب خاوند یې په جزا محکوم کړ او د مجرم په تشخیص کې یې اشتباه وکړه.

اشتباه که هرڅنګه وي او په هر ځای کې وي د عفو وړ ده.

خدای دې سړی بې له اشتباه ګناه څخه ساتي.

هغه څوک چې اشتباه نه کوي او ګناه کوي لویه خطا کوي.[1]

---

[1] - افغان جریده، ۱۳۵۱ کال، دتلې د ۱۰ نېټې ګڼه ۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خان او بډای

نه پوهېږم چې اصلي نوم یې څه و ، مګر خلکو عمرا ناصر باله.
زموږ په علاقه کې ده غوندې بل بډای نه و.
هرچا به ویل چې دقارون سر یې ګرولی دی.
ده به خپلې پیسې په ګرویو او سودونو بندولې او بیابه یې دفصل په وخت کې دګټې بې حسابه غلې راټولولې.
خلک ورته محتاج و ، مګر هرچاروته په درانه نظر نه کتل.
هغه وخت سود خواره خلکو بد ګڼل او هر چاته سپک ښکارېدل.
دا متل به زښت ډېراورېدل کېده چې هندو پیسې ګټې او پښتون کیسې ګټي.
د دنیا مال ته به خلکو دهندو ږیره ویلې.
عمرا ناصرکه فقیر نه و ، نو حقیر خو هرګوره و.
دی بډای و مګر خان نه و او بې پیسو یې نور څه نه درلودل.
جاه وجلال، وقار او اعتبار ؤ ، د اولس مشرتوب د اولس له خان ښاغلي کریم خان سره و عمراهم دخان ترحمایت لاندې ژوند کاوه او دخان تابع و.
دا ځکه چې خان د ستر خان درلود ، حجرې او مهمانخانې یې لرلې، نوکران او مزدوران یې په مخکې ګرزېدل چې تنخااو ډوډۍ به یې ورکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان به خیراتونه کول، بخششونه او انعامونه به یې ورکول او له خوارو غریب سره به یې مرسته هم کوله.

دعمران شوندې به هم دخان په کاسه غوړېدې او پخپل کورکې به یې خوله نه خوږېده.

نه یې په نس خوړله نه یې په تن لګوله.

هغه خپل حساب زیاتاوه او مره یې پوره کوله.

ده خپل نوم ښه کاوه او شان وشوکت یې ساته. لنډه دا چې هغه حریص او دی کریم و.

خانې د خلکو په نظر کې معززه او محترمه وه.

بډایي لکه ډمه که هرڅومره ښایسته وه هغومره بدنامه هم وه.

یوهندو هم بډای کېدای او سېټ کېدای شو، مګرخان کېدی نشو.

مشرې او واکمنې له خانۍ سره تړلې وه.

له بډای سره له پیسو پرته نورڅه نه وو، که ونو هغه وېره وه.

داحال په مرور دزمان ورور ورو بدل شو.

خان دخانۍ خوی او عادت هېرکړ.

دی هم په پیسو مین شو او حرص پرې غلبه وکړه، اوس خان هغه خان نه دی چې پرون و.

اوس د خان سترګې پیسو ته ورېږ دي او همدغسې قبلې ته یې سرپه سجده ایښی دی.

دی اوس زر نه خاورې کوي، بلکې د زرو دپاره خپل ځان او نوم خاورې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحمان بابا دا بیت ده ته بېهوده او بې معنی ښکاري چې وایي:

**داهنردی چې خاورې څوک سره زرکا**
**چې زر خاورې کړي رحمانه هنر دادی**

د پروني خان زوی نن تاجر او قاچاقبر دی.

هغه سودونه چې عمرا خوړل اوس یې دی خوري او لوی سیټ ورنه جوړ شویدي.

دی اوس سره او سپین لعل و جواهر ډېر لري، مګر هغه پخوانی جوهر، وقار او جلال نلري.

خاني چې حامله شوه بډایي ترېنه وزیږېده.

بډایي به هر څه لري، مګر په خلکو کې محبوبیت نلري.

خواران او غریبان که له ناکامه دبډایانو نوکري او مزدوري کوي له بډایانو سره ډېره سخته دښمني هم کوي.

داسې دښمني چې پخلاکېده پکې نشته.

خان که بډای او منفور شو خیر دی.

خدای دې حاکم او حکومت له دغه حاله ساتي.

حاکمانو ته نه ښایي چې بډایان شي او خپله شخصي سرمایه زیاته کړي.

د ولس مشران او زمامداران که دخلکو خدمتګاران کېدای نشي، نو اقلاً باید خانان شي نه هغه سیټان او بډایان چې کرکړې دلته وهي او هګۍ لرې مو له مخه په کوم بل ځای کې اچوي.[1]

---

[1] - کابل مجله، ۱۳۵۱ کال، تله، ۷ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اولس جریده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه حاکم ؟ رښتيا وايم

زه دلته نه وم بل چېرته وم، هلته خلک بل راز وو، کارونه بل رازو، کورونه بل رازو. هلته ما هغه څه وليدل چې تاسې به نه وي ليدلي هغه څه مې واورېدل چې تاسې به نه وي اورېدلي هلته چا پسونه نه حلالول، مګر د انسانانو ونډی به يې کله کله کوله زما څوومه ورځ وه چې يو ښکلی زلمی په رڼا ورځ دڅو تنو په مخ کې چا وواژه مګر دا دظلم واقعه دومره عادي او معمولي تېره شوه چې لوی حاکم خو پرې خبرهم نه شو، وړوکې حاکم خبرشو خو ورته رانه غی، دتحقيق دپاره يې دوه تنه راولېږل، په ولس کې هم څوتنه پيدا شول، چې قاتل يې وښوده او حقه شاهدي يې پټه نه کړه.

مګر د کلي خان او ملک د قاتل له پلاره (پنځلس) زره روپی واخيستې او له وايمه، وايم چې په حاکم په قاضي په چا او چا يې وويشلې، څه دوی وخوړې او څه نورو، دوه زره پکې د مړي پلار واخېستې او په محکمه کې يې مجاني ابرا وکړه، ځکه چې نور ټول په بله خوا وو او د ده له لاسه يوازې څه نه کېدل، مقتول له خپل پلاره د نورو زيات سکنی و، ځکه هغوی خونبهازياته واخيستله په قاتل باندې يو کال قيد وخوت، مګر پلار يې په يوه او بل پسې ګرزېده چې دا بېګناه بندې خلاص کړي، دا واقعه خو مو واورېده اوس بله واورئ زمونږ په کلي کې داسې خبرې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي هغه بله ورځ له ملا صاحب سره ناست وم يو سړی راغی چې دخدای په لحاظ په حاکم يو خط راکړه چې نور مو ونه ربړه وي، زما زوی سيندوړی پخپل اجل مړ دی، مګر حاکم وايي چې چا وژلی او تاسې قاتل پېدا کړئ، ځکه مو په وهلو قايله وم، دغه دی اوس يې زه او زما کډه غوښتي يو، داخبره ماته عجيبه غوندې ښکاره شوه او دحاکم صاحب په عقل وتميزخندا راغله وروسته چا وويل چې په رښتيا د ده زوی چا وژلی او په سيند کې يې غورزولي دی، مګر پلار يې پوهېږي چې څه مې له لاسه نه کېږي، نو ولې ځانته دښمني زياتوم داراز خبرې د برې دي زه تولې نه کوم او له مړو نه تېرېږم ژوندو ته راځم.

يوه ورځ يو زلمی راسره ملګری شو ماله ده نه پوښتنه وکړه چې څه کار کوې ده دخپلې پرېشانۍ کيسه داسې شروع کړه:

مونږ د پرش څلوېښت جريبه پټې درلود نورو تول رانه ظالمانو واخيست اوس دوه جريبه را پاتې دی په دې کې هم مونږ څوک په قراره نه پرېږدي پلانکی صاحب وايي ستاسو په تره مې شپږزره روپۍ دي او درې نيم زره يې سود کېږي، ځکه مې ورور دا درې مياشتې وشوې چې بندي دی. ماوويل کوم شرعي سند په منځ کې شته ويل يې نه، خو وايي چې عرفي سندلرمه، زمونږ تره که څه هم مړدی او حقيقت راته نه دی معلوم، مګر که هماغه شپږزره واخلي او له سودنه تېرشي وربه يې کړم ماتعجب کاوه چې څنګه حقوقي دعوه کې يو سړی بې له شرعي سنده درې مياشتې بندي کېږي هغه زما تعجب رفع نکړ، بلکې نور يې هم زيات کړ او ويې ويل کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کوم مشر سړی راځي او مجس ګوري حاکم زما ورور له پهره دارسره چېرته لېږي لېږي او بیا یې بېګاته بیرته په زندان کې اچوي، زموږ په بندي خانو کې که دغسې دغلابندیان شته چې بې له رسمیته په مجس کې پراته دي ځینې داسې رسمي بندیان هم شته چې د ورځې په زندان کې وي او دشپې کورته ځي دا افراط او تفریط چې یو نوم یې نه اخلم او حقیقت ته دکیسې رنګ ورکوم.

هم دغومره ده زموږ مطبوعاتي ازادي او له دېنه پورته خپله دیموکراسي اجازه نه کوي.[1]

---

[1] - ولس جریده، ۱۳۳۰ کال دسرطان ۱۸ نېټه، ۴ ګڼه، ۱-۲ مخونه.
دامطلب داستاد الفت په مستعار نامه (محتاط ) نشرشوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکر او کار

په موږ کې ډېر لږ خلک شته چې هم فکرکوي هم کار کوي او اکثره داسې دي چې کار کوي فکر نه کوي چې فکر کوي کار نه کوي. دهمدې له امله زموږ اکثره کارونه خراب دي او یوه سمه صحیح نتیجه نشو اخیستلای.

زموږ دا عادت دی چې یو کار په داسې پیمانه شروع کوو چې زموږ له توان او استعده سره تناسب نلري، وسایل او اسباب یې نه وي موجود، لاره او طریقه یې نه وي معلومه، موانع و مشکلات مونه وي سنجولي او ډېرورسته پوه سو چې زموږ پدې فکرکې غلطي وه، د قرغې بند، دلته بند سرک ته د بخارا نهر او دا راز نور کارونه د دې خبرې شواهد دي.

موږ ډېر ځله له خپل معارف څخه شکایت کوو او وایو چې د ۱۲ صنف په اطلایو کې داسې کسان شته چې املا یې غلطه ده او بې سواده پاتې دي، مګر په جواب کې اورو چې موږ دومره ډېرصحیح او لایق معلمین نلرو چې ټولو مکتبونو ته ورسیږي او تعلیمات صحیح شي.

دومره پیسې هم په بودجه کې نشته چې ټولو شاګردانو ته کتابونه او تعلیمي وسایل مهیا شي. که موږ داومنو چې دغه عذرونه صحیح دي او صحیح معلمین نشته نو باید وزرات معارف له ابتدا څخه هماغومره مکتبونه تاسیس کړي وای چې لایق او صحیح معلمین او کتابونه پیداکیدل او پالنه یې ممکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه، مګر دا مکتبونه باید په یوه ښار او په یوه ولایت کې نه وای، بلکې په ټول افغانستان کې وای وروسته چې هرڅومره وسایل او اسباب زیاتېدلای هغومره به یې مکتبونه هم زیاتول او تناسب مراعات به یې کاوه که چېرې دوی اوس هم شل مکتبه په صحیح صورت اداره کولای شي او سل مکتبونه تاسیسوي زماخو ګمان دی چې ډېره لویه سهوه کوي، ځکه چې له هغسې شلو مکتبونو نه سل تنه پوهان راوتلی شي، مګر له دغسې سلو مکتبونو نه شل تنه هم لایق کسان نه راوزي زمونږ دغسې کارونه داسې مثال لري لکه چې سړی یوه ژرنده اوبه لري او دوه ژرندې ورته ړدي، نو په تنیجه کې یادواړه ودرېږي یا خوداسې ګرزي چې دیوې ژرندې کارنشي ورکولی، مګر ژرنده ګړی دوه کوټې دوی ژرندې، پلونه او ناوې یو په دوه تهیه کېږي او له ګټې یې تاوان ډېر وي فایده یې داده چې خلک وایي چې فلانکی خان دوه ژرندې او ژرنده ګړي لري زمونږ تشکیلات همدا منشا لري دیوه سړي کار ته څلور تنه نیسو، دیوه مدیریت وړکار نه ریاست تشکیلوو.[1]

[1] - اولس جریده ۱۳۲۰ کل، داسد ۸ نیټه، ۷ ګڼه، ۱ او ٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وطن

یوماشوم په خپل کور کې خارپوښې کوي او لکه دمرغۍ بچی په خپله ځاله کې اوسي د هغه وطن ډېر وړوکی او ډېر محبوب دی.

د هغه د کورغولی چې هرڅومره وي وطن یې هم هغومره دی چې نه پکې غر شته نه سیند ، نه ښار او نه ډېر خلک وروسته چې هغه ماشوم لویېږي او غټېږي وطن یې هم په همغه اندازه وسعت پیدا کوي او علاقه یې زیاتېږي.

د ده علاقه اول له خپل کلي، بیاله ښار او ورپسې له سمت او ولایت سره پیدا کېږي او چې دغه ابتدایي مراحل طی کړي، نو بیا دخپلې پوهې او اجتماعي تربیې په اندازه د وطن مفهوم او معنی سره اشناشي، یعنې څومره چې پوهه زیاته شي او انسان عقلي رشد او بلوغ ته ورسېږي هغومره یې فکرانکشاف کوي او علاقه یې له وطن سره زیاتېږي بالعکس څومره چې یوسړی له علم او له پوهې څخه لرې پاتی شي او لکه کشمیر اکا په ټول عمر کې له لغمان او سره رود ته نه وي تللی د هغه وطن یوازې لغمان دی او اسمان یې هم همغه دی چې په لغمان کې لیده شي.

دغه شان سپین ږیری هم له ماشوم نه کم نه دی او په ډېر تنګ اومحدود وطن کې اوسیږي کشمیرااکا خو دیرش کاله پخوا مړ شوي دی، مګر ما څلور کاله پخوا په مشرقي کې یو حاکم ولید چې پخپله هم دهمدغه ولایت سړی و.

ده ویل پخپل وطن کې حکومت ښه نه دی او سړی ښه اجراات نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پدې خبره خپه نشوم چې حکمران صاحب ولې یوازې مشرقي خپل وطن ګڼي او د افغانستان نور ولایات ورته پردي وطن معلومېږي یا ولې دغه سړی له دومره لږې پوهې سره دغومره لویې رتبې ته رسیدلی دی؟ بلکې زه ډېرخوښ شوم چې حکمران صاحب یوازې خپله علاقه وطن نه ګڼي، بلکې ټول ولایت ورته خپل وطن ښکاره کېږي او له کشمیر اکا نه د ده وطن لوی او پراخه دی په دېرش کالو کې دغومره عرفاني ترقي زمونږ لپاره بس ده او په ډېرې خوشحالۍ ارزي.

ځینې کسان به وایې چې دیوه حکمران او یوه دهقان مقایسه صحیح نه ده دهقانان به اوس هم یوازې سره رود یا لغمان ته وطن وایي او بس، مګر زه دا خبره نه کوم او پدې ښه پوهېږم چې رتبې د پوهې او عقل په حساب نه دي ویشل شوي ډېرخلک شته چې رتبې لري یا یې رتبې مړې دي، مګر پاک خدای ډېرعقل او زیاته پوهه ورکړې ده او یو بل چې د رتبې له برکته په تېز رفتارموټر کې ګرځي له عقله پیاده دی، نو کیدای شي چې نن یو دهقان د وطن په معنی پوه شوی وي او یو حاکم لانه وي پوه شوی او اوس هم په پردي وطن او اجنبي ملک کې حاکمي غواړي، موږ باید په ظواهرو ونه غولېږو او په رتبو یا جاموتېر نه وزو ډېر خلک شته چې دماموریت نوې خولۍ یې په سر کړېده، مګر په سرکې یې څه نشته. د ډېرو اشخاصو پګړۍ او خولۍ زړې دي مګر په سر کې یې نوي او تازه فکرونه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له موضوع نه لږ غوندې هغه خوا ولاړم، مګر ژر ملتفت شوم او بېرته خپل مطلب ته راګرزم.

د وطن په معنی باندې پوهېدل علم او پوهه غواړي او له وطن سره عشق او علاقه پیداکول اجتماعي رشد او بلوغ ته ضرورت لري.

وطن یوه کور ته ویل کېږي په یوه کلي باندې د وطن نوم اېښودل مناسب نه دي، یوه ښار یا ولایت ته وطن ویل د خندا وړ معلومېږي په یوه وطن کې ډېر کلي، ډېر ښارونه، ډېر ولایتونه موجود دي او راز راز هوا پکې وي.

ځینې ځایونه ډېر تاوده، ځینې ډېر ساړه، ځینې معتدل وي وطن وړوکی کور یا کلی نه دی، بلکې ډېر لوی او سترکور دی او لوی خلک یې لوی ګڼي د ماشومانو او ناپوهانو په نظر کې البته وړو کې راځي او یوازې همدوی پکې ځایېږي.

یو کابلی، ننګرهاری، جنوبي وال، کندهاری، فراه وال، هراتی، میمنه وال، مزازی، بدخشی، بغلانی په یوه کور، په یوه کلي په یوه ښار او یوه ولایت کې نه دي، مګر په یوه وطن کې دي او د یوه وطن دي.

د دغه وطن نوم افغانستان دی چې په ټولو یو شان حق او ټول پکې یو شان حق لري، دوطن په سیوري کې ټول ځایېږي او دوطن په اوبو دټولو تنده ماتیږي وطن د ټولو دی، په ټولو حق لري او ټول پکې حق لري.[1]

---

(۱) - اولس جریده،۱۳۳۰ کال، دسنبلې ۲۶- ۲۷ نېټې ګڼه، ۱-۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملت

زه غوارم دملت په معنى باندې هغه څوک پوه کړم چې په کتابي خبرو باندې نه پوهېږي او پوهول يې ګران کار دی د يوه وطن ټولو خلکو ته چې ديوه پادشاه رعيت وي ملت ويل، يعنې څومره خيلونه او قامونه چې افغانستان کې دي دا ټول يو ملت دی او په يوه نامه يادېږي چې هغه نوم افغان يعنی پښتون دی.

تردې نامه لاندې لکه چې خوګياڼي، شينواري، مهمند، سليمانخيل، تره کي، اندړ، ځاځي، احمدزي، بارکزي، غلجي او دراني ټول راځي دغه شان ازبک، ترکمن، هزاره، نورستاني،تاجک او نورپه دغه نامه کې شريک دي او ټولوته افغان ويل کېږي. د افغانستان ټول خلک په هره ژبه چې خبرې کوي او هر رنګه کالي چې اغوندي څادرونه لري او که چپنې څپلۍ په پښو کوي که پنې ياموزې کندهاري وي که کابلۍ، ننګرهارۍ، وي که هراتۍ، دمزار وي که دميمنې دجنوبي وي که دشمالي دا ټول يودي او يو ملت ورته ويل کېږي چې نوم يې افغان دی.

دا نور نومونه چې د افغانستان بيلابېل قومونه او خېلونه يې لري لکه بارکزي، اڅکزي، منګل، ځدران، دېګان، ايماق او نور داسې مثال لري لکه ديوه سړي لاس، پښه، خوله، پوزه، سترګه،غوږ، زړه او نور غړي چې دېر نومونه لري، مګر د سړي نوم يودی چې احمديا محمود ورته وايي، نو څنګه چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجود په دغو ډېرو نومونو باندې نه دوه کېږي او يو سړی سره له دې ددوه لاسونه، دوه پښې، دوه سترګې، دوه غوږونه لري يو تن بلل کېږي يو ملت هم که څومره قامونه پکې وي لکه يو وجود اويوتن باله شي او اصلي نوم يې يو دی.

هماغه شان چې يو وطن څوقسمه هوا لري او يوځای يې بل ځای غونډې نه وي يوملت هم څوقسمه خلک لري چې څوک يوراز او څوک بل راز معلومېږي، هغه څوک چې دملت په معنی پوهېږي هغه ته دا معلومه ده چې له دغوخېلونو او قامونو نه پورته يو بل نوم شته چې ټول قامونه پکې شريک دي او ډېره لويه لمن لري.

څنګه چې له سيندو څخه ويالې او له ويالونه لښتي بېلېږي څنګه چې په يوه ونه کې شاخونه اوپه يوه شاخ کې څانګې وي دغسې په يوه ملت کې قامونه په يوه قام کې کندې او ټپې شته دسيندونو، ويالو او لښتيو مثال لري، نوکندې ياټپې به بېلې وې، مګر قام به يو له بله بيل وي، خو ملت به بېل نه وي.

وګورئ دپښتنو څومره ډېر قامونه دغلجي يادراني په نامه يادېږي، مګر غلجي او دراني دواړه بيا پښتون او افغان په نامه بلل کېږي د افغانستان ټول اوسېدونکي بايد په دې خبره باندې پوره وپوهېږي چې ديوه ملت خلک ټول يوشان ورونه دي او پښتون وفارسي وان، سني او شعيه غلجي او دراني، هراتي، ننګرهاري، کندهاري، مزاري په دغو بېلوبېلو نومونو له بله نه بېلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې په خپل وطن کې د پرې کورنۍ وينو چې څه يوه ژبه کوي او څه بله يو ورور چې په کابل کې اوسېدلی دی هغه فارسي وايي او بل ورور چې په ننګرهار کې اوسي هغه پښتو وايي، مګر دواړه ورونه دي او هريو هغه بل خپل ورور ګڼي په يوه کور کې داسې وررونه او خويندې هم شته چې پلار يې پښتو او مور يې فارسي وايي يا يې مور په پښتو او پلار په فارسي خبرې کوي.

داسې کورونه هم شه چې يو مسلمان خاوند او يوه نامسلمان مېرمن پکې ژوند کوي او دواړه ديوه اولاد مور پلاربلل کېږي، نوهرکله چې يومسلمان او يونامسلمانه چې په ژبه په دين په وطن او نسل کې بېل دي په يوه کاله کې خوږ ژوند کولای شي، نو په يوه لوی وطن کې به ولې سني او شعيه، پښتون او بل ديوه ملت په شان نشي اوسېدلی.[1]

---

[1] - اولس جريده، ۱۳۳۰ کال، دميزان ۱۳ -۱۴ ګڼه ۱- ۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقیقي غل

په رښا ورځ يې د ډېرو خلکو په مخکې ډېرڅه له مورږ نه پټ کړه،
ستا خوښه چې غل ورته وايې که نه!
زه خو يې غل بولم.
هو! غل دی مګر د پوليسانو په نظر کې نه.
د دې غله لاس قاضي او مفتي نه پرېکوي.
هېڅوک دا غل نه نيسي او نه يې بندي کوي.
د دې غله په ږيره خلی نشته.
ده ډېرڅه له مورږ نه پټ کړي دي او ډېر زيـان يـې را اړولی دی ده
له مورږ نه سره و سپين نه دي پټ کړي.
دی ډېرلوی غل دی.
د ده غلا ډېره لويه او ستره غلا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی مال نه پېژني.
د ده غلاته په عادي نظر مه ګورئ!
دی زمونږ پيسې نه پېژني.
ده ته دمال او دپيسو غل نه شو ويلای.
دی مونږ نه خپل ځان او خپل بد بد کارونه پېژني.
دی خپل حقيقت او ماهيت پېژني.
ځان او حقيقت پېژندل ډېره لويه او ستره غلا ده دا غلاد يوه ملت او مملکت کور ورانوي او ملکونه بربادوي.
په سترګو ننوزي.
له سترګو سره دښمني لري.
هو! دا غل له سترګو نه رانجه نه پېژني، سترګې پېژني دي له مونږ نه ډېر حقيقت پېژني او د حقيقت غل دی، ده ته بايد حقيقي غل ووايو.[1]

---

[1] - پښتو نثرونه ۱۳۵۰ کال، ۷۹ -۸۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بندیوانه

ماستابندیان ولیدل، ستازندان هماغه شان له خاینانو اومجرمانو نه ډک دی.
ستاپه زندان کې ډېر رشوت خواره او دخیانت خاوندان واچول شول، مګر رشوتونه او خیانتونه ورک نه شول.
په هېواد کې ورځ په ورځ د دوی ډله زیاتېږي.
په دوایرو کې د رشوت بازار هماغسې تود دی او اجراات خراب دي.
اصول او قوانین که هرڅومره سختې سزاګانې تعین کړي جرایم نه ورکېږي.
اوس څه بله چاره او بل فکر په کار دی.
د مملکت درد په دغو سزاګانو دوانه شو.
وهل، ټکول، بندیانول او وژل بې تاثیره شول. خلک په دغو عذابونو او تکلیفونو عادي شول او د زندان وېره له سترګو لاړه،
اوس بل علاج وکړه او بله چاره وسنجوه!
زندان او بندیتوب موږ اصلاح نه کړو.
حبس او توقیف موږ له بدو کارونو له خیانتونو، له رشوتونو او غفلتونو راونه ګرزولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه! چې زه او ته په دې باب کې غور وکړو او د اصلاحاتو لپاره یې موثر علاج پیدا کړو.

ماپه دې فکر کې ډېرې شپې سبا کړې او د حل لاره مې موندلې ده که زمامنې راشه!

هغه بې ګناه بندي چې په هغه توره کوټه کې پروت دی خوشې کړه او له زندانه یې راوباسه!

که هغه ازاد شي د ټول مجرمین او خاینین به که خدای کول بې بندي توبه په سمه لاره روان کړي او کارونه به ښه شي.

ته نه پرېږدې او په توره شپه کې د کارنقص او عیب موندلی شې.

د هغه دید او نظر ډېر تېز دی او خیانت ترې نه ډېر په ویره کې دی د هغه ازدي د علم، د ترقي او د فکر د پالنې د پاره ډېر ضرور دي.

راشه! د غه بې ګناه بندي د خدای لپاره او د مملکت د خیر او بهبود لپاره ازاد کړه.

که ته هغه نه پرېږدې زه حاضریم چې د هغه په عوض زندان قبول کړم او زنداني شم.

زه پوهېږم چې ترڅو لیکونکي او شاعران (هغه چې نقادان دي او متملقین نه دي) زندان قبول نه کړي او د مجرمینو په ځای دوی په جېلخانو کې ونه لوېږي یو مملکت ښه ورځ نه شي لیدلی، دا د لیکوالو وظیفه ده چې زندان ته ننوزي او د ده بندي راوباسي.

که په یوه مملکت کې حق او حقیقت مختنق وي او څوک څه نه شي ویلی. که انتقاد او رښتیا ویل لکه یو مجرم او خاین په زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وي هلته عدالت او ديموکراسي هېڅ نه شي راتلی او سعادت لکه وحشي مرغه له هغه ملکه تښتي.

هغه خاموشه فضا او تاريک محيط چې د حق ويلو ګنګوسې پکې ځوک نه اوري او د حقيقت رڼا دوړو کې هومره ليدله کېږي د جنايتونو او د خيانتونو لپاره ډېر مساعد معلومېږي او د فاسد عناصر ډېر ښه پالي.

که زندانونه هرڅومره لوی او پراخ شي مملکت به زندان شي، مګر ودان به نه شي ځکه چې ودانې بې له حق ويلو او انتقاد کولو هېڅ امکان نه لري، ترڅو چې فکر ازاد نه شي او انتقاد ازادي پيدا نکړي د دې خلکو ښه کيدل او په سمه لاره روانيدل محال معلومېږي.

انتقاد د بشريت ډېر لوی مصلح او صحيح رهنما دی.

کوم عقل، کوم منطق، قانون، کوم دين او مذهب دی په مجرمينو کم قبول کړی او په زندان کې يې اچولی دی؟ که انتقاد کول او حق ويل په دنيا کې نه وي دا دنيا ډېره ژر ورانېږي حق او باطل ګډېږي.

د ښو او بدو تميزله منځه ځي. په ملک او وطن باندې داسې تياره راځي چې خاين او صادق نه پېژندل کېږي، ظلم د عدالت ځای نيسي او له انسانانو نه ځناور جوړېږي.

بنديوانه!

هغه وخت، چې مځکه وه او انسان په کې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې حيواني ژوند لکه چينجي په تورو ختو او اوبو کې ډوب و، ونو او بوټو د ژوند ورېمې ته انتظار درلود.

هغه وخت چې پاک خدای(ج) دانسان دپيدا ايښت اراده وکړه او داسمان پرښتې يې خبرې کړې هغوی د لوی خدای په حضور کې په ډېر جرئت ووې.

ته هغه څوک پيدا کوې چې په ځمکه کې فساد کوي او وينې تويوي دانتقاد تاريخچه له همدغه وخت نه شروع کېږي.

پرښتې سره له خپل لږعلمه دخپل مالک او خالق په کړو کې خبرې کوي...

هغه وخت چې انسانان پيدا شول او له انسانانو نه فرعونيان جوړشول حضرت موسی(ع) له يوې امسا سره دفرعون په مقابل کې ودرېداو د ده په کارونو او لويو دعوو يې انتقاد کاوه. فرعون د خدايۍ دعوه وکړای شوه، مګر د انتقاد مخه يې ونه شوای نيولی او حق ويل ازاد و. [1]

[1] - پښتو نثرونه، ۱۳۳۵ کال، ۹۹- ۱۰۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصلاح ورځپانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي ناموس

نن د هر ملت په نظر کې خپل ملي استقلال د یوه ډېر لوی ناموس حیثیت لري او له دېنه لوی افتخار بل نه شته.

د دغه مقصد لپاره خلک سرونه ورکوي، مالونه او اولادونه قربانوي او بې استقلاله ژوند ډېر لوی ذلت ګڼي.

که چېرې ملي احساس او ملي شعور په ډېر قوت موجود نه وای د استقلال قیمت به ډېر لږ او د دنیا لویې امپراتورۍ به نه رنګېدې، استعمار به د غسې بد ه قیافه نه درلوده او یو ملت به د بل ملت تر سیوري لاندې خوشحال و.

دغه ملي جشنونه چې هر مستقل ملت یې د خپل استقلال په یاد کوي او په ډېر قدر ورته ګوري د ملیت تجلیل او احترام پکې پروت دی او هم دغه معنی لري چې یو ملت د بل ملت حاکمیت په ځان نه شي منلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ باید پدې خبره ډېر فکر وکړو چې ملي استقلال دملي احساس او شعور محصول دی.

هره څومره چې دغه حس قوي وي هغومره به زموږ استقلال هم قوي وي.

د استقلال ساتنه دملت قوي جذبې ته ډېر شدید ضرورت لري که دغه احساس په یوه ملت کې کمزوري شي هغه داستقلال په قدر او قیمت نشي پوهېدلی او د همدغسې ناپوهۍ په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي.

موږ باید خپل امتیازات ملي شعور او ملي احساس ډېرټینګ وساتو او دخپل استقلال تقویه ور پورې مربوطه کړو.[1]

[1] - اصلاح ورځپانه، کابل ۱۲۴۰ کال دسنبلې (۵) نېټه ۱۰ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوې رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون دملت نوم دی دقام نوم نه دی

د لیکوالو اول کاردادی چې لغات او کلمات په ځای استعمال کړي او دمعنې ډېر لحاظ وساتي.

څوک چې دغه کارنه شي کولی هغه ته ادیب ویل بې ادبي ده. یوه ورځ د ادیبانو په یوه ټولنه کې چاپوښتنه وکړه چې خوټېدلې اوبه، اېشېدلې اوبه، سرې اوبه، تودې اوبه او ترمې اوبه کومې کومې دي؟ یوه ادیب په دې باب کې دومره خبرې وکړې چې یوه مقاله ترې جوړېږي. دغه شان لغوي تدقیق د ژبې دپوهانو اولیکوالو کاردی، نو خلک له دغو مره دقت او تدقیق نه بې برخې دي. له عوامو نه اورو چې بې اسرافي ښه نه ده، مګر غرض یې دا وي چې اسراف ښه نه دی.

دوی کاتب او سرکاتب په فرق لاښه نه دي پوه شوي او د هرچاچې توره پخه په سر وه میرزا صاحب ورته وایي د امیانو په نظرکې دځوان او زلمي، دزاړه او بوډا د اخند او ملا فرق نشته، دوی ډېرځله چنچنې ته مرغۍ وايي او مویز مېوه بولي، ډېرخلک شته چې ډوډۍ ته غله ووایي او جوار یا غنم دانې بولي دعام او خاص دکلمې او جزیي فرق کول د پوهانو او هوښیارانو کار دی. که بل څوک وي خوخیر، مګر که لیکونکي او پوهان د کابل او خورد کابل فرق و نکړي او پښتون لکه ځاځی یا احمدزی دقام نوم وګڼي له دېنه لویه غلطي بله نشته، د ادب او پوهې په جهان کې دغه راز سهوه او دغه شان اشتباه لویه ګناه ده چې څوک یې نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عفوکولی. ماته داسې برېښي چې ځینې لیکوال او پوهان پښتون هم لکه ازبک، ترکمن، هزاره له څوقومونو نه یو قام حسابوي قام دملت په معني نه، بلکې په هغه خاصه معني چې دتنګ نظرو په نظر کې جلوه کوي، هغه چې دملتوټولنې ته د مجلس اقوام وایي او قام دملت په معنې استعمالوي نور خلک دي، موږ نه یو دلته قام دمفهوم او معنی لحاظ ډېروړوکی دی چې په متې له قبیلې نه لږ غوندې لوی معلومېږي.

ځنې ېېل ېېل قومونو ګڼي، سره له دې چې دواړه خېلونه دیوه قام یعنې احمدزي څانګي دي او د دوه ورونو مثال لري که موږ د خپلو خلکو معتدل ذهنیت او متوسط نظر په نظرکې ونیسو، نو قام باید له دغسې خېلونو نه پورته وګڼو او ټول احمدزي له جبارخېلو او معروف خېلو سره یو قام وبولو، دغسې قامونه چې مختلف خېلونه پکې ځایېږي پښتنو کې ډېرزیات دي چې زه ټول نشم شمېرلی، مګر داکولی شم چې هغه ډېر مشهور او لوی قامونه یو څه تاسو ته معرفي کړم لکه: مومند، ساپي، اپرېدي، اورکزي، یوسفزي، خټک، وزیر، مسعود، شینواري، خوګیاڼي، بارکزي، پوپلزي، الکوزي، نورزي، علي زي، کاکړ، اڅکزي، مامونـد، سالارزي، وردګ، سلیمان خېل، وتمانخېل ځاځي، منګل، ځدراڼ، بنګښ، دوړ، اندړ خروټي، ناصر تره کي، توري احمدزي، توخي، هوتک ځینې نور واړه قامونه چې زما په تخمین په افغانستان او پښتونستان کې له سلونه زیات نومونه لري هغه اوس پرېږدم او یوازې د دغو ذکر شوو قامونو په باب وایم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه هرقام د تعداد او نفوسو په لحاظ په زرګونو او لکونو کورونه لري او په ډېرو څانګو او ښاخونو وېشل کېږي او ډېرې پښې ترېنه بېلې شوې دي. اپرېدي چې مادلته يو قام وګڼه هغوي څانونه ډېر قامونه ګڼي چې (زخه خېل، قمبرخېل، کوکي، اکاخېل، ملک دين خېل) يې بولي شينواري پرڅو ورو قامونو وېشل شوي دي لکه منديزي، سه پاى، سنسګوخېل، علي شېرخېل، احمدخېل، حسن خېل، لياس خېل، رحيمدخېل، او داسې نور...

همدغه شان مومند او نور قامونه درواخله چې هريو ډېرې څانګې او ډېرښاخونه لري او هرهر ځاى پراته دي دغه ټول لوى او واړه قامونه چې په افغانستان او پښتونستان کې له هرات، ميمنې او بدخشان نه نيولي ترکشمېر، سند او بلوچستان پورې په غرونو ډاګونو، ښارونو، درو او ناوونو کې مېشت دي او پنځلس شپاړس ميلونه نفوس ترې جوړېږي ټول د پښتون په نامه يادېږي او دا نوم دومره لوى او دروند نوم دى چې پرتويې له امونه تراباسينده پر ډېره لويه او پراخه ځمکه پروت دى. سره له دغه عظمت او لويوالي که څوک پښتون ديوملت نوم نه ګڼي او قوم يې بولي نو غره ته به غونډۍ وايي او وطن ته به کلى، سره له دې خبرې چې پښتون قام د اباسينداو امولـه سيمې څخه دباندې هم تيې، تيې پروت دى.

پښتانه بايد په دې پوه شي چې پښتون له قام او قبيلې نه ډېرلوى او ډېرستر دى دا نوم دومره ورو کى او کوچنى نه دى،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې ځينو ګومان کړی دی او په ډېرمحدود نظريې ورته کتلي دي.

د پښتنو په نظر کې غلجي او دوراني هم هغه نومونه دي چې هريوه ډېرلوی لوی قامونه په غېږ کې نيولي دي او لمن يې دقام له لمنې نه ډېره پراخه ده نو پښتون خوپه هېڅ شان دومره نشي وړوکی کېدای چې زموږ د ملک په اصطلاح څوک ورته قام ووايي او دځينو وړو قامونو په قطار کې يې راولي هغه څوک چې قام او ملت په يوه معني اخلي هغه پښتون يو قام ګڼلی شي، مګر په هغه بل حساب داخبره هېڅکله دمنلو نه ده چې ډېرلوی سړی دکوچني په ورنېي او زړوکي کې تاو کړای شي او د ماشوم په ځانګو کې يې ځملوي، پښتون هغه څوک دی چې په يوه مملکت کې هم نه دی ځای شوی او دوه مملکتونه: افغانستان او پښتونستان پرې ډک دي، نو که دغومره مختلف او متعدد قامونه ملت ونه ګڼو او پښتون دملت نوم ونه بولو ډېرې لويې هستۍ ته په کم نظرګورو او لويه ګناه کوو.

افغان او پښتون هغه دوه لفظونه دي چې د معنی سراو بر-دېخوا، هغه خوايي لکه ديوې تلې دوه پلې يو برابر دي او هېڅ زيات وکم پکې نشته.

هماغه شان چې افغان دقام نوم نه دی دملت نوم دی د پښتون اطلاق هم پريوه ملت باندې کېږي او دا دوه لغتونه يو دبل ترجمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه باید له خېل، اوزي، له قام، او قبیلې نه پورته یوه لویه هستي، یعنې پښتون وپېژني او لکه د مرغۍ بچي په هګۍ یا ځاله کې ایسار پاته نشي. ځان ته په کم نظرونه ګوري او ځان ورو کی ونه ګڼي موږ دامنو چې بارکزي یا احمدزي همدارنګه سلیمانخېل یاتره کي لکه هزاره، ازبک، ترکمن، ایماق، نورستاني اونور د دې وطن لوی قامونه دي او هریو دافغان ملت په تشکیل کې ستره برخه لري، مګر پښتون ددغه ملت له دغسې اجزاو او اعضاو څخه نه دی، بلکې د دغه ملت یو بل نوم دی چې له افغان سره مترادف ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیا زیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۲۲ل کال له نوموړې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۲۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د «پوهندوی» علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د «کابل پوهنتون»، «هیلې» او «شمشاد» مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې «معارف» مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه د یو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول. استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دي لوړه دنده دروسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلواک لیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندبیان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاص، چې اکثره يې زورواکي او د سياسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد يون نظريات خپلو شخصي او تنظيمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه يې په ټينګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد يم، هر کله چې يون کومه ليکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې يې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سياسي بهير کې يې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه يې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد يون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرايطو کې بيا هم خپل فرهنګي، سياسي او ټولنيز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو يې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر يو نيم کال راهيسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته اېښودل کېږي، په داسې يو دولتي دفتر کې چې بوختياوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی.استاد يون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی،په پېښور کې يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې په سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په لسګونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په یو زیات شمېر، ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې یې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به یې د اثارو یادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې

| کتاب نوم | خرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | لومړی شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دویمه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې

| | | |
|---|---|---|
| • هیلې | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • نیمګړي ارمانونه | د حیران شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا یاد | د سیمینار د لیکنو ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د استاد الفت نثري کلیات | داستاد الفت نثرونه | درېیم ۱۳۸۷ |
| • سیندونه هم مري | د اسحق ننګیال شعري منتخبات | دویم ۱۳۸۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج- ژباړنې

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
دپوهنوال روستارتره کي اثر دویم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه
د نینسي دوپرې اثر دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
د پوهنوال روستار تره کی اثر دویم ۱۳۸۷

## د- یونلیکنې

- د اماراتو سفر د اماراتو یونلیک دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی د اروپا یونلیک لومړی ۱۳۸۷
- دپښتناګون ترڅنډو د امریکا یونلیک لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری دویم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه دویم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې دویم ۱۳۸۷
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي دویم ۱۳۸۷
- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مرکه او مرکې — لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال — لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په ورېمو کې — لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې — لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون — لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ — لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ — لومړی ۱۳۸۷


خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او اوسپلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The Collection of The Articles of Ostad Olfat

Collected by:
M. Ismael Yoon

ISBN 978-9936-500-05-1

9 789936 500051 >

د خپرونو لړ: (٦)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**